
د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه



باچا خان د امن او عدم تشدد ستر مبارز
(نړیوال سیمینار)

# زما ژوند او جدوجهد



عبدالغفار خان (باچا خان)

# زما ژوند

# او

# جد و جهد

عبدالغفار خان (باچا خان)

Download From: Aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

## ځانګړنې


د كتاب نوم: **زما ژوند او جد و جهد**

ليكوال: عبدالغفار خان (باچا خان)

خپرندوى: د افغانستان د كلتور ودې ټولنه- جرمني

لړ: (١٠٢)

چاپشمېر: ١٠٠٠ ټوكه

چاپكال: ٢٠٠٨ز / ١٣٨٧ ل

ډيزاينګر: حاجي محمد عمرخېل

**چاپځى**

**د دانش خپرندويې ټولنې تخنيكي څانګه-پېښور**

PH:2564513/EMAIL:DANISH2K2000@YAHOO.COM

WWW.DANISHPRESS.COM

# لړلیک


| سرلیک | مخگڼه |
|---|---|
| ددې کتاب د بیا چاپ اړتیا ........................ د خپرندویې ټولنې یادښت | الف |
| د بابا د ژوند کتاب ........................ عبدالله بختانی خدمتګار | ج |
| د باچا خان مرکز پیغام | ي |
| تاریخي پس منظر | ۵ |
| د پښتنو خویونه او دودونه | ۱۱ |
| د پیرنګي اثرات | ۱۳ |
| زما نیازبین توب | ۱۵ |
| ابتدایي تعلیم | ۲۰ |
| د پېښور سکول | ۲۱ |
| د کلي ماحول | ۲۳ |
| مشن سکول | ۲۷ |
| زما استاذ | ۲۸ |
| کلیوالې لوبې | ۲۹ |
| اخترونه او مېلې | ۳۲ |
| د امامانو میاشت | ۳۴ |
| کلي کلویغې | ۳۶ |
| سخات خیرات | ۳۷ |
| یوه لطیفه | ۴۲ |
| واده ښادي | ۴۵ |
| د یوې پېغلې کیسه | ۴۹ |
| فوج کې کمېشن | ۵۰ |
| بیا تعلیم پسې | ۵۵ |
| د عالمانو سره تعلق | ۶۰ |
| مدرسې جوړول | ۶۲ |
| دیوبند سره تعلق | ۶۲ |

شیخ الهند صاحب او سندهي صاحب ........ ۶۹
قوم پرستي ........ ۷۱
وړومبی واده ........ ۷۴
اګره کښ د مسلم لیګ جلسه ........ ۷۹
کلي وطن کښ تعلیم او تبلیغ ........ ۸۳
د شیخ الهند صاحب خط ........ ۸۷
ازاده علاقه کښ د مرکز تلاش ........ ۸۹
چمرکنډ ........ ۹۴
سالارزي، ماموند ........ ۹۷
اولنی جنګ عظیم ........ ۱۰۰
د حاجي صاحب هجرت ........ ۱۰۲
زما بونیر ته تګ ........ ۱۰۳
بونیر کښ د پېرنګیانو سازش ........ ۱۰۵
مدرسې بندې شوې ........ ۱۰۷
مومندو ته د حاجي صاحب هجرت ........ ۱۱۱
د سوات د باچاهۍ کشاله ........ ۱۱۴
د پرنګیانو مظالم ........ ۱۱۸
وبا، د رومبي تبر مرګ ........ ۱۲۳
رولټ ایکټ ........ ۱۲۵
زمونږ جلسې ........ ۱۲۷
زما ګرفتاري ........ ۱۳۳
زما د بابا او نورو کلیوالو ګرفتاري ........ ۱۳۹
د جېلخانې حالت ........ ۱۴۴
د قید نه خلاصېدل ........ ۱۵۰
د دوهم واده تیاری او بیا ګرفتاري ........ ۱۵۰
رهایي او دوهم واده ........ ۱۵۴
دهلي کښ د خلافت کمیټي جلسه ........ ۱۵۷
هجرت ........ ۱۵۸
مونږ کابل کښ ........ ۱۶۱

باجوړ ته واپسي ........................................ ۱۲۴
دیر کې د خالونو مدرسه ........................................ ۱۲۵
د اتمانزو ازاد سکول ۱۹۲۱ ع او انجمن ........................................ ۱۲۹
د خلافت کمیټۍ صدارت ........................................ ۱۷۲
دفعه ۴۰ کې گرفتاري ........................................ ۱۷۷
د چمرکنډ مجاهدین ........................................ ۱۸۰
ډېره اسماعیل خان جېل ته بدلي ........................................ ۱۸۳
د جېلخانې کیسه ........................................ ۱۸۳
د جېل بدمعاشۍ ........................................ ۱۹۰
زما مشقت ........................................ ۱۹۲
جېل کې پرې- جنبې ........................................ ۱۹۴
جېل کې زما گناه ........................................ ۲۰۱
ډېره غازي خان جېل ........................................ ۲۰۴
د جېل ژوند ........................................ ۲۱۱
د پښتنو په هکله غلطه پراپېگنډه ........................................ ۲۱۲
زما د غاښونو مرض ........................................ ۲۲۱
مذهبي تعصب ........................................ ۲۴۹
لاهور جېل ته دوباره تگ ........................................ ۲۵۸
مطالعه ........................................ ۲۶۲
د لاهور جېل نه بیا ډېره غازي خان ته ........................................ ۲۶۹
د مور مرگ ........................................ ۲۷۲
د سیاسي قیدیانو جنگونه ........................................ ۲۷۴
میانوالي جېل ته ........................................ ۲۸۴
رهایي ........................................ ۲۹۷
سیاسي سرگرمي او پښتون اخبار ........................................ ۳۰۱
کلي کور کې ........................................ ۳۰۲
د فخر افغان لقب ........................................ ۳۰۴
انجمن او مدرسې ........................................ ۳۰۹
د حج سفر ........................................ ۳۱۸

پښتون (اخبار- مجله) ............ ۳۳۲
امان الله خان ............ ۳۳۹
نادر خان ............ ۳۴۸
لاهور کې د کانګرس جلسه ۱۹۲۹ع ............ ۳۵۲
خدايي خدمتګاري ............ ۳۵۲
دورې ............ ۳۶۲
مرغز کې جلسه او يوه قامي پرېکړه ............ ۳۶۹
اتمانزو کې لويه جلسه او مشاعره ............ ۳۷۳
ګجرات جېل او کانګرس سره تړون ............ ۳۷۵
ګرفتاري سنه ۱۹۳۰ع ............ ۳۷۶
ګجرات جېل ............ ۳۷۸
د قصه خوانۍ واقعه ............ ۳۸۰
ګجرات جېل کې ............ ۳۸۱.
د پېرنګي جبر او د پښتنو عزم ............ ۳۸۵
کانګرس او مونږ ............ ۳۹۱
پټېل کمېټۍ رپورټ ............ ۳۹۵
د ګجرات جېل ملګري ............ ۳۹۷
رهايي ............ ۴۱۵
لاهور کې زما استقبال ............ ۴۱۶
دورې ............ ۴۲۴
د کانګرس جلسه کراچۍ کې ............ ۴۲۶
د خدايي خدمتګار (سرخپوشو) بنه اثر ............ ۴۲۷
کراچۍ کې مصروفيت ............ ۴۲۹
د هندوستان دوره ............ ۴۳۴
وطن ته واپسي ............ ۴۴۰
د پنجاب د پښتني علاقو دوره ............ ۴۴۵
زمونږ کار او د پېرنګي سازشونه ............ ۴۴۹
د کانګرس کمېټۍ په ځای د سرحد جرګه ............ ۴۵۱
د ګاندهي جي په بلنه باردولي ته تګ ............ ۴۵۴

دیوي داس سره دوره ........ ۴۵۶
بابړه کې دړامه او زمونږ کمزوري ملګري ........ ۴۶۲
د پرنګیانو د جبر او تشدد زیاتوالی ........ ۴۷۱
د دیویداس ګاندهي د سرحد دوره ........ ۴۷۸
د راونډ ټیبل کانفرانس ورځو کې د جرګې مشرانو کې اختلاف، شیملې ته زما تګ، شمله کې مصروفیت، فارن سکتر او هوم سکتر سره لیدل ........ ۴۸۴
د جرګې مشرانو کې اختلاف ........ ۴۸۶
شیملې ته زما تګ ........ ۴۸۸
شمله کې زمونږ مصروفیت ........ ۴۹۲
د فارن سکتر او هوم سکتر سره لیدل ........ ۴۹۵
خپله صوبه کې کار ........ ۵۰۲
دېره اسماعیل خان ته تګ ........ ۵۰۳
اتمانزو ته واپسي د احمد شاه معامله ........ ۵۰۶
د دېرو دوره ........ ۵۱۰
د سرحد لویه جرګه ........ ۵۱۵
د هزارې دوره ........ ۵۱۶
د هزارې نه واپسي ........ ۵۴۲
د ترنګزو حاجي صاحب او خدایي خدمتګاري ........ ۵۴۶
د خلیلو مومندو دوره ........ ۵۴۸
مانګیانو بانډه، اورمړ خالصه ........ ۵۴۹
لاټ سره لیدل ........ ۵۵۳
د نوښار په تحصیل کې جلسې ........ ۵۵۶
صوابۍ تحصیل کې جلسه ........ ۵۵۸
د لویې جرګې اجلاس ........ ۵۶۸
زه هزاري باغ جېل کښې ........ ۵۷۱
زمونږ ګرفتاري ........ ۵۷۲
عامه ګرفتاري او تشدد ........ ۵۷۴
هزاري باغ جېل کښې ........ ۵۷۶
بهادره ښځه ........ ۵۸۲

زما په صوبه سرحد او پنجاب بندیز ........ ۵۸۷
په سرحد زما بندیز ........ ۵۸۸
ال انډیا کانګرس کمېټۍ اجلاس ........ ۵۸۸
سابرمتي جېل ........ ۵۹۳
بریلي جېل ........ ۵۹۶
د الموړې جېل ........ ۶۰۰
رهایي ........ ۶۰۲
واردې ته تګ ........ ۶۰۲
د خپل اولاد سره ملاقات ........ ۶۰۴
انتخابات او کانګرس ورکنګ کمېټۍ ........ ۶۰۵
زه بمبۍ کې ........ ۶۰۶
د فیض پور کانګرس ........ ۶۰۸
د پښتنو په هکله غلط فهمي ........ ۶۱۱
وزارتونه ........ ۶۱۳
مونږ واردا او سېواګرام کې ........ ۶۱۵
د کانګرس وزارتونه ........ ۶۱۹
بنارس، ډیلي، ګجرات، کاټیاواړ ........ ۶۲۳
د هندوستان د مسلمانانو د پاره فکر ........ ۶۲۵
د بلوچستان دوره ........ ۶۳۰
د خدایي خدمتګارو ړومبی وزارت ........ ۶۳۷
د خدایي خدمتګارو وزارت ........ ۶۴۲
زمونږ وزیران او پېرنګیان ........ ۶۴۷
د جواهر لال دوره ........ ۶۴۸
د ګاندهي جي دوره ........ ۶۵۳
وزارتونه او خدایي خدمتګار ........ ۶۶۰
وزارتونه مات شول ........ ۶۷۴
د خدایي خدمتګارو غورځې پرځې ........ ۶۷۷
قبایلو ته د خدایي خدمتګارو وفدونه ........ ۶۹۰
د هندوستان پرېږدئ تحریک ........ ۷۰۱

چپاوونه.......... ۷۰۳
د بمبۍ تګ.......... ۷۲۳
زلمی پښتون.......... ۷۲۶
الیکشن، کېبنټ مشن، عبوري حکومت.......... ۷۲۸
الیکشن.......... ۷۲۹
د ائین ساز اسمبلۍ ممبران.......... ۷۳۵
کرپس مشن.......... ۷۳۶
شیمله کنفرانس.......... ۷۳۸
کېبنټ مشن.......... ۷۴۱
د کانګرس صدارت.......... ۷۴۳
د جواهر لال بیان.......... ۷۴۴
د جواهر لال په بیان عکس العمل.......... ۷۴۶
انټرم حکومت.......... ۷۴۷
قبایلي علاقې او جواهر لال.......... ۷۵۱
تورخم.......... ۷۵۲
د ملکنډ ایجنسي.......... ۷۵۳
سردریاب.......... ۷۵۸
بجټ پېش کول.......... ۷۶۱
د مونټ بیټن مشن.......... ۷۶۳
ډایرکټ ایکشن او مساوات.......... ۷۶۸
زه بهار کې.......... ۷۷۰
د تقسیم اعلان.......... ۷۷۷
د ورکنګ کمېټۍ اجلاس.......... ۷۷۸
د کانګرس او مونټ بیټن سازش.......... ۷۸۱
د کانګرس بېوفایي.......... ۷۸۳
یاد ګیرنه.......... ۷۸۸

د خپرندويې ټولنې يادښت

# ددې کتاب د بيا چاپ اړتيا

د فخر افغان باچا خان د ژوند، هلو ځلو او اوږدو ستونزمنو مبارزو په اړه د هغه "زما ژوند او جد و جهد" هغه اثر دی، چې موږ ته لومړی لاس کره او خورا مهم معلومات راکوي.

دغه اثر ډېر کلونه وړاندې په افغانستان کې چاپ شو او له خپرېدلو سره سم يې په لوی افغانستان (افغانستان او پښتونخوا) کې ګڼ مينه وال پيدا کړل. د زياتې اړتيا له مخې دغه کتاب په پښتونخوا کې بيا بيا چاپ شو.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې سرګال پتېيلې ده، چې د باچا خان او عدم تشدد په اړه په جرمني کې يو نړيوال سيمينار جوړ کړي. ددغه سيمينار لپاره د سيمينار کارډلې له ځينو درنو پوهانو سره تر مشورې وروسته پرېکړه وکړه، چې د نورو کتابونو په لړ کې د بابا دغه مهم اثر هم يو ځل بيا چاپ کړي. ددې کار لاملونه دا وو:

۱ موږ په پښتونخوا کې "د باچا خان مرکز" له لوري د دغه اثر د هغه کمپیوټري کمپوز شوي متن له مخې دغه کتاب چاپوو، چې لومړی ځل به د کتاب د چاپ په څنګ کې د کمپوز شوي متن د استفادې سیمه د اړتیا په وخت کې انټرنیټي ویبپاڼو ته هم پراخه کړای شي، په دې توګه "د باچا خان مرکز" څخه مننه کوو، چې زموږ په غوښتنه یې دغه متن د چاپ لپاره راوسپاره. دغه راز له ښاغلي اسدالله دانش ساپي څخه مننندوی یو، چې په دې برخه کې یې پوره هلې ځلې وکړې.

۲. موږ هیله کوو، چې دغه اثر به د چاپ او صحافت له پلوه هم په ښه او په زړه پورې بڼه وړاندې شي او د کتاب د منځپانګې د ارزښت په څنګ کې به یې چاپ هم ښکلی وي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه خوښه ده، چې په دغه لوی او سپېڅلي ملي کار کې د ګام اخیستلو جوګه کېږي او د فخر افغان دغه مهم اثر خپل ولس ته یو ځل بیا د لوستلو، پرې فکر کولو او د لارې د مشال ګرځولو لپاره ډالۍ کوي.

په درناوي

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه
۲۰۰۸م، د اکتوبر لسمه
جرمني، د کولن ښار

**دا ليکنه د بابا په غوښتنه ددې کتاب د لومړي چاپ لپاره ليکل شوې وه؛ خو د هغه وخت د ځينو ملحوظاتو له امله چاپ نه شوه**

# د بابا د ژوند کتاب

د اشنغر د خانانو په يوه درنه کورنۍ کښې يو ماشوم وزېږېد، چه بيا يې وروسته د لندن په منارو زلزله راوستله.

ماشوم لوبېده، لويېده او ځوانۍ ته ورسېد.

په هاغه وخت مستقل مزاجه، متحسس او متجسس ځوان او د ښو عواطفو خاوند و. په هره ناوړه پېښه، ناوړه خبره او ناوړه کار به خپه کېده. د خپل زړه خپګان به يې نه پټاوه او عکس العمل به يې هم ښوده. په هره خبره کښې به يې خبره پيدا کوله او خبرې يې پرې کولې. څومره چه لويېده هومره يې د فکر او نظر ساحه پراخېدله.

ورو ورو د "ځان" او "خان" له محدودو حدودو څخه ووت. د پوهانو، عالمانو، ليکوالو، شاعرانو وطنپالو سره يې پېژندګلوي وشوه. د اولس په ټولنيزو روابطو، د وطن په پېښو او د جهان په حالاتو يې غور او فکر کاوه.

په هغه مهال، پښتانه د دنيا د دزياترو قومونو نه، وروسته پاته وو. بې علمي او بې سوادي وه. قوم خپلو کښې، يو تر بله سره اړم و. ته ما وهه او زه تا. يو به د بل په خوشحالۍ او عزت خپه کېده. يو د بل د تباهۍ او ذلت نه به يې خوند آخيسته. په ګونديو، تربګنيو او بدبينو کښې سره ورک وو. د مرګونو،

خونونو او قتلونو پورونه، د یوه نسل نه بل ته او د بل نه بل ته پاته کېدل. خلک ددغو بدبینیو په بد حالئ کښې د تشدد او تجاوز په اورونو وریتېدل. په زړونو او ذهنونو باندې، خرافاتو تسلط موندلی و. د ژوند کاروبار ته د چا دومره پام نه و.

په هغه زمانه کښې، د پېرنګي په بادشاهئ کښې لمر نه ډوبېده. پښتون، د یوه ملت په حیث، د انګرېزانو د استعمار په زنځیرونو کښې ښکېل و، او د اسارت د ذلت او حقارت شپې ورځې یې تېرولې.

په دغه تپه تیاره ماحول کښې، ځوان عبدالغفار خان، وروسته له یو څه تولنیزو تجربو او تفکر څخه، د خلکو د خدمت لپاره ملا وتړله. کلي په کلي، حجره په حجره او جومات په جومات وګرځېد او خلکو سره یې پراخه رابطه او مفاهمه پیل کړه. په دې ګرځېدو راګرځېدو، هلو ځلو او غورځو پرځو کښې، په خپله هم ورځ په ورځ پخېده او د فکر او عمل له مخه یې کال په کال او مرحله په مرحله پرمختګ کاوه. خپلو سهوو او د نورو اشتباهاتو ته متوجه کېده. پر نورو تنقید کاوه او پر ځان تنقید یې اورېده... او داسې مرحلې ته ورسېد چه د الله پاک سره یې ژمنه وکړه چه د ژوند تر پایه پورې به د هغه د مخلوق خدمت کوي.

په غرو او دړو، په کلیو او ښارونو، د خپل تاریخي هېواد په لر او بر کښې، خپلو خلکو پسې وګرځېد. زندانونو ته ولاړ. نظر بندئ یې تېرې کړې، پښتئ یې ماتې شوې، مګر پښتو یې لا ټینګه شوه. په قام کښې یې داسې ډېر په وطن مین کسان هم

پیدا کړل. هغوی ورسره ودرېدل. زندانونه او محرومیتونه یې وګالل. د سفرونو او دورو زحمتونه یې ومنل. د مالونو او شتو تاوانونه یې وزغمل او خپل سرونه او مالونه یې د قربانۍ دپاره وړاندې کړل. ددې تکل د تعهد په توګه د "خدایي خدمتګار" تر بیرغ لاندې راټول شول.

ددې ټولنیز سیاسي حرکت رهبر خان عبدالغفار خان و چه:

د ځوانۍ د دوران له جذباتي انفرادي خدمتونو نه نیولې بیا تر "انجمن اصلاح افاغنه" پورې او د "خدایي خدمتګارۍ" له تاسیس نه نیولې تر اوسه پورې د خپل قوم او وطن په غم کښې دی او ورته په مینه، اخلاص، همدردۍ او پېرزوینې خدمت کوي. چه ددغو خدمتونو د نمانځنې په توګه، پښتنو ورته (فخر افغان) لقب ورکړی دی او یا (باچا خان) یې بولي. هندیانو د قدردانۍ له مخه (د سرحد ګاندهي) بللی دی. مونږ ورته (بابا) وایو، مګر، دی...

دی وایي:

زه مو بابا نه یم، باباګانو خوړلي یئ...

زه ستاسو خدمتګار یم. زه له تاسو نه څه نه غواړم. زه خدایي خدمتګار یم. تاسو نه هم دا غواړم، چه تاسې هم د خدای دپاره، بې له کومې طمعې او توقع نه، د خدای د مخلوق خدمت وکړئ... خدای خو خدمت ته ضرورت نه لري. د هغه خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی.

دا کتاب چه د بابا د ژوند کتاب دی، تاسې له دې خبرو سره اشنا کوي. دا کتاب پخپله د بابا تالیف دی. د هغه سوانحعمري ده. د هغه سرګذشت دی. د هغه سترګو لیدلي

حالات دي. واقعات دي. تاريخ دی. د خپل وخت د ټولنې ښودنه ده، د ملي او اجتماعي مبارزو تصوير او تفسير دی. هغه مبارزې چه پخپله بابا روانې کړي، پخپله يې د هغه لارښودنه کړې ده او پخپله يې پکښې عملي برخه آخيستې ده.

په دې کتاب کښې د تاريخ او سياست تجربې دي او د لوړو اخلاقو، خودئ، خود درائ، خود شناسئ، پاکئ، صفايئ، استقلال، صبر، زغم، حوصلې، متانت، همت، ننګ او غيرت د عبرت وړ درسونه دي.

په دې کتاب کښې د انسانانو د لوړوالي او مناعت يا د هغو د پستئ او د نائت کيسې دي.

دا کتاب د تاريخ يو ښه فصل او ښه باب دی. د هغه تاريخ چه په هغه کښې، انساني ټولنه، د سرمايې د ظلم او ستم لاندې، د استعمار د ښامار په منګولو کښېوځي او د ځان د خلاصون لپاره هلې ځلې کوي او په دې هلو ځلو کښې شرقي اولسونه ډېرې قربانئ ورکوي.

په دې کتاب کښې د پښتون اولس او ورسره د هند د نيمې وچې د اولسونو د سرنوشت د بدلون په بهير کښې، د کتاب د ليکوال برخه د هغه جد و جهد، د هغه قضاوت او د فکر رجحانات ښه څرګند ېږي.

لکه چه ورته اشاره وشوه، زمونږ د زماني د تاريخ مهم شاخص د يورپي استعمارګرانو يرغلونه او د شرقي اولسونو له خوا، د هغو سره ډغرې وهل دي، چه په تاريخ کښې "د ملي آزادئ جنبشونه" بلل شوي دي.

کيسه داسې ده چه کله په يورپ کښې سرمايه ډېره شوه، صنعت،

ماشین او تخنیک د بې رحمو پانګوالو د ثروت د زیاتولو وسیله وګرځېدله، بیا نو د هغو په مغزو کښې، د جهانګیرئ خیال پیدا شو او دې سره د امپریالېزم دوران پیل شو. د استعماري یرغلونو په نتیجه کښې، بې وسه او بې دفاع او په عین حال کښې بې علمه او بې اتفاقه مشرقي ملتونه، یو په بل پسې د استعمار منګولو ته ورغلل. هغوی له دوی څخه، ملي آزادي واخیستله او په پراخ مټ یې په زېښناک یا استثمار او استحصال لاس پورې کړ. مشرقي ملتونه هم، د خپلو خواخوږو خیرخواهانو، ملي شخصیتونو، وطنپالو عالمانو او پوهانو په نارو سورو ورو ورو راوېښ او متحد شوو او په جد و جهد یې لاس پورې کړ.

په دې لړ کښې، د افغانستان خلکو، په دریو لویو او بې شمېرو وړو جګړو کښې، وکړی شو چه د انګرېزانو تېري ګر او استعمارګر قوتونه د افغانستان له موجوده ساحې څخه وشړي. تر دې وروسته آخوا پاته اولسونو د آزادئ مبارزو ته په مېړانه دوام ورکړ. د هغوی حوصله یو په دوه زیاته شوه او د هغه د نیمې وچې په ټولو برخو کښې، د آزادئ مبارزو ورځ په ورځ قوت او انجام ومونـد. په دې مبارزو کښې پښتنو ډېره ستره برخه آخیستې ده. په پښتنو کښې بیداري، ژوند او حرکت، د بابا په کوښښونو پیدا شوی دی.

د بابا په هلو ځلو، هلته "انجمن اصلاح افاغنه" جوړ شو. "پښتون" مجله خپره شوه. د "خدایي خدمتګار" حزب جوړ او فعال شو. خدایي خدمتګار د هند له ملي کانګرس سره ملګری شو. دې ملګرتیا سره، د کانګرس په غوښتنو او فعالیتونو کښې جدت او سرعت پیدا او د ریفورمېستي مطالبو پر ځای د ملي آزادئ غوښتنه پکښې جدي شوه.

په پښتنو، خدایي خدمتګارو او کانګرس کښې زیات ټینګار،

ربنتینولي او انتظام د بابا د حرکت برکت دی.

سره ددې، بابا پخپله، هر وخت په قار وي او وايي چه پښتنو زما خبره نه ده منلې. زما په ډېرو هلو ځلو يې ځان نه دی پوه کړی او زما په ويناوو يې علم نه دی کړی.

په دې خبره بابا حق په جانب دی.

تر اوسه لا مونږ هغسې دنيا نه ده جوړه کړې چه هغه د بابا د خدايي خدمتګارئ له اجتماعي مفکورې سره په سلو کښې سل برابره وي.

هلته ظلم، ستم، تشدد، نفرت، بدبيني، کينه، ګوندي، تربګنـي، تعرض، تجاوز، ناداري او ناداني نه وي او ټوله ټوله مينه، محبت، وروري، برابري، پېرزوينه رواداري او همکاري وي.

مونږ لا هغسې دنيا نه ده جوړه کړې چه هلته د بابا خبره:

"که څه پوره وي او که سپوره وي د ټولو دپاره دې يو شان وي

مونږ لا هغسې دنيا نه ده جوړه کړې چه هلته د هېچا امتياز په هېچا نه وي او افتخار د خلکو په خدمت وي...

مګر بيا هم بابا خپله غاړه خلاصه کړې ده. بابا خپلو بچو ته د خدمت فکر ورکړی دی.

د بابا په لارښوونه، خدايي خدمتګار، د هند د ملي کانګرس سره يو ځای، د هند د ملي آزادئ جنبش کاميابئ ته رسولی دی، او استعمارګره انګرېزان يې د هند له پراخې خاورې څخه ابستلي دي. دا خو په تاريخ کښې ستره کاميابي ده. مګر د پښتنو دپاره، تر دې ستره کاميابي به دا وي چه د بابا د ارمانونو او تعليماتو مطابق، خپله ببرته پاته شوې دنيا، په يو والي، اتفاق، اتحاد، مينه، محبت، ورورولئ، عزيزولئ او انصاف باندې ښکلې او ودانه کړي.

زما په نظر، ددغسې دنیا د جوړېدو د هیله مندو کسانو دپاره د بابا ددې افتوبیوګرافۍ لوستل، پر هغې ځان پوهول او د بابا له تجربو او تعلیماتو څخه کار اخیستل بې اندازې ګټور کار دی.

زه دغه کتاب ښیم، چه هغه یوازې د یو چا د شخصي تمایلاتو په بنیاد شخصي یاد داشتونه، نه، بلکه د پښتنو او سیمې د تاریخ د یو لوی شخصیت د ملي او انساني کارنامو او د خدايي خدمتګارۍ د نظریې او عمل د اړخونو د ښودلو یوه روښانه هینداره ده.

که ددې کتاب د صوري او معنوي ښېګڼو په باره کښې، د همدې کتاب په اندازه ولیکل شي، بیا به یې حق ادا نه شي، ځکه چه دا "د عمل آئینه" ده او زمونږ لیکنه به "د نظر منظره" وي، چه بې له شکه، هغه تر دې زر ځله بهتره ده.

نو ځکه زه له تاسو ګرانو لوستونکو نه رخصت آخلم او موقع درکوم چه بابا د هغه د سرګزشت او افکارو په هینداره کښې وپېژنئ او ترې استفاده او استفاضه وکړئ...

د هغه "زما ژوند او جد و جهد" کتاب ولولئ او د هغه په هینداره کښې خپل ژوند او جد و جهد ته پام واړوئ...

په همدې هیله

والسلام

ستاسو خدمتګار

عبدالله بختانی

کابل ښار- خیرخانه

۱۳۶۱ هـ ش/ ۱۹۸۳م کال

# د باچا خان مرکز پیغام

په جرمني کې "د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه" زموږ د لروبر د ادبئ او کلتوري ټولنو په زړه پورې د یو داسې روایت بختوره برخه ده، چې اوس یې د یوې فعالې اداري شکل اختیار کړی دی. محترم ملګری زرین انځور او د هغه په رنګ نور ملګري چې د هغوی فکرونه د خپل ادب او کلتور، د فني توان او ژوند - ژواک د پرمختګ د جذبو نه ډک او پُر معمور دي او د روحونو مرغان یې په مساپرۍ کې هم د خپل پښتون وطن په غرونو، پولو - پټو، ونو - غنو او ګلګخونو او ګل میرو الوځي را الوځي. ددې وطن، قام او ولس د ژوند - ژواک او حوادثو نه ورې دا ټول تجربات د زړونو په وینو کې ډوب کړي او رنګ کړي، موږ ته واپس د ژوند د ډاډګېرنې په خاطر رالېږي او موږ په هر مشکل کې د ژوند او فن، تاریخ او کلتور د خوږو او ترخو سره بلد او فعالیت ته لمسولي او تکړه تیار ساتي.

په مساپرۍ کې د خپل قام، ولس او وطن نه لرې دغه ژوند ښنونکي نران ملګري د خپلو احساساتو د آیینو په داسې مجلسونو کې د وطن د زخمونو او د قام او ولس د دردونو داسې تصویرونه تراشي، چې نه یوازې زموږ مخونه پکې ښکاري؛ بلکې زموږ روحونه هم پکې ننداره کېږي!!

د پیر روښان، خوشال خان او فخر افغان باچا خان د فکري روایت او فني شتمنۍ دغه امانتګر پوهان، دانشوران او مدبرین خلک په تیاره تیاره وختونو کې موږ ته هم او لکه د کردانو په ټوله نړۍ شیندلی شوي وطنوالو ته هم د نظر د اور اورکو، د زړونو د داغونو شغلې راغورځوي او لکه د اسمان د برېښنا زموږ د وطن او تورو تیرو

تر منځه فاصلې غوځوي. د تاريخ په دې موړ، چې بدنصيبو زموږ نه د اور لمبې چاپېره کړې دي دغو خلکو زموږ تاريخ، کلتور، ژبه او ادب را اخيستي دي، زموږ حال د ماضي سره تړي او ماضي مو د سپرلي سپرلي مستقبل سره اشنا کوي. دغه خلک عام خلک نه دي، دا زموږ ددې تريخ تريخ ماحول او وينې وينې چاپېرچل د ترجمانۍ هغه دردېدلي او "سره زر شوي" فنکاران استاذان دي، چې د سباني تاريخ په روڼ جبين به لکه د سرو زرو د ټيکونو ځلېږي او ددې خاورې د راتلونکيو نسلونو نه به پرې د فکر و نظر د ګلونو سره سره د عقيدت او روح غمي او لالونه هم شيندي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې دغه پښتانه نباغلي، چې د خپلې ټولنې له خوا ځومره اکر کوي، دا په اصل کې که د ټول لر و بر د شوي کار نه زيات نه وي؛ نو کم به هم ترې نه وي. د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې په تېرو څو کلونو کې سل کتابونه چاپ ته سپارلي دي. دغه سل کتابونه، چې د علم و ادب د ځومره موضوعاتو سره تعلق کېداى شي. په هغو موضوعاتو ليکلى شوي کتابونه دي. د لر و بر او وطن نه بهر د بې حسابه پښتنو په ذاتي او اجتماعي لايبرېريو کې دغه کتابونه نه يوازې د کتابتونونو د زېب و زينت باعث شوي دي، په لويه پيمانه ترې خلکو پوره پوره ګټې هم کړې دي. ددغو خلکو نظر د لوى خوشال په قول، لوى دى:

لکه باز په لوى لوى ښکار زما نظر دى
ګونګى نه يمه چې نيسم باد خورکې

د ټولنې دغه د لوى نظر او رسا فکر خاوندان د خپلې کليزې په مناسبت د تېر کال د سلو کتابونو دپاسه ړومبى

کتاب د لوی فخر افغان باچا خان (خود نوشت) زما ژوند او جد و جهد چاپ کول غواړي.

زه د باچا خان د رسالې "پښتون" د چیف ایډیټر په حیث د دغو لوی خیالو ملګرو روانو کارونو او رښتینو فعالو جذبو ته تبریک وایم او طمع لرم، چې هغوی به نه یوازې دغه کار او عمل په همدې رفتار جاري وساتي. ولې دې ته به داسې شکل و صورت ورکړي، چې هم دا کار او عمل د یو ماډل (سمبول) په طور په ټولو پښتنو کې یوه پېژند ګلو ولري، زمونږ دعاګانې او فکري، نظري، فني او روحاني مرستې به تل هغوی ته په هره لار؛ لکه د سترګو د ګلونو غوړېدلې وي.

ژوندۍ دې وي پښتو ژبه، تل دې وي پښتون قام، ښاد او آباد او سلامت دې وي پښتون وطن، غني دې وي پښتون کلتور، پښتون ادب او ژوندی قلم، سیاله دې وي زمونږ د ژوند هره غمجنه مرحله او هره د خوشحالۍ د ډکو ګلو څانګه د نړۍ د ټولو قامونو او ولسونو سره.

زه تاکیداً په جرمني د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د ملګریو دغه کار او زیار ته شاباسی وایم او خپل قلم او جذبې ورته لوګی کوم، سترګې یې وا مه خله چې هم دغه زمونږ د توجه او امیدونو مرکزونه دي.

په درناوي

رحمت شاه سایل
باچا خان مرکز، پښتون مجله - پېښور
۱۸ ستمبر، ۲۰۰۸

# مننه

فخر افغان خان عبد الغفار خان (۱۸۹۰-۱۹۸۸) د پښتون نېشنل ازم، د عدم تشدد د فلسفې او د خدائي خدمتګار تحریک باني د پښتون سیاست د اسمان هغه ځلنده ستوری دی چې د رڼو فکر پلوشې به ئې تر ابده تتې نۀ شي. د عدم تشدد دې مبلغ خپل ټول عمر د پښتنو په خدمت کښې تېر کړی وۀ او په خپل رسا فکر، بې پناه ذهانت او ژور بصیرت ئې پښتانۀ د خپل فطرت خلاف د عدم تشدد په لاره روان کړي وو. دوی د پېرنګي د غلامۍ نه د پښتنو د خلاصولو سره سره په پښتنو کښې د قامولۍ، امن او ورورولۍ دپاره یوه داسې مبارزه کړې ده چې د پښتنو په تاریخ کښې ئې مثال نۀ شي موندی. باچا خان د پښتنو د بېدارولو، هغوی د علم په کالو د ښائسته کولو، د هغوی نه د تربګنو، دښمنو او غلطو رسمونو رواجونو د لرې کولو دپاره یو داسې جدوجهد کړی دی چې په برصغیر کښې د بل هیڅ یو سیاسي مشر نصیب

شوے نۀ دے.

موجوده وخت کښې چې عالمي امن د يوې لويې خطرې سره مخ دے، ټوله دنيا د دهشت ګردۍ په لُومه کښې ښکېل ده خصوصاً د پښتنو په سيمه د فساد اور لګېدلے دے او د بې ګناه او بې خطا پښتنو وينه لکه د اوبو بهېږي. په داسې وخت کښې د عدم تشدد د علمبردار باچا خان رانۀ فکرونه خلقو ته رسول او د دۀ د ژوند او جدوجهد نه اولس خبرول د نور کله نه زيات ضروري شوي دي. دا د ډېر شکر او منني مقام دے چې په جرمني کښې ميشته پښتنو ورونو د دې احساس وکړو او اراده ئې وکړه چې د باچا خان کتاب «زما ژوند او جدوجهد» چاپ کړي او پښتون بچي بچي ته ئې ورسوي چې هغوي د خپل سياسي قهرمان باچا خان د روښانه فکرونو نه خبر شي او د موجوده صورت حال مقابله په ښه طريقه وکړې شي.

باچا خان ټرسټ د دې ښاغليو دې اقدام ته په درنه سترګه ګوري او ډېره ستائنه ئې کوي چې په ډېر ښۀ او مناسب وخت کښې ئې د دې کتاب چاپ کولو فېصله وکړه. الله دې توفيق ورکړي چې د پښتنو خدمت هم دغسې جاري وساتي. آمين

څلان مومند

ډائرېکټر مېډيا سېل باچا خان ټرسټ

# شروع کوم په نامه د خدای(ج) چې بښونکی او مهربان دی

زه د هشنغر په اتمانزو نومي کلي کې په کال ۱۸۹۰ع کې پیدا شوی یم، هغه وخت د پیدایش د نېټې د لیکلو رواج نه و او نه څوک په لیک او لوست پوهېدل نو زما د پیدا کېدو نېټه چا لیکلې نه وه،خو دا چې زه وایم چې په کال ۱۸۹۰ع کې پیدا شوی یم، د دې نه وایم چې خدای دې زما مور وبخښي ماته ویل چې«ستا د ورور ډاکټر خانصاحب واده چې و ته د یوولسو کالو وې» او د ډاکټر صاحب واده په دسمبر ۱۹۰۱ع کې شوی و نو ځکه زه وایم چې زه په ۱۸۹۰ع کې پیدا شوی یم. زه د مور او پلار کشر زوی وم. د ټولو نه مشره زمونږ خور وه، ورپسې ډاکټر خانصاحب و، بیا مې بله خور وه، بیا زه وم.

د کشر اولاد سره قدرتي د مور او پلار مینه زیاته وي او ورته ډېر خوږ اونیازبین وي. زه مور او پلار ته ډېر ګران وم د خدای قدرت داسې و چې د ټولو نه مخکې زما مشره خور مړه شوه، بیا ډاکټر خانصاحب شهید شو، بیا مې بله خور مړه شوه. زه د ټولو نه وروستو وم او روستو پاتې شوم.

د اتمانزو کلی د پېښور نه شل میله لرې شمال ختیز ته د هشنغر په مینځ کې د سوات او باجوړ د سیند په غاړه لمرخاته ته پروت دی.

زما تعلق محمدزي قبیلې سره دی او هشنغر چې د ابازونه را واخلې تر نوښاره پورې دی، په دې کې محمدزي اباد دي، دا ډېر ښکلی سر سبز او اباد ملک دی او دا د پښتنو د رورولۍ په تقسیم کې نورو رونو مونږ له پخپله خوښه راکړی و. زما نیا یوسفزۍ وه، د صوابۍ د مرغز کلي وه او نیکه مې محمدزی و چې د هشنغرو د

اتمانزو کلي و. نیکه مې لوی خان و. دا قدرتي خبره ده چې د محمدزو او یوسفزو شریک اولاد ډېر لایق او قابل وي. جینکۍ یې د هلکانو نه زیاتې ذهینې وي. زما درې نمسۍ ډاکترانې دي نورې نمسۍ مې ثوک ایم. اې، ثوک بي. اې دي او یوه لور مې ده هغه بي. اې، بي. ټي ده. یو کشر زوی مې عبدالعلي چې (زه ورته لالي وایم) د اکسفورډ ایم. اې دی. دوه مې نور زامن دي مشر عبدالغني دی چې هغه مې د ترو، کمسټري د تعلیم دپاره امریکې ته لېږلی و، خو چې زه پېرنګیانو په ۱۹۳۱ع کال کې جېل ته ولېږلم او زما جائداد یې هم ګډوډ کړو نو هغه د پیسو د نشت په وجه تعلیم سرته ونه رسولو او واپس راغی، بل عبدالولي دی چې سینیئر کمبریج یې پاس کړو. دی ډېر ذهین لایق او قابل دی، دی یوروپ له تعلیم له لاړ نه شو، ولې چې زه جېلخانې ته لاړم نو دی هم د تعلیم نه پاتې شو. عجیبه خبره دا ده چې زه هم شاهي قیدي (STATE PRISONER) وم، ډاکټر خانصاحب او قاضي صاحب هم وو.

د هغوی بچو له یې د تعلیم دپاره وظیفه او د کور دپاره خرڅ ورکولو او دا د شاهي قیدي (STATE PRISONER) سره رعایت نه دی. د هغه قانوني حق دی، خو زما زامنو ته یې نه ورکولو. زما یو زوی یوسفزۍ کړېده، بل مومنده کړېده او دریم پارسي (پارسنه) کړې ده. زما لور په کشمیري واده ده. زما څلور نمسۍ په یوسفزو کې واده دي. دوه په ختکو کې او یوه په پنجاب کې په پنجابي واده ده. مونږ خپل اولاد په دولت پسې نه ورکوو، په شرافت، قابلیت او لیاقت پسې یې ورکوو. مونږ خپل اولاد بغېر د هغوی د خوښې چا له نه ورکوو.

ټول هشنغر ښکلې او ښېرازه سیمه ده، درڅړو او اتمانزو د سیند

په بله غاړه چې د زوړ ښار نښانې را څرګندې شوې دي. دغه رڅړو سره د سیند نه پورې غاړه د شیخانو ډېرۍ سره د ګندهارا تهذیب او دور نه مخکې اثار دي، دغه ښار ته یې پشکلاوتي وې، دا نوم د برسنډو د کمر او ګلونو پورې تړلی دی، لوی تجارتي او ثقافتي مرکز و، دا موجوده سیند چې اوس د رڅړو او شیخانو ډېرۍ تر مینځه بهېږي دا په هغه زمانه کې د ډېرۍ نه قبلې غاړې ته بهېدلو او دا ټول زوړ ښار تر دې رڅړو پورې غزېدلی و.

د دې ځای اوسېدونکي پښتانه وو، خو بودیسټ وو. بودایي مذهب له دې ځایه د سوات او ګلګت په لاره تبت او چین ته تللی او خور شوی دی او د بدهـ مت څلورمه مذهبي غونډه هم په دې ځای کې شوې وه.

د ښکاره شوو اثارو د فن او صنعت نه معلومېږي چې په دې علاقه کې صنعت، تجارت، زراعت او علم ډېره ترقي کړې وه. دا ښار یوازې د ګندهارا سیاسي مرکز نه بلکې د ایشیا د زیاتو برخو تجارتي، صنعتي او علمي مرکز و.

د اټک او مارګلې په لاره یې د هندوستان سره، د سوات او ګلګت په لاره د کشمیر او تبت او چین سره، د دیر او چترال او بدخشان په لاره د مرکزي ایشیا او له هغه ځایه یورپ سره، د کابل، کندهار او سیستان په لاره یې د ایران، عراق، ترکئې او شام سره تعلق لرلو. د تجارتي مالونو لویه منډهي وه، د علومو زانګو وه.

زما مور ډېره زړه سواندې، پوهه، نېک سیرته او خوش خلقه ښځه وه زمونږ د زمیندارۍ لوی کور و، زمونږ ډېرې غوا، مېښې وې، هره ورځ به د خوا او شا غریبانان خلک په شوملو مستو پسې مونږ کره راتلل او مور به مې په روڼ تندي د هغوی سره سترې مه شي کول،

شوملې او ماسته به یې ورکول او هر ماښام به یې د دوی د پاره ښېله کټوي پخوله.

## کورنۍ:

زما د پلار بهرام خان نوم و، د کلي خان و او په مشر خان مشهور و، دی د نورو خانانو په شان نه و په کلي کې د ده هومره جائداد د چا نه و، خو دی داسې نه ښکارېده لکه خان، پوهـ او زیړ پښتون و، په چا یې زیاتی نه کولو او نه یې مظلومان د بل چا زور زیاتي ته پرېښودل. که د ده سره به چا زیاتی وکړو هغه به یې په صبر برداشت کولو او د بدل جذبه یې په زړه کې نه ساتله. رونو او تربورانو ورسره ډېر زیاتی کړی و، د ده وس کېده چې بدل ورنه واخلي، خو د بدل په ځای به یې وبخښل بلکې احسان او ښېګړه به یې ورسره کوله، مونځ ګذار، پرهېزګار او سوله دوست سړی و، د صبر او زغم خاوند و، کله چې به حجرې له نابلده مسافر راغلل چې هېڅوک به یې نه پېژندل پلار به مې ورله پخپله ډوډۍ ور وړله نوکران به وو خو ده به پخپله د ډوډۍ شکور رااخستی و او د انګولي لوښي به یې په لاس کې را اخستي وو او ویل به یې دا د خدای مېلمانه دي په کار دي چې زه یې پخپله خدمت وکړم اکثر به داسې وشو چې مېلمانه به ژمې کې شپې له راغلل نو چې سحر به ورله نوکر چای وړه نو خبر به یې راوړو چې مېلمانه نشته، تللي دي او بړستن یې هم د ځان سره وړې ده، د نورو خانانو په شان حاکم پرست نه و، د حاکمانو سره یې تعلق نه ساته او نه یې د دوی خدمتونه کول، زما د نیکه هم دغه حال و، زما د نیکه سیف الله خان نوم و، کله چې پېرنګیانو د بونیر د نیولو په غرض په بونیر حمله وکړه او د سورکاوۍ غزا وه نور خانان د فرنګې ملګري وو او سیف الله خان بابا د قام مرستې له ورغی دا رنګې زما غور

نیکه عبیدالله خان بابا ازاد خیال پیاوړی او منلی مشر و چې د هغه وخت د درانو حاکم سلطان محمد خان طلایي د لاسه پهانسي شو. د درانو حکومت د عیاشۍ په خپل قام د زور زیاتي، د کورني اختلافونو او جنګونو په وجه ختم شو، او د دوی نه وروسته د سکهانو حکومت راغی، درانو چې واوریدل سکهان را روان دي شپه په شپه کابل ته وتښتېدل او پښتانه یې سکهانو ته پرېښودل.

## تاریخي پس منظر:

یا هغه وخت وچې کله بابر د پښتنو د بې وقوفۍ او خود غرضۍ اود ایرانیانو د امداد او لمسون په وجه د ابراهیم لودي نه د هند بادشاهۍ تخت او تاج واخستو، شېرشاه سوري را پاڅېدو او د بابر د زوی همایون نه یې د پښتنو حکومت بېرته واخستو. ډیلی یې ونیو همایون وتښتېدو او د ایران دربار ته یې پناه یوړه او هلته ایرانیانو د پښتنو د کمزوري کېدو موقعې له ساتلې و.

شېرشاه د پښتنو جنډه په کلکته ودروله او شېرشاه چې د ملک د ابادۍ له پاره د صنعت، تجارت او زراعت کومې منصوبې جوړې کړې وې په هغې د مغلو د اکبر پاچا نوم وشو. دا د اکبر د ماغ نه وو د شېرشاه دماغ وو.

یا هغه وخت و چې کله په پښتنو د ایرانیانو حکومت و، پښتانه به یې سپکول او سپک به یې ګڼل. په کندهار کې میرویس خان نیکه را پورته شو پښتانه یې د ایران د غلامۍ نه ازاد کړل او د پښتنو بېرغ یې په اصفهان ودرولو. یا هغه وخت و چې پښتانه نادر افشار ریزمریز کړي وو. چې نادر افشار مړ کړی شُو نو د پښتنو لویه جرګه په کندهار کې را غونډه شوه او د ډېر غور نه وروسته یې د احمد شاه

بابا په مشرۍ دعاء خیر وکړه.

احمدشاه بابا را پورته شو ایرانیانو ته یې شکست ورکړو او د پښتنو د حکومت بنیاد یې کېښود. یوازې پښتونخوا نه بلکې ټول هندوستان یې د هغه وخت د مغلي حکومت د ظلمونو نه خلاص کړو. دې وخت کې انګرېزان هندوستان له نوي راغلي وو چې احمدشاه بابا ډیلی واخست نو د انګرېزانو د تګ ودو نه خبر شُو او اراده یې وکړه چې انګرېزان هم د هندوستان نه وباسم. انګرېزان چې په دې پوهـ شول د ایران دربار ته یې سفیر ولېږلو او ایرانیان یې را پورته کړل چې په افغانستان حمله وکړي، احمدشاه بابا چې د دې سازش نه خبر شُو د انګرېزانو د مخنیوي کار یې پرېښود او په مخه افغانستان ته را روان شو چې جېلم ته را ورسېد د جېلم د سیند په غاړه ودرېدو او د پښتنو ټول خېلونه او قبیلې چې ورسره وې هغوی ته یې وویل چې له دې ځایه تر امو دریابه پورې ستاسو ملک پښتونخوا دی او یا دغه وخت و چې د درانو د عیاشۍ، بې تدبیرۍ په خلکو د زور زیاتي، کورني اختلافونو او جنګونو په سبب پښتانه دومره پرېوتل چې خپل کور کې د سکهانو د مقابلې نه وو. هغه د پلار نیکه ګټې خو پرېږده خپله خاوره ترې سکهانو لاندې کړه او په دوی کې دومره څوک نه وو چې پخپله خاوره او ناموس یې ننګ او غیرت کړی وی، د سکهانو د زور او ظلم په مقابله کې یې سر اوچت کړی وی او د پښتنو عزت او عظمت یې د دې ظلم نه بچ کړی وی، د سکهانو ډېر ظالمانه حکومت و، زما د مور د اړخه نیکه محمد دین خان به مونږ ته دا خبره کوله چې یوه ورځ زه د شولګرې نه راتلم او په سیند را پورې وتم چې په دې کې یو سکهـ راغی ما ته یې اشارت وکړو چې را وګرځه او ما په شا پورې باسه، محمد دین نیکه ورته ووې چې زه

ناباري يم خو سکهـ مجبور کړی دی، او چې سکهـ يې په شا را سور کړی دی، او د اوبو مينځ ته رسېدلی نو ټوپونه کړي يې دي او سکهـ يې د اوبو په مينځ کې غورځولی دی او دی ترې تلی دی.

د هندوستان د هغه سر نه سيد احمد بريلوي او اسمعيل شهيد په دوی يعنې په پښتنو باندې ننګ او غېرت کوي او د سکهانو د مقابلې دپاره د پښتنو خاورې ته راځي، د هغه وخت د حکومت افغانستان له طرفه د ده سره مرسته ونه شوه بلکې يار محمد خان له خوا ورسره جګړه وشوه لکه څنګه چې د پښتو د دې زړې چار بيتې نه څرګندېږي:

روان شو يار محمد سيد اوباسي د پنجتاره
سيد له برې ورکړې الهي پرودردګاره

د دې علاقو د پښتنو همدردي د سيد صاحب سره وه. ده غوښتل چې ملک کې شريعت نافذ کړي او د شرعي قانون سره سم د خور او لور ولور بند کړي او په ميراث کې ښځو له هم شرعي برخه ورکړي، او ځينې غلط رسم او رواج اصلاح کړي. په خانانو او ملايانو د دې خبرو بد اثر وشُو،شور زوږ يې جوړ کړو چې يوسکهـ لاړو او بل سکهـ راغی،د پښتنو او مسلمانانو په دې همدردانو يې د وهابي فتوا ولګوله. په پښتنو کې قومي اوسياسي شعور نه و نو د بريلوي صاحب او د ده د ډلې په ضد را پورته شول څه يې ووژل او څه يې په اباسيند هزارې ته پورې وېستل،د هزارې ځينې مسلمانانو په ځای د دې چې د بريلوي صاحب مرسته وکړي سکهانو ته يې مخبري وکړه، سکهان راغلل او باقيمانده هلته د سکهانو له لاسه تالا ترغه شول. سيد صاحب او اسماعيل صاحب بالاکوټ کې شهيدان شول څومره د

افسوس خبره ده چې سید صاحب د پښتنو په ښځو ننګ وکړو او بې ننګه پښتنو دوی سره ننګ ونه کړو. چې سید صاحب سکهان د پښتنو د خاورې نه ویستل نو د افغانستان حکومت سید صاحب ته وویل چې اوس دا ملک مونږ ته پرېږده.

قصه داسې وه چې د تهکال ارباب بهرام خان چې د سید صاحب مرید و، هغه به کال په کال د روژې په میاشت کې بریلي ته تللو د قران پاک ختم او تراویح به یې هلته د سید صاحب سره کولې. پخوا د حمل و نقل ذریعې هم نه وې، په اسونو روان و چې ګوجرانوالې له راغلی دی نو تږی شوی دی. په لاره کې کوهي و، ښځې ور له اوبو له راغلې وې، دی چې کوهې ته ورنزدې شو نو د لاس په اشاره یې د ښځو نه اوبه وغوښتې چې دې ښځو منګې ډک کړل نورې ټولې لاړې او دوه ښځې پاتې شوې نو ده له یې اوبه یوړلې چې ده له یې اوبه ورکړې نو په ژړا شوې او ورته یې وویل چې مونږ پښتنې یو او سکهانو په زور راوستې یو، او دوه دوه بچې مو هم پیدا شوي دي. ارباب چې بریلي ته ورسیدو نو هغه ډېر زهیر و. سید صاحب تر نه پوښتنه وکړه چې دا ته ولې زهیر یې، هغه ورته د ګوجرانوالې دا ټوله واقعه بیان کړه. نو سید صاحب د جمعې په ورځ په منبر وخوت دا قصه یې بیان کړه او د جهاد اعلان یې وکړو. زه دلته تاریخ نه بیانوم صرف دا خبره ښکاره کوم چې د دې څه وجه ده چې پښتنو لوی لوی حکومتونه جوړولی شول، خو ټینګولی یې نه شول، د دې وجه دا وه چې په پښتنو کې اجتماعي ژوند، قومیت او اتفاق نه و، که څه هم پښتنو کې به داسې وخت په وخت لوی لوی او قابل سیاستدانان پیدا شول، لوی لوی سلطنتونه به یې قایم کړل، خو کله به چې ده سر په کفن کې ونغښتو په پاتې کسانو کې به یې د قامولۍ مینه او اتفاق

او د اهلیت جذبه نه وه.

د دولت او اقتدار ګټلو دپاره به یو بل ته اړم شول، په عوامو کې به هم د قامولۍ احساس نه و چې مشران یې غلطې لارې ته نه پرېښودلې یا یې خود غرضه او ناپوهه مشرانو له موقع نه ورکولې. په پوهو، لایقو، بې غرضو او خدمتګارو مشرانو.را غونډېدلې او خپل حکومت یې ټینګ ساتلې. په عوامو کې د قامولۍ او ملیت د جذبې د نشتوالي له کبله به په دوی د خودغرضو مشرانو اثر وشو اوبې اتفاقي او خانه جنګي به عامه شوه خپل طاقت به یې پخپلو کې یو په بل ختم کړو. دښمنان خو به د موقع په طمع ناست وو، موقع به یې ومونده بادشاهي او حکومت به یې ور نه واخستو دوی به یې غرونو ته وشړل. دښمنانو به د دوی په ابادو مزې چرچې شروع کړې او دوی به غرونو رغونو کې سر وهلي در په در ګرځېدل، ځو چې به یې بیا توبه قبوله شوه. او د خدای رحم به پرې وشو لایق او پوهه سړي به په کې پیدا شول، بیا به یې دښمنان له وطنه وشړل او له نوي سره به یې په ابادۍ ګوتې پورې کړې.

د سکهانو نه پس د پېرنګیانو دور راغی، پیرنګي پخپله خو د سمندر د غاړې راغلی وو، ولې دا ورته معلومه وه چې د هندوستان د تاریخ ټولې حملې د قطب نه شوې دي، او د خپل برطانوي هندوستان سلطنت د ساتلو دپاره هغه د پښتنو خاورې ته راپورې وتلو چې په هغه درو لارو او سیندونو قبضه وکړي چې په کومو د بهر نه حملې شوې دي.

د فوجي حکمت عملۍ نه علاوه هغه د دې سیمې سیاسي حالاتو ته هم توجه وکړه هغه ولیدل چې دلته هم هغه پالیسي روانه وه کومه چې د هغه نه مخکې مختلفو حاکمانو ازمایلې وه. حقیقت دا دی چې

کله مغلو د پښتنو سره جنګونه وکړل او چې کله شهنشاه اکبر د پښتنو د لاسه اول په خیبر بیا په کړپه او په اخره چې یې کله د بونیر په کړاکړ کې د خپل پوځ سره سره خپل لوی وزیر بیربل هم مړ شُو نو بیا اکبر راغی پښتنو ته د اباسین نه پورې یې د اټک قلا جوړه کړه، سره د خپلو وزیرانو کېناست چې په دې خبره سوچ وکړي چې پښتون خو یې په جنګ ونه وهلی شُو اوس به یې په کومه وسله وهي. چنانچې د ډېر غور او فکر نه پس په دې نتیجه ورسېدو چې پښتون دوه خاصیته لري. یو پښتون من حیث القوم مسلمان دی او د اسلام سره لوی عقیدت لري. دویم انساني کمزوري یعنی د دولت سره مینه لري. نو د دې په رڼا کې هغه یوه داسې پالیسي وضع کړه چې داسې عالمان، ملایان، او پیران پیدا کړي چې د هغوی په ذریعه د اسلام د څادر د لاندې خپل سیاسي غرضونه سر کړي او دویمه دا چې د پښتنو د نیاوي مشران، ملکان او خانان د دولت او نوکرو په زور په بیعه واخلي. هم په دې سلسله کې مونږ وکتل چې د اخون درویزه او هغه په شان نورو ډېرو دیني مشرانو د مغلو په وینا او ښودنه د پښتنو د قامي او ولسي تحریک د مخنیوي دپاره د پیر روښان غوندې باعمله عالم او سوچه مسلمان باندې د مغلو دپاره د کفر فتوې ولګولې.

پېرنګي دا ولیدل چې همدغه پالیسي د مغلو نه پس درانیانو خپله کړه او د هغوی نه په وراثت کې سکهانو ته پاتې شوه. پیرنګي چونکه د شلمې صدۍ د تعلیم یافته او ساینسي دور پیداوار وو نو ده هم د شهنشاه اکبر هغه مجربه نسخه خپله کړه او کوشش یې داو چې یو خوا د پښتنو دیني مشران د خپل سیاسي غرض دپاره استعمال کړي او بل خوا د هغوی دنیاوي مشران په دولت او

منصبونو واخلي. ولې ډېره د تعجب خبره دا ده چې هغه اسلام چې کوم مغل مسلمان د خپل مسلمان ورور د غلامولو دپاره استعمالولو هم هغه اسلام نن دې ایمان خرڅو ملایانو، عالمانو او پیرانو د کافر پیرنګي د سیاسي اغراضو او مقاصدو دپاره استعمالوو.

## د پښتنو خویونه او دودونه:

سره ددې کله چې پیرنګی راغی زما یاد شي چې په پښتنو کې ډېر ښه ښه خویونه او خصلتونه لا موجود وو په دروغو به ځان ورته بد ښکارېده. وررولي عزیزولي به یې ښه پالله. یو په بل اعتماد و. په یو بل به یې ننګ کولو، راشه درشه وه، مینه محبت و، که د یوبل سره یې څه اختلاف هم و، په سپکه به یې نه یادول داسې نه و، لکه دا اوس په خوله یوه او په زړه بله، ژوند بالکل ساده او بې تکلفه و، په ناسته ولاړه کې ډېره تېته پېته نه وه، جامې ساده او د وطن جوړې وې، د خپل وطن شډله خامتا یې د بل په اطلس نه ورکوله د خامتا لوی لوی خلکې او کمیسونه او پرتوګونه به یې اغوستل، د وطن جوړې پنې او څپلۍ به یې په پښو کولې، ټوپۍ او د خامتا پګړۍ به یې په سرولې. ښځو به د رنګینه خامتا جامې او مشروبي[*] پرتوګونه یې اغوستل، خوراک هم ساده و، د ساده خوراک په وجه د خلکو صحتونه ښه وو دومره کمزوري نه وو، مسالې نه وې، چای نه وې، سود کول، شراب څښل او زنا یې ډېر بد ګڼل، که به پوهـ شول چې څوک دا کارونه کوي نو د هغه سره به چا خپلولي نه کوله، خور، لور به چا نه ورکوله. اخلاقاً دومره پرېوتي نه وو لکه اوس چې دي. د چا

---

* مشروبي: د خپل کلي کور جولا به یو رخت جوړولو چې هغې ته به یې مشروبې ویل.

چې به زورور مېلمه راغی نو چرګ به يې ورله حلال کړو، د غوړو نه ډکه ښوروا به يې جوړه کړه، دغواوو، مېښو زېړ غوړي به وو. سرې سرې پستې پړسېدلې، خمبيره ډوډۍ به وې. مازيګر به په بټ د جوارو نينې کېدلې ګوړه به ورسره خلکو خوړله، په ډوډۍ کې به د امير او غريب فرق نه و. ټولو به په يوتالي او يو ځای کې ډوډۍ خوړله، څرنګه چې پوښاک او خوراک ساده وو دغسې د ناستې ځايونه او کورونه هم ساده وو. يوه لويه کوټه به وه ټول کوربانه به يو ځای ويده کېدل او چې مېلمه به راغی نو د کلي په شريکه حجره کې به څملاستو د اکثرو خلکو کورونه په دغه شان وو او چې کوم سړی په دوی کې لوی سړی و، يا به خان و نو د هغه په کور کې به د کوټې سره يو ځای يو منډو او ډېوډۍ وه او د مېلمنو دپاره به بېله حجره هم وه. دا اوچتې اوچتې ماڼۍ او سپينې سپينې بنګلې نه وې خو هغه خوشحالي او اسودګي چې په هغه ساده ژوند کې وه، نن په دې ښکلو ښکلو بنګلو کې او په دې خوندورو خوراکونو کې او ډولۍ جامو کې نشته.مرضونه ډېر نه وو، نر او ښځې په بدن سالم او تکړه وو، جينکو او هلکانو به يو ځای لوبې کولې لوی لوی به وو، د شپې تر ناوخته به يې لوبې کولې، يو بل ته به يې د خور او ورور په نظر کتل، اخلاقاً ډېر اوچت وو. د لوبو ډېر رواج و، قسم قسم لوبې به وې، د پښتنو په لوبو کې د هر قسم پريکټس (سپورټ) خيال ساتلی شوی و.د منډو خيال په کې و،د بار اوچتولو او وړلو خيال په کې و،د سا اخستلو خيال په کې و،د شپې ګرځېدلو په شپه کې د ځان پټولو د مخالف فريق د لټولو خيال په کې و او همدا وجه وه چې د دوی صحتونه ښه او ډېر ښايسته وو،اګر چې په لوبو کې به دريم ګړی نه وو، مګر بيا هم لوبغاړو به يو بل سره ټګي نه کوله.

## د پېرنګي اثرات:

د پېرنګي د راتلو نه وړاندې د پښتنو د تعليم څه خاص انتظام نه و، هر چا به تعليم نه کاوه. صرف د ملايانو زامنو به د لمانځه اوداسه، روژې سرسايې، حج او قرباني، زکات او صدقاتو او د دغه شان مسئلو تعليم کولو دا هم د امامتې له پاره لوستل به يې زده وو، ليکل به يې نه وو زده او د دغه تعليم طريقه هم دغسې وه چې ملا صاحب به په جماعت کې ناست و، د امامتې سره به يې هلکانو ته درس هم ورکاوه، مور او پلار به چې وغوښتل چې پخپل اولاد تعليم وکړي نو جماعت له به يې بوتلو او د ملا صاحب سره به يې په سبق کېناوه. ملا صاحب به ورته سيپاره شروع کړه، مور او پلار به يې د خپل وس سره سمه شيريني ووېشله او چې يوه سيپاره به خلاصه شوه نو ملا صاحب له به يې شکرانه ورکړه او د بلې په شروع کې به بيا شيريني ووېشلې شوه. د ملا صاحب د تعليم ورکولو په بدل کې څه خاصه تنخواه نه وه، د استاذانو به د خپلو شاګردانو سره ډېره مينه وه، د خپلو بچو په شان به يې ګڼل. شاګردانو به هم استاذ د پلار نه کم نه ګڼلو.

استاذ به د سبق معنا شاګردانو ته نه ښودله هغوی غريبان څه ملامت وو هغوی يې پخپله هم په معنی نه پوهېدل نو شاګردانو ته به يې څه ښودلي وو.

زمونږ د جماعت اخون هلکانو ته سبق ښودلو، يو هلک ته يې چې سبق ښوو نو ورته په غصه شو ورته وويل «ان الـــذين کفـــروا خربيشويه» نو شاګرد هم وويل «ان الذين کفرو خربيـــشويه» دا چې مونږ واورېدل نو ډېر مو وخندل نوهغه شاګرد ته په غصه شُو، مونږ ورته ووې چې د دې هلک څه قصور دی ته چې څه وائې هغه يې هم

وايي.

پېرنګيانو د هندوستان د خلکو د تعليم د پاره په نوي طريقه سکولونه جوړ کړې وو خو د پښتنو د پاره يې تش په نامه د کمې درجې سکولونه جوړ کړې وو.

چرته به په يونيم لوی کلي کې پرايمري(ابتدايي) سکول و، په هغې کې به هم څه دومره هلکان نه داخلېدل.نور هندوستان له يې ابتدايي تعليم په مورنۍ ژبه کې ورکولو،خو يو پښتون بدقسمته قام له يې تعليم په پردۍ ژبه کې ورکولو.د دې دپاسه يې ملايان ورپسې لمسولي وو چې که دا قام تعليم وکړي ستاسو قدر به کم شي او بازار به مو سوړ شي ، بيدار شئ چې د پښتنو بچي درنه علم ونه کړي، ملايانو به پراپيګنډه کوله چې پښتو دوزخي ژبه ده او دوزخ کې به پښتو ويلی شي. د ملا صاحب نه هېچا دا پوښتنه نه کوله چې هلکه ته د دوزخ نه کله راغلی يې او کوم دوزخي دا خبرې تا ته رسولې دي.

ملايانو به دا هم ويل چې څوک د مدرسې سبق ووايي نو اووه پېړۍ يې په دوزخ کېږي او دا سندره به يې ويله:

سبق د مـــــدرسې وی
دپـــــاره د پيسې وی
جنت کې به يې ځای نه وي
په دوزخ کې به ګسي وهي

ملايانو خوخلک د انګرېز په سکولونو کې د تعليم نه منع کول خو پخپله يې هم هېڅ انتظام نه کولو او عجيبه خبره خو دا ده چې ملايانو د دين په نامه خلک له علمه پاتې کول، حالانکه اسلام داسې دين دی چې علم يې په نرو او ښځو فرض کړی دی، خو مونږ داسې بدقسمته

قوم یُو چې د اسلام په نامه دعلم نه پاتې شُو ،همدا وجوهات وو چې پښتانه د ټولې دنیا د قومونو نه په علم کې وروسته پاتې شول او نتیجه یې دا شوه چې یوازې علم څه چې هر څیز کې د دنیا نه وروسته پاتې شُو او څومره د افسوس خبره ده چې یو وخت د پښتنو خاوره د دنیا د خلکو دپاره د علم مرکز و. دلته په هغه وخت کې چې یوروپ د انسانیت د تور دور نه تېرېده د پښتنو په دې خاوره لوئې لوئې درسګاهې او یونیورستۍ وې چې چاپېره ملکونه یې د علم په رڼا روښانه کول.

د لرې لرې وطنونو نه به خلک د علم د زده کړې دپاره زمونږ وطن ته راتلل او د اسلام په نوم نن د دنیا د ټولو قومونو نه په علم کې وروسته پاتې کړی شول.

زما د مور او پلار اولاد نه پائېده نو دوی په ډېرو زیارتونو ،باباګانو ، ملایانو باندې ګرځېدلي وو ، هغوی ورته ویلي وو چې خدای پاک به زوی درکړي او چې زوی مو وشي نو غوږ به یې سوری کوئ او د سرو زرو والۍ به په کې اچوئ او بل به تر اوو کالو پورې کال په کال د سپینو زرو اوربې ورته په غاړه کې اچوئ او چې د اوو کالو پوره شي نو بیا به ترې دا اوربې او دا والۍ وباسئ او د خدای په رضا به یې ورکوئ.

## زما نیازبین توب:

زه د مور پلار کشری زوی وم، او کشری اولاد په مور پلار ډېر ګران وي، او ورسره یې ډېره مینه اومحبت وي، اونازبین وي، زه هم مور او پلار ته ډېر نازبین وم او زما دې نازبینتوب ما ته هم ډېر نقصان رسولی و او زما مور له یې ډېر تکلیف ورکړی و، ما چې به

ویل که دوی به منل خو ښه او که به یې نه منل او د منلو به نه و نو زه به بیا به څمکه رغړېدم او په چغو چغو به مې ژړل او تر هغې پورې به مې ژړل او رغړېدم چې تر څو به زما مور زما خبره منلې نه وه. دغه شان تږوله ورځې به مې په غرمو منډې وهلې دا راته چا نه ویل چې په غرمو مه ګرځه او که به یې راته وویل نو ما منله کله. اکثر به په دې غرمو ګرځېدلو زما سترګې خُوږ شوې، د شپې او ورځې به نا ارامه وم، مور به مې هم د ځانه سره نا ارامه کړې وه، شپه او ورځې به مې پرې خپله زانګو زنګوله او چې مور به مې ډېره ستړې او تنګه شوه او خدمتګاره به یې راته زانګو ته کېنوله نو ما به چغې کړې نو هغه به راغله شپه او ورځ مې هغه نا ارامه کړې وه او زما زانګو به یې زنګوله. هغې به راته ووې چې یه بچیه! دا زه دې په څه مصیبت کې اچولې یم چې لږه شېبه درنه اخوا شم نو ته بیا چغې کړې ارام ته ما نه پرېږدې. نو ما به ورته وویل چې زه څه وکړم زه خو ړند یږم.

زمونږ به ډېره غَلَه کېدله، کندوان به ډک وو چې نوې غله به را ولګېدله نو بیا به مو هغه زړه غله خرڅوله، زمونږ د کور سره یوه درام او کیوسنګ هتۍ وه دا دواړه ورونه وو ما به تږوله ورځ د دې کندوانو نه غله دې هتۍ ته زغلوله، په هغه وخت کې به په هټو کې د دې قسم څیزونه نه وو لکه نن یې چې مونږ وینو. زیات نه زیات به په کې املوک، غوزان، چنې او منچې وې او ماسپښین نه پس به یې باټینګڼ او پکوړې تلولې مور به را له دوه درې ځله په ورځ کې په جولۍ کې غله را کوله لیکن په هغې به زما تسلي چېرته وه، اکثر به مې د هغې نه په پټه دانې د کندوانو نه هم وړلې او کتل به مې چې مور به مې اخوا دې خوا شوه نو ما به په یوه منډه هتۍ ته ځان رساوه، کله نا کله چې به د مور راته فکر شو نو اواز به یې را باندې وکه چې «نه

به ځي» او ما به پښو له ښه زور ورکه،لیکن د دې نه زیات به یې راته ځه ویل نه. زه خو مور ته ډېر ګران او نازبین وم. زه خو پخپل سود او زیان ښو او بدو نه پوهېدم او دا خو ما سره مور ښه نه کول ځکه دې کار په ما کې د غلا عادت پېدا کاوه. زما مور له په کار و چې زه یې د دې عمل نه منع کولی او زه یې پوهولی چې بچیه دا کار خو بد دی او ته باید دا بد کار ونه کړې ته چې څه غواړې هغه خو زه درکوم. زه یې باید پوهـ کړی وی او د دې عمل نه یې توبه ګار کړی وی ځکه د مور غېږ خو د انسان اوله او ډېره مهمه مدرسه ده.

ولي را ته کیسه کوله چې زه په لندن کې سهار د خپله مکانه را ووتم چې ګورم نو یوه ډېره ښکلې منه د ونې نه راپرېوتې ده یو ماشوم هلته ولاړ دی ما ورته اشاره وکړه چې واخله(Take it) نو هغه راته ګوته وخوځوله چې نه، دا زما نه ده(No, it is not mine) هغه خو ماشوم و، دا ورته چا ښودلي و؟ دا ورته مور.

په ماشوم والي کې چې څه عادتونه په بچو کې پیداشي نو چې بیا غټ شي نو هم په کې وي او په ډېره مشکله د هغو بدو عادتونو نه خلاصېدی شي.

زه چې به د شپې د مور سره اوده وم نو په شپه کې به چې را ویښ شوم نو به مې وژړل او چې نه به چپ کېدم نو مور به راته ویل چې هغه دی«بَو» راغی هغه دی«پېرى» راغی نو دا زما په ذهن کې تر اوسه پورې د «بو» او«پېري» دا وېره پرته ده حالانکه چې زه په دې خبره پوهـ یم چې نه «بو» شته او نه بلا شته، زمونږ یوه لویه کوټه وه، مونږ ټول به په هغې کې ځملاستو زه ښایسته لوی وم،خو یوازې ځملاستی نه شوم د مور سره به ځملاستم ځکه چې زه به یوازې وم نو په ما به خپسه راتله زه چې بیا ښنار ته د سبق له پاره لاړم نو چې بابا به مې ښار ته

راغی په ما به اختر و ځکه بیا د هغه سره څملاستم.

د کیسو ډېر شوقمن وم او داسې ذهن مې و چې هر قسم اورېده او لنډه قصه به مې د چا نه واورېده بیا به هغه زما زده وه. ما ته اوس هم د ماشوم توب کیسې یادې دي.

زمونږ په کوټه کې یوه دوکانچه(څوتره) وه د دې دوکانچې په مینځ کې به نغري وو په هغې به هم پخلی کېده او هم به یې کوټه تودوله د دې نغرو یوې خواته به پوزکي غوړېدلي وو لیمځي به پرې د پاځه پراته وو. یوې خواته به زنانه ناستې وې او بلې خواته به نارینه کېناستل. چې د ډوډۍ وخت به شو نو زنانه و به مونږ ته ډوډۍ واچوله او چې مونږ به اوخوړله نو بیا به هغوی خوړه. په هغه وخت کې نارینه و د زنانه و سره ډوډۍ نه خوړه او دا ورته معیوب کار ښکارېده او ښځو هم د نارینه و سره ډوډۍ نه خوړه په ژمي کې به مونږ اکثر غتې وریژې خوړلې، هغه زمانه کې چاینه وې سحر وختي به چې پاځېدو نو وریژې به تیارې وې هغه به مو خوړې. دې وریژو سره به مو سوچه غوړي، اچار، شربت او کله قورت خوړل. په اوړي کې به چې سهار پاځېدو نو اکثر به مو په مستو شکره واچوله. د جوارو سره ډوډۍ به مو په مستو کې ماته کړه وبه مو خوړه. او چې کله به سبق ته تلم نو مور به راله د غنمو په ډوډۍ کوچ او شکره پورې کړل او هغه به مو بیا خوړل، لیکن دا خوراک د عامو پښتنو نه و، دا د هغو خلکو و چې خانان وو، غریبانانو به سره ډوډۍ او شوملې خوړلې.

زما د مور سره د مېښو ساتلو ډېر شوق و، اکثر به یې پخپله د هغې خسمانه کوله او اکثر به یې ورته پخپل لاس واښه اچول او بوتاوه به یې ورله جوړوله. د ماسپښین به یې ماته پیروی او شوده

راکول ښځې په پېروي باندې ډېرې مَينې وي، چا له يې نه ورکوي او پرې خپه کېږي، ولې چې بيا په کوچو کې نقصان راځي،خو زه ورته نازبين وم او ماله به يې راکول او زما د مور چې به هر شی په خوله خوږ ولګېد نو ماله به يې را کاوه او که زه به نه وم راله به يې ساته. چې کله به مې د پلار سره ډوډۍ خوړله او چرګ به مو پوخ کړی و نو هر چا له به يو هډوکی ورکاوه،خو بابا به مې ماله خپله برخه هم راکړه.

زمونږ ددې کوټې سره زمونږ يو ښکلی منډو هم و او ورسره يوه ډېوډۍ چې په هغې کې د بستو بېټک هم و.

زمونږ په دې کوټه کې لوی لوی کندوان هم وو چې په يو کې به جوار او په بل کې به غنم وو،په همدې کوټه کې به خومان وو چې په يو کې وريژې په بل کې مې، او بل کې شکره او ګوړه، اوړه،مرچکي به پراته وو او همدې خومانو سره به د غوړو ټيمان هم وو.چې د روژې مياشت به راغله نو زمونږ ډېره مالداري وه او ډېر پی، به وو،مور به مې اکثر پېشمني کې کير(شيربرنج) پخوو،هغه به ډېر خوند ناک و او د پېشمني به يې يو غټ پيروی نيولی و،هغه پيروی زما ډېر خوښ و او ډېر مزېدار به و نو زه خو ماشوم وم روژې په مانه اوړېدې،خو د دې پيروي د خاطره به مې هره شپه ويل چې ما به پېشمني ته پاڅوئ، زه به پشمنی د خوبه نه پاڅېدم مور به مې ويل چې مونږ تا کېنوو او ته نه راوينښېږې ببرته څملې او وده شې.زه به يې په ډېر زور پاڅولم او چې کله به يې پانه څولم نو چې سحر به را وينښ شوم نو ډېره لويه ژړا او انګولا به مې جوړه کړه.

❋❋❋

# سکول ته تګ او هغه وخت ابتدايي تعليم، د پېښور سکول، د کلي ماحول، مشن های سکول زما استاد وګرم صيب، اخترونه او مېلې، د امامانو مياشت کلي کلويغي، سخات خيرات، يوه لطيفه، واده ښادي د يوې پېغلې کيسه

## ابتدايي تعليم:

د خوش قسمتۍ نه زما پلار سره د دې چې متقي مسلمان و، خو روشنفکره سړی و، هغه د ملايانو د پراپېګنډې هېڅ پروا ونه کړه اومونږ دواړه ورونه يې په سکول کې داخل کړو.

پلار مې زه او محبت خان چې زما د کشر تره زوی و او زما همزولی و او پلار يې مړ شوی و، د کلي په جماعت کې د اسماعيل استاذ سره سبق ته کېنولو. زما د سبق په ناسته زما مور او پلار ډېر خوشحاله شول او ډېرې شېرينۍ يې ووېشلې. د اسماعيل استاذ نه مې قران ختم کړو، مور او پلار مې ډېره خوشحالي وکړه شېريني يې ووېشله او استاذ له يې ډېره شکرانه ورکړه، خو زه په قران پوهـ نه شوم. زمونږ کلي کې يو پرايمري سکول و، خو زما مشر ورور خانصاحب دغه وخت کې د پېښور په سکول کې سبق ويلو. زه هغه د سبق دپاره پېښور ته بوتلم او په هغه سکول کې يې زه هم داخل کړم چې ده په کې سبق ويلو ولې چې په دغه وخت کې د کلو حالت ډېر

خراب و.پرې جنبې، دښمنۍ او تربګنۍ وې، جنګونه او قتلونه وو د دروغو دعوې او مقدمې وې.

## د پېښور سکول:

دغو ورځو کې پېرنګیانو د (جرګې سیستم) په نامه د پښتنو په کورنۍ چارو کې لاس وهلو دپاره یو مخصوص نظام جاري کړی و چې د پښتنو د روایتي قامي جرګو سره یې سمون نه خوړ.اکثر به بې ګناه خلک قید شو او ګنهګار به خلاص شو او نارینه خو پرېږده چې زمونږ ښځې یې هم قچرو ته راوښکلې په ملک کې ډېر ګړبړی و او دا ټول دې جرګې سیستم(نظام) پیدا کړی و.انصاف نه و.یو شریف سړي دپاره دلته ژوند ډېر ګران و.که زه په داسې ماحول کې کلي کې پاتې شوی وی نو د مالکې په کان کې به زه هم مالګه شوی وی.ما ته که په دې تلو کې یو طرف ته فایده ورسېده نو بل خوا مې تعلیمي تاوان وکړلو.د پرایمري پورې تعلیم مې په دې سکول کې وکړو ما ته د پېښور د سکول نه د خپل کلي سکول ښه و، ځکه چې د تعلیم ذریعه خو په دواړو کې اردو وه خو په اتمانزو کې به د سکول استاذ پښتون و،مونږه به یې په پښتو باندې پوهولی شو او په پېښور کې د سکول استاذ د پنجاب و.هغه له پښتو نه ورتله او یو شپږ کلن اووه کلن ماشوم ته دا ډېره ګرانه شي چې په یو وخت هم پردۍ ژبه زده کړي او هم په هغه ژبه کې علم زده کړي.بله دا وه چې په پېښور کې زه د ډاکټر صاحب سره وم او د ډاکټر صاحب پخپله هم د لوبو سره شوق و او زه به یې هم د لوبو نه نه منع کولم، او د ماشومانو خو تعلیم او سبق ته ډېره نه لګیږي د لوبو سره شوق لري.زما هم سبق ته ډېره ډېره نه لګېده او د لوبو سره مې شوق و،په سکول کې به د فټبال او کرکټ لوبې

کېدې ډاکټر صاحب د کرکټ د ټيم کپتان و.

زه په لوبو کې د نورو نه وړاندې وم، زما په ورزش کې د لامبو سره هم ډېر شوق و. په کلي کې چې به وم مور به مې په څوکۍ ساتلم چې سين له لاړ نه شم هسې نه چې سيند مې يوسي ما به مې د مور سترګې څارلې چې موقع به مې بيا مونده نو په منډه به سيند ته لاړم. د مور اند ېښنه مې بې ځايه نه وه،زه دوه کرته سيند وړی وم. او دواړه کرته به د سيند په غاړه څوک ولاړ و زه به يې وکلم. زه چې په ميونسپل بورډ سکول کې وم زما په مدرسه کې د هغو خلکو د بچو سره تعلق پيدا شو او لوبې به مې ورسره کولې چا چې به د مدرسې صفايي کوله او خلکو به ورته بنګيان او چوړيان ويل او خلکو به زه د دوی سره د لوبو نه منع کولم، خو زه نه منع کېدم نو په دې وجه به يې ماته هم ښه نه کتل،خو ما د دې پروا نه کوله.د ډاکټر صاحب د خلکو سره راشه درشه هم ډېره وه ماته به يې توجه نه وه چې امتحان ته به مياشت دوه پاتې شوې نو هله به ډاکټر صاحب پخپله هم کوشش شروع کړو او په ما به يې هم زورولګولو د دغې مياشتې دوو په کوشش خو به زه په امتحان کې پاس شوم خو کمزوری به وم.

د ډاکټر صاحب ناسته ولاړه په دې وخت کې د دوه سرو د غلام سرورخان د تهکال، ارباب جمعه خان د چارسدې، پردل خان او د قاضي خېلو ميا محمد زمان سره وه. دوی په ما ډېر مهرباني او شفقت لرلو او ما هم د دوی ډېر قدر او عزت کولو.دغه شان د ښار شيخ صاحب او حافظ جي زرګر او بشير زرګر سره يې ښه تعلقات وو. ثمين جان خان زما د سکول ملګری و، خو دی زما نه يو جماعت مخکې و، او د دغه وخت نه زما او دده پېژند ګلوي شوې ده،دی د غلام سرورخان په سر پرستۍ کې و.زما او دده تعلق مينه او محبت د

وړوکوالي نه تر مرګه پورې و. زما ورور خانصاحب چې کله لسم جماعت پاس کړو کلي ته راغی او زه یې د ځان سره کلي ته راوستم او د چوټیې (رخصتۍ) په ورځو کې یې د کلي په مدرسه کې داخل کړم. سحر به مدرسې له تلم او مازیګر به کورته راتلم.

## د کلي ماحول:

یوه ورځ د مدرسې نه راووتلم ګورم چې یو لوی جلوس را روان دی، یو سړی مخکې دی او خانان او ملکان ورپسې دي. خواوشا عوام هم ورپسې دي.

د جلوس له مینځه زما یو تربور چې هغه زمونږ ملک و، ماته اشاره کوي او لاس په تندي ږدي خو زه یې په مطلب پوهـ نه شوم او د جلوس په تماشا یم چې جلوس تېر شو او کورته راغلم څه شېبه وروسته زما هغه تربور مونږ کره راغی نو ماته یې ډېرې خبرې وکړې چې سره د تعلیمه ته دومره نالایقه یې چې ما درته اشاره کوله چې صاحب ته سلام وکړه تا زما په اشاره هم سلام ونه کړ. ما ورته وویل چې دا څوک و نو ده راته وویل چې دا تانه دار صاحب و. ما ورته وویل چې ما څه پېژانده ده راته وویل چې اوس خو دې وپېژانده اینده پام کوه. په دغه وخت کې د پېرنګیانو د حکومت ډېر زیات رعب او دبدبه وه. او خلکو به تانه دار هم د ملک لوی حاکم ګڼه، یوه ورځ دا ملک صاحب راغی زه په کلي کې وم ما ته یې وویل چې اسسټنټ کمشنر سره زه یوې موقع له ځم ته هم را سره لاړ شه. زه هم ورسره لاړم. مونږ دواړه په اسونو سواره شو چې د چارسدې تحصیل ته ورغلو اسسټنټ کمشنر هم راغی په اس سور و. لاړو هغه موقع مو ولیده چې بېرته راغلو او د یو بل نه رخصتېدو نو ما په اس سور اسسټنټ

کمشنر ته د یوه بل نه د رخصتېدو په وخت لاس ورکړ نو چې مونږ را روان شو دی ماته ډېر په غصه شو او ماته یې وویل چې تا له په کاروو چې د اس نه کوز شوی وی او هغه له دې لاس ورکړی وی.

زمونږ د ترناو سره خوا کې د زراعتي تجرباتي فارم مشر یو انګرېز و، مسټر براون یې نوم و. دغه وخت کې زه د تعلیم نه خلاص شوی وم او ماسره د زراعت ډېر شوق و. زه به هم کله نا کله فارم ته تللم او دی زما ډېر دوست شو. یوه شپه زما مېلمه شُو چې ډوډۍ مو وخوړه د ګپ شپ نه پس دی رخصتېده ناوخته و، ما ورسره سړي کول چې وئې رسوي، ځای د اتمانزو د نهر بنګله تقریبا زمونږ د ځایه یو میل لرې وه نو ده ماته وویل چې ماته د سړو حاجت نشته بس یو سړی دې ما سره لاټین واخلي چې خلک زما ټوپۍ ووینی نو ماته بیا څوک څه ویلی نه شي.

زمونږ په کلي کې یوه کونډه ښځه وه یو زوی یې و، هغه پولیس نیولی و، د پولیس لوی کپتان کلي ته راغلی و، خلک ورته ورتلل دا کونډه هم خبره شوه د خلکو سره دا هم ورغله هغه وخت چې به پېرنګي کوم ځای ته تللو د لرې لرې ځایونو خلک به چې خبرېدل لیدو ته به یې راغونډېدل. دې کونډې ورته د خپل زوی په باره کې عرض کړی دی هغه تانه دار را غوښتی دی، پوښتنه یې ترې کړې ده، بوډۍ ته یې ویلي دي چې زوی به دې خلاص شي بوډۍ ورته په دعا لاس پورې کړی دی چې خدای دې تانه دار کړه. نو هغه وخت تانه دار خلکو ته ډېر لوی افسر ښکارېده. کپتان سوټ اچولی و بوډۍ چې کتلي څادر یې په اوږه نشته ورته یې ویلي دي زویه ته خو څادر هم نه لرې ما کره ډېره ښه خامتا پرته ده که دې خوښه وي یو څادر به درله راوړم. د پولیس اختیارات هم زیات ووکه به یې وهل او که به یې تړل

او که به یې پرانستل چا ترې پوښتنه نه کوله ګناهګار به یې پرېښود او بې ګناه به یې را ایسار کړ چا ورته دومره نه شو ویلی چې په مخ دې څو سترګې دي د تانه دار په دوستۍ او اشنایۍ به لویو لویو خانانو او ملکانو فخر کاوه او د تانه دار په دوستۍ به یې غریب خلک ځورول او خوړل.د سودم یو لوی مخوریز خان و عجب خان نومېده د تانه دار سره یې په څه شي خبره اړولې وه تانه دار په ناروا مقدمه کې ښکېل کړ او پهانسي شو.

د پېرنګیانو د ظلم او زیاتي په مقابله کې به کله نا کله د ځینو غیرتیانو غیرت په جوش راغی او پرې ور وبه یې دانګل.زمونږ د کلي یو خان ، عبدالحمید خان نومېده د هغه مشر ورور عمر خان د پولیس سره راز باز لرو او د خپل کشر ورور په سپکولو پسې یې تانه دار راوستی و. خدای دې پښتون ته دبدۍ وس نه ورکوي او چې وس ومومي لکه د لړم د بچو خپله مور خوري. د عبدالحمید خان هسې هم د تانه دار سره چې رام داس نومېده او د پنجاب هندو و او ډېر ظالم او بدې خور سړی و ، نه لګېده او نه یې پخپله د پولیس سره ناسته ولاړه خوښېده د عبدالحمید خان او د ورور یې حجره شریکه وه.عبدالحمید خان دوی اُوده دي چې ورور یې تانه دار پرې وروخېژاوه،تانه دار دروازه ورټکولې ده عبدالحمید خان د خوبه را ویښ شوی دی غږ یې کړی دی چې څوک یې تانه دار ورته ویلي دي چې رام داس یم هغه ورته ور پرانیستی دی تانه دار د ورننوتو سره پرې چغه وښکلې ده چې ونه خوځېږې خان ورته سر را پورته کړی دی چې تانه دار صاحب مونږ معاف کړه.دومره خبره تانه دار خپله بې عزتي ګڼلې ده او پرې غړمبېدلی دی د خان خو هسې هم ورته زړه ډک و ،ټوپک یې ورته را اړولی دی او ویشتی یې دی.د ده او د پولیسو

ډزي شوې، دی هم ولګېده، رام داس مړ نه و زخمي و، خو خپله ساه يې بنده کړې وه. هسې نه چې خلک ووايي چې ژوندی دی مړ يې کړ ئ.رښتيا خبره داده چې ظالمان بهادران نه وي ډېر بزدله او بيمانه وي. بهادر سړی هيڅېري په چا ظلم نه کوي. د شپې رپوټ وشو مجسټريټ راغی، سهار مونږ خبر شو د پېښې ځای ته ورغلو ډېر خلک هلته را جمع شوي وو، ځکه چې د تانه دار سره مقابله لويه خبره وه هر څوک راتلل چې پخپلو سترګو حالات ووينې خان قيد شو خو د تانه دارانو سرته هم عقل راغی. دغسې نور واقعات هم کېدل د تنګي اجون خان چې تحصيلدار ورته سپکې سپورې کړې وې تحصيلدار يې تبنتولی و. دغه مقابلې انفرادي وې.

که څه هم دغه مقابلو قوم ژوندی ساتلی دی خو په دې طريقه کاميابي حاصلېدی نه شي د کاميابۍ دپاره اجتماعي تحريک او قرباني په کار وي نو د چا په زړه کې چې دا قسم جذبات او احساس پيدا کېږي هغوی له په کار دي چې په قام وګرځي او ځان سره د دې قسم د احساس خاوندان ملګري پيدا کړي او په ګډه د ظلم، زياتي او بې عزتۍ مقابله وکړي چې په قام کې داسې ډله پيدا شي او قوم تنظيم کړي نو کاميابي حاصلېدی شي او هغه قام بيا څوک غلام ساتلی نه شي. د انفرادي او اجتماعي حرکت يو فرق دا دی چې حکومتونه انفرادي حرکتونه خاموش کولی او ختمولی شي. همدا وجه ده چې په انفراديت کې وېره او ترس هم ډېر وي او حکومت اجتماعي حرکتونه وژلی نه شي، ځکه چې وېره په کې نه وي. ډېر انفرادي حرکتونه چې ډېرو غښتلو پښتنو يې رهبري کوله. مغلو انګرېزانو او پاکستان خاموش او ختم کړل مګر خدايي خدمتګار تحريک چې اجتماعي تحريک و، نه د پېرنګيانو ظلمونو، وژلو،

وهلو، ټکولو، قیدولو، بې ابه کولو، فریبونو، د سیسو ختم کړ او نه د پاکستان د دوه د ﺑﺮش کالو ظلمونو، شرمولو، وژلو، جائداد ضبطولو، قیدولو، پرمټونو او لالچونو ختم کړ. په پښتنو کې ډېر لوی لوی پاچاهان او مشران پیدا شوي دي او تېر شوي، خو هېچا په پښتنو کې اجتماعي ژوند او د اجتماعي ژوند فکر نه دی پیدا کړی، اولنی تحریک د خدایي خدمتګار تحریک دی چې اجتماعي ژوند او فکر یې په کې پیدا کړو.

## مشن سکول:

ما چې د پنځم جماعت امتحان ورکړو او شپږم ته پاس شوم خانصاحب د لسم نه یولسم ته پاس شُو. زمونږ په ټوله صوبه کې کالج نه و، په دغه کال په مشن سکول کې یوولسم پرانستل شوی و نو زما ورور خانصحاب په مشن سکول کې په یوولسم کې داخل شُو. او زه یې هم د مشن سکول په شپږم کې داخل کړم تر کومې پورې چې مونږ بورډ سکول کې وو په ښار کې اوسېدو او چې په مشن سکول کې داخل شُو نو د مشن سکول په بورډنګ کې چې په چونۍ کې و اوسېدو. د دې ځای هوا صافه او پاکه وه د صحت د پاره ښه وه. د فټبال، کرکټ او ټینس میدانونه یې لرل. دوه بورډنګونه یې لرل. یو د مسلمانانو او بل د هندوانو و، خو مونږ ته یې د بورډنګونو نه بېل ځای راکړو. زما د تره زوی او زما همځولي مهابت خان هم په کلي کې پنځم جماعت پاس کړی و او د سبق د پاره دلته راغلی و او مونږ سره یو ځای و. په بورډنګ کې ډېر هلکان وو پښتانه وو او د صوابۍ د تحصیل وو.

څوک لوی څوک واړه خو ډېر شریف هلکان وو زمونږ او د دوی د

ورونو په شان ګوزاره وه. زمونږ بورډنګ په چونۍ کې او سکول مو په ښار کې و. د دې سکول سبق نسبتاً د بورډنګ سکول نه ښه و، د ښوونې طریقه یې هم ښه وه استاذان یې هم ښه وو او د هلکانو سره یې ډېر کوشش کاوه.

## زما استاذ:

زمونږ بورډنګ ته مخامخ د پرنسپل چې مسټر هور نومېده بنګله وه په هغې کې زمونږ هېډماسټر وګرم صاحب او د هغه ورور ډاکټر وګرم صاحب چې په مشن هسپتال کې وو اوسېدل. دا دواړه ورونه د انګلستان د یو لوی سړي زامن وو. دواړه یې مشن ته بخښلي وو، په کومه مینه او اخلاص چې دې دواړو ورونو د خلکو خدمت کاوه زه یې بیان نه شم کولی. زه هغه وخت وړوکی وم،خو څه نه څه په دې خبرو پوهېدم. مسټر وګرم به چې کومه تنخواه اخیستله د هغې نه به یې زمونږ بې وزلو پښتنو هلکانو ته وظیفې ورکولې. یوه ورځ زما پښه ګزک شوې وه ډاکټر وګرم خبر شو، راغی زه یې خپلې بنګلې ته بوتللم اوبه یې ګرمې کړې زما پښه یې ووینځله او بیا یې زما په پښه پټۍ ولګوله. ربښتیا خبره خو داده چې زمونږ د رسول(ص) په قول ((خیرالناس من ینفع الناس)) باندې دوی عمل کړی دی. وایه زمونږ چې ناس یعنې د خدای مخلوق خو پرېږده د خپل قام، ورور او عزیز خدمت کولو ته تیار نه یُو. خدمت خو لاپرېږده په اور کې رانه ولاړ وي او ځکه خو خدای خوار او ذلیل کړي یُو.ما کې چې د انسانیت، قوم پرستۍ، وروړۍ، عزیز ولۍ او وطن دوستۍ او د خدای د مخلوق د خدمت کومه جذبه پیدا شوې ده په هغې کې زما د دې استاذ وګرم ډېر لاس دی. ما به دا فکر کوو چې دوی د کوم ځای نه راغلي دي زمونږ د

قامه نه دي زمونږ په مذهب نه دي دلته راغلي دي او زمونږ د بچو خدمت کوي او غريبانو ته د خپلې ګېډې برخه ورکوي او زمونږ خپل وطن دی، زمونږ خپل بچي دي، زمونږ خپل قوم دی او مونږ د هغوی دپاره هېڅ نه کوو بيا به مې دې خپل قوم او ملک طرفته خيال لاړ نو ما به دې ته ډېر فکر کاوه چې زمونږ خانان نوابان، ملايان او تعليم يافته خلک سره د دې چې مونږ يو قوم، يو رونړه او يو مذهب يو خو دا جذبه را کې نشته چې د دې خپل غريب قوم د بچو سره امداد وکړو. په مشن سکول کې نيمه ګنټه د انجيل د درس دپاره وه((وال ډي ګريو)) نومي يو پيرنګی و هغه به راته د انجيل درس وايه او وعظ به يې هم راته کاوه. زه وړوکی وم په دې خبرو دومره نه پوهېدم خو ثمين جان خان زما نه يو جماعت مخکې و هغه پرې پوهېدو ماته به يې ويل چې زه د ((وال ډي ګريو)) وعظ ته غوږ نه نيسم په غوږو کې ګوتې ږدم ځکه چې په ما تاثير کوي هسې نه چې بل څه چل را باندې وشي.

## کليوالي لوبې:

زه د وړوکوالي نه کفايت شعاره وم او د خپل خرڅ د پيسو نه به مې بچت کاوه همدا وجه ده چې ما پخپل ټول عمر کې د چا نه قرض نه دی غوښتی او نه چاته محتاج شوی يم. خلکو زما نه قرضونه اخيستي دي چې ډېرو رانه خوړلي دي او زما د ورور خانصاحب مټ لږ ارت و. د ګرمۍ په چوټيانو کې به استاذانو ډېر کار راکاوه خو چې زمونږ به کلي ته پښې ورسېدې، بيا به مونږ وو او لوبې به وې، زمونږ به هم درس ته ډېره نه لګېده اومه او نه هم راته چا نه ويل.

د لوبو سره د خلکو شوق هم ډېر و، قسما قسم لوبې او ساعت تېرۍ

وې حجرې به د خلکو نه ډکې وې په حجرو کې به تتې کېده پټه کونجکه به د شپې په حجرو کې کېده، لونډان به د شپې په حجرو کې ثملاستل او د واده خاوندان په کورونو کې ویده کېدل، په حجرو کې به ترناوخته ځوانان په لوبو او ګپ شپ لګیاوو دومره کارونه او مصروفیت نه و. ژوند ډېر پیچیده نه و، خودغرضي نه وه، صفا، سوتره ژوند و. په اخترونو کې به لویه خوشحالي وه، خلکو به د یوبل کره د خوراک څیزونه لېږل. د زانګلو دپاره به د برګو لوی لوی ټالونه او باړي چغونه وو. ښځو به په کورونو کې ټالونه اچولي وو او یا به یې باڼي چغونه ابښي وو چې د ګوړوګانې به خلاصې شوې، اینډې او کبډې به شروع شوې. ځای په ځای به کبډې کېده ځوانانو به په کې زورونه ازمېیل.

زمونږ په کلي کې به کال په کال زوروره کبډې کېده او د لرې لرې علاقو ځوانانو به په کې برخه اخیسته او خپل زور او پهلواني به یې ښودله. په زرګونو تماش ګیر به ورته راتلل، زمونږ د کلي خانان به دوه ډلې شُو، یو داسې سړی به یې منصف کړ چې د چا پره به یې نه کوله ګیرچاپیر به خلک ناست وو او په مینځ کې به د کبډې میدان و، د یوې پرې نه به یو ځوان را پورته شُو په میدان کې به وګرځېده د بلې پرې نه به چې چا ځان کې د هغه د مقابلې طاقت لیده ورته به راپورته شُو کشتي به د منصف په اجازه شروع شوه د کومې پرې پهلوان چې به بریالی شُو د هغې پرې زلمیان به راغلل خپل پهلوان به یې په اوږو کړ، په میدان کې به یې وګرځاوه او خپل ځای ته به یې ورساوه او خانانو به ورله انعام ورکړ او د دې پرې خلکو به په هغه بله پره باندې«الا الا» چغې ووېستې په دې سلسله کې یوه واقعه زما یاده شي چې داسې یوې کبډې له یو زلمی د اتمانزو را پاڅېدو هغه پسې

د مقابلې دپاره د دواوې يو زلمی را پورته شُو، لکه چې د هغه وخت قاعده وه هر يو کبډمار به خپل خپل پير يا زيارت را يادوه. دوی چې خپل خپل باباګانو ته مخ واړوو او سلامونه يې اوکړل. نو منځه ګړي دواوه وال کبډمار ته ويل چې ستا بابا چې په دې سيندونو راپورې ووځي. نو اتمانزو وال به درله کار خلاص کړی وې ولې چې د هغه باباګان د کبډي ډاګ ته نژدې وو. او وشوه همدغسې دواوه وال را اوپرزېد .کله به يو هم ونه پرزېده او دواړه به ستړي شو منصف به ورغی او خلاص به يې کړل. کله نا کله به په لوبو کې جنګ هم وشو.

نورې لوبې هم وې لکه انګۍ، شرنګۍ، لنډي ماری، پټ پټانی، بنګړيـواتي، ګيټکه، پټه کونجکه، چيندرو او نور. په حجرو کې تاشونه هم کېدل د غوزانو لوبې هم کېدې. ما سره د دې ټولو لوبو شوق و او کولې مې او نورو نه به مې ګټلې. د کوم شي سره چې به مې شوق و په هغې کې به ماهر وم، نو ځکه په لوبو کې ماهر وم او چې د سبق سره مې شوق نه و په هغې کې مې خوند نه و او په سبق کې مې چې د حساب جومټرۍ او تاريخ سره شوق و، په هغې کې تکړه وم او د نورو مضمونونو سره مې شوق نه و. په هغو کې کمزوری وم او د نه شوق وجه همدا وه چې د دې مضمونونو ابتدايي زده کړه ما په ښار کې د پنجابي استاذ نه په پردۍ ژبه کې کړې وه. ښه مې نه وه زده کړې ځکه به مې ورته ډېره هم نه لګېده په حجرو کې به پوچ لوبه هم کېده او د لوبې په ګټلو به شرط هم لګېده، کومه ډله چې به پړه شوه هغې به چای، ډوډۍ، مېوه يا ګني چې په څه شي به شرط ايښودل شوی و راوړل.اکثر به شرط په چايو تړل کېده،ځکه چې چای نوی څېز و د خلکو به خوښېده.بابا به مې د چايو يوه عجيبه قصه راته کوله چې مدرسې ته يو افسر راغلی و،شاه بازخان (زمونږ د کلي لوی خان و

چاى راوړه يوه پياله يې ماته هم راكړه هغه وخت شنې چاى رواج وې، په بلغمي پياليو كې به څكل كېدې. ما سره مير افضل خان(زمونږ يو ميرنى تره و) ناست و ما خپله پياله هغه له وركړه ورته مې وويل چې توده ده هغه زما په خبره پوه نه شو يو ځل يې په سر واړوله ټوله خوله يې وسوزيده ولې چې هغه وخت چا چاى نه پېژانده او رواج ډېر لږ و.

## اخترونه او مېلې:

په اخترونو كې به لوئې لوئې مېلې لګېدلې په زرګونو خلك به په كې جمع كېدل. نېزه بازي به په كې كېده. اتڼونه به اچول كېده، ډمان به ګډېدل، د جوارۍ ډېس به كېده او خلك به په زانګوګانو كې ځنګېدل، سازيان به وو د سورلۍ دپاره به د لرګو اسونه وو، څوك به په اوښانو سواره وو، څوك به په اسونو، خانان به زورور ګڼلى شو، ډېر خلك به ورپسې وو، اكثرو خانانو به په دغه ورځ د خپل چم ګاونډ خلك د ځان سره بېول، په كباپونو او قتلمو او مېټايانو به يې مړول، دا په خانانو، د غريبانو خلكو يو قلنګ غونډې و، كله نا كله به په مېله كې جنګ وشو او ځينې وخت به د انفراديت نه جنګ اجتماعي شكل اختيار كړ نو بيا به د ګنهګار او بې ګناه فرق نه كېده، يو ځل داسې وشو چې زه وړوكى وم او د نصرو مېلې ته تلى وم په مېله كې زمونږ د كلي د خانانو او د پړانګو د خانانو جنګ وشُو، د جنګ نه پس هغوى خو د مېلې نه پښې سپكې كړې او ووتل مونږ يې خبر نه كړو، په داسې موقع خلك تل خپل كليوال خبروي او د مېلې نه يې وباسي. پړانګ كلى د مېلې ځاى ته ډېر نزدې و او په يوه چغه مېلې ته راورسېدل د رارسېدو سره يې په مونږ بريد وكړ، زمونږ نوكرانو خو څه مقابله ورسره وكړه، خو مونږ لږ وو او هغوى ټول كلى

و، زه وړوکی وم په اسپه سور وم چې دا خلک مونږ ته را نزدې شول، درځړو عبادت کاکا زر زر زه په غېږ کې را واخیستم او د اسپې نه یې را اوچت کړم، خو چې څنګه یې زه را اوچت کړم د پړانګو یو سړي لوی ډانګ اسپې له را خلاص کړو او په زین ولګېدو که د عبادت کاکا همت نه وی او زه یې نه وی را پورته کړی خدای زده که زه د هغې ګوزاره ژوندی پاتې شوی وی.

په دې جنګ کې ډېر کسان زخمیان شول او زمونږ په نوکرانو کې خو روغ نه و پاتې.دا مېله به د چارسدې تحصیل سره د اختر په دریمه ورځ لګېده او د نصرو مېله به یې ورته ویله په دې مېله کې به ډېره زوروره نیزه بازي کېدله. د لرې لرې ځایونو نه به شوقیان ښه ساتلي اسونه او نېزه بازان راتلل. لوبه به په ډېر جوش وخروش روانه شوه نېزه بازانو کې یو تر بله د سیالۍ او رقابت مقابله وه او په تماشګیرو کې هم جوش و خروش و. د داسې لوبو نه په خلکو کې د مېړانې، شجاعت او ټینګار جذبات قوي کېدل.

د شوقدر (شعبان المعظم) میاشت چې به وخته، خلکو به ډېرې خوشحالۍ کولې خصوصاً هلکان جینکۍ به په کوڅو کې اخوا دې خوا زغاستل خوشحالۍ به یې کولې د دې میاشتې په پنځلسمه (۱۵مه) به شوقدر و. د شوقدر په شپه به هم لویه مېله جوړه وه.

ښځو او جونو به په کورونو کې ټوټکۍ، چوړچوړۍ، ماتابۍ او پټاخۍ خلاصولې او هلکانو او نارینه و به بهر دوه ډلې جوړې کړې بېسونه او ښکرونه به یې ډک کړي وو یو په بل به یې خلاصول. کله به یې یوه ډله په مخه کړه او کله بله، کله به یې شتۍ او اوږدنډۍ اسمان ته ویشتې.کومو خلکو چې به ښکرونه خلاصول هغوی به د څرمنو جامې اغوستې وې چې اور پرې تاثیر ډېر نه کاوه. خندا به وه

خوشحالي به وه مستي به وه او ځينو مذهبي خلکو به په دې شپه دا کارونه ښه نه ګڼل په عبادت به يې شپه روڼوله او نورو ته به يې هم دا ويل چې په دې شپه عبادت ډېر ثواب لري، خو چا به ورته ډېر غوږ نه اېښوده.دا د پښتنو د قوت نښې نښانې وې چې څومره د پرنګيي د غلامۍ پړی مضبوطېده هماغومره د پښتنو جذبې مړاوې کېدلې.

## د امامانو میاشت:

لکه څنګه چې مونږ د خوشحالۍ اخترونه لرل دغسې مونږ د غم او خپګان ورځې شپې هم لرلې.د امامانو میاشت یعنې محرم د مسلمانانو یو شریک یادګار دی. زمونږ مسلمانانو ته په دې کې یو لوی درس او سبق پروت دی.د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مدینه کې د جمهوریت یوه روښانه ډېوه بله کړېوه، زه دا منم چې دغه جمهوریت یوازې د مدینې د ښار و او د مسلمانانو و،یعنې د مسلمانانو مشر او د رسول صلی الله علیه وسلم خلفاء او جانشینان به د صحابه په رایه ګیرۍ منتخب کېدل.

په ټوله دنیا کې تیاره وه مګر په مدینه منوره کې د ډېموکراسۍ ډېوه بله شوه او دا ډېوه هم د حضرت عمر رضي الله عنه پورې بله وه او کله چې د هغه د مرګ نه پس په مسلمانانو کې د پیسې او اقتدار شوق پیدا شو، دغه ډېوه مړه شوه او تر اوسه پورې مړه ده. یورپ چې په تیاره کې پروت و هلته هغوی بله کړه. هغوی پرې روښانه شول او مسلمانانو چې هغه مړه کړې ده.تر اوسه پورې یې بله نه کړی شوه او نن چې څومره د مسلمانانو ملکونه دي په هغې کې دیموکراسي (جمهوریت) نشته څه وخت چې اقتدار د بني امیه خاندان ته په لاس ورغی معاویه را پاڅېدو د مسلمانانو هغه حالت یې هم ختم

که معاویه په خپل ژوند د اقتدار او پیسو په زور د خپل مرګ نه وروسته خپل زوی یزید ته د مسلمانانو نه بیعت واخیست چې د مسلمانانو امیر به وي.د اسلامي خلافت دېموکراسۍ او قومي حکومت د تاسیس دپاره پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو ډېرې هلې ځلې او جدوجهد کړی و ،ډېرې قربانۍ یې ورکړې وې، ډېر زحمتونه یې ګاللي وو او هغه بني امیه په دغسې چل ول له مینځه یوړل نو ځکه که نور هر څوک چپ پاتې کېدی شو، حضرت حسین؏ چپ نه شو پاتې کېدی، دا مونږ مسلمانانو ته د ظالم او مستبد حکمران د مقابلې درس راکوي.

محرم ته پښتانه د امامانو میاشت وایي، دا میاشت د غم او خپګان میاشت ده خصوصاً په اولو لسو(۱۰) ورځو کې به چا ښادي، خوشحالي، خندا، ټوکه ټکاله نه کوله. د حسنینو په اروا او د خدای په نامه به خلکو شربتونه وېشل، لوی لوی خیراتونه به یې کول، ښځو به په کورونو کې او نارینه و به په حجرو کې جنګنامې لوستې او خلکو به ورته ژړل اوښکې توئېدل به یې ډېر ثواب ګڼل، د شپې به ښځو په کورونو کې وېرکاوه هلکانو او جینکو به په دې لسو ورځو کې خیراتي دانې غونډولې او په لسمه ورځ به یې د جمع شوې غلې نه خیرات کاوه. په لسمه ورځ به نر او ښځې هدیرو ته تلل په قبرونو به یې د امام حسین د تندې دیادولو په نسبت اوبه اچولې ، ماښام به هر چا د خپل حیثیت سره سم خیرات کاوه او دې ته به یې د حسنینو خیرات وایه او د شپې په ویرونو کې به یې دا ستاینې کولې ((حسنه څوک به دې ژاړې !وی وی حسنه در زلالی!)) او بیا به یې سینې وهلې او ژړا انګولا به یې کوله.

مونږ پښتانه د حسین؏ ډېر قدر او عزت کوو او په مونږ ډېر ګران

دی ځکه چې دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نمسی و او په هغه ډېر ګران و نو ځکه په مونږ هم ډېر ګران دی. بله دا چې امام حسین هم د حق او جمهوریت دپاره پاڅېدلی و او مونږ هم د خپل حق او جمهوریت دپاره را پاڅېدلي یُو هغه هم مظلوم و ،مونږ هم مظلومان یُو ،هغه هم د ظلم سره د مقابلې دپاره را اوچت شوی و او مونږ هم د ظلم سره د مقابلې دپاره را پورته شوي یُو.هغه هم مسلمانانو ته د جمهوریت حق ګاټه او مونږ هم مسلمانانو ته جمهوریت ګټو. هغه هم د امن دپاره کار کاوه او مونږ هم د امن دپاره کار کوو.

## کلی کلویغې:

زمونږ روغ رنځور، زمونږ غم ښادي او زمونږ مړی ژوندی ډېر له اخلاصه ډک او مینې محبت مظهر و ،خو په رسمونو رواجونو کې ډوب چې څوک به رنځور شو خپلو خپلوانو او دوستانو به یې پوښتنه کوله یوازې خپلوانو او دوستانو نه بلکې،د کلي او ولس عاموخلکو به یې تپوس کاوه او که به مریض سخت شو نو بیا خو به ورته نژدې کسان شپه او ورځ ناست وو. د صحت دپاره به یې ورته دعاګانې کولې، خیراتونه به یې کول. د علاج دپاره څه خاص انتظام نه و د هر مرض دپاره بېل بېل بابا و ، او د هر بابا د زیارت بېله بېله طریقه وه ان چې د باباګانو د قبرونو خاورې به خورده ګڼلی شوه او د مرضونو دپاره علاج ګڼل کېده. د باباګانو او زیارتونو نه علاوه د ملا صاحب، پاچا صاحب او میا صاحب دم دعا او تعویذ د علاج طریقه وه. د یوناني طب حکیمان هم وو تجربه کار وو ، سپین سرو ښځو به نظر ماتو.سپین ږیرو به د مقامي بوټو او داروګانو په ذریعه علاج کوو. نایانو به د دانو او زخمونو علاج او مرهم پټی. کوله خو ډېره

مخه زیارتونو او باباګانو ته وه. او چې څوک به مړ شو نو په هغه ورځ به د کندي خلک خپل کار ته نه تلل او که مړی به مخوریز سړی و نو ټول کلي به خپل کاروبار پرېښود او د مړي د ګور او کفن د خدمت او غم دپاره به د مړي ځای ته را غونډ شول، نارینه به په حجره یا جومات کې ناست وو، او ښځې به په کور کې غونډې شوې، مړی ته به چې څومره ښځې راتلې ټولې به ویر او ژړا کې شریکېدلې او نارینه و کې به یوازې د مړي نژدې کسان او دوستانو ژړل. مړی به کټ کې پروت و چې څه وخت به یې لمباوه نارینه به ورغلل او کټ به یې واخیست.

په دې وخت کې به د ښځو د ژړا انګولا شور زوږ پورته شُو په زوره زوره به یې ویر کاوه مخونه به یې وهل او په ویر کې به یې مړی ستایه چې مړی به یې په تخته واچاوه نو خپلوانو او دوستانو به یې په تخته روپۍ اچولې، دغه روپۍ به د ملا وې، د لمبولو نه وروسته به یې کفن ورکړ په کټ کې به یې اېښی و، خپلوانو او دوستانو ته به یې مخ وښوده بیا به جنازه اوچته شوه خلک به جنازې پسې روان وو، او خلکو به د جنازې کټ په څلورو کسو په اوږه کړی و، او وار په وار به خلکو یو دبل نه جنازه اخیسته او دمه به یې ورکوله هدیرې ته به یې ورساوه په اوار میدان کې به جنازه کېښودل شوه اواز به وشو چې جنازه تیاره ده د چا چې به اودس و او جنازه به یې کوله، صفونه به یې جوړ کړل د جنازې مونځ به وشو دعا به وشوه خلک به راتلل او د مړي مخ به یې کتلو. ملایانو به د سخات دپاره دایره جوړه کړه کېناستل به.

## سخات خیرات:

سخات به د مړي د حیثیت په اندازه و، که به موږ شتمن خان او

مخوریز سړی و، سخات به یې ډېر و او مېله به پرې جوړه وه ملایان به ډېر و، که به غریب سړی و سخات به یې کم و ملایان به هم کم وو او که به سخات نه و ملایان به هم نه وو. ګوړه، صابون، پټکی، قران شریفونه او روپۍ به په مینځ کې کېښودل شوې مشر ملا صاحب به اول د مړي د وارث نه د مړي د ګناهونو د کفارې د پاره دا څیزونه د صدقې او سخات په توګه ځان ته قبول کړل بیا به یې یو بل ته په همدې طریقه بخښل او یو به د بل نه قبلول. ملایانو به دغه ټول مال یو ځل ځانته قبول کړ او بیا به یې خوا کې ملا صاحب ته وبخښه چې دوره به وشوه نو بیا به یې د سخات په وېشلو شروع وکړه. ما ته به د سخات ګرځولو مراسم شاډوله ښکارېده پردی مال یو بل ته بخښي خدای او قام ته دوکه ورکوي. زه د عربو په ټولو ملکونو کې ګرځېدلی یم. ما هلته حتی په مکه معظمه، مدینه منوره، نجف او کربلا کې هم چېرې دا د سخات او خیرات طریقه نه ده لیدلې حال دا چې هلته دا طریقه ده چې مړی اوشي، خلک خبر شي، بیا جنازه جومات ته راوړي هلته یې جنازه اوشي د دعا نه پس وارثان خپل مړی د ښخولو دپاره مقبرې ته یوسي او نور مسلمانان خواره شي.دا اسلام خو مونږ ته د عربستان نه راغلی دی، خو خبره دا ده چې دا قسم عادتونه په مونږ کې خودغرضو خلکو پیدا کړل په اسلام کې دا څیزونه نشته بله دا چې دا دومره مال بل ته څرنګې بخښي او چې سړی نادار او محتاجه هم وي. بله دا چې سړی مړ شي د هغه عملنامه خو بنده شي دا خیرات او سخات به څنګه د هغه په حسناتو کې لیکل کېږي. یو سړی حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغې عرض کوي چې یا رسول الله زما پلار مړ دی او له هغه نه دوه کوټې له کجورو نه ډکې پاتې دي هغه ورپسې خیراتوم رسول الله صلی الله

عليه وسلم ورته وايي که ستا پلار پخپل ژوندانه د دې کجورو نه دوه دانې د خداى په رضا ورکړې وى د دې دوه کوټو نه يې ثواب زيات و. د گناه او ثواب په حقيقت د بې عمله علماوو په وجه څوک پوهـ نه شول.د خلکو په مغزو کې ملايانو دا کښولې ده چې گوندې خداى هم د دنيا د پادشاهانو په شان دى چې هغه ته د ټېکس او ډالۍ ضرورت دى. دوى په دې فکر نه کوي چې خداى بې نيازه دى هېڅ شى او هېچا ته محتاج نه دى. که خيراتونه دي که زکات دى که صدقات دي، که لمونځ دى. که روژه ده ، که حج دى دا ټول زمونږ د ښېگړې دپاره دي که ښه کوي هم د ځان دې دي او که بد کوې هم د ځان دې دي.

که ښه کوې دنيا به دې هم اباده وي او په اخرت کې به دې هم په کار شي او که بد کوې په دنيا کې به ذليل، حقير او خوار يې او په اخر کې به درته عذاب وي.

زما د ملايانو سره ډېر تعلق و ما به يې ډېر قدر اوعزت کاوه او همېشه به مې ورسره په دغسې خبرو بحث او تبادل خيال کاوه او دا به مې ورته ويل چې د خيراتونو او سخاتونو دا طريقه په اسلام کې ښه نه ده. اسلام چې خيراتونه او زکاتونه واجب کړي او لازم کړي دي په هغې کې لوى راز دى. دا چې زمونږ خوږ رسول(ص) وايي چې «صدقه بلا رد کوي» دا بلا تاسو پېژنئ دا خو د غريب او امير ترمينځ نفرت نه بلا ولاړېږي. نو چې شتمن خلک د بېوزلو پوښتنه وکړي د هغوى سره د مصيبت په وخت کې مرسته وکړي نو د غريبانو د خپلو اميرانو سره مينه محبت پيدا شي او د بلا مخه ونيول شي، او چې امير د غريب هېڅ پوښتنه نه کوي، غريب په مصيبت کې وي او امير په عشرت کې وي نو د غريب په زړه کې تېرېږي چې وطن خو خداى مونږ ټولو ته شريک راکړى دى. دا څنگه زه په مصيبت کې

ژوند تېروم او دا بل چې زما ورور عزیز دی زما په شان سړی دی، دی ولې په عیش عشرت کې دی د ده په زړه کې غوټه پیدا شي او ورو ورو یې زړه امیرانو ته پړسیږي، تر څو چې بلا ورته جوړه شي.

ګورئ د رسول الله(ص) په وخت کې به د هر څه نه مخکې د قرض د ادا کولو غم خوړل کېده. رسول (ص) تر هغه وخته پورې د مړي جنازه نه کوله چې تر څو پورې به د مړي په ذمه قرض خلاص شوی نه و، او که د مړي وارثان به ناداره او غریبان و او د مړي قرض به یې نشو ادا کولی نو بیا به رسول الله (ص) نورو مسلمانانو ته ویل چې چنده ټوله کړئ او د ده دا قرض خلاص کړئ نو چې قرض به خلاص شو نو هله به یې جنازه کوله، بیا به نور تکفین تجهیز کېده او نن بالکل اړولې خبره ده چې د کوم مړي د وارثانو د مخه نه کېږي نو هغوی یې لا جائداد ګانه کوي لا په سود رقم اخلي خو مړي پسې سخات ضرور کوي او یوازې خو د مړي خیرات او سخات نه دی د پیرانو پیر صاحب یوولسمه ده، د کاکا صاحب شکرانه ده، د سیدانو، میاګانو او صاحبزاده ګانو نذرانې او شکرانې دي که دا ټول خیراتونه په قومي ښېګړو لګېدی نن به مونږ هم د دنیا د ترقي یافته قومونو په قطار کې ولاړ وی. د سخات او خیرات دپاره مونږ په سود او ګانه (ګروي) قرض اخلو چې زمونږ دا رسم پوره شي. زه یو کال د اوړي د ګرمیو تېرولو دپاره کوه مري ته تللی وم هلته را باندې یو څو کسه ملایان چې زما دوستان وو را پېښ شول مازیګر مې د سیل صفا دپاره له ځانه سره را واېستل ګرځېدو ګرځېدو یوې بنګلې ته ودرېدو، ما ملایانو ته مخ را واړوه چې دا بنګله څنګه بنګله ده؟ دوی وې ډېره ښکلې ده ما وې دا شنه چمنونه او د ګلونو باغچه یې څنګه ده؟دوی ویل چې ډېر ښایسته چمن او ښایسته ګلونه دي او ډېره

مزېداره باغچه ده ماوې هغه ماشومان چې په کې لوبې کوي دا ځنګه دي دوی وويل دېر پيمخي او ګلالي ماشومان دي ماورته وويل هغه موټر چې ډرېور يې صفا کوي دا وينئ. ويل يې هو دېر ښه موټر دی. ما وې هغه چې په کرسۍ ورته ناست دی جاموته يې وګورئ ځنګه دي، دوی وې دېرې ډولۍ جامې يې اغوستې دي ما ويل دا سړی پېژنئ چې څوک دی؟ دوی وويل چې څوک دی؟ ما ورته وويل چې دا د پېرنګيانو ملا دی چې قوم يې په بنګله کې اوسي ملا يې هم په بنګله کې اوسي چې قوم يې په ګېډه موړ وي ملا يې هم په ګېډه موړ وي چې قوم يې په جامه پټ دی ملا يې هم په جامه پټ دی. چې قوم يې په موټر کې ګرځي ملا يې هم په موټر کې ګرځي او زموږ چې د قوم د هستوګنې کوډله نشته تاسو هم جوماتو کې اوسېږئ، او چې په ګېډه ماړه نه يو تاسو هم دروازه په دروازه ګرځئ چې«وظيفه راوړئ خدای مو وبخښه».

چې سخات به وويشل شو بيا به نو ملايانو پرې مسئلې کولې زموږ په کلي کې مړی شوی و. يو ملاصاحب مسئلو ته ودرېد او دا مسئله يې وکړه چې يو سړی دېر بدعمله او بد چلنده و، سود خور و، جوارګر و، خوني و، زاني و، غل و، ډاکه مار و، او هېڅ ښه کار يې په عمر کې نه وکړی، صرف د هرې جمعې په شپه به يې اووه ډوډۍ د خدای په نامه جومات ته لېږلې دا سړی مړ شو زامنو، ښځو او پس ماندګانو يې ورپسې دېر وير وکړ او دا به يې وويل چې د ده به په قبر کې څه حال وي. اخر يوه شپه خپل يو زوی ته په خوب کې راغلی دی او ورته يې ويلي دي چې تاسو زما غم مه کوئ. زه دېر په ارام او مزو چرچو کې يم. زوی ترې پوښتنه کړې ده چې پلاره ته خو دېر بدعمله وې پلار يې ورته وويل چې ټيک ده، خو مورته مو معلومه ده چې ما

به د هرې جمعې په شپه اووه ډوډۍ خيرات ورکولې هغه ډوډۍ مې دلته په کار شوې، څه وخت مو چې زه ښخ کړم او تاسو را نه لاړئ نکير منکر راغلل او زما نه يې پوښتنې شروع کړې چې:«من ربک، و ما دينک» ما جواب نه شو ورکولی نو ګورزونه يې را پسې را اوچت کړل چې را خلاصول يې را باندې چې په دې کې دوه ډوډۍ را پيدا شوې او ورته مخې ته شوې او زه يې بچ کړم او چې نکير منکر لاړل زما د قبر په څلورو کونجونو کې سورې وشول او د هر سورې نه به د دوزخ لمبه را ننوته نو څلور ډوډۍ راغلې او هره يوه يو يو سورې ته ډال شوه او د لمبو مخه يې ونيوه او دا يوه زما خدمت کوي. بيا يې ووې چې په خيرات کې ډېر ډېر ثوابونه دي او ما د دې مسئلې ثواب د دې مړي په ارواښخښلی دی. ما ته دا مسئله عجيبه ښکاره شوه ماوې د دې خو دا مطلب شو چې هره بد عملي کوه، زور ظلم کوه خو اووه ډوډۍ خيرات ورکوه نو مزې کوه.

د سخات نه پس به بيا نور خيراتونه شروع شو هر ماښام به د مړي په ارواخيرات کېده، ترجمعې پورې به بيا هره جمعه خيرات کيده تر څلويښت ورځو پورې.

په څلويښتمه ورځ به بيا لوی خيرات وشو او بيا ورپسې د کال خيرات دی. په دغه طريقه به زمونږ د قام په کال کې په لکونو روپۍ خرڅېدلې که دا په يو بيت المال کې جمع کېدی او په قامي کارونو او غريبو لګېدی قام ته به يې څومره فايده رسېده؟

## يوه لطيفه:

يوه ورځ زه په حجره کې ناست وم چې زمونږ د امام صاحب زوی راغی. ما ته يې ووې چې زه واده کوم ما سره څه امداد وکړه. ما ورته

ووې: زه همېشه وينم چې د مړي په سخات کې ته د ډېر مال مالک شې که تا ته ضرورت وي نو بل ته يې ولې بخښې هغه راته په جواب کې ووې چې دومره مال هېڅوک د زړه نه نه بخښي مونږ يې له وېرې بل ته بخښو او بله دا چې زمونږ يقين وي چې مونږ ته يې څوک نه راکوي.راکول خو پرېږده وبه مو وهي. ما ورته ووې چې وهل په کې نه وي او مال هم ستا کېدی شي نو بيا؟ ده راته وويل نو بيا خو به يې زه هېچا ته ور نه کړم ماوې رښتيا وائې ته تيار يې هغه ووې چې بالکل رښتيا وايم. او بالکل تيار يم نو ماورته وويل چې نن زما د تره لور مړه ده ډېر سخات يې دی، ستا واده پرې ښه کېږي په دايره کې کېښنه چې ستا وار شي او سخات دې ځان ته قبول کړ بل ته يې مه بخښه ووايه چې زما ضرورت دی بل ته يې نه شم بخښلی. ده ووې دا خو به زه وکړم ماته به يې څوک راکړي؟ د شموزوخان دی هسې نه چې بې عزته مې کړي ما ورته ووې چې زه به دې شاته ولاړ يم څوک دې بې عزته کولی نه شي. وې چې ستا امداد راسره وي نو بيا خو زه د چا پروا نه کوم. زما او د ده په همدې فيصله وشوه چې روانېده ما ورته ووې چې پام کوه دا خبره دې چا ته له خولې نه ونه وځي چې جنازه وشوه او سخات ته ملايان په دوره کې کېناستل ده دې خوا اخوا وکتل چې زه يې وليدم لاړ په دوره کې کېناست کله چې د سخات بخښنه اخيستنه شروع شوه. زه ورو غوندې راغلم د ده په شا ودرېدم چې څه وخت ده ته سخات وبخښل شو او ده واخيست د ده رنګ تک زېړ شو او ماته يې وروسته وکتل او وې ويل چې ماته د دې مال ضرورت دی زه يې بل چا ته نه بخښم. د ملايانو د هلې ګولې څه اراده وه، خو زه ور مخکې شوم او د هغوی نه مې تپوس وکړو چې ملايانو صاحبانو شريعت په دې باره کې څه وايي؟ دوی وويل چې شريعت ده

ته حق ورکوي چې، بل ته يې بخښي او که پخپله يې اخلي نو ما هغه ته اشاره وکړه چې(( مولانا اوچتوه يې)) د ګوړو د بوجيو د پاسه نغدې روپۍ پرتې وې هغه مې را واخستې او ورمې کړې او ما وې دا ګوړه هم اوچته کړه. ګوړه يې هم اوچته کړه ، قران شريفونه او پټکي پاتې شو. هغه ملايانو تالا کړل، ملايان هک پک پاتې شول، وروسته يې بيا د مړي خاوند ته ويل چې د مړي سره احسان ونه شو. هغه ملا چې بله ورځ ګوړه منډيي ته وړې ده چې خرڅه يې کړي د شموزوخان صاحب ورپسې ورغلی دی او ګوړه يې په زور ورنه بېرته اخيستې ده.

د شريعت په وړاندې خو دا پردی مال و دوی ته يې اخيستنه جايزه نه وه، خو د دوی په شريعت څه کار وو. زمونږ کلي کې يو سړی و، هغه به ويل چې اسلام اسلام نشته هسې ګونګوسي دي چې د ملايانو دا عمل وي د مقتديانو به څه حال وي.

څه موده خو ملايانو د سخات د دايرې نه لاس واخيست بيا يې پخپلو کې جرګه کړې ده، که مونږ دا کار پرېږدو دا دومره موده مو دا کار کړی دی نو د عوامو توجه به رانه وګرځي وايي به چې داملايان نه پوهېدل او عبدالغفار پوهېږي نوبيا يې د سخات طريقه د پخوا په شان شروع کړه او په کوم ملا چې به يې لږ غوندې شک راغی په دوره کې به يې نه پرېښوده.

په دې کې د ملايانو، غريبانو څه قصور نشته مونږ قام پخپله ګرم يُو، چا ته چې د دين او مذهب ټول واک او اختيار ورسپارو او د تعليم او تربيئې غم يې نه کوو دروازه په دروازه ((وظيفه راوړئ خدای مو وبخښه)) وايي. د دومره لوئې ذمه وارۍ دپاره په دې طريقه خپل ديني استاذ تربيه کوو. دا زمونږ خپله ګناه ده حقيقت دا دی چې کله مونږه مسلمانان شُو نو بعضې هغه د هندوانو د وخت رسمونه،

رواجونه مونږ پرې نښودل او کله څنګه چې هغوی د ژوند د مختلفو شعبو د پاره بېلې بېلې ډلې ټاکلې وې، هغه هم په هغه شکل کې مونږ جارې اوساتلې، ځکه چې دلته چې اسلام راغی نو هغه د مذهب (تبليغ) په لار رانغی د سياست(توري) په لار راغی نو مونږه د مذهب د حقيقت نه چا خبر نه کړو او لا تر اوسه پورې خبر نه يو. دا د کاسټ سيستم روايتي(عنعنوي) اثرات دي چې يوه ډله به د مذهب د خدمت د پاره وي يوه ډله به حکومت کوي، يوه ډله به تجارت کوي او يوه ډله به عام خدمتونه کوي. دا په اسلام کې نشته بلکه په اسلام کې علم په هر مسلمان او مسلمانې باندې فرض دی. زمونږ د ملايانو د دنيايي علومو او سياست خوا ته توجه نشته او زمونږ د دولتمنو خلکو د ديني علومو خواته توجه نشته نو ځکه مونږ په دنيا هم خوار يُو او اخرت به مو هم خوار وي.

يوازې خو دا نه د داسې ملايانو د لاسه مونږ ته نور هم ډېر نقصانونه رسېدلي دي. په مونږ کې چې د کار او خدمت سړی پيدا شوی دی. دوی پرې يا د وهابي فتوه لګولې ده يا د هندو يا د کافر او په دې نومونو يې له خدمته پاتې کړې دي. نه يې پخپله د خلکو خدمت کړی دی او نه يې بل ورته پرېښی دی. بې کاره او بې کسبه لمونځ ادا کوه او ډوډۍ خوره.

## واده ښادي:

زمونږ ښادۍ ډېرې خوندورې د خوشحالۍ نه ډکې وې چې هلک به زلمی شو نو مور او پلار به يې ورته د خپلې خوښې چنغله لټوله د هلک او جينۍ نه چا پوښتنه نه کوله او نه د هغوی خوښې ته چا کتل. خويندې ميندې به وګرځېدې کومه کورنۍ او جينۍ چې به يې خوښ

شول، د جینۍ د مور سره به خبرې وشوې د مور په ذریعه به پلار هم خبر شُو چې دواړه به راضي شول نو د هلک له کوره به څه ښځې لاړې او ګوټ به یې وکړ. بیا به د کوژدنې ترتیب ونیول شو. په دې وخت کې زمونږ خلکو که خانان که غریبانان وو، ټولو د خور او لور په سر هر چا د خپل حیثیت په اندازه ولور اخسته. د نابالغو جینکو کول او ورکول هم رواج و، تر دې چې د تې پورې ماشومانو کوژدنې به کېدې. کله نا کله به داسې هم وشُو چې نه به هلک پیدا شوی و او نه به جینۍ زېږېدلې وه چې مېندو او پلرونو به یې سره وعده وکړه چې د یو مور و پلار زوی وشُو او د دې بلې خوا لور وشوه هغه به یې یو له بله سره ورکولې. دا قسم جینۍ بیا بل هېچا کولی نه شوه هلک جینۍ که به په وړوکوالي نامزد شوي وو چې کله به لوی شو که د هغوی به یو بل خوښ نه و نو هم د یوه بل نه خلاصېدلی نه شُو، خو چې د واده بندوبست به شروع شُو نو د خپلوخپلوانو او کلي مالت جینکۍ به لا د واده نه خو څو ورځې مخکې د هلک کاله ته را غونډېدې، ټنګ ټکور به یې کاوه. د شپې چې به د کاره وزګارې شوې نو راجمع به شوې د منګي او مجمې سره به یې ښکلې ښکلې مصرۍ ویلې زما د جینکو دا ټنګ ټکور ډېر خوښېده. ودونه به د هر چا د خپل توان او طاقت سره سم وو، د خانانو په ودونو کې به ډنګ ډونګ او دوم دام زیات وو. ډېرې ورځې به پولاوونه پخېدل خپلوخپلوانو او دوستانو به ډېرې اچولې وې. کور به د ښځو نه ډک و او حجرې به د سړونه ډکې وې. جنجونه به وو د هر چا جنج به بېل و ټوپک او غربېنونه به خلاصېدل ډمې به هم په کې ګډېدې او خلکو به ورله روپۍ ورکولې اکثر به نېزه بازي هم کېدله. د نېزه بازۍ دپاره به خلکو ښه ښه اسونه ساتل او د نېزو پرکتس به یې کاوه. د نېزه بازۍ په موګي به ورته

روپۍ ايښودل کېدې چې چا به موګی يوورو، هغه روپۍ به د هغه شوې د واده ورځ به مقرره وه چې هغه ورځ به شوه نو چې د سحر ډوډۍ به وخوړل شوه که د ناوې کور به لرې و، خلک به د ډوډۍ خوړلو سره سم روان شو او که د ناوې کور به نزدې و نو خلک به مازېښين ور روانېدل.

ښځو به ځان ته بېل ټنګ ټکور جوړ کړی و، سازيانو به ورته په کوڅه کې ساز غږاوه او ډول سورنی به يې ورته وهل او ښځې به د ننه کور کې ورته ګډېدې چې سبا به يې ډولۍ راوړله په دې شپه به ښځې په جمع روانې شوې نکريزې به يې په سر وې مشالونه به ورسره وو، شمعې به په کې بلېدې لوی لوی مشالونه به يې جوړ کړي وو، سپين پړک به و، په لاره به يې سندرې ويلې د دوی د حفاظت دپاره به څو کسه سړي مخکې او څو کسه وروسته روان وو چې د ناوې کورته به ورسېدې اول به يې نکريزې وګډولې او بيا به يې هغه نکريزې هغه جينۍ ته په لاسو او پښو پورې کړې،ناوې به د څو ورځو نه په ګوټ کې ناسته وه، همزولې به ترې چاپېره وې، ښځې به ترې واپس کلې ته راغلې سبا له به نر او ښځې په ورا او جنج لاړل ښځې به د ننه ورغلې او نارينه به بهر په حجره کې کېناستل. ملا به راغی نکاح به يې وتړله مبارکي به وشوه. ډم به ډول ووهه ډم به ښادۍ والاو وته آيينه ښودله او پيسې به يې ټولولې.چا به ګلان ورکول او پيسې به يې ټولولې بل خوا ته به باټ په غوږونو کې ګوتې اېښې وې.مدح به يې ويله چا به سپېلني لوګې کول روپۍ به يې اخيستې که د چا به خوښه وه که نه خو د شرمه به يې غږ غوږ نه کاوه او روپۍ به يې ورکولې لنډه دا چې يو لُوټ به و، ملا صاحب هم بې روپو نکاح نه تړله چې نکاح به وتړل شوه هلک به د سخر کورته ننوت په پالنګ به

وخوت جامې به یې بدلې کړې نوې ډولۍ جامې به یې واغوستې خپل خپلوانو او دوستانو به پرې پتاسې، غوزان او پیسې نوستلې او ماشومانو به ټولولې، جینۍ ته به د واده دپاره د توان په اندازه ډېرې قیمتي جامې جوړېدې. دا جامې به ناوې د واده په شپه اغوستې، بیا به یې په ټول عمر کې نه اغوستې ځکه چې قیمتي وې چې مړه به شوه اکثر به یې جامې ملا صاحب ته ورکول کېدې، ناوې به یې ډولۍ کې کېنوله ډولۍ به بټیارانو په اوږه کړه ډولۍ به مخکې وه د واده زلمي به د ډولۍ سره و او نور خلک به ورپسې وو. بهر به هم د واده په زلمي خپلوانو او دوستانو پیسې او شېرینۍ نوستې ډزې به کېدې. لویو، وړو به د خوشحالۍ نه الا الا چغې وهلې، لویه مېلمه به وه چې څه وخت به ډولۍ په کور د ننه شوه مېلمانه به رخصت شُو، د کلي خلک به هم لاړل ناوې به چې کورته ننوتله د ښځو دود دستور به پرې وشو ،ناوې به په پالنګ کېنولې شوه،تر څو ورځو پورې به خلک راتلل د ناوې د مخ نه به یې پلو پورته کاوه، ناوې به یې کتله، ناوې به سترګې نه غړولې د هلک خپلوانو به چې ناوې کتله روپۍ به یې ورکولې. په سبا له به هلک د خپلو همزولو سره د سخر کره ورغی، دې ته به یې سلامي ویله ښه ډوډۍ به ورکړې شوه د ډوډۍ نه پس به هلک د سخر کورته ننوت او د خواښې په پښو به پرېوت هغې به ورله روپۍ ورکړې، د ښځې خپلو خپلوانو سره به پېژند ګلوي وشوه، بېرته به خپل کاله ته ستون شُو، څو ورځې وروسته به د ښځې خپلوانې راغلې. دې ته به یې اوومه ویله د هلک خپلوانې به هم را ټولې شوې د جینۍ د پلار له کوره به جامې راوړل شوې وې. هغه به یې د هلک په خپلوانو ووېشلې چې پاتې به شوې هغه به د ناوې وې. ناوې به د پلار کره لاړه او څو ورځې به یې تېرې کړې. نن به خلکو ته د هغې

زمانې ودونه څه عجیبه غوندې ښکارې چې جېنۍ او هلک لیدلي نه وي د مور او پلار په خوښه به ودونه کېدل. په کار خو دا و چې هلک او جینۍ سره خوښولی بیا ودېدی ،خو د نن زمانې په نسبت د هغې زمانې ودونه ډېر کامیابه وو ،ځکه چې د هغوی اخلاق ډېر اوچت او سپیځلي وو، په هغوی کې ریښتینې مینه او محبت و، په یورپ او امریکا کې چې هلک او جینۍ یو د بل په عادتونو او خویونو ښه خبر شي نو د خپلې خوښې واده کوي، مګر د هغوی په مینځ کې دومره مینه اومحبت نه وي، لکه زمونږ د ملک د ښځو او مېړونو ترمینځ چې وي. مونږ له د خپل ځینې دود او دستور اصلاح په کار ده.
ډېر خلک خپلې لوڼه د پیسو دپاره ورکوي، په کار دي چې د سړیتوب په لحاظ خپلوي وشي دا نه چې د دولت دپاره ځوانه جینۍ بوډا ته کېنول شي.

## د یوې پېغلې کیسه:

زه د سکول نه په چوټۍ کلي ته تلم په ټانګه کې ناست وم، ناګمان سیند ته را ورسېدم،ګرمي وه سیند موجونه وهل هغه وخت کې به په سیند باندې پلونه د بېړو وو. د ټانګې نه کوز شوم، په پله پورې وځم چې ناڅاپه یوې پېغلې جینۍ د پل نه د سیند مینځ ته ور ودنګل چغې شوې چې جینۍ لا هو شوه ماښکیانو ورپسې کشتۍ خوشې کړې. د پله نه یې ښایسته لرې د ټاپو سره ونیوه غاړې ته یې را وښکله جینۍ مړه نه وه،خو بې هوشه وه اوبه یې تېرې شوې وې، هلته یې واچوله مونږ را غونډ شو چې اوبه ترې لاړې جینۍ په خود شوه چې په مونږ یې سترګې ولګېدې، په ژړا شوه ویل یې چې وی خدایه زه ژوندۍ یم؟ مونږ چې تحقیق وکړ چې دا کمبخته ولې پخپل ژوند ستومانه

ده.معلومه شوه چې پلار يې يو بوډا ته ورکوله او د دې خوښه نه وه پلار ته يې ويلي وو چې پلاره زه مېړه نه کوم او ټول عمر ستا خدمت کوم، خو دې بوډا ته مې مه ورکوه.دپلار يې سترګې روپو پټې کړې وې د لور يې نه منله چې جينۍ د پلار نه مايوسه شوه د خپل مرګ اراده يې وکړه نو د دې داسې پېښو مخنيوى په کار دى بايد چې له جينۍ او هلک نه پوښتنه کېږي، ځکه چې دا خو د دوى د ژوند د ملګرتيا سوال دى.

## فوج کې کمېشن:

څه وخت چې زما ورور خانصاحب د ډاکټرۍ تعليم دپاره بمبۍ ته لاړ. زه او مهابت په بورډنګ کې يوازې پاتې شُو،څو ورځې پس له بورډنګ نه ښار ته راغلو او په لوى بازار کې مو يوه بالاخانه ونيوه دلته به اوسېدو او سبق له به سکول ته تللو،خو سبق ته مو ډېره ډډه نه لګېده.زمونږ يو زوړ نوکر و«باراني» نومېده مونږ به ورته باراني کاکا وې، هغه څه موده د مومن خان ډېرۍ د خانانو سره نوکري کړېوه. د ډېرۍ زيات خانان په فوج کې نوکران وو.دى ورسره هم په فوج کې پاتې شوى و نو ده به ماته د فوج کيسې کولې چې د فوج ډېره ښه او د عزت نوکري ده، سړي چې داسې غاړې ته کرچ اچولى وي او د فوج مخکې روان وي، ډېر خوند کوي.زما خو هسې هم سبق ته ډډه نه لګېده د باراني کاکا خبرې به را باندې ښې لګېدې او ورو ورو يې را باندې اثر وشُو او د فوج نوکرۍ ته تيار شوم. دغه وخت زه په اتم جماعت کې وم زه خوهلک وم نه پوهېدم چې باراني کاکا به څه ويل هغسې به مې کول هغه راته ويل چې څوک تعليميافته وي، او د لوى خاندانه وي هغه ته فوج کې ډايرېکټ کمېشن ورکول کېدى شي او

نېغ په سرداری اخیستل کېږي.د ده او د پرنګي په درجه کې فرق نه وي د دې دپاره د هندوستان وایسرای ته درخواست کېږي،د هغه په منظورۍ ډایرېکټ کمېشن ورکول کېدی شي.نو ته یو درخواست د وایسرای په نوم ولیکه چې په ډاک کې یې ولېږو.د خانصاحب یو اشنا و چې فضل محمود نومېده. مونږ دواړه ورغلو په هغه مو درخواست ولیکه او د کمانډر ان چیف په نوم مو په ډاک کې واستاوه. دا راز ما او باراني کاکا ځان سره پټ وساته نه مې پرې پلار خبر که اونه مو د هغه سره مصلحت وکړ. ډېره موده تېره شوه،زه په لسم جماعت کې وم زما نه دا خبره هېره وه چې د مرکز نه زمونږ ډپټي کمشنر ته یو حکم راغی چې زما متعلق تحقیق وکړي چې زما څه حیثیت دی؟ او زما د خاندان څه حیثیت دی؟ ډپټي کمشنر تحصیلدار ته حکم ورکړی و او تحصیلدار پټواریان مقرر کړي وو چې زمونږ جائداد معلوم کړي، پټواریان چې زمونږ کلي ته تللي دي یوه عجیبه ټوقه وشوه. په دې ورځو کې زمونږ په کلي کې یو سړی چا وژلی و، جرګې په هغې کې زما د تره زوی د شاه صاحب خان مشر ورور شمروز خان زمونږ د شپږو نورو نوکرانو سره بې ګناه او خطا څوارلس کاله قید کړی و.پېرنګیانو جرګې د انصاف اوامنیت برقرارولو دپاره نه وې جوړې کړې، بلکې پېرنګیانو جرګې په پوره تدبیر د دې غرض دپاره جوړې کړې وې چې په جرګو کې انصاف نه کېږي، پرې وي، جمبي وي، او اکثر چې به ګنهګار سړي په سفارش یا په بډو او رشوت خلاص شو نو مخالفې ډلې به د بدل اخیستولو کوشش کوو. او په دا شان به دا دښمنی پیړو په پیړو چلېدلې او دا سلسله به روانه وه.پښتانه به پخپلو کې اړم وي او مونږ پېرنګیانو ته به یې توجه نه وي. ما د یو اسسټنټ کمشنر سره د جرګو په باره کې

پخپله خبرې کړې وې چې په دې جرګو کې انصاف نه کېږي، په جرګه کې که د مجرم د ډلې سړی مقرر شي هغه که هر څومره ګناهګار وي، هغه بري شي او که د هغه د پرې سړی په کې نه وي، بلډې ورنه کړي څوک د رسوخ خاوند يې سفارش ونه کړي که هر څو بې ګناه وي، هغه په کې لاړ شي.

نو د دې قسم جرګونه د حق او عدالت څه امید کېدی شي؟ يوازې اسسټنټ کمشنر نه هر پيرنګی په دې خبره پوهېده او د همدې مطلب دپاره دوی د جرګو سيسټم جوړ کړی او ټينګ کړی و. زمونږه ټوله ګټه وټه د دوی خوراک وه، څه چې به مونږ ګټل هغه به پوليس، وکيلانو، جرګه والاو او بيا جېل والاو رانه واخيسته او زمونږ بچي به په خالي ميدان پاتې شو. تاسو فرنټير کرايم ريګولېشن اېکټ (د سرحد د جرايمو قانون) وګورئ، هېڅا به داسې ظالمانه شرمناک قانون جوړ کړی نه وي، لکه دا قانون چې انګرېزانو په مونږ چلاوه. په دغو ورځو کې دا اوازه خوره شوې وه چې په دغه مرګ کې زمونږ جائداد هم ضبطيږي او دا خو په سرحدي قانون کې يوه معمولي خبره وه نو چې څه وخت پټواريان زمونږ د جائداد معلوملو دپاره راغلل نو زمونږ يقين وشو چې دا اوازه رښتيا ده زمونږ په خاندان يو وير جوړ شُو چې هم مو سړي بې ګناه قيد شول او هم مو جائداد ضبطوي. مونږ ډېر کوشش وکړو چې خپل ټول جائداد پټواريانو ته ونه ښيو څه نا څه جائداد مو ورنه پټ کړو، خو هغوی پخپل رپوټ کې ليکلي وو چې دوی ډېر جائداد لري يې ټول مونږ ته ونه ښوده زمونږ په دې راز پټواريانو ځکه پرده وانه چوله چې زمونږ د کورنۍ د مشرانو، د حاکمانو سره لکه د نورو خانانو په شان ناسته ولاړه نه وه، کومو کسانو چې به د پوليس او حاکمانو سره تګ راتګ ساته ډوډۍ ګانې

به يې ورته كولې د دې د پاره چې قوم پرې وخورې او پخپله يې هم وخورې اکثر به د دوی د بدو د لالان وو. زمونږ پخپل جائداد قناعت و، مونږ دا نه کول. دوی به هم ښه د جائداد خاوندان وو، خو حرص په مخه اخيستي وو او د حاکمانو سره به يې راز باز ساته. بابا مې پېښور ښار ته راغی مونږ په ښار کې تعليم ته د پره وو، ډېر غمجن و دا ټوله قصه يې راته وکړه، مونږ هم خپه شو چې سبا له مې بابا ډپټي کمشنر ته ورغی ورته يې ويلې چې زه يو عرض ته راغلی يم چې ته تحقيق وکړه، که په دې قتل کې مونږ ګناهګار يو نو چې څه سزا راکوې، مونږ ته منظوره ده او که مونږ کې ګناه نه وي نو دا خو انصاف نه دی چې هم مو سړی بې ګناه قيد شُو او هم مو جائداد ضبط شي نو هغه ورته ويلي دي چې څوک وايي چې ستاسو جائداد ضبطيږي؟ بابا مې ورته ويلې چې پټواريان راغلي وو او زمونږ ټول جائداد يې وليکه. نو هغه ورته ډېر خندلې دي او ورته يې ويلي دي چې دا خو ستا زوی لاټ صاحب ته د ډايرکټ کمېشن د پاره درخواست ورکړی دی او لاټ صاحب مونږ ته حکم کړی دی چې د ده د جائداد او حيثيت تحقيق وکړئ اومونږ ته يې معلومات راکړئ. مونږ چې د سکول نه راغلو بابا مې بالاخانه کې ناست و، خوشحاله و چې مونږ يې وليدو په خندا شو ماته يې وويل چې شاه توريه (هغه به ماته د مينې نه شاه توری وايه) دا خو ټولې ستا غويمې دي، بيا يې را ته ټوله خبره وسپړده.

بيا زما ډاکټري معاينه وشوه، زما صحت ډېر ښه و او ښه ځواني مې وه. بيا څه موده پس د برتې د پرنګي حکم پسې راغی چې په فلانې تاريخ حاضر شه، په دې ورځو کې خانصاحب پس د درې کالو نه د بمبۍ نه راغلی او د باقي تعليم د پاره لندن ته روان و، هغه هم

راسره د برتې پرنګي له لاړ دا پيرنګی ښه سړی و، مونږ سره يې ښه سلوک وکړو، زما وړور خانصاحب ته يې د لندن د تللو په باره کې ډېر معلومات ورکړل نصيحت يې ورته وکړ، د خپلو تجربو نه يې خبر کړ، دغه وخت د خانصاحب هم دا رايه وه چې زه دې په فوج کې داخل شم. خانصاحب څو ورځې وروسته لندن ته لاړ، زمونږ د مېټرک امتحان شروع و، دوه مضمونونه پاتې وو، ما د خوشحالۍ نه امتحان پرېښود چې د برتې د پرنګي حکم راغی چې ته راشه چې زه ورغلم هغه راته وويل چې ستا ډايرکټ کمېشن منظور شُو، زه ډېر خوشحاله شوم په دې فکر کې وم چې پلټن به ښه وي که رساله؟

زما د همزولو دا رايه وه چې تا د پاره پلټن ښه ده، يو خو دې صحت ښه دی بدن دې مظبوط دی او قد دې هم شپږ فوټه او درې انچې دی. په دې وخت کې زمونږ د ډېرې زرداد خانان چې په کومه رساله کې وو، هغه د جېکب اباد نه پېښور ته را بدله شوه، هغه خانان زمونږه دوستان وو، زه او باراني کاکا يې ليدو ته لاړو ما فوجيان چيرې ليدلي نه وو، کله چې به لوی افسر راغی او فوجونه به يې سلامۍ له ورتلل دا مې ليدلي وو چې ښې ښې وردۍ به يې اغوستې وې، د کمپنۍ د وړاندې به يوازې يو پرنګی او يو ديسي سردار روان و، کريچونه به يې اچولي وو.

باراني کاکا خو ماته ويلي وو چې د پرنګي او ديسي افسرانو فرق نه و، خو چې ما د ديسي سردارانو کورونه وليدل او د پېرنګيانو بنګلې مې وليدې نو په هغو کې د ځمکې او اسمان فرق و، مونږ ولاړوو چې يو لفټين راغی، زه د خان سره چې رسالدار و ولاړ وم. دې خان خپل سر انګرېزی جوړ کړی و نو انګرېز دا برداشت نه کړی شُو نو په سپکه لهجه يې ورته وويل چې خانصاحب تم بهی انګريز

بننا چاهتا هی؟ یعنې ته هم انګرېز جوړېدل غواړې؟ دی غریب ورله جواب قدرې ورکولی نه شو، ما چې دا حال ولیده نو د دې نوکرۍ نه مې زړه تور شو او په زړه کې مې ووې چې زه خو به د پرنګي د دې قسم خبرې برداشت نه کړی شم. څه موده پس حکم راغی چې ته په فلاني تاریخ مردان ته حاضر شه ما ته یې د ګایډ په پلټن کې کمېشن را کاوه. د ګایډ یوه پلټن او بله رساله وه کمانډر به یې یو و. دا به همېشه په مردان کې وه د نورو فوجونو په شان به بدلېده نه او د هندوستان په فوجونو کې ډېره یاده وه په دې کې به د پنجاب او د سرحد د لویو لویو خانانو او جاګیر دارانو زامن په نایکۍ لایسی او دفعه دارۍ برتي کېدل او زه یې په کې په سردارۍ واخیستم، خو زما زړه د فوج نه تور شوی و، د بابا مې خواهش و چې زه دا نوکري قبوله کړم، ځکه چې په دغه وخت کې دا ډېره د عزت نوکري ګڼل کېده، خو ما ونه منله، بابا مې خپه هم شو، خو د مور ما سره اتفاق و د هغې د پېرنګیانو نوکري نه خوښېده.

## بیا تعلیم پسې:

ما د نوکرۍ په خوشحالۍ کې سبق مېټرک کې د امتحان دوران کې پرېښی و، دا کال خو زما په دې کشمکش کې ضایع شو. بل کال مې بیا د تعلیم اراده وکړه. زمونږ د کلي د مولوي عبدالعزیز صاحب د کشر ورور عبدالحلیم سره مې چې زما هم جماعتي و. سلا مشوره وکړه چې بیا تعلیم شروع کوو مونږ اورېدلي وو چې کېمبل پور کې چې کوم سکول دی په هغه کې د تعلیم ښه انتظام دی د استاذانو هلکانو ته ډېره توجه وي. او ښه کوشش ورسره کوي او عربي په کې ډېره ښه ویل کېږي. زما عربي لازمي مضمون و. مونږ دواړه په همدې

خیال لاړو او په کېمبل پور کې په سکول کې داخل شُو. دلته زمونږ د پېښور نور هلکان هم وو، څو ورځې مو درسونه وویل، خو خوند یې را نه کړ چا راته د قادیان ډېر صفت وکړ نو د قادیان د تللو اراده مو وکړه او قادیان ته روان شُو، په دې وخت کې چې مونږ قادیان ته ورغلو حکیم نورالدین صاحب خلیفه و، مونږ د هغه کتلو له ورغلو د هغه ساده بې تکلفه ژوند او د مینې محبت خبرو را باندې ډېر اثر وکړو، هغه ډېر لوی عالم او با اخلاقه سړی و، مونږ د هغه سره ناست وو چې د مرزا غلام احمد صاحب زوی چې دا اوس د دې جماعت امیر دی او هغه وخت یې په کالج کې سبق وایه،راغی او مونږ رخصت را واخیست. د سکول بورډنګ ته راغلو دلته چې څومره هلکان وو د اکثرو په خولو کې دا خبره وه(( ابن مریم کی بات کو چهوړو اس سی بهتر غلام احمد هی )) یعنې ابن مریم(عیسی) مه یادوئ د هغه نه غلام احمد غوره دی. دا اواز مونږ ته ډېر نا اشنا و، بیا مونږ هغو هلکانو هغه جنتي مقبرې ته بوتلو څومره چې د دې ځای د حالاتو نه خبرېدو، هماغومره زمونږ تعجب زیاتېده فکر واخیستو چې پاتې شُو که لاړ شُو. بله شپه خوب وینم چې یو لوی ژور کوهی دی، زه ورپرېوزم یو سپین ږیری سړی لاس را واچوي او د کوهي د غورځېدو نه مې بچ کړي او راته ووایي چې پام کوه! چې سحر شو زه او عبدالحلیم لمانځه ته پاڅېدُو ما هغه ته خپل خوب ووایه هغه هم څه خوب لیدلی و، لمونځ مو وکړو او واپس خپل کلي ته را روان شو. عبدالحلیم خو لاړ او بیا په پېښور کې په هغه خپل سکول کې داخل شو او زه علیګړ ته لاړم.

په علیګړ کې مې په بورډنګ کې ځای و نه مونده او په ښار کې په یو هوټل کې ډېره شوم. په علیګړ کې زمونږ د ملک نور ډېر پښتانه

هلکان وو او ټول په بورډنګ کې اوسېدل. په دې ورځو کې نواب وقار الملک د علیګړ کالج سکرټري و، ډېر ښه سړی و او ساده ژوند یې و، یوه ورځ مونږ د لمانځه نه پس له جماعت نه راتلو ما ورته پنې سمې کړې هغه زر ماته پنې سمې کړې. او زما شکریه یې ادا کړه او راته یې ووې چې دا مه کوه مونږ پښتنو کې دا رواج و چې د مشرانو د ادب دپاره به مو ورته پنې سمولې. مونږ به کله نا کله د هغه بنګلې ته ورتللو خبرې اترې به مو ورسره کولې د هغه په بنګله کې یو وړوکی غوندې جماعت و، په هغې کې به مو یو ځای لمونځ کاوه ډېر خوش اخلاقه سړی و، لويي او تکبر په کې نه و. د مسلمانانو په مشرانو کې د ده په شان ساده ژوند ما د چا نه و لیدلی ډېر په قوم مین سړی و، مونږ سره به یې د دوستانو په شان مجلس او خبرې کولې او همدې خبرو یې په زړه کې لار کوله ځکه چې د ده د زړه نه راوتلې وې.

په دغو ورځو کې په علیګړ کې ګرمې جلسې کېدې او مسلمانانو د حکومت نه دا مطالبه کوله چې د علیګړ کالج دې د علیګړ مسلم یونیورسټي په نامه یونیورسټي شي، په نور هندوستان کې دا رنګه جلسې روانې وې او چنده یې هم غونډوله. ما له به دې جلسو ډېر خوند را کاوه، په هره جلسه کې به مې د شرکت کوشش کاوه. او د هر سړي تقریر به مې په ډېر غور اورېده. د ګرمۍ چوټۍ چې شروع شوې ماته ویل شوي وو چې په بورډنګ کې به درته ځای درکړو، خو په بورډنګ کې ونه شو. د علیګړ د بورډنګ او ښار په سوسایټي کې ډېر فرق و، د علیګړ بورډنګ سوسایټي مهذبه او عالمانه وه. په ښار کې هغسې ژوند نه و او بله دا چې برسات شروع شوی و، د ښار نه کالج ته تګ را تګ هم ګران و. په دې وخت کې زما ورور خانصاحب چې د

لندن حالات يې ليدلي وو. ما ته يو خط راولېږه چې ته هم دلته انګلينډ ته د انجينرۍ د تعليم دپاره راشه. زه به ډاکټري وکړم او ته به انجنيري وکړې. نو زه د عليګړ د ګرمو په چوټو کې کلي ته راغلم او بابا ته مې د خپل ورور هغه خط وښوده، خو د هغه ورسره اتفاق نه و، اخر رضا شو. درې زره روپۍ يې د خرڅ دپاره راکړې، پي، ان او، جهاز کې يې راته ځای ونيولو، خو زما د مور زما د تللو سره اتفاق نه و. د هغې په غوږ کې چا دا خبره کېنولې وه چې يو ځل ولايت ته څوک لاړ شي نو هغه بيا دا ملک څه کوي. يو زوی دې لاړ دی که دا بل هم لاړ شي او بېرته را نه شي نو ته خو به ميراته پاتې شې. ما چې هر څومره کوشش وکړو د هغې د زړه نه مې دا خبره ونه ويستلی شوه. په هغه وخت کې زمونږ د ملک بد حالت و. پرې جنبې او تربګنۍ وې، بد امني وه، د شپې به هر چا خپله څوکۍ کوله چې څوک مسلمان پښتون را نه شي او مړ مې نه کړي او د ورځې به ورسره وېره وه چې چا راباندې دعوه کړې نه وي، ځکه چې اکثر دعوې به په پرې جنبې او دښمنو کېدلې او داسې به هم کېده چې په خپله به يو سړي قصه مصه جوړه کړه او پخپلو دښمنانو به يې دعوه وکړه. دا ټولې کيسې مې مور ته وکړې چې ګوره مورې! يا به چا وژلی يم يا به يې د شمروز دادا په شان قيد کړی يم. د دې نه خو دا ښه ده چې د تعليم دپاره د تللو اجازه راکړې. هغې به ما ته هيڅ جواب نه را کاوه. او پټ پټ به يې ژړل نو ما د لندن د تللو اراده پرېښوده او فيصله مې وکړه چې نور سبقونه نه وايم او د قوم او ملک خدمت کوم.

دوباره سبق شروع کولو او مختلفو ښارونو او سکولونو ليدلو

کتلو او د خلکو سره تبادل خیالات ما ته ډېره فایده ورسوله او تجربه مې زیاته شوه.زما پلار د کلي لوی خان و او زه د خان زوی وم، خو زما تعلقات د خانانو سره ډېر نه و، زما ډېر تعلق د غریبانو سره و، زما ناسته او دوستي د شاخېلانو،ترکاڼانو او لوهارانو،جولاګانو او زمیندارانو سره وه،د خانانو او ملکانو خویونه او عادتونه هم را کې لږ وو، د هغه وخت د خان دا صفت و چې یره ډېر لوی خان دی د خپلې مځکې پوله نه پېژني د خپلې مځکې انتظام او پخپله کار کول خو د خانۍ د شان سره مناسب نه و، ما له چې بابا کومه مځکه راکړې وه، په هغې کې ما پخپل لاس کار کاوه، زما یو نوکر و، شاخېل و قدیر نومېده، مونږ دواړو به په غوایانو ګنو ته سرې چلولې او د سرو بورۍ به مې پخپل لاس ډکولې، قدیر زما د وړوکوالي نوکر و، ډېر وفا دار و، خو چرسي و، ما ته به یې هم د چرسو صفتونه کول، خو زه پوهـ شوم چې دی ما د دې دپاره په چرسو را اړوي چې بیا زه ورته چرس پیدا کوم.دی به یې د تاوانه خلاص وي.بیا مې منع کړ چې ماته دچرسو صفتونه مه کوه.زما نور اشنایان او دوستان څوک په چیلم او څوک د نسوارو،څوک د سګرټ عادت وو، خو زه خدای د دې ټولو څیزونو نه ساتلی یم.زه چې په کلي کې پاتې شوم په ډېره بده سوسایټۍ واوړېدم، هغوی وران کاري وو. زه یې هم په ورانو سر کړم هغوی جنګیان وو، زه یې هم د خلکو سره وجنګولم، هغوی بد عمله وو، زه یې هم بدعمله کولم، خو د خدای احسان و چې ډېر زرئې زما سوسایټي بدله کړه او ډېرو ښو خلکو سره مې ناسته ولاړه شوه.

❋❋❋

# نوی مېدان، تازه افکار روشنفکرو سره تعلق (مخفي صاحب، مولانا عبدالعزیز، مولوي فضل ربي، مولوي تاج محمد) مدرسې جوړول، دارالعلوم دیوبند سره تعلق شیخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب او مولانا عبیدالله سندهي قوم پرستي، وړومبی واده اگره کې د مسلم لیگ جلسه، کلي وطن کې تعلیم و تبلیغ

## د عالمانو سره تعلق:

زما تعلق د فضل محمود مخفي صاحب، مولوي عبدالعزیز صاحب د پکلي، مولوي فضل ربي صاحب او مولوي تاج محمد صاحب د گدر د دارالعلوم مهتمم سره پیدا شو، مولوي تاج محمد صاحب د بغدادې و، د بي. ای تعلیم یې و، مذهبي تعلیم پرې د پاسه و، په اسلامیه های سکول پېښور کې سکنډ ماسټر و، مولوي فضل ربي صاحب د پکلي و، د دیوبند سند یافته و، په رېښتینو معنو کې عالم او قام پرست سړی و، مولوي عبدالعزیز صاحب زما د اشنا او د سبق د ملگري عبدالحلیم ورور و، بهوپال کې یې تعلیم کړی و. د اتمانزو د

لوی ملا صاحب د خاندانه و،فضل محمود مخفي صاحب د چارسدې و،مېټرک پاس او انقلابي شاعر و،څه وخت چې انګرېزانو د فارس په خلیج کې ازاده بندرګاه جوړه کړه چې هلته به یې عربو باندې د ترکو په مقابله کې ټوپک،تمانچې،کارتوس او نورې وسلې په ډېره ارزانه بیه خرڅولې پښتنو قبایلو د دې وسلو سراغ پیدا کړی و،تلل به او له هغه ځایه به یې وسلې راوړلې او د پښتنو قبایلو کې به یې خرڅولې،انګرېزانو چې د پښتنو قبایلو سره دا وسلې ولیدې حیران شول چې دوی دا وسلې د کومه راوړې چې تجسس یې ور پسې وکړ ورته معلومه شوه چې دا د خلیج فارس نه د ایران او بلوڅو په لار افغانستان او پښتنو قبایلو ته راوړل کېږي. نو انګرېز دې خوا ته د وسلو د مخنیوي دپاره په خلیج فارس او د هغه په غاړو کې د (ګرکسن) په مشری یوه څوکۍ مقرره کړه،ددې څوکۍ یو داسې سړی په کار و چې هغه په انګرېزی،پښتو،عربي او فارسي پوهېږي.د مخفي صاحب څلور واړه ژبې زده وې،دی یې هلته د ځان سره انټرپرېټر(ترجمان) لګولی و.د دغې نوکرۍ په وجه په ده کې سیاسي شعور او قامي جذبه پیدا شوې وه. د پښتنو په شاعرۍ کې انقلاب ده راوستی و.د زلفو او کاکل او خط و خال، ګل او بلبل په عوض یې قام او وطن غریب او بېچاره ته د شاعرۍ مخه ور وګرځوله. زه ده ته د پښتو شکسپیر وایم.د ده په پښتنو ډېر حق دی،خو افسوس چې پښتنو د ده قدر لکه څنګه چې په کار و، ونه کړ. په دې ورځو کې د ترنګزو د حاجي صاحب نوی نوی د بزرګي شهرت پیدا شوی و، دوی ټولو د هغه سره د دین د خدمت دپاره ملا تړلې وه،حاجي صاحب د پښتنو د نورو بزرګانو په شان نه و،هغه د قام مصلح او تش په خوله نه، بلکې په عمل او په رښتیا سره په کومو غلطو رسمونو او

رواجونو کې چې قام نښتی و، او د دین او دنیا نقصان یې په کې و، هغه یې لرې کول غوښتل او د جهالت تورې لړې چې په قام او وطن را خورې وې، د هغې د لرې کولو دپاره یې کوشش کاوه. د مخفي صاحب دوی په ذریعه زما هم د حاجي صاحب سره تعلق پیدا شو. حاجي صاحب اول پخپل کلي کې اوسېده، خو بیا ورته د عبدالاکبر خان پلار د ترنګزو او عمرزو په مینځ کې یو ځای ورکړ هلته یې ابادي وکړه او د کلي نه دې ځای ته راغی د جمعې په ورځ به دلته ډېره لویه جمع کېده او د لرې لرې ځایه به خلک لمانځه ته دلته راتلل زه به هم ورتللم.

## مدرسې جوړول:

زه په مشن سکول کې د خپل هېډ ماسټر وګرم او د هغه د ورور ډاکټر وګرم نه ډېر متاثر شوی وم. د هغوی قربانیو را باندې ډېر اثر کړی و، زما هم دا خیال پیدا شوی و چې د دې قام اووطن خدمت مې وکړې. په دغو ورځو کې زمونږ د قام د جهالت په وجه ډېر بد حالت و. نه د حکومت له خوا څه انتظام و او نه د قام له خوا. د تعلیم کولو هېڅ انتظام نه و او که په کوم کلي کې به پرایمري سکول و، هغې ته هم ملایانو څوک نه پرېښودل نو ما غوښتل چې د پښتنو د بچو د تعلیم دپاره په ملک کې د اسلامي مدرسې جوړولو کوشش وکړم او خپل ژوند به په دې خدمت کې تېروم. په ۱۹۱۰ ع کې ما او مولوي عبدالعزیز صاحب یوه مدرسه په اتمانزو کې جوړه کړه او د نورو مدرسو جوړولو دپاره مو په نورو علاقو کې دوره شروع کړه د خلکو توجه مې د علم طرف ته کړه. او د پښتنو په زړونو کې مې د علم د ضرورت احساس پیدا کړ، او دغه شان مو ورو ورو په مختلفو علاقو

کې د مدرسو جوړول شروع کړل او په لږ وخت کې مو ډېرې مدرسې جوړې کړې. زمونږ کلي ته نزدې د مفتي اباد نه خلک راغلل چې ته راشه مونږ دلته یوه مدرسه جوړوو، زه لاړم خلک مې را ټول کړل د علم د ښېګړو په باره کې مې ورته خبرې کولې. په دې کې یو ملا راغی چترالي (چترال زمونږ د اتمانزو د کلي په میره کې یوه بانډه وه) ملا به یې ورته ویل د دې سره ټوپک هم و، او کتابونه هم ورسره وو. مونږ سلا مشوره کوله خبرې مو کولې ملا صاحب پاڅېد او وئې ویل چې زه دا تعلیم چې عبدالغفار خان شروع کړی دی نه منم، او نه دا تعلیم دی او هغه ویل چې په دې مدرسو کې چې کوم کتابونه لوستل کېږي نو په هغه کې دې چې: «ایک کتا بهونکتا هی» یعنې یو سپی غاپي او په بل کتاب کې لیکلي چې (A big fig) یعنې یو غټ انځر. دا څه دي؟ دا علم دی؟

نو زه راغلی یم د ده سره فېصله کول غواړم چې په کتاب راسره فېصله کوي که په ټوپک؟ ما ورته وویل چې ته ښه پوهېږې چې زه د ټوپک کار نه کوم او دغلته چې ته اتمانزو ته ځې، زما یو تربور دی چې محمد خان یې نوم دی هغه ته د ټوپک نوم واخله نو پخپل ځان به پوهـ شې چې ته څومره سړی یې ملا صا حب علم خدای او رسول په مونږ مسلمانانو فرض کړی دی او چې تاسو خلک د دې انګرېزي مدرسو نه منع کوئ نو په کار دي چې هغو له پخپله، خو د تعلیم انتظام وکړئ نو چې تاسو هم ورله څه انتظام نه کوئ او مونږ هم د دوی د خدمت نه منع کوئ نو د دې قام دې خدای مل شي.

پښتون یو ژوندی قوم دی د قومیت او قربانۍ ماده هم په کې شته، خو راویښول غواړي. قومونه خو تش په کُف و چُف نه را بېدارېږي، د قومونو د ژوندي کولو او بېدارولو دپاره داسې کسان

په کار دي چې بې غرضه وي، دیانت دار وي ایماندار وي، او د خدای دپاره د خپل قام خدمت ته تیار وي چې داسې کسان په کوم قوم کې پیدا شي نو د هغوی په کوششونو هغه قام کې مینه، محبت، همدردي، ورورې او عزیزولي پیدا شي. هغه قام اباد شي مونږ بې همتو او خودغرضو خانانو،ملایانو او باباګانو تیارې ته کېنولي یُو، ځکه خو زمونږ د قام دا حال شو. که چېرې دا کارونه په تش کُف او چُف، وظیفو او دعاګانو کېدلی شوی نو زمونږه خپل رسول(ص) به دومره کړاوونه ولې کول، دومره قربانۍ ورکولې، تکلیفونه او مصیبتونه به یې تېرول،خو د جماعت په ګُوټ کې به ناست وی دعا به یې کوله، د هغه په شان دعا د چا کېدی شوه؟ کار به کېده،قام به اباد ېده،خو خبره داده چې بې عمله دعا د خدای په نزد نه قبلیږي. په دې کې د پښتنو څه ګناه ده؟ دوی ته چې هر چا جونګه جاړه اچولې ده، دوی ورته را ټول شوي دي شکرانې یې ورکړې دي. د هغوی په مخ کې یې منډې وهلې دي. خدمتونه یې ورته کړي دي،ملکانې او سیرې یې ورکړې دي. تر دې چې خویندې لونه یې هم ورکړې دي،خو هغوی دا بدبختان په هغه دین هم نه دي پوهـ کړي. هغوی دا ګمان کاوه دا زمونږ د دین او دنیا نجات دهنده دي،خو د دوی سره نه د دین غم و اونه د قام، هغوی سره خپل غم و، هر څه یې خپل ځانته کړي دي. قام، وطن او دین ته یې هېڅ نه دي کړي.

زمونږ د سکولونو مخالفت ملایانو شروع کړو او ویل به یې چې په دې کې اردو ویل کېږي. اردو یوه بهانه وه، ګني دجماعتونونه زمونږ په سکولونو کې دیني تعلیم هم زیات و او هم په ښه طریقه و او هم ورسره دیني تربیه وه.دوی د لمونځ معنی چا ته ښودلې نه ده، اومونږ په زرګونو بچو ته د لمونځ معنی ور زده کړې ده. خبره داوه چې

دا زمونږ مخالفین چې وو، د دوی خو په اسلام څه کار نه و، که نه اسلام خو علم په نر او ښځه فرض کړی و او دا یې ویلي دي چې په علم پسې ان تر چینه لاړ شئ. چین کې خو منیه، خلاصه او د عربي علم نه و، د اسلام خو د علم د حاصلولو غرض و، که دا ملایان رښتیا په علم مَین وي نو دوی به زمونږ ملاتړ کړی وی. دوی خو دا فکر کاوه که پښتنو کې علم او پوهه راشي زمونږ دکان به سوړ شي او دې ته یې فکر نه کاوه، که په پښتون قوم کې علم راشي قام به ترقي وکړي او چې قام ترقي وکړي مونږ به هم ترقي وکړو. دوی خو د قوم نه جدا نه دي د دوی نه بیا لا خانان ښه وو، ځکه که په قام کې پوهه را تلله نو خانی ته یې هم نقصان رسېده، خو خانانو مخالفت خو لا پرېږده چې وئې نه کړ، بلکې زمونږ ډېر امداد یې هم کړی دی. مونږ به ملایانو ته ډېره تسله ورکوله چې که دا قام ترقي وکړي تاسو به هم ترقي وکړئ، خو د هغوی په دماغ کې دا نه راتله چې ګوندې پښتون قام او ورسره مونږ ترقي کولی شُو. دوی دومره د تیارخورۍ او بیکارۍ عادت شوي وو چې د جدوجهد ماده په کې پاتې شوې نه وه. (زما په یاد دي چې یوه ورځ په سېواګرام کې د ګاندهي جي سره ډېر خلک را جمع شوي وو. د پراتنې نه پس هغه خلکو ته دا خبره وکړه، دا نن چې مونږ غلامان یُو او د ذلت ژوند تېروو، دا ځکه چې مونږ ډېره لویه ناشکري کړې ده او د خدای په نزد ناشکرې ډېر لوی جرم دی، مونږ ځکه په مصیبت مبتلا یُو چې خدای لاس او پښې راکړي دي او مونږ ورنه کار نه اخلو او زمونږ مذهبي ډله یعنې برهمنانان تیار خواره او بیکاره شوي دي. د دې نعمت دکفران په وجه د خدای له طرفه په مونږ دا لعنت نازل شوی دی، په ګیتا کې یې راوړي دي چې څوک کار نه کوي او خوراک کوي هغه غل دی.)

په دغه وخت کې قام د ملايانو او باباګانو په جال کې ګير و او د هغوی د اثر لاندې د بل چا اثر يې لا نه و منلی او يو قام هله دچا اثر قبلوي چې اثر والا په کې پيدا شي. کله چې ملايانو زمونږ د مدرسو مخالفت شروع کړو نو د خپلو مدرسو دپاره مونږ د ترنګزو حاجي صاحب سرپرست وټاکه نو په دې طريقه مونږ څه نا څه د ملايانو د تخريب نه بچ شُو. د حاجي صاحب په وجه مونږ ته په دې کار کې ډېره کاميابي حاصله شوه. حاجي صاحب يو مصلح بزرګ و او د نورو باباګانو غوندې نه و، دا يې لوی صفت و چې د نورو باباګانو غوندې چا ډايرېکټ يا ان ډايرېکټ په بيه نه شو اخيستلی، پرنګی په دې کار کې ډېر استاذ و، هغه د مسلمانانو د راګيرولو دپاره مسلمانان ساتلي وو، هيڅ ملا او بابا ترې بچ کېدی نه شُو، دغه يو حاجي صاحب ترې خدای ساتلی و. زمونږ د مدرسو په مخالفت کې هم د پېرنګيانو لاس و، که څه هم د ملايانو په کې خپل غرضونه هم وو.

## دېوبند سره تعلق:

د حاجي صاحب او د هغه ملګرو، مخفي صاحب، مولوي فضل ربي او مولوي تاج محمد دوی سره خو زما د اول نه تعلقات او تګ راتګ و، خو د دې مدرسو د جوړولو په وجه زمونږ تعلقات نور هم مضبوط او زيات شُو، زه به کله کله د دوی ليدو او تبادل خيال دپاره (ګدر) ته ورتلم او دوی به هم چې کله د حاجي صاحب ليدو ته را غلل زما ليدو ته به هم اتمانزو ته راتلل، مولوي تاج محمد د ګدر د دارالعلوم مهتمم و، او د انتظام نه علاوه درس به يې هم ورکاوه نو ډېر به له ګدر نه بل چېرته نه تلو. مخفي صاحب او مولوي فضل ربي صاحب به ډېر راتلل او د مولوي فضل ربي صاحب په واسطه ورو ورو

زمونږ تعلقات د دیوبند سره پیدا شُو. په دې شپو ورځو کې د دیوبند دارالعلوم پرنسپل حضرت مولانا محمود الحسن صاحب ډېر نیک، پاک، خدای پرست او لوی عالم و او تش کتابي عالم نه و ،د علم سره یې عمل هم لرلو او په دې فکر کې و چې هندوستان به څرنګه د پرنګي د غلامۍ نه ازادکړی شُو؟ زمونږ هم دا فکر و او د ملک ازادي زمونږ مشترک مقصد و. مونږ چې به دیوبند ته لاړو نو د مولانا سره به وو ،په دیوبند کې ډېر پښتانه طالب العلمان وو ،مونږ د پښتنو طالبانو د لیدلو په بهانه دیوبند ته تللو، د مولانا یو شاګرد میا عذیرګل به زمونږ د خوب او خوراک انتظام کاوه. د مولانا صاحب په ذریعه ورو ورو د هغه د ملګرو ملایانو سره زمونږ پېژندګلوي پیدا شوه چې د هغوی نه مولوي عبیدالله سندهي او محمد میا نومونه راته یاد دي. او د نورو ډېرو را نه اوس هېر شوي دي.د خورجي یو مولانا صاحب زما ډېر اشنا و، ډېر مینه ناک سړی و، زما نه چې به خبر شو دیوبند ته به راغی ډېرد خوراک څیزونه به یې د ځان سره مونږ ته راوړل د خورجي اچار او کولچې ډېرې مشهورې دي،افسوس چې زما نه د مولانا نوم هېر دی، شاید زما په هغو ورکو شوو نوټ بکونو کې وي. رښتیا خبره دا ده چې زمونږ پخپلو کې ډېره مینه، محبت و، د چا چې مقصد اونصب العین یو وي، هغوی کې همېشه مینه وي، محبت وي، هغوی کې به د رائې اختلاف هم وي،خو دا اختلاف دهغې ډلې دپاره رحمت وي. دا نن چې تاسو په ډلو کې پرې جنبې وینئ، تاسو تحقیق وکړئ د هغوی مقصد او نصب العین یو نه وي، ځکه خو اختلاف رائې د رحمت په ځای د هغوی دپاره زحمت شي، ځکه چې دوی دا کار د خدای او د خدای د مخلوق دپاره نه کوي، دخپل ذاتي غرض دپاره یې کوي، د نفس لارې ډېرې وي، او د خدای

لاره يوه وي نو د خداى د پاره خدمت او پرې جنبې دوه متضاد څيزونه دي.

زمونږ زياتې خبرې اترې، سلاګانې او مشورې به مولانا محمود الحسن صاحب او مولوي عبيد الله سندهي سره وې، په هغو ورځو کې د پېرنګيانو ډېر رعب داب و، او د خلکو په زړونو کې د هغوى ډېره وېره ناسته وه او د هغوى د مخبرانو هم يوه زوره وره سلسله وه نو چې مونږ به هر کله دېوبند ته تللو نو د هغوى د وېرې به مو د دېوبند نېغ ټکټ نه اخيسته، مونږ به يو ټېشن دېخوا يا اخوا د ګاډي نه کوزېدو، بيا به پياده يا په بله ذريعه پټ دېوبند ته ورتللو چې پرنګيان را باندې پوهه نه شي. مولوي عبيد الله سندهي په ډيلي کې د فتحپوري لوى جومات سره يو ځاى اخيستى و او هلته به يې هلکانو ته د قران شريف درس ورکاوه او کوم هلکان چې به بي، اې پاس وو، هغوى له به يې پنځوس روپۍ د مياشتې وظيفه هم ورکوله او درس به يې هم مفت ورکاوه. او هغه وخت پنځوس روپۍ ډېر شى وې. د هغه دا خيال و چې د مسلمانانو په تعليميافته زلمو کې به زه د قران شريف د درس په وجه د حريت او خدمت جذبه پيدا کړم، ليکن سندهي صاحب پخپل مقصد کې کامياب نه شُو.

سندهي صاحب لوى عالم و، د هغه په شان په قران کريم څوک نه پوهېدل او نه يې د ده په شان درس ورکولى شُو، خو په مسلمانانو کې د جدوجهد ماده پاتې شوې نه وه، ګني همدغه د پېرنګيانو په مدرسو کې هندوانو هم تعليم کړى و. په هندوانو د دې تعليم يو قسم اثر شوى و، او په مسلمانانو بل قسم اثر شوى و. په هنداونو کې يې د خپل قام مينه او د هغوى د خدمت جذبه پيدا کړې وه او په مسلمانانو کې خدمت او مينه خو پرېږده، هغوى د قام او ملک نه خبر هم نه وو. د

مولانا په شاګردانو کې د هغه ډېر نژدې شاګرد چې د سندهي صاحب پرې ډېر اعتماد و. بي. اې پاس و، قران يې د مولانا په ترجمه ختم کړی و.

با وجود د دې ټولو خبرو د پېرنګيانو مخبر وخوت، د سندهي صاحب د دوستانو او شاګردانو او ټولو حالاتو ډايري به يې هره ورځ حکومت له ورکوله. د سندهي صاحب د شاګرد رشيد چې دغه حال وي د نورو به څه حال وي؟ د قام مينه او خدمت او د حريت جذبه يوازې په تعليم نه ده. مونږ چې د قام د خدمت او ازادي تحريک شروع کولو زه په ښارونو کې تعليميافته و پسې ډېر وګرځېدم ما په هغوی کې داسې خلک پېدا نه کړی شول چې د خدای دپاره د قام خدمت ته تيار شي. د باباګانو او بزرګانو مې ډېر خاطر ساتلی دی او خدمت مې کړی دی.

په دې طمع چې د ده خو زرګونه مريدان دي که دی يو ځل زمونږ ملګريشي ډېر خلک به زمونږ ملګرتيا او ملاتړ وکړي. د ملايانو مې ډېره خوشامنده کړې ده او ډېرې منډې مې ورپسې وهلې دي، خو ډېرو لږو راسره ملګرتيا کړې ده، لکه په اُوړو کې مالګه. او چې د دوی نه ما يوسه شوم ښارونه مې پرېښودل او کلو باندو ته ووتلم او عوامو ته ورغلم په څلورو مياشتو کې دومره خلک راسره را پاڅېدل چې پيرنګی ورنه ووېرېده.زه دولس کاله په تعليميافته و پسې ګرځېدلی يم خو د دوی نه مايُوسه شوم اوکلو ته ووتم نو په زرګونو خلک راسره ملګري شول.

## شيخ الهند صاحب او سندهي صاحب:

مونږ چې به ديوبند ته لاړو نو شيخ الهند صاحب به سندهي

صاحب ته هم خبر ورکړ اکثر به دی دیوبند ته راغی او کله نا کله به زه د ده لیدو او سلا مشورې دپاره ډیلي ته ورغلم. د سندهي صاحب ځای د فتحپوري جومات سره و، خو زه به نېغ د هغه ځای او درسګاه ته نه ورتلم ځکه چې د ده په ځای کې به سي ائي ډي همېشه حاضر و، او دا داسې وخت و چې چا ته به زمونږ علاقه کې د مولانا ابوالکلام ازاد جاری کړې رساله الهلال راتله نو پولیس به ورپسې و، او حکومت به په تورلست کې لیکه او چې حکومت به لږ په چا بدګمان شُو چې د ده په زړه کې د ازادۍ او د قام او ملک مینه او د خدمت جذبه شته نو بیا دې خدای مل شه. ځکه به زه د هغه درسګا ته نېغ نه تللم فتحپوري جومات ته به لاړم چې لمونځ به وشُو، په جومات کې به مو سره ولیدل که خبرې به مو لږې وې په جومات کې به تمامې شوې. سندهي صاحب به خپل ځای ته لاړ او زه به خپل نور کار پسې لاړم او که خبرې به خلاصې نه شوې نو سندهي صاحب به زه د چای څکلو دپاره د ځان سره بوتلم، چای به مو هم وڅکلې او خبرې به مو هم وکړې. د سندهي صاحب د لیدلو نه پس به زه په ډیلي کې نه پاتې کېدم او د شپې په ګاډي کې به کلي ته راروان شوم، خو کله چې به مې نور کار پاتې و نو پاتې به شوم زه چې به پاتې شوم د مولوي سیف الرحمن صاحب سره به پاتې کېدم، مولوي سیف الرحمن زمونږ د دوواوې و. ډېر عالم پوهـ او سیاستدان سړی و. مولوي سیف الرحمن د نورو ملایانو په شان د محدودو خیالاتو خاوند او تنګ نظره نه و، په ګوټ اوبو کې به نه ډوبېده د اوچتو خیالاتو خاوند او بلند نظره و، ډېر د مزو او زنده دل سړی و. فتحپوري د ډهلي یو جامع مسجد و، او په هغې کې یوه عربي مدرسه وه اومولوي سیف الرحمن د دې مدرسې صدر مدرس و.

## قوم پرستي:

کله چې زما سوسايټي بدله شوه او د قام پرستو سره مې مخه شوه ما کې چې د قام پرستۍ کومه ماده وه، هغه را وینېه شوه. دا خبره خو ما لا په وړوکوالي کې په طالب العلمي کې محسوسه کړې وه، خو د مخفي صاحب، مولوي عبدالعزیز صاحب او مهتمم صاحب په مجلسونو کې يې وده وکړه، خصوصاً د مخفي صاحب د مجلس په ما ډېر اثر و. په دې وخت کې زما دوه شيزونو سره ډېر شوق و، يو زمينداری سره او بل د مطالعې سره. د زمينداری دپاره خو ماته پلار په مامندناړی(محمدناړی) کې شپېته جريبه ځمکه راکړې وه، په هغې کې به ما خپله زميندارې پخپله کوله او د مطالعې دپاره به مې د مولانا ابوالکلام ازاد الهلال اخبار کتو چې يو عالمانه اخبار و، او هر مضمون به يې د علم نه ډک و، او د ازادۍ او حريت علمبردار و، او د اسلام په حقيقت به يې خلک پوهول او بل مې زميندار اخبار را غوښتل. زميندار اخبار د مولانا ظفر علي خان اخبار او ډېر قام پرست اخبار و. داسې ګنده نه و، لکه وروسته چې د اختر علي خان د هغه د زوی په ګوتو ورغی، بل مې مدينه بجنور اخبار را غوښته چې ډېر قومي اخبار و. يو مې انګرېزي اخبار چې( د سول اينډ ميلټري ګېزټ) نومېده را غوښته ورسره به مې د ديني او نورو کتابونو مطالعه هم کوله چې طالب علم وم د مطالعې سره مې شوق نه و، خو چې د مدرسو کار مې شروع کړ د مطالعې شوق را سره پيدا شو. الهلال او زميندار چې به هغه وخت چا له راتلل نو هغه به د حکومت د سترګو اغزي وو او د هغه نوم به بليک لسټ کې و. ولې چې دا دواړه اخبارونه قام پرست وو، قام يې را وينباوه او پوهاوه او قوميت او جرات يې په کې پيدا کاوه. بديشي حکومتونه خو په دې ولاړ وي

چې په خلکو کې وېره پيدا کړي او د خلکو له زړونو نه چې وېره ورکه شي د بديشي (بهرني پردي) حکومتونو بنياد ونړېږي او د بديشي حکومت مثال د غله وي چې د کور خاوند را ويښ شي نو بيا غل کله ټينګېدی شي نو ځکه د انګرېزي حکومت د دې قسم اخبارونه خوښ نه وو، څو ځله ما پسې پوليس راغلل چې ته دا اخبارونه مه را غواړه بند يې کړه. د حکومت نه خوښېږي څوک چې دا اخبارونه لولي حکومت يې خپل دښمن ګڼي.تا ته به ډېر نقصان ورسيږي. ما ورته لنډ جواب ورکړو چې د حکومت خوښ نه وي حکومت دې پخپله بند کړي هغوی به وويل چې حکومت خو يې نه بندوي ما به ورته وويل چې زه يې هم نه بندوم.

مخفي صاحب به هم چې چېرته ښه کتاب پيدا کړ، هغه به دمطالعې دپاره ما ته راوړ. يوه ورځ يې راته د عبدالحليم شرر يو ناول چې(( زياد او حلاوه)) نومېده راوړی و او راته يې وويل چې دا کتاب په ښه شان مطالعه کړه، هسې هم زما طبيعت داسې و چې مطالعه مې د نورو په شان ډېره نه شوه کولی، خو چې څه مې کولی شوه نو ځان به مې پرې ښه پوهاوه او ښه غور به مې پرې کاوه چې مطالب يې ښه هضم کړم. دا ناول د سپين(هسپانيه) په باره کې ليکل شوی و، او دا يې ليکلي وو چې د سپين عيسايانو د مسلمانانو د اتوسوو کالو تسلط ته څرنګې خاتمه ورکړه. د دې ناول په لوستو ماته په خپل کار کې ډېره ګټه ورسېده، مخفي صاحب به چې پخپله نوي شعرونه جوړ کړل، هغه به يې هم ماته راوړل او راته به يې اورول. ماته به د مخفي صاحب شعرونو ډېر خوند راکولو، خوند څه چې په ما به يې ډېر اثر کولو. د هغه ډېر شعرونه ما ته اوس هم ياد دي ما او مخفي صاحب به الهلال يو ځای لوسته په مضمونونو به يې مونږ ډېر

بحث کاوه او ځو ځو ځله به مو لوسته او چې څومره به وس کېده نورو ته به مو هم اورولو. ربښتیا خبره داده چې مونږ الهلال د اسلام په حقیقت پوهـ کړي یُو او دې اخبار زمونږ مخه دې خواته کړه.

دا هغه وخت و چې د پرنګي د حکومت له وېرې به چا پټ په حجره کې د پرنګي خلاف خبره نه شوه کولی، مونږ به چې دا قسم خبرې کولې چرته پټ ځای ته به لاړو. زمونږ کلی ډېر ګڼ کلی دی، هلته به مو پټې خبرې هم نه شوې کولی او ډېره لړه به د پټو خبرو موقع راته پیدا کېده، کله به د حاجي صاحب ځای حاجي اباد ته لاړو، کله بل خوا. یوه ورځ مولوي فضل ربي صاحب او مخفي صاحب او زه مامندناړې ته چې په مېره کې زمونږ یو کلی دی او ډېر ښه نهر په کې بهیږي او ډېر ښکلی ځای دی لاړو. د شپې د ډوډۍ انتظام را ته وشو د ماښام د لمانځه نه وروسته په سرک ګرځو او خبرې کوو چې شاته مو وکتل یو سړی را پسې دی په مونږ وارخطایي راغله زمونږ دا خیال شُو چې دا سړی ګوندې مونږ پسې لګېدلیدی. د هغه ځایه مو دوه خپلې کړې او دوه پردۍ، تیاره ډوډۍ مو پرېښوده او د کور خاوند ته مو خبر قدرې هم ونه کړو، په منډو منډو زمونږ یو بل کلي مړوندۍ ته ماسختن (مازختن) ورسېدو. زمیندار او دهقان ډوډۍ د وخته خوري هغوی ډوډۍ خوړلې وه زمونږ دپاره یې په شپه کې نوره ډوډۍ پخه کړه ډوډۍ مو وخوړه او همدلته اُوده شو. په داسې حالاتو، واقعاتو او مشکلاتو کې مونږ کار شروع کړی وه. سره د دې زمونږ کار ورځ په ورځ ترقي کوله ځکه چې زمونږ کار د خدای د مخلوق دپاره و، زمونږ په کې ذاتي غرض نه و، بلکې ذاتي مو په کې نقصان و.

## وړومبی واده:

د ۱۹۱۲ ع کال په اخر کې پلار ما له واده وکړ. زه لا هلک وم په سکول کې مې سبق ویلو. زمونږ کلي ته نزدې رځړ نومي کلي کې د کنان خېلو خانانو په کورنۍ کې يې راته کوژدن کړې وه. زما په ګمان چې زما سخر یارمحمد خان اولنی خان و چې په لور يې روپۍ وا نه خیستې.هغه وخت که خان به و که غریب د خور لور په سر به يې پیسې اخیستې.دا رواج خلکو ته بد نه ښکارېدو نن هم پښتانه د خور او لور په سر روپۍ اخلي خو خلک ورته بد وايي.

په اسلام کې د خور او لور په سر پیسې اخیستل لویه ګناه ده، بلکې اسلام خو خوېندو او لوڼو ته د پلار، مور او ورور په میراث کې برخه ورکوي. زما سخر ډېر سخي او مېلمه دوست سړی و، ډېر دوستان او اشنایان يې لرل د کور کلي په غریبانو به يې خاص نظر ساته چې څه وخت مړ شو ما پخپله لیدلي و چې نرو، ښځو، خپلو، پردو ورپسې په زار زار ژړل پخپله يې تعلیم نه و کړی خو د تعلیم سره يې ډېر شوق و. زما بابا ته به يې ویل چې هغه یو زوی دې تا لندن ته تعلیم د پاره لېږلی دی دا بل به زه ولېږم دا مې اورېدلي و چې سخت مریض شو نو وئې ویل چې زه وصیت کوم او خپلو زنانه وارثانو ته د شریعت په مطابق حق او حصه ورکوم، خو خپلو خپلوانو پرېنښود. ډېر خانان يې دوستان وو، خو د ده له مرګه وروسته هېچا هم د ده د ماشومانو پوښتنه ونه کړه، ځکه چې د هغه نه ټول واړه ماشومان پاتې وو.

د چار درویش په قصه کې د یو سوداګر د زوی قصه کوي چې د پلار نه ورته ډېر مال او دولت پاتې شوی و، او ده هغه ټول په یارانو دوستانو وخوړلو کله چې د مال او دولت نه کنګال شو نو په ډېره بده

ورځ په لاره روان دی یو لاروي وپېژانده ورنه يې پوښتنه وکړه چې تـه هغه د سوداګر زوی نه يې؟

ده ورته وويل چې ولې نه یم هغه ورته وويل چې ته په دې مصيبت اخته شوی يې ستا خو ډېر ياران او دوستان وو، درنـه بـه ځارېدل او قربانېدل هغوی دې هېڅ امداد ونه کړ، هغه څه شول؟ ده ورتـه وويـل چې نـه، هغـه زمـا دوسـتان نـه وو، هغـه د دسـترخان مچـان وو چـې دسترخان مې غوړېدلی و، دوی پرې بنېدل او چې دسترخان ټول شو مچان والوتل.

ما سره د خپل قام د ښځو ډېر قدر او عزت و او ډېره همدردي مې ورسره وه، ولې چې زمونږ په قام کې هم لکه د نورو مشرقي قومونو پـه شـان د ښـځو قـدر نـه و، دوی بـه د سـړو نـه ښـکته ګڼلـې شـوې، حالانکه چې پستي او بلندي په عمل ده، که د چا عمل پست وي، هغه نر وي که ښځه په کار دي چې پست وګڼل شي او د چا عمل چې وچت وي،نروي که ښځه په کار دي چې په درانه نظر ورته وکتل شي، خدای خو نـر او ښـځه د دنيـا د ابادۍ دوه ملګري پيـدا کـړي او د بـشريت د ګاډۍ دا دوه پائې دي دا ګاډۍ په يوه پايه نه شي چلېدی او بيا زمونږ د پښتنو ښځې خو ډېرې پاک لمنې، حيا ناکې،مينه ناکې او وفادارې دي، او ډېرې خدمتګارې دي، مونږ چې به کله ناکله د خپلو خپلوانو کره مېلمانه شُو سره د دې چې نوکرانې به وې، خو زمونږ د خپلوانو ښځې به رانه چاپېره ګرځېدې او ډېر پـه اخلاص بـه يې زمونږ خدمت پخپله کولو، کوم ښه څيز چې بـه يـې پـوخ کـړی و، هغـه بـه يـې زمونږ مخې ته را وړاندې کولو، او چې زمونږ نه به څه پاتې شُو، دوی به بيـا هغې ته کېناستې او هغه بـه يې خوړلو. پـه ابتـداء کـې بـه سـړو د دوی سره يـو ځـای ډوډۍ نـه خـوړه او ښـځو بـه هـم د نارينـه و سره پـه يـو

دستر خوان ډوډۍ خوړل عیب ګڼل. د ټولو نه اول دا خبره ما محسوسه کړه او چې کله به مېلمانه نه وو د دوی سره به مې په یو دسترخوان ډوډۍ خوړه اول دا رسم ما مات کړ. او ورو ورو په ټولو خلکو کې د دې رواج اصلاح وشوه. ما چې واده وکړ زما ټبر ته به ما سره یو ځای ډوډۍ خوړل ډېر عجیبه ښکارېدل او له شرمه به یې په اسانه را سره ډوډۍ نه خوړه. یو خو به ځکه ښځو ډوډۍ وروسته خوړه چې د مېلمنو او نارینه و څه پاتې شُو نو دوی به بیا پرې را غونډې شوې او که به کافي غذا پاتې نه وه هم دوی به پرې قناعت کولو او بله دا وه چې سپین سرو ښځو به ځوانو ښځو پسې خبرې کولې چې خورې ته د دې زمانې ښځو ته وګوره څومره کلک سترګې دي، د خپلو مېړونو سره یو ځای ډوډۍ خوري. مونږ خدای داسې زمانې ته پاتې کړو. خو اخر دوی هم ورسره بلدې شوې او دا کار بیا بد نه ګڼل کېدو. د مېلمه وخت هم معلوم نه و،هر وخت به چې مېلمه راغی ښځې غریبانانې به مجبورې وې چې د ډوډۍ غم ورته وکړي. که نیمه شپه به وه او که د اړپشکال ټکنه غرمه به وه چې مېلمه به راغی نو هغه به هم ښه ډوډۍ غوښته او کوربه به هم ښه ډوډۍ ورکوله. زمونږ تحریک کې بیا د دې خبرې هم اصلاح وشوه.مونږ خلکو ته وویل چې یا به ناوخته په چا نه مېلمانه کېږئ، او که ناوخته په چا پېښ شوئ چې څه تیار وي هغه به خورئ. او که څوک دربانديې ناوخته را پېښ شُو هم تیاره به ورته مخکې ږدئ او په دې شان مو د ښځو تکلیف لږ څه کم کړ.

په هغه وخت کې هلکان چا تعلیم ته نه پرېښودل د جونو تعلیم خو بالکل د کفر سره مترادف ګڼل کېده، ملایانو به تعلیم ته څوک نه پرېښودل زما یاد دي ما چې لور په سکول کې داخله کړه نور خو پرېږده چې خپله سخرګنۍ هم رانه خپه شوه،حالانکه دا سکول د یو

خان په کور کې و. خاص د جينکو د پاره و. يو قسم پرايېويټ (مخصوص) مدرسه وه. د خان تېر پخپله درس ورکولو.

اوس هم ډېر خانان خپلې لوڼه په سکول کې نه داخلوي. ملايانو دې ته نه کتل چې اسلام خو علم په نرو او ښځو يو شان فرض کړی دی، يوازې د مدرسو مخالفت يې نه کولو د اخبارونو يې هم سخت مخالفت کولو اول خو به يې ويل چې په دې کې ټول دروغ دي، په چل ول د خلکو نه پيسې اخلي بيا چې خلک لږ لږ پوهه شول چې په اخبارونو کې خو د خدای او رسول خبرې هم وي بيا به يې دا پراپېګنډه کوله چې په اخبارونو کې د اياتونو بې حرمتي کېږي، په اخبار کې اياتونه ليکلی شي او بيا په لارو کوڅو او ډېرانونه کې پراته وي.

ما له چې به کوم اخبارونه راتلل ما به په حجره کې خلکو ته لوستل خو چا به ورته ښه غوږ نه اېښود. يوالهلال ته به يې لږ غوږ کېښود، ځکه چې يو خو په کې د خدای او رسول خبرې وې او بل د ابوالکلام ازاد اخبار و.

پښتانه اوس هم د اخبار لوستلو شوق نه لري، په چتې څيزونو، په بې ځايه رواجونو په زرګونو روپۍ خرڅ کوي، خو په اخبار يوه پيسه نه ورکوي، او همدا وجه ده چې د دومره بهادر او لوی قوم پخپله ژبه کې يو قومي اخبار نشته. زمونږ يو لوی خان و، يوه ورځ يې په ښار کې يو هلک ليدلی دی چې اخبارونه ورسره دي او چغې وهي چې اخبار واخلئ، خانصاحب ګمان کړی دی چې دا ګوندې وړيا دي، اخبار يې ورنه اخيستی دی، خو چې هلک ورنه پيسې غوښتې دي، ده اخبار بېرته ورکړی دی او اخيستی يې نه دی، چونکه زمونږ د اخبار سره مينه نشته نو ځکه زمونږ پخپله ژبه کې اخبار هم نه و.

ځنګه چې يې د اخبار سره مينه نه وه د غسې يې د خپلې ژبې سره هم مينه نه وه، د تعليميافته کسانو سره به مې چې د ژبې په باره کې خبرې وکړې راته به يې ويل چې پښتو لا د څه ژبه ده؟ په دې کې علم نشته پښتو کې څه دي؟ ما به ورته ويل چې هلکه دا نورې ژبې خو د اسمانه نه دي راکوزې شوې، د هرې ژبې ويونکو خپلې ژبې ته ترقي ورکړې ده. پښتنو چې خپلې ژبې ته توجه نه ده کړې، دې کې د پښتو ژبې څه ګنا ده؟ او دا خو زما او ستا ګناه ده.

ما چې واده وکړ کله چې به مې اخبار لوست ټبر به مې راته ويل چې دا اخبارونه څه له لولې دا خو ټول دروغ دي ما به ورته ووې چې نه دا خو پراپيګنډه ده. اخبار لوستل ډېر ضروري څيز دی. بيا به غلې شوه ويل به يې زه څه خبره يم، خو خلک داسې وايي بيا به يې رانه پوښتنه وکړه ښه ده نو څه په کې دي. ما هم پرې پوهـ کړه بيا به مې ورته وويل چې دې کې د ټولې دنيا حالات دي ما به بيا ورته ځينې مطالب وويل.

د پښتنو ښځې د نارينه و نه ذهينې دي د هغې هم د اخبار او تعليم سره ورو ورو دلچسپي پيدا شوه د قران او دين او نورو ضروري خبرو معلومات به مې ورته ورکول. هغه په پلار ډېره ګرانه وه، په خپله پلارګنۍ يې ډېر اثر و، د هغې په وجه زما د سخرګنۍ په ښځو کې هم ډېره تبديلي راغله. زما به همېشه دا کوشش و چې د ښځو د مغزو نه د کمترۍ احساس لرې کړم، ځکه چې په دوی کې دا احساس خودغرضو او ناپوهو سړو پيدا کړی دی. ما به خپل ټبر سره په دې خبره بحث کولو چې ښځه او نر دواړه د خدای په نزد يو شان دي. دروندوالی او سپکوالی په عمل دی او دا به مې هم ورته ويل چې د دې احساس په پيداکولو کې تاسو ښځې پخپله هم ګرمې يئ، ځکه

چې زوی ته په یو نظر ګورئ او لور ته په بل نظر او د وړوکوالي نه د جینکو په مغزو کې دا خبره کېنوئ چې هلکان او نارینه خدای د جونو او ښځو نه بهتر او لوی پیدا کړي دي. بیا به مې ورته دا هم ویل چې انسان د خدای په ټول مخلوق کې اشرف ګڼلی شي نو په دې وجه یې د نور مخلوق نه ذمه واري زیاته ده، خو زه چې دې خپل قوم ته ګورم ما ته په دوی او ځناورو کې فرق نه ښکاري. د دوی سره هم د خپلې ګېډې غم دی او د ځناور سره هم د خپلې جالې غم دی. دوی هم بچي راوړي او د خپلو بچو غم خوري او ځناور هم بچي زېږوي او لویوي یې نو دوی په څه اشرف المخلوقات وبللی شي؟

دوی هم لکه د ځناورو په شان یو بل وژني دوی به هله اشرف المخلوقات وګڼل شي چې دوی کې اجتماعیت، وروري، عزیزولي ، مینه او محبت پیدا شي. تش په دې چې نور ځناور په څلورو پښو ګرځي او انسان په دوه پښو، اشرف کېدی نه شي. یوه ورځ مې په خبرو کې ورته وویل چې نارینه مړ شي ښځه کونډتون کوي او چې ښځه مړه شي نارینه سمدستي بله ښځه وکړي. په کار خو دا دي چې د ښځې څښتن مړ شي چې هغه هم بل مېړه وکړي ماوې زما په خبره پوهه شوې؟ دې ویلې هو! ماوې معلومه نه ده چې څوک به مخکې مري، خو که زه مړ شم او ته ځوانه وې د بل مېړه په کولو کې هېڅ شرم ونه کړې. دې راته وویل دا د بې غېرتۍ خبرې را ته مه کوه.

## اګره کې د مسلم لیګ جلسه:

په ۱۹۱۳ ع کې په اګره کې د مسلم لیګ سالانه جلسه وه،هغه وخت به د مسلم لیګ جلسې په دسمبر کې د برېدن په چوټیو کې کېدې، ما چې په اخبارونو کې لوستل چې د اګرې په ښار کې د مسلم

لیک جلسه ده نو اراده مې وکړه چې ضرور به په دې جلسه کې شرکت کوم، ولې چې دا سیاسي جلسه وه او زمونږ په ملک کې سیاسي جلسې نه وې او نه ورسره خلک بلد وو. که څوک پرې پوهېدل هم د پېرنګیانو د وېرې چا د جلسې نوم قدرې اخیستی نه شو، ډېر خلک خو ترې خبر هم نه وو. زمونږ په علاقه کې هغه وخت د ملایانو به په داسې مسئلو بحثونه وو چې د قام او ملک او اسلام ته به ترې هېڅ فایده نه وه، مثلا چا به ویل «ضالین» دی او چا به ویل «ظالین» دی چا به ویل د سابې توبه قبوله ده چا به ویل نه ده قبوله. دغه شان چا به ګوته او چتول سنت ګڼل چا به بد عیب. په دغسې خبرو به د ملایانو بحثونه وو، په خرو او اوښانو به کتابونه بار یو ځای ته وړه او بل ځای ته وړه او بحثونه کوه او خبره مه فېصله کوه.په دې توګه به یې د خلکو توجه د ژوندانه د مهمو مسایلو نه بل پلو اړوله ماته په دې کې د پېرنګیانو لاس ښکارېده، ځکه چې کله کله به دا خبره هم په کې اوچته شوه چې که د انګرېز او روس جنګ شي، مونږ له د چا امداد کول په کار دي. ددې سوال په جواب کې به بیا اختلاف نه و، ټولو به ویل چې انګرېزان اهل کتاب دي او روس سور کافر دی. مونږ ته د انګرېز مرسته ضروري ده. حال دا چې انګرېزان هم عیسایان دي او روسان هم عیسایان وو.

یوه ورځ په مامندناړې کې د جمعې د لمانځه نه وروسته ناست یُو چې په دې خبره بحث شُو چې د سابې توبه قبوله ده که نه ده؟ یو ملا ناست و، د دړې ملا په نوم مشهور و. هغه ووې چې که څوک وایي چې قبوله ده زه یې ثابتوم چې قبوله نه ده او که څوک وایي چې قبوله نه ده زه یې ثابتوم چې قبوله ده. مطلب یې دا و چې خلکوته ځان وښیي چې زه دومره لوی ملا یم چې ناروا خبره روا ثابتولی شم، او

په خلکو یې همداسې اثر و ،ناستو خلکو یو بل ته وکتل او وئې ویل چې ډېر لوی عالم دی، خو ماته د ده خبره عجیبه ښکاره شوه چې په مذهب کې خو دوه خبرې نه وي، یوه وي نو ما ورته وویل چې ملا صاحب! که خدای او رسول وایي چې قبوله ده نو ته به یې څنګه نا قبوله کړې او که هغوی وایي چې نا قبوله ده نو ته به یې څنګه قبوله کړې. د ملا صاحب زما خبره خوښه نه شوه او خبره یې په بله واړوله. دوی به خپله ملائې خلکو ته ښوده او د قام یې ستړه وښکله. په خلکو کې یې دومره نفرت پیدا کړی و چې اکثرو د یوبل مړي ژوندي پرېښي و، د یوې ډلې مشر مانکي ملا صاحب و او د بلې د هډې ملا صاحب و. یو په بل به یې د کفر حکمونه کول حال دا چې دواړو یو خدای منلو، یو رسول یې منلو، یو قران یې منلو او د یو حنفي مذهب پیروان وو، حتی د یو پیر مریدان وو. د سوات صاحب مریدان وو.

زه او زما د سبق ملګري عبدالحلیم د مسلم لیګ په جلسه کې د ګډون دپاره اګرې ښار ته روان شو.شپه مو نوښار ته یوړه هلته د نوښار په تانه کې تانېدار د دوه سرو غلام سرور خان و. د نوښار د تانې خواوشا ابادي نه وه. سپېره ډاګ و، غلام سرورخان په خټ کلي کې اوسېده شپه مو د هغه سره شوه د ډاګ ګاډي د شپې په یوولسو بجو را روانېدو او په یوه بجه ښار ته را رسېدو. مونږ په دې ګاډي کې اګرې ته تللو نو چې د شپې ډوډۍ مو په خټ کلي کې وخوړه د شپې په ۱۲ بجو د ګاډي په پټلۍ باندې نېغ ستېشن ته را روان شو. په لاره کې د ځناورو غرار شو، د غراري اواز ورو ورو مونږ ته را نژدې کېده. مونږ په دې فکر کې وو چې دا اواز به د څه شي وي چې په دې کې ځناورو را باندې حمله وکړه. مونږ هیبت واخیستو شور مو جوړ کړو د خدای فضل و خوله یې را وانه چوله بچ شُو. معلومه شوه چې هغه

شرمښان وو غلام سرور خان پرې د تمانچې ډز هم وکړو. مونږ ټېشن ته ورسېدو لږ ساعت پس رېل راغی او مونږ دواړه د غلام سرور خان نه رخصت شو. اګرې ته روان شو چې اګرې ته ورسېدو په یو سرای کې مو یوه کوټه په کرایه واخیستله په کې دېره شو. سبا له جلسه شروع کېدونکې وه، مونږ سهار وختي د جلسې ځای ته لاړو د جلسې دپاره لوی پنډال جوړ شوی و.

سټېج دپاسه او لاندې کرسۍ لګېدلې وې، مونږ ټکټونه واخیستل او په کرسو کېناستو. سر ابراهیم رحمة الله د دې جلسې صدر و، مولانا ابوالکلام ازاد، سراغاخان او د هندوستان نور ډېر غټان د سټېج دپاسه په کرسو ناست وو. د صدارت د خطبې نه وروسته قسما قسم قراردادونه وړاندې شول او مختلفو کسانو تقریرونه وکړل. سراغا خان هم په فارسۍ ژبه کې ډېر ښکلې تقریر په ډېره فصیحه ژبه وکړو، د درې ورځو پورې جلسه وه. د جلسې د ختمېدو نه پس مونږ د تاج محل شاهي جومات او ښار سېل وکړو، او بیا د اګرې نه ډیلي ته لاړو ،هلته د مولوي سیف الرحمان مېلمانه شُو، ډیلي کې مو هم د کتلو قابل ځایونه ولیدل. یوه ورځ په شاهي مسجد کې ناست وو. یو سپین ږیري وویل چې ډیلي هېچا سره وفا نه ده کړې معلومېږي چې د انګرېزانو هم زوال په برخه شوی دی چې دارالحکومت یې د کلکتې نه ډیلي ته را بدل کړو. په دغو ورځو کې دارالحکومت را بدل شوی و، څلور دېرش کاله پس دهغې سپین ږیري پیشګویي رښتیا شوه.

په دې ورځو کې به کانګریس او مسلم لیګ دواړو ډلو د پېرنګیانو نه د عهدو او مراعاتونو سوال کولو او قراردادونو به یې پاس کول چې مونږ ته دا را کړئ او دا راکړئ.د هندوستان د

منورینو (انیټلیجنسیا) اکثریت په کانګرس کې وو، څه وخت چې ګاندهي جي د افریقې نه راغی او په کانګرس کې شامل شُو، د کانګرس حالت بدل شُو، د تشو مطالبو او تشو خبرو په ځای د ملک د حقوقو د اخیستلو دپاره عمل او جدوجهد شروع شو. حقیقت دا دی چې حق څوک چا له ورکوي نه، بلکې حق اخیستل کېږي. کله چې د کانګرس پالیسي، د منتونو او زاریو په ځای عمل اوجدوجهد شُو، هغه کسان چې د مصیبت ګاللو نه وو، لکه جناح صاحب، کنزرو، جیکار او سپرو او نور د کانګرس نه ووتل، جناح صاحب مسلم لیګ ته لاړ اودې نورو لیبرل پارټي جوړه کړه. خبره داسې وه چې څه وخت د رولیټ ایکټ مسئله پېښه شوه نو جناح صاحب او سپرو وغیره یې ټول مخالف وو نو سوال دا پېدا شو چې که حکومت زمونږ مطالبه ونه مني نو بیا به څه کوو؟ دې ذکر شوو کسانو وویل چې احتجاج به کوو، د دې نه پس سوال داسې را پیدا شُو چې که بیا حکومت هم مطالبه ونه مني نو بیا به څه کوو دې کسانو وویل «بیا به هم احتجاج کوو» ګاندهي جي وویل که زمونږ خبره حکومت ونه مني «جدوجهد به کوو» په دې خبره دوی جدا شول.

## کلي وطن کې تعلیم او تبلیغ:

څو ورځې پس له ډیلي نه کلي ته راغلو چې کلي ته راغلو خبر شوم زما زوی غني پیدا شوی دی. زما د ټبر ورور نه و نو د زوی په پیدا کېدو ډېره خوشحاله وه.

د جمعې په ورځو کې به د حاجي صاحب په ځای کې ډېر خلک جمع کېدل، د لمانځه دپاره به له لرې ځایونو نه راتلل. زه به هم که په دوره نه وم خامخا ورتللم. مهتمم صاحب، مخفي صاحب او مولوي

فضل ربي صاحب به هم د سلا مشورې دپاره کله نا کله راتلل. د جمعې د لمانځه نه پس به ما خلکو ته وعظ اونصیحت هم کاوه، خو د ملايانو نه خوښېده، ځکه چې زمونږ ملايان د برهمنانو غوندې ځان د مذهب ټيکداران ګڼي. ما د خپل قام د اصلاح دا کار د خدای دپاره کولو د هغوی پروا مې نه ساتله. اخر يې را پسې پټه پټه پراپيګنډه شروع کړه چې ډيره يې خرېيلې ده او وعظونه کوي، اول خو دې خپل ځان په شريعت برابر کړي، بيا دې نورو خلکو ته نصيحت کوي. د دوی خو په ډيره او اسلام غرض نه و، زما بدنامول يې غرض وو، قوم هم ناپوهـ او جاهل و چې ملا به ورته ووې چې دا مذهب دی ده به منله. ملايانو ډيرې له دومره اهميت ورکړی و چې ټول اسلام يې تش د ږيرې پورې تړلی و، حال دا چې مذهب خو ښه عمل دی، مذهب خو په بنيادي ډول د اخلاقو او عمل سره تعلق لري. ږيره پرېښودل او بريتونه خرېيل دا د عربو تهذيب و.يوازې د صحابه(رض) نه بلکه د اسلام د دښمنانو عربو لکه ابوجهل،ابولهب و غيره و هم ږيرې وې.سره د دې هم د دې دپاره چې د ملايانو د اعتراض نه خلاص شم.ږيره مې پرېښودله، خو بيا هم د ملايانو نه خلاص نه شوم. بيا به يې ويل چې د موټې نه کمه ده. د دنيا تاريخ ګواه دی چې په کوم قوم کې داسې اشخاص پيدا شوي دي چې هغوی د خپل قوم د اصلاح دپاره پاڅېدلي دي. د اقتدار خاوندانو يې مخالفت کړی دی. ولې چې هغوی خپل اقتدار په خطر کې ليدلی دی، تاسو دې خپل د خدايي خدمتګارو تحريک ته وګورئ،څومره چې قوم کې پوهـه راغلې ده هماغومره د اقتدار د خاوندانو قدرت کم شوی دی او د خپل پيغمبر(ص) ژوند مطالعه کړئ چې خپلو ترونو، تربورانو يې مخالفت وکړ.دځه دپاره؟د اقتدار دپاره او د مدينې خلکو يې ملاتړ وکړو ولې

چې د هغوی سره نه مذهبي اقتدار و، نه سیاسي یهودو چې یې مخالفت وکړو هم د اقتدار دپاره و.

زمونږ مدرسې په ترقۍ کې وې پښتون ژوندی قوم دی، خو چې د ژوندي کولو خلک په کې پیدا شي، تر څو چې په یو قام کې د ژوندي کولو دپاره خلک پیدا نه شي. هغه قوم ژوندی کېدی نه شي. په لږه موده کې خلکو ځای په ځای مدرسې جوړې کړې او په ډېر شوق یې په کې خپل بچي داخل کړل. څومره چې مدرسې زیاتېدې هماغومره زمونږ پیسو ته ضرورت ډېرېده، ځکه چې بې پیسو په دنیا کې هېڅ کار نه شي کېدی. پښتون قام شوم نه و، مهمان نواز و، فیاض و خیر خیرات په کې و، خو کومه طریقه چې ملایانو ورته د خیرات ښودلې وه، هغه په دې وخت کې ګټوره نه وه. قام په پوخ خیرات اموخته و، حال دا چې زمانه بدله شوې وه، د پوخ خیرات ضرورت نه و پاتې. د نقد اوخام خیرات ضرورت و. د زمانې د بدلون سره که قام بدل شي ترقي وکړي، که نه وروسته پاتې شي.د زکواة په باره کې هم ملایانو قوم ته ویل چې په مدرسو زکواة نه کېږي. د ملایانو سره په دې خبرو ډېر بحثونه شوي وو، خو ملایان دې ته تیار نه وو چې د قام د ابادۍ او تعلیم دپاره د یوې نمرۍ وریجو نه تېر شي.قام په رسم او رواج تنګ شوی و،خو دا جرات په کې نه و چې پرې یې ږدي.رسم و رواج پرېښودل اسان کار نه دی،په رښتیا ډېر ګران دی او اخلاقي جرات غواړي. مونږ چې په دورو قوم ته تللو په هر ځای کې به قوم راته را غونډ شُو چې د قوم سره به مو خبرې وکړې نو ځینې خلک به رانه راچاپېره شول،چا به ویل ما په شا وتېوه چا به ګوره یا مالګه راوړه

چې دا را له دم که، چا به ویل چې دم را باندې واچاوه. ما به خلکو ته ویل چې زه د کُف او چُف سړی نه یم، زه خوستاسو خدمتګار یم. ستاسو خدمت له راغلی یم. تاسو باید په ما او په هغه کُف او چُف والاو کې فرق وکړئ.هغوی خو درنه په دغه طریقه شکرانه،نذرانه او ملکانه غواړي، زه خو تاسو نه څه غواړم نه.محمد اکبر خادم صاحب به راته ویل چې ته ولې دې خلکو ته داسې وائې دوی په تا عقیده لري،په دې چل به زمونږ مدرسو ته ډېرې چندې را غونډې شي او ته یې له ځانه شړې ما به خادم صاحب ته ویل زه د دوی اصلاح کول غواړم او د غلطو رسمونو ،رواجونو نه یې خلاصول غواړم.

یو ځل مونږ د سودم په دوره تللو نو د شاه بازګړي مولانا شاه رسول صاحب مونږ سره ملګری شُو ، مونږ ته د سودم خانانو د سورلۍ دپاره اسونه راکړل،مونږ به پرې وار په وار سورېدو.

د ترنګزو د حاجي صاحب هم د تعلیم سره ډېر شوق و. د مدرسو د امداد دپاره به مو لارې ګودرې لټولې. یوه ورځ ورته ماوویل چې حاجي صاحب ستا په لنګر کې ستاسو ډېر شیخان او مریدان بې کاره پراته وي، که ورته ووائې چې میاشت کې یوه ورځ زمونږ د مدرسو سره د امداد دپاره مزدوري وکړي، او مدرسو ته یې راکړي. د دې نه به مونږ ته ډېره فایده را ورسیږي. حاجي صاحب ډېر وخندل او وئې ویل: که دوی کارکولی نودلته یې بیا څه کول دا تیارخواره دي دوی ته کار کول بد ښکاري، حال دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (الکاسب حبیب الله) یعنې کسبګر د خدای دوست دی.

# د شیخ الهند صاحب سره جنوري ۱۹۱۴ع ازاده علاقه کې د مرکز تلاش (دیر، باجوړ، چمرکنډ، هډې ملاصاحب) سالارزی او ماموند اولنی جنگ عظیم، د شیخ الهند صاحب پروگرام، د ترنگزو د حاجي صاحب هجرت زما بېرته تگ، بونیر کې د پېرنگیانو سازش، مدرسې بندې شوې د حاجي صاحب ترنگزو مومندو ته تگ، د سوات د پاچاهۍ کشاله، د پېرنگیانو مظالم

## د شیخ الهند صاحب خط:

مونږ به په کال کې یو ځل دوه دېوبند ته تللو او د مولانا محمود الحسن صاحب او مولانا عبید الله سندهي صاحب سره به مو لیدل کتل کېده او په دې به مو تبادل خیال کولو چې څنگه به د پېرنگیانو د غلامۍ نه خلاصیږو؟

د جنوري ۱۹۱۴ ع کال په سر کې د حضرت مولانا شیخ الهند محمود الحسن صاحب خط راغی چې دېوبند ته راشه نو زه مخفي صاحب او مولوي فضل ربي صاحب دېوبند ته لاړو د ستېشن نه نېغ مدرسې ته لاړو. له هغه ځایه مولانا عذیرگل مونږ د مولانا صاحب کورته بوتلو. مونږ د سي.ائ.ډي له وېرې بهر نه گرځېدو شیخ الهند

مولانا محمود الحسن صاحب د ډيلي نه مولانا عبيد الله سندهي هم راوغوښت، د ډېر بحث او غور نه وروسته مونږ په دې نتيجه ورسېدو چې مونږ له دوه مرکزونه جوړول په کار دي، يو په هندوستان کې دننه او بل د هندوستان نه بهر په ازادو قبايلو کې هلته چې خلک يې د انګرېزانو تنخواه خواره نه وي. او مجاهد قام وي چې هلته د هندوستان د ازادۍ دپاره يو فوځ تيار شي.

د دوی دا خيال و چې دا مرکز دې په بونير کې جوړ شي، کوم ځای کې چې د هندوستان د مجاهدينو ډله اوسيږي. دا هغه ټولی و چې د سيد احمد بريلوي صاحب او اسماعيل شهيد صاحب په بالاکوټ کې د شهادت نه پس د هغوی پاتې ملګري د هزارې نه بونير ته تللي وو، او په بونير کې په سيتانه کې مېشته شوي وو، او تر دې وخته پورې به ورته د هندوستان نه د سړو او روپو امداد ورکول کېده، خو په دوی کې هغه جذبه او روح پاتې نه و، په کوم روح چې سيد صاحب او شهيد صاحب را پورته شوي وو، دوی دومره بې کاره کسان وو چې خپل د شاوخوا علاقې خلک يې په خپل خيال نه وو پوهـ کړي، او نه يې په کې هم خياله ملګري پيدا کړي وو. يوه ورځ زما سره د مولانا ابو الکلام ازاد هم د دوی خلکو په باره کې تبادل خيال شوی و، مولانا صاحب هم د دې خلکو په باره کې خوش اعتقاده و چې دا کار ټيک دی، خو ما ورته وويل چې دا بې کاره خلک دي. د هندوستان حساب ته ناست دي. او خوري يې د دوی دا عقيده وه چې په توره او نېزه او لينده او غشي جنګ کول په کار دي، ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملګرو په دې شيانو جنګ کړی دی. او فتح يې کړې ده. دا سنت دي. دې ته يې نه کتلو چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملګرو چې په توره لينده او غشي جنګ کولو هغه وخت د کفارو سره

هم دا وسلې وې. نن خو د نیا ترقي کړې ده. د توپې او ټوپک زمانه ده. توره، نېزه او لینده د توپې او ټوپک مقابله نشي کولی، خو د هندوستان خلک په دې حقایقو خبر نه وو، او نه ورته د دې ډلې ماهیت معلوم و. د افسوس خبره دا وه چې د مسلمانانو لوی لوی لیډران او علماء د دې حقیقته ناخبره وو. مونږ ته خو د دې ټولي ټول حالات معلوم وو. مخفي صاحب د دوی د حالاتو تحقیق دپاره پخپله بونیر ته ورغلی و. په سمڅو کې یې ورسره شپې کړې وې، مونږ د دېوبند ملګري په دې خبره پوهـ کړل چې نه دا مجاهدین د کار خلک دي. او نه دا ځای د مرکز دپاره مناسب دی.

## ازاده علاقه کې د مرکز تلاش:

فېصله مو په دې وکړه چې زمونږ د یو وفد تلل په کار دي چې په ازاده علاقه کې د مرکز دپاره یو ځای خوښ کړي. د دې کار دپاره زه او مخفي صاحب وټاکل شُو چې اول مونږ په قبایلي علاقه کې وګرځو او ځای خوښ کړو، بیا به دوی ته خبر ورکړو، سندهي صاحب به را شي او هغه ځای به وګوري چې د ده هم پرې اتفاق راشي نو کار به په کې شروع کوو. د فېصلې نه مخکې د دې کار دپاره زه ډېر ګرم او جوش کې وم، خو چې فېصله وشوه او ذمه واري را باندې پرېوته غوني مې ځیږ ځیږ شو او ځان مې درونږ شُو، لکه غر چې را باندې پرېوتی وي چې جرګه ختم شوه او خپلو خپلو کوټو ته لاړو، په تنهایي کې مې ډېر وژړل او په دې ژړا مې لږ زړه سپک شُو اُوده شوم سحر چې را پاڅېدم. زړه ته مې ډاډ ورکړ را رخصت شُو او کلي ته راغلو ژمی و. یخني وه ګانړې ګرځېدې ما او مخفي صاحب د تللو دپاره سلا مشوره وکړه. نېته مو مقرره کړه چې د تخت بايي د ګاډي

په سټېشن به یو ځای کېږو. تخت بایي زمونږ د کلي نه دولس میله لرې ده، ما د تللو خبره ډېره پټه وساتله یو د حکومت له وېرې بل له دې وېرې چې مور به اجازه رانه کړي.

ما هغې ته دا بهانه وکړه چې زه اجمیر شریف ته ځم چې تبر مې دا واورېده چې زه اجمیر ته ځم ډېره خوشحاله شوه، ځکه چې زما سخرګنی د اجمیر شریف چمني وه، او سخر به مې کال په کال اجمیر شریف ته تلو، او د ده دا عقیده وه چې ما ته دا اولاد اجمیر شریف راکړی دی. او دا د هغه چمني دی. د اجمیر فقیران به کال په کال راتلل او ډېرې روپۍ به یې ورنه وړلې غني چې وشو د اجمیر فقیران رځړو ته راغلي وو، خبر شوي وو چې د خان نمسی شوی دی نو هلته را غلل په دې خیال چې دا هم غوړه سامۍ ده، ګیرول یې په کار دي، خو په مائې دم ونه چلېده. اوړدې کیسې یې راته را واخیستې چې ګوندې غني د اجمیر شریف چمني دی، ما ورته ووې چې دا زما چمني دی.د اجمیر شریف چمني نه دی. د دې خبرې په اورېدو ډېر حېران شول چې دا لا کوم قسم سړی دی مایوسه بېرته لاړل.

ما د خپل کلي نه شپه مامندنارۍ ته راوړه سبا په اس سور تخت بایي ته روان شوم. ماسپښین سټېشن ته ورسېدم مخفي صاحب مخکې را رسېدلی و. ما اس نوکرته ورکړ او رخصت مې کړ. رېل به مازیګر درګۍ ته روانېده مونږ ماښام درګۍ ته په ګاډي کې ورسېدو. د سټېشن نه بهر د کرائې ټانګې ولاړې وې. مونږ دواړه په ټانګه کې بټ خېلې ته روان شُو. د ملکنډ په غاښې د پولیسو څوکۍ وه. هره ټانګه به یې لټوله زمونږ ټانګه یې ولټوله او د ټانګې نه را چاپیر شُو. پوښتنې یې را نه وکړې. زه وېرېدم چې و مې نه پېژني او څه شک یې را باندې را نشي ځکه چې هغه وخت په ایجنسو کې ډېره زیاته

نګراني وه چې په چا به يې شک راغی وبه يې نيوه او په کاټ کې به يې واچولو. کاټ يو اوږد لرګی و، هغه کې به سوری و، د سړي پښه به يې په هغه کې اچوله او د پاسه به يې پرې پانه ټک وهله. او هغه لوبې به يې پرې کولې چې هلاکو خان به هم په چا کړې نه وې. او د ملکنډ پوليټيکل ايجنټ پيرنګی د فرعونه نه هم دوه ګوتې زيات و. خلک له خدايه دومره نه وېرېدل لکه د ده نه چې به وېرېدل. تياره وه په مونږ د چا څه شک را نغی او چې زمونږ ټم ټم والا ته يې اجازه ورکړه نو ايله مو لاړې تېرې شوې. ماسختن بټ خېلې ته ورسېدو. مونږ په بټ خېله کې څوک پېژندو نه او سرای او هوټل نه و، خو د پښتنو حجرې او جوماتونه د مېلمنو او مساپرو دپاره تل بېرته وي. مونږ حجرې ته لا نه ړو چې څوک مو ونه پېژني او حکومت را باندې خبر نه شي، جومات ته لاړو، يخني وه. مونږ سره د يخنۍ څه جامې نه وې، خو جومات ګرم و، اور په کې بلېدو، په يو څادر کې مې ښه شپه تېره کړه، سهار وختي پاڅېدو، په چکدره کې په سيند پوخ پل دی. په هغه پورې وتو او نور ټول پياده مزل شروع شُو، ځکه چې هغه وخت په دې لارو د سورلۍ څه انتظام نه و، شپه مو املوک درې ته ورسوله په يو جومات کې مو تېره کړه ملا بانګ د املوک درې نه روان شُو. ټوله ورځ مومزل وکړو، ماښام تياره د سيند غاړې ته ورسېدو. اوبه لږې وې، خو يخې وې، په چړپورې وتو او ماسختن تېر ايله په خوارو د مخفي صاحب دوی کلي ته ورسېدو. ستړي ستومانه وو، په يخو اوبو کې پورې وتلي وو، يخني مو شوې وه، ښه وږي وو، خو د مخفي صاحب د خپلو خپلوانو کورونه وو، زر زر يې اورونه بل کړل چې تاوده شُو، ډوډۍ يې راوړه ښه په مړه ګېډه مو وخوړه، کټونه يې راته جوړ کړل، په کې پرېوتو. په جوماتونو کې خوب په ځمکه وي او

حجرو کې په کتونو کې وي. دې علاقې ته سیند وایي، ځکه چې سیند په کې بهېدلی دی. د مخفي صاحب دوی په کلي کې چې سړی وچت په غره کې ناست وي. لاندې سیند ته ګوري لکه چمچمار کوږ ووږ بهیږي.

دا کلی ډېر ښکلی و، د سیند علاقه اباده او ښکلې ده، شولې په کې کېږي، وریجې یې خوږې دي. د مخفي صاحب پلار په دې کلي کې زېږېدلی و، خو په خپله مخفي صاحب د هشنغر په چارسده کې زېږېدلی و، او پلار یې چارسده کې اباد شوی و، د ده پلار لوی عالم و، واده یې په چارسده کې کړی و نو هم هلته اوسېده په هغه وخت کې د دیني علم د زده کړې دپاره مدرسې نه وې، هر ملا چې به د ملایي پګړۍ وتړله د خپل کلي یا د بل کلي جومات کې به کېناست خلکو ته به یې خدای جاتي درس ورکولو. اکثر خلک به د غرونو د علاقو نه سمې ته د درس دپاره راتلل. د مخفي صاحب پلار هم په دې سلسله کې راغلی او بیا همدلته په چارسده کې پاتې شوی و.

ډېر ښه عالم او روشن فکره سړی و، که روشنفکره نه وی نو هغه وخت به یې زوی علاوه په دینې، دنیایي علم څنګه کړی وی.

زه د پیاده ګرځېدو عادت نه وم، ښه ستړی شوی وم، څو ورځې مو دلته ښه ارام وکړ. مخفي صاحب را نه بېرته هندوستان ته د مولانا عبیدالله سندهي د راوستو لپاره لاړ. زه او د مخفي صاحب یو د تره زوی چې نوم یې را نه هیر دی د مرکز خوښولو دپاره روان شُو. مخفي صاحب پېښور ته او زه چمرکنډ ته روان شوم چې سره جدا شُو، ما د مخفي صاحب جدائي ډېره محسوسه کړه، چمرکنډ د افغانستان په پوله د غره په سر یو وړوکی غونډې ځای دی د اډې ملا صاحب چې څه وخت په افغانستان کې د بزرګۍ رواج وشُو، او اثر رسوخ یې

زيات شُو او امير عبدالرحمن خان له افغانستان نه وشړلو چمرکنډ ته راغلی و، د اډې ملاصاحب يو غازي سړی و، د هغه په وجه چمرکنډ ډېر مشهور شوی و.

مونږ چې د مخفي صاحب له ځايه روان شُو، ماښام(جار) ته ورسېدُو جار يو وړوکی غوندې کلا بند کلی دی. مونږ چې ورسېدو د کلا دروازه بنده وه، خو اوشا بل کلی نه و اريان شو چې څه به کوو اخر مې خپل ملګري ته وويل چې ته دروازه وټکوه، هغه چې دروازه وټکوله دننه نه اواز وشُو چې څوک يی مونږ وويل، مېلمانه يُو، لږ شېبه پس يې دروازه خلاصه کړه. مونږ ته يې ښکته پورته وکتل چې يقين يې راغی چې مونږ خطرناک کسان نه يُو، کلا ته يې ننه ايستو د ننه جومات ته لاړو ډوډۍ يې را له راوړه. شپه مو په جومات کې تېره کړه سهار وختي روان شُو شپه مو د بابړي ملاصاحب ځای ته ورسوله. په لاره به چې د هغې سيمې را سره څوک ملګری شُو، ما به ورنه د بابړي د ملا صاحب پوښتنې کولې چې څنګه سړی دی؟ دوی به وې چې: «غوله ډېر لوی زبرګ دی» ما به وې چې څنګه لوی زبرګ دی، دوی به راته وويل چې: «غوله لاړ به شې او پخپله به يې ووينې چې هرې پېښډې ته پخپل لاس يوه کرېچۍ غوړي اړوي» د هغه قام دې خدای مل شي چې د هغوی د زبرګۍ دا معيار وي. بابړي ملاصاحب يو سپين ږيری او ښه سړی و، همېش چې به پېرنګيانو د قبايلو سره جنګ کاوه، بابړي ملاصاحب به د قبايلو په مرسته په غزا کې شامل و، د پرنګي سخت مخالف و، غازي سړی و، په ناپېژندګلۍ کې يې زمونږ ډېر دارومدار وکړ. د سهار چايو ته يې خپل خلوت خانې ته وبللم او خپله خاصه چاي يې ماته راکړه. د چايو نه پس ورنه مونږ رخصت شُو، چمرکنډ ته روان شُو، چمرکنډ له دې

ځايه نزدې و، کله چې مونږ د غره لمنې ته ورسېدو او په غره ختو ناڅاپه د پاسه را باندې غوبنو هلکانو مچوغنې را سمې کړې، په کانړو يې ويشتو ډېر وارخطا شُو، اخوا دېخوا مو وکتل چې دا څوک دي؟ چې مونږ ولي چې کاته مو د غره د سره څو کسه هلکان دي په مونږ کاني وروي، مونږ چغې جوړې کړې هغوی چې زمونږ چغې او اشارې وليدې په خندا شول هغوی ته دا يوه تماشه ښکارېده او که مونږ بچ شوي نه وی او په يو کاني لګېدلي وی فېصله به وو.

مونږ په يوه نرۍ کږه وږه لاره د غره سر ته ختلو. زه د غره د مزل نه يم، زر زر به ستړی کېدم او دمه به مو کوله په دمو دمو د غره سرته وختو. ما اورېدلي دي لکه څنګه چې د سمې خلک د غره د مزل تکړه نه دي، دغسې د غرو خلک د سمې او اوارې د مزل تکړه نه دي.

## چمرکنډ:

چمرکنډ ډېر ښکلی او د مزو ځای دی د غره په سر کې د پاکو، صافو اوبو چينه ده، د ژمي ګرمه او د اوړي يخه وي. د چينې د پاسه يو ښه چنار ولاړ دی په خوا کې يې د هډې ملا صاحب جومات دی. د جومات خوا کې لنګرخانه او څو کوټنۍ دي، خو کوټنۍ تشې وې، څوک په کې نه و. اخوا يو کور و خوا کې يې يو څو مېوه دارې ونې وې د غنمو يو پټی هم و. د کور مخکې يو څو د ګلونو کيارۍ (ورکوټي پټي) هم وې. زمونږ په ګرځېدو را ګرځېدو او خبرو د کور خاوند راووت دا د اډې ملا صاحب شيخ و. يوازې دلته اوسېده.راغی مونږ ته يې ستړې مه شي وکړه په جومات کې کېناستو،شيخ صاحب مونږ ته د اډې ملاصاحب د زمانې ټولې کيسې وکړې چې دا ځای هغه څرنګه اباد کړ او د هغه په وخت کې دلته څومره ګرمجوشي وه، د

لرې لرې ځايونو نه به خلک د جمعې لمانځه ته راتلل.ملا صاحب يو غازي سړی و ،شيخان د خپلو پيرانو عجيبه عجيبه کرامات بيانوي.ما خو پخپله علاقه کې د مخکې د مانکي صاحب او د سوات صاحب د کراماتو کيسې اورېدلې وې.ما ته مې خپل پلار چې د سوات صاحب مريد و، کيسه کوله چې د سوات صاحب يو شيخ ويل چې يوه شپه راته دا سودا را پيدا شوه چې دا د لنګر خرڅ به له کومه ځايه پوره کېږي؟ سهار چې له خوبه پاځېدم سوات صاحب پاځېدلی اوداسه ته يې ځان جوړولو چې اودس ماتي ته روان شو. زه هم ورسره روان شوم. ماته يې وويل: د اودس وچولو دپاره لوټه را واخله ما چې لوټه را واخيسته هغه((سنګ پارس)) و. بله مې را واخيسته هغه هم((سنګ پارس)) و. بله مې را واخيسته هغه هم سنګ پارس و، اخر پوه شوم چې دا زما د بيګانۍ خبرې جواب دی نو د صاحب په پښو پرېوتم او عفوه مې ورنه وغوښته. زما د پلار هم په دې پوره باور و چې دا خبره رښتيا ده او ماته به يې ويل د اولياو کرامت حق دی. دغسې مې د پيرانو پير کرامات هم اورېدلي وو چې د دولسو کالو ډوبه بېړۍ يې راوښکې ده چې نه د خدای له قوله سره سمون خوري او نه د رسول صلی الله عليه وسلم د قول سره، او ملايانو کې دومره جرات نه و چې خلک په دې پوه کړي چې دا هسې خبرې دي. زما د دې قسم کيسو سره اتفاق نه و ،خپل پلار ته به مې ويل سوات صاحب چې دومره کرامت لري. بيا د خلکو نه شکرانې ولې اخلي؟ او ملکانې ولې ټولوي؟ د ترنګزو د حاجي صاحب په باره کې به يې هم شيخانو دغسې خبرې کولې او په دې طريقه غريب او ناپوهه پښتون قوم يې غولولو او لوټلو او خپل لويوالی به يې پرې منلو، زما په باره کې به هم خلکو دغه رنګ خبرې کولې،چا به ويل چې لاسونه يې اوږده

دي، بزرګ دی، چا به ویل چې د یو کوهي اوبه ترخې وې چې ده په کې یو منګی اوبه وارولې هغه خوږې شوې، او د لرې لرې ځایه به خلک راتلل، ویل به یې چې د دې کوهي اوبو کې شفا ده چې څوک یې اوڅښکي مرضونه پرې لرې کېږي او چې څوک پرې کالي (جامي) وینځي صابن ته ضرورت نه پېښیږي. چا به ویل د ده په ځای کې د لسو کسانو دپاره ډوډۍ پخه شوې وه سل مېلمانه پرې راغلل ټول پرې ماړه شول او ډوډۍ خلاصه نه شوه، دغه شان قسما قسم عجیبه خبرې او کیسې کېدلې. دا خو خلکو ویل زما ملګري خدایي خدمتګار وو، شیخان نه وو او ما به هم هغوی ته دا خبره کوله چې زه نه شیخان نیسم نه مریدان! زمونږ یو مقصد دی، مونږ د هغې دپاره شریک جدو جهد کوو.

شیخ صاحب هم د اډې صاحب ډېر کرامات مونږ ته بیان کړل، خو مونږ سره د هډې صاحب قدر او عزت د هغه د دارنګه کراماتو په وجه نه و، بلکې هغه د پرنګي سره د مخالفت او غزاګانو په وجه مونږ منلی و. هډې صاحب د سوات صاحب مرید و، لکه مخکې مې چې وویل امیر عبدالرحمن خان دهډې نه چمرکنډ ته شړلی و، خو دلته یې ورسره د پرنګي خلاف په غزا ګانو کې پټه مرسته کوله. مونږ ته دې شیخ وویل چې د غزا په موقع به امیر عبدالرحمن خان ټوپک او کارتوس رالېږل. شیخ صاحب پوه او معقول سړی و، هغه د خپلې ګذارې دپاره د شاتو مچۍ ساتلې وې او ویل یې چې زما د کور ټول خرڅ له دې مچیو څخه لاس ته راځي. مونږ له یې چې ډوډۍ راوړه د غنمو د ډوډۍ سره یې د خپلو مچیو شات راوړل هغه خوند چې ما په دې ډوډۍ کې لیدلی دی. ما په ښوښو ډوډیو کې نه و لیدلی، یو خو مونږ وږي وو، بل غر و، او د ابادۍ نه لرې ځای و، هلته د ډوډۍ د پیداکېدلو امید

هم نه و. دا ځای خو زمونږ ډېر خوښ شُو، ځکه چې دا ځای د پښتو اوبو منډو او باجوړ ته نږدې و او هغه خوا سرکانو او کونړونو ته لنډ و، بله دا چې په جنګي لحاظ ډېر محفوظ و. هغه وخت هوايي جهازونه نه وو، خو هغه ځای ډېر وړوکی و او زمونږ پلان په کې عملي کېدلی نه شُو.

## سالارزي، ماموند:

د شیخ صاحب سره مو شپه تېره کړه، بیا سالارزو ته لاړو، هلته مو هم ډېر کلي وکتل. د سالارزو نه بیا مونږ ماموندو ته لاړو. سالارزي او ماموند د باجوړ دوه لوئې لوئې قبیلې دي. بالکل ازادې دي. د باجوړ په نوره علاقه کې وړې وړې خانۍ او نوابۍ شته د ماموندو علاقه ډېره اباده او ښېرازه ده اوبه په کې ډېرې دي. خلک یې هم ښه خلک دي دا علاقه زما ډېره خوښه شوه، کلي یې هم لوی لوی دي. کټ کُوټ او ګبري په کې د نورو په نسبت ډېر لوی کلي دي. جوماتونه یې هم ښکلي او مضبوط جوړ کړي دي، روغ روغ غونډان یې په کې لګولي دي او زمونږ د کلو غونډې په کې جوماتونه ډېر نه دي په هر کلي کې یو جومات دی، ټول کلی هغه یو جومات له لمانځه له راځي. په هر جومات کې د اوداسه دپاره د روانو اوبو انتظام شوی دی. خلک یې ډېر لمونځ ګذار دي اوبه یې ډېرې یخې دي اودس په کې زمونږ غونډې خلکو ته ګران وي، خو جوماتونه یې ګرم وي د ژمي موسم و، او مونږ به په یو ځادر کې شپه تېروله. کوشش به مو کوو چې څوک مو ونه پېژني ځکه چې د دې ځای ډېر طالبان زمونږ علاقې ته د سبق ویلو دپاره راځي. په کټ کُوټ او ګبري کې خو د یو کس دوه و شک راغی، خو مونږ ځانونه ناجانه کړل، خو هغوی په دې خیال کې چې د

پنیر کو خان او دلتـه راتـګ نو زړه تـه بـه یـې راغـلل چې مـونږ غلط شوي یُو.یو ځل ما ته یـو کـس وویـل چې تـه د پنیـر کـو خان نـه یـې مـا ورتـه وویل چې نـه.مـونږ بـه پـه جومـاتونو کې شپې کـولې چا سـره مـو خبره مبره نه کوله. چا چې به څه راوړل هغه به مو خوړل.یوه شپه په کټ کُوټ کې یو سپین ږیري ملک مېلمانه کړو ،هغوی مېلمـه کورتـه بيـا يې مونږ يې خپل کـور تـه بوتللو.نـر ښـځې راتـه لاس پـه نامـه ولاړ وو، ډک شکور ډوډۍ يې را ته مخکې کېښودې. ډېر ښـه کـور يـې و او ډېـر ښـه کوربانـه وو ،مـونږ د مامونـدو نـور کلي هـم وکتـل پـه اخـر کـې مـو ځيرې خوښه شوه.دا علاقه زما د مرکز دپـاره ډېـره خوښـه شـوه،یو خـو دا خلـک ډېـر ستانه او درانـه خلـک وو، بلـه دا چې دا علاقـه لکـه د پـښتنو د نـورو علاقـو پـه شـان د انګرېزانـو نـه متـاثره نـه وه او نـه د انګریزانو ماجب خواره وو او نه يې په پیسو اخیستو اموخته کړي وو او د انګرېزانو سخت مخالف وو.انګرېزانو بـه د بـاجوړ قـوم تـه لکـه د نورو قومونو په شان حساب نـه ورکـوه. دلتـه بـه يـې ماجب خانـانو تـه ورکولو. نو قوم د پرنګي د اثر نـه ازاد وو.مـونږ دلتـه د مخفـي صـاحب او سندهي صـاحب د راتللـو پـه انتظـار پـاتې شُـو ،دلته لکـه زمـونږ د علاقې پخواني رواج په شان دا قاعده ده چې شل کاله پس قوم را ټول شي او له سره د کلو او ځمکو وېش وکړي،په هر کلي چې د چا خسنۍ وخیژي هغه کلي له به ځي.دا د پښتنو عامه زړه قاعـده وه، خـو کـومې علاقـې چې د حکومتـونـو د اثـر لانـدې راغلـې هغـوی کـې د ځمکـو د وېش سلسله بنـده شـوه.د پـښتنو کـوم قومونـه چې ازاد دي هغـوی لا هغه شان شل کاله پس له سره ځمکې ویشي.

ما فکر وکړ که مونږ هسې هېڅ بې هېڅه دلته ناست یُو نو د خلکـو به را باندې شک راشي،راځه یوه قصه جوړه کړه چې د مخفـي صـاحب

دوی تر راتګه پرې وخت واړوم.

په جومات کې يوې کوټنۍ کې چېله شوم تش لمانځه اوداسه او قضائې حاجت ته به راوتلم هغه به مې هم مخ پټ و نور به مې په کوټنۍ کې وظيفه کوله،تزکيه نفس به مې کوله. ما د شيخ الهند محمود الحسن صاحب نه لاس نيوی هم کړې و، زما د چيلې په دې خلکو ډېر لوی اثر وشو،د هغوی دا خيال و چې زه ګوندې زبرګ يم راتلل به دم، دعا او تعويذونه به يې را نه غوښتل. يوه ورځې يوه ښځه راغله زوی يې په غېږ کې وويل يې چې زما دې زوی ته دعا وکړه چې خدای يې د تې نه زړه صبر کړي. د درې کالو شو او تی نه پرېږدي چې تی نه ورکوم ژاړي بده ورځ جوړه کړي.ما ورته ووې چې سور مرچکی ښه ميده کړه او د تي په غوټۍ يې پورې کړه اميد دی چې زوی به دې تی پرېږدي. ښځه لاړه او دا چل يې کړی و، سبا له راغله ډېره خوشحاله وه، د شاتو نه ډک کنډول يې په لاس کې و،راته يې ووې چې ستا دعا خدای قبوله کړه. زوی مې تی پرېښوده، زه اوس په زور تی ورکوم دی يې نه اخلي هلک به څنګه تی اخيستی وی. د تي پورې مرچکې و، د هغه خوله يې ترخه کړې وه.

دوی دا زما کرامت ګڼلو حال دا چې کرامت نه و،خو پښتانه ډېر خوش اعتقاده خلک دي، او خلکو ورته دا څيزونه په ذهن کېنولي دي.بس د خلکو تګ را تګ ماته زيات شُو، دغسې چې دوی ته هر چا خلکه يا جونګه جاړه په سر اچولې ده دوی ورته را غونډ شوي دي. شکرانې يې ورکړې دي، خدمتونه يې ورته کړي دي. منډې يې ورته وهلې دي، خو باباګانو خپل مطلب په دوی کړی دی. دوی له يې څه نه دي کړي د دوی غم يې نه دی خوړلی.

د چيلې نه وروسته هم مونږ د مخفي صاحب اومولانا عبيد الله

سندهي صاحب انتظار وکړو، خو هغوی را نغلل زما سودا شوه چې دوی ولې رانغلل هلته چې مونږ خبر شُو چې د يورپ جنګ شروع شُو، مونږ هم واپس را روان شُو، د مخفي صاحب د تره زوی تر ملکنډه پورې را سره راغی له هغه ځايه مې رخصت کړ او زه په درګۍ کې په رېل کې سور شوم. په تخت بايي کې کوز شوم او کلي ته لاړم څو ورځې پس مې مخفي صاحب وليده پوښتنه مې ترې وکړه چې تاسو ولې را نه غلئ، هغه راته وويل چې کوم ځای او کوم وخت چې ما د مولانا سندهي صاحب سره مقرر کړی و، هغه تر اوسه هلته نه دی راغلی نه پوهېږم چې څه وجه ده؟

مونږ په دې انتظار کې وو چې يا به مولانا پخپله راشي يا به بل څوک راوليږي چې د مرکز ځای ورته وښيو، بيا هندوستان ته لاړشُو او د کار د شروع کولو بندوبست وکړو، ډېر وخت تېر شُو او څوک را نغلل چې په دې کې د دنيا اولنی لوی جنګ ونښت او زمونږ دغه سکيم په ځای پاتې شُو او مونږ ته بيا د يو ځای کېدو موقع په لاس رانغله.

## اولنی جنګ عظيم:

کله چې ترکيه په جنګ کې شامله شوه نو د هندوستان د مسلمانانو په جنګ کې دلچسپي زياته شوه، يو خو ترکيه اسلامي ملک و او د مسلمانانو خليفه او پيشوا ګڼل کېده او بله دا چې دوی فکر کولو ترکيه او جرمن انګرېز ووهي نو زمونږ ملک به مونږ ته پاتې شي. دوی دې ته نه کتل که انګرېز د جرمن او ترک د لاسه ووهل شي، خو دا ملک به هم جرمن يا ترک اخلي دا څنګه کېدی شي چې مړه کېږي به جرمنيان او ترکان او وطن به پرېږدي هندوستانيانو ته،

خو په کوم قوم کې چې مېړانه او د قربانۍ ماده پاتې نه شي، هغه به تل د بل تورې ته ګوري. کله به د جرمن په تمه وي او کله به د ترک په تمه وي. او کله به د امام صاحب په تمه ناست وي.د هندوستان د مسلمانانو بله کمزوري دا وه چې دوی به د خپل ملک اندروني معاملو سره دومره دلچسپي نه اخیسته د نورو بهروني خلکو په غم کې به وو. دوی په دې فکر کې وو چې مونږ ته د ترکئې سره امداد په کار دی. دوی سره د خپل ملک دومره غم نه وي لکه چې د بل ملک وي. سړی چې خپل ځان د غلامۍ نه نه شي خلاصولی هغه به د بل سره څه مرسته وکړی شي. که مونږ رښتیا د دنیا د نورو مسلمانانو سره مرسته کول غواړو نو په کار دي چې د پرنګي نه هندوستان ازاد کړو، ځکه چې د هندوستان په وجه هغه طاقتور دی او د هندوستان په زور هغه نور اسلامي ملکونه ووهل. د افغانستان په جنګ کې ټول سپاهیان هندوستانیان وو ،صرف افسران یې انګرېزان وو، او دا ترک هم ورته د هندوستان پلټنو ووهل.د حضرت مولانا محمود الحسن شیخ الهند صاحب او حضرت مولانا عبیدالله سندهي صاحب په سلا او مشوره مولوي سیف الرحمن صاحب د ډیلي د فتحپورۍ عربي مدرسې پرنسپل یې د ترنګزو حاجي صاحب له راولېږه چې هغه دې ازادو قبایلو ته هجرت وکړي او قبایل دې د أنګرېز په خلاف اوچت کړي. دغسې دې د هندوستان په ټولو سرحدونو کې د بغاوت اورونه بل کړی شي. او افغانستان دې هم دې ته تیار کړی شي چې د ترکو او جرمن په پره کې داخل شي او د پرنګي پر خلاف غزا شروع کړي. د هغوی مقصد دا و چې که انګرېز خپل فوځ د جرمن او ترک مقابلې ته بیا یي دلته به زمونږ په مقابله کې کمزوري پاتې شي. مونږ به یې ووهو او له هندوستان نه به یې وشړو او که خپل فوځونه زمونږ د

مقابلې دپاره په هندوستان کې پاتې کړي. د ترکو او جرمن په مقابل کې به کمزوري پاتې شي. هغوی به یې ووهي او مونږ به له غلامۍ نه خلاص شُو. د جنګ نه وړاندې هم مونږ سره دا فکر و چې یا په ازادو قبایلو کې د پېرنګیانو د مقابلې دپاره مرکز جوړ کړو یا د افغانستان سره تعلق پیدا کړو چې جنګ ونښتو او جرمنیانو انګرېزانو ته ځای په ځای ماتې ورکړه. مونږ په دې فکر کې شُو چې مونږ له هم څه کول په کار دي باید ازادو قبایلو یا افغانستان ته هجرت وکړو، مونږ لا په څه فېصله رسېدلي نه وو چې مولوي سیف الرحمن صاحب را ورسېد او د شیخ الهند صاحب او د هغه د ملګرو پېغام یې راوړ. مونږ ټول هجرت ته تیار شُو حاجي صاحب خو شپه په شپه بونیر ته هجرت وکړو او ووت. مخفي صاحب، مهتمم صاحب، مولوي عبدالعزیز صاحب او مولوي فضل ربي صاحب دوی هم ورسره لاړل، او زه ددې دپاره پاتې شوم چې د دوی او هندوستان د ملګرو تعلقات وساتم او د هغوی امداد دوی ته ورسوم.

## د حاجي صاحب هجرت:

د حاجي صاحب په تللو چې حکومت خبر شُو، په ملک کې یې لوی غوبل جوړ کړو، ځکه چې په دې وخت کې د حاجي صاحب تلل د دوی دپاره ډېر خطرناک وو، حکومت د حاجي صاحب د تللو د علت معلومولو دپاره لوی لوی افسران مقرر کړل. ما دا خبره خوره کړه چې حاجي صاحب ته د حکومت یو لوی افسر خبرداری ورکړه چې حکومت تا د خلافت په وجه ګرفتاروي نو حاجي صاحب د دې کبله شپه په شپه ووتلو. د حکومت خو رښتیا هم داسې اراده وه، ما پسې هم سي.ائ. ډي راغلل دا پوښتنه یې کوله چې دا افسر څوک و چې

حاجي صاحب یې د حکومت د ارادې نه خبر کړی دی؟ ما به ورته څه ویلي وی، ځکه چې ما ته خو څوک معلوم نه و، او نه چا افسر دا خبره کړې وه. دا خبره چې لږه سړه شوه، زه د حاجي صاحب دوی د خبر اخیستلو دپاره بونیر ته لاړم. زه خو پټ لاړم خو په دې پوهـ نه شوم چې د حکومت نه پټ پاتې شوم که نه، ځکه چې د انګرېز د حکومت نه د داسې خلکو پټ پاتې کېدل ګران کارو. زه چې بونیر ته ورسېدم نو حاجي صاحب د نورو ملګرو سره په دوره وتلی و، کوم ځای چې د بونیر پښتنو حاجي صاحب ته د سیرۍ په ډول د اوسېدو دپاره ورکړی و، ډېر مزېدار ځای و، یوه لویه غونډۍ وه ورلاندې ښه اواره ځمکه وه. دا غونډۍ د ابادۍ دپاره ډېره موزونه وه، او دا ځای د حاجي صاحب دپاره موزون و او د بونیر خلکو د ابادی دپاره ډېر لرګي او سامان هم را جمع کړي وو، زما دا رایه وه چې همدا ځای د حاجي صاحب دپاره جوړ شي.

## زما بونیر ته تګ:

حاجي صاحب په پاچا کلي کې و، د پیر بابا زیارت هم په پاچا کلي کې دی، ډېر خلک زیارت ته روان وو، مونږ هم ورسره روان شُو چې پاچا کلي ته ورسېدو، حاجي صاحب مو ولیدو چې ډېر خلک ورته را جمع شوي دي. هغه زمونږ ملګری او د حاجي صاحب مشر زوی باچا ګل صاحب هم ورسره و، خلکو کې د جهاد او غزا خبرې کېدې باچا ګل هم خلکو کې پس پسی کولو چې د ډوډۍ وخت شُو، حاجي صاحب خو د خلکو په هجوم کې ګیر و او زمونږ ملګری باچا ګل او زه سره بېل شُو، په دې خیال چې ډوډۍ به هم وخورو او خبرې به هم وکړو. په ټوله علاقه کې د مېلمنو دپاره هر چا د خپلې وسې سره سمه

ډوډۍ پخه کړې وه. مونږ د ډوډۍ خوړلو دپاره د خوړ نه پورې غاړه کورونه وو، هغو ته ور پورې وتلو. هلته ځانله په یوه حجره کې کېناستو هغو خلکو را له د غنمو خمبیره پړسېدلې ډوډۍ او کالو خاني تالي کې د چرګ د غوړو ډکه ښوروا راوړه ډېره مزېداره ډوډۍ وه. ما پخپله سیمه کې ډېر تکلفي دعوتونه خوړلي وو، خو داسې خوندمې په کې نه و لیدلی. بل د دې ځای اوبه او هوا هم ډېره ښه وه، هر څومره ډوډۍ چې به مو وخوړه لږ ساعت پس به هضم شوې وه. ما خو به د ورځې درې ځلې ډوډۍ خوړله بیا به هم وږی وم، د ډوډۍ نه وروسته د خلکو نه جدا شُو او په حالاتو موخبرې اترې شروع کړې. په خبرو کې راته معلومه شوه چې د دې علاقې مذهبي مشران، سیدان، ملایان، میاګان او زبرګان بونیر ته د حاجي صاحب په راتګ خوښ نه دي، ځکه چې د حاجي صاحب په راتللو د هغوی بازار سوړ شوی و، خلکو حاجي صاحب ته مخه کړې وه نو دوی غوښتل چې داسې چل جوړ کړې چې حاجي صاحب نور دلته ټیکاو نه شي نو د دې دپاره هغوی یو طرف ته په خلکو کې د جهاد اوغزا تبلیغ شروع کړی و، او بل طرف ته یې په خلکو کې غلې غلې دا پراپیګنډه هم کوله چې دا خلک چې راغلي دي که جهاد له راغلي وي نو په کار دي چې جهاد وکړي او که سوداګرۍ له راغلي وي چې د سمې جائداد مو هم شُو، او دا جائداد به مو هم شي نو دا بېله خبره ده. نو باچا ګل وویل چې په دې طریقه یې زمونږ پوزېشن ډېر را خراب کړی دی. او د باباجې هم دا نظریه ده چې مونږ له جهاد کول په کار دي ولې چې قام ناپوهه دی او زمونږ په خلاف په داسې طریقه تبلیغ شوی دی چې د قام په زړه کې یې دا خبره کېنولې ده. که مونږ جهاد نه کوو د دې خلکو عقیدې له مونږ نه ګرځي او د کوم مقصد دپاره چې مونږ راغلي یُو، دا خلک به

سبا په هغه مونږ سره تعاون ونه کړي نو مونږ به خپل مقصد ته ونه رسیږو. لیکن زما د دې خبرې سره اتفاق نه و او په موجوده حالاتو کې د جهاد اعلان زمونږ مقصد دپاره ډېر زیات نقصان رسولو. ما د حاجي صاحب او نورو ملګرو په خدمت کې عرض وکړ چې د خلکو خبرو پسې مه ځئ. دا د خودغرضو خلکو خبرې دي. د دوی په جهاد څه کار نشته. د دوی دا خیال دی چې د لوئې ونې لاندې واړه نیالګي وده نه شي کولی.نو تا په څه چل له دې ځایه لرې کوي او مېدان ځان ته خالي کوي نو د دوی مقابله په کار ده او خلک باید پوهـ کړی شي او صاف صاف ورته وویل شي چې د انګرېز مقابله یوازې تاسو کولی نه شئ. او تاسو سره د انګرېز د مقابلې سامان هم نشته نو اول باید په ټولو ازادو قبایلو وګرځو هغوی ځان سره کړو او ټول منظم کړو او د انګرېز په مقابله کې دوی ته د ښه جنګي سامان بندوبست وکړو او دوی د جنګ دپاره تیار کړو نو په دې طریقه به زمونږ طاقت پیدا شي. او چې طاقت مو پیدا شو بیا به د انګرېز سره جهاد کوو او خصوصاً د بونیر پښتانه د نورو ازاد قبایلو غوندې سامان هم نه لري او هغسې تیاري هم نه لري نو که یوازې په دوی جنګ شروع کړو کامیاب به نه شُو، خو په حاجي صاحب د پراپیګنډې دومره اثر شوی و چې زما دې خبرو منلو ته تیار نه و.

## بونیر کې د پېرنګیانو سازش:

په دې پراپېګنډه کې د پېرنګیانو ډېر لوی لاس و، هغوی غوښتل چې اول خو حاجي صاحب بېرته خپل ځای ته راشي او په دې غرض یې ورپسې د خانانو او د قام د مشرانو درنې درنې جرګې ورلېږلې وې. او بل طرف ته یې ورپسې دا پراپېګنډه کوله چې حاجي صاحب

مجبور شي چې بېرته وطن ته راشي او که نه راځي نو د دې نه وړاندې چې نور قبایل د ځان ملګري کړي باید جنګ وشي. ما دوه درې ورځې ورسره تېرې کړې، بیا واپس کلي ته راغلم، لږې ورځې پس مې د حاجي صاحب د جهاد اعلان واورېدو. په دې قام کې د پرنګي د مقابلې طاقت نه و. یوه ورځ دوه یې څه معمولي مقابله کړې وه نور طاقت په کې نه و. حاجي صاحب پسې پېرنګیانو روپۍ خورې کړې وې چې ژوندی یې ونیسي. ددې کار دپاره یې خلک هم پیدا کړي وو او نیوه یې چې حاجي صاحب خبر شُو شپه په شپه سوات ته او له هغه ځایه باجوړ ته واوړېده او له هغه ځایه د مومندو(سره کمر) ته لاړ هلته دېره او اباد شُو، د حاجي صاحب خو زما د خبرې سره اتفاق و، خو د هغه برخلاف د غلطې پراپېګنډې په وجه داسې رائې عامه جوړه شوې وه چې زما خبره یې منلی نه شوه. د رائې عامه مقابله ډېره مشکله وي. د غلطې پراپېګنډې مقابله کول په کار وي چې سړی پاڅېږي ملا وتړي او خلک په حقیقت پوهـ کړي او دا هله کېدی شي چې د بې غرضو هم خیالو مضبوطه ډله وي چې د خلکو اعتماد یې حاصل کړی وي،وچت شي چې ملک کې وګرځي او خلکو ته غلطه خبره او حقیقت سم ورښکاره کړي.ولې، دلته نه داسې ډله وه او نه په دې طریقه کار شوی دی او نه د کار موقع په لاس ورغلې وه او داسې ډله خو د کار کولو نه پس پیدا کېدی شي. حاجي صاحب چې څنګه په منډه بونیر ته تللی و، په دې وجه همداسې په منډه له بونیره وتښتېده. ملایان،باباګان، میاګان او پرنګیان پخپله پالیسۍ کې کامیابه شول.

## مدرسې بندې شوې:

پېرنګيانو تـه ددې کـشمکش پـه وجـه د نقـصان پـه ځـای فـايـده ورسېده.يو خو يې په بونير قبضه وکړه او بله دا چې بهانه په لاس ورغله. زمونږ پـه ملـک کې چې څومره قومي اسلامي مدرسې وې، ټولې يې يو دم بندې کړې، ځکه چې دا مدرسې پېرنګيانو د خپل حکومت په لاره کې اغزي ګڼل.

د هغو استاذان او کارکنان يې بنديان کړل. هغـه کسان يې هم بنديان کړل، چا چې به ددې مدرسو دپاره د خلکو نه چندې ټولولې او د مدرسو پالنه خدمت او انتظام به يې کولو. حقيقت خو دا و چې دا مدرسې د حاجي صاحب نه وې د قام وې او د قام پـه پيسو او انتظام چلېدې،خو د ملايانو د خولو بندولو دپاره مونږ.حاجي صاحب سرپرست مقرر کړی و.

حکومت د مدرسو د استاذانو او چلوونکو سره ډېر زور، ظلم او بد سلوک وکړ، د ډېره اسماعيل خان جېل تـه يې ولېږل. د صوبه سرحد په ټولو جېلونو کې ډېره اسماعيل خان جېل د اب و هوا په لحاظ او د بد سلوکۍ پـه لحاظ ډېره ګنده جېلخانـه ده. درنې درنې ځولنې يې ورتـه اچولې، مېچنې بـه يې پـرې ګرځولې.کولوګان«د تېلوګانۍ» به يې پرې ګرځول او لکه د سنډاګانو به يې په ارټ تړل.

ډېرې يې ترې وخرېيلې، وئې وهل، وئې ټکول، وئې شرمول. هغـه وخت بـه پـه جېلخانو کې داسې ډوډۍ ورکول کېده چې انسان خو پرېږده چې ځناور بـه هم نـه خوړه او داسې جامې بـه يې ورکولې چې سړی به په کې د سړي غوندې نه ښکارېده.زمونږ د کلي پلار او زوی بنديان شوي وو چې د جېل جامې يې وراغوستې دي او ډېوډۍ تـه يې را ايستلي دي، زوی يې چغې کړې چې بابا مې څه شُو حال داچې

پلار یې خوا کې ولاړ و، خو داسې جامې یې ور اغوستې وې چې خپل زوی نه پېژندلو د دې نه شپږ اووه کاله پس زه پخپله دخلافت په سیاسي تحریک کې قید شوم. ماته یې چې کوم پرتوګ را کړی و، هغه زما دزنګانه د سترګې نه پورته و او داسې کمیس یې را کړی و چې په سجده به پرېوتم ملا به مې ټوله ښکارېده.

دوی به بندیانو له جامې په یو ناپ جوړولې د هغه قیدي دې خدای مل شي چې د چا قد به جګ او تن به یې غټ و او خوراک مې داسې و چې سپي خو جېل کې نه و، مګر پیشو ته مې خپله ډوډۍ سره د انګولي اېښې ده پیشو خوړلې نه ده.

د دې نه علاوه یې د حاجي صاحب شیخان او تعلقداران هم ډېر ګرفتار کړل. پولیس ته دا اختیار و چې د حاجي صاحب د رشته دار او تعلقدار او شیخ په نوم چې هر څوک ګرفتارول وغواړي ګرفتارولی یې شي. په خلکو کې یې دومره وېره او بزدلي پیدا کړه، او دومره هیبت یې پرې راوستو چې چا ته به دې ووې شیخ صاحب هغه به درته ووې پلار به دې شیخ وي.د حاجي صاحب لوی لوی شیخان د حاجي صاحب د شیخۍ نه توبه ګار شُو او ځینې خو په کې داسې نامردان وو چې صاحب پسې یې سپکې سپورې خبرې هم شروع کړې.

د دې دپاره چې پیرنګی به خبر شي او زه به د قید نه بچ شم.دا ډېره د افسوس خبره وه چې د پرنګي زور او ظلم په دې خلکو کې وېره زیاتوله او د مقابلې او د جدوجهد جذبه یې په کې نه راویښوله.دا ټول مذهبي خلک وو او د دوی په نزد ډېره د مذهب لوی رکن و،دوی کې د ډېرو خرېیلو هم غیرت را ولاړ نه کړ، په جېلخانو کې یې اذان نه شو ویلی د جمعې لمونځ یې نه شو کولی. دا ټوله اصلاح هغه وخت وشوه چې مونږ خدایي خدمتګار جېلونو له لاړو.بیا د چا ډېره نه شوه

کلیدلی.اذانونه به کېدل،د جمعې لمونځ او پنځه وخته لمونځونه به با قاعده کېده، په چکی کې بندېده دا مونږ ازاد کړل. زه په دې حقیقت پوهـ شوم چې د مذهبي خلکو سره به چې ظلم زیاتی کېده او کېږي،خوراک بنه شُو ،مېچنې،کولوګان،ارټونه ګرځول بند شول جامه د سرېتوب شوه،د یوې چکی ګوړې او غوړو اجازت نه و،په یوه چکی ګوره به قیدي په چکی کې بندېده دا مونږ ازاد کړل.زه په دې حقیقت پوهـ شوم چې د مذهبي خلکو سره به چې ظلم زیاتی کېده دوی به وېرېدل او بې جراته کېدل او د سیاسي بندیانو سره چې به څومره ظلم زیاتی کېده هماغومره به د دوی همت او جرات زیاتېده.دا ټولـه ګټه د قـام قیـدیانو لـه خدائي خدمتګارو.وکړه او د خدائي خدمتګارو په قربانو شوې ده.پاس ذکر شوي اصلاحات هغه وخت وشول چې د خدایي خدمتګارو حکومت راغی. په دې ورځو کې ما پسې هم د ګرفتارۍ حکم جاري شوی و،خو زه خوش نصیبه وم چې څو ورځې مخکې زمونږ د علاقې پولیس کپتان حافظ زین العابدین چې د امبرسر(امرتسر) و، زمونږ کلي ته راغلی و. اتفاقاً زما او د هغه زمونږ د مدرسې په باره کې خبرې شوې وې، هغه ماته وویل چې مونږ هم په امبرسر کې ستاسو غونډې قامي مدرسه جوړه کړېده.

د هغې مصارف مونږ د قربانیو د څرمنو نه پوره کوو که تاسو هم دې قام ته ووایې، چې د قربانۍ څرمن درکړي،د چندو ټولولو له کړاوه به خلاص شئ.ما ورته ووې څه کوې په ملایانو مې وژنې؟ دلته خو د قربانۍ په څرمنو د ملایانو قبضه ده ملا به خپلې څرمنې ایستلو ته تیار شي خو د قربانۍ څرمنې چا ته نه ورکوي. هغه ووې چې زه به په دې کې ستاسو امداد وکړم ما ورته ووې چې ستا په امداد کېدی شي.که ته دا خانان او ملکان پوهـ کړې چې د قربانۍ

ځرمنې د ملایانو په ځای قومي مدرسو ته ورکول ډېر ثواب لري نو دوی به یې ومني ځکه چې زمونږ په خانانو، ملکانو او ملایانو د حاکمانو او پولیس افسرانو ډېر زیات اثر دی. د دې خبرو په دوران کې هغه ته دا خبره هم معلومه شوه چې دا مدرسې قامي مدرسې دي او د حاجي صاحب په کې هېڅ نښته صرف د ملایانو د خولو بندولو او پراپېګنډې د مخنیوي په غرض پرې مونږ د حاجي صاحب نوم اېښی دی نو ځکه هغه زه ګرفتار نه کړم خو مدرسه یې راته بنده کړه او د مولوي عبدالعزیز صاحب نه علاوه چې د حاجي صاحب سره تللي و نور استاذان یې هم قید کړل. تقریبا یو کال پس پېرنګیانو دا کسان رها کړل، خو دوی غریبان دومره وېرېدلي وو چې چا به ورته د شیخ، مدرسې او حاجي صاحب نوم واخیسته دوی به ورسره جنګ کاوه.

څه موده پس چې بیا د حاجي صاحب او پېرنګیانو نښته د مومندو په علاقه کې وشوه دا کسان یې بیا ونیول او تقریبا نهه میاشتې بندیان و. دغسې به چې هر وخت د پېرنګیانو او د حاجي صاحب کشمکش پیدا شو دوی به یې ونیول.

پېرنګیانو به دا فکر کولو چې حاجي صاحب د دوی په ډاډ غواړي چې دا ملک زمونږ د غلامۍ نه ازاد کړي. او د دې نه خبر نه وو چې دوی غریبانانو ازادي پېژندله چې دا د خدای یو لوی نعمت او رحمت دی او نه یې غلامي محسوسوله چې دا د خدای لوی لعنت او غضب دی ان که د مسلمان ورور هم وي. دوی خو ثوابیان خلک وو او غوښتل یې چې د تسپو او وظیفو په زور ځانته په هغه بل جهان کې جنت وګټي او جنت څنګه جنت چې په کې به حورې وي، غلمان وي، د شاتو، شرابو او پیو ویالې به په کې بهېږي. قسماقسم مېوې به وي

چې د شوکولو تکلیف به یې هم نه وي تش خوله وازه وه په کې به راپرېوزي. هغوی ته مذهبي لویو لویو پیشوایانو د ممبر دپاسه دا ویلي وو چې دا دنیا د کافرو ده مسلمانان به دلته خوار و زار وږي تږي ، لوڅ بربنډ ،حقیر او ذلیل وي، په هغه جهان کې به بیا دوی مزې کوي د مسلمان خو هغه دنیا ده او خلکو هم دا منلې وه.په دې خبره هېڅا غور او فکر نه و کړی چې دین د دې دنیا دپاره دی که د هغه جهان دپاره او که د دواړو دپاره دی.مونږ خو په لمانځه کې اول د دې دنیا ښېګړې له خدایه غواړو او بیا دا چې د هغه جهان نه خو څوک راغلي نه دي، مګر د دې دنیا تاریخ خو زمونږ په وړاندې پروت دی، چا ته چې مذهب راغلی او هغوی منلی او عمل یې پرې کړی دی په دې دنیا اباد شوي دي. د عزت خاوندان شوي دي، د خپل حکومت خاوندان شوي دي ، د خوشحالۍ اوامن ژوند یې نصیب شوی دی، تاسو عربو ته وګورئ چې د اسلام نه مخکې د هغوی څه حال و؟ او چې اسلام راغی او عمل یې پرې وکړو، د هغوی څه حال شُو؟ د اسلام په وجه دوی د حکومت، دولت او عزت خاوندان شول.تاسو د هغه وخت د مسلمانانود ژوند په هر اړخ نظر واچوئ غور او فکرپرې وکړئ. او د اسلام د دې ټیکه دارانو په خبرو غور او سوچ وکړئ چې دا دوی چې کوم اسلام بیانوي دا هغه د خدای او رسول اسلام دی که د سرمایه دارو؟ او دوی چې څه وایي د خدای دپاره یې وایي که د سرمایه دارو دپاره وایي؟

## مومندو ته د حاجي صاحب هجرت:

د بونیر نه مومندو ته د حاجي صاحب په تللو او دېره کېدلو مونږ ته یوه فایده وشوه چې مونږ ته را نزدې شُو او د حاله یې زر زر

خبرېدلو ،ځکه چې مومند اکثر دوه کوره لري،یو کور یې پاس په غره کې او بل یې دلته مونږ سره په هشنغر کې وي.روزانه خلک ځي راځي د هغه ځای د ماتو ګوډو نه مونږ خبر وي او زمونږ د ماتو ګوډو نه هغوی خبروي.بونیر خو یو لرې و او بل د خلکو تګ راتګ ورته لږ و.

د حاجي صاحب د هجرت او د اول عالمي جنګ د شروع کېدو په وجه هندوستان ته زمونږ تګ راتګ بند شُو.زما ټولو ملګرو د حاجي صاحب سره هجرت کړی و.زه یوازې پاتې وم. پېرنګیانو هم په ملک کې داسې حالات جوړ کړي وو چې ما د هندوستان د تللو جرات نه شُو کولی. بله دا چې شیخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب عربو ته هجرت کړی و،د حج د فریضې ادا کولو دپاره مکې معظمې ته تللی و.هلته شریف مکه د ترکو په خلاف د پېرنګیانو په سفارش د کفر فتوا په ملایانو لیکلې او دستخط کړې وه. په شیخ الهند صاحب یې هم زور لګولی و چې ته یې هم دستخط کړه، خو هغه انکار کړی و نو په دې وجه شریف مکه شیخ الهند صاحب ګرفتار کړی او پېرنګیانو ته سپارلی و.

پېرنګیانو شیخ الهند صاحب د خپلو ملګرو سره د مالټا په جزیره کې بندي کړی و. مولانا عبید الله سندهي صاحب هم له هندوستان نه هجرت کړی و او افغانستان ته رسېدلی و. د ده سره د هندوستان یو څو قوم پرستو مسلمانانو او هندوانو هم هجرت کړی و او په کابل کې یې یو عارضي حکومت د راجا مهندراپرتاب په صدارت کې قایم کړی و، څوک چې پاتې وو معلومېده داسې چې هغوی د پېرنګیانو له وېرې مونږ سره رابطه نه شوه ساتلی، صرف یو ځلې یې دېرش پونډه چې څلورنیم سوه روپۍ کېدې د ډاک په ذریعه زما په نوم رالېږلې دي چې هغه ما حاجي صاحب ته ولېږلې نور یې د حاجي

صاحب هیڅ قسمه امداد ونه کړ حال دا و چې حاجي صاحب سره دوی د مکمل امداد وعده کړې وه او حاجي صاحب ته د دوی د امداد ډېر ضروت و. ما ته مې بابا د جېب خرڅ دپاره په مامندناړې کې شپېته جریبه ځمکه راکړې وه، په هغې کې ما پخپله زمنیداري کوله د هغې به چې څومره امدن کېده هغه به مې حاجي صاحب ته د خپلو ملګرو د امداد دپاره لېږه، خو هغه به د حاجي صاحب د مشر زوی باچا ګل په لاس ورتلو ،زما ملګرو ته به یې نه ورکولو هغه غریبانان د خرڅ پورې اریان وو، هیڅ کار یې نه و لکه د نورو شیخانو د لنګر پخې ډوډۍ ته به ناست وو. ډېر په تکلیف به یې ژوند تېرولو. په کار خو دا و چې حاجي صاحب هلته دوی له د مدرسې جوړولو انتظام کړی وی. دوی به په کې کار کولی او بچو به هم په کې علم زده کولی او د تبلیغ دپاره به یې په کې خلک روزلي وی چې بیا به ټولو قبایلي علاقو کې خواره شوي وی هم خیال کسان یې پیدا کړي وی، او قبایل یې په یو مزي کې پېیلي اومنظم کړی وی. زمونږ ملګرو په رموز رموز کې دا خبرې کړې وې،خو چا پرې غوږ نه و ایښی.اخر مهتمم تاج محمد صاحب د شیخانو په یوه غونډه کې پاڅېدلی او په ممبر ودرېدلی دی دوی ته یې ویلي دي. تاسو شپه او ورځ د خپل لنګر په فکر یئ د قام اصلاح او تعلیم خواته هم څه توجه په کار ده. ده غریب هم دومره خبره کړې ده شیخانو نورو خبرو ته پرېښې نه دی او له ممبره یې را کوز کړی دی. دا کسان خو د کار قابل او لایق کسان وو دوی چې خپل کور کلی پرېښی وو قربانۍ یې ورکړې وې او مومندو ته تللي وو. کار پسې تللي وو د یو مقصد دپاره تللي وو.د شیخانو په شان خو یې د لنګر ډوډۍ سود کړې نه وه، او لکه د شیخانو د جنت په تمه ناست نه وو. د دوی په جنت او د شیخانو په جنت کې او د دوی د جنت په لار

کې او د شیخانو د جنت په لار کې ډېر فرق و. معلومېده داسې چې باچا ګل د پېرنګیانو سره سازش کړی و او د حاجي صاحب او د هغه د کارکوونکو ملګرو ترمینځ یې غلط فهمي پیدا کولې او د دوی په لار کې یې خنډونه اچول، او زمونږ ملګري یې دې کار ته نه پرېښودل. زمونږ ملګرو د بې کارۍ ژوند نه شُو تېرولی مایُوسه شول او د انګرېزانو هم دا کوشش و چې دوی د دې ځایه لاړ شي. مخفي صاحب خو د خپلو خپلوانو ځای ته دیر ته لاړ، مولوي سیف الرحمن صاحب افغانستان ته لاړ او مولوي فضل ربي صاحب هم ورپسې لاړو، مولوي عبدالعزیز صاحب سوات ته لاړ. مولوي تاج محمد صاحب کمانګري ته لاړ او هلته ځان له ډېره شُو، بیا د هغه ځایه په هغه لشکر کې چې د امیر امان الله خان په مرسته د پکتیا د منګلو قبیلې د ګوډ ملا د شورش خلاف جوړ کړی و، منګلو ته لاړ او هلته بیا په خوست کې وفات شُو. مولوي عبدالعزیز صاحب سوات ته راغی.

## د سوات د باچاهۍ کشاله:

په دې ورځو کې د کوهستان ملا صاحب د دیر د نواب د زور ظلم نه د سواتیانو د بچ کولو دپاره سوات ته راغلی و، د نواب نه یې د سوات ډېره برخه نېولې وه او سیتاني یو سید یې عبدالجبار شاه نومېده په سوات کې باچا کړی و. کوهستان ملا صاحب د ترنګزو د حاجي صاحب ماذون و. ده ته په کار وه چې د سوات یو سړی یې د سواتیانو مشر کړی وی، ځکه چې سوات د سواتیانو او د سواتیانو وینې پرې توئې شوې وی او ښه خبره به داوی چې کوهستان ملا صاحب د مدینې په طرز او طریقه د خلکو په رایه یو جمهوري نظام قایم کړی وی، خو معلومېږي داسې چې د پښتنو د کورونو جنګونو،

ګوندیو، تربګنیو او بې اتفاقیو او دښمنۍ له کبله کوهستان ملا صاحب دا کار کولی نه شو.د پښتنو تاریخ د داسې واقعاتو نه ډک دی چې کله داسې موقع په لاس ورغلی ده،دوی د خپل ورور عزیز په ځای میا ملا په ځان مسلط کړی دی، عزت یې پخپلو کې په یو بل پېروزو شوی نه دی او په خپلو کې بدنیته شوي دي او دغه شان چې څوک دوی د خپل ملک،قام او مذهب مشران په ځان منلي دي، هغوی بیا ښه مړلي او خوړلي دي او دوی بیا هم ورنه سبق نه دی اخیستی او دغه وجه ده چې د جنت په شان وطن کې په جوارو ماړه نه دي وږي تږي، خوارزار او جاهلان پاتې دي د قدرت د پټو خزانو نه چې د دوی په ملک کې یې پیدا کړي محروم دي او تر هغې به یې دا حالت وي تر څو چې دوی قبیلوي ژوند په ملي او قومي ژوند تبدیل کړی نه وي او یو ملت شوي نه وي او پخپلو کې یې ورورې، عزیزولي او قامولي مینه، محبت او پېرزوینه پیدا کړې نه وي. او تر څو چې یې د قام عزت، خپل عزت او د قام بې عزتي یې خپله بې عزتي ګڼلې نه وي. دا د دنیا قامونه چې اباد شوي دي ترقي یې کړې ده او اسمانونو ته وختل او مونږ چې د هغوی د عزت ژوند او اسودګۍ ته ګورو ورته پسخېږو، دا زمونږ په شان خلک دي دا زمونږ نه بهتر پیدا شوي نه دي، خو په هغوی کې ملیت، قامولي او عزت ولي، علم او پوهه مینه او محبت پیدا شُو، ترقي یې وکړه او په مونږ کې دا صفات نشته، مونږ به په خاورو کې توغږېږو. په هغوی کې ملیت او قامولي راغلې ده. په هغوی کې ایماندار،دیانتدار، بې غرضه او بې الایشه کسان پیدا شوي دي، د قام تباهي یې محسوسه کړې ده، د ژوند خواږه یې په ځان حرام کړي دي قام پسې ګرځېدلي دي، قام یې پوه کړی او ویښ کړی دی، قامولي یې په کې پیدا کړې ده، اباد

شوي دي.

سيد عبدالجبار شاه څه موده حکومت وکړ، څو ورځې وروسته ورپسې دا مشهوره شوه چې قادياني دی. زه په دې خبره بحث نه کوم چې دی قادياني و که نه دی که قادياني و له ړومبي نه به قادياني و ،هغه وخت يې چې باچا کولو ولې يې ددې خبرې تحقيق نه کولو. حقيقت داو چې هېچا دا ګمان نه کولو چې د سوات دا رياست به قايم پاتې شي او چې څه وخت ځينو کسانو ته چې دې کار ته يې زړه کېده معلومه شوه چې دا خو قايم پاتې کېدی شي نو د سيد عبدالجبار شاه پسې يې دا پراپېګنډه شروع کړه.بله دا چې د سيد عبدالجبار شاه حکومت کمزوری و ،د سوال ياري وه واک اختيار ټول د کوهستان ملا و او کوهستان ملا د پېرنګيانو مخالف و نو پېرنګيانو غوښتل چې د سيد عبدالجبار شاه په ځای د خپلې طبعې يو داسې سړی دلته کېنوي چې د کوهستان ملا نه واک اختيار ټول خپل کړي چې په دې علاقه کې څوک د پرنګي بر خلاف لاس او پښې ونه خوزولې شي.

په خلکو کې د سيد عبدالجبارشاه د مخالفت د زياتېدو په وجه کوهستان ملا مجبور شُو چې هغه لرې کړي او بل څوک په دې ځای کېنوي نو د باچا ګل صاحب د ترنګزو د حاجي صاحب د مشر زوی دا خواهش او کوشش و چې د سيد الجبار شاه په ځای دی د سوات باچا شوی وی او د ده چانس هم زيات و ،کوهستان ملا صاحب نه يې وعده اخيستې وه،دی ډېرته مومندو ته په دې غرض لاړو چې څلور پنځه سوه ملاتړ د مومندو نه ځان سره راولي مولوي عبدالعزيز چې د باچا ګل نه ډېر خپه و او ښه ورته معلوم و او د هغه سلوک ورته يا د و دغه وخت د کوهستان ملا صاحب سره مصاحب و او په کوهستان ملا

صاحب يې ډېر اثر و ،بلکې د هغه يو قسم سکتر و او کوهستان ملا صاحب به په هر کار کې د هغه نه مشوره اخيسته نو مولوي عبدالعزيز صاحب کوهستان ملاصاحب په دې خبره رضا کړو چې د باچا ګل د رارسېدو نه يې مخکې د ميانګل عبدالودود د باچايۍ اعلان وکړو چې باچا ګل را ورسېد هر څه تالاوالا وو ،ميانګل عبدالودود باچا شوی و.په دې وختو کې د ازادو قبايلو په باره کې د پېرنګيانو پاليسي بدله شوې وه، هغوی غوښتل چې په هره قبيله يا علاقه کې واړه واړه خانان او نوابان جوړ کړي چې هغوی دا قوم په قبضه کې وساتي او د قبايلو د شورشونو ،بغاوتونو او جنګونو مخه د دې خانانو او نوابانو په ذريعه ونيسي،ځکه چې د خانانو او نوابانو قبضه کول پېرنګيانو ته ډېر اسان و ،هر يو به د بل د وېرې د پرنګي خوشامنده کوله د دې کار دپاره پېرنګيانو د خار خان ته ډېرې روپۍ او وسلې ورکړې چې ناوه ګۍ باندې حمله وکړي وئې نيسي که ناوه ګۍ د خارخان ونيسي نو پيرنګی به دی د دې سيمې نواب تسليم کړي او ډېر جاګير به ورکړي.

پرنګيان په دې پوهېدل چې ناوه ګۍ د دې علاقې د دروازې حيثيت لري د هر چا په لاس کې چې وي قام ورنه رپ وهلی نه شي قام هم په دې خبره پوهېده نو ځکه د قام او د خار د خان په ناوه ګۍ ډېر جنګونه وشول،خو د خار خان د ناوه ګۍ په اخيستو کې کامیابه نه شو.دغه شان پرنګيان په اپريدو کې،وزيرو کې،مسعودو کې او بيټنيو کې ډېرې روپۍ خرڅې کړې،خو د خانيو او نوابيو په جوړولو کامياب نه شول.

مياګل ورو ورو ځان مضبوط کړو او کوهستان ملا يې په مخه کړو مولوي عبدالعزيز صاحب خو د ده سره په پاچا کېدو کې ډېر

امداد او احسان کړی و او اوس هم ورسره هر قسم امداد ته تیار و نو دی د ده سره پاتې شوی و ،زه په دغو ورځو کې د مولوي عبدالعزیز صاحب لیدلو ته سیدو له ورغلم یو دوه شپې مې مولوي صاحب سره وکړې د میاګل صاحب په مجلس کې شریک شوم د سوات یوه جرګه هم په دې وخت کې میاګل صاحب ته راغلې وه د هغوی په مجلس کې هم شریک شوم،په خبرو خبرو کې راته معلومه شوه چې دا خلک له خدایه دومره نه وېرېدل لکه څومره د پیرنګي نه ،د پیرنګي نوم به ما اخیسته وېره به په دوی راتلله د دوی په خدای هم دا عقیده نه وه چې ګوندې مونږ به د پرنګي د غلامۍ نه خلاص کړی شي. نن چې تاسو په سیدو کې کومې ابادۍ ګورئ هغه وخت دا ابادۍ نه وې یوه د ختو معمولي کلاګۍ وه، میاګل صاحب، مولوي صاحب او نور ټول د دوی ملګري به په کې اوسېدل او داسې خاص مېلمانه چې به راغلل هغه به هم ورسره پاتې کېدل. زه په هلکوالۍ کې هم سیدو ته تللی وم او یوه شپه مې په کې کړې وه، هغه وخت زما علم کم و او د اسلام په حقیقت پوره نه پوهېدم ،ما به دا ګمان کولو چې زیارتونه د سرې سوالونه قبلوي. زمونږ په خلکو کې دا عقیده وه چې پیر بابا د سرې یو سوال قبلوي نو زه هم په همدې خیال د خو ملګرو سره اول د پیر بابا زیارت ته تللی وم او بیا له هغه ځایه د جواړې په کنډاو(غاښی) سوات ته را اوړېدلي وو.د سوات د باباجي زیارت مو کړی و او شپه مو دلته تېره کړې وه.

## د پېرنګیانو مظالم:

دا د پورته ملک حال و د کوز ملک حال دا و چې پیرنګي په خلکو دومره وېره او ترهه راوستې وه چې چا د دوی له وېرې حقه او رښتیا

خبره نه شوه کولی او د حکومت خبره خو پرېږده چې د چا په خيال به پوهه شو چې د ده د خپل قام،وطن او اسلام سره مينه ده نو دباوونه به يې پرې شروع کړل او چې په دې به کار ونه شُو نو بيا به يې منصبونه، پيسې او لقبونه ور وړاندې کړل او چې په دې به هم کار ونه شُو نو بيا به يې د جېلخانو تورو تمبو ته واچولو مېچنې به يې پرې اوړولې کولوګان به يې پرې ګرځول داسې ظلمونه به يې پرې کول چې ډېر وحشي قام به يې هم د يو حېوان سره ونه کړي، پاتې خو لا د تمدن مدعي د يو انسان سره.دا پراپېګنډه شوې ده چې انګرېز انصاف دار و.منم چې انصاف دار و،خو په داسې مسئلو کې چې کوم ځاى کې به د ده خپل مفاد نه وو،کله چې به د ده خپل سياسي غرض و نو بيا د انصاف سوال نه پيدا کېده.ولې په سياسي معاملو کې يې بيا انصاف نه پېژندو او بيا هر ظالم چې تاسو پېژنئ د هغه نه زيات ظالم و،د پېرنګيانو مخبران به ملک کې خواره وو،د کور، کلي، حجرې، جومات، وړه، غټه خبره به يې پوليس ته رسوله او پوليس ته ټول اختيار او پوره واک حاصل و چې په هر چا به يې چې ګوته کېښوده چې دا غل دى هغه به غل و،بيا يې پوښتنه نه وه او پوليسان هم د جهان بد ديانته وو،خصوصاً د پنجاب پوليس خو د پرنګي د خوشحالولو دپاره د خداى په مخلوق او مسلمانانو داسې شندې کړې چې هېچېرې به چا کړې نه وي.

خانانو،ملکانو او ملايانو به ځاى په ځاى جرګې کولې چا به له وېرې چا به د پيسو په تمه چا به د نوکرۍ دپاره د پېرنګيانو تعريفونه کول،ملاګانې يې ترلې وې،برتې به يې ورته کولې او ويل به يې چې

خدای پاک ویلي دي چې «د خدای اطاعت کوئ، د پیغمبر اطاعت کوئ او د اولوالامر اطاعت کوئ» او پرنګی خو زمونږ اولوالامر دی اطاعت یې واجب دی. حالانکه د قران ایات کې د اولوالامر سره لفظ(منکم) راغلی دی، یعنې چې اولوالامر دې د ستاسو نه وي نو دا به دې ملیانو نه ویل او په دې طریقه یې د پرنګي د اطاعت د پاره قراني جواز پیدا کولو. خدای پاک په قران کې د بني اسرائیلود عالمانو ذکر کوي چې هغوی به د لږو پیسو دپاره او خپلو خواهشاتو د پوره کېدو دپاره د توراة او زبور په ایاتونو کې تحریفونه او تاویلونه کول هر مذهب او مسلک چې د خودغرضو او چالاکو خلکو په لاس ورشي بیا په کې هغه اولنی انقلابیت او روح پاتې نه شي، بیا د سرمایه دارو مذهب ترې جوړ شي او تش کالبوت شي.

زمونږ په علاقه کې په دې کار کې زیاته برخه د عمرزو سعدالله خان اخیستې وه، یو خو خان و او بل د پېرنګیانو نوکر هم و، هغه به وخت په وخت ډوډۍ وکړه خانان، ملایان او شاعران به یې را غونډ کړل او د پرنګي د خوشحالولو دپاره به یې جلسې جوړولې او د پرنګي تعریفونه به یې په کې کول او خلک به یې د پرنګي سره د تعاون دپاره اماده کول یوه ورځ حجره کې ناست وم، د مولانا ابوالکلام «البلاغ» اخبار مې لوسته خبر شوم چې نن بیا په عمرزو کې جلسه ده، مولانا پخپل اخبار کې د دې جلسو متعلق ډېر ښه مضمون لیکلی و نو په زړه کې مې تېره شوه چې ورځم او په دې جلسه کې خلکو ته دا مضمون اوروم خو دا همت او جرات مې ونه کړی شُو.

عجیبه خو لا داوه چې د ازاد سرحد ملایانو او زبرګانو به ویل چې د پرنګي خلاف جهاد فرض دی او د داخل ملایانو او زبرګانو به ویل د پرنګي مرسته او اطاعت فرض دی. لکه د قسطنطنې او مدینې د ملایانو په شان یوې ډلې به یو قسم فتوه ورکوله او هغې بلې به د هغې مخالفه فتوه ورکوله. د یوې موضوع په باره کې په یوه مذهب کې دوه قسمه خبرې نه وې، خو حقیقت دا دی چې نن په مذهب هم سرمایه دارو د خپلې سرمائې په زور قبضه کړې ده، هغه د خدای ریښتینی مذهب پاتې نه دی.

ریښتینی خدایي مذهب خو د مخلوق خدمت دی، مینه ده، محبت دی، انصاف دی، عدالت دی، بردباري او ایمانداري ده. په هغې کې د خدای د مخلوق ګټه او فایده ده. دا نن چې تاسو څه څه وینئ دا سرمایه دارو د خپلو غرضونو د پوره کولو دپاره د مذهب په نوم یوه لوبه جوړه کړې ده. دا ننني مذهب خو د څو کسو د عیش عشرت دپاره دی. د خدای د مخلوق د ارام دپاره نه دی چې مذهب د خودغرضو کسانو په لاسو ورشي دا سې حال شي. حقیقت دا دی چې دا ټول اسماني مذاهب حق دي او قران خو دا وایي چې د متقي او پرهیزګارو خلکو به په دې قران هم عقیده وي او چې د دې نه مخکې کوم کتابونه د خدای له طرفه راغلي دي په هغه به یې هم عقیده وي نو مونږ نه پوهېږو چې په دنیا کې د مذهب په نامه دا جګړې او جنګونه ولې او څنګه پیدا شوي دي؟

❋❋❋

# رولټ ایکټ او مونږ وبا(د ړومبي ټبر وفات)

# رولټ ایکټ، زمونږ جلسې، زما وړومبۍ گرفتاري، زما بابا او نور کلیوال جېلخانه کې، د جېلخانې حالت، د قید نه خلاصون بیا گرفتاري او دویم واده

د یورپ جنگ چې ونښت نو زما په زړه کې دا خیال پیدا شُو چې سړی کابل ته لاړ شي او د افغانستان د حکومت په امداد د پېرنگیانو خلاف جدوجهد شروع کړي. دا د امیر حبیب الله خان زمانه وه او دافغانستان په باره کې زما هغه وخت دا عقیده وه چې دا یو ازاد او زورور حکومت دی، که چیرې وغواړي نو د پېرنگیانو خلاف زمونږ ډېره مرسته کولی شي. د دې دپاره مې دا فېصله وکړه چې د سوداگرۍ په بهانه افغانستان ته ځم. ما دا تجویز خپل پلار ته وړاندې کړو، هغه را سره ومنلو خو مور مې مخالفت وکړو، خو اخر مې هغه هم راضي کړه، بابا راسره د روپو وعده هم وکړه.زمونږ د کلي زما یو اشنا جمعدار عجب الله خان چې ډېر هوښیار او جهان دیده سړی و ،د پېرنگیانو په انټیلیجنس ډیپارټمنټ کې هم پاتې شوی و، او دغه ملکونه یې لیدلي وو ،دی مې د ځان سره ملگری کړو او د راهدارۍ دپاره مو حکومت ته درخواست وکړو خو حکومت راهداري را نه کړه او دا کار پاتې شُو.

جنگ څلور کاله پس ختم شُو په دې دوران کې به کله نا کله د

پېرنګيانو او ازادو قبايلو ترمينځ جنګونه کېدل خو د ټولو قبايلو په يوه سلا او په منظمه طريقه به نه وو نو ځکه پرنګي ته څه نقصان نه رسېده چې مومندو به په پرنګي حمله وکړه وزير، مسعود او اپريدي به په ځای ناست وو او که د اپريدو او انګرېز جنګ به و، مومند، وزير اومسعود به خبر نه وو او که د وزيرو به ورسره جنګ و، مسعود به چې د وزيرو سره په يوه علاقه کې ژوند تېروي جنګ ته تيار نه و، مومند او اپريدي، خو لا په ځای پرېږده هر يو به ويل چې دا د هغه جنګ دی مونږ يې څه کوو په کار داوو چې ټول قبايل په يو تحريک کې تنظيم شوي وی. ښه تربيه ورکړشوې وی، او ټول يو ځل را پورته شوي وی. نو که پېرنګيانو د دوی د مقابلې دپاره ډېر طاقت دلته په کار اچولی وی د ترکو او جرمن مقابله ورته سختېده او که ډېر طاقت يې د ترکو او جرمن مقابلې ته متوجه کولی نو دلته به دوی ډېره کاميابي حاصله کړې وی، خو جهاني جنګ د پرنګي په فتح او د ترکو او جرمن په ماتې تمام شُو.

## وبا، د ړومبي ټبر مرګ:

د جنګ په وجه په دنيا کې سخته وبا راغله، په جنګ کې دومره کسان نه وو مړه شوي لکه په دې وبا کې چې مړه شول. په هندوستان کې هم دې وبا ډېر خلک ووژل، پښتانه هم ډېر په کې مړه شول. دا داسې عجيبه وبا وه چې اکثر به يې ځوانان، جينکۍ او هلکان وهل او مړه کول، او چې يو کورته به يو ځل ننوته بيا به يې يو هم نه پرېښوده. داسې پېښه شوې ده چې په کور کې يو کس هم نه دی پاتې شوی او د کور دروازې پورې شوې دي. په وړوکو وړوکو کلو کې به مړي همداسې پراته وو، د ښخولو يې څوک نه وو، په دې مرض د

ړولو نه اول زه پرېوتی وم، خو هسې خدای جوړ کړم ځکه چې په دې مرض هغه وخت څوک پوهېدل نه او نه د حکومت له طرف نه د ډاکټر،دوا او درمل انتظام و. زما نه وروسته غني چې د پنځو کالو و، ناروغه شُو،غني ډېر ښکلی و. د مور یې ورسره ډېره مینه وه ډېر به یې ورته ژړل ما به منع کوله او د صبر تلقین به مې ورته کولو،خو د هغې زړه به نه صبرېدو. یوه ورځ د غني رنځوري سخته شوه مور یې ورته د کټ سرته ناسته وه. د ده سر یې په غېږ کې اېښی و، ما د ماښام لمونځ کړی و، په مصلې ناست وم دعا مې کوله غني ته مې کتل چې بې هوشه پروت دی چې ناڅاپه یې مور پاڅېده د زوی سر یې د خپل ورانه نه په بالښت کېښوده او د زوی له کټه چاپېره وګرځېده او سرته یې ودرېده او لاسونه یې په دعا پورته کړل په ژړا یې وویل چې اې خدایه د ده مرض په ما کېږدې او دې ماشوم ته شفا ورکړې. د خدای یو عجیبه حکمت و، په سبا له دا ناجوړه شوه د دې مرض ورځ په ورځ زیاتېدو او د غني مرض به ورځ په ورځ کمېدو غني جوړ شُو او مور یې ځوانیمرګه شوه، ماشومان یې راته پاتې شول. دغه وخت غني د پینځو کالو، ولي د دریو کالو او خور یې د یو کال وه.

په کلو کې دومره مړي کېدل چې خلک یې ښخولو ته نه رسېدل. مونږ به د سهار نه د قبرونو په کنستلو لاس پورې کړ تر ماښامه به لګیا وو،کله به په مشکله پوره شُو او کله به یو نیم کم شُو د ډېرو به د کفن درک هم نه و.د داسې مړو دپاره مونږ یو فنډ جوړ کړو. بې کفنو مړو ته مو د دې فنډ نه کفن ورکولو او په دغسې حالت کې به هم ځېنې کسان راغلل په دروغو به یې رانه کفن یوړو.

ځینو چالاکو به وژړل او مونږ ته به یې دوکه راکوله،اخر مونږ

داسې انتظام وکړو چې کفن به مو د خپل سړي په لاس لېږلو چې مړی به يې وليدو نو کفن به يې ورکړلو که نه بېرته به يې راوړلو. د دارو درملو مو هم څه انتظام کړی و، په اول کې خو يې چا ته دارو معلوم نه و، خو وروسته چې مرض اوږد شو ډاکټرانو او حکيمانو ورته دارو را پيدا کړل، هغه به مو جوړول او مريضانو له مو ورکول.

دا يو ډېر لوی افت و چې زمونږ په قام رانازل شُو او په داسې وخت کې چې نه په قام کې احساس او نه اتفاق و چې د دې مصيبت مخه يې په اتفاق سره نيولې وی او نه مو کوم خواخوږی حکومت و چې زمونږ غم يې خوړلی وی او د دې افت نه يې بچ کړي وی. په جنګ کې هم زمونږ د ملک خلک د نورو ملکونو د خلکو نه زيات مړه شول او په مرض کې هم، جنګ د چا و او مړه په کې څوک شول؟ ګټه او بيلات د بل چا و او جنګېدلو مونږ. زه خو وايم چې مونږ اجرتي قاتلان وو، د پيسو دپاره د خلکو مرګ پسې تللي وو، د خپل ملک د ازادۍ او خپل عزت دپاره را کې دا احساس نه و چې د پرنګي سره جنګېدلي وی، يا کم از کم پخپل کور کې ناست وی. پرنګي مو يوازې ترکو او جرمن ته پرېښی وی. مونږ جرمن خو پرېږده د مسلمان ترک سره د پرنګي په ډډه او طرفدارۍ وجنګېدو او جنګ مو ورته وګټلو د دې ګټې په پاداش کې مونږ ته پېرنګيانو «رولټ بِل» چې يو ظالمانه او ناروا قانون و، راکړو د خدای د طرف نه دا مصيبت نازل شو.

## رولټ ايکټ:

ګاندهي جي چې د پېرنګيانو د دې وعدې په مقابل کې چې که پرنګيان جنګ وګټي. مونږ ته به يو سيلف ګورنمنټ راکړي په جنګ کې د پېرنګيانو ډېر امداد وکړو، خو پېرنګيانو چې فتح وکړه وعدې

خو پرېږده د «رولټ ایکټ» ۱۹۱۹ع د نافذ کولو اراده يې وکړه نو مهاتما ګاندهي ډېر مايوسه شو او د «رولټ ایکټ» خلاف يې اواز وچت کړو. مهاتما ګاندهي خو لا پرېږده چې د پېرنګيانو ملګرو هندوستانيانو هم د دې قانون خلاف چغې پورته کړې. په ټول هندوستان کې د دې تور قانون په خلاف زبردست ايجي ټېشن (تحريک) شروع شو، لوئې لوئې جلسې جلوسونه به کېدل، درنې درنې مظاهرې وشوې، ډېر ستېشنونه او سرکاري ځايونه په کې وسوزېدل. پېرنګيانو هم اسره ونه کړه خلک يې په ګولو وويشتل په جېلخانو کې يې واچول ډېر سپک او ذليل يې کړل. تر دې وخته زمونږ په علاقه کې سياسي تحريکونه جلسې او جلوسونه نه وو او نه پرې څوک پوهېدل د تعليم دپاره د مدرسو جوړولو تحريک موجود و، هغه هم د جنګ په وخت کې پېرنګيانو بندکړی و.

يوه شپه کور ناست وم ډوډۍ مو خوړله چې د ډول اواز مې تر غوږ شو چې غوږ مو ورته کېښود ډندورچي ورسره ډنډوره غږوله چې سبا له به د «رولټ ایکټ» برخلاف د حاجي صاحب په جومات (عيدګاه) کې جلسه وي. په دې پوهه نه شوم چې د جلسې انتظام چا کړی دی. چې سبا شو چای مو وڅکله، د حاجي صاحب جومات ته روان شو، د جلسې نوم د کلي خلکو نه و اورېدلی دا ورته يو عجيبه څيز ښکارېدو، ډېر خلک ورته روان وو، د تحقيق نه راته معلومه شوه چې د جلسې اعلان زمونږ د کلي يو خان چې نوم يې محمد اکرم خان و کړی دی. دا راته هم معلومه شوه چې د جلسې د اعلان په وخت کې د پوليس يو افسر راغلی و، د خان او افسر په مينځ کې څه ګفتګو او کشمکش شوی و، خان د هغه له ضده د جلسې اعلان کړی دی، د قدرت کارونه هم د حکمت نه خالي نه وي. چرته دا خان او چرته د

جلسې اعلان، د جلسې په ورځ مونږ اوليدل چې دغه اکرم خان پخپله جلسې له راغلی. وروسته معلومه شوه چې د جلسې په وخت کې هغه د مردان د اسسټنټ کمشنر ګريفټ صاحب سره و. د کلي اکثر لوی خانان او غټ غټ ملايان راغلي وو.زه پاڅېدم او خلکو ته مې وويل چې دغه شان جلسو کې د صدارت ضرورت وي، يو مشر سړی د دې جلسې صدر مقررول په کار دي، خلکو ووې چې ته صدر شوې، ما ووې چې يو مشر سړی به صدر کړو خو دوی ټينګ شو،زه يې صدر کړم. عام خلک خو د صدر په معنې نه پوهېدل هغوی چې د جلسې نه ستا نه شول دا يې خوره کړه چې ګوندې زه د پښتنو باچا شوم، مونږ خو دغه وخت په تقريرونو نه پوهېدلو خو چې د اخبارونو نه مو څه لږ ډېر زده کړي وو،هغه مو خلکو ته ووېل په اخر کې يو بل خان تجويز وړاندې کړو چې دا خو زمونږ د کلي جلسه ده،بله هفته به بيا دلته د دې ټولې علاقې جلسه وې، خلک خبر کړئ چې په ګڼ شمېر کې راشي.د تقريرونو په لحاظ خو دا جلسه جلسه نه وه مګر د اثر په لحاظ يې په خلکو کې ډېر جوش و خروش مينه او جذبه پيدا کړه.

## زمونږ جلسې:

د راتلونکې جلسې د انتظام دپاره خلکو ملا وتړله، زه پخپله هم په اس سور شوم او د دواوې او هشنغر کلي مې وکتل،د جلسې د جوړولو له پاره دولت پورې له ورغلم. دا د دواوې مشهور کلی دی، هغه کې مې د دغه کلي لوی خان وليده ،ده وعده وکړه چې جلسې له به درځم په دولت پوره کې ده راته يوه ډېره عجيبه خبره وکړه. وې چې يو سړي کره سمساره عادته شوې وه،د دوی پې به يې څښلې، بنځې ده ته ووې چې دې سمسارې خو ډېر ورانی را اخيستی دی،څه ورسره

وکړم؟ دی پخپله سمسارې وېرولی و ورته یې وویل چې ښځې دا خو زبرګه ده هېڅ ورته مه وایه. ښځه په پیو مَېنه وې یوه ورځ دې سمسارې پی. په کټوی کې څښلې د ښځې صبر نه شو په سوباړي یې ووهله او مړه شوه. دې ښځې فکر وکړو چې دا خو مې د خاوند زبرګه وه اوس به ماسره څه کوي چې خاوند یې راغی نو ورته یې ووې چې زما د لاسه نن ډېره غلطي شوې ده ستا نه د هغې معافي غواړم، خاوند ورته ووې چې ووایه، دې ورته ووې چې هغه زبرګه زما دلاسه مړه شوې ده وې کومه ده؟

دې ورته وښودله، ده پرې راباندې کړل. مړه سمساره یې ټوټې ټوټې کړه او ښځې ته یې ووې چې زبرګه مرګه نه وه، خو زه ترې یرېدم. دې وخت کې په هر چا کې قومي جذبه پېدا شوې وه، دا سرکاري جرګه نشین خان و، خو د پرنګي نه یې نفرت پیدا شوی و.

خانانو او غریبانو ټولو له مو په جلسه کې د ګډون بلنه ورکړه، خلکو په خوشالی. ومنله. د جلسې په ورځ د یو لک نه زیات خلک را ټول شوي وو. په زرګونو ښځو د جلسې د خلکو دپاره په منګو کې د سیند نه اوبه را چلولې. د جلسې په دوران کې د حکومت له طرفه میا اکبر شاه کاکا خېل ما پسې راغی او ویل یې چې چیف کمشنر وایي چې په صوبه سرحد کوم قانون حاوي دی دا خو د «رولټ ایکټ» پلار دی، دا خو د «رولټ ایکټ» نه زیات ظالمانه دی دوی له په کار دي چې د دې قانون په خلاف د حکومت غوږونو ته خپل اواز ورسوي. د« رولټ ایکټ» تاو دوی ته نه رسي او بله دا چې هندوستان د دوی سره د دې قانون په لرې کولو کې کوم امداد کړی دی؟ چې دوی یې ورسره کوي. زه د دوی سره وعده کوم چې په دې قانون له نوي سره غور وکړم او چې دوی څه وایي هغسې به وکړم. ما

ورتهووې چې میا صاحب زه منم چې هندوستان زمونږ مرسته نه ده کړې دا د هغوی انساني فرض و، خپل انساني فرض یې ادا نه کړل. زمونږ هم دا انساني فرض دي چې د رولټ ایکټ خلاف ورسره خپل اواز ملګری کړو. هر سړی پخپل عمل پړ دی. میا صاحب پوهـ شو چې دی زما په دام کې نه نښلي نو بیا یې ووې که ته اجازه راکوې زه به هم دې خلکو ته څو خبرې وکړم. ما وې وکړه. د هغه په تقریر کې د خولې نه دا وختـه چې حکومت زمونږ مور او پلار دي. دا پـه خلکو بـده ولګېده چغې یې پرې جوړې کړې چې میا کېنه حکومت که ستا مور وي او که ستا پلار وي، وي به. زمونږ هیڅ هم نه دی. ما چې خلکو تـه وکتل په خلکو کې پوره جذبه وه او میا صاحب ته په قهر وو. ما میا صاحب کېنولو او پخپله ورسره شوم د جلسې نه مې بهر وښکو ځکه کـه زه نـه وی یـا مـا د خلکـو نـه مخکـې د عـدم تـشدد وعـده نـه وی اخیستې، خدای خبر چې د میا غریب به څه حال شوی وی؟. زه یوه خوا د خلکو جذبې ته حیران وم او بله خوا د میاګانو انګرېز پرستۍ ته. د دې جلسې صدارت هم خلکو ماته راکړو، مونږ د تقریرونو پـه چل نه پوهـېدو اکثر به مو تقریر ولیکه او د کاغذ له مخه بـه مو خلکـو ته اورولو. عباس خان دې خدای وبخښي زما ډېر دوست و، هغـه لـه مـې لیکلـی تقریـر ورکـړی و چـې د هغـه وار راغـی او پاڅېـده ټـول رپېدو. وې ویل دا تور قانون بیا یې ووې دا تـور قـانون څو کرتـه یې همدا تور قانون تور قانون ووې ما ورته د لاندې نه ووې چې وړاندې ووایـه. دی ټـول رپېـده راتـه یـې وویـل چې پـه سترګو مـې تیـاره ده وړاندې نه وینم د دې نه یې زیـات څه ونـه ویلی شو اخر کېناست. دا زمونږ د تقریرونو حال و، خو سره د دې هم جلسه بالکل کامیابه وه قراردادونه مو پاس کړل، اخبارونو او حکومت له مو ولېږل.

په خلکو کې يوه عجيبه مينه او جوش و، بيا خاص زمونږ د کلي د نرو او ښځو خو لا بل حال و. په سوونو ښځې زمونږ د کلي راغلې وې ګرمي وه سيند تـه بـه تللې او خلکـو تـه بـه يې د څکلـو اوبـه راوړې. زمونږ د کلي دوه کسه دې جلسې ته نه وو راغلي يو خان بهادر محمد عمر خان او بل هغه خان چا چې د اولې جلسې دپاره ډنډورې وهلې يعنې محمد اکرم خان هغه د جلسې په ځاى مردان تـه ګريفټ پيرنګي تـه تللى و. ګريفټ د مردان اسسټنټ کمشنر و د دوى اشنا و، پـه دې ورځ يې هم دا خيال و چې په حکومت به زمونږ مخ وشي، خو نه يې په حکومت مخ وشو او نه يې پـه قـام کې مخ پاتې شو. دوى پـه ګريفټ صاحب ډاډه وو خو د قدرت کار بېل وي. ګريفټ د دوى پـه ښـه رانغى او دوى هم مونږ سره ګرفتار شول. مونږ تر اخره هم پـه دې پوهـ نـه شو چې اکرم خان د رولټ ايکټ خلاف دا اعلان ولې کړى و، خوخلکو بـه دا ويـل چې ده غوښتل خپـل تـر بوران، خانـان، د پيرنګيـانو پـه ضد راولي او پرنګيان هغوى برباد کړي، خو دى په کې پخپله ونښت.

د اتمانزو دې جلسې پـه پښتنو کې اورولګولـو او ښـه جوش او خروش يې پيدا کړو. بله جلسه پـه تـا کـال کې د ارباب رضا خان لـه طرفـه مقرره شوه، ټولـه علاقـه يې خبره کړې وه مـونږ تـه يې هم بلنـه راکړې وه، د جلسې په ورځ سهار وختي مونږ ور روان شو چې د سر درياب د پله نه پورې وتو «عاشق» د پيښور د ښار ميوه فروش پـه ټانګه کې سور مخې تـه راغى اشـاره يې وکړه ټانګې مـو ودرولې را کوز شو زه عباس خان، بابې جان او احمد استاد يې بېل کړو. او راتـه يې ووې چې د افغانستان او پيرنګيانو جنګ شروع شو، بېګا پـه ټول ملک کې د مارشل لاء اعلان شوى دى.

د تاکال جلسه بنده شوه او د افغانستان لـه طرفـه څه کاغذونـه ما

راوړي دي دا واخلئ او په ملک کې يې وويشئ. کاغذونه يې زمونږ ملګروله را کړل او دی بېرته ښار ته ستون شو او مونږ بېرته کلي ته راغلو.

په دې ورځو کې قاضي شاکرالله د پېرنګيانو له خوا مقرر شوی و چې زمونږ د علاقې دوره وکړي او دا معلومه کړي چې څوک د پېرنګيانو په خلاف او څوک يې په حق کې دي نو دی به ګرځېدو او حجرو، جوماتونو کې به يې د پېرنګيانو په خلاف سخت سخت تقريرونه کول. يوه ورځ زمونږ په حجره کې يې مونږ ته دا قصه کوله چې زه د جنګ په ورځو کې پېرنګيانو عربو ته د مخبرۍ دپاره لېږلی وم، هلته يې په يو جنګي سمندري جهاز کې د يو جرنيل سره ولګولم. د درياب په غاړه د عربو يو کلی و، مونږ يو پيرنګی د سفير په توګه ور ولېږلو هغوی دا پيرنګی مړ کړو چې د هغه د مرګ خبر راغی نو جهاز ته حکم وشو چې په کلي ګوله باري وکړي نو چې هغه کلی يې په ګوله بارۍ د خاورې سره خاورې کړو بيا فوځونو ته حکم وشو چې لاړ شئ وګورئ چې څوک نر يا ښځه خو ژوندي پاتې شوي نه دي، که پاتې وي مړه يې کړئ. زه هم ورسره لاړم چې کلي ته ورسېدم څه ګورم چې يوه ښځه شهيده شوې ده او وړوکی ماشوم يې په تي بوخت دی او روي يې. په ما د دې ماشوم او مور حالت ډېر اثر وکړو چې څه وخت جهاز ته واپس راغلو نو ما د خپل افسر سره خبره کول غوښتل خو هغه دومره په غصه و چې زما شکل ليدل پرې ښه نه لګېدو راته يې ووې چې د مخې نه مې لرې کېږه نو هغه وخت ما په زړه کې دا خبره محسوسه کړه چې د يو پرنګي دپاره يې دا دومره مسلمانان د خدای مخلوق تباه کړو او لا زړه يې سوړ نه دی نو د ځان سره مې فېصله وکړه چې نوره د دوی نوکري نه کوم اول کافر وم، د دې پېښې نه

وروسته مسلمان شوم. دغه شان قاضي صاحب د ټول هشنغر دوره وکړه. د هشنغر خانان، ملایان او عوام ټول دانګرېز مخالف وو، قاضي صاحب د ټولو حالات معلوم کړل. یو زمونږ د کلي د محمد عمر خان په باره کې یې سر کارته لیکلي وو چې په ټوله علاقه کې د ده په شان ستاسو بل وفادار نشته. د دې رپوټ په وجه د محمد عمر خان د سرکار په کور کې لویه ترقي وشوه او ډېر اختیارات یې ورکړل او خان بهادر یې کړو.

د مارشل لاء په وجه زمونږ په خلکو ډېره وېره او هیبت راغی، ځکه چې د اخبارونو په ذریعه به د هندوستان او پنجاب د حالاتو نه خبرېدل چې پېرنګیانو په خلکو څومره ظلم او زور را اخیستی دی. په ټولو کې مونږ ډېر ناکراره وو. هره ورځ به اوازه شوه چې بېګاله به فوځ راځي او د کلي نه به چاپېرېږي. د دې ګونګوسې په اورېدو به زمونږ د کلي نر او ښځې په لړزان شوې او یوه هله ګوله به جوړه شوه، څوک به په کوټو کې ویبش ناست وو، څوک به د کلي نه تښتېدل څوک به په حجرو کې را جمع شول. زه پخپله هم د ګرفتارۍ په وجه به پخپل کور او حجره کې کېناستی نه شوم. په کلي کې به ګرځېدم خلکو ته به مې ډاډګېرنه ورکوله. یوه شپه ډېره ګرمه اوازه وه چې نن به فوځونه خامخا راځي چې یو سړي خبر کړم چې ملک سلطان محمد خان سره د سړو په سړک کې مورچه نیولې ده. او وائې چې د پرنګي نه مونږ هسې هم نه خلاصېږو، یو ځلې مرګ دی زه خو ورسره مقابله کوم. زه په منډه ورغلم چې ګورم ملک صاحب ولاړ دی کرچ یې اچولي دي نوکران یې مورچه کړي دي. دی ورته شابسی ورکوي. ما پرې د لرې نه اواز وکړو چې ملک صاحب څه کوې؟ جواب یې راکړو چې نن ورسره معلوموم. ما ترې پوښتنه وکړه چې توپک درسره دي؟، ووې چې

پنځه ټوپکه، ما ترې بیا پوښتنه وکړه چې څومره کارتوس درسره دي؟. ده وویل چې شل پنځه ویشت دانې به وي ما ورته وویل چې دا دومره کارتوس خو د هغو په یو ټوپک کې وي نو څرنګې په پنځو ټوپکو او شلو کارتوسو د پرنګي مقابله کوې؟ د دې خبرې په اورېدو خو یوه شېبه چپ شو بیا یې نوکرانو ته وویل چې د دوی سره نه کېږي زما اسپه زین کړئ! په اس سور شو او شپه په شپه ازادې علاقې ته لاړو دغه شان زمونږ د کلي ډېر کسانو ځانونه په څنګ کړل.

## زما ګرفتاري:

زه میرې ته لاړم زمونږ زمیندار و عبید الله کاکا یې نوم و. په بله شپه مې هغه د ځان سره کړو او کچي کوپر ته لاړو هلته زمونږ پخواني زمیندار اوسېدل دا د ایجنسی علاقه وه زمونږ د کلي یو مفرور مرتضی خان هم دلته اوسېده. هغه مو ولیده را سره شو. سپنځړو ته روان شو، د هري چند د نهر په غاړه د باډر پولیس تانه وه چې ورنزدې شو سپاهیانو را باندې اواز وکړو چې ودرېږئ تاسو څوک ی؟ مونږ سره بې لایسنسه وسله هم وه په ما وېره راغله خو مرتضی خان ورسره بلد وو، وړاندې شو ورته یې وویل چې خپل یُو، د هغه د پېژند ګلوي په وجه یې مونږ ته د تللو اجازه راکړه. مونږ چې د سپنځړو لارې ته برابر شو او مرتضی خان دوی رانه بېرته ستانه شول او مونږ سپنځړو ته لاړو باباجي خبر شو زمونږ لیدلو له راغی او زمونږ یې ډېر قدر او عزت وکړو. شپه مو په سپنځړو کې تېره کړه سبا د افغانستان په نیت روان شو خلکو دا رایه راکړه چې ستاسو دپاره د پړانګ غر لاره ښه ده، د سیند نه به په زانګو پورې وځئ. او د باجوړ په لاره به ننګ جلال اباد ته لاړشئ، خو زه د زانګو نه وېرېدم ولې چې زما بدن ډېر دروند

و، زما سره دا وېره وه چې د زانګو پړی را باندې ونه شلېږي، او په سيند کې ونه لوېږم. په دې لاره زما د تللو اراده نه وه، خو ملګرو مجبور کړم او مونږ پړانګ غره ته روان شو چې په غره مو د ختلو شروع وکړه، د سمې خلک د غره د مزل نه دي او زه خو د نورو ملګرو نه زيات بې خونده وم چې څه لږ مزل مو وکړو نو ستړی شوم. مونږ ته يو سړي د بوچو لار هم ښودلې وه دا لار لږه اوږده وه، خو اواره وه او په سيند هم په ګودر پورې وتل وو نو ما ملګرو ته په دې لارې د تللو تجويز پيش کړو، بېرته را وګرځېدو او بوچو ته روان شو ناوخته بوچو ته ورسېدو د اکرم خان نومي ملک حجرې ته لاړو اکرم خان ډېر ښه سړی و، زمونږ يې ډېر دارمدار وکړو، شپه مو په ارام تېره کړه سهار مو چې چای وڅښکله په روانېدو کې وو چې ګورو بابا مې را ورسېد راته يې ووې چې بچيه بل ملک ته مه ځه زه ډپټي کمشنر تا پسې رالېږلی يم، هغه وايي چې ده بې له جلسې نه بل څه نه دي کړي او جلسه خو څه جرم نه دی، مونږ ورته هېڅ نه وايو، ما ورته وويل چې بابا مارشل لاء ده، يو خو پرنګيان هسې هم معمولي معاملو کې انصاف نه لري او بيا چې د هغوی برخلاف کار وشي او مارشل لاء هم وي نو د دوی نه د انصاف څه تمه کېدی شي؟ او نه يې په وعدو باور کول په کار دي. ليکن بابا مې د تللو اجازت را نه کړو، د هغه د پرنګي په ژبه باور و، دی پخپله يو ژبې سړی و، دی د پرنګي په فرېب او چل ول کله پوهېده ماته يې ووې چې نه ما سره چې پرنګي کوم لوظ کړی دی، هغه به هېچرې مات نه کړي. زه يې مجبور کړم او بېرته يې کلي ته را ستون کړم. چې ما مندنارې ته را ورسېدو زه يې دلته پرېښودم. او دی اتمانزو ته لاړ. زما په زړه کې وېره وه او دا باور مې نه و چې ګوندې پرنګيان به ما پرېږدي نو زه به تولـه ورځ په مقبره

کې پټېدم. د ماما نداړي سره نږدې يوه لويه مقبره وه او د شپې به کورته را تللم. زه د پېرنګيانو نه پټ نه وم او نه هغوی زما نه بې خبره وو، بابا مې پخپله زما د راتګ نه خبر کړي وو. يوه ورځ زه د غرمې ډوډۍ له کور ته راغلی وم، په حجره کې ناست وم چې تانه دار سره د يولوی ګارډ راغی او زه يې ونيولم. زما د نيولو خبر د بجلۍ په شان ټوله علاقه کې خور شو، څوک چې خبرېدل ماماندړۍ ته به راتلل خپل خپلوان مې مونږ کره را جمع شوي وو. ژړا انګولا يې جوړه کړې وه، د مور مې ډېر حالت خراب و، تانه دار ښه سړی و، ماته يې کورته د تللو اجازت راکړو مور مې بابا ته ښېرې کولې چې که تا دی نه وی را ستون کړی ولې به ګرفتارېده. ما مې مورته ډېره تسلي ورکړه، خو هغې په چغو چغو ژړل. د ځينو کسانو دا نظريه وه چې ته وتښته مونږ به د پوليس سره تر هغه وخته پورې مقابله کوو، تر څو چې ته د دوی له علاقې نه نه يې وتلی. ليکن دوی څه خبر وو چې مارشل لاء ده او ما هم د خپل ځان د بچ کولو د پاره نور خلک په مصيبت کې نه اچول.

مور را تر غاړه وته، ښکل يې کړم او راته يې ووې بچيه په خدای مې سپارلی يې. زه د مور نه را رخصت شوم بهر راته تانه دار منتظر و، د خانمايي تانې ته يې بوتللم او له هغه ځايه يې مردان ته بوتللم د رسېدو سره يې پوليس کپتان ته مخکې کړم. ما سره يو تانه دار او بل کميدان و، دواړه په وردۍ کې وو، او بوټان يې په پښو وو، څه وخت چې دوی زما سره پرنګي ته ورننوتل بوټان يې وايستل ما ته دوی په دې کار ډېر سپک ښکاره شول، د هغې نه پس يې زه جېل ته بوتلم چې زولنې يې راته اچولې، زما په پښو کې تنګې وې، ځکه چې زما باډۍ ډېره مضبوطه وه، پنډۍ مې غټې غټې وې، هر څومره زولنې چې يې راوړې زما په پښو کې رانغلې اخر يې په زور يوه جوړه زما په پښو

کې واچولې، د پرې تنګې وې خرمن پورې کلکې ونښتې. لږ شیبه وروسته یې زه د جیلخانې نه را وایستم هتکړۍ یې هم راته ولګولې په موټر کې یې کېنولم دوه پرنګیان، یو د پولیس افسر او یو ملکي افسر را سره شول د مردان نه یې پېښور ته روان کړم. هغه وخت ما دا خبره محسوسه کړه چې د مارشل لاء په وخت کې چې حکومت څوک وغواړي نو هغه ته ځان ورکول په کار نه دي، ځان سپارل غلطي ده، زه پخپل راتګ پښېمانه او ستومانه وم، خو څه فایده؟ چې ښار ته ورسېدو نېغ یې د پولیس کپتان بنګلې ته بوتللم د موټر نه یې کوز کړم او کې یې نولم پولیس را نه چاپېر وو، لږ ساعت وروسته زمونږ د کلي یو هلک چې د ټېلیفون تار یې پرې کړی و او دوه کاله قید و، هغه یې د کپتان بنګلې ته د ننه کړو، بهر ته یې را ووېست او واپس یې بوتللو بیا یې زه بنګلې ته ننه ابستم چې ګورم لس،دولس پرنګیان را غونډ شوي دي.

زه یې هغوی ته مخکې کړم د ورمخکې کېدو سره را باندې یو پرنګي سوال وکړو چې تا د سرکار برخلاف بغاوت کړی دی. ما ورته ووې چې نه ما هېڅ بغاوت نه دی کړی، بل راته ووې چې ولې تا د سرکار برخلاف جلسې کړې نه دي؟ ما ورته ووې چې په جلسو کې مونږ د بغاوت هېڅ قسم خبرې نه دي کړې، بلکې مونږ سرکار ته خواست کړی دی چې دا قانون دې په مونږ نه جاري کېږي. بل ووې چې ولې ته د سرکار برخلاف په خلکو کې ګرځېدلی نه یې؟ او خلک دې د سرکار برخلاف اوچت کړي نه دي څه؟ ما ورته ووې چې زه خو اکثر په خانانو ګرځېدلی یم او خانان خو د سرکار خیرخواه دي. بل راته ووې چې ولې تا ځان باچا کړی نه و؟ ما وې نه. ده وې ولې خلکو به درته باچا نه وې ما ورته ووې چې کومو خلکو ماته باچا وایه

هغوی بې علمه او ناپوهه خلک دي، هغوی غریبانانو د صدر او باچا فرق نه شو کولی. زه د جلسې صدر وم د هغوی دا ګمان و چې صدر به باچا وي. د دې نه پس یې زه بهر را وایستم. بهر راته پولیس تیار ولاړ وو، رانه چاپېره شول پیاده یې روان کړم د تنګو زولنو په وجه مې پښې زخمي شوې، وینې پرې روانې وې په داسې حال کې یې د چونړۍ کوتوالۍ ته بوتللم او په حوالات کې یې بندي کړم، هلته مې زیرب تانه دار ولیده چې د وېرې ما ته را نزدې کېدی نه شو. په ډېره ډېره به رانه تېرېده. ده ما سره په مشن سکول کې یو ځای سبق ویلی و، او یو ځای په بورډنګ کې اوسېدلي وو او لکه د وروڼو مو ډېر تعلقات وو.

په سبا له یې زه بیا د پولیس دفتر ته بوتللم سید اکبر نومی یو اپریدی انسپکټر و، د دې کوتوالۍ انچارج و، هغه راته ووې چې ستا نن پېښي ده، پاڅه ځه ما ورته ووې، زما پښې ژوبلې دي، زه کچرۍ ته پیاده نه شم تللی. ده راته ووې چې جلسې کولی شې او پیاده تللی نه شې، زه ستا دپاره د سورلۍ انتظام کولی نه شم. ما ورته ووې چې را شه دا زما پښې وګوره، زه د پیاده تللو یم؟ ده راته وویل چې زه دې پښې نه ګورم پاڅېږه روانېږه چې ځو. ما ورته ووې چې زه پیاده نه ځم او که ته مې بېولی شې، بو مې ځه چې زه ورته کلک شوم نو انسپکټر راته نرم شو. د انګرېزانو عجیبه حکومت اوعجیبه نوکران دي چې ما ورته نرمه وې ده راته ګرمه وې اوچې ما ورته ګرمه ووې دی را ته نرم شو. سپاهي ته یې اواز وکړو چې ورشه هلکه ټانګه راوله په ټانګه کې یې کېنولم، پېښۍ ته یې بوتللم. یو ساعت بهر ناست وم، هېچا ته یې مخکې نه کړم او له هغه ځایه یې جېلخانې ته بوتللم، په جېل کې یې یو بارک ته وروستم یو زوړ کمبل

او يو زوړ ترپړی يې را کړل يوه کڅوړه خالي وه ما ترپړی په کڅوړه واچولو ، ما جېلخانه چېرې ليدلې نه وه، او د جېل نه ډېر وېرېدم، زه څه چې ټول پښتانه د جېل نه وېرېدل، جېلخانه چې چا ليدلې نه وي ورته يو بلا ښکاري، خو زمونږ د خدائي خدمتګارو تحريک په وجه ترې اوس څوک نه وېرېږي. زمونږ د قبايلو پښتانه اوس هم د جېل نه ډېر زيات وېرېږي. ما سره چې بارک کې نور قيديان وو د هغوی جامه ډېره ښه وه او تعليميافته ښکارېدل، خو په ما تياره وه، د ځان فکر را سره و ، په هندوستان کې پېرنګيانو ډېر خلک پهانسي او چار ماري کړي و ، زما هم پخپله باره کې دا خيال و شپه او ورځې به مې لمونځونه او وظيفې کولې خدای ته به په سجده پروت وم، زاری به مې کولې که عمري قيد شم خو خير دی چې پهانسي نه شم، څو ورځې چې تېرې شوې د جېلخانې د ملګرو سره بلد شوم پوښتنه مې ترې وکړه معلومه شوه چې ټول د افغانستان خلک وو او پېرنګيانو د جنګ له کبله بنديان کړي وو.

لس دولس ورځې به تېرې وې چې يو سپاهي راغی راته يې وويل چې بهر ستا يو دوست راغلی دی وايي که دده څه سوال و جواب وي چې زه يې کلي ته ورسوم. زما خو اول په زړه کې دا راغلل چې بابا ته سوال و جواب ورکړم چې فضلو لوهار دوی کره زما څه کاغذونه دي، هغه واخلئ او وئې سېزئ، ځکه چې هغه کاغذونه په ازادو قبايلو کې د دورې کولو او يو مرکز جوړولو په باره کې وو، که هغه حکومت ته په لاس ورشي کافي ثبوت دی، خو د لږ فکر نه پس زړه ته دا راغله چې د دې سپاهي تا سره کوم تعلق او کومه همدردي ده چې ستا له غمه خوب نه ورځي، په دې چل دوی ستا راز معلومول. د جېلخانو ملازمان اکثر د سي.ائ.ډي مخبران وي او د سياسي قيديانو سره خو

ډېر دا سلوک کېږي. د هغوی تجربه نه وي. دوی ورته خوله پسته کړي راز ترې واخلي زما ډېر خطونه یې په دې طریقه سي.اېڅ.ډي له ورکړي دي، د اتمانزو هغه هلک چې د ټېلېفون د تار په پرېکولو دوه کاله قید شوی و. په جېلخانه کې په لنګر کې و او په قیدیانو به یې ډوډۍ وېشله هغه نه ما پوښتنه وکړه چې ته یې زما د راوستلو په ورځ د څه دپاره د کپتان بنګلې ته راوستی وې، هغه راته ووې چې په ما جېل والا و او پولیس والا و، ډېر وس کړی و، که تا نه پوښتنه وشي چې دا تار تا د چا په لمسه شلولی و نو ته ورته ووایه چې د عبدالغفار خان په لمسه نو دا دوه کاله قید به دې معاف شي نو ځکه یې زه هغه پېرنګیانو ته پېش کړم هغوی را نه پوښتنې کولې چې دا تار خو به تا د بل چا په وینا پرې کړی وي؟ ماورته ووې چې نه صاحب د هېچا په لمسه مې نه دی غوځ کړی اخر یې را ته ښکاره ووې چې ګوره دا کار به تا د عبدالغفار خان په وینا کړی وې ما وې نه دا کار ما پخپله سلا کړی دی زه دروغ نه شم ویلی.

## زما د بابا او نورو کلیوالو ګرفتاري:

زما د نیولو به شپاړس اووه لس ورځې شوې وې لوړ مازیګر و چې یو ملازم راغی راته یې ووې چې د اتمانزو اته نهه شلې قیدیان یې راوستل. زه لا په دې فکر کې وم چې دا به څوک وي چې لویه ډله یې زمونږ په بارک را ننه ایستل چې کاته مې بابا مې و، عطاالله دادا، شمروز دادا، حیدرخان کاکا، عباس خان، فیض محمد خان، عبدالغفار خان برني، د شمروز مشر ملا صاحب، برهان دادا، لنډه دا چې یوازې زمونږ د کلي په کې اووه نیم شلې تنه وو. زمونږ خو ټول خاندان وو، د اتمانزو ټول خانان وو، اکثر لوی ملایان، پیران او

معززين وو، د رځړو يو څو خانان چې زمونږ خپلوان وو، هغه وو. برهان خان، قلندرخان، د بابړي باچا صاحب او څه کسان په کې د چارسدې وو. دا خلک يې د هغه قاضي شاکرالله په ډايرۍ نيولي وو. بابا مې چې زه وليدم ډېر خوشحاله شو وئې خندل او وئې ويل چې د خدای شکر دی چې تا سره يو ځای شوم. زما په باره کې دا خبره خوره شوې وه چې پهانسي شوی دی، ځکه مې بابا په ليدو خوشحاله شو. زه هم خوشحاله شوم ځکه چې يوازې تنګ شوی وم. دوی راته د خپلې ګرفتارۍ قصه داسې بيان کړه چې ملايانو لا د سهار بانګونه نه وو ويلي تياره وه چې فوځ زمونږ د کلي نه چاپېره شو او د مدرسې سره په دې لوی ميدان کې يې توپې ودرولې ګوره سپايان پرې ناست وو چې څوک به د کوره راووت هغه به يې ونيو او ډاګ ته به يې راوست چې لږه رڼا شوه پوليس په لارو، کوڅو کې خواره شول او خلک به يې له کورونو نه راوېستل ورته به يې ويل چې هر چا کره وسله وې هغه دې راوړي سرکار ته دې تسليم کړي که چا تسليم نه کړه او وسله ورکره وخته چارمارۍ کېږي به خلکو د وېرې نه وسلې راوړې په ډاګ کې يې انبار کړې او خلک يې هم راوستل په ډاګ کې يې د توپو خولو ته مخامخ کېنول چې ډاګ د خلکو نه ډک شو او وسلې له کورونو نه را ټولې شوې ښځې د کوټو سرته ختلې وې ژړا انګولا وه، په ټول کلي وير او ماتم و چې په دې کې ګوره ګان توپو ته وختل او د توپو چړق چړوق شو د ټولو دا يقين شو چې وژل کېږو د قران په سورتونو ويلو مو شروع وکړه، او هلته په کوټو ښځو وېر ته زور ورکړو چې په دې قيامت کې ډپټي کمشنر او څو فوځي افسران راغلل او زمونږ مخکې ودرېدل او راته يې وويل چې اې د اتمانزو خلکو پوهه شئ چې د سرکار ډېر لوی لاس دی يو لاس يې افغانستان کې دی او بل

دلته تاسو ته دی. ما ستاسو کلي د پرش زره روپۍ جرم کړو او يو سل و پنځوس کسه مې ستاسو ونيول پنځوس کسان په دې کې چې هغوی د سرکار برخلاف جلسې کړې دي او سل کسان به تر هغه وخته پورې قيد وې چې تاسو د پرش زره روپۍ جرمانه ادا کړې نه وي. بيا يې مونږ د چارسدې تانې ته راوستو او له هغه ځايه يې په ټمټمونو کې کېنولو جېل ته يې راوستو، بله ورځ مې کاته چې محمد اکرام خان هم چې زمونږ په سر به يې مخبرۍ کولې لاس تړلی راوسته. ده سره پېرنګيانو عجيبه ټوقه وکړه نه ددين شو نه د سادين. اکرام خان مونږ سره په بارک يو ځای و، زما دا خيال و چې پخپلو کړو به پښېمانه وي او لږ شرم به محسوسوي؛ خو هغه دومره کلک سترګی و چې مونږ ترې په اور کې ولاړ وو، چا پورې به يې مسخرې کولې چا سره به يې بحث کاوه او چا سره به نښتی و، جنګ به يې کاوه.

پېرنګيانو ته به يې کنځل کول ويل به يې چې خدای ويلي چې دوی به د مسلمانانو په هېڅ قسم دوستان نه شي، خو چې يوه ورځ ورته زوی ليکلي وو چې زمونږ اسسټنټ مسټر ويلي خانمايي ته په دوره راغلی و، ستا تصوير ته چې په حجره کې ځوړند و، ډېر ډېر کتل. په دې دومره خبره د ده نه د پېرنګيانو هغه ټول بد هېر شول. زوی ته يې وليکل چې ډالۍ ورکول په کار دي، دا ټول د غلامانه ذهنيت اثر و، په غلامۍ کې د انسان نه انسانيت هېر شي او انساني خوبۍ په کې پاتې نه شي.

مونږ سره يو کابلی بندي و چې کله به د توپونو درزهارشو او داسې به معلومېده چې د افغانستان او د انګرېز جنګ دی په جوش او جذبه کې به پاڅېده په ټوپونو به سر شو لاس به يې د تورې غوندې ځنډه او په زوره زوره به يې ويل چې کش کو، کش کو، زمونږ ځومره

کسان یې چې د جلسو کولو په تور نیولي وو، د حکومت دا شک و چې ګوندي زمونږ د افغانستان سره څه راز باز دی او کوم اخبارونه چې د افغانستان نه راغلي دي، هغه دوی په ملک کې تقسیم کړي دي او دوی د افغانستان سره خط او کتابت هم لري. حکومت لګیا و د دې تحقیق یې کولو. بابا مې راته وویل چې سعدالله خان د عمرزو په چل ول زمانه دا معلومات اخیستل چې زمونږ یا ستا د افغانستان سره راز باز شته یا د افغانستان اخبارونه درته راځي. بابا مې وې چې په ما باندې ډېر زور لګولی و، که دغسې اخبارونه تا سره وي یا درته معلوم وي نو ماته یې راوړه چې زه یې لولم. ده غوښتل چې دغه راز معلوم کړي او پرنګي ته مخبري وکړي او خپل مخ پرې وکړي خو حقیقت دا و چې د افغانستان سره زمونږ هېڅ راز باز نه و، نه مو خط و کتابت و، نه مو هغه اخبارونه تقسیم کړي وو، عاشق مېوه فروش چې کوم اخبارونه راوړي وو، په هغه کې ما یو هم نه وو اخیستی هغه بائې جان، اکبر اواحمد استاذ اخیستي وو. د بایي جان د اخبارونو په باب بیا چې را خلاص شوم مور مې راته قصه کوله چې بایي جان خو مونږ په ا؛ی مصیبت ککړ کړي وو، خو خدای بچ کړو، خبره داسې وه چې بائې جان د عاشق مېوه فروش نه اخبارونه اخیستي دي پخپل صندوق کې یې ایښي دي او صندوق یې مونږ کره پرېښی دی او دی د اکبر دوی سره ازادې علاقې ته تښتېدلی و، مونږ ته یې نه وو ویلي چې زما په صندوق کې د افغانستان اخبارونه دي. کله چې پولیس زمونږ د کور تالاشي له راغلي دي دا صندوق قبلې خواته کوټه کې پروت و چې پولیس دې کوټې ته ننوتل ما له هسې فکر راغی ورته مې وویل چې دا کوټه خو زما د ډاکټر زوی ده او هغه خو په فوځ کې کپتان دی د دې کوټې تالاشي ولې اخلئ؟، زما د دې زوی کوټه خو دا

بله ده نو د خدای ښه و پولیس د دې کوټې تالاشي وانه خیستله بلې کوټې ته ورغلل او کله چې مونږ د بابي جان ملا صندوق پرانیسته دا اخبارونه ورنه را ووتل که دا اخبارونه یې دلته موندلي وی، زمونږ د جرم د اثبات دپاره کافي و، بیا چا دا ثابتولی شو او چا منله چې دا صندوق د بابي جان دی. په دې ورځو کې په هندوستان کې ډېر تشدد شوی و، ولې مونږ خپل قوم ته په جلسو کې هر وخت ویلي وو چې تشدد ونه کړئ. زمونږ قوم هېڅ قسم تشدد ونه کړ.

په مونږ نور هېڅ ثبوت نه و، صرف جلسې مو کړې وې او جلسې جرم نه و، په جلسو کې هم مونږ داسې کار یا خبره نه وه کړې چې د قانون په وړاندې جرم وګڼل شي.دوی درې میاشتې کوشش وکړو،خو څه دلیل په لاس ورنغی نو بیا یې په مونږ کې کوشش شروع کړو، احمد استاذ یې دې ته تیار کړو چې ته سرکاري ګواه شه مونږ درسره د معافولو وعده کوو. احمد استاذ پسې به جمعدار راغی دفتر ته به یې بوتلو مونږ به شکمن شو تحقیق مو ورپسې شروع کړو، معلومه شوه چې دا معامله ده. د فیض محمد خان ډېر اشنا و، هغه ته مو ووې چې خبره داسې ده ستا دوست دی ته یې پوهه کړه چې دا مناسب نه دي چې دی یوازې د ځان بچ کولو دپاره ټول ملګري اور ته وغورځوي هغه ورته ډېر منت او زاري وکړې، مونږ هم ورته منتونه وکړل،خو د هغه زړه غورځېدلی و،په جېل کې ډېر تنګ شوی و، زمونږ خبره یې ونه منله پولیس د ده نه بیانونه لا پخوا اخیستي وو، او لیږلي وو،د مارشل لا انچارج پخپله سرجارج روس کیپل و،دی زمونږ چیف کمشنر و هم د هغه پښتنو سره مینه وه او د پښتنو خیر خوا و، هغه وویل چې زه په دوی مقدمه نه چلوم د مقدمې چلولو اجازت یې ورنه کړ، ځکه ډېر وخت په کې تېر شوی و، او حالات بدل شوي وو،یو خان

راته قصه کوله چې مونږ جرګه ورغلي وو چې دا سپین ږیري سپین ږیري کسان پرېږده هغه راته ووې چې ځئ، ستاسو هغه باچا مې هم پرېښوده او نور مې هم ټول کسان پرېښودل.

## د جېلخانې حالت:

د هغه وخت جېلخانې ډېرې سختې وې او خلک به له قیده ډېر زیات وېرېدل خوراک یې د خوراک په شان نه و، جامې یې د جامو په څېر نه وي، او ژوند یې د انسان غوندې نه و، د قیدي نه د سپي ژوند بهتر و، هیڅ بې هېڅه وهل، ټکول، شرمول وو او د قیدي دومره قدرت نه وو چې پوښتنه یې کړې وی چې دا په څه؟ د ډنګرو کار پرې کول چکۍ پرې اوړه کول(مېچن پرې ګرځوي) او ارټ پرې ګرځول.

مونږ سیاسي قیدیان وو، مونږ له به یې چې کوم ساګ راکولو هغې ته به یې سورساګ ویلو، یوه ورځ مې جمعدار صاحب ته په ټوقو کې وویل چې جمعدار صاحب دا خو ډېر ښه ساګ دی د دې تخم به راله پیدا نه کړې چې زه رها شم ځان ته یې بیا کرم هغه راته وویل د دې ساګ په ښه والي کې څه شک نشته تاسو یې لا د پوره خوندو خبر شوي نه یئ دا خو اول د جېلخانې غوایانو ته واچوي چې د هغوی نه پاتې شي بیا یې تاسو له درکوي او دا ساګ په پېښور غوندې سرسبزه علاقه کې نه پیدا کېږي. دا د ډېره اسماعیل خان نه راځي هلته هر ځنګلي بوټي ته ساګ وایي، په کومو لوښو کې به چې دا پخېدل که هغه چا لیدلي وی سره د ډېرې لوږې به یې هم دا ساګ نه و خوړلي د ډوډۍ دا حال و چې ډنګر به هم نه خوړه، د دانو پاکول خو پرېږده کوم قیدي چې چکۍ اوړه کوي هغه وړې وي، د غلې مېده

کولو په وخت کې اومه اوړه خوري او د وزن پوره کولو دپاره په کې په هغه اندازه خاوره ګډوي چې څومره اوړه ده خوړلي وي. بله دا چې جېل والا پوره راشن نه ورکوي نو د ډوډۍ د تول برابر ساتلو دپاره ډوډۍ ښه نه پخوي، مونږ څو ورځې د جېل ډوډۍ خوړه بیا راته د خپلې ډوډۍ اجازت وشو، خو ډوډۍ به مونږ په دروازه کې خوړه په بارک کې اجازت نه و، ځکه چې په دروازه کې یې را نه پیسې اخیستې شوی. جېل والا و مونږ ته دا لویه بې شرمي جوړه کړې وه چې څه وخت به مو په دروازه کې ډوډۍ وخوړه چې جېل ته به یې را د ننه کولو تالاشي به یې اخیسته تالاشي هم صرف زمونږ د سپکولو دپاره او په دې طریقه به یې رانه رشوت اخیسته زمونږ داروغه امیر چند و. هغه بدی خور نه و، ډېټي دا روغه ګنګارام و، هغه بدې خوړلې او مونږ ده ته په حواله وو. زه پخپله د بدو ورکولو خلاف وم او زما نور ملګري یې مخالف نه وو، خصوصاً حاجي محمد اکرم خان او هغه کسان چې هغوی به پان، نسوار یا ګزاري کول، اخر کې د حاجي محمد اکرم خان او جېل والاو په کشمکش زمونږ دا ډوډۍ بنده شوه، کشمکش یوازې هغه وکړو او ډوډۍ په کې د ټولو بنده شوه. مونږ ته په هفته کې یو ځل د ملاقات کولو اجازه وه، ملاقات به هم عجیبه و او لویه هنګامه به وه هر څومره ملاقیاتیان، قیدیان چې به وو را ټول به یې کړو، دروازې ته به یې راوستلو دروازې نه به یې لږ شاته قت په قت ودرولو، زمونږ ملاقات له چې به څوک راغلي وو، هغه به یې د دروازې نه بهر لږ بېرته ودرول یو بل سره به مو په چغو خبرې کولې، ځکه چې ورو به نه اورېدل کېده، مونږ له به هغوی د باهر حال راوړ، ویل به یې چې په خلکو ډېر ظلم او زیاتی دی، خلک تنګ شوي دي تاسو په جېل کې باچایان یئ،دا د جېل ژوند د بهر له

ژوند نه ډېر غوره دی، د جرمانې نه کونډې او يتيمان خلاص دي خو عمر خان او پوليس يو شوي دي، هېڅوک يې په حيا کې پرې نه ښوده،دوی د کونډو او يتيمانو نه جرمانې اخيستلې دا لا څه کوې چې نمبر دارانو درې درې ځله د خلکو نه د جرمانې پيسې وصول کړې او چې څوک لږ څه ووايي پوليس ورسره وي، د خلکو په کورونو ور وخيژي وهي يې، ټکوي او شرموي يې نو خلک د خپلې حيا نه هر څو ځله چې ترې جرمانه غواړې ورکوي يې چې څه وخت د ډېرشو زرو په ځای يو لک جرمانه وصول شوه نو هغه سل کسان يې پرې ښودل نور مونږ پاتې کسان يې هم چارسدې ته بوتللو. د چارسدې د تللو نه مونږ خبر نه وو، جېل والاو زمونږ خپله ډوډۍ بنده کړې وه او هماغه د جېل سور ساګ او د جوارو ترخه ډوډۍ به يې راکوله د چا زړه ته کېده او که نه کېده، که چا خوړه او که نه خوړه چې په دې کې خبر راغی چې لاټ صاحب حکم کړی دی چې دا خلک مې د هغوی د باچا سره ټول پرېښودل مونږ ډېر خوشحاله شو، بله ورځ حکم راغی چې تيار شئ، ستاسو چارسدې ته چالان (تګ) دی. مونږ يې دوه په يو ځنځير وتړلو او يو سپاهي ته به يې حواله کړو د ځنځير يو سر به د پوليس سپاهي سره و، په ټم ټمونو کې يې کېنولو سپاهي مخکې او مونږ به وروسته ناست وو،چارسدې ته يې بوتللو هلته يې په حوالات کې واچولو. په دې قيد کې ما ته د ټولو نه زيات تکليف زما د پښو و، ولې چې د تنګو بېړيو په وجه مې پښې زخمې شوې وې جامې بدلول راته تکليف و،لمبل راته تکليف و، ګرځېدل مې په تکليف و، ملاسته مې په تکليف وه، په ډډه اوړېدل راوړېدل اونمونځ کول راته په تکليف و، په ګرمۍ کې به ګرمې شوې او په يخنۍ کې په يخې شوې. سره د دې دومره تکليفونو يې زما د پښو نه دا بېړۍ ونه اېستلې، زمونږ

ډاکټر یو انګریز و او ښه سړی و ،خو معلومېده دا چې د حکومت نه مجبور و ،ځکه یې زما د پښو نه د بېړيو ایستلو جرات نه کولو. بې له مانه چې د ((رولټ ایکټ)) په ایجي ټیشن (حرکت) کې ځومره کسان بندیان وو ،هغوی ته یې بېړۍ نه وې لګولې او لکه چې نورو سیاسي قیدیانو سره کوم سلوک کېدو مونږ سره یې هغه نه کولو بلکې د اخلاقي مجرمانو هسې یې سلوک را سره کولو.

کوم کسان چې یې زما سره نیولي وو درې نیمې میاشتې پس یې رها کړل یوازې زه یې پرې نه ښودم. بابا مې زما په پاتې کېدو ډېر خپه و ،زما نه یې جدا کېدل نه غوښتل خو مجبور و، د بل واک و، د جدایي په وخت کې را تر غاړه شو او په سترګو کې یې اوښکې راغلې مور مې چې خبره شوه ډېره خپه شوې وه.

خو دې خپګان او مخکې خپګان کې ډېر فرق و، مخکې خو د پهانسۍ او چارمارۍ وېره وه او دا ځل خو که قید وم خو د خلاصېدو امید مې هم و. ډوډۍ به مې مور را لېږله. ما سره به دا ډوډۍ د سپاهیانو او حوالاتیانو هم کېده خو چې خبر شوم چې دا ډوډۍ په بډو راته رسیږي اول خو مې جېل والا و، او پولیس والا و ته ووېل چې ما خو څه ډاکه کړې نه ده زه خو سیاسي قیدي یم د قام او ملک په خدمت کې بندي شوی یم ماته د دې ډوډۍ سرکاري طور اجازت دی پېښور جېل کې یې را کوله تاسو ته په کار دي زما ډوډۍ ماته بې قید او بې شرطه پرېږدئ، هغوی قام، وطن او سیاست څه کولو اخر زه مجبور شوم او مور ته مې جواب ولېږه. چې ما له ډوډۍ مه رالېږه، ځکه چې په بډو ورکولو د ډوډۍ خوراک ماته ګناه ده.

هغې زما خبره ومنله او ډوډۍ یې بنده کړه ما به هماغه د جېلخانې ډوډۍ خوړه څو ورځې پس یې پېښور جېلخانې ته بدل کړم، د تللو په

وخت کې ما سره په چالان کې نور اخلاقي قيديان هم وو، چالان خو پېښور ته په خپلو پښو ځي ما پوليس والاو ته وويل که چېرې ستاسو خوښه وي، په ټمټمونو کې به لاړ شو ستاسو او د دې نورو قيديانو كرايه به هم زه وركړم، هغوی ونه منله دوی د کرائې د پاسه نغد رشوت هم غوښته. ما وې ښه ده پخپلو پښو ځو. زما خپلوانو او دوستانو ډېر راته ووې چې ولې پياده ځې. دا خلک به څه وايي؟ مونږ د خلکو د پېغورونو له کبله ډېر غلط کارونه کوو. ما ورته وويل چې زه د خلکو خبرو ته نه ګورم کار ته ګورم که کار درست وي، خلک چې هر څه وايي زه به يې کوم او که کار غلط وي نو که خلک هر څه وايي زه يې نه کوم. لنډه دا چې په ډېرو خوارو مې رضا کړل اور خصت مې کړل چې د سپاهيانو باور راغی چې زه پياده تللو ته تيار يم پخپله خبره پښېمان وو، خو بيا کله کېده. مور خوينديې او خپلوانې چې زما د تللو نه خبرې شوې وې، قاضي خېلو ته راغلې وې او د سړک په غاړه په يو کور کې زما د ليدلو دپاره ناستې وې. د ليدلو، کتلو په دوران کې زه پوهـ شوم چې دوی پوليس والا و ته بډې ورکړې دي. که زه مخکې خبر وی ما به د دې ليدلو نه انکار کړی وی. د ميا ګوجرو لاره لنډه وه په دې روان شو چې اګرې ته ورسېدو مير قادر خان چې وروسته بيا خلکو نواب صاحب بللو او د هغه پلار راغلل او مونږ يې خپلې حجرې ته بوتللو د ډوډۍ انتظام يې را له وکړو ما ډېر انکار وکړو، خو هغوی پرې نه ښودم او مونږ ټولو ته يې ښه ډوډۍ راکړه بيا يې رخصت کړو.

کوز مازيګر پېښور ته ورسېدو د چارسدې نه پېښور اتلس(۱۸)ميله دی دا ټوله لاره مونږ پخپلو پښو ووهله. سعدالله دوی په دې ورځو کې په ښار کې سبق ويلو زمونږ نه خبر شوي وو، مخې له

راغلي وو، او ماله يې ډوډۍ راوړې وه شاهي باغ سره مو ډوډۍ وخوړه وخت نا وخته و جېلخانې په داسې وخت کې قيديان نه اخلي زه يې کوتوالۍ ته بوتلم او يو ډېر ګنده ځای کې مې شپه تېره کړه سبا له يې جېل ته بوتلم او ورداخل يې کړم جېل والا و زه د نورو قيديانو سره په يو بارک کې بند کړم. ډوډۍ به يې هم د جېلخانې راکوله په دې ورځو کې انسن صاحب ډپټي کمشنر و، زما د بابا سره ښه بلد و، بابا مې ورته ورغی او ورته يې وويل نو زما د خپل خوراک څښاک اجازه يې راکړه چې د خپلې ډوډۍ اجازه يې راکړه زه يې ددې بارک نه د جېلخانې د دروازې د خولې سره هغه پخواني حوالات ته بدل کړم. ايکي يوازې يې په يو بارک کې بند کړم، ځانله وم خو ډوډۍ مې خپله خوړه ډوډۍ به يې د حوالات د دروازې خولې ته راوړه کېښوده ماته به يې اواز وکړو زه به راغلم او هماغلته به مې خوړه زه په بارک څه چې په دې ټول حوالات کې يوازې وم، خو ډوډۍ به يې هلته نه را پرېښوده. په دې ورځو کې د لوند خوړ ريدي خان هم قيد و، بروس صاحب قيد کړی و. دی يو پيرنګی و چې د خانانو او پوليس برخلاف و، او د دوی په ايمان ډېر ښه پوهېده.د جېلخانې داروغه هم د بدې خوارو خانانو ټاکو و بدې خور نه و، رشوت ورکوونکو پسې به ګرځېدو او په کار به يې لګولو. د ريدي خان هم حال بد و، د حوالات په ختو يې لګولی و، ټول به په ختو لړلی و، د خوراک حال يې هم ښه نه و، ورځ يې ډېره بده وه تر څو چې زه هلته وم ما د خپلې ډوډۍ نه په يره يره څه برخه ورکوله. شپږ مياشتې پس زه د ډېرش زرو روپو په ضمانت رها کړی شوم.

## د قيد نه خلاصېدل:

چې کلي ته راغلم خلک زما ليدو او په خير راغلي ته راتلل او په ډېره مينه محبت به را سره يو ځای کېدل. د رولټ اېکټ ايجي ټېشن د خلکو نه ډېره قرباني واخيسته او ډېر ځاني او مالي نقصانونه يې خلکو ته ور واړول خو دومره وشو چې په خلکو کې يې څه احساس را پيدا کړو، په پښتنو کې د سياسي شعور اغاز وشو. زه چې د کلي د حالاتو نه خبر شوم. زه په جېلخانه کې دومره نه وم ربړول شوی څومره چې زمونږ د کلي خلک ربړول شوي وو. مور مې راته قصه کوله چې ته ونيول شوې رڼا ورځ را باندې تياره شوه. په ځان نه پوهېدم چا راته ووې چې هر څه خدای کوي هغه کېږي او ورپسې پوليسي کپتان صاحب چې څه کوي هغه کېږي، کور کې نغدې روپۍ نه وې کالي(زيورات) ډېر وه ستا کالي وو،د ډاکټر صاحب کالي وو،زما کالي وو، دا ټول مې را غونډ کړل خدمتګاره مې د ځان سره واخيسته، چارسدې له د پوليس کپتان صاحب کورته لاړمه او پخپل لاس مې هغه ټول کالي ورکړه. ما زړه ډېر ټينګولو خو نه ټينګېدو ژړل مې.پوليس کپتان ښه سړی و،ما له يې ډېره تسلي راکړه راته يې وې چې مورې خپه کېږه مه زوی به دې خدای را خلاص کړي.

## د دوهم واده تياري او بيا ګرفتاري:

ما له مور او پلار هماغه د پخواني ټبر په کلي او هماغه خاندان کې کوژدن کړې وه. اوله ښځه مې د مشر خان خورزه وه او دا يې لور وه.مور او پلار مې د واده په بندوبست کې وو، د واده نېټه يې اېښې وه.زما او عباس خان په ذمه جوړه اخيستل وو،عباس خان زما د ورکوټوالي دوست او زما زړه ته ډېر نژدې و،مونږ اول نوښار ته لاړو

هلته زمونږ د کلي هلکانو تعلیم کولو او بابو سلطان محمد سره مو ولیدل. بابو سلطان محمد یو پنجابی و، ډېر ښه سړی و، او ډېر قوم پرست و،زما ډېر اشنا و. زما د هغه اشنایي په دې وه چې هغه هم د پښتنو بچو له په ډېره مینه تعلیم ورکولو. زه هم د دې عقیدې سړی وم چې د پښتنو بچي تعلیمیافته شي، دپېرنګیانو نوکر و، استعفائې ورکړې وه او په نوښار کې یې یوه یتیم خانه او یو سکول جوړ کړي وو، زه او بابو صاحب ناست وو خبرې مو کولې یو سړی راغی مونږ سره نژدې په لمانځه ودرېدو ما سره شک شو بابو صاحب ته مې وویل چې دا سړی څوک دی؟ په ده خو زما شک پیدا شو هغه ډېرخوش اعتقاده سړی و، ویل یې دا خو ډېر ښه سړی دی لمونځونه کوي، زمونږ خپل سړی دی ما ورته وویل چې هلته خو دوه کمرې خالي پرتې دي. دی دا لمونځ هلته ولې نه کوي چې دلته مونږ ته نژدې ولاړ دی. بیا زه په جېلخانه کې وم چې خبر شوم چې بابو صاحب ګرفتار شو. هغه سړی د سي.ائ.ډي انسپکټر و،ده پسې د پنجاب نه رالېږل شوی و. د حکومت په بابو صاحب دا شک و چې دی لوټونه جوړوي. چې د دې تحقیق یې وکړو بابو صاحب یې سره د سانچې ګرفتار کړو.

مونږ د هغه ځایه پېښور ته لاړو جوړه مو واخیسته کلي ته را روان شو چې سر دریاب ته را ورسېدو او له پله نه پورې وتو چې ټم ټم ته ختلو د پولیس تانه دار مو د سپاهیانو سره ولیده چې په ټم ټم کې ناست او د پله خواته را روان دی چې مونږ ورنه تېر شو دوی هم را پسې را وګرځېدل مونږ مخکې دوی را پسې دي په دې مونږ شکمن شو چې څه چل خو دی چې تانې ته را ورسېدو مونږ ته یې اشاره وکړه. مونږ ودرېدو تانه د سړک په غاړه وه مونږ یې تانې ته بوتللو

هلته نور افسران زمونږ په انتظار کې ناست وو چې مونږ یې ولیدو پخپلو کې بېل شو او څه پس پسی یې سره وکړو، بیا مونږ ته راغلل راته یې وویل چې تاسو پسې د پورته نه حکم راغلی دی. مونږ تاسو بېرته ښار ته بیایو، مونږ ورته ووې چې د څه حکم دی مونږ خو پوهه کړئ. هغوی جواب راکړو چې مونږ هم خبر نه یُو، مونږ سره چې کوم سامان و هغه مو هغوی ته حواله کړو او مونږ د پولیس سره واپس ښار ته روان شوُ. ماښام تیاره ښار ته ورسېدو نېغ یې د شارټ صاحب بنګلې ته بوتلو.

دی د پېښور د ضلعې د سي .ائ.ډي لوی کپتان و، بنګله یې مشن کالج ته مخامخ وه، مونږ یې په سړک ودرولي وو، د پوما میاشت وه، ډېر ساړه وو ماخوستن شو په ولاړه نور سترې شو، نه زمونږ دپاره د ناستې څه انتظام و، او نه د پولیس دپاره.

مونږ پولیسانو ته ډېر ووې مونږ به تر کومې پورې په دې یخنۍ کې په سړک دلته ولاړ یُو، لاړشئ څه تلوار پرې وکړئ چې زر پېښ شوُ. د پولیس افسرانو کې دا جرات چېرته و، هغوی مونږ ته بهادران وو، پرنګي ته یې ایمان نه و. د مسلمانانو لوی افسر به دومره د خدای نه نه وېرېده، څومره چې به د پرنګي نه وېرېده.د خدای دومره تابعدار او وفادار نه و، څومره چې د پرنګي و، مونږ دا خبرې کولې چې د بنګلې نه یو پولیس افسر راووت او د دوی سره وپسېدو بیا یې زه او عباس خان یو د بله بېل کړو، د جدا کېدلو په وخت کې ما ته عباس خان ووې چې څه به وایُو. ماوې چې رښتیا رښتیا به وایُو. معلومېده چې دغه پولیس افسر دا حکم راوړی و چې ما او عباس خان بېل کړي، هغه یې مشن کالج طرف ته روان کړو، او زه یې دې خوا ستېشن ته چې کوم سړک تللی هغې ته راوستلم. زه په ولاړه ډېر سترې شوی وم، یخنې مې هم کېده. یو پل و د هغه دپاسه کېناستم د

عباس خان نه خبر نه شوم؛ خو زه یې ماسخوتن تېر شارټ صاحب ته مخکې کړم. شارټ صاحب په یوه کوټه کې د انګېټهۍ خواته ناست و، په انګېټهۍ کې ښې دړې پرتې وې، کوټه ښه توده وه، زما د یخنۍ نه ژامې ګړزېدې. زه هم تود شوم طبیعت مې ښه شو، انګېټهۍ سره بله کرسۍ وه شارټ صاحب راته اشاره وکړه. په هغه کرسۍ کېناستم. شارټ ډېر قارجن سړی و، پوښتنې یې رانه شروع کړې ما ورته چې څه رښتیا او حقیقت و، بیان کړل. ما چې څه وخت خبرې شروع کړې نو ده راته ووې چې ورو ورو وایه بیا مې چې رو رو خبرې کولې هغه راته ویل په زوره وایه. ما ورته ووې چې ورو وایم نو وائې په زوره وایه چې په زوره وایم نو ته وایې چې ورو ورو وایه، ته راته یوه طریقه وښیه چې زه هغسې ووایم. زما په خبره خو قار ډېر ورغی خو سړی چپ شو. چې بیان مې ختم شو دکوټهۍ نه را ووتم پولیس را ته منتظر ولاړ وو،زه بیا هغه زوړ اشنا زوړ ځای د صدر کوتوالۍ ته بوتللم. په حوالات یې وردننه کړم، یو څو زړې د سپږو ډکې شړۍ پرتې وې، هغه مې واغوستې او د سیمټو په یخ فرش څملاستم. په بله شپه سید اکبر خان زاړه اشنا د ډپټي کمشنر بنګلې ته بوتلم، هغه ته یې وړاندې کړم، ډپټي کمشنر انسن صاحب و، ډېر ښه سړی و،ما ورته د خپلې بې ګناهۍ خبره وکړه، هغه ډېره تسلي راکړه او سید اکبر خان ته یې ووې چې ده سره ښه سلوک کوئ او ښه ډوډۍ ورکوئ،د صاحب حکم و چې بېرته راغلو هغه د سپږو شړۍ یې راته بدلې کړې او ډوډۍ یې هم راته ښه شروع کړه.اته نهه شپې زه په دې حوالات کې بند وم چې یوه ورځ پولیس راغی او زه یې د پولیس لوی افسر ته وروستم، شارټ صاحب ته یې بیا مخکې کولم. د هغه د دفتر سره یو وړوکی غوندې ځای و، زه یې هلته کېنولم زه خپل فکر کې ډوب تللی وم چې یو سړی مې تر نظره شو چې ګړندی راغی او د دفتر چک یې وچت کړو، په منډه ور ننوت، ما خو ښه ونه لیده ولې شک مې پرې

راغی چې قاضي شاکرالله و. اردلي نه مې پوښتنه وکړه چې دا سړی څوک و؟ هغه راته وویل چې زه يې نه پېژنم دوی که څوک پېژني هم په اسانۍ يې نه ښيي، ما ورته ووې چې ولې قاضي شاکرالله نه و؟ ده راته وويل چې و، ما نور ټول فکرونه پرېښودل بس د دفتر دروازې ته مې سترګې ونيولې چې قاضي صاحب به کله راوځي چې ورسره سلام عليک وکړم چې بله ورځ بيا منکر نه شي. شارټ د صوبې د مخبرانو لوی مشر و، او د ټولو مخبرانو تعلق ده سره و. زه په دې وېرېدم هسې نه چې په بله لار رانه لاړ نه شي، ځکه چې دوی هم احتياط کوي، په يوه لار چې لاړ شي بيا په هغې نه راځي. خدای ته زارۍ کوم چې خدايه قاضي صاحب په همدې لاره واپس راولې چې سترګې مو سره مخامخ شي، ده خو عوام پرېږده ملايان هم دوکه کول ما وې چې حقيقت يې خلکو ته ښکاره کړم. قاضي صاحب ډېر ساعت وروسته راووت چې ما له نزدې راغی زه ور پاڅېدم سلام مې ور واچاوه چې زه يې وليدم رنګ يې تک زېړ شُو، او ورته مې وويل چې قاضي صاحب ته خو مسلمان شوی وې دا بيا کله کافر شوې سترګې يې ښکته کړې هېڅ يې ونه ويل چابک را نه لاړ.

## رهايي او دوهم واده:

لږ ساعت وروسته زه پوليس د مخبرانو کشر کپتان ته چې د جهانګيري کلي و، مخکې کړم هغه راته ووې چې ته ازاد يې. ماورته ووې چې زه تاسو نيولی په څه وم اواوس مې پرېږدئ ولې؟ هغه راته وويل چې مونږ نوکران يُو، مونږ څه ويلی نه شُو زمونږ واکدار دننه ناست دی. ته دا پوښتنه د هغه نه کولی شې په دې وخت کې د پېرنګيانو ډېر رعب داب و، او بيا د شارټ صاحب چې قهرجن هم و، چا ورته خبره نه شوه کولی، خو چې څوک په اخلاقي جرم کې نه؛

بلکې په سیاسي جرم کې جېلخانه ووینې وېره يې د زړه لرې شي. زه نبغ شارټ صاحب ته ورغلم هغه ما ته وې چې څه وايې، ما وې چې دا زه دې په څه نیولی وم او اوس مې ولې پرېږدې؟ هغه راته وویل چې په نوښار کې چا بم غورځولی و، زمونږ دا شک و چې دا کار تا کړی دی، خو د تحقیق په نتیجه کې معلومه شوه چې ته بې ګناه يې نو ځکه مو اوس پرېښوې نو ما ورته ووې چې دا تحقیق خو زما د نیولو نه مخکې هم کېدی شو، زه خو ددې ملک سړی وم، که مجرم وی نو زما نیول خو څه ګران کار نه و، ته ګوره دا لس دولس ورځې مو زه وکړولم زه انسان یم، حیثیت لرم، هر څه مو راته پایمال کړل. ده راته وویل چې تاسو د څه حیثیت لرئ. دا زمونږ خوښه ده که مو نیسو، که مو پرېږدو. ما وې ښه چې داسې ده نو د خدای په امان. زه ترې راووتم وروسته يې را پسې ډېرې چغې ووهلې، خو زه ورونه ګرځېدم. له هغه ځایه پیاده ښار ته راغلم. زما د خلاصېدو نه څوک نه و خبر. د چیني حکیم صاحب دکان ته ورغلم چې ګورم قاضي شاکرالله ګرم تقریر شروع کړی دی چې خدای داسې ویلي او رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي چې زه يې ولیدم سپک پاڅېده او هغه ځای يې پرېښوده. زه له هغه ځایه کلي ته راغلم د عباس خان پوښتنه مې چې وکړه هغه زما نه مخکې رها شوی و، او کلي ته تللی و.

زه دا منم چې بدیشي حکومتونه بغیر تشدد او د خلکو د وېرولو نه چلېدی نه شي خو دا څیزونه په حاکم او محکوم کې نفرت هم پیدا کوي. که په دغه وخت کې پرنګي د زور او ظلم په ځای مونږ سره نرمي کړې وی د دوی په ضد به دومره تحریکونه نه شروع کېدل او نه به د هغوی رعب داب دومره زر کم او ختم شوی وی، ځکه چې هغوی به د خپل رعب د ساتلو دپاره په پښتنو څومره ظلم کولو هماغومره به د خلکو د مقاومت په وجه د دوی رعب داب ته نقصان رسېدو.

لکه چې ما وړاندې ذکر کړی دی. زما لومړنی تېر د غني او ولي

دوی مور په وبا کې مړه شوې وه په دې ورځو کې زما دا بل واده تیار و، په ۱۹۱۹ع کال کې مې واده وشو، د پښتنو ودونه له رواجونو ډک وو، ما د هغو اصلاح غوښتله نو ځکه مې د ځان نه شروع وکړه او د شریعت مطابق مې اول ډولۍ راوړه په سبا له مې ولیمه وکړه او یو وخت مې ښه ډوډۍ د کلي خلکو، دوستانو او خپلوانو ته ورکړه. خلکو راته د نیندرې په دود روپۍ را اچولې، خو ما ونه منلې. که څه هم په ډېرو زمونږ پورې وې. په ډوډۍ کې مو د رسم و رواج د اصلاح کولو په باره کې تبادل خیال د خلکو سره وکړو. په هغه وخت کې دا دود و چې په واده کې به ټولو کسبګرو ته واده ته راغلو مېلمنو پیسې ورکولې، چا به آیینه ښوده، چا به سپېلنی لوګی کولو، چا به ډول واهه چا به ګلونه راوړي وو، چا به رباب کې چاربیته ویله، په مېلمنو به یو لُوټ مار و، که د چا زړه به و او که به نه و، خو د خپله شرمه به یې دا حساب کسبګرو ته ادا کولو. زما په واده کې د اول ځل دپاره دا کارونه ما بند کړل او کسبګرو ته مې دا وویل چې تاسو به مېلمنو له تکلیف نه ورکوئ ستاسو د ټولو حق به زه ورکوم ولې چې تاسو زما کسبګر یئ دغه شان ډمې به ګډېدې مېلمنو به که د چا زړه و او که نه پیسې ورکولې.

سازیان به وو. جنجونه به وو، ټوپکې او غربینونه به خلاصېدل لنډه دا چې ډېر فضول خرڅونه به وو. زما په واده کې دا ټول ما بند کړل او دا مې ددې دپاره وکړل چې د قام او ملک دپاره ډېر نقص دی. او دا خلک ترې تنګ و، خو چا کې د دې د پرېښودو اخلاقي جرات نه و. ما د دې شیانو د مخنیوي ابتداء د خپل واده نه وکړه او خلکو ته مې هم وویل چې تاسو هم دا بې ځایه رواجونه پرېږدئ.

***

# خلافت، تحریک او هجرت د خلافت کمیټې جلسه په دهلي کې، هجرت، مونږه په کابل کې، باجوړ ته واپسي، دیر کې او د خالونو* مدرسه

په دې ورځو کې د ترکانو په ټول وطن د اتحادیانو قبضه وه، مصطفی کمال او د هغه ملګرو د دوی برخلاف جنګ شروع کړی و، په هندوستان کې د خلافت دپاره مسلمانانو یو لوی ایجي ټېشن(تحریک) شروع کړی و، ځای په ځای یې کمیټي جوړې کړې وې، جلسې او جلوسونه به کېدل، د هندوستان مسلمانان عجیبه خلک وو. په جنګ کې د ټولو نه زیات د پېرنګیانو امداد دوی کړی و، د دوی مشرانو ورله برتې ورکړې وې. ملایانو، زیرګانو او مذهبي پیشوایانو د پرنګي په طرفداري او د ترکو برخلاف فتوې ورکړې وې. خلافت دوی تباه کړی و، که دوی دا فکر مخکې کړی وی ډېره فایده به یې رسولې وه، خو د نشت نه دا هم ښه و.

## دهلي کې د خلافت کمیټي جلسه:

د ۱۹۲۰ع کال په نیمایي د خلافت کمیټي له طرفه په دهلي کې د یوې لوئې جلسې اعلان وشو، او ورسره د دې خبرې اعلان هم وشو

* په اصل کې دا «خال» کلی دی چې خال ربات ورته وایي، خال خان له کلی دی او ربات ځان له؛ خو په سمه کې ورته خلک خالونه وایي.

چې هغه خلک به په دې جلسه کې شریکېږي چې کفن به یې په سر تړلی وي. زه هم په دې جلسه کې شریک شوم ډېره لویه جلسه وه، د هندوستان د هرې برخې مسلمانان ورله راغلي وو، عزیز هندي یو جذباتي نوجوان هلک و، هغه په جلسه کې د هجرت کولو تجویز وړاندې کول غوښتل د اکثرو مشرانو دا رایه نه وه.هغوی ډېر پوهـ کړو چې اوس د دې تجویز د وړاندې کېدو موقع نه ده، خو هغه منع نه شُو او خپل تجویز یې وړاندې کړو. مسلمانان خو یو جذباتي قام دی. دې ته یې ونه کتل چې د دې نتیجه به څه وي؟ د وړاندې کېدو سره یې تجویز پاس کړو. د هجرت خبر چې په ملک کې خور شو، پېښور ته ورو ورو وړې وړې قافلې را روانې شوې، په پېښور کې د دوی د امداد او ارام دپاره د هجرت کمیټي جوړه شوه، دا قافلې چې به له هندوستانه راتللې په سټېشنونو به یې خلکو ډېر تاوده استقبالونه کول، او په پېښور کې به یې جلوسونه وتل، پېرنګیانو خو اول د هجرت سخت مخالفت وکړو، ځکه چې هغه ځان دپاره دا یو خطرناک کار ګڼلو ولې چې پوهـ شُو چې خلک په هېڅ شان نه منع کېږي نو بیا یې دا کوشش و چې څومره کېدی شي هغومره ډېر خلک په هجرت لاړ شي، پښتانه خو د نورو خلکو په شان نه وو، هغوی چې دا تماشا لیده ډېر اثر یې پرې وکړو، ملایانو به هم وعظونه کول چې هجرت فرض دی او که چا هجرت ونه کړ، ښځه یې طلاقیږي. داسې حالت په ملک کې پیدا شول چې بې له هجرت بلې خبرې اورېدو ته څوک تیار نه وو، د حکومت له خوا به هم قسم قسم اوازې خورېدې نر، ښځې هجرت ته تیار شول.

## هجرت:

چې چا به هجرت نه کولو، خلکو به ورته په بد نظر کتل نو ما د

يوې جلسې انتظام وکړ، زمونږ په کلي کې لويه جلسه جوړه شوه، ډېر خلک په کې را جمع شوي وو، په جلسه کې مې دا ووې چې تاسو لږ صبر وکړئ. زه به يو څو کسان کابل ته ولېږم چې هغوی مونږ ته خپل چشم ديد حالات راوړي، او مونږ په حالاتو خبر او پوهـ شو نو بيا به د هجرت په باره کې فېصله کوو. ما چې دا تجويز پيش کړو، زمونږ د کلي عادل شاه نومي يو پير د هغې سخت مخالفت وکړو، وې ويل چې مونږ خپلې ښځې گوره گانو ته نه شو پرېښودلی که ته هجرت ته تيار نه يې مه ځه؛ خو نور مه منع کوه، مونږ که خدای ته منظوره وي سبا وختي روانيږو. اور په هندوستان کې ولگېد او وسوځېدله په کې پښتونخوا، که بره وه که کوزه تالا والا شوه او کروړونه روپی نقصان وشُو، خصوصاً چې د سندهـ د خلکو قافله چې د جونيجو صاحب په مشری کې پېښور ته را ورسېده په پښتنو کې اور ولگېدو نر ښځې په هجرت روان شول. دې خلکو کې پېرنگيانو هم خپل ډېر مخبران ولېږل چې هلته په مهاجرو کې پراپېگنډې وکړي چې دا خلک هلته پاتې نه شي او بېرته خپل ملک ته راشي. هجرت هجرت نه و، يوه هنگامه وه، تش جذبات وو، هېڅ سوچ فکر نه و، د هجرت په اصل مطلب څوک پوهـ نه و. دا خو محمد علي او شوکت علي امان الله خان ته دا پېغام لېږلی و چې ته د هجرت د منلو اعلان وکړه چې په پېرنگيانو باندې د دې خبرې اثر پرېوځي او زمونږ د خلافت تحريک ته په کې فايده ورسيږي.

اخر زه هم مجبور شوم د قوم په ملگرتيا د يوې وړوکې قافلې سره چې تيول ځوانان وو، د شوقدر او مومندو په لار پياده افغانستان ته روان شُو، اوله شپه مو په کړپه راغله مونږ چې روان شُو او ډول غږېدو نو ډېر خلک را سره وو، خو چې د شوقدر نه د کړپې په لار

روانېدو او ډول سرنا را نه پاتې شُو نو بیا ډېر کم خلک مونږ سره کړپې ته ورسېدل. او چې په کړپه کې په مونږ په کاڼو لُوټو شپه راغله نو بیخي ډېر کم پاتې شُو، خیر په کړپه کې په تیرو کې مو شپه تېره کړه، سحر چې پاڅېدو زه د یو څو ملګرو سره د ترنګزو د حاجي صاحب لیدلو ته د هغه ځای ته روان شوم او نوره قافله د ماسل خان ځای ته روانه شوه. د حاجي صاحب د لیدلو نه پس مونږ هم د ماسل خان ځای کوډا خېلو ته راغلو او په بله ورځ له هغه ځایه را روان شوُ د کامې ګرداو ته راغلو، سردار خان د مومندو خان د خپل قام سره زمونږ مخې ته راغلی و، زمونږ یې ډېر ښه استقبال اوکړو، کلي ته یې بوتلُو، زمونږ یې ډېر دارمدار وکړو. سبا له جلال اباد ته روانېدو سردار خان مونږ ته ډېر وویل چې همدلته پاتې شئ، تاسو مهاجر او مونږ انصار یُو، مونږ به دا خپل جائدادونه تاسو سره نیم کړو، د کابل خلک ستاسو دومره امداد نه کوي. دا زمونږ خبره درته ښه ده. د هغه مو ډېره شکریه وکړه، مونږ ورته ویل چې مونږ خو ځمکو پسې نه وو راغلي نو د هغه نه را رخصت شوُ، جلال اباد ته راغلو په جلال اباد کې سردار هاشم خان ګورنر و، هغه سره مو ولیدل، خبرې اترې مو سره وشوې، هغه زه د ځان سره په جلال اباد کې پاتې کړم او نوره قافله رخصت شوه.

هاشم خان سره د مهاجرینو د دې لویو لویو قافلو ډېره سودا وه، ډېر پرېشانه و، او په دې کوشش کې و چې څه تدبیر وشي چې دا هجرت نور بند شي، ځکه چې په افغانستان کې دومره خلک کله ځائېدی شئ. د پېرنګیانو هم د ډېرو خلکو په هجرت کولو کې همدا مطلب و چې په افغانستان کې به هم دوی ته د استوګنې مشکلات پیدا شي او هم افغانستان ته څو ورځې وروسته هاشم خان کابل ته

زما د تللو بندوبست وکړ.و مونږ د جلال اباد نه کابل ته د خوګیانو د نملي په لاره روان شُو، په ګندمک کې عادل شاه پیر د خپلو ښځو، نرو ملګرو سره په مخه راغلل چې واپس وطن ته را روان وو، ما ورته ووې چې پیر صاحب دا ښځې مو بېرته ګوره ګانو ته رواني کړې؟ ده راته وویل چې څه وکړو هلته هم د ښځو له لاسه تنګ وو چې ځۍ هجرت وکړئ اودلته هم ښځو تنګ کړو چې په دې ملک کې ګوزاره ګرانه ده بېرته یې روان کړي یو.

## مونږ کابل کې:

مونږ چې کابل ته را ورسېدو د لاهوری دروازې سره د ېرې وني ولاړې وې مهاجرینو دلته اړولي وو، مونږ هم د دوی سره یو ځای واړول زمونږ د پاره حکومت بېل انتظام کړی و، خو زه د عامو مهاجرینو نه نه بېلېدم. په کابل کې د ټول هندوستان د مهاجرینو یوه شپاړس کسیزه کمیټي وه چې زه او رضا خان ارباب هم د هغې ممبران وو.

د دې کمیټي په ذریعه به د مهاجرینو ارتباط د افغانستان د حکومت سره و، څه وخت چې د مهاجرینو د قافلو تعداد شلو دېرشو زرو ته ورسېدو نو حکومت کمیټي ته وویل چې افغانستان خو یو وړوکی ملک دی دا دومره خلک په کې ځایدی نه شي، تاسو مهرباني وکړئ، دا هجرت بند کړئ. نومونږ عباس خان ولېږو چې دا خبره هلته پېښور ته ورسوي، هغه تر جلال اباده پورې لاړ او دا خبر یې پېښور ته ورسولو.

امان الله خان مونږ ته وویل چې زه د پرنګي د جنګ زور نه لرم که تاسو ورسره په کومه طریقه جنګ کولای شئ او خپل ملک ازادولی

شئ، زه ستاسو مرسته ضرور کوم ځکه چې پیرنګی تور مار دی، هیڅ اعتبار پرې نشته چې زما خوا کې پروت وي، زه ترې په ډاډه زړه خوب نه شم کولی. دا وېره راسره وي چې اوس به مې خوري، هغه مونږ ته دوه لارې مخکې کړې، ویل که نوکري کوئ، مونږ به ستاسو ځوانان برتي کړو، بیلې پلټنې به درته جوړې کړو، تربیت به درکړو که بیا مو د انګرېز سره جنګ کولی شو، وئې کړئ که ځمکې غواړئ نو په کندوز او مزار شریف کې مونږ ځمکې لرو، هغه به درکړو، تاسو خپله یوه کالوني جوړه کړئ او خپل انتظام پخپله ځان له وکړئ، کومه سیمه چې مونږ تاسو ته درکوو، په هغې کې به ټول واک اختیار ستاسو خپل وي او که د بېرون حکومتونو سره تعلقات ساتئ هم ساتلی شئ. مهاجرینو ته یې وویل چې که تاسو نوکري غواړئ هم او که ځمکې غواړئ هم او که تجارت غواړئ هم درسره امداد کوم. مونږ به راغلو خپلو ملګرو سره به مو سلا مشوره وکړه، د ټولو مهاجرینو په اتفاق به مو دا خبره غوره کړه چې بس مونږ ته دې عسکري ټرینینګ راکړل شي.مونږ برتي کېږو، مونږ به د پلټنو تشکیل هم جوړ کړو، مونږ به راپاڅېدو چې د حکومت سره خبره فیصله کړو چې زمونږ دپاره انتظام وکړي نو د پېرنګیانو مخبرانو ته چې په هجرت کې راغلي وو، موقع په لاس ورغله، یو مخبر به په کې پاڅېدو او ویل به یې چې مونږ خو په ځمکو پسې نه وو راغلي، نه نوکرو پسې راغلي وو، مونږ په جهاد پسې راغلي وو چې زمونږ د هجرت غرض نه ترسره کېږي او افغانستان د پرنګي سره جنګ نه کوي نو نور مونږ دلته څه کوو، زه خو بېرته ځم. هغه پسې به یو بل مخبر پاڅېده هغه به ووې چې بالکل ټیک خبره ده، زه هم ځم چې دی به پاڅېدو یوه ډله به ور پسې پاڅېده، دغسې به په ډله کې ماتې ګډه

شوه، یو کس به ما پسې را منډه کړه چې ته د حکومت سره خبرې مه کوه، یوځل راشه چې بېرته به راغلم، تول به تللي وو. بیا ما دوی ته دا خبره وړاندې کړه چې راځئ چې دا ځمکې واخلو، او زه هم درسره ځم مګر دوی دې ته هم تیار نه شول.

څه رنګ چې پښتانه په راتلو کې ګړندي وو، دغسې په واپس تلو کې هم ګړندي وو نو دغه شان ورو ورو مهاجرین بېرته ستنېدل ډېر لږ کسان پاتې شو، هغوی په افغانستان کې استوګنه غوره کړه چا نوکرۍ واخیستې، چا ځمکې.

دغه شان هجرت ناکام شو، د هندوستان مسلمانانو خصوصاً پښتنو ته د دې هجرت ډېر تاوان ورسېده، افغانستان ته یې هم نقصان وشو. د امان الله خان په ورکولو پسې پېرنګیانو له همدې وخت نه ملا وتړله فایده یې یوازې انګرېز ته ورسېده.

زما څه ملګري تاشکند ته لاړل چې روس به مونږ سره د هند په ازادولو کې مرسته وکړي. زه په کابل کې د یو څو ملګرو سره پاتې شوم. یوه ورځ زه د امان الله خان ملاقات ته تللی وم، ډېرې خبرې مې ورسره وشوې، په خبروخبرو کې مې ورته دا ووې، تا له ترکي درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي، خو خپله ژبه نه درځي. زما خبرې په هغه باندې ډېر اثر وکړو او وعده یې را سره وکړه چې زده کوم به یې. کله چې له افغانستانه واپستل شو، زه بمبۍ ته د ده لیدلو ته ورغلم نو هلته یې ما سره پښتو کې خبرې وکړې.

په کابل کې زمونږ تعلقات د نادرخان او دده د کورنۍ سره ډېر وو، دی پخپله وزېر دفاع و او ورور یې سردار عبدالعزیز خان د معارف وزیر و، یوه ورځ یې ماته ووې، څه ورشه د حبیبئې لیسه(کالج) وګوره چې کالج ته ورغلم نو د یو جماعت له هلکانو نه مې دا تپوس وکړو چې((شما کیستید؟)) دوی به راته ووېل

چې «افغان هستم» بیا مې ورته ووې چې: ملک شما؟ دوی به ووې افغانستان. بیا مې ورته ووې «افغاني میداني که افغان هستي» نو غلي به شو غږ به یې نه کاوه نو ما به ورته وویل چې څنګه افغان یئ او څنګه د افغانستان اوسېدونکي یئ چې خپله ژبه نه درځي. دغه شان مې محمود طرزي صاحب سره چې د افغانستان وزیر خارجه او ډېر لایق سړی و، په یوه لویه مېلمستیا چې ده د مهاجرینو دپاره کړې وه، د ژبې بحث راغی یو سړي ورته پوښتنه وکړه، دا څنګه افغانستان دی چې افغاني په کې نشته. طرزي صاحب وویل چې پارسي هم زمونږ د ملک ژبه ده. نو ما ورته وویل چې طرزی صاحب پښتو خو د افغانستان ملي ژبه ده او د اکثریت ژبه ده، په ټوله دنیا کې د اکثریت ژبه هم سرکاري وي، هم دفتري، هم تعلیمي وي.

## باجوړ ته واپسي:

د مهاجرینو د تللو نه وروسته مونږ په یو سرای کې یوه کوټه په کرایه ونیوله هلته به اوسېدو، څو ورځې پس زه نادرخان ته ورغلم، ورته مې ووې د هجرت معامله خو ګډه وډه شوه، دلته خو نور زمونږ د مقصد دپاره څه نه کېږي. زما اراده ده چې د باجوړ ازادو قبایلو ته لاړ شم او هلته د تعلیم کار شروع کړم. او د پښتنو د بچو د روزلو دپاره قومي مدرسې جوړې کړم. ستا سلا مشوره څه ده؟ هغه زما دا رایه خوښه کړه ما سره یې په دې خبره اتفاق وکړو. زه د یو څو پاتې ملګرو سره د کابل نه جلال اباد ته راغلم. په جلال اباد کې مې د هاشم خان سره هم سلا مشوره وکړه، هغه هم زما د دې کار سره په ډېره خوشحالۍ اتفاق وکړو. او باجوړ ته یې زمونږ د تګ انتظام هم وکړ، یو اس یې راکړ. مونږ اوله شپه د جلال اباد نه سلام پور ته ورسوله هلته مو د سلام پور د باچایانو سره شپه تېره کړه. د سلام پور نه مو بله شپه د مومندو په علاقه کې کاره پاڼ ته ورسوله. د کاره پاڼ

ملاصاحب ځای ته چې زمونږ پخوانی تعلقدار و، لاړو له هغه ځایه چمرکنډ ته لاړو، په چمرکنډ کې د هندوستان د مجاهدینو هغه ډله ډېره وه چې د سید احمد بریلوي صاحب او اسماعیل شهید صاحب د شهادت نه وروسته بونیر ته تللي وو، هلته یې مرکز نیولی و، دوی په بونیر کې په دې خبره پوهـ شوي وو چې د دوی امیر نعمت الله د پېرنګیانو سره راز باز لري نو خپل امیر یې وژلی و. دوی دوه ډلې شُو، یوه د پنجابیانو او بله د بنګالیانو. د پنجابیانو ډله چمرکنډ ته راغلې وه، په چمر کنډ کې دوی بېکاره پراته وو، او د هندوستان امداد ته یې سترګې نیولې وې.

ډوډۍ به یې وار په وار پخوله او دې ته دوی مساوات وې همدا د هندوستان امداد د دوی د تباهۍ باعث شوُ. قصه به یې وروسته پخپل ځای کې راشي. ما ورته وویل چې تاسو دوه کچرې لرئ او د مومندو په دې علاقه مېوه دانه نشته. ددې کنډاو نه اخوا کونړ دی. هلته مېوې ډېرې دي که تاسو په دې کچرو مېوه راوړئ او دلته یې خرڅوئ ستاسو خرڅ به تری ووځي او د هندوستان د امداد له احتیاجه به خلاص شئ، د چمرکنډ نه کوټکي ته لاړو، د کوټکي خانان(یو ځګرورخان او بل زړه ور خان) وو، ډېر ښه سړي وو، او ښه پښتانه وو چېرته چې به د پرنګي خلاف غزا وه دوی به په کې شریکېدل، د دوی سره مو خبرې وشوې. له دې ځایه بیا شینګر ګل ته لاړو د شینګر ګل مولانا امیر الدین زمونږ مهربان او قوم پرست سړی و، هلته مو د خلکو سره ولیدل بیا په سالارزو او ماموندو وګرځېدوُ.

## دیر کې د خالونو مدرسه:

د هغې نه پس د دیر علاقې ته لاړو، خالونو نومي کلي ته راغلو، د خالونو په کلي کې اخونزادګان او پراچګان اباد دي، دا دواړه کورنۍ ډېرې روشنفکره او ښه خلک دي. دواړه قوم پرست او دولتمند وو، د

دوی په مرسته مونږ دلته یوه مدرسه جوړه کړه، او دوی ته مو وویل چې د دې مدرسې د انتظام د پاره مخفي صاحب را وغواړئ، او مونږ ترې دیر ته لاړو. دې مدرسې ډېره زر ترقي وکړه او په لږه موده کې یې شاګردان څلور سوو ته ورسېدل د ملکنډ پولټېکل ایجنټ د پښتنو د بیدارۍ سخت مخالف و، هغه د دیر نواب وغوښت ورته یې وویل چې دې مدرسو او تعلیم مونږ ته څومره مشکلات پیدا کړل، ته ځان ته دا مشکلات مه پیدا کوه، دا مدرسه ورانه کړه، د دیر نواب راغی مدرسه یې ورانه کړه اور یې ورته کړو.

مونږ چې دېر ته ورسېدو نو د شاهو بابا د زوی سره چې د ترنګزو د حاجي صاحب ماذون و، او په ترنګزو کې مونږ سره اشنا شوی و، دېره شو، هلته مو څو شپې وکړې، یوه شپه د نواب صاحب استاذی صفدرخان راغی راته یې وویل چې نواب صاحب غوښتی یې ماوې اوس شپه ده ناوخته دی، سبا به لاړ شو، هغه ووې چې همدا د شپې یې غوښتی یې. زه ورسره روان شوم چې ورغلو نواب صاحب زما په انتظار کې یوازې ناست و، هېڅوک ورسره نه و، په خبرو کې یې راته وویل چې پټ په زړه کې مې انګرېز ډېر بدې شي ته چې څه غواړې زما هم دغه ارزو ده، خو زه څه وکړم میاګلی (د سوات باچا) یې راته کېنولی دی چې ایله حرکت وکړم راباندې را اچوي یې که سبا د قام او خلکو په مخکې ما ستا د خبرو مخالفت وکړو چې ته خپه نه شې. زما د زړه مینه او پته مرسته به تا سره وي. سبا له چې خلک را غونډ شول خبرې وشوې د نواب صاحب د ناستې ځای ته نژدې په یوه بالاخانه کې عبدالمتین خان او د تور خان مې له ورایه ولیدل او له لرې مو سلام علیک وکړل. دوی نواب بندیان کړي وو. د نواب د ځایه مونږ د شپې برول باندې ته لاړو هغه وخت دلته د دیر د نواب ولیعهد به اوسیدو مونږ غوښتل چې هغه وګورو خو ومونه لید، له هغه ځایه باړوي ته لاړو هلته مو «تاتې» خان ولید. دده زمونږ د کلي غلام حیدر

خان سره ډېره راشه درشه وه، د هغه اشنا و، هلته زما هم ورسره تعلق پیدا شوی و. هغه ته مو ووې چې مونږ د نواب د کشر زوی لیده غواړو، هغه راته دا خبره وکړه چې هغه خو اوس ویده دی، ځکه چې د شپې ویښ وي او څوکۍ کوي. زمونږ د هغه سره هم لیدل ونه شول، او بیا ((تور)) ته لاړو. د هغې نه پس ((جار)) ته راغلو د ((جار)) خان ډېر ښه سړی و، پخپله په کور کې نه و، د کلا دروازه مو وټکوله ورئې را ته ببرته کړو، بي بي راته د ډوډۍ انتظام وکړو. د جارخان زما د تره د زوی سربلند خان سره ډېر تعلق و، هغه به همېشه مامندناړۍ ته راتلو او هغه سره به یې ډېرې ورځې تېرولې. سهار خار ته لاړو. د خار خان ډېر پوهه، بهادر او ښه پښتون سړی و. د هغه سره مو څو شپې وکړې، یوه ورځ زه بهر وتلی وم چې ببرته راغلم د خار خان ته مې ووېل چې خان تاسو خو لا بیا هم زمونږ نه ښه ی چې د قران نه خو څه فایده اوچتوئ هغه وې څنګه؟ ماوې که عمل پرې نه کوئ بو سارې خو پرې ساتئ. په هره بو ساړه قران شریف پروت وي چې څوک ورنه بوُس پټ نه کړي تاسې خو پرې څوکیداري کوئ. مونږ خو پرې نه عمل وکړو او نه څوکۍ. له خاره مونږ ((ناوه ګۍ)) ته لاړو. د ناوه ګۍ خان ډېر ښه سړی و، خو ساده و، له هغه ځایه ((غازي اباد)) ته لاړو، د ترنګزو حاجي صاحب سره مو ولیدل دلته ما سره یو ملګری چې فقیر نومېده او اصلاً ترکانړ و، مادلته غازي اباد کې پرېښی و نور ټول ملګري رانه په لاره کې یو، یو خپلو کورونو ته تللي وو، مونږ دواړه یې یوازې پرېښي وو. زه خو د افغانستان نه په دې اراده راغلی وم چې دلته په ازادو قبایلو کې مدرسې جوړې کړم او د قوم تربیت وکړو، دا کارونه خو یو سړی نه شي کولی په ډله کېږي او زمونږ هغه ډله خوره شوې وه.

❋❋❋

# ذهني انقلاب، تعليمي او اصلاحي جدوجهد، د اتمانزو ازاد هاى سكول او انجمن اصلاح الافاغنه، د خلافت كميټې صدارت

د افغانستان او ازادو قبايلو حالت چې مې وليدو او پنځلس كاله مې په هندوستان، قبايلو او افغانستان كې غرزې پرزې وكړې نو په دې نتيجه ورسېدم چې انقلاب د منډې كار او دومره اسان څيز نه دى.انقلاب د سړې سينې كار دى. انقلاب عمل او پوهه غواړي، انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې د پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته يې اماده كړي، د انقلاب دپاره د اشخاصو ضرورت دى. ته ګوره چې زمونږ جذباتي ملګري په څومره جوش راوتلي وو، ټول لاړل خواره شول نو كېناستم د ځان سره مې ښه فكر وكړ. زه په دې نتيجه ورسېدم چې زمونږ د قام نه د تجارت خوا ته توجه شته نه د صنعت خواته نه د زراعت خواته او نه د تعليم خواته. د بلې خوا نه په رسمونو، رواجونو كې تر غوږونو پورې ډوب دي. په خانه جنګيو اخته دي داسې قام انقلاب نه شي كولى او دا قام د دې بلاګانو نه خلاصول په كار دي چې سياسي شعور په كې پيدا شي او دا كار يوه پر امنه فضا غواړي.تر دغه وخته پورې زه په دې عقيده وم چې دا ټول كارونه انقلاب غواړي تشدد راته د انقلاب نژدې او د كاميابۍ لار ښكارېده،خو د تجربې نه وروسته راته معلومه شوه چې د جنګ په وخت كې

اسونه نه تياريږي نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا به کار کوم اول به د انقلابي اشخاصو د تعليم او تربيت د پاره قومي مدرسې جوړوم نو ځکه اتمانزو ته راغلم. زه چې له هجرته بېرته راغلم د هغو مدرسو د بېرته جاري کولو کوشش مې کولو چې پېرنګيانو د جنګ په زمانه کې بندې کړې وې.

د ۱۹۲۰ع کال اخرنۍ مياشتې وې چې په عليګړ کې په مسلم يونيورستي کې څه تقريب و. زه او زما دوست قاضي عطاالله خان يې هم بللي وو. مونږ دواړه عليګړ ته لاړو، په دې وختونو کې به کانګرس او خلافت يو ځاى جلسې کولې زمونږ خيال و چې د عليګړ نه وروسته به مونږ د خلافت په جلسه کې شريکېږو، خو د مصروفيت له کبله د خلافت جلسې نه پاتې شُو، واپس کلي ته راغلو، په عليګړ کې زمونږ د صوبې ډېرو هلکانو تعليم کولو د هغوى سره مو تبادل خيالات وشُو. په دوى کې ډېر داسې کسان وو چې د ترک موالات اوحکومت سره د عدم تعاون د پروګرام لاندې يې کالج پرېښى و. په دې ورځو کې زما مشر ورور ډاکټر خانصاحب تقريبا پنځلس کاله پس د انګلينډ نه واپس راغى. ده چې څه وخت ډاکټري پاس کړې وه، جنګ نښتى و. هماغه وخت کې په فوځ کې برتي شوى و، او اوس کپتان و او د مردان په ګايډ کې لګېدلى و.

## د اتمانزو ازاد سکول ۱۹۲۱ع او انجمن:

مونږ په ۱۹۲۱ع کال کې د دوستانو په امداد په اتمانزو کې د ازاد سکول بنياد کېښوده چې په دې سکول کې قاضي

عطاالله، میا احمد شاه، حاجي عبدالغفار خان، محمد عباس خان،عبدالاکبر خان اکبر، تاج محمد خان، عبدالله شاه او خادم محمد اکبر زما ملګري وو. د مدرسې تر څنګه مونږ د پښتنو د غلطو رسمونو او رواجونو د اصلاح کولو د تشدد نه د منع کولو او په کې د قامولۍ د مینې او محبت د پیدا کولو په غرض د اصلاح الافاغنه په نامه یو انجمن جوړ کړی و. د دې انجمن ممبران دا کسان وو: ۱-محمد عباس خان۲-صدر عبدالغفار خان(دواړه د اتمانزو)۳-حاجي محمد اکرم خان د خان مای۴-جمعدار نور محمد خان د ترنګزو۵-محمد زرین خان د ترنګزو۶-عبدالاکبر خان د عمرزو۷-غلام محي الدین خان د تنګي۸-فخر قوم میا صاحب۹-میاجعفرشاه د زیارت۱۰-فضل اکرم د نرۍ قلا۱۱-فضل ربي د بدرګې۱۲-میا احمد شاه د قاضي خېلو۱۳-میا عبدالله شاه۱۴-خادم محمد اکبر د چارسدې۱۵-تاج محمد خان د چارسدې۱۶-مولانا شا رسول د امازو ګړۍ۱۷-شاد محمد خان د مېرزو۱۸-شیربهادر خان د کوترپان۱۹-جلیل خان د جلیل۲۰-خوشحالخان د باریکاب۲۱-شاپسندخان د چارغلۍ۲۲-امیر ممتاز خان۲۳-بیرسترمحمد جان د بنو۲۴-محمدرمضان د ډېرو۲۵-حکیم عبدالسلام دهري پور۲۶-میا صاحب د پکلۍ۲۷-قاضي عطاالله د مردان۲۸-ثمین جانخان د محب بانډې۲۹-علي اصغر خان وکیل د هزارې۳۰-افندي صاحب د ملاکنډ۳۱-یو ملګری د ګدر حمزه خان.

زمونږ په سکول کې استاذان کم وو نو ما به پخپله هم هلکانو ته درس ورکولو بلـه دا وه چې مونږ دومره روپۍ نه

لرلې چې استاذانو ته مو دبلې تنخواګانې ورکړې وې. په لاهور کې د خلافت کانفرنس و، مونږ ورغلي وو. د بنو د میراخېل کلي امیر مختارخان هم دې کانفرنس ته راغلی و،د هغه سره مو ملاقات وشو، هغه خپل دوه زامن چې اسلامیه کالج کې یې په بې،اې کې تعلیم کولو او د ترک موالات په وجه یې پرېښې و. زمونږ سکول ته د استاذۍ دپاره را وبخښل د مشر نوم امیر ممتاز خان و او د کشر نوم مقصود جان و، مقصود جان زمونږ د سکول اول هېډماسټر و او کله چې دی دوباره تعلیم دپاره کالج ته لاړ امیر ممتاز د ده په ځای هېډ ماسټر شو.د پېرنګیانو زمونږ مدرسه نه خوښېده چې کوم استاذ به ورله راتلو نو اول به یې و وېرولو که په وېره به ونه شو نو بیا به یې د ډېرې تنخواه لالچ ورکړو او دغسې مونږ ته یې استاذان نه پرېښودل مقصود جان چې اتمانزو ته راتلو نو پولیس ډېر کړولی و، په دې وختونو کې مونږ د خلکو د پوهولو او په کې د مینې، محبت، ورورۍ اوقامولۍ د پیدا کولو د تعلیم د شوق د پیدا کولو او د قام نه د غلطو رسمونو او رواجونو د ورکولو او د قامي مدرسو دپاره د مرستې حاصلولو په غرض کلي په کلي، کور په کور، دورې شروع کړې او په خلکو کې مونږ ژوند او احساس را پیدا کړ. زما د دورو نه پرنګي سره وېره پیدا شوه. سرهملټن ګرانټ زمونږ د صوبې چیف کمشنر و، هغه زما بابا خان ته وغوښت ورته یې وویل چې دا زوی دې څه کارونه کوي؟ ټول خلک غلي ناست دي او دی لګیا دی مدرسې جوړوي او دورې کوي زمونږ برخلاف خلک لمسوي منع یې کړه. د ده سکتر سعدالله خان د

عمرزو یو خان و، هغه مې بابا ته ویلي وو چې ته ګوره چیف کمشنر ستا څومره احترام کوي؟ څومره چې ستا مني هغومره د چا نه مني ته دده د خوشحالۍ دپاره خپل زوی منع کولی قدرې نه شې؟ بابا مې راغی زه یې کښنولم راته یې وویل چې زویه د دې کارونو نه لاس واخله ځان دې په مصیبت اخته کړی دی؟ سر کار هم خپه کېږي چې نور څوک یې نه کوي ته یې څه کوې؟ ما ورته وویل چې ښه ده بابا چې ته وائې مه یې کوه نه به یې کوم، ډېرو خلکو خو لمونځ پرېښی دی. زه به یې هم پرېږدم خو ته به بیا ماته نه وائې چې لمونځ ولې نه کوې؟ بابا مې راته وویل لمونځ خو فرض دی ما ووې بابا دا علم خوهم فرض دی، بابا مې وویل ښه نو څه کوه او بیا چیف کمشنر ته ورغی ورته یې وویل چې صاحب مونږ ستاسو د خوشحالۍ دپاره خپل دین نه شو پرېښودلی.

## د خلافت کمېټۍ صدارت:

په پېښور کې د خلافت په کارکنانو کې اختلاف پیدا شوی و،دوه ډلې په کې جوړې شوې وې، یوه ورځ به د حاجي جان محمد صاحب ملګرو په شاهي باغ کې عامه جلسه جوړه کړه، په جلسه کې به یې تجویز وړاندې کړ چې حاجي جان محمد صاحب د خلافت کمېټۍ د صدارت دپاره ډېر موزون دی، تاسو ته منظور دی خلکو به چغې کړې چې منظور دی. حاجي صاحب د قام او ملک دپاره ډېر خدمتونه کړي او قیدونه یې هم تېر کړي وو.د پېښور یو سید و، سبا له به د هغه ملګرو

جلسه جوړه کړه او تجویز به یې مخکې کړو چې سید صاحب اهل رسول دی او ډېر خدمتونه یې کړي دي د خلافت کمېټۍ د صدارت دپاره د ده نه مناسب سړی نشته تاسو ته منظور دی؟ خلکو به چغې کړې چې هو! منظور دی.

دغه شان دا قصه روانه وه. یوه ورځ به یو صدر و، بله ورځ به بل صدر و، ورځ په ورځ دا کشمکش زیاتېده، په مېنځ کې هېڅ قسم جوړه نه کېده او د خلافت تحریک ته نقصان رسېده. په یو سړي یې اتفاق نه برابرېده. د پېښور خلک د کار ډېر تکړه خلک وو، خو دې اختلاف د کاره اېستلي وو او همدارنګه چې په ډلو کې اختلاف پیدا شي که ډېر ښه او زورور خلک وي هم بې کاره شي او د هغوی طاقت د یو بله په غورځولو کې صرف شي. په خدمت کې اختلاف نه راځي، اختلاف د خودغرضۍ نه پیدا کېږي. زه چې به کله نا کله پېښور ته د خلافت دفتر ته ورغلم نو دواړو ډلو به راته کیسې کولې. د دواړو ډلو زما سره مینه وه ماته به یې ویل چې زمونږ د دواړو ډلو اتفاق په تا راتلی شي، راشه ته زمونږ دا صدارت واخله. زما په صدارت کې څه دلچسپي نه وه، د صدارتونو او عهدو شوقي نه وم. د دې شیانو نه به لرې تښتېدم اخر هغوی مجبور کړم. او ما د هغوی صدارت په دې شرط ومنلو چې په صوبه سرحد کې څومره چنده ټولېږي نو هغه به همدلته د دې ځای د خلکو په تعلیم لګیږي. پنجاب ته به یې نه لېږي. ځکه چې په هغه وخت کې به زمونږ په صوبه کې په زرګونو روپۍ ټولېدې او پنجاب ته به تلې د پنجاب لیډرانو به پرې مزې کولې. هغوی دا شرط ومنلو او زه د خلافت کمېټۍ صدر شوم.

عبدالقیوم خان سواتی یې سکتر شو. مونږ چې د سکول له کاره فارغ شو نو ما او میا احمد شاه په ملک کې دورې شروع کړې. پښتنو ته زراعت سپک کار ښکارېدو تجارت هم ورته سپک کار ښکارېده او ویل به یې دا د بنیا ،بقال اوهندو کار دی، د خان تعریف به دا و چې یره فلانی ډېر لوی خان دی د خپل پټي، پوله ورته معلومه نه ده، ما به وې هلکو تاسې فکر وکړئ دا خان دی که دا خر دی چې خپل پټی نه پېژني. مونږ د یوې خوا نه په دوره ګرځېدو او د پښتنو د ذهنیت اصلاح مو کوله، د بلې خوا نه مو خپلې متې را ونغښتې پخپل پټې کې به مو پخپله کار کولو، زما د تعلیم ملګری عبدالحلیم دغه وخت د زراعت په محکمه کې مقرر شوی و، د هغه په کمک ما یو د مېوې باغ جوړ که، تر دغه وخته پورې سبزي او ترکاري له ښاره کلو ته راتلله ما چې باغ جوړ کړو سبزي او ترکاري به مې هم کرله او خلکو ته به مې ښودله چې ګورئ د خپل لاس کار څومره برکتي وي او تاسو خو لږ ورته ځیر شئ د پښتنو په خاوره کې هر قسم مېوه،ترکاري او غله کېږي چې زراعت ته د خلکو مخه شوه ما په اتمانزو کې دګورې منډئې پرانسته. نورو خانانو او تربورانو به را پورې ملنډې وهلې چې ته ګوره د بنیاګانو کار یې شروع کړ. زمونږ تجارت دغه وخت ټول د هندوانو او پراچګانو په لاس کې و، مسلمانان به په تجارت شرمېدل. زمونږ ګټه وټه به ټوله هندوانو او پراچګانو وړه. ما د چا د پېغورونو پروا نه کوله هره میاشت به مې یو ځل خانانو ته چای ورکړې را جمع به مې کړل اوورته به مې وویل چې ستا د ځمکې چې څومره قیمت دی ما د هغې په لسمه برخه سرمایه

په منډيي کې بنده کړې ده، تا ته چې هغومره سرمايه په کال کې ګټه کوي ما ته يې په مياشت کې کوي، بيا به مې د منډئي حساب کتاب وروښودلو دا به مې هم ورته ووې چې مونږ سره په منډيي کې منشيان، ډروايان او پانډيان هم کار کوي او ځان ته نفقه ګټي او دا به مې هم ورته ويل چې وګوره دا تجارت څومره د ارام کار دی، او څومره په کې فايده هم ده، زميندارې کې څومره نا ارامي ده، د پټواري احتياج دی، د تحصيلدار متازې ده، ټول عمر مو اسمان ته سترګې نيولې دي، کله وايو چې خدايه باران وکړې او کله وايو چې خدايه شين يې کړې. دوی به مې دغه شان د تجارت په ګټه پوهـ کول په لړه موده د پښتنو تجارت ته مېلان پيدا شو او زمونږ تجارت زمونږ په لاس راغی. پښتانه ډېر ښه قام دی. دوی په افسانو او کيسو ډېر نه پوهېږي که هر ښه کار چې په دوی کوي نو ځان ورته نمونه کړه چې ته روان شوې دوی هم درپسې روانېږي. په دې طريقه زمونږ په ملک کې زراعتي او تجارتي ترقي وشوه. د دې کوششونو او عملي نمونه کېدلو په نتيجه کې په خلکو کې د زراعت او تجارت شوق زيات شو او دومره انقلاب راغی چې نن زمونږ علاقه کې زراعت دومره مخکې دی او تجارت دومره ترقي کړې ده چې د هغه وخت ډېر معمولي کسان اوس لوی کسان دي او لوی لوی زراعتي فارمونه، تجارتخانې او کارخانې يې جوړې کړې دي.

***

جېل او د جېلخانې کیسه،
درې کاله قید، دفعه چالیس کې گرفتاري (۱۹۲۱ع)،
د چمرکنډ مجاهدین، ډېره اسماعیل خان جېل
ته بدلي، د جېل بدمعاشي، زما مشقت،
جېل کې پرې جنبې، جېل کې زما گناه،
ډېره غازي خان جېل ته، د جېل ژوند،
د پښتنو په هکله غلطه پراپېگنډه،
زما د غاښونو مرض، سیاسي قیدیان او
احتجاج، لاهور جېل ته د علاج دپاره،
د جېل سلوک، ډېره غازي خان ته واپسي،
د کور نه خط، مذهبي تعصب، بیا د علاج
دپاره لاهور جېل ته، مطالعه، ډېره غازي خان
جېل ته واپسي، د یو پیر صاحب کیسه،
د مور مرگ، د سیاسي قیدیانو جنگونه،
میا والي جېل ته بدلي، رهایي

## دفعه ۴۰ کې گرفتاري:

۱۹۲۱ع کال د دسمبر په اوولسم تاريخ مونږ لګيا وو، په مدرسه کې مو د فټبال ميدان جوړولو، چې پوليس راغی او زه يې په دفعه ۴۰ (ايف، سي، ار) کې ونيولم او د پېښور جېل ته يې بوتلم. د حوالات په ځای يې جېلخانه کې واچولم، زما د نيولو نه وروسته يې زما نور ملګري هم نيولي وو، زه يې په هغه چکی کې بند کړم، چې هلته به يې د جېل بدمعاشان اچول، چې چکی ته ورننوتم سخا او ګنده بوی مې تر سپېږمو شو چې کټل مې د بولو ډک ښانک په کې پروت و، زه بېرته راووتم، د جېلخانې افسر ته مې ووې چې دا چکی ډېره ګنده ده، پاکه يې کړئ. هغه راته وويل چې دا جېلخانه ده ننوځه چکی ته. چکی ته ننوتم ورپسې را پسې بند کړو. شپه او ورځ په دې چکی کې وم. ډوډۍ به يې هم په جنګله کې را کوله .صرف د جېلخانې بنګي (چوړي) به د صفايی دپاره راغی نو مونږ ته به ور لرې شو او چې صفايي به يې وکړه، نو ور به يې را پسې بند کړو. د صفايی په وخت کې به هم سپاهي د چوړي په سر ولاړ و. په سبا راته معلومه شوه چې زمونږ نور ملګري هم په دې چکو کې بند دي، په دې چکو کې مونږ لس کسان قيديان وو. زه عبدالاکبر خان اکبر، عبدالقيوم خان سواتی، زمونږ نه بغير نور اووه واړه پېښوريان وو، عبدالاکبر خان اکبر يې په دې تور نيولی و، چې ته بالشويک يې او دا باقي نور مونږ خلافتيان وو، په جېل کې د ظالمانه رويې په وجه زمونږ ملګرو ضمانتونه ورکړل او رها شول عبدالاکبر خان اکبر ته ما اجازه ورکړه چې ته خو خلافتي نه يې ته هم ضمانت ورکړه، يوازې ما او عبدالقيوم سواتي د ضمانت ورکولو نه انکار وکړو او پاتې شو چې دوی پوهه شول چې مونږ

ضمانت نه ورکوو نولس ورځې پس يې له دې چکۍ نه وا يستلو او ډپټي کمشنر ته يې مخکې کړو، ډپټي کمشنر هم عجيبه سړی و او زما مقدمه هم عجيبه غوندې وه، ډپټي کمشنر چې زما د جرم پوښتنه وکړه پوليس ورته وويل چې ده خو يو هجرت کړی و او بل اوس ازادې مدرسې جوړوي .

ډپټي کمشنر ورته وويل چې يو ځل يې هجرت کړی دی نو بيا مو ولې پرېښوده؟ ما ورته ووې چې د افسوس ځای دی چې ملک خو مو رانه واخيسته اوس مو پخپل ملک کې استوګنې ته نه پرېږدئ. په دې باندې (صاحب بهادر) نور هم غصه شو پوليس ته يې وويل، ويې باسئ جېلخانې ته يې بوځئ. درې کاله مې قيد کړو، پوليس راوستم او جېل والاو ته يې حواله کړم، عبدالقيوم سواتی يې هم زما غوندې درې کاله بامشقته قيد کړی و، د جېل د خوراک کيسه خو مې درته کړې ده، د جېلخانې داروغه امير چند هندو و، بدې خور نه و ديانتدار و او قام پرستو سره يې مينه وه، په چکۍ کې خو يې واچولم خو مېچن يې را باندې اوړه نه کړه او نه يې راته په پښو کې بېړۍ واچولې، د جېلخانې ډوډۍ خو يې را کوله خو لږه به پاکه وه، زمونږ د چکۍ مخه قطب (شمال) ته وه نمر په کې بالکل نه لګېدو، ډېره سړه چکۍ وه، ما له يې درې زړې کمبلې او يو ترپړی راکړې و، چې په کې ګوزاره ډېره ګرانه وه ډېر سخت ساړه وو، يوه پوماه او بل بارانونه وو، او شپه ورځ به په چکۍ کې بند وو، خو زما خوش قسمتي دا وه چې زما په چکۍ کې يو اخور و، په هغې کې پلاله پرته وه، ما به ترپړی په کې واچولو او په هغې به ځملاستم که کله به يو ښه جمعدار راغی نو د ورځې به يې د يوې ګنټې نيمې دپاره نمر ته ايستلو.

د شپې به مونږ په ارام ویده کېدلی نه شو ولې چې درې درې ګنټې وروسته به پیره بدلېده، نو پیره دار به راغی جندره به یې وکړنګوله بیا به یې چغه کړه چې بول بهایي (وایه وروره!) ترڅو چې به دې اواز نه و ورکړی نه به تلو او که اواز به دې لږ وروسته ورکړو نو سبا له به یې سزا درکوله .د جېل د جامو کیسه مې هم درته کړې ده، چې ما ته یې کومې جامې راکړې وې کمیس مې د بدې پورې نه رسېده او په مانځه کې چې به په سجده پرېوتم نو کمیس به مې پښتیو ته را ورسېده او د پرتوګ پینڅې به مې ایله د زنګانه سترګې ته را رسېدې، د جېل والاو رویه خو د عذاب د ملایکو نه کمه نه وي، یو نیم په کې ښېرته سم سړی پیدا شي.

په هغو ورځو کې په جېلخانه کې د خوراک څېز هم جرم و، زمونږ د کلي یو نمبر دار یوه ورځ ماته یوه چکۍ ګوړه را کوله، ما د هغه نه نه اخیسته، هغه راته په چکۍ کې یوه چکۍ ګوړه کېښوده دی لاړ لږ ساعت پس راته پیره دار ووې، چې جېلر صاحب راروان دی، د دې خبر په اورېدو ما سره د ګوړې فکر شو، چې په دې څه وکړم، کله به مې وې چې د شړۍ لاندې یې پټه کړه، کله به مې وې چې د ترپړې لاندې یې کړه .بیا به سودا واخیستم چې بنه که دا ترپړی پورته کړي؟ خیر خو هغه ګوړه ما په ډېر شواخون پټه کړه .دا روغه صاحب راغی تالاشي یې ونه کړه بېرته لاړ .هغو وختونو کې به د قیدیانو روزانه تالاشي کېده، چې دا روغه لاړ ما هغه ګوړه بهر ګوزاره کړه او اراده مې وکړه چې جېلخانه کې به د جېلخانې د اصولو پابندي کوم، چې کوم کار په کې منع وي هغه به نه کوم، ځکه دا څیز د سړي په زړه کې وېره راولي .ما خپل سیاسي قیدیان وروڼه لیدلي چې

دا کارونه به یې کول نو د جېل والاو به یې ډېرې خوشامندې کولې، او بدې به یې هم ورکولې.

## د چمرکنډ مجاهدین:

ډاکټر صاحب او ځینې نور کسان زما ملاقات ته راغلي وو، هغوی د حکومت پیغام راوړی و، چې مدرسه دې چلوي خو دورې دې نه کوي، که د دورو نه لاس اخلې مونږ یې پرېږدو، خو ما د حکومت دا شرط ونه منلو، په چکو کې ما سره نور قیدیان هم وو، چې په هغو کې د چمرکنډ مجاهدین هم وو، زه چې د کابل نه راتللم ما هغوی ته ډېر نصیحت کړی و، دا مې هم ورته ویلي وو، چې سرحد او پنجاب ته به نه ښکته کېږئ، هغوی زما نصیحت ونه مانه دغه یې حال و، زما د بندي کېدو نه مخکې یې ډېر وهل او ټکول چې زه ورسره بندي شوم، نو د وهلو ټکولو نه خلاص شول.

دا مجاهدین چې په بونیر کې وو هلته په کې اکثریت د بنګالیانو و، دغه بنګالیان ډېر شریف او مینه ناک خلک وو، ډېره ښه ګوزاره یې کوله او چې په کې پنجابیان وو هغوی ډېر ډله باز خلک وو .دوی چې ورتنوتل پرې او جنبې یې په کې جوړې کړلې اخر یې خپل امیر نعمت الله وواژه .د بونیر خلکو له هغه ځایه را وشړل او چمرکنډ ته راغلل، د دوی یو مشر مولوي فضل الهي ډېر پارټي باز او خطرناک سړی و، ما په کابل کې لیدلی و، ډېر نصیحت مې ورته وکړ، خو هغه د خپل طبیعت نه مجبوره و، او ددې پرو جنبو په وجه یې یو ډېر ښه کارکن، نېک او مخلص سړی مولوي بشیر وژلی و، بیا وروسته چې پاکستان جوړ شو فضل الهي پنجاب ته راغی. زه هغه وخت په جېلخانې

کې وم. مولوي فضل الهي د حکومت په لمسه دحکومت د خوشحالولو دپاره ما پسې سختې پروپېګندې وکړې او ډېر دروغ يې وويل.پوليسو دی له ځانه سره ملګری کړی و، او چې مجاهدينو کې به کوم د کار سړی و، پوليسو به ورته وويل هغه راوله. د دوی يو ملګری چې د قران شريف حافظ هم و، پوليس په لاس کې اخيستی و، پوليسو به چې د کوم سړي د نيولو اراده وکړه ده ته به يې وښوده. دی به ورپسې لاړ هغه به يې د چندې په بهانه سرحد ته را کوز کړو او د پوليس په حواله به يې کړو. ما ته دې قيديانو مجاهدينو وويل چې دی يې اوس بيا زمونږ د يو ډېر لوی کارکن پسې لېږلی، که د هغوی د خبرولو څه بندوبست وشي. دا يې هم راته وويل چې په جېلخانه کې يو مومند دی او سبا بل سبا رها کېږي، که ته يوه چيټۍ ورکړې د ده کور چمرکنډ ته لنډ دی هغوی ته به يې ورسوي او زمونږ نور ملګري به د دې مصيبت نه بچ شي. ما اول خو دې کار ته غاړه نه ايښوده، ځکه چې دا خو په جېلخانه کې جرم دی، خو چې فکر مې وکړ چې دا خو دې خلکو ته لوی مصيبت دی، نو بيا مې خط وليکه او چې په سبا له به هغه مومند رها کېده په نن شپه مې ورکړو. هغه چې رها کېده نو هغه کاغذ يې د خپل ډېوډۍ سره د وېرې غورزولی دی، بيا هغه کاغذ اتفاقاً زمونږ د کلي نمبردار مونډلی دی هغه بيا راوړ. ما هغه ته اووې چې دا کاغذ چېرته و، هغه وويل چې زما پيره وه او ډېوډۍ سره مې بيا مونډلی دی، که دا کاغذ حکومت ته په لاس ورغلی وی، نو لس کاله قيد و، زمونږ د هزارې يو ملګری يې دغه شان په يو کاغذ لس کاله قيد کړی و.

زه په جېلخانه کې وم چې د کوهاټ څو تنه يې جېل ته

راوستل يو يې تره او نور يې وربرونه وو، ډېر ښکلي او ښايسته ځلميان وو، هغه يې هم زمونږ سره په دې چکو کې بند کړل .د جېلخانې دا قاعده ده،چې سهار وختي ملازم راشي قيديانو پسې ورلرې کړي را ويې باسي جارو ګانې يې په لاس کې ورکړي ځای جارو کوي .دوی به يې وختي سهار د پوما په مياشت کې راوبښکل، دوی چې به جارو وهلو ته تيت شول،يو پنجابي سپاهي و، هغه به په کونه لته ورکړه بوک به يې راواړل او کنځل به يې ورته کول، نو ما ترې يوه ورځ پوښتنه وکړه، چې تاسو په څه کې بنديان يئ، ويل به يې چې صاحب څه ووايو ماوې هر څه چې وي ووايه راته يې وويل چې په«غول مه خوره» مو جنګ کړی دی اوس دغه دي بنديان يو د شيطان لمسه وه او پښتو وه، ما ورته ووې چې هغه پښتو او شيطان مو ځان سره جېلخانې ته راوستي دي او که مو خپل ورور عزيز دپاره هلته پرېښي؟ ګورئ دا تور مخی سپاهي درسره څه سلوک کوي؟ ده ته مو هغه پښتو او شيطان نه لمسوي د خپل ورو عزيز هغه خبره زغمل به ښه وو او که دا شرمول؟

نور سياسي قيديان د ډېره اسماعيل خان جېل نه په چالان کې راغلل، يو ملک خدابخش و، او بل رمضان خان و، نور ورسره يو څو ملګري وو، نور سياسي قيديان په بارک کې وو او زه يې په چکۍ کې بندي کړی وم، د هغوی سره يې يو ځای کېدو ته پرې نه ښودم، عام قيديان هم تر يوې هفتې پورې په چکۍ کې بند وي، بيا يې تر نه را وباسي خو زه يې په کې دوه مياشتې وساتلم.

## ډېره اسماعيل خان جېل ته بدلي:

دوه مياشتې پس يې زه ډېره اسماعيل خان ته چې د دوباريانو جېلخانه ده بدل کړم .د تللو په وخت کې يې راته بېړۍ (زولنې) ولګولې چې د ډېرو جېل ته ورسېدم بيا يې هم راته ونه اېستلې، هلته يې چکۍ کې بند کړم او سبا له يې را له شل سېره دانې راوړې چې دا اوړه کړه،خو دا ښه وه چې هغه چنجو وهلې وې، نو اوړه ولو کې يې تکليف نه و.

## د جېلخانې کيسه:

[تاسو ته به ياد وي چې به (پښتون) کې د جېلخانې په باره کې بو مضمون (( د شلمې پېړۍ تهذيب او زه په جېلخانه کې)) تر عنوان لاندې شايع کېده،ليکن زما د بيا بيا ګرفتارولو او ناوزګارۍ په وجه هغه مضمون سرته رسېدلی نه و،په مېنځ کې پاتې شوی و، چونکې زه اوس د هزار باغ په جېلخانه کې يم او ماسره څه کتاب د لوستلو دپاره نشته ځکه د کوم کتاب چې زه نوم اخلم نو حکومت دا جواب راکوي چې د دې اجازت د لوستو تا ته نشته، نو ما خيال وکه چې د دې وخت نه څه فايده اخيستل په کار دي،نو په دې وجه زه بيا هغه کيسه هغې پسې د پوره کولو او سرته د رسولو دپاره شروع کوم او ورسره دا تجويز هم کوم چې د دې نوم به اينده دپاره((د جېلخانې کيسه وي)) (۱۵اکتوبر۱۹۳۲)]

د دې جېلخانې حالت ډېر زيات خراب و، قيديان، غريبان په کې ډېر په کړاو اخته وو، د بدو بازار په کې ګرم و، چا به چې پيسې لرلې د هغه به په کې څه ګوزاره کېده د بې پيسو بنديانو

حال بد و، عجیبه خبره دا وه چې د دې جېلخانې یوازې دا روغه مشر نه و، بلکې هر یو ملازم دلته کل اختیار و، او هر چا به خپل حکم چلوو، د داروغه هېڅ رعب نه و، د هغه حکم چا نه مانه د دې وجه دا وه چې دا روغه یو بوډا و په پنشن روان و، پیسې به یې اخیستې چې د نوکرۍ په اخر عمر کې پینځه پیسې پیدا کړي.

بله دا وه چې دی په انګرېزۍ نه پوهېده،دی د سپاهي ګرۍ نه دا روغه شوی و، او سپرتنډنټ د انګرېزۍ نه بغیر په بله ژبه نه پوهېده،نو د جېلخانې کاروبار ورته نائب داروغه ګنګا رام مخکې کاوه، نو د نائب داروغه رعب په جېلخانه کې د داروغه نه زیات و، نو په دې وجوهاتو د جېلخانې انتظام ګډوډ و،زه چې یې په چکۍ کې بند کړم نو یو څو تنه پېښوریان قیدیان ما ته راغلل راته یې وویل چې مونږ به داروغه ته پیسې ورکړو،چې تا د چکو نه راوباسي خو ماورته وویل چې زه بدې نه ورکوم، چې بدې ورکوم نو ضمانت ولې نه ورکوم، زه خو قید نه یم، زه ضمانت کې قید یم.

د دې جېلخانې خوراک هم خراب و، هسې خو د ټولو جېلخانو خوراک خراب وي، ځکه چې حکومت د ښې غلې د اخیستلو اجازه نه ورکوي، خو دلته په کې داروغه هم وهنه کوله نائب داروغه او نورو هم په کې کانه وانه کوله .ما به خپله چکۍ اوړه کوله .کومې چنې چې به یې د مېده کولو دپاره ماته راوړې، هغه به ټولې چینجو خوړلې وې، د قسم دپاره به په کې روغه دانه موندی کېدی نه شوه، پاکولې به یې هم نه، ځکه چې پاکېدی نه شوې که پاکولی خو تش بخرکې پاتې کېدل .دا د چنو د دې قسم اوړو ډوډۍ به یې پخوله هم نه ځکه چې وزن یې

کمېده په دې کې به هم د قیدي غریب نه غلا کېده .دا ډوډۍ په یو لاس کې نیول کېده نه ځکه چې ټوکړې ټوکړې کېده او پرېوته نو په دواړو لاسونو کې به دې اخیستـه ما چرې د چنو ډوډۍ خوړلې نه وه، په خوب کې مې لالیدلې نه وه بیا داسې ډوډۍ چې د نیمې نه زیاته په کې خاورې وي، شخوند پرې نه شي وهلی، ما به په ډېر کوشش ایله یوه ټوکړه وخوړه اخر پرې ناجوړه شوم .د دال او ساګ به یې څه ذکر کوم، په جېلخانه کې چې څوک ناجوړه شي هسپتال ته یې بیایي خو زه سیاسي قیدي وم، زما دپاره هسپتال نه و، زما په نصیب دا یوه توره کوټنۍ رسېدلې وه، چې شپه او ورځ به په کې یوازې پروت وم، ډاکټر به راله دارو دلته راوړل او سپرنټنډنټ به مې په ورځ کې یوځل خبر اخیسته، څو ورځې پس جوړ شوم .زه په دې جېلخانه کې یوه نیمه میاشت پاتې شوم په دې یوه نیمه میاشت کې زما څلوېښت پونډه وزن کم شو، غاښونه مې خراب شو، وُرۍ مې وتښتېدې، وینې به ترې جارې وې، د خراب خوراک او د سبزي د نشتوالي په وجه مې په وُرو پایوریا مرض ولګېده .د خراب خوراک په وجه په ټولو قیدیانو یو قسم مرض لګېدلی و، چې هره ورځ به څلور پنځه مړهکېدل،چا یې پوښتنه هم نه کوله ځکه چې قیدي د پرنګیانو په حکومت کې انسان نه ګڼل کېږي او د ډنګر غوندې سلوک ورسره کوي که د سړي سپی مړ شي څه نه څه همدردي به ورسره ښکاره کړي، لیکن د قیدي خوار سره د هېڅ همدردي نه وي، چې مرض زیات شو، نو سپرنټنډنټ سره فکر پیدا شو او د مرض د مخنیوي دپاره به یې کله نا کله دوه، درې نور پرنګیان هم مشورې له راغوښتل، لیکن مرض په مشورو نه کمېده او نه به چېرې کم شي .مرض

تول د خوراک د خرابوالي نه پیدا شوی و، او هغې خوا ته چا توجه نه کوله، سرکار چې کوم معمولي خوراک د دوی دپاره منظور کړی و، هغه به یې هم دې غریبانو له نه ورکوو سپرنټنډنټان هم عجیبه دي او بیا چې انګریز وي هغه خو بیخي ناخبره وي چې کوم طرف ته یې «جېل والا» بیایي په پټو سترګو روان وي او بیا داسې سپرنټنډنټ لکه چې دا و، د قیدیانو او بیا خاص کر د پښتنو قیدیانو د سر تاکو، سپرنټنډنټ ته پښتو یو ټکی نه ورتله، حتی اردو هم نه ورتله تش په یوه انګریزۍ پوهېده او پښتنو غریبانو له اردو نه ورتله پاتې خو انګریزي .یوه ورځ عجیبه کیسه وشوه څوک چې جېلخانې ته تللي دي هغوی ته معلومه ده او چې څوک نه دي تللي هغوی ته به معلومه شي چې د هر ګل «دوشنبې» په ورځ سهار وختي قیدیان پخپلو بارکونو کې په لین کېنوي سپرنټنډنټ او نور جېل والاو پرې ګرځي صحت، جامې، صفایي او نور حالت یې ګوري که د چا عرض وي هغه هم اوري .

په دغسې یوه موقع یو قیدي پاڅېدلی دی او د جېل والاو د لاسه یې شکایت کړی دی چې وهي مې، ټکوي مې، شرموي مې، کنځي مې رشوت رانه غواړي زه غریب سړی یم. زه روپۍ له کومه راوړم چې دوی ته یې ورکړم؟ نو سپرنټنډنټ خپلې عملې ته وکتل چې څه وایي؟ هغوی ورته وویل چې صاحب دی د غنمو ډوډۍ غواړي او ګوره غواړي نو سپرنټنډنټ قیدي ته ووې«نونو» قیدي غریب بیا ورته خپله کیسه تېره کړه هغه بیا د خپلې عملې نه پوښتنه وکړه دوی بیا ورته ووې چې صاحب ګوره او غوړي غواړي، نو سپرنټنډنټ قیدي ته لښته خوځوي او ورته «نونو» وایي، قیدي ډېر کوشش وکړو چې سپرنټنډنټ

پخپل مطلب پوهـ کړي، خو هغه پوهـ نه شو نواخر يې حکم وکړو چې دا بدمعاش دی، بوځئ په چکۍ کې يې بند کړئ .((هوسۍ ښکر ګاته غوږ يې بايلو.))

سپرټنډنټ د راتلو په ورځ په خصوصيت سره د ټټو معاينه کوي نو په دغه ورځ د قيديانو ورځ ډېره بده وي،د چا چې معده کمزورې وي هغی ته ډېر کړاو وي،ځکه چې يو ځل د ټټو صفايي وشي تر څو چې يې معاينه شوي نه وي څوک په کې نه پرېږدي چې په کې کېني نو که په دغسې وخت کې قيدي ته حاجت پېښ شي که جرات ولري،خو د چانه پوښتنه نه کوي منډه کړي ټټی ته تنوځي خو دی لاناست نه وي چې نمبر دار يې په څټ سور وي او که بې جراته وي يو ځل دوه خو اجازه وغواړي خو علاوه پر دې چې اجازه نه ورکوي ښه يې سپک هم کړي، ما پخپله ډېر غريبانان ليدلي دي، چې هر څه ترې پرتوګ کې تللي دي . ويل، کنځل او راښکل خو پرېږده دا هغه د بې شرمۍ ساعت وي چې خدای دې چا ته نه ښيي.

انګرېزانو چې مونږ له کوم قانون جوړ کړی دی د ظاهر دارۍ دپاره يې جوړ کړی دی او دنيا ته د دوکې دپاره په دې قوانينو نه پخپله پرنګيان پابند دي او نه يې ملازمين.

زه چې څه وخت نا جوړه وم نو ماله به يې پې او وريژې د خوراک له پاره راکولې يوه هفته پس چې زه جوړشوم او د هسپتال نه ډسچارج شوم(ووتم) نو بيا زه وم او د جېلخانې هغه پخوانی خوراک خو ډاکټر چې زما حالت او کمزورتيا ته کتلي و د هسپتال نمبر دار ته يې حکم کړی و، چې ده له هر ماښام لږ قدرې د هسپتال د پيو نه ورکوه . زه د ماښام د لمانځه نه وروسته وظيفه کوم په وظيفه ناست وم چې يو سړي راته اواز

وکړو چې وروسته مې وکتل نو د کوټکۍ د جنګلې سره نمبردار ولاړ دی راته یې ووې چې بالتۍ دې را کړه پۍ مې درته راوړې دي .زه د خپلې کډۍ نه را پاځېدم او پوښتنه مې ترې وکړه چې دا پۍ دې له کومه راوړې؟ هغه جواب راکړو چې بابو صاحب حکم کړی، چې هر ماښام څه قدرې پۍ تا ته راوړم، ځکه چې ته کمزوری یې ما ورته ووې چې دا سرکاري مقرر شوې دي که ډاکټر صاحب له خپله طرفه مهرباني کړې ده،هغه ووې چې دا د بابو صاحب مهرباني ده ما وې ډاکټر صاحب له خپله کوره رالېږلې دي که د هسپتال نه یې رالېږلې دي؟ ویې ویل چې د هسپتال نه. ما ورته وې چې ته خپه کېږه مه، ډاکټر صاحب ته مې هم ډېر ډېر سلام وایه او ورته ووایه ستا د دې مینې،محبت او مهربانۍ زه ډېر مشکور یم، خو زه دا پۍ اخیستلی نه شم .د دې خبرې په اورېدو نمبر دار ډېر حېران شو او ویې وې چې ولې ؟ ما ورته وویل ځکه چې دا زما حق نه دی پردی حق دی او پردی حق خوړل خو حرام وي هغه وویل چې دا څنګه پردی حق دی؟ ما ورته وویل چې دا پۍ په هسپتال کې د کمزورو او مریضانو دپاره مقررې شوې دي، د هر مریض برخه مقرره ده، زما دپاره مقرره برخه نشته نو ته به یا ددې په ځای د نورو مریضانو په پیو کې اوبه ګډوې چې د پیو اندازه پوره کړې یا به د هر مریض نه یو یو ګوټ کموې دا دواړه طریقې ښې نه دي .نمبر دار چې دا واورېدل غلی شو او لاړ، یوه ورځ داروغه صاحب راغی او ما ته یې وویل چې ورځ په ورځ کمزوری کېږې، پس د دې ستا د ډوډۍ انتظام زه کوم، زما له طرفه به زما له کوره تا ته ډوډۍ راځي .ما د هغه ډېره شکریه ادا کړه او دا خبره مې ورسره ونه منله .ما هغه ته وویل ستا ډوډۍ زما خپله ډوډۍ ده خو که سبا ته د دې جېل نه بدل شې یا زه بدل شم نو بیا به څوک د ښې

ډوډۍ انتظـام راتــه کــوي؟ خــو زه یــم او دا د جېــل ډوډۍ بــه وي اوس خو لا ښـه ده ورسره لـږ لـږ اموخته شوی یـم .او بلـه دا چې هغـه کـار چې سړی یې پـه ښکاره نـه شي کـولی او پټ یې کـوي . سړی کمـزوری کـوي او د خپلـو اصـولو نـه یې باسـي او پـه سـړي کـې وېـره بزدلـي پیـدا کـوي، نـو مـا ورتـه ووې چـې زه سـتا د مهربـانۍ قـدر کــوم، خـو دا څېزونـه زمـا اصـلي مقـصد تـه نقـصان رسـوي. نـو معــافي غــواړم چــې جېلخانــه کــې پــه دغــسې کــارونو ســړی ډېــر کمــزوری کېــږي څــومره چـــې یـــو ســـړی خپـــل خواهـــشات او ضـروریات کمـولی شـي هغـومره بـه ارام او خوشـحاله وي هېڅـا تـه بـه محتــاج نــه وي، دغــه شــان یــو ځـل داروغــه صــاحب راغــی او مــا چکۍ اوړولـه، نـو هغـه مـا تـه اوویـل چـې دا چکـۍ مـه اوړوه پـه دې جېلخانــه کــې دوه ویــشت ســوه قیــدیان دي. زه بــه خــدای لــه څــه ځـواب ورکـوم چـې دا یـو سیاسـي قیـدي چـې زمـا پـه لاره روان و، پـه هغــه دې هــم چکــۍ(مېچن) اوړولــه، مــا ورتــه وویــل چــې د غــه مخـامخ چکـۍ کـې دغـه قیـدي تـه وګـوره، دی د قتـل، ډاکـو مجـرم دی، پـه دې کـې جېـل تـه راغلـی دی او دلتـه د داسـې ناپـاک مقـصد دپـاره چکـۍ اوړوي او زه چـې پـه دومـره ښـک مقـصد راغلـی یـم نـو زه دې نـه اوړوم چـې داروغـه صـاحب پوهــشـو چـې دی خـو چکـۍ اوړه وي نـو بلـه ورځ یـې مـا لـه اوړه را ولېـږل او لـږې غونـدې دانـې هـم ورسـره وې، او ویـې ویـل چـې صـیب(سـپرنټنډنټ) راځـې نـو دا اوړوه، مـا ورتـه وویـل چـې زه داسـې نـه کـوم کـه صـیب زمـا نـه تپـوس وکـړي چـې تـا لـه څـه درکـوي نـو زه دروغ نـه وایـم، نـو زه بـه وایـم اوړه، د دې جـواب کـې راتـه جمعـدار وویـل چـې بیـا خـو بـه زه مـات شـم .ماورتـه وویـل چـې څکـه خـو درتـه زه وایـم چـې دا مـه را کـوه او بله دا چې دا د سړي زړه کې وېره پیدا کوي.

## د جېل بدمعاشي:

د دې جېلخانې اخلاقي حالت ډېر پرېوتي و، نه د هلک، نه د ځوان، او نه د بوډا عزت و، هر سړی به په وېره کې و، ځکه چا چې به ګنګا رام او د چکۍ جمعدار راضي کړل په هر چا چې به يې هر څه زړه غوښتل هغه به يې پرې کول . زما په مخکې ځينو کسانو پرې په دوه روپۍ خپل دښمنان شرمولي دي، په دوه روپۍ يې هلکان د شپې تېرولو دپاره کوټو ته بيولي دي حال دا چې د جېل په قانون کې د هلکانو د سړو سره يو ځای بندول منع دي . ما يوه ورځ داروغه صيب ته وويل چې ته خو مسلمان يې ، ډېر نېک سړی يې، بانګونه وايې او امامت هم کوې، ليکن ستا په جېلخانه کې د پښتنو د بچو عزت محفوظ نه دی او زه چې په پېښور کې وم، هلته داروغه هندو دی ليکن هلته د پښتنو د بچو عزت محفوظ و، په دې جېلخانه کې ما پخپلو سترګو داسې واقعات ليدلي دي چې ليکل يې شرم ښکاري . شراب و کباب به په کې عام وو، د پيسو والاو په کې مزې چرچې وې او څه چې به يې غوښتل هغه به يې کول چا سره چې به پيسې نه وې د هغو د حاله خبر مه شئ، د وهلو ټکولو او شرمولو نه علاوه چېرته به چې سخت کار و هغه به يې په دوی کولو جېل والاو د پيسو حاصلولو دپاره عجيبه عجيبه طريقې جوړې کړې وې، يوه ورځ يو ښوڅی راغی ما ته يې وې چې زه کلي ته چټۍ لېږم راته وليکه نوما ورته ووې چه چټۍ د څه دپاره لېږې ژړه غونې شو ويې ويل چې پلار ته چټۍ ليکم، ما ته معلومه ده،چې زما پلار غريب دی هغه سره څه نشته خو زما ښځه ده،هغه دې خرڅه کړي ما ته دې روپۍ را ولېږي . زه ورته په قار شوم ما وې ته شرمېږې نه چې دا خبره کوې هغه را ته ووې

چې خانه ته څه خبر يې زه چې جېل ته راغلم او په چکۍ کې يې بند کړم شل سېره دانې يې راکړې چې دا اوړه کړه هغه ما ښې اوړه کړې چې جمعدار راغی ويل يې دا خو دل دي را اېسار يې کړم او تر هغه يې ووهلم چې دی را باندی سټړی شو هره ورځ راته وايي چې پيسې راوړه که نه تول عمر به دې دا حال وي زه دومره نامرده نه يم چې مشقت نه شم کولی هر کار چې راوسپاري په ډېره ښه طريقه يې کوم خو دوی د پيسو دپاره څه نه څه بهانه کړي په وهلو وهلو يې راته سر ګنجی کړو، د جېلخانې تول سخت کارونه زما په نصيب دي سره د دې هره ورځ وهل خورم اوس راته وايي چې صاحب ته دې پيش کوو او په بينتونو دې وهو دا د بينتونو وهل را ته شرم ښکاري ځکه تا ته راغلم چې پلار ته مې خط وليکه که څه راشي او د دې بلا نه خلاص شم. ډېر کسان جېل والاو د پيسو دپاره په دې طريقه مړه کړي دي دا کوم کسان چې له جېلخانو نه تښتي يا بدمعاش شي د دې وجه همدا د جېل والاو سلوک دی چې دې کارونو ته تيارشي . په جېل کې د دوه ډلو مزې وي يو دپيسه دار بل د بدمعاشانو . بله دا چې د قيدي د خوراک حال هغه وي چې مخکې مې درته بيان کړو او کار پې د غوايانو په شان کوي کولوګان (د تېلوګانی) ارټ، مېچن او نور ډېر داسې سخت کارونه چې د انسان د توان او شان مناسب نه وي پرې کوي څومره ذلت او سپکاوی چې ما په جېلخانو کې ليدلی دی زه په دعوه سره ويلی شم چې داسې سلوک به په دنيا کې هېڅ وحشي نه وحشي قوم د خدای د مخلوق سره کړی نه وي.

قانون، قانون نشته د هر پرنګي او حاکم چې څه زړه وي هغه کوي او دې ته قانون وايي، نور ملکونه يو قانون لري . زمونږ په

ملک کې د پرنګي دپاره بېل قانون و او د ديسي دپاره بېل د سرکاري ملازم دپاره بېل قانون و او د رعيت دپاره بېل د مالدارو دپاره بېل قانون و او د غريب دپاره بېل، د انګرېزانو قانون داسې دی لکه د مومو پوزه چې په کومه خوا يې اړوې، هغه خوا اوړي.

په يوه وړوکي کوټنۍ کې د شپې ورځې د تنهايۍ قيد په وجه زما وزن ورو ورو کمېدو او صحت مې خرابېدو چې اخر جېل والا مجبور شول چې ددې پرده نشينۍ له ژونده مې راوباسي .يوه ورځ سپرنټنډنټ صاحب راغی او راته يې وويل چې اينده ته په کار خانه کې د ورځې کار کوه او د شپې دې خپلې کوټنۍ کې اوده کېږه اميد دی چې د دې نه د وېستلو دپاره به دې هم ډېر زر انتظام وکړم.

## زما مشقت:

د دې پرده نشينۍ (کوټه قلفۍ) نه چې را ووتم کارخانې ته يې بوتلم دا يوه لويه کارخانه وه په سوونو قيديانو به په کې کار کولو او قسم قسم څيزونه په کې جوړېدل زما کار لفافې (پاکټونه) جوړول و، خو ما به ورسره د کډۍ کار هم کولو ځکه چې زما ورسره شوق و او دا مې خيال و، چې سړي ته يو کسب زده کول په کار دي چې ځان ته پرې معمولي نفقه ګټلی شي او د احتياجه خلاص وي، زما استاذ د بنو يو ملک و، ډېر شريف او ښه سړی و، ښه خويونه او شرافت پرې ختم و او پخپل کار کې هم ډېر ماهر و، ما سره يې ډېر زيار ايسته، په څو ورځو کې مې خامتا او د بورداري تولیې (رومالونه) اودل زده کړل که چېرې زه د دې جېلخانې نه بدل شوی نه وی او په کې پاتې شوی وی نو

ما بـه پـه دې کـار کـې مهـارت حاصـل کـړی وی . زه چې څه وخت د دې جېـل نـه بـدل شوم نـو زمـا پـه زړه کـې بس دا يـو ارمـان پـاتې شـو، چې دا کسب رانه نيمګړی پاتې شو او کمال ته مې ونه رسولو.

زمـا بـل اسـتاذ د بهـادر کلـي يـو مـلا صـاحب و، چـې د لفـافو سکـښتلو او جوړولـو چـل يـې راتـه ښـودلی و، دی هـم ډېـر ښـه سـړی و، کلـه کلـه بـه يـې پـه کارخانـه کـې ګـوپـي پخولـو يـوه ورځ يـې ګـوپـي بانـدې کـړې و، سـپرنټنډنټ راغی، پـه کارخانـه کـې بـوی و، ډېـر يـې اخـوا دې خـوا وکتـل خـو بـالـتی يـې پيـدا نـه کـړو چـې سـپرنټنډنټ لاړو ګـوپـي ټـول سـوزېدلی و، اسـتاذ مـې ډېـر خپـه شـو خـو څـه يـې کولی شول؟

ورو ورو د جېلخـانې د خلکـو تلـل راتلـل راسـره پيـدا شـو او پـه لـږو ورځـو کـې راسـره ډېـر کـسان بلـد شـول، پـه جېلخانـه کـې هـر قـسم خلـک مونـدی شـي کـه بـد کـسان پـه کـې وي، نـو ډېـر ښـه کـسان هـم پـه کـې وي بلکـې اکثـر خلـک يـې ښـه وي، کـه جېـل والاو يـې خـراب نـه کـړي. زه د خپلـې تنهـايـي قيـد پـه وجـه هـم پوهـ شـوم، جېـل والاو تـل دا کوشـش کـوي چـې سياسـي قيـديان د اخلاقـي قيـديانو نـه بېـل وسـاتي ځکـه چـې د دوی سـره دا وېـره وي چـې سياسـي قيـديان زمـونږ د بـد عملـی نـه خبـر نـه شـي او بلـه دا چـې اخلاقـي قيـديان پوهـ نـه کـړي، ځکـه کـه دوی پوهـ شـي بيـا خـو د جېـل والاو د کـان سـړېږي .پـه دې جېلخانـه کـې د رشـوت بـازار ډېـر تـود و او پـه رشـوت هـر شـی کېـدی شـو، دسـاده او خـوش بـاوره پښتنو نـه د حـصولـي يـوه ذريعـه نـه وه، دې چـالاکو جېـل والاو د روپـو را ټولولـو دپـاره قـسم قـسم ذريعـې او طريقـې را ايـستلې وې، پـه ټولـو کـې ذليلـه او مکـروه طريقـه د يـو شـريف او عزتمنـد سـړي بـې عزتـه کـول و، لـس روپـې بـه دې چـې ګنګـا رام لـه ورکـړې

چې څوک به دې خوښ و، هغه به دې پرې شرمولی شو، یو سړی به ګنګا رام له ورغی لس لس روپۍ به یې ګنګا رام ته په ګوتو کېښودې او ورته به یې وویل چې فلانی شرمول غواړم هغه به روپۍ په جیب کې واچولې او د یو څو نمبردارو سره به را روان شو هغه سړي ته به یې څه بهانه جوړه کړه او نمبردارانو ته به یې حکم وکړو، چې پرتوګ ورنه وباسئ، دغه شان به یې هغه خوار بې عزته کړو د روپو ګټلو دا طریقه ډېره کامیابه وه، ځکه چې نن به تا زه په ګنګا رام بې عزته کړم سبا به ما کورته چتې لېږله او روپۍ به مې را غوښتې یا به مې ملاقات غوښته، بیا به ما ګنګا رام ته روپۍ ورکړې او د خپل بدل اخیستو په غرض به مې ته پرې بې عزته کړې، کله کله به په دې د پښتنو په مینځ کې جنګونه هم کېدل.

## جېل کې پرې- جنبې:

د بد قسمتۍ نه په دې جېل کې د پښتنو په مینځ کې پرې جنبې وې، او دوه ډلې وو، یوه ډله د پېښور وه، او بله د کوهاټ، بنو او ډېره والو وه، دې ډل بازیو نه به جېل والاو هم ناجایزه فایده اخیسته او په معمولي خبره به یې دواړو ته اشتعال ورکولو او په کور کې به یې جنګول، د جنګ نه پس به یوه عجیبه تماشه جوړه شوه، هغه کسان چې څه بود به تري کېده هغه به یې په چکو کې بند کړل پیرې به یې پرې ودرولې چې یو د بل له حاله خبر نه شي او تګ راتګ به یې پرې بند کړو هسې نه چې څوک یې له حاله باهر خبر ونه لېږي .دلالان به یې وریسې کړل په ورځ کې به یوځل دوه ورتلل او قسم قسم خبرې به یې ورته کولې او هر یو یې وېرولو چې بس مقدمه په تا جوړه ده یا

به پانسي کېږي او که نه عمري خو شوي.

ډېر قيديان درباندې د ليدلو شهادت ورکوي فلانی مړ شو د فلانـي هم حالت ښه نه دي مرګونی دی که څه کوی شې دا دې وخت دی که نه لاړې غرق ډوب شوې، په قيدي غريب به هيبت راغی کورته به يې خپلو خپلوانو ته تار ورکړو چې هلی رو پی راوړئ، د چا خپلوان چې به زر راغلل او روپی به يې راوړې که هر څومره به ګنهګار و، هغه به خلاص شو ليکن خواره خواري د هغه چا وه چې پيسې به يې نه لرلې، اکثر به د پيسو ګنهګار خلاص شو او بې ګناه، بې پيسو کسان به چالان شول، څومره به چې زه د جېلخانې د حاله خبرېدم هومره به مې د پښتنو مظلومانو په حال زړه بد بېدو، ما به شپه او ورځ دا فکر کولو چې د دوی د بچ کولو دپاره کومه لاره او طريقه اختيار کړم اخر مې د ځان سره دا فيصله وکړه چې د دې دواړو ډلو مشران ليدل په کار دي او دا کوشش په کار دی چې د هغوی سره خبرې وکړم او هغوی د دې بدو کارونو او د هغو د نتايجو نه خبر دار کړم.

زما د ابتدا نه دا عقيده ده چې پښتون ډېر ښه قام دی . ډېر زر يې اصلاح کېدی شي . په شرط د دې چې څوک يې پوهه کړي . دا نن چې دی په داسې بد حالت کې دی د دې وجه دا ده،چې څوک يې غم نه خوري او نه يې پوهوي .په دې جېلخانه کې د رانېزو يو بوډا کاکا و،نوم يې نصير و،هغه زه يوه ورځ چايو ته وبللم زه د دې قسم دعوتونو طرفدار نه يم، ځکه سړی کمزوری کوي، ليکن د هغه د سپينې ږيرې له خاطره ما د ده بلنه ومنله، دی هم په دې کارخانه کې و. د دريو او نوارو په کار ښه پوهېده،زه يې پخپله کارخانه کې وګرځولم او خپل کسب او هنر يې راته وښوده چې په ليدو يې زه حيران شوم . ما ورته ووې

چې کاکا افسوس دی چې مونږ پښتانه د بل دپاره ځنګه ښه ښه کارونه کوو، خو ځان له هېڅ نه کوو دا کوم کسب او هنر چې تا زده کړی دی، که چېرې یې بهر هم جاري وساتې نو ډېره فایده به تا ته او قام ته ورسوي. هغه ما سره وعده وکړه چې بهر به یې هم جاري وساتم (خو کله چې ۱۹۲۹ع کال کې زه د رانیزو په دوره تللی وم کاکا مې ولیدو چې کار یې لا شروع کړی نه و) په دې کې چای راغله چای مو وڅکله، زه د دوی بې باکۍ ته حېران وم ورو غوندې مې نصیر کاکا ته وویل تاسو چې ښکاره دا کارونه کوئ د جېل والاو نه وېرېږئ نه؟ نو هغه په خندا شو راته یې وویل چې خانه ته لا نوی یې دجېلخانې په حالت خبردار نه یې په جېلخانه کې چې پیسې ورکوې څه چې دې زړه غواړي هغه کولی شې. زه خو غریب سړی یم چا ته پیسې ورکولی نه شم دا ته چې څه وینې دا د جېل والاو مهرباني ده چې سږ کال یې ما ته د نسوارو او تماکو ټیکه راکړې ده، زما ګوزاره هم پرې کېږي دوی ته هم څه ورکوم او زما د دې ورونو هم را سره وخت تېرېږي. زه د دې خبرې په اورېدو حېران شوم او ورته مې وویل چې کاکا! جېلخانه او ټیکه داري؟ هغه راته وویل چې دلته د هر څیز ټیکه داري وي او دا ټیکې هر کال باقاعده بدلېږي او بولۍ پرې کېږي. دلته د ګوړو، غوړو، وریژو، تماکو، ګزارو، پیو، غوښو او نورو شیانو دپاره بېله بېله ټیکه ده. د چای څکلو نه وروسته ما هغوی سره د پښتنو په بې اتفاقۍ خبرې وکړې، د پرو جنبو اوجنګونو نقصان مې ورو ښوده.

هغوی پوهـ شول چې بې شکه دا ډېر خراب کارونه دي ما ورته ووې چې خراب دي نو تاسو له په کار دي چې خپل نور پښتانه ورونه پرې پوهـ کړئ او د دې کارونو نه یې منع کړئ. زه

چې تـرې را رخـصتېدم مـا تـه يـې د ګـزارو او تمـاکو سـتهور وښـوده مـا تـه يـې يـو ډډې تـه يـو ځـای وښـوده چې دلتـه څـه شـی شـته کنـه؟ هلتـه هـېڅ نـه معلومېـده اوارہ ځمکـه وه هغـه ځـای يـې لـږ وکنـستلو يـو برغـولی را څرګنـد شـو لاتـدې تـرې لويـه چاتۍ وه پـه چاتۍ کـې د ګـزارو قـسم قـسم پـوړۍ وې د دوه انـو نـه تـر اتـو انـو پـورې بـه يـې خرڅـولې. مـا ورو ورو پخپلـه کارخانـه کـې کـار شـروع کـړو او هـر پـښتون سـره چې بـه مـې ملاقـات کېـدو ضـرور بـه مـې د پـرو جنبـو ذکـر ورسـره کولـو، دڅـومره کـسانو سـره چې مـا دا خبـره کـړې ده پـه هغـوی کـې يـو هـم داسـې نـه و، چـې د دې خبـرې اثـر وربانـدې نـه کېـدو هغـوی ورو ورو دا خبـرې محـسوسولې او پـه کـې خورېـدلې.

يـوه ورځ د بنـو يـو خـان چې مـا سـره پـه دې کارخانـه کـې و، زه يـې مېلمـه کـړم او يـو لـوی خانـک شـيره يـې را لـه پخـه کـړه پـه جېلخانـه کـې د بنـو والـو شـيره ډېـره خوښـه وه او ګـران مېلمـه تـه بـه يـې پخولـه مـا سـره يـې څـو کـسان نـورهم مېلمانـه کـړي وو،دا کـسان راتـه اکثـر د رسـوخ خاونـدان او د ډلـې د سـر سـر سـړي معلومېـدل. د ډوډۍ خوړلـو نـه پـس مـا هغـوی تـه وويـل چې زه تاسـو سـره يـو ضـروري خبـره کـول غـواړم،پـه ښـه شـان يـې واورئ او چـې څـه واورئ او چـه څـه درتـه مناسـب ښـکاري هغـه جـواب بـه را کـړئ. ماورتـه وويـل زه چې لـه کـوم وختـه دې جېلخـانې تـه راغلـی يـم او ماتـه کـوم حـالات معلـوم شـوي دي نـو زه پـه دې نتيجـه رسـېدلی يـم چـې دلتـه د پـښتنو ډېـر بـد حـال دی د قـسم قـسم ظلمونـو او رشـوت نـه عـلاوه د يـو پـښتون عـزت محفـوظ نـه دی، مـا اورېـدلي دي چې يـو پـښتون د بـل د شـرمولو دپـاره جېـل والاو لـه بـډې ورکـوي او خپـل ورور پـښتون پـرې شـرموي، لـيکن دا هـم اورم چې سبا هغـه پـښتون بيـا د بـدل اخيـستلو دپـاره همـدا کـار کـوي او دا سلـسله لـه ډېـرې مـودې

دلتـه جـاري ده تاسـو ورتـه لـږ ښـه ځيـر شـئ،په دې کـار کـې زمـونږ د دنيـا او اخـرت څـومره زيـان دی؟ کـه جېـل والادا کارونـه کـوي خـو د خپلـو بډو او پيسـو دپـاره يـې کـوي او ګټـه يـې پـه کـې ده او زمـونږ خـو پـه کـې سراسـر زيـان دی. مالونـه را نـه لاړل، عـزت رانـه لاړ. نـن تـه زمـا پـه بـې عزتـۍ مـال ورکـوې سبا زه سـتا پـه بـې عزتـۍ مـال ورکـوم . پـه دې طريقـه پـه يـو پـښتون پـورې هـم حيـا پـاتې نـه شـوه، بلـه خبـره چـې مـا تـه معلومـه شـوې ده دلتـه پـښتانه پـه دوه ډلـو تقـسيم شـوي دي، يـوه ډلـه د پېـښوريانو او مـردان والاو ده او بلـه ډلـه د کوهاټيـانو، بنووالـو او ډېـره والـو ده او اکثـر پـه وړو وړو خبـرو پخپلـو کـې جنګونـه کـوي او اکثـر جنګونـه يـې پـه هلکـانو وي. زه بـه تاسـو تـه يـوه خبـره وکـړم کـه فکـر مـو ورتـه وکـړو او زړه تـه مـو پرېوتـه مـونږ او تاسـو بـه د دې ذلـت نـه خـلاص شـو، مـونږ ټـول پـښتانه يـو قـام او يـو ورونـه يـو، د يـو بابـا اولاد يـو، زمـونږ عـزت او ذلـت يـو دی، کـه چېـرې مـونږ د رسـول الله صـلی الله عليـه وسـلم پـه دې حـديث عمـل وکـړو،(( چـې پـه ځـان دې څـه پېـرزو نـه وي پـه بـل يـې هـم مـه پېـرزو کـوه)) .نـو ډېـر زر بـه کاميـاب شـو، مـونږ چـې د خپـل پـښتون ورور سـره د هـر سـلوک اراده وکـړو پـه کـار دي چـې د لـږ سـاعت دپـاره پـه هغـې غـور وکـړو او خپـل ګرېـوان کـې وګـورو کـه چېـرې دا کـار بـل څـوک مـا سره وکـړي، نـو زه بـه پـرې خوشـحاله شـم کـه خپـه؟ کـه چېـرې زه پـه دې خوشـحالېږم، نـو هغـه کـار کـول پـه کـار دي او کـه زه پـرې خپـه کېـږم، نـو پـه کـار دي چـې دغـه کـار مـونږ ونـه کـړو.

بلـه دا چـې مـونږ پـښتنو کـې کـه يـو سـړی بـد کـار وکـړي نـو پـه دې وجـه د هغـه ملګرتيـا پـه کـار نـه ده،چـې دی پېـښوری دی، يـا بنـووال دی،يـا کوهـاټی دی، يـا ډېـره وال دی او زمـا د علاقـې دی،

د بدکارو او بد چلندو خلکو ملګرتیا نه ده په کار که په ځان زمونږ وړور هم وي ځکه چې د دې دلاسه قام او سوسایټۍ ته نقصان رسیږي او همدا خلک قام تباه کوي.

مونږ ته په کار دي چې همېشه د حق او ښو خلکو ملګرتیا وکړو، که په مونږ کې یو سړی بد کار وکړي مونږ ټولو له په کار دي، چې د خپلې وروری، اوعزیزولۍ نه یې وباسو که هغه بنووال وي، که پښوری وي، که کوهاټی وي، که ډېره وال وي، که مونږ په رښتیا په دې لاره روان شو نو زر به هغه کسان چې په بدو لارو روان دي او د چا د لاسه چې پښتانه په دې مصیبت اخته دي د خپلو بدو کارونو نه به واوړي.

دا نن چې پښتانه په بدو لارو روان دي د دې وجه دا ده چې مونږ د ښو او بدو فرق نه کوو او نه څوک شته چې د ښو او بدو په فرق مو پوهه کړي . یو بدعمله سړی چې وینې چې زما په بدعملۍ کې ملاتړ کیږي، نو هغه به ولې د خپلې بدعملۍ نه لاس اخلي او که مونږ د ښو بدو فرق وکړو او لکه چې هر ماخوستن په لمانځه کې د خدای سره وعده کوو چې: ((و نخلع ونترک من یفجرک)) یعنې څوک چې ستا نافرماني کوي، مونږ به هغوی پرېږدو کور کلی به ورسره نه کوو، که دا وعده په ځای کړو پښتون به یکدم بدل شي. نو مونږ ته په کار دي چې په دې خبرو هر پښتون پوهه کړو او دا خبرې د هر پښتون غوږ ته ورسوو، په دې مو دعا د خیر وکړه او د یو بل نه رخصت شو.

په دې مینځ کې بنوڅیو د مردان د یو هلک په سر ګنګا رام ته بدې ورکړې وې او هغه یې بې عزته کړی و، په دې خبره پښوریان ډېر خپه شول او جرګه یې وکړه چې د بنوڅیو نه بدل اخلو او د جنګ دپاره یې ورځ مقرره کړه، چې خبر شوم ورغلم

منت زارۍ مې ورته وکړې، چې مونږ ته دا کار کول نه دي په کار . په ډېرو خوارو مې هغوی له جنګه منع کړل،هغه هلک له مې هم ډېره تسلي ورکړه او په کور کې مو دا فیصله وکړه،چې په دې جیل کې خو پوښتنه نشته او سپرنټنډنټ د دې خبرې پوښتنه نه کوي، ښه به دا وي چې په انګرېزۍ کې یو درخواست ولیکلی شي او د ګنګا رام په سر ډپټي کمشنر ته شکایت وشي. درخواست تیار شو او ډپټي کمشنر ته ورکړی شو،لیکن د پرنګي په حکومت کې د مظلوم دپاره انصاف نشته، بله دا چې داسې واقعات پیدا شي، نو بیا پرنګیان پرې د خپلې محکمې د بدنامۍ له خاطره پرده اچوي د انصاف فکر لاړ شي او په اتفاق سره د خپلې محکمې د صفایۍ کوششونه او تجویزونه شروع کړي، اوس هم دا حال دی. حقیقت دا دی چې پرنګیان خو دلته په دې ملک کې د اصلاح ،ترقۍ او انصا ف دپاره نه دي راغلي دوی خو د لوټ،تباهۍ او بربادۍ دپاره راغلي دي ولې چې په ټولو محکمو کې د وړوکي نه تر لوی پورې ټول افسران غله او بډي خواره دي بې د بډو او ډالۍ نه پرې څه کار کېدی نه شي . دا ټولې خبرې پرنګیانو ته ښې معلومې وې، معلومې څه پخپله په کې شریک وو، نو اصلاح به یې څنګه کېدی شي؟

ګنګا رام ته چې څه وخت دا معلومه شوه چې زه خو پښتانه په سمه لاره روانوم او دده دکانداري خرابېږي، نو فوراً یې زما په سر سپرنټنډنټ ته شکایت وکړو او زما برخلاف یې لویه کیسه له ځانه جوړه کړه او زه یې بیا په سپرنټنډنټ په هغه توره او تنګه کوټۍ کې واچولم . د ماشو له لاسه مې خوب کولی نه شو، داسې څه څیز را سره نه و، چې ځان په کې د ماشو نه پټ کړم کمبل را سره وه،خو کمبل په ګرمۍ کې اغوستل ګران کار

وي . د شپې به همېشه تياره کې کېناستم پاڅېدم،د لړم د چيچلو وېره به راسره وه،د شپې به مې د ړوند په شان پنه را واخيسته دې خوا اخوا به مې وهله، سحر چې به را پاڅېدم يو دوه لړمان به مړه پراته وو،قيديان غريبانان خداى پاک پخپل فضل له دې بلاګانو نه ساتي.

## جېل کې زما ګناه:

سبا وختي سپرنټېنډنټ داروغه اوګنګا رام د ننه زما چکي ته راننوتل د سپرنټېنډنټ سترګې بدلې وې او د څېرې نه يې داسې معلومېده چې سرى ډېر په قار دى په لاس کې يې يوه لويه پرېړه وه، هغه يې ما ته واورولـه بيا يې راته وويل چې د جېلخانې په قانون کې دا سخت جرمونه دي زه ستا برخلاف مقدمه چلول غواړم، زما بر خلاف يې دا الزامونه لګولي وو.

ته يو سخت باغي يې او په جېلخانه کې بغاوت کوې،ته د جېل ملازمانو ته تبليغ کوې، چې سرکاري ملازمت کفر دى،ستا د دې تبليغ په وجه د دې چکو جمعدار استعفا ورکړې ده،ته په قيديانو کې پراپېګنډې کوې او په جېلخانو کې د بغاوت کولو کوشش کوې.

د دې خبرو په اورېدو ما هغه له جواب ورکړو چې د مقدمې په باره کې زه هېڅ نه وايم تا ته چې څه مناسب او انصاف ښکاري هغه وکړه،ليکن دا خبرې چې چا تا ته رسولې دي. رښتيا نه دي، بلکې بالکل غلطې دي. زه دا خبره منم چې يو جمعدار زما په وينا استعفا ورکړې ده، ليکن دا معامله داسې نه ده څنګه چې تا ته در رسول شوې ده . درسته خبره دا ده چې يوه شپه د دغه جمعدار په ما باندې پيره وه هغه ماته په خبرو

خبرو کې دا وویل چې زه بال بچ داریم او زما تنخوا لږه ده ګوزاره مې پرې نه کېږي .کله نا کله قیدیان پخپله خوښه بې زما د وینا نه څه نه څه راکوي .زور زیاتی پرې نه کوم د اسلام په موجب د دې پیسو اخیستل څنګه دي؟ ما ورته ووې چې دا پیسې روا، نه دي، ځکه چې هغوی تا ته حاجتمند وي رضا او رغبت خو به هله وي چې بهر وې او تا ته یې حاجت نه وي بیا یې تاله درکوي، ښه به دا وي چې په دې خپله تنخواه ګوزاره وکړې .ده راته ووې چې په تشه تنخواه مې ګوزاره نه کېږي، نو ما ورته بیاووې چې د نوکرۍ په ځای څه روزګار شروع کړه شاید چې په هغې کې دې ګوزاره روانه شي، که زما نه اوس هم څوک دغه شان پوښتنه وکړي، زه به دغه جواب ورکوم .پاتې شول نور الزامونه بالکل بې بنیاده دي،بې شکه ما قیدیانو ته تبلیغ کړی دی،لیکن د دې دپاره نه چې د جېل د قانون خلاف ورزي وکړي یا دې بغاوت وکړي، بلکې ما هغوی تل مجبور کړي دي،چې جګړه او فسادونه مه کوئ خپل مشقت کوئ اوچا له رشوت مه ورکوئ، هر کله چې دا خبرې ستا د جېل د افسرانو په جېبونو کې فرق او امدني کې کموالی راولي نو زه باغي یم او ښه سړی نه یم. بیا مې ورته وویل دا جېلخانه په یو ډېر خراب حالت کې ده،ته د هېڅ نه خبر نه یې او نه خبرېدی شې،که خبر هم شې ته یې اصلاح نه شې کولی،ته چې هغه بله شپه په ګشت راغلی وې،په یو بارک کې شور و،ته ورغلې ته پوهـ شوې چې دا شور په څه و،تا ته چې دوی هر څه ویلي وي ویلي به یې وي،خو هغه شور په شرابو او کبابو و،په دې جېلخانه کې د غریبانو بده ورځ ده،د دولتمندو مزې دي .په دې جېل کې د هېچا عزت محفوظ نه دی،کوم رشوت خواره او بدچلند افسران چې زه ستا په

جېلخانه کې وینم ما په بله جېلخانه کې لیدلي نه دي . زما په دې خبرو سړی لړ غوندې یخ شو سترګې یې پرانستی شوې او ما ته یې ووې ښه به دا وي چې ما ته لیکلی جواب راکړې او بیا باهر ته روان شو ،ما لیکلی بیان ور ولېږو بیا وروسته معلومه شوه چې ګنګا رام وغیره یې خپلې بنګلې ته غوښتي وو او ښه یې دباو کړي وو، چې تاسو په ما باندې یو بې ګناه سړی په چکۍ کې بند کړو، لیکن باوجود د دې علم نه یې زه د چکۍ نه ونه ښکلم ځکه چې هغوی په ده دباو کړی وو،چې که دی له چکۍ نه بهر کړو، نو په وقار، عزت (Prestige)کې به فرق راشي د دې جېلخانې نظام به ګډوډ شي. د پرستېژ په نوم چې دې څه زړه غوارې هغه په پرنګیانو کولی شې، ځکه چې په داسې وخت کې دوی په ظلم او انصاف کې هېڅ تمیز نه کوي.

زما په چکۍ کې د بندېدو نه چې څه وخت نور قیدیان خبر شول،نو یو اشتعال په کې پیدا شو،په ما یې سخته پیره لګولې وه،خو ما به قیدیانو له جواب ورلېږلو چې پام وکړئ ځکه چې ما ته خو معلومه وه چې هېڅ بې هېڅه په قیدیانو څومره ظلمونه کېږي، هسې نه چې څه بانه یې هم ګوتو له ورشي، نو بیا دې یې خدای مل شي . په دې جېلخانه کې یو څو هندوستاني فوجي افسران او سپایان وو، چې د خپلو ښو خیالاتو په وجه قید شوي وو،یو په څه چل ما ته ځان را ورسولو او را ته یې وویل چې مونږ فیصله کړې ده، چې د ډوډۍ د نه خوړلو هړتال وکړو، لیکن ستا نه اجازت غواړو، ما د هغوی شکریه ادا کړه او د دې کار نه مې منع کړل، ځکه چې زه د جېلخانې د ایجي ټیشن برخلاف وم. په دې ورځو کې د نوښار بابو سلطان محمد زما پوښتنې ته راغلی و او زما د ملاقات

درخواست یې ورکړی و، خو د هغه وخت درخواست منظور نه شو او ما سره یې ملاقات ته پرې نه ښود. ملاقات زما حق و، خو جېل والاو د واقعاتو د پټ ساتلو په غرض د ملاقات اجازه نه وه ورکړې، چې سیاسي قیدیانو سره دا سلوک کېږي، د نورو دې خدای مل شي.

د سیاسي قیدي له حاله بهر څوک نه شي خبرېدلی، د اخلاقي قیدي له حاله به څه خبر شي؟ هر څه چې ورسره کولی شي په اور کې د سوزولو پورې خو زه پخپله خبر یم. د انګرېز انصاف او تهذیب که څوک ګوري، نو جېلخانو ته دې لاړ شي، چونکې زما صحت خراب و، بله ورځ سپرنټنډنټ ما ته راغی زه یې وکتلم او زما په ټکټ یې ولیکل چې یوه ګېنټه یې سهار او یوه ګېنټه یې ماښګر له چکۍ نه وباسئ او د تازه هوا اخیستلو دپاره یې بهر ګرځوئ. د شپې ورځې تنهایي قید نه به مې کله کله زړه ډېر تنګ شو او چې خپله بې ګناهي به رامخکې شوه، نو به ډېر په قار شوم لیکن بیا به مې زړه له تسلي ورکړه، د قام او ملک د خدمت دپاره خلکو قسم قسم تکلیفونه وچت کړي دي او دا د خدای یو امتحان او ټریننګ دی. د خدای کارونه ټول د خیر وي ما له صبر کول په کار دي، ځکه چې خدای د صبرناکو ملګری دی اخر به یې نتیجه په خیر وي ټول عمر به دا کړاوونه نه وي اخر به راحت راشي.

## ډېره غازي خان جېل:

یوه ورځ سهار وختي سپرنټنډنټ په تادۍ زما چکۍ ته رانوت راته یې ووې، چې ته ما د دې جېل نه بدل کړې، بهر پولیس ستا د بېولو دپاره ولاړ دی ځان سمبال کړه. زما څه

سمبالي وه يو قران شريف و، هغه مې غاړې کې واچولو او روان شوم، چې د جېلخانې دروازې ته ورسېدم پوليس راته په لاسونو کې اتکړې واچولې په پښو کې خو مې بېړۍ او په غاړه کې مې د اوسپنې کړۍ له پخوا نه موجودې وې، بهر موټر د سنګين چړاو سپاهيانو په مېنځ کې ولاړ و. پوليس کپتان زه يو پښتون ټانه دار ته په حواله کړم او پخپله رانه پاتې شو، ټانه دار زه په ټانګه کې سور کړم په ټانګه کې د ننه چې څومره پوليس ځايېدی شول، هغه يې د ننه کېنول او چې د ننه نه ځايېدل هغه يې بهر ودرول او مونږ روان شو، مونږ چې څه وخت درياخان ته ورسېدو رېل رانه تللی و، ستېشن ماسټر ووې، چې نيمه ګنټه مې رېل ستاسو، دپاره لېټ کړو، خو تاسو را ونه رسېدئ، ما نور نه شو لېټ کولی. ددې په وجه په ټانه دار صاحب ډېره وېره او هيبت راغی خو څه يې کولی شول، زمونږ دې نه رسېدو وجه دا وه چې د ابا سيند اوبه د ګرمۍ له کبله ډېرې شوې وې پل يې شلولی و، د هغې په جوړېدو ډېر ساعت تېر شوی و، زمونږ په ستېشن کې شپه شوه ځکه چې په دې لاين په شپاوروز کې يو ګاډی ځي او راځي.

ټانه دار صاحب فوراً په وېټنګ روم(انتظارخانه) کې بند کړم او ډبله پيره يې را باندې ولګوله، حال دا دی که چا د درياخان ستېشن ليدلی وي دا به ورته معلومه وي چې په يوه دښته بيابان کې پروت دی، هلته خلک چېرته وو، چې ما ته راغلي وی، بلکه دا چې زه چا پېژندم؟خو پوليس خپل احتياط کولو، د دې ځای نه چې په څه فاصله يو پير صاحب اوسېدو زما نه خبر شوی و.

ما سره يې يو خل په ډېره اسماعيل خان کې ملاقات شوی

و، دی زما لیدو له راغی شاید چې دده لیده کاته هم ما سره شوي نه وی، خو ده یو ډېر د هوښیارتیا کار کړی و، چې ځان سره یې یوه ډکه توکری راوړې وه، چې په کې قسم قسم او د مزې میتایانې وې، چې زړه ته ښنګول ورته ګران و، چې سپاهیانو دا میتایانې ولیدلې، نو ما سره د هغه ملاقات وشو او سره ښه مشغول شو، د تللو په وخت کې پیر صاحب ماته د ډوډۍ ست وکړو، لیکن ما ورته ووې چې ستا شکریه دا وخت ستاسو د ډوډۍ دپاره موزون نه دی. زه سرکاري مېلمه یم، پیر صاحب په خندا شو په خوشالۍ سره رخصت شو، ماښام شو لیکن زه پولیس والاو د کوتې نه بهر نه کړم او نه یې زما د لاسونو اتکړۍ وښکلې. ما ته د دې نه په جېلخانه کې ارام و، ولې چې هلته خو مې لاسونه خلاص وو . دلته مې لاسونه تړلي وو . تانه دار صاحب د خبرو ډېر تکړه و، خو د عمل نه و، په خبرو خبرو کې به یې ځان قومي سړی ښودلو، لیکن ویل به یې چې زه څه وکړم کپتان صاحب را سره خپل منشي رالېږلی دی، چې زه ستا سره څه مهرباني ونه کړم، خو د منشي د تللو نه پس هم د ده په رویه کې ما څه فرق ونه لیدو.

تانه دار صاحب ما په رموز کې ډېر پوهه کړ، چې اوس تیاره شوه هېڅوک نشته لږ به بهر وګرځو تازه هوا به واخلو تولـه ورځ په ناسته تنګ شوی یم، لیکن د هغه غوږ په دې خبرو نه ګرېده. زه مجبور شوم چې پوهه یې کړم چې د جېلخانې په وجه زما صحت خراب شوی دی د ډاکټر دا هدایت دی چې زه یوه ګېنټه سهار او یوه ګېنټه مازیګر په تازه هوا کې وګرځم او ته اوس ما د دې کوتې نه بهر نه وباسې، که زما صحت ته څه نقصان ورسېدو د هغه ذمه وار به ته یې. ددې خبرې په تانه دار

صاحب څه اثر وشو او سپاهیانو له یې حکم ورکړو، چې بهر یې وباسئ او په پلیټ فارم یې وګرځوئ.

د پرنګیانو او د هغوی د نوکرانو دا خصلت دی چې تر کومې دې ورته نېغه خبره نه وي کړې په غوږ یې نه لګي. د خوب وخت شو، ویده شوم. په خوب کې هم پولیس والاو زما د لاس نه اتکړۍ ونه وېستې، خو دومره یې وکړل چې د دواړو لاسونو نه یې یو لاس ته کړې، او ځنځیر یې کټ پورې وتړلو خوب مې په ارام ونه کړی شو، چې رېل راغی څو کسه پولیسان مخکې ورغلي وو او یوه کوټه یې زمونږ دپاره خالي کړې وه، مونږ په کې سواره شو او رېل روان شو. زه نه پوهېدم چې کومې جېلخانې ته مې بیایي پولیس والاو دا خبره زما نه ډېره پټه ساتله نه پوهېږم چې ولې؟ ما هم ډېره پروا نه کوله. ما وې ځکه که نن نه وي؛ نو سبا به معلومه شي، چې ما چېرته بیایي .

زمونږ ګاډی چې به هرستېشن ته ورسېدو پولیسانو به زما دکوټې ور او کړکۍ بندې کړې او دوه کسه ټوپک والا به بهر د وره خولې ته ودرېدل څوک به یې نژدې نه را پرېښودل .دا دوی د دې دپاره کول چې ما څوک ونهویني او رانه خبر نه شي، چې زه یې چېرته بوتلم؛ خو د دوی دا طریقه غلطه وه، ځکه چې خلکو به د پولیسو سنګینو نه او ټوپک ولیدل که فکر به یې نه و هم به یې فکر شو او سودا به یې شوه راتلل به چې وګوري چې څه چل دی؟ او په دغه شان به په هر ستېشن کې ډېر خلک زما دکوټې نه ګیرچاپېر راجمع کېدل. ما چې کومه پراپېګنډه هېچرې نه شوه کولی حکومت پخپله ناپوهۍ راته پخپله وکړه .

زمونږ ګاډی اخر د غازي ګاټ په ستېشن ودرېدو د رېل پټلۍ د دې نه مخکې نه ده تللې . مونږ د رېل نه کوز شو.

په سټېشن راته يو جمعدار او دوه د پوليس سپاهيان ولاړ وو، چې مونږ يې وليدلو راغلل او د پوليس والاو نه يې زما پوښتنه وکړه، معلومه دا شوه چې هغوی زما د اخيستو (تسليمۍ) دپاره راغلي وو، سپاهيانو ته يې وويل چې اتکړۍ ورنه لرې کړئ هغوی زما د لاسونو نه اتکړۍ وښکلې او دوی ته يې په حواله کړم.

زمونږ مسلمان پښتون تانېدار صاحب ته چې نادرخان يې نوم و، او په ((ډيکايټ))(Dacoit) ډاکو مشهور و، زمونږ نه په څه وجه وروسته پاتې شوی و، چې راغی او ويې ليدل چې زما په لاسونو کې اتکړۍ نشته نو وارخطا يي پرې راغله او ويې وې، چې د ده نه اتکړۍ چا وېستلې دی، هغه جمعدار چې يو هندو و ورته يې ووېل چې زه د ډېره غازي خان د سرکار له طرفه د ده دپاره مقرر شوی يم، دی اوس زما ذمه وارۍ کې دی دا زما باور دی چې داسې خلک تښتي نه، دوی خو پخپله خوښه او رضا جېل ته راغلي دي څه ډاکو خو نه دی. د دې دومره پوليسو، ټوپکو او سنگينونو څه ضرورت و؟، ما ورته ووې چې دا سرحدي حکومت د خپل رعب داب قايمولو دپاره راسره کړي دي. تانېدار صاحب لږ غوندې کچه شو، ليکن د سرکار عجيبه نوکران دي. د هغوی غوږ په دې خبرو نه گرېږي، مونږ لا دا خبرې کولې چې په دې کې يوهندو راغی په لاس کې يې د پېو ډک گيلاس و، راسېدو سره يې ماته ونيوه. زما د څکلو اراده نه وه، خو د هغه سړي مينې او اخلاص زه د هغو پيو په څکلو مجبور کړم. رښتيا خبره دا ده چې د هندو او مسلمان سوال خو پرنگي او غرضيانو خلکو را پيدا کړی دی .که هندو سره په رښتيا د هندو او مسلمان سره د مسلمان غم وي، نو نن به زمونږ د ملک

او قام دا حالت نه وی. زما چې څومره یاد دي او تجربه مې ده نو ما سره یو هندو ملازم د یو مسلمان ملازم نه تل ښه سلوک کړی دی، دغه وخت زه پوهـ شوم چې زه یې د ډېره غازي خان جېل ته را بدل کړی یم. مونږ د سټېشن نه را روان شو او د ډېره غازي خان د تللو نیت مو وکړو، ډېره غازي خان د اباسیند نه دولس میله لرې دی، دلته یکې چلیږي . هغه قسم یکې چې پخوا به زمونږ ملک کې چلېدې، مونږ یوه یکه کرایه کړه او په ډېر کوشش ایله په درې ګنټوکې جېلخانې ته ورسېدو، چې څه وخت مونږ ته د جېلخانې دروازه ښکاره شوه، نو جمعدار صاحب ماته دا ووې که چېرې ته خپه کېږي نه نو اوس به مونږ تا ته اتکړه واچوو. ولې چې جېلخانه راغلله ماوې ستا دا مهربانې او شریفانه سلوک به زما هېر نه شي اولاسونه مې ورته ونیول اتکړه یې راته واچولې . زمونږ یکه (ګاډی) د دروازې سره ودرېده . مونږ کوز شو د کوزېدو سره د جېلخانې د دروازې کړکۍ لرې شوه، مونږ ورننوتلو او د ورننوتو سره دروازه راپسې بنده شوه.

دروازه د خلکو ډکه وه هغوی ټول زما په ننداره شول شاید چې زه ورته عجیبه غوندې ښکارېدم . هغوی ګرم نه وو زما حالت ډېر عجیبه و، ما چې پخپله خپلې دنګې ونې لنډ کمیس او لنډ پرتوګ د غوږونو ټوپۍ د غاړې غاړکۍ په پښو کې بېړۍ او په لاسونو کې اتکړو ته کتل ځان به راته تماشه ښکارېده، د جېلخانې خوراک، پوشاک قانون او قاعده په داسې طریقه جوړ شوي دي چې په یو قیدي کې خود داري پاتې کېد ی نه شي.

په دې ورځو کې د سیاسي قیدیانو ملاقاتونه وو او خپل خپلوان یې د لیدلو دپاره راغلي وو او په دې وجه دروازه ډکه

وه، پولیس زه دفتر ته بوتللم او جېل والاو ته یې حواله کړم او هغوی رانه رخصت شو،څه وخت چې جېل والاو زما ټکټ او وارنټ وکتلو او ورته معلومه شوه، چې زه سیاسي قیدي یم نو همدردي یې راسره پیدا شوه،او ډاډګېرنه یې راکړه چې دلته ډېر سیاسي قیدیان دي ورسره خوشحاله به یې امید دی چې هېڅ تکلیف به درته نه وي .زما نوم یې د جېل په کتاب کې ولیکلو نو داروغه صاحب حکم وکړو،چې دی فلاني بارک ته بوځئ او دا اتکړې او بېړې و غیره ترې لرې کړئ .څه وخت یې چې زه جېلخانې ته د ننه کړم نو زما د راتللو نه سیاسي قیدیان خبر شوي وو .اکثر زما لیدلو له راغلل او ډېره مینه او محبت یې راسره ښکاره کړو او زما د بېړو په ماتولو کې یې هم ډېر کوشش وکړو د بېړو په لرې کېدو ما ته ځان بل شان معلوم شو اول بندي وم اوس ازاد شوم.

د بدلېدو په وخت کې د خپلې صوبې نه د وتو په وجه خپه وم، ځکه چې زما دې خپلې صوبې او پښتنو سره دومره مینه ده، چې زه یې بیان نه شم کولی،خپل ملک کې خپل قام سره وږی، تږی او په تکلیف کې خوښ یم، نه په بل ملک کې په عیش او عشرت کې،لیکن زما واک اواختیار خپل نه و، زه په هغه چا اوړېدلی وم چې زما ارام یې غرض نه و،بلکې زما تکلیف یې مطلب و، خو د بېړو په وتلو بیا هم زما څه نه څه سود وشو، ځکه چې د بېړیو سره مې ګرځېدل په تکلیف و، لمبل مې په تکلیف و، په ډډه اوړېدل مې په تکلیف و، په ګرمۍ کې به راباندې ګرمي او په یخنۍ کې به راباندې یخې لګېدې.

د جېل په ډېوډۍ کې په ملاقاتیانو کې لاله دوني چند او د خاتون امة السلام وروړ چې بیرسټر و هم موجود و،دوی بیا ماته

خبره کوله چې څه وخت مونږ بېرې په ښنو کې او اتکړې په دواړو لاسو کې د پولیس سره ولیدې نو مونږ وبوګنېدو چې دا به زورور ډاکو وي.

دلته په اخلاقي قیدیانو کې هم نه بېرې وي،نه غاړکۍ او نه په کې د لرګي تختې وي،سیاسي قیدیان به پرېږدو . داخلاقي قیدیانو سره هم هغسې سلوک نه کېده چې کوم مونږ سره د سرحد په جېلخانه کې شوی و،د دې نه پس مې ولمبل او ډوډۍ تیاره وه،ومې خوړه او د خدای شکر مې ادا کړ،چې له هغې جېلخانې نه یې په خیر راووېستلم .که چیرې په هغه جېلخانه کې وی، نو ژوندی ترې راوتی نه شوم . ددې ځای ډوډۍ کې او د سرحد د جېلونو په ډوډۍ کې فرق و،د سرحد د جېلونو خوراک د خوراک په تعریف کې نه راځي او د دې ځای ډوډۍ خو کم نه کم د خوراک په تعریف کې راځي. یو ترپړی او یوه کمبله یې راکړله خپل بارک ته لاړم بستره مې وغوړوله او ویده شوم.

## د جېل ژوند:

دا یوه وړوکې د مزې او ډېره صفا جېلخانه وه، په دې کې ټول تال درې بارکه وو او په مېنځ کې یو وړوکی هسپتال و،د ټولو نه لوی بارک کې هغه سیاسي قیدیان وو،چې سپېشل کلاس ورکړ شوی و،ورپسې هسپتال و او بیا زمونږ بارک و. په دې کې مونږ هغه سیاسي قیدیان اوسېدو چې کوم «سي» (C) کلاس کې وو او هغه دریم بارک کې اخلاقي قیدیان وو،چې بهر په باغ کې به یې هم کار کولو او د ننه به یې هم صفایي کوله،ولې چې سیاسي قیدیانو ته بهر د کارکولو اجازت نه و، په دې جېلخانه کې د سیاسي قیدیانو دپاره یو قسم مشقت،

څرخه کول او منج غښتل وو، څرخه د سپیشل کلاس د قیدیانو دپاره وه او منج او مېچنې د (C) کلاس قیدیانو دپاره وو، سبا له چې سپرنټنډنټ صاحب راغی او زه یې ورته پېش کړم، نو چونکه زه په (سي) (C) کلاس کې وم، نو زما دپاره یې هم د منجو غښتلو مشقت ولیکه. ما چېرې دا کار کړی نه و او نه د منجو غښتلو چل راتلو زما هغه نور ملګري تکړه وو، هغوی به ما سره ډېر ناکام او کوشش کولو او د غښتلو چل به یې راته ښودلو ما به هم ورته ډېر فکر کولو او د زده کولو کوشش به مې کاوه، خو زده کولی مې نه شو، ما دا خبره ډېره محسوسوله لیکن مجبوروم بله ورځ مې سپرنټنډنټ ته ووې چې دا کار خو زه کولی نه شم، دا به ښه وي چې تاسو ما له د مېچن کار راکړئ، ځکه چې دا ماته بد ښکاري چې زه خپل مشقت پوره کولی نه شم . بله دا چې سپرنټنډنټ او داروغه دواړه ښه سړي وو، ما سره به دوی ډېره مهرباني کوله او زما په مشقت نه پوره کولو یې څه نوټس نه اخیستلو . لیکن ماته به دا خبره بده ښکارېده او ځان به راته ښه نه ښکارېدو. بیا یې ما له د څرخې مشقت راکړو، جېل والاو مونږ د (C) کلاس قیدیانو له بېل د پخلي دپاره لنګر (باورچي خانه) راکړی و او د هغه ټول واک اختیار زمونږ په لاس کې و او د پخلي دپاره به یې هر څیز چې راکولو پوره صفا او ښه او زمونږ د خوښې به یې راکولو، بل د پخلي وغیره انتظام به زمونږه سیاسي ورونو پخپله کولو، په دې وجه زمونږ خوراک ښه و او مونږ ته ارام و او کله نا کله به د سپیشل کلاس والاو هم د خپل خوراک نه څه حصه مونږه له رالېږله. لیکن د دې سره د (C) کلاس او سپیشل کلاس قیدیانو تعلقات پخپلو کې ښه نه وو او د دې ټوله وجه دغه

امتیـاز او فـرق و، چـې کـوم پرنګیـانو قـایم کـړی و. زه یـو پردیـسي سـړی وم، د هغـوی د انـدروني حـالاتو نـه خبـر نـه وم، لـیکن زه د هغـوی پـه بـې اتفـاقۍ ډېـر خپـه وم، مـا بـه همېشه دا کوشـش کـاوه چې د دوی د زړونـو نـه دا خفګـان وباسـم . لـیکن زمـا خبـرو پـه چـا ډېـر اثـر نـه کـاوه، بلکـې دا بـې اتفـاقي او نفـرت ورځ پـه ورځ زیاتېـدو، اخر دې حـد تـه ورسـېده چـې(C) کـلاس والاو د سپېـشل کـلاس والاو د ټولـو څیزونـو د اخیـستو نـه انکـار وکـړو اصـولاً خـو زه د دې خبـرې نـه خـلاف وم او زمـا هـم دا رایـه وه چـې پـه سیاسـي قیـدیانو کـې فـرق نـه وي او د ټولـو سـره دې یـو شـان سلوک کېـږي. مـا چـې کـوم وخـت سـپرنټنډنټ صـاحب تـه ووې چـې زه د منجـو کـار نـه شـم کـولی، مهربـاني وکـړه زمـا دا مـشقت بـدل کـړه او داسـې مـشقت راکـړه چـې زه خپـل مـشقت پـوره کـولی شـم، نـو د دې نـه پـس یـې د څرخـې هغـه مـشقت راکـړو، چـې سپېـشل کـلاس والاو بـه کولـو او جـامې یـې هـم را لـه زمـا پـه کـچ جـوړې کـړې او سپېـشل کـلاس تـه یـې بـدل کـړم . پرنګیـانو چـې کـوم امتیـاز قـایم کـړی دی، دا پـه نېـک نیتـۍ نـه دی دا یـې پـه دې غـرض قـایم کـړی دی، چـې پـه مـونږ کـې همداسـې بـې اتفـاقي او ګړېـړي وي، خـو زه د دې پـه حـق کـې هـم نـه یـم چـې دې خبـرو لـه دې مـونږ دومـره اهمیـت ورکـړو، چـې زمـونږه تعلقـاتو او تحریـک تـه پـرې نقـصان ورسـي، ځکـه مـونږ چـې څـه کـوو نـو د ځـان دپـاره نـه بلکـې د خپـل قـام او خپـل ملـک دپـاره یـې کـوو، د بـل دپـاره خـو یـې نـه کـوو او بلـه دا چـې تاسـو تـه بـه معلومـه وي، چـې دا نـن مـونږ حکومـت سـره پـه جنـګ یـو دا خـو د دې دپـاره دی چـې مـونږه دا امتیـاز لـرې کـول غـواړو او د دې پـه ځـای مـساوات قـایمول غـواړو او تـر هغـه وختـه پـورې دا امتیـاز لـرې کېـدی نـه شـي، چـې تـر کومـه پـورې مـونږه کامیابـه شـوي نـه یـو

او واک اختیار زمونږ په لاس کې راغلی نه وي. «مونږ له چې کله د معمولي اختیاراتو وزارت په ګوتو راغلی و، قانون مو جوړ که چې ټولو سیاسي قیدیانو سره دې یو شان او ښه سلوک کېږي. امتیاز مو ختم کړی و، خو د هغې نه پس چې د مسلم لیګ حکومت جوړ شو او مونږ جېلخانه کې واچول شو نو هغه مساوات ختم شو، هغه قانون یې مات کړو او مونږ سره یې هغه بدل سلوک وکړه چې پرنګي راسره کړی نه و حالانکه مسلم لیګیان چې کوم وخت زمونږ په حکومت کې جېل له راغلي وو، نو مونږ ورسره د هغه قانون مطابق سلوک کړی و.»

مونږ په دې (C) کلاس بارک کې تقریباً شل کسان وو، په دې کې یو زه، دوه هندوان او نور ټول سکهان وو، ما سره د ټولو تعلقات ښه وو او اکثر را باندې ډېر مهربان وو، زه دوی سره ډېر خوشحال وم، زه د دوی منځګړی وم، د دوی په کور کې چې به څه قسم جګړه پېښه شوه، نو په ما به یې فېصله کوله لیکن ما ته یو تکلیف و او هغه د خوب و، چې ما د شپې پوره خوب کولی نه شو او د دې وجه دا وه چې زمونږ اکثر سکهان ورونه به غوټه نیمه شپه پاڅېدل او په بارک کې به یې د تنه لمبل او بیا به یې خپل پوجاپاټ (عبادت او وظیفه) کوله یوازې لمبل نه و، بلکې هغې سره به یې په زوره زوره د خپلې عقیدې مطابق ذکر هم کولو، چې مونږ ټول به یې دخوب نه را ویښ کړو. افسوس چې مونږ خلک د بل د ارام او تکلیف خیال نه ساتو ګني همدغه ذکر مونږ ورو او پټ هم کولی شو، لیکن د دې خبرې کمی هم زمونږ په عامو مسلمانانو او هندوانو کې موجود دی . مونږ همېشه پخپل خیال پسې ځو او د بل فکر نه کوو دا یو لوی کمی دی . مونږ له په کار دي چې همېشه د خدای د مخلوق د تکلیف او

ارام فکر او خیال وساتو او څه چې کوو، نو چې اول یې په ځان وګورو که چېرې ځان له یې خوښوو بیا په کار دي چې بل له یې هم خوښ کړو او که چېرې ځان له یې نه خوښو نو چې بل ورور له یې هم خوښ نه کړو.

جېل والا په دې خبره راضي وو، چې ما هغه بارک ته بدل کړي، لیکن د دې وېرې یې بدلولی نه شوم، چې هسې نه دا نور سیاسي قیدیان څه اعتراض پورته نه کړي، دلاله دوني چند امبالوي او د بعضې نورو ملګرو دا رایه وه چې ما هغه بارک ته بدل کړي او هغوی سره یوځای شم. د هغوی د کوششونو او وینا په وجه سپرتېنډنټ زه هغه بارک ته بدل کړم او زما په ورتلو سره ټولو ورونو خوشحالي ظاهره کړه. په دې بارک کې مونږ شپږ شپېته کسان وو، چې په دې کې شپږ مسلمانان او باقي نیم په نیمه هندوان او سکهان وو، دا بارک ډېر لوی و، نو په درې خانو باندې تقسیم و، په یوه خانه کې تقریباً هندوان او مسلمانان وو او په دویمه کې سکهان وو او دریمه حصه کې زمونږ باورچي خانه وه او د سامان اېښودلو ځای و، لنګر زمونږه د ټولو یو و، هندوانو، سکهانو او مسلمانانو به په یو ځای او په یو دسترخوان ډوډۍ خوړه. ولې چې دا خلک پوهـ او اکثر تعلیمیافته وو. دلته ما خوب په ښه شان سره کولی شو او ماته هېڅ قسم شکایت نه و، ځکه چې دې خلکو به د ملګرو د ارام خیال ساتلو صرف دا خبره وه، چې هغه د څملاستو کډۍ په مالنډې وې، نو دوه کډۍ یې ځای کړې وې، چې ده ته تکلیف نه وي او که چېرې یو کس نیم به د شپې د لمبلو کیسه هم کوله، نوهغه دومره لوی بارک و، چې چا ته به تکلیف نه رسېدو او اکثرو کسانو به بهر لمبل او ښه کار خو دا وشو چې دلته زه د

مونجو غښتلو نه خلاص شوم. دلته زما کار ورپښل وو او هغه ما په ښه شان سره کولی شو. اول خو پرې ښه نه پوهېدم. لیکن بیا خو پرې داسې پوهـ شوم چې خپل مشقت به مې په دریو ګنټو کې ختم کړو. جېل والاو راته وویل چې مونږ غواړو چې تا نمبردار کړو، نو درپښلو نه به خلاص شې او معافي به هم درته ډېره میلاوېږي او باهر به هم څملې ما ورته وې، چې زه دا کار نه کوم او بیا ټوله ورځ به مطالعې ته وزګاروم، دکتابونو نه علاوه دلته به درې روزانه اخبارونه د اردو انګرېزۍ هم راتلل او د هغه په لوستو سره به مونږ د ملک د حال نه خبرېدو لیکن د دې ټولو خبرو نه زیاته خوشحالي، ارام او راحت ما ته په دې وجه و،چې یوه ډېره ښه سوسایټي ما موندلې وه، په دې کې د هر خیال او عقیدې خلک موجود وو او د هغوی د تبادله خیال په وجه ډېره فایده وه، یو خو مې د هر قسم معلومات زیاتېدل او بل مې وخت په ښه شان سره تېرېده دا موقع او وخت ما ځان دپاره یو لوی غنیمت ګڼه او ما نه چې څومره کېدی شوه ضایع کوو مې نه؛ بلکې د دې ملګرو د علم او تجربو نه مې فایده اخیسته بله دا چې الله تعالی ما له دا موقع راکړه چې د پښتنو خلاف چې څومره غلطې خبرې پرنګیانو خورې کړې وې او څومره غلطه د دروغو پراپېګنډه یې کړې وه، د هغې نه خبر شوم او څومره چې زما نه کېدی شوه،د خلکو د زړونو نه مې د هغو غلطو خبرو د لرې کولو کوشش وکړو.

## د پښتنو په هکله غلطه پراپېګنډه:

خود غرضو خلکو زمونږ په خلاف دومره پراپېګنډه کړې وه او داسې خبرې یې په خلکو کې خورې کړې وې،چې هغه د یو

سړي په خوب او خيال کې هم راتلی نه شي. د هندوستان خلکو ته د پښتنو متعلق هيڅ قسم معلومات نه وو. دا عاجزان د پښتنو متعلق په يوه لويه تياره کې پراته وو او زه شايد چې الله تعالی د ډېره غازي خان جېل ته د دې خبرې دپاره لېږلی وم، ځکه چې په دې جېلخانه کې اکثر د هندوانو او سکهانو لوی لوی ليډران او ذمه دار خلک قيد وو، چې زه دوی د حقيقت نه خبر کړم چې د هغوی د زړونو نه وېره او وهم لرې کړم او د پښتنو په حقيقت يې خبردار کړم د نفرت او نفاق په ځای محبت او اتفاق پيدا کړم، ددې خلکو په ذهن کې پښتون په بل رنګ کې معرفي شوی و، څه عجيبه مخلوق و، لاله دوني چند چې څه وخت ما سره ښه اشنا شو نو ويې ويل چې څه وخت ته ما په دروازه کې په اول ځل وليدې نو ستا د جوسې نه راته معلومه شوه، چې پښتون دی، نو زما دا يقين و، چې قتل يا ډاکه کې راغلی دی او شايد چې د داسې نورو خلکو به هم د پېژندګلو نه ړومبی زما متعلق دا خيال و، سره ددې چې لاله دوني چند د پنجاب ډېر لوی ليډر او لوی وکيل او ډېر عالم او باخبره سړی و، د دوی په ذهن کې دا نه راتله چې چېرته پښتانه او چېرته ښه کارونه او بيا د خدای دپاره د قام اوملک خدمت د دوی په خيال کې خو دا خبره ناسته وه چې د پښتون بې د قتل او لُوټ او ډاکې نه بل کار نشته . زما د يو ځای اوسېدو په وجه زما د خيال اوعمل نه واقف شو او ټولو به ماسره ډېره مينه او محبت کولو، څومره چې زمونږتعلقات زياتېدل هغومره د زړونو پټې خبرې راښکاره کېدې . په ابتدا کې به ما سره د دوی خبرې هميشه د پښتنو متعلق وې د مازيګر په وخت کې به مونږ د خپل بارک نه راووتو او ګرځېدو به چونکه زمونږ د ګرځېدو

دپاره بل ځای اجازت نه و، نوموږ به د هغه خپل بارک نه چاپېره ګرځېدو،د ګرځېدو په وخت کې به اکثر داسې وشو، چې موږ سره ملګرو کې به یو تن د خېټې هوا خارجه کړه، زموږه معاشره کې چونکه دا شی ډېر معیوب ګڼلی شو،نو ما له به ورپورې ډېره خندا راتلله، په څه بانه به مې ځان یو ډډې ته کړو او ښه د زړه د خلاصه به مې وخندل او روستو به بیا خپلو ملګرو له ګرځېدو له راغلم .زما ملګري چونکه نه وو خبر چې زه دوی پورې خاندم نو هغوی کې به یو تن نیم بیا هوا خارجه کړه او په ما به بیا د خندا چپه راغله، اخر دا واقعات دومره ځله اوشو چې زه ورسره مجبوراً بلد شوم او بیا به خندا نه راتلله، ورستو چې ما په دې فکر وکړو نو دا ماته دومره معیوبه خبره نه ښکارېده،بلکې که په غور ورته سړی وګوري نو د دې هوا بندول په صحت مضر اثر پرې باسي.

ماسره چې به چېرته څوک ملګري شو،نو اکثر به یې ما نه د سرحد او پښتنو تپوسونه کول او داسې پوښتنې به یې کولې،چې په اورېدو به یې زه حېران شوم .زموږ بحث مباحثه به ډېره عجیبه وه ما به همېشه دا کوشش کولو چې دوی په حقیقت پوهه کړم او د دوی د زړونو نه دا وهم او وېره لرې کړم. لیکن د عمرونو وهم وېره لرې کول اسان کار نه و، یوه ورځ را باندې یو لیډر په خبرو خبرو کې دا سوال وکړو، چې موږه اورو چې پښتانه د بنیادم وینې څکي، ما ورته ووې چې هو ! هغه تپوس وکړو چې دا ولې څکي؟ ما ځواب ورکړو چې د بنیادم وینه ډېره مزېداره وي او د هغې څکل هغوی له خوند ورکوي، سړی حیران شو او پوره یقین یې وشو،چې دا رښتیا دي .ما ترې پوښتنه وکړه چې تا تر اوسه پورې د بنیادم وینه نه ده

ځکلي، هغه ووې چې : «بابري بابري» لږ ساعت پس ترې ما تپوس وکړو چې تا سرحد يا پښتانه ليدلي دي؟ د هغوی د حالت نه څه خبردار يې؟ د هغو خلکو سره دې پېژندګلوي يا معامله شوې ده؟ د هغو د تهذيب او تمدن نه واقف يې؟ زما د دې قسم وينا په اورېدو سره لږ غلی شو بيا يې ورو غوندې جواب راکړو، چې ماته د هغه ملک هيڅ قسم حالات معلوم نه دي،نو بيا ما ورته ووې چې شايد تاته د غيبو علم حاصل دی او يا د پښتنو متعلق درته څه الهام شوی دی، هغه ووې چې نه ما خو د خلکو د خولې دا خبرې اورېدلي دي او اکثر خلک همداسې خبرې کوي ما ورته ووې چې دا خبرې ټولې غلطې دي،پښتانه هم دغسې خلک دي لکه څنګه چې تاسو يئ. څنګه چې تاسو کې ښه او بد خلک شته دغه شان په پښتنو کې هم شته. دا ټولې خبرې د پښتنو دښمنانو جوړې کړې او د هغوی پراپېګنډه ده،د دې خبرو مطلب يې ستاسو تېرا يستل او زمونږ بدنامول دي، ځکه چې تاسو ونه وېروي او مونږ بدنام نه کړي، نو بيا به په دې ملک کې بادشاهي څنګه کوي؟ . په اولو ورځو کې خو به هره ورځ زمونږ په بارک کې د پښتنو متعلق نوې نوې کيسې کېدلې دا خبرې زمونږ په حق کې ښې وې،ځکه ما له به په کې د خبرو موقع په لاس راغله . يوه ورځې زمونږه د بارک هندوان، سکهان او بعضې د جېلخانې افسران راجمع شوي وو، زه هم راغلم او د دوی په جمع کې شريک شوم. زما په راتلو سره د مجلس رنګ بدل شو او د پښتنو په باره کې بحث شروع شو، ما ورته ووې چې د هندوستان خلکو ته د پښتنو په باره کې د هيڅ قسم علم نشته او د دوی په غوږونو کې ډېرې غلطې خبرې زمونږ متعلق کېنولی شوې دي. حقيقت دا دی چې پښتانه

دغسې نه دي لکه څنګه چې ستاسو خيال دی. په دې کې سردار کړک سنګهـ چې دسکهانو يو لوی ليډر و، وويل په دې کې خو شک نشته چې پښتانه ډېر جګړه مار دي ما ورته ووې چې سردار صاحب بې شکه پښتانه به جګړه مار وي، ليکن سکهـ بهايي به هم د هغوی نه کم نه وي . زمونږ په خلکو کې دا يو لوی کمی اونقص دی چې مونږ همېشه د بل د کمزوريو او عيبونو د راوښکلو او لټولو په فکر او غم کې يو او خپلو کمزوريو او عيبونو ته فکر نه کوو او په دې وجه خو مونږ نن په دنيا کې برباد او نيستمند يو په ځای ددې چې مونږ بل ته ګوته ونيسو ځان ته ګوته نيول په کار دي او د نورو د اصلاح نه رومبی د ځان اصلاح فرض ده" .اول ځان دی بيا جهان دی ."ما د ټولو نه زيات تعلقات لاله دوني چند سره وو او د بدقسمتۍ نه د ټولو نه زيات شک د پښتنو متعلق د هغه په زړه کې ناست و او همېشه به يې ما سره د پښتنو په معاملو بحث کولو او د پښتنو متعلق د هغه عجيبه خيالات وو . ما به د هغه د بدلولو او اصلاح کولو او د هغه د زړه نه د دې شکونو شبهاتو د لرې کولو کوشش ونه کول، ليکن هغه داسې د هغه په زړه کې مضبوط شوي وو، چې د هغې ايستل يا د هغه اصلاح کول څه اسان کار نه و. زه چې يې په هر څه ستړی کړم، نو اخر يوه ورځ مې ورته ووې چې لاله جي تاسو په هندوستان کې څومره يئ، ځواب يې راکړو چې دوه ويشت کروړه او مونږ پښتانه سرحد کې دوه ويشت لکه يو، باوجود د دې دومره زياتوالي که چېرې تاسو بيا هم د پښتنو نه وېرېږئ، نو خدای دې په تاسو رحم وکړي او دا وېره دې ستاسو د زړه نه وباسي ليکن دا خبره ياده ولره چې داسې يو قوم د دې قابل نه دی چې ژوندی پاتې شي. دا دنيا د

بزدلانو دپاره نه ده،خو دا خبره زما یاده ولره چې تر څو پورې تاسو پښتانه خپل ورونړه کړي نه وي او په دوی مو اعتماد کړی نه وي او ځان سره مو په لاین کې اوړه په اوړه ودرولي نه وي، نه دا ملک ازادېدی شي او نه ابادېدی شي. په دنیا کې د هیڅ یو بزدل قوم هستي پاتې کېدی نه شي. ددې وینا په اورېدو د لاله جي څه نا څه تسلي وشوه او زه یې د ډېرو بحثونو نه خلاص شوم.

## زما د غاښونو مرض:

دلته د راتلو سره ما څه قدرې ورزش کول شروع کړل ولې چې زه د ډېرو ځنځیرونو نه ازاد شوم او په سرحد جېل کې ماته د ورزش کولو موقع هم نه وه، ځکه چې هلته به زما په پښو کې بېړۍ وې. ورزش مې نه شو کولی. دلته خو ماته د ورزش کولو موقع حاصله وه، زما دا خیال و، چې په ورزش کولو به زما صحت ته فایده ورسي زه به تکړه شم او وزن به مې هم زیات شي، ځکه چې د سرحد په جېلخانه کې خو زما صحت او وزن ډېر کمزوري شوي و، هلته خو به همېشه چکۍ کې بند وم خوراک د ځناور نه هم بد تر و او زما د مزاج مطابق سیاسي سوسایټي هم نه وه، که چېرته به سیاسي قیدیان وو هم زه به یې ترې بېل په چکۍ کې بند ساتلم او مشقت به مې هم هغه کولو چې په ډاکوانو او قاتلانو به کېدلو، بلکې قاتلان او ډاکوان به د هغه مشقت نه د رشوت په وجه بچ کېدی شول، ما خو رشوت هم نه ورکولو او مشقت که به هر څومره سخت و، هغه به مې پوره کولو او د خپلو ورونړو پښتنو د جنګونو، پرو

جنبو او تربګنو غم به هم راسره و او چې په هغوی به د جېل افسرانو څه لوبې کولې، هغه ما پخپلو سترګو لیدلې دا مې هم برداشت کولی نه شو، دا ځای خو د خدای فضل و، هغسې نه و، دلته سیاسي عالمانه ماحول کې شپې ورځې تېرېدې ټول په کې قومي مشران را غونډ شوي وو، خوراک هم ښه و،دا ماحول ما د خدای له طرفه یو لوی انعام ګڼلو او د دې انعام نه مې پوره پوره فایده اخیستل غوښتل رښتیا خو دا ده چې دغلته زما په نظر کې ډېر وسعت پیدا شو او ډېره تجربه مې وشوه او ډېره مطالعه مې وکړه. باوجود ددې هر څه زما صحت به ورځ په ورځ خرابېدو د ورزش کولو نه پس زما صحت ته څه فایده ونه رسېده او نه مې تول زیات شو، بلکې څنګه چې د کمېدو طرف ته روان و، هم هغه شان کمېده حالانکه دلته ماته د هر قسم ارام حاصل و او هېڅ قسم تکلیف راته نه و،زمونږ د جېل سپرنټنډنټ میا صاحب یو ډېر نېک او شریف سړی و، د هغه دا خیال و،چې شاید د جېل دا خوراک د ده دپاره کافي نه دی او دی په دې مړېدی نه شي په دې وجه دی کمزوری کېږي او وزن یې کمېږي، نو هغه زما دپاره نیم سیر پۍ د خوراک نه زیاتې مقرر کړې،لیکن د دې نه هم ما ته څه فایده ونه رسېده او همېشه به زما وزن د تول په وخت کې کمېدو، یوه وجه یې زما په خیال کې دا هم وه چې زما د خپلې ښځې سره ډېر محبت و او هغه به ما هره شپه په خوب کې لیده او بل د سرحد د جېلخانو د ګنده خوراک په وجه زما د غاښونو په اُورو کې پیپ(زوه) شوې وه، چې ډاکټر وکتلې نو ماته یې ووې چې ستا صحت د دې نه خراب دی او اُوری مې د غاښونو نه جدا شوې

وي. په غابښونو مې پاپوريا مرض حمله کړې وه او د خوراک په وخت کې به مې د وُرېو نه وينه هم تله څه وينه زما خوړلو سره تېرېدله او معدې له به تلله. غالباً چې هم په دې وجه زما صحت ورځ په ورځ خرابېدو د پرېډ په ورځ ما او زما ملګرو دا خبره سپرنټېنډنټ صاحب ته وکړه او هغه مو خبردار کړو هغه فوراً زما اُورۍ وکتلې او مونږ سره يې اتفاق وکړو ويې منله چې ستا د صحت د خرابوالي وجه همدا ده، ليکن د دې د کتو او مناسب علاج دپاره د غابښونو د يو لايق ډاکټر ضرورت دی او هغه په دې ښار کې نشته چې دا وګوري او مناسب علاج يې وکړي، نو سپرنټېنډنټ صاحب د جېلخانو جرنيل ته وليکل چې دی دې لاهور ته بدل شي، ځکه چې د ده اُورۍ او غابښونه خراب دي، صحت ته يې نقصان رسېدلی دی، چونکه دلته دده د کتو او علاج دپاره ډېنټل سرجن نشته په دې وجه دې دی د لاهور جېلخانې ته بدل کړی شي، چې هلته يې يو لايق ډاکټر وګوري او علاج يې وکړي. دا ليکل زما دپاره په جېلخانه کې څه وړه خبره نه وه دا د سپرنټېنډنټ صاحب شرافت او مهرباني وه، ځکه چې قيديانو ته خوک د پيرنګيانو په حکومت کې د سپي نظر هم نه کوي. د علاج دپاره بل ځای ته لېږل خو پرېږده څوک د وېرې نه د ناجوړتيا نوم قدرې په خوله اخيستی نه شي او با وجود د ناجوړتيا دارو قدرې نه ورکوي، ځکه چې جېل والاو قيدي هډو د خدای مخلوق نه ګڼي او کوم سلوک چې هغه سره کوي شايد چې په دنيا کې خلک ځناور سره هم نه کوي. ما ډېر قيديان ليدلي دي چې خپل قيدونه په ناجوړتيا کې په ولاړه ولاړه تېر کړي او اخر يوه ورځ سر ولګوي او مړ

شي. جېلخانه کې چې څنګه د يو قيدي مريض دپاره ليکل او سفارش کول يو لوی بخت غواړي دغسې يو لوی بخت د هغه د منظورېدو دپاره هم په کار وي، ځکه چې ډېر ځله داسې وشي، چې حکم راځي راځي نو د مريض فېصله شوي وي، يا د علاج کولو نه وتلی وي. د دې قسمه ډېر واقعات ما پخپلو سترګو ليدلي دي.پرنګي چې د خدای د مخلوق د ذلت او تکليف دپاره کوم فريبي حکومت جوړ کړی دی، هغې ته دفتري ياکاغذي حکومت ويلی شي. بعضې صرف کاغذونه د دستخطونو دپاره د يو دفتر نه بل ته او د بل نه بل ته لېږي او بيا پرې دومره وخت تېروي چې اکثر هغه اصلي مطلب فوت شي. دا تکليف يوازې په جېلخانو کې نه دی د پرنګيانو د هرې محکمې دا حال دی.

يو کال د دواوې د اديزو کلي ته د سيند مخه شوه د کلي خلکو غريبانانو ډېر درخواستونه وکړل، چې د هغې په سبب ډپټي کمشنر او نور ډېر افسران د موقع کتو له راغلل او دا هر څه يې پخپلو سترګو وليدل، ليکن چې د فتري کاروايي پوره کېدله او حکم راتللو نو اوبو کلی وړی و اود کلي د شلوګانو د ګنو ډېره ښکلې ځمکه يې هم سيند په مخه وړې وه، ليکن دا ياد ولرئ چې د دې قسم ټول تکليفونه صرف د خوارو خلکو دپاره وي او څه وخت چې د پېرنګيانو داسې کار پېښ شي چې په هغه کې د دوی خپل سود و زيان وي، نو دهغې فېصلې اکثر په ټيليفون باندې کېږي دا ولې؟ دا ځکه چې دا حکومت خو هغوی د خلکو د فايدې دپاره نه دی جوړ کړی، بلکې د خپلې فايدې دپاره يې جوړ کړی دی.

د ډېره غازي خان په جېل کې سياسي قيديانو سره ښه سلوک کېدلو او زمونږ د «سي» (C) کلاس هم ډېرې ښې ورځې تېرېدلې، داروغه ډېر ښه سړی و او د نورو څيزونو نه علاوه روزانه انګرېزي اواردو اخبارونه يې هم راکول، هېڅ ته د هېڅ قسم څه تکليف نه و، که چا به د بهر نه څه مېوه يا نور داسې ضروري شيان را غوښتل نو هم ورته اجازه وه، څه موده پس يو مولوي صاحب اسماعيل چې هغه د غزنوي خاندان نه و، راغی او څه ورځې پس يې هېڅ په هېڅه داروغه سره خبرې واړولې اونوبت يې بدو ردو ته ورسېدو. زمونږ ټولو ملګرو ته د مولانا صاحب دا حرکت ښه ښکاره نه شو او داروغه صاحب هم ډېره محسوسه کړه، ځکه چې د هغه مونږ سره د دې قسم سلوک نه و، لکه څنګه چې جېلخانه کې قيديانو سره وي د هغې ورځې نه يې مونږ سره تلل پرېښودل او ټول رعايتونه يې را باندې بند کړل او زمونږ د پاره يې څلور پښتانه نمبرداران را وغوښتل او د هغوی پيره يې په مونږ ودروله ليډرانو به اخبارونه په پټه راغوښتل او په پټه به يې لوستل يوه ورځې يو پښتون نمبردار دغه اخبارونه وليدل او ورغی او د دوی دلاسه يې واخيستل دوی ورته ډېر منت وکه، خو د دوی خبره يې ونه منله نمبردار دروازې ته روان شو، چې اخبار داروغه ته وښيي، يو کس په منډه منډه ما پسې راغی او ماته يې ووې چې لاړ شه هغه نمبردار مونږ نه اخبار واخيست داروغه ته يې وړوړي هغه د تګ نه منع کړه او اخبار ترې واخله. زه ورغلم هغه نمبر دار ته مې اواز وکه هغه راغی ماوې دا اخبار راکړه هغه راته ووې که داروغه صاحب د دې نه خبر شي، نو ما به مات کړي ما

ورته ووې چې ته دې خلکو ته وګوره دوی دې جېلخانې ته په څه کې راغلي دي؟ اخبار يې ماله راکړو او ما هغوی له ورکړو، خبر راغی چې د جېلخانې جرنيل ډېره غازي خان ته په دوره راځي. دا جرنيل ډېر سخت طبيعته سړی و او د کانګرس او قومي کارکنانو ډېر سخت مخالف و.ده حکم کړی و، چې جېلخانه کې به څوک نه ګاندي کيپ او نه تورپټکی په سروي. په دې جېلخانه کې چې څه سکهان وو د هغوی تورپټکي وو او څه هندوان او مسلمانان وو نو د هغو ګاندي کيپ و، دا د دې سپرنټنډنټ شرافت و، چې نه يې سکهانو ته ويلي وو، چې دا تورپټکي په سرول منع دي او نه يې مسلمانانو او هندوانو ته ويلي وو چې ګاندي کيپ مه په سروئ. چې جرنيل راتللو نو مونږ ته سپرنټنډنټ صاحب سوال ځواب وکړو، چې دا څيزونه په جېلخانه کې منع دي که د يو ساعت دپاره تاسو دا په سر نه کړئ، نو ښه به وي. مونږ د سپرنټنډنټ صاحب دا خبره ونه منله چې جرنيل راغی زمونږ د دې سياسي ملګرو په سر يې تورپټکي او ګاندي کيپ (د ګاندي جي د ټوپۍ غوندې ټوپۍ) وليدل،نو غصه شو او داروغه ته يې وويل چې د دوی نه دې دا پټکي او ټوپۍ ولې نه دي اخيستي؟ سپرنټنډنټ جرنيل ته ووې چې داروغه زه ددې نه خبر کړی وم، خو ما ورله د دې اجازه ورکړې وه، جرنيل حکم وکړو چې دا پټکي او ټوپۍ ترې واخلئ، نو بيا دا سياسي قيديان خپلو کې کېناستل او فېصله يې وکړه، چې دا خو زمونږ قانوني حق دی چې څه اغوندو هغه به اغوندو که چيرې زمونږ نه دوی پټکي او ټوپۍ اخلي نو بيا به مونږ دا نورې جامې هم ورکړو دلته ورته ما وويل چې زه خو

پخپله پټکی په سروم دا ټوپۍ خو مې ستا سوله خاطره په سرکړې وه اوس زه څه وکړم؟

سردار کړک سنګهـ ما ته وویل چې ته مونږ سره دې ایجی ټیشن کې مه شریکېږه په بله ورځ سپرنټنډنټ خپل دفتر کې کېناستو یو یو یې ځان ته غوښتلو چې د چا به ټوپۍ په سر وه هغه ته به یې ویل ټوپۍ کوزه کړه او چې د چا به پټکی په سر و هغه ته به یې ویل چې پټکی کوز کړه، دغه شان یې د دوی نه ټوپۍ او پټکي کوز کړل او دوی د فېصلې مطابق ورپسې خپلې جامې واېستلې، څو ورځې پس د دې حال معلومولو دپاره ډپټي کمشنر راغی سپرنټنډنټ او داروغه ورسره وو، زمونږ بارک ته راغلل سیاسي قیدیان ورته را غونډ شول بحث شروع شو په بحث کې دوی وران شول سردار کړک سنګهـ پیرنګي ډپټي کمشنر ته ووې چې مونږه څومره ستاسو خدمتونه کړي دي، مونږ لیدلي چې ستاسو مخونه سپین دي نو ستاسو زړونه به هم سپین وي په دې دوران کې یو سکهـ چغه وایسته (جو بولی سونهال) نورو ټولو حاضرو سکهانو ورپسې په چغه وویل: ((ست سری اکال)) د دې نه پیرنګی ګبهراو شو او په منډه زمونږ بارک نه ووتلو، سپرنټنډنټ ته ډېر په قار شو او دا یې وویل چې میا صاحب په جېلخانه کې اسونه ساتلي دي او هغه یې د ډېر خوراک او ارام په وجه مست کړي دي او بیا یې هغه ته حکم ورکړو، چې په دوی مقدمه وچلوه سبا له داروغه راغی او ویې ویل چې زمونږ د جېل دا قانون دی چې څوک دا قانون مات کړي؛ نو تر یو کال پورې سزا ورکېدی شي، نو اوس زه تاسو له حکم درکوم چې جامې

واغوندئ او که جامې نه اغوندئ، نو سبا به دربانديې مقدمه چليږي. چې دا خبره دې سياسي قيديانو واورېدله نو په مسلمانانو کې يو مولوي محمد اسماعيل او هندوانو کې يو هندو چې زما اشنا و، خونوم يې را نه هېر دی. دوی جامې وانه غوستلې او باقي هندوان وو که مسلمانان ټولو جامې واغوستلې، او سکهانو کې يو کس هم جامې وانه غوستلې سبا له مجسټريټ راغی يو يو به يې ورته پيش کوو او هغه به نهه نهه مياشتې نور قيد ور زياتولو او زمونږ د جېل هغه سپرنټنډنټ ميا صاحب چې ډېر ښه سړی و، هغه يې مات کړو او يو درجه يې ورته کمه کړه يعنې اسسټنټ سپرنټنډنټ يې کړو او د دې جېل نه يې بدل کړو، د هغه په ځای کپتان هيز راغی. د مياصاحب ګناه صرف داوه چې دی نېک او شريف انسان و او په سياسي قيديانو يې زور زياتی نه کولو او د خدای مخلوق سره يې د سړيتوب سلوک کولو او قيديان يې هم د خدای مخلوق ګڼل، زمونږ نوی سپرنټنډنټ يو انګرېز مقرر شو، چې هغه هم دګزارې سړی و او قيديانو سره يې ښه ګذاره کوله او د فوځ نه سول ته را بدل شوی و، دومره خراب سړی نه و، لکه چې دا نور سول والا وي او نه د هغوی په شان چالاک او دوکه باز و، يو سم سړی و، غريب د هېڅ نه خبر نه و، څه چې به ورته داروغه وې هغه به يې کول مونږ سره يې سلوک شريفانه و، ليکن لږ شان ابغ نبغ و، ځکه چې فوجي و، په اوله ورځ چې زمونږه بارک ته راغی او دا ګډوډي يې وليده، چې څوک دننه دي څوک بهر څوک لامبې او څوک ګرځي په دې ورځ خو يې غږ ونه کړو، ليکن چې څه وخت دوباره راغی نو

دا معامله يې نوره برداشت نه کړی شوه. زمونږ د بارک په مينځ کې ودرېدو او پښنه يې ځمکې له راخلاصه کړه او ويې ويل چې زه دا نه غوارم، زه د يو څو منټو دپاره دوی له راځم هر چا له په کار دي چې په هغه وخت کې خپل ځای کې ناست وي او زما د تلو نه پس چې څه کوي هغه دې کوي. زمونږ د سياسي ورونو د ده متعلق به هم شايد دا خيال و، چې دی به هم لکه د ميا صاحب په شان چشم پوشي کوي، مازيګر داروغه راغی او زمونږ ټولو سياسي ورونو ته يې د صاحب حکم واورولو. هر سړی د صاحب د خيال نه خبر شو. د پرېډ په ورځ چې سپرنټنډنټ زمونږ بارک ته راغی نو ټول خلک د بارک د ننه پخپلو کډو ناست وو. د دې په ليدو زه ډېر حېران شوم، څه وخت چې سپرنټنډنټ ووتلو نو ما د دې ورونو نه پوښتنه وکړه اوورته مې ووې چې داسې معلومېږي چې تاسو هم اوس زما په شان خوشامد ګر شوئ، ځکه چې د اول سپرنټنډنټ په وخت کې نه کېناستئ او که ما به درته ووې نو تاسو به راته وې چې مونږه ستاسو په شان خوشامد ګر نه يو، ليکن نن خو تاسو هم د ننه کېناستئ او کوم کار چې درته پرون بدښکارېدو نن ځنګه ښه شو، بل پرېډ باندې چې بيا سپرنټنډنټ راغی نو بعضې خلکو کتابونه مخ ته نيولي وو دايې هم پرې بند کړل او حکم يې وکړو، چې زه کوم وخت راځم هغه وخت کې کتابونه مه ګورئ، د دې نه پس د پرېډ په وخت کې کتابونه کتل هم بند شو، شايد چې که دا کار زمونږ مخکې سپرنټنډنټ کړی وی، نو چې زمونږ ورونو به ورسره څه کول چونکه دا يو انګرېز و او بيا ورسره زور هم و، په دې وجه په چا کې دا جرات نه و، چې د

هغه برخلاف يې قدم پورته کړی وی .افسوس په دې دی چې مونږ سره څوک ښه سلوک کوي، هغه ته نېغ يو او چې څوک مو سر په ډنډه وهي، نو هغه ته ټيټيږو او دا ډېر خراب عادت دی او مونږ ته داسې عادتونه پرېښودل په کار دي. لږې ورځې پس يې داروغه هم بدل کړو، خو د ده په ځای چې بل داروغه راغی هغه هم ښه سړی و اومونږ سره يې شريفانه سلوک کولو.

په دې کشمکش کې زما د علاج دپاره د لاهور ته د تللو حکم راغلی و، ليکن جېل والاو زمونږ نه پټ ساتلی و او مونږ يې پرې خبر کړي نه وو، زه په بارک کې ناست وم، چې وختې سحر يو نمبر دار راغی او ماته يې ووې چې داروغه صاحب درته نارې وهي، زه سم د لاسه هغه سره روان شوم ولې چې زه خبر نه وم چې زما د بهر تللو حکم راغلی دی چې دفتر ته ورسېدو پوليس ولاړ و، زما شک راغی چې شايد زما د بدلۍ حکم راغلی دی او ما د علاج دپاره لاهور ته بيايي د ور رسېدو سره داروغه صاحب هم راته دا ووې چې ستا د بدلۍ حکم راغلی دی او ته به د سپاهيانو سره لاهور ته ځې، ما ورته ووې چې کم از کم ما له خو دومره اجازت راکړه چې دغه خپل ملگري خبر کړم او رخصت ترې واخلم، ځکه چې زه راتلم خبر نه وم، ما ترې رخصت اخيستی نه دی، ليکن داروغه صاحب زما د دې خبرې نه انکار وکړو او ما ته يې ووې چې زه ستا تلل مناسب نه گنم او که چيرې ستا هلته څه سامان وي نو سړی به ولېږم، چې هغه تا له راوړي ما ورته ووې چې زه خو د (سي) (C) کلاس قيدي يم، زما به د څه سامان وي. زه خو صرف درخصت اخيستلو دپاره ورځم خو ده اجازه رانه کړه او چه څه

وخت زما سیاسي ورونه زما د بدلېدو او په دې طریقه زما د بوتللو نه خبر شوي دي،نو هغو غریبانانو هم ډېر کوششونه وکړل چې یو بل سره مو لیده کاته وشي، لیکن افسوس چې په هېڅ شان مو د یو بل سره لیده کاته ونه شو، جېل والاو دومره مهرباني ضرور ما سره وکړه، چې ماته یې په پښو کې بېړۍ وانه چولې او یا به په پنجاب کې سیاسي قیدي ته زمونږ د صوبې په شان د بېړو لګولو حکم نه وي، ځکه چې زمونږ په صوبه کې د سیاسي قیدي دپاره څه کلاس هم نشته او دوی سره هم د اخلاقي قیدیانو په شان سلوک کېږي او چې څنګه یو اخلاقي قیدي په (سي) (C) کلاس کې وي چې کوم خوراک یا کومه جامه هغه له ورکېدی شي هم هغه خوراک او هم هغه شان جامه سیاسي له ورکېدی شي او هغه سره چې څه سلوک وي د سیاسي قیدي سره هم کېږي او دلته خو په پنجاب کې سپېشل کلاس دی او دلته د (سي) (C) کلاس د قیدي په جامه اوخوراک او په سلوک کې ډېرفرق دی. پولیس زما په دواړو لاسونو کې اتکړۍ واچولې د دروازې نه بهر ټانګه ولاړه وه، زه یې په هغه کې کېنولم او ستېشن ته یې روان کړم، چې څه وخت د اباسین غاړې ته ورسېدو نو جهاز تیار و، مونږ هم په کې سواره شو او په خیریت سره پورې وتو د سین غاړې ته نژدې د رېل ستېشن دی، چې ستېشن ته ورسېدو نو ټکټونه مو واخیستل په رېل کې سپاهیانو یو سېټ خالي کړو او زه یې په کې کېنولم اوس په خلکو کې هغه جوش او خروش نه و، کوم چې په ابتداء کې و، د خلکو د رویې نه معلومېده چې تحریک بالکل مړ شوی دی، په دې وجه مونږ ډېر په ارام خپل

سفر وکړو او په سبا له مونږ لاهور ته ورسېدُو، زه يې د ستېشن نه پياده جېلخانې ته بوتلم دلته هم قلاره قلاري وه، په خلکو کې د تحريک متعلق هېڅ قسم جوش او جذبه نه وه. جېلخانې ته ورسېدو او پوليس زه جېل والاو ته په حواله کړم او هغوی رخصت شول، د دې پوليس والاو ما سره ډېر ښه سلوک و او د هېڅ قسم تکليف يې ماته راکړی نه و، بلکې زما د ارام دپاره يې کوشش کړی و، جېل والاو زه يو نمبر دار ته په حواله کړم د ټولو نه اول هغه زه ګودام ته بوتلم او ما چې کومې جامې اغوستې وې او ما له په ډېره غازي خان کې زما د قد مطابق جوړې شوې وې،نو هغه يې رانه واخيستې او د سرحد په شان نورې د تماشې جامې يې راکړې، چې د هغې په اغوستو زما، نه يو عجيبه څيز جوړ شو، په دې جامو کې او د سرحد د جېلخانو په جامو کې څه فرق نه و. زه به درته د دې جامو نور څه ذکر وکړم ما ته په کې ځان يوه تماشه ښکارېده،نو معلومه نه ده چې خلکو ته به په کې څنګه ښکارېدم او بيا يې بوتلم او اخلاقي قيديانو سره يې په يوه چکۍ کې بند کړم او وريې راپسې جرنده کړو. دا د زړې زمانې کچه او د ختو جوړې چکۍ وې،ځای په ځای په کې چاودونه وو او چرته په کې د رڼا او هوا دپاره روشندانونه نه وو. زه د علاج دپاره دغې جېلخانې ته لېږلی شوی وم. بله داچې په دغه جېلخانه کې ډېر سياسي قيديان وو او د هغو بېله احاطه وه په ځای د دې چې زه يې د هغوی سره بند کړی وی، زه يې دلته د اخلاقي قيديانو سره په يوه چکۍ کې بند کړم. مابه په زړه کې وې چې زه خو يې د علاج دپاره دلته

رالېږلی یم او په دې ګرمۍ کې په داسې چکۍ کې د اخلاقیانو سره بندول، دا به زما صحت ته ښه فایده ورسوي؟ چې مازیګر شو نو ما پسې یې ور پرانیستو او زه یې صرف دومره بهر کړم چې بنګي زما د چکۍ نه د بولو ګمله را وایسته او صفاه یې کړه او د شپې دپاره د اوبو منګوټی یې ډک کړو او کېښوده او لاړ. ماله یې په یو تور بالټي کې نګولی او ډوډۍ راوړه او په تندۍ سره یې بیا په چکۍ کې بند کړم جرنده یې را پسې واچوله او دوی رانه لاړل. هغه ډوډۍ دچا زړه ته کېده؟ هغه انساني خوراک خو نه و. بله دا چې زه ټوله ورځ په چکۍ کې بند وم ډوډۍ مې څنګه زړه ته شوې وی، لیکن بیا هم څه نه څه په زور زور مې تېره کړه اخر دا چې شپه راغله او زه اوده شوم. د هغو چاودونو نه کیرړې ماشي او مېږې را خواره شو او په چیچلو یې په ما ګوتې پورې کړې. بل طرف ته دومره ګرمي وه چې خوب ترې چا کولی نه شو، که چرته لږې سترګې به مې ورغلې نو د بدلۍ پیره دار به راغی او هغه به راویښ کړم.

په جېلخانه کې درې درې ګهنټې پس پیره بدلېږي. نو چې نوی پیره دار راشي تاته به اواز کوي او تر هغه وخته پورې به لګیا وي، چې تا ورله اواز ورکړی نه وي او د هغه تسلي ونه شي چې سړی په چکۍ کې موجود دی، چېرته تللی نه دی په جېلخانه کې د قیدي غریب د هېڅ قسمه د ارام خیال او فکر څوک نه کوي. په دې طریقه شپه تېره شوه سبا شو سحر وختي یو نمبردار راغی زه یې د چکۍ نه بهر کړم او چکر ته یې بوتلم، هغلته نور قیدیان جوړه جوړه ناست وو او زه یې هم هغوی سره کېنولم. زه یې هم بل قیدي سره جوړه کړم اومونږ ته

د خوځېدو یا ودرېدو قدرې اجازت نه و. دا ځای ډېر مزېدار او کېرچاپیر ترې ډېرې ونې ولاړې وې او هرې یوې ونې سره یوه ګدیله تړلې وه او یو یو سړي ورته بینت په لاس ولاړو او په ډېر زور سره به یې هغه ګدیله وهله د دې په لیدو زه حیران شوم ولې چې ما دا کیسه چرته په نورو جېلخانو کې لیدلې نه وه. د ملګرو قیدیانو نه راته معلومه شوه چې دا قیدیان دي او د بینتونو وهلو چل زده کوي، چې د ضرورت په وخت کې قیدیان په ښه شان په بینتونو ووهلی شي په دې کې ګورو یو ګوره قیدي یې دې ځای ته راوست د هغه د جامو نه دا نه معلومېده چې ګنې دی قیدي دی ښه پتلون، ښه کوټ او ښه ټوپۍ(HAT) یې په سر وه،هغه یې نه زمونږ په شان جوړه کړو او نه یې کېنولو هغه خپله ټېلایي کوله چې په دې کې داروغه راغی لیکن دې ګوره د داروغه هېڅ پروا ونه کړه،داروغه صاحب د ټولو نه اول د هغه په ټکټ د ستخط وکړو د هغه د رخصت کېدو نه پس معلومه شوه چې دا یو ګوره دی او په زبر زنا کې قید شوی دی. لیکن باوجود د دې قسم ذلیل او ظالمانه جرم د هغه سره د سړیتوب جامې د سړیتوب خوراک او د سړیتوب سلوک و اومونږ چې د خپل قوم، ملک او د اسلام په خدمت کې بې ګناه قید یو او هېڅ جرم مو کړی نه و،نو مونږ سره د دې قسم سلوک و چې انسان خو پرېږده شاید چې ځناور سره به هم چا کړی نه وي،څه وخت چې دا روغه زما ټکټ وکتو او دستخط یې کړو او ورته داهم معلومه شوه چې زه سیاسي قیدي یم. او د علاج دپاره راغلی یم د دې دپاسه بیا یې زه واپس هغې چکۍ ته ولېږلم او په هغه چکۍ کې یې

بند کړم دا داروغه مسلمان و او خیرالدین خان یې نوم و. ما په ټولو جېلخانو کې لیدلي دي چې مسلمانان د پیرنګیانو ډېر وفادار دي او د پیرنګیانو د خوشحالۍ دپاره سیاسي قیدیانو سره هر قسم بد سلوک کوي. زما د راتلو نه چې سیاسي قیدیان خبر شوي دي، چې هغه راغلی دی او په چکۍ کې بند دی، د دې په اورېدو سره هغوی کوشش کړی او داروغه ته ورغلي دي او هغه ته یې ویلي دي چې دی خو سیاسي قیدي دی تا د اخلاقي قیدیانو سره څنګه بند کړی دی؟، دی خو مونږ سیاسیانو سره بندول په کار دي. په دې سیاسیانو کې د پنجاب لوی لوی لیډران مسلمانان او هندوان وو داروغه صاحب د هغوی نه یرېده، نو په دې وجه زه یې د سیاسیانو هغې احاطې ته بدل کړم. دا ځای ډېر ښه و، یو خو ډېر لوی و، بل په کې ډېرې ونې او سیوری و، چکۍ او بارکونه یې پاخه او هواداروو او هوا به په کې هم لګېدی شوه. زما د راتلو نه چې به څوک سیاسي وروڼه خبرېدل هغوی به زما کتو ته راتلل او ما سره به یې ګړه بړه کوله دلته د هر خیال د هر مذاق او هرې عقیدې خلک وو او د دوی صحبت زما دپاره یو لوی غنیمت و. ما به هر چا سره تبادله خیالات کوو او د هغوی د علمي خبرو او تجربو نه ما ته ډېره فایده ورسېده. زما مثال د مدرسې د یو طالب علم و او ډېر ښه وخت مې د دوی سره تېرېده او د دوی د صحبت نه ما ډېر څه حاصل او زده کړل او تجربه اومعلومات مې زیات شول. په دې جېلخانه کې مونږه څلور کسه د خلافت قیدیان وو، چې یو اغا صفدر و، بل ملک لال خان و او دریم یو رضا کار و، چې غلام محمد یې نوم و او

ځلور زه وم او د کانګرس ډېر قیدیان او لیډران وو. مانه د نورو نومونه هېر دي یو د لاله لاجپت رای نوم راته یاد دی، په کانګرس کې چې څومره خلک قید وو هغه ټول هندوان وو، ډېر ښه خلک وو او ما سره یې ډېره مینه اومحبت و، ځلور ورځې پس زه یې دفتر ته وبللم او سپرنټنډنټ ته یې پیش کړم هغه زما غاښونه او اُوری وکتلې هغه هم ډاکټر و او ویې ویل چې زه په دې باندې نه پوهېږم. په دې باندې یو د غاښونو ډاکټر (Dental Surgeon) پوهېدی شي دا د هغه کار دی ماته یې ووې چې ته خپل خرڅ باندې ډنټل سرجن را غوښتی شې، ماله یې د علاج کولو اجازت راکړو چې ته پخپل خرڅ باندې ډنټل سرجن را وغواړه چې ستا علاج وکړي، زه چې واپس خپل بارک ته راغلم دا کیسه مې سیاسي قیدیانو ورونو ته وکړه هغوی زما دپاره د ډاکټر د راغوښتو انتظام وکړو او د ډاکټر پریم نات ډنټل سرجن د رابللو فیصله یې وکړه، سبا له جېل والاو د ټیلیفون په ذریعه هغه له خبر ورکړو او د خبرېدو سره هغه جېلخانې ته زما دکتو دپاره راغی زه یې چکر ته بوتلم او د داروغه په موجودګی کې یې زما د غاښونو او اُورو ملاحظه وکړه هغه زما په حالت ډېر افسوس ظاهر کړو، چې حکومت د خراب خوراک په وجه ستا صحت بالکل خراب کړی دی او برباد کړی دی. په ډېرې مینې او محبت سره یې زما غاښونه اواُورې په ښه شان سره صفا کړل او کوم غاښونه چې خراب شوي وو هغه یې وایستل او د مخکې دپاره دغې دارو او د استعمال طریقه یې راته وښودله او ډېر تحقیق یې را باندې وکړو، چې باقاعده دې خپله خوله صفا کوه که نه ټول

غاښونه به دې برباد شي او بل يې زما د پاره د خوراک تجويز وکړو، چې همېشه سبزي او هر قسم تازه مېوه خوره بلکې دايې زما په ټکټ درج هم کړل او داروغه صاحب ته يې ووې چې دارو د دې مرض د پاره دومره فايده مند نه دي، لکه دا خوراک چې فايده مند دی. د ډاکټر ښه همت، همدردی، شرافت او محبت چې کوم اثر زما په زړه کړی دی هغه تر اوسه پورې زما د زړه نه وتی نه دی او نه زما نه هېر دی. د رخصتېدو په وخت ما ورته ووې چې زه عريب نه يم جېلخانه کې مې روپۍ جمع دي د فيس بود را باندې کېږي دا به ستا مهرباني وي، چې ستا څومره فيس کېږي، هغه ته ما نه واخلې! هغه د دې خبرې نه انکار وکړو او چې څه وخت دا خبره ما ورته دوباره وکړه، هغه ماله دا جواب راکړو: «ماله به شرم نه راځي چې زه د داسې خلکو نه فيس واخلم چې هغوی د قوم او د ملک د ازادۍ، ترقۍ او بهبودۍ د پاره جېلخانو ته راغلي دي او زمونږ د پاره د دې قسم تکليفونه او مصيبتونه برداشت کوي، نو که چيرې مونږ دومره قرباني نه شو ورکولی چې جېلخانو ته لاړ شو دا خو کولی شو چې د خدای د پاره د هغوی خدمت وکړو». د دې په اورېدو زه هم چپ شوم او ما بله خبره ونه کړه هغه رانه رخصت شو او زه واپس خپل بارک ته راغلم او دا ټوله کيسه مې خپلو ملګرو ته وکړه. د دې جېل داروغه چې د هغه نوم خيرالدين خان و، ډېر چالاک، هوښيار، تجربه کار او ډېر رشوت خور و او سپرنټنډنټ يې داسې په لاس کې و، چې د ده به څه زړه غوښتل هغه به يې کول او چې سپرنټنډنټ به يې کوم خوا روانولو نو هغې خواله به هغه

روانېده او چې چا ته به يې زړه غوښتل، پې، ماسته، ډېله ډوډۍ اوغوښه يې ورته لګوله، حالانکه داکار د سپرنټنډنټ دی او اکثر دا څيزونه د هغو خلکو دپاره وي، چې څوک ناجوړه وي، ليکن ده به سپرنټنډنټ باندې دا څيزونه د روغو خلکو دپاره لګول. په سياسي قيديانو کې چې څومره د سر خلک وو او د چا به لږ، ډېر رسوخ و اوخپل اواز به يې اخباراتو ته رسولی شو، دهغو ټولو نه يرېده هغه ټولو له يې څه نه څه ورکول او ددې نه علاوه په ملاقاتونو کې او خطونو او کتابونو کې به يې هم ورسره رعايت کولو او د ځان يې ملګري کړي وو، ليکن کوم سياسي قيديان چې بې اسرې وو او چا يې اواز اورېدی نه شو، نو د هغوی دپاره باوجود د ناجوړتيا نه هم څه نه وو او چې چا به د داروغه صاحب خوشامندې کولې او د خپلو ورونو خبرې به يې افسرانو ته رسولې شوی، هغه به که غټ کټ و داروغه صاحب به د هغه ټکټ واخيست او چې څه به يې زړه غوښتل هغه به يې سپرنټنډنټ صاحب باندې دستخط کړو. په دې چل يې ټول خلک ځانته محتاجه کړي وو او هغه سړي به د داروغه صاحب د رضا کولو او خوشحالولو کوشش کولو.دا ماته د سياسي قيديانو دپاره ډېر د ذلت او د شرم خبره ښکارېده، ” سپرنټنډنټ بالکل يو ګوګوو بغير د داروغه نه به يې څه نه کول.

اکثر سپرنټنډنټان هم داسې وي ما چې څومره د جېلخانو سپرنټنډنټان ليدلي دي د ټولو دغه يو شان حال وي، زه خو په دې نتيجه رسېدلی يم چې سپرنټنډنټانو ته بالکل هډو ضرورت نشته دی دا خو په جېلخانو باندې بوج دی، ځکه چې

په جېلخانه کې هم هغه کېږي چې څه داروغه کوي دا لويې لويې عهدي پيرنګيانو د خپل قوم دپاره ساتلې دي، د جېلخانو دا سپرنټنډنټان به اکثر سول سرجنان وو او سپرنټنډنټ هېچرې ډاکټر مقررول پکار نه دي، ډاکټر جدا سړي په کار دی، چې د هغه د قيديانو او د جېلخانې انتظام سره څه غرض نه وي او په ولايت کې انګرېزانو پخپل ملک کې د جېلخانو دپاره هغه طريقه اختياره کړې ده.ولې چې ډاکټر سپرنټنډنټ وي نو هغه اکثر د جېلخانې د انتظامي معاملاتو په وجه د ناجوړه او کمزورو قيديانو حق تلفي کوي او مريض ته د مريض په سترګه نه ګوري.

زمونږ په احاطه کې به چې څه وخت داروغه صاحب رادننه شو نو هر چا به دا کوشش کولو چې ځان ورته د نورو نه رومبی ور ورسوي او سلام ورته وکړي څوک چې به خبرېدل هغه به د داروغه صاحب په خدمت کې حاضرېدل او د داروغه صاحب نه به چې چا پېره جمع شول سړي ته به مبله او تماشه معلومېده،چونکه ما ته دا کار بنه نه بنکارېده. زه د خپل ضمير نه مجبوره وم ما به په دې کې څه حصه نه اخيسته. دا نه چې ګنې داروغه صاحب نه زه خپه وم، يا مې د هغه سلام نه کولو ،داسې نه وه. ماله چې به نژدې راغی،نو سلام به مې ورته کوُو خو د سلام دپاره به ورپسې ورتلم نه، نو په دې خبره شايد داروغه صاحب زما نه خپه و او باوجود زما د کمزورتيا اوناجوړتيا زما په ټکټ چې کوم پی ډېره غازی خان کې لګېدلي و ، هغه يې هم بند کړې او ډېنټل سرجن چې زما دپاره کوم خوراک اجازت کړی و هغه يې هم ماته نه راکولو ، زما

ملګرو دومره جرات وکړو، چې داروغه صاحب ته يې ووې چې کوم خوراک دده دپاره ډاکټر صاحب تجويز کړی دی، مهرباني وکړئ هغه دده دپاره جارې کړه، هغه ورله جواب ورکړو، چې دی دې سپرنټنډنټ صاحب ته ووايي، زه پوهه شوم چې د ده زړه نه دی، ولې چې ما ته معلومه وه چې سپرنټنډنټ صاحب خو د ده په لاس کې دی او بغير د ده د وينا نه څه نه کوي، ليکن زه دې خپلو ملګرو مجبور کړم، چې ته ضرور هغه ته اووايه. بله ورځ چې زه سپرنټنډنټ صاحب دفتر ته وغوښتم ما ورته ووې چې تا ته به معلومه وي چې ډېنټل سرجن زما په ټکټ زما دپاره د غاښونو د مرض د علاج په طور خوراک ليکلی دی او راته يې ويلي دي چې دا ستا د مرض دارو دي دا خوره،دا به ستا مهرباني وي، چې دا خوراک زما لپاره مقرر کړې او يا ماته اجازه راکړې چې په خپلو پيسو دا خوراک ما ته را کېدی شي، يعنې زه يې پخپلو پيسو را غواړم، هغه د دې دواړه خبرونه انکار وکړو او ما ته يې ووې چې زه يې مناسب نه ګنم چې تا له يې درکړم. ما ورته اووې چې تا ته به ياد وي چې تا ماته ويلي وو، چې زه د دې مرض ډاکټر نه يم او نه پوهېږم نو چې ته بيا په دې پوهېږې نه، نو ته بيا څنګه يو خوراک مناسب او بل خوراک نا مناسب ګڼې، نو بيا يې دا ځواب و، چې د خوراک په معامله پوهېږم او ماته د دې هيڅ ضرورت نه ښکاري. ما په زړه کې دا خيال وکړو، چې کوم ځای انصاف نه وي او نه څه قاعده او قانون وي، هغه سره زيات بحث کول څه فايده مند نه وي. په دې وجه زه چپ شوم او بهر ته راووتم او خپل بارک ته لاړم په دې جېلخانه کې ډېر پښتانه

وو، لیکن زمونږه احاطې ته به راتللی نه شو، کله نا کله به یې په مونږه د شپې پیره لګېده ،هغوی ته به ماسره د خبرو اترو ډېره کمه موقع وه، دلته یو پښتون ملازم هم و، چې د دواوې د سوکړو د کلي و ،د هغه پیره به د ورځې زمونږه په بارک لګېده، ډېر ښه سړی و. ما سره یې ډېره مینه وه باوجود د دې نه چې ما به منع کولو لیکن بیاهم هغه به راته کله نا کله څه څیز راوړه. زه په جېلخانه کې د پټو څیزونو سخت مخالف یم، ولې چې په دې باندې په سړي کې کمزورتیا او بزدلي پیدا کېږي. ما به ډېر پوهه کولو او منع کولو هغه نه منع کېده هغه سره به زما ښه ګپ شپ لګېدو هغه تازه د ملک نه راغلی و او ماته به یې د ملک قصې کولې د هاړ پشکال ورځې وې،ګرمي ښه په زور کې وه،د ورځې خو به لا څه ډېر تکلیف نه و،ولې چې ډېرې مرضې وې اوسیوری وو ،ولې د شپې تېرول ګران و ،ځکه چې بارک کې به بند وو اکثر به د دولسو بجو پورې د ګرمۍ دلاسه چاته خوب نه ورتللو ،خو چې شپه به لږه پخه شوه،نو بیا به ماشو په عذابولو ځکه چې لاس پښې به مو ورته بربنډ وو ،د پټولو څه شی نه و، چې د ماشونه مو ځان پټ کړی وی،ولې چې د قیدي اوړی،ژمی اغوستن کمبل دی او په ګرمۍ کې څوک ځان ته کمبل نږدې کولی نه شي. زه د یوې میاشتې پورې په دې جېلخانه کې وم او دې خلکو سره مې ډېرې ښې شپې ورځې تېرېدې چې په دې کې یې واپس ډېره غازي خان ته بدل کړم،چې څه وخت زه د ډېره غازي خان جېل ته ورسېدم نو ماته معلومه شوه، چې د جېل والاو او سیاسیانو په مینځ کې جوړه شوې وه، جېل والاو هغه د سیاسیانو بارک

ته ولېږلم، ټول راته را غونډ شول او زما په لیدو سره هغوی ډېر خوشحاله شول راتر غاړه وتل او په ډېره مینه یې راسره ستړي مشي وکړل. زما مهربان لاله دوني چند چې د هغه د جېل نه وتلو کې لږې ورځې پاتې وې راته یې وویل شکر دی چې ته راغللې او ومې لیدې، ګوندې ستا په دې طریقه جدایي او د نه لیدو ارمان به مې په زړه پاتې شوی و، سبا لا چې سپرنټنډنټ راغی نو د ټولو نه اول ورسره لاله دوني چند زما د خرابو جامو ذکر وکړو او ورته یې وویل چې کم از کم ده له دې د ده د قد مطابق جامې ورکړی شي او بیا یې ورته زما د خوراک لپاره ټکټ ښکاره کړو، هغه زر داروغه ته حکم ورکړ، چې ده له دده د مېچ مطابق جامې فوراً ورکړئ او که چرته ګودام کې نه وې نو ورته یې جوړې کړه او زما په ټکټ یې نیم سیر شوده او یوه چیتاکۍ کوچ زما د خوراک دپاره ولیکل. زما د راتلو نه څو ورځې وروستو روژه راغله څه وخت چې روژه رانژدې شوه، نو زمونږه هندوانو ملګرو سپرنټنډنټ سره ولیدل او هغه ته یې د روژه دارو لپاره د هر قسم ارام رسولو او باقاعده انتظام کولو عرض وکړو. سبا له چې څه وخت سپرنټنډنټ راغی نو هغه تپوس وکړو، چې څوک به روژې نیسي او دا حکم یې وکړو چې څوک روژې نیسي هغوی ته به د خپل خوراک نه یو سیر شوده او یوه چیتاکۍ غوړي زیات ورکېدی شي او د پېشمني لپاره به د تازه خوراک انتظام هم وکړی شي. مونږه دده د دې مهربانۍ شکریه ادا کړه او هغه زمونږه د بارک نه رخصت شو. مونږه ټول شپږ مسلمانان وو په دې کې دوه کسانو د روژې نیولو نه معذرت ښکاره کړو چې په هغې کې

يو بېرسته و او بل طالب العلم و. مونږه ځلورو كسانو په روژو نيولو باندې لاس پورې كړ.

د ډېره غازي خان د هاړ او پشكال ګرمي اسان كار نه و ،ليكن د خداى په فضل مونږه ته هېڅ تكليف ونه شو او روژه په ارام او خوشحالۍ ختمه شوه او اختر راغى.د قيديانو غريبانانو به څه اختر وي،د اختر نه پس لاله دوني چند انبالوي او خان عبدالرشيد خان خلاصېدل مونږ ټولو سياسي قيديانو ورله په خپل بارک كې د يوې پارټۍ او ډرس ((Address)) وركولو انتظام وكړو. په پارټۍ كې څو كسانو تقريرونه هم وكړل او د هغوى خدمات او قربانۍ يې خلكو ته اوستايلې. په اخر كې لاله دوني چند اوخان عبدالرشيد خان د ټولو رونو شكريه ادا كړه او وعده يې وكړه چې مونږه به د قوم او ملک هر قسم خدمت كولو ته تيار يو او په ډېره مينه او محبت سره رخصت شول.

ډېره غازي خان د اب و هوا په لحاظ ډېر خراب ځاى دى، ګرمي په كې ډېره زياته وي، بارانونه په كې نه كېږي، كال كې يو وار يا په دويم كال به باران وشو او د اوبو د باران په ځاى د خاورو بارانونه ډېر وي او كله كله به داسې سيلۍ راغله چې دوه، دوه، درې، درې شپې به خاورې ورېدلې. د صحت لپاره دا د خاورو باران ډېر خطرناک و.داسې يوه نرۍ او باريكه دُوړه به د اسمان نه راورېده چې ليدى به نه شوه، ليكن چې ګيرچاپيره به دې هر څه ته كتل نو هر څه به د دوړو نه ډک وو، څه وخت چې به دا دُوړه شروع شوه، نو نمر به يې پټ كړو او د ورېځو په شان به رڼه ورځ تياره شوه د دې زُول نه ځان ساتل

نـاممکن و،ځـان خـو پریـږده چـې خـوراک بـچ کـول نـاممکن و،چـې څـه بـه دې خـوړل هغـې کـې خـاورې وې، چـې لاړې بـه دې تـوکلې هغـه بـه د خـاورو نـه ډکـې وې، چـې پـوزه بـه دې سـونولـه هغـې کـې بـه خـاورې وې، نـه تـرې د چـا جـامې بـچ کیـدی شـوې او نـه تـرې بـستره پاکـه پـاتې کیـدی شـوه،چـې سحر بـه د خوبـه راپاڅیدُو چـې پـه بـستره بـه څنګـه اوده شـوي وو هـم هغـه شـان چـاپ بـه پـرې پـاتې وو، هـر چـا بـه خـړمخ، خـړ غوږونـه نیـولي وو. هـر سـړی بـه تماشـه و، چـې یـو بـل تـه بـه مـو کتـل نوخنـدا بـه راتلـه او بیـا ماتـه ډیـر تکلیـف پـه دې و، چـې ماسـره د نـورو پـه شـان ډیـرې جـامې نـه وې ماسـره یـوه جـوړه جـامې وې ځکـه چـې د (سـي)(C) کـلاس قیـدي لپـاره پـه شـپږو میاشـتو کـې د یـوې جـوړې د ورکولـو حکـم و او داهـر وخـت وینځـل او وچـول او بیـا د دُوړو نـه بـچ کـول نـاممکن وو،ددې نـه عـلاوه د دوړو نـه ډکـې سـیلۍ بـه هـم کلـه نـا کلـه راتللـې، لـیکن د دې تـولو نـه زیـات د تکلیـف نـه ډک یـو بـل ګـرم بـاد و، چـې تولـه ګرمـۍ کـې بـه باقاعـده چلیـده. د سـحر د اووه بجـو نـه بـه شـروع کیـده او د څلـورو بجـو پـورې بـه و،دابـه دومـره ګـرم و، چـې پـه مـخ بـه دې ولګیـدو نـو تابـه ویـل چـې اور دی او د وجـود هـره څرګنـده حـصه بـه یـې سـوزوله. د دې دلاسـه بـه اخلاقـي قیـدیانو تـه ډیـر زیـات تکلیـف وو او بیـا خـاص چـې کومـو قیـدیانو بـه پـه نمـر یـا پـه بـاغ کـې کـار کولـو، هـره ورځ بـه څلـور پنځـه کـسان بیهوشـه کیـدل ګرمـۍ بـه وهـل کلـه نـا کلـه بـه د ګرمـۍ دلاسـه یـو دوه مـړه کیـدل. مـونږ بـه تـولې دروازې د خپـل بـارک بنـدې کـړې وې،د څلـورو بجـو نـه بـه مخکـې د بـارک نـه راوتلـی نـه شـو. پـه بـارک کـې بـه د ننـه هـم دومـره ګرمـي وه،چـې څـوک بـه د

ګرمۍ نه اوده کېدی نه شو او د هر سړي نه به خولې داسې بهېدې چې تا به ویل چې اوس د سین نه راوتلی وي. د شپې به هم ډېره ګرمي وه، لېکن ګرمۍ سره به ګذاره کېده، د دغه سیلۍ نه بچ کېدل ګران وو او ما سره خو د ځان د پټولو هم څه نه وو، کمبل خو وه، هغه مو د ګرمۍ په وجه ځان ته رانزدې کولی نه شوه، نو زه خو به ورته د خدای په تکیه پروت وم. د پنجاب په جېلخانو کې د دې نه خرابه جېلخانه بله نشته ځکه یې سیاسي قیدیانو ته دا خوښه کړې وه او دې ته به قیدیانو د پنجاب توري اوبه ویلې د کومو ملازمانو نه به چې څه قصور وشو نو هغه به یې دې جېلخانې ته رالېږل. د ۱۹۲۲ ع کال د اګست د میاشتې اخرې ورځې وې مازېګرى و. زه په خپل بارک کې ناست یم او ماته یې یوه لفافه راکړه، لفافه کې د ننه یو خط و، چې هغه مې پرانست نو هغه مې د مور خط و، چې کلي نه یې ما ته را لېږلی و، په لیدو یې ډېر زیات خوشحاله شوم ولې چې زما خپلې مور سره ډېره مینه وه او دهغې هم زه ډېر خوښ وم. په هغې خط کې د دعا او خیریت نه پس یې ماته لیکلي وو، چې الله تعالی په تابانده ډېره مهرباني کړې ده، تا له یې زوی درکړی دی، دا خط ما تاته د دې لپاره لیکلی دی چې اول تا ته مبارکي درکوم او بیا ستا رایه معلوم کړم چې هغه له څه نوم کېږدو، ځکه چې مونږ دا فیصله کړې ده چې هلک ته به نوم ته کېږدې.

زه ددې په لوستو نور هم خوشحاله شوم او د خدای ثنا مې وویله او د خدای په درکې مې دا زاري وکړه چې اې الله تعالی زما دا بچی سره د دې نورو بچو نیک او صالح لوی کړې، بښه

اخلاق او علم ورکړې او د خپل مخلوق خادم یې وګرزوې ته یې ناصر حافظ او مددګار شې او د ظالمانو د هر قسم ظلم نه یې وساتې. نوم مې دده دپاره عبدالعلي تجویز کړو او په سبا له مې مورته خط ولیکه او دا نوم مې په کې ورولیږه، د پرنګیانو حکومت یو ناپرسانه حکومت دی. هر انګریز فرعون او د فرعون په شان خودمختاره دی، هر حاکم چې هر څه پخپل رعیت باندې وکړل ورپسې پرسان او تپوس نشته.

زمونږ ملګرو کې ډېر داسې کسان وو، چې د هغوی نه دومره تعلیم و، او نه یې څه دومره مالي حیثیت و، لیکن مجسټریټ ورله سپیشل کلاس ورکړی و او هغوی سره هغه سلوک و او زه یې په «سي» (C) کلاس کې قید کړی وم او کال تېر شو ماسره هماغه د «سي» (C) کلاس سلوک وو او چا دې طرف ته فکر هم نه کولو. حالانکه ډېر خلک به زمونږ د کتو دپاره د حکومت له خوا راتلل چې د قیدیانو حال معلوم کړي او مناسب انتظام ورله وکړي خو ماته د چا فکر نه و او یا یې قصداً نه کولو. په ګرمۍ کې به بغیر زما نه ټولو قیدیانو ته د بهر خملاستو اجازت و، خو زه به یوازې په بارک کې بند وم. یوه ورځ جېل والا و زه دفتر ته وبللم او راته یې ووې چې مونږ ستا دپاره دا تجویز کړی دی، چې تا د توري وردۍ نمبر دار کړو. په دې کې به تاته دوه فایدې وي یوه دا چې ډبله معافي به درکېدی شي او ته به زر رها شې او بله دا چې تا ته به د بهر خملاستو اجازت وي، ستا کار به نور هېڅ نه وي صرف د دې سیاسي قیدیانو مشقت ورل او راوړل وي لیکن ما د دې خبرې نه انکار وکړو، ځکه چې دا زمونږ د اصولو نه خلاف وو.

زمونږ اصول د حکومت سره عدم تعاون و او دا خو یو قسم تعاون و او دا د یو سیاسي قیدي دپاره لویه د کمزورتیا خبره وه، چې بهر خو به یې حکومت سره امداد نه کوو، لیکن چې څه وخت جیلخانې له راغي نو بیا هم د هغه حکومت خوشامندګر او امدادي شي.

دا یوه لویه ګناه او بد اخلاقي وه، دلاله دوني چند د رها کېدو نه څه موده پس چې په ملک کې انتخابات شروع شو او هغه د پنجاب اسمبلۍ ممبر منتخب شو،نو هغه په اسمبلۍ کې زما متعلق یوه لویه واویلا او شور جوړ کړلو او حکومت یې ملامته کړو چې ما سره تر اوسه پورې د(سي) (C) کلاس د قیدي سلوک کېږي. حکومت جواب ورکه چې هغه خو د سرحد قیدي دی. پنجاب سره یې څه تعلق نشته ، نو ده ورته په جواب کې وویل چې نن ورځ خو هغه په پنجاب کې دی، چې په پنجاب کې د سیاسي قیدیانو سره څه سلوک کېږي، هغه دې د ده سره هم وشي. نو په ډېرو جګړو یې د پنجاب حکومت مجبور کړو چې یو حکم جاري کړي او زمونږ سپرنټنډنټ ته یې ولیکل چې زما متعلق د سرحد حکومت سره خط و کتابت وکړي، سپرنټنډنټ صاحب ډېر ښه سړی و، ما سره یې ډېره همدردي وه، هغه فوراً سرحدي حکومت ته ولیکل،لیکن هغوی جواب ورنه کړو او چې ده پرې زور ولګولو او یادګیرنې به یې ولېږلې نو د وخت تېرولو دپاره به هغوی څه ګول مول ځواب ورکړو، ولې چې د هغوی مطلب ماله تکلیف راکول او زما صحت بربادول وو. په دې طریقه په خط وکتابت کې ډېره موده تېره شوه، لیکن لاله دوني چند ډېر زورور سړی و، هغه

دوی کله په قلاره پرېښودل او د هغه وخته پوري به يې يادګيرني ورلېږلې، چې اخر يې زه پرې په سپېشل کلاس کې کړم. په دې وخت کې جېلخانه کې خبر شوم چې زما د ګرفتارۍ نه پس زمونږه د اتمانزو د ازاد سکول طالب العلمانو په ټوله علاقه کې يو لوی مهم شروع کړی دی، کلي په کلي به يې مولود شريف کولو ډېر خلک به ورته را غونډېدل، زما زوی عبدالولي به اول د قران شريف تلاوت وکړو بيا به ده او ماسټر عبدالکريم قومي نظمونه ووې او د هغې نه پس به زما مشر زوی عبدالغني ډېر ښه زړه نرمونکی تقرير وکړو. بيا به يې خلکو ته ووې چې پښتنو تاسو لږ شان فکر وکړئ، چې زما بابا دې پيرنګيانو ولې قيد کړی دی؟ د هغه څه ګناه ده؟ هغه خو نه قتل کړی دی، نه يې ډاکه کړې ده، نه يې بل څه اخلاقي جرم کړی دی. زما د پلار جرم دا و، چې ستاسو بچو له يې تعليم ورکولو او په تاسو کې د اتفاق او ورورولۍ، عزيزولۍ خواهشمند و.تاسو کې يې هغه رسمونه،رواجونه چې پښتانه پرې تباه کېدل،ورکول غوښتل تاسو يې د دنيا د مهذبو قومونو سره اوږه په اوږه ودرولې.دغه ګناه وه چې پيرنګيانو هغه قيد کړو او د(سي) (C) کلاس سخت قيد يې پرې ولګولو. اوس مونږه او تاسو له په کار دي چې هغه کوم کار چې زمونږ د قوم د فايدې دپاره کولو جاري وساتو بلکې ترقي ورکړو نو پيرنګيان به پوهـ شي چې پښتانه را بيدار شوي دي، ويښ شوي دي. مونږه اوس په دوی خپل مطلب نه شو کولی او نه يې دباوولی شو.

د دوی ددې خبرو په قوم ډېر اثر وشو او د سکول سره هر چا

امدا ونه شروع کړل او سکول ډېره ترقي وکړه. ما چې دا خبرې واورېدې نو ډېر خوشحاله شوم د خدای شکر مې ادا کړو، چې زما قرباني بې ځایه او بې فایدې نه شوه او ټول قوم محسوسه کړه، چې باچا خان زمونږه د پښتنو دپاره قیدونه تېروي. هر چا په دې خبره ډېر فکر او غور وکړو، ځکه زمونږ اصلاحي او تعلیمي پروګرام ته تقویت ورسېدو.

## مذهبي تعصب:

مونږ په دې جېلخانه کې پنځه مسلمانان وو، مونږ ډېره موده د خپلو ملګرو هندوانو او سکهانو له خاطره غوښه خوړلې نه وه او نه زمونږه یاده وه، لیکن د سیالکوټ نه یو حکیم صاحب په دې تحریک کې قید راغی،نو هغه به غوښه خوړله او زمونږ هم شوق پیدا شو او مونږ هم د غوښې د خوړلو د شروع کولو فېصله وکړه. حکیم صاحب مو جېل والاو له ورولېږه او هغه ورسره ټولې خبرې صفاې کړي.د جېل والاو دا رایه وه چې غوښه دې هم په دغه باورچي خانه کې پخېږي، حالانکه داروغه هندو و، لیکن مونږه دا خبره خوښه نه کړه، ځکه چې بعضې خلکو د دې نه سخت پرهېز کولو. د هغوی د خاطره به مونږ په هسپتال کې خپله کټوی پخوله او خوراک به مو هم دلته په بارک کې نه کولو هسپتال کې به مو خوړله. مونږ د خپلو ملګرو خوشحالولو دپاره دا کیسه کوله. بل هله خوشحالولی شې چې په ځان تکلیف تېر کړې، لیکن زمونږه بعضې ورونو د دې دومره ناکام هڅو څه قدر ونه کړو او څه وخت چې مونږ په اوله ورځ هسپتال له لاړو، نو هغوی زمونږ

بر خلاف پراپېګنډه شروع کړه او ټول سیاسي ورونه یې راته وپړسول حالانکه دوی کې اکثرو غوښه هم خوړه. مونږ چې واپس راغلو نو مونږ ته د سیاسي ورونو د رویې او خبرو نه معلومه شوه چې دوی زمونږ نه ډېر خپه او په غصه کې دي. ما ته د دوی دا حرکت ډېر ناجایزه ښکاره شو.زمونږ د هندوستان په خلکو کې دا یو لوی کمی دی، چې یو څیز زمونږه په خیال او عقیده کې خراب وي،نو د هغې هم زغم او برداشت کولی نه شو،د هرې عقیدې د خلکو نه هم په هغه شان توقع او ارزو لرُو،لکه زمونږ چې وي او دې ته فکر نه کوو،که چیرې دا څیز منع وي، نو زما دپاره منع دی د بل دپاره چې هغه زما د عقیدې نه دی څرنګه منع کېدی شي؟ د ایشیا د خلکو دا دعوه ده، چې مونږه مذهبي خلک یو او صرف په دنیا کې دلته مذهب پاتې دی لیکن څومره چې زما تجربه ده، نو ماته معلومه شوې ده،چې ښېشکه د ایشیا په خلکو کې مذهب شته خو هغه مذهب په نوم مذهب دی او د خدای او رسول(ص) هغه ریښتینی مذهب نه دی.د ریښتیني مذهب نه دوی ناخبره دي. هر مذهب کې ازادي ده،رواداري ده او لوی نظري ده، لیکن دوی ترې خبر نه دي او نه چا خبر کړي دي.

حقیقت دا دی چې دا ټول اسماني مذهبونه د خدای مذهبونه دي او دنیا ته د اتفاق مینې او محبت او د خدای د مخلوق د ارام او خدمت دپاره راغلي دي، د هر یو مذهب د پیروکارو دا فرض دي چې د خدای د مخلوق له منځ نه کرکه او نفرت لرې کړي او مینه او محبت په کې پیدا کړي او د یو بل سره امداد وکړي خو مونږ د دې حقیقت نه چا خبر کړي نه یو.

ما د ټالسټای يو کتاب کې چې شپږويشت کيسې يې پـه کې ليکلې دي دا کيسه لوستې ده، چې يوه چينه ده د هغې نـه هر يو محلت لـه نلکه راغلې ده خو د هـر يو محلت خلک پـه دې نښتي دي چې زمـونږه د نلکـې اوبـه پـاکې او خوږې دي او د دې نـورو نلکـو اوبـه ناپـاکې او ترخـې دي. دې تـه هيڅوک فکـر نـه کـوي چې دا ټـولې نلکـې د يـوې چينـې نـه راغلـې دي، نـو څنګـه يـوه پاکه او خوږه شوه او نـورې ناپـاکې او ترخـې شـوې او اسـلام خو دا تعليـم ورکـوي چې د مـسلمان بـه پـه دې کتـاب هـم ايمـان او عقيـده وي او پـه وړانـدينو مـذهبونو او کتـابونو هـم: «والـــذين يومنون بما انزل اليک و ما انـزل مـن قبلـک» دا ددې ثبوت دی چې اسلام ټولو مذهبونو سره روا داري غوره کړې ده.

چې کـوم ځـای زمـونږ سياسـي ورونـه ټـول غونـډ ولاړ وو، نـو زه ورو ورو ورنـژدې شـوم او ورتـه مـې دا وويلـې چـې دا سـوراج خو ماتـه ډير ګـران ښـکاره شـو او سوراج بـه د څـه سـوراج وي چې هغـه کـې هـر چـا تـه د خپلـې عقيـدې او خيـال ازادي نـه وي. ستاسـو پـه دې تنـګ نظـرۍ مـا لـه افـسوس راځـي. کـه چيـرې د غوښې خـوراک د چـا پـه عقيـده منع وي، هغـه دې نـه خوري او کـه د چـا پـه عقيـده هغـه منع نـه وي، نـو د هغـه نـه خفګـان مناسـب نـه دی. مـونږ خـو ستاسـو د عقيـدې دومـره خيـال سـاتلی دی چـې مـونږ تـه حکومـت ويـل چې تاسـو بـه پـه همـدې شريکه بـاورچي خانـه کـې پخلـی کـوئ، مګـر مـونږ حکومـت تـه وويـل چـې مـونږ غوښـه پـه دغـه بـاورچي خانـه کـې نـه پخـوو، پـه بـل ځـای کـې بـه يـې پخوو، نـو زمـونږ د غوښـې پـه خـوراک ستاسـو خفګـان او اعتـراض ناجـايزه دی. ستاسـو دا خيـال د هندوسـتان د سـوراج

او اتفاق د پاره موزون نه دی، ځکه چې په هندوستان کې د مختلفو عقیدو او خیالاتو خلک موجود دي، نو که چېرې هر یو قوم خپلې عقیدې او خیال باندې نور مجبوروي، نو دا به ګرانه شي؛ بلکې نتیجه به یې ډېره خرابه راوخېژي او د هندوستان خلک هله د ترقۍ او ازادۍ معراج ته رسېدی شي، چې هر چا له د خپلې عقیدې او خیال ازادي ورکړو او د هېڅ قسمه ظلم او جبر په چا ونه کړو. زما د دې خبرو په اورېدلو د دوی قهر او خفګان کم شو او بیا د هغوی هغه اعتراض او خفګان پاتې نه شو.

زمونږ ډېر هندوان او سکهان سیاسي ورونه وو، چې هغوی د غوښو په خوراک اموخته وو او ډېر زړه به یې غوښې ته کېدلو، لیکن نورو نه مجبور وو، زما د سیالکوټ یو بنډاري نومي هندو اشنا و، ډېر ښه سړی و او د غوښې ډېر شوقي و، چې څه وخت به مونږه هسپتال ته روان شو، نو هغه به پټ ماله خپل کټوری را کړو، چې په دې کې ما له لږه غوندې غوښه راوړه، ما به همېشه هغه له هغه کټوری ډک راوړلو او هغه به په پټه په بارک کې خوړله. هغه چې به کله نا کله په قار شو نو خپلو هندوانو ته به یې ډېر کنځل کول چې وګورئ دوی د خوراک په څیزونو کې مونږ ته مذهب راوړاندې کړی دی.

زمونږ د ټولو سیاسي قیدیانو شریکه یوه باورچي خانه وه او دا ډېر ښه کار و، چې مونږ مسلمانانو هندوانو او سکهانو به یوځای کې ډوډۍ خوړله. تحریک مونږ ټول سره ورونه کړي وو. دا د کانګرس او خلافت برکت و او د یو بل نه مو هېڅ قسم نفرت نه کولو. یوه ورځ په کې اتفاقاً د خدمتګار سوال را

پیدا شو مولانا محمد اسماعیل غزنوي دا سوال اوچت کړو، چې په باورچي خانه کې یو مسلمان خدمتګار هم په کار دی، لیکن هندوان او سکهان په دې کار راضي نه وو او د مولانا برخلاف به یې دا خبرې کولې چې ګورئ دوی په مونږ کې بې اتفاقي پیدا کوي، ما ورته وویل چې په دې خو به اتفاق اومحبت لا زیات شي، ځکه چې مسلمان به هم د باورچي خانې په کار کې شریک شي او ټول کار به په شریکه وکړي. زما دې خبرو ته چا ډېر فکر ونه کړو او زما کوششونه څه مفید ثابت نه شول، چې څه رنګې هندوان او سکهان پخپلو خبرو ټینګ ولاړ وو، هغسې مولانا صاحب هم خپله خبره نه پرېښوده او ورځ په ورځ دا جګړه په زیاتېدو وه. زمونږ یو ماسټر صاحب و، چې هندو و، هغه خو به ویلې هندوان پاک دي او مسلمانان ناولي دي، لیکن چې کوم هندوان پوهـ او هوښیار وو، نو هغوی به داوې چې دا د صفايۍ سوال دی او چونکه مسلمانان د صفايۍ خیال ډېر نه ساتي نو په دې وجه مونږ نه غواړو چې مسلمان دې په کېچن کې کار وکړي. دا کیسه جاري وه او ورځ په ورځ زیاتېده او سختېده، دا خو یو قسم بانې وې په اصلیت کې هندوانو مسلمان خدمتي په (کېچن)(Kitchen) کې نه پرېښو، یوه ورځ ما خپل ډاکټر ته چې هغه یو هندو و، دوه مشقتیان چې یو هندو و او بل مسمان و د خپل بارک د کټو او معاینې دپاره پیش کړل چې ته دا دواړه وګوره چې په دوی کې کوم صفا او پاک دی، هندو په باورچي خانه کې کارکولو او مسلمان زمونږ د بارک جارو مار و. ډاکټر صاحب په ښه شان هغوی وکتل او د کتو نه پس یې د مسلمان په حق کې فېصله

وکړه چې دا مسلمان د دې هندو په نسبت پاک او صفا دی او په هندو کې د ناپاکۍ په وجه سپېرې شوې دي، نو ما خپلو هندوانو ورونو ته ووې چې د ډاکټر صاحب په فیصله کې څه وایئ. ستاسو د صفايۍ دا بانه خو هم پاتې نه شوه. لنډه دا چې د ډېر کشمکش نه پس اخر په دې فیصله وشوه چې یو مسلمان دې هم په باورچي خانه کې کار کوي او د هغه به صرف دا کار وي چې مونږ په کومو لوښو کې ډوډۍ وخورو هغه به اوچتوي او وینځي به يې او په دې طريقه دا مسئله ختمه شوه.

د هندوانو دې قسم خبرو او رويې په ما هم اثر وکړو او زما زړه چې په هغه کې د خدای د ټول مخلوق سره يو شان مینه محبت و، څه نا څه فرق په کې پیدا شو. يوه ورځ ما خپلو ورونو سره خندل چې زه دلته صفا زړه راغلی وم او هغه د هر څه کرکې او نفرت نه پاک و او هېڅ قسم داغ په کې نه و، لیکن ستاسو په صحبت سره چې نن زه ورته ګورم دا غدار شو، مذهب خو دنیا ته د دې دپاره نه دی راغلی چې د خلکو په منځ کې نفرت پیدا کړي، بلکې مذهب خو د مینې محبت علمبردار دی. بله عجیبه خبره مې دلته دا ولیده، چې په ګرمۍ کې به تقریباً ټولو هندوانو زما د منګي نه يخې اوبه څکلې او هېڅ باک به يې نه کولو، لیکن يخنۍ کې به يې ترې پرهېز کولو او زما منګي ته به نه رانزدې کېدل حقیقت دا و، چې په ګرمۍ کې به ما د دې خپل منګي نه کېږه چاپېره کړې وه او ساعت په ساعت به مې هغه لمدوله باد به لګیده،نو هغه اوبه به يخې وي ما خو به دا خواري کوله او دوی نه دومره خواري کېدلی نه شوه.

مونږ په جېل کې وو، چې بهر چېرته يو هندو، د پېغمبر اسلام (ص) په شان کې ګستاخي کړې وه، نو يو مسلمان راپاڅېدو هغه يې قتل کړو، هندوان د هغه هندو ملګري شول او مسلمانان د هغه مسلمان او په دې باندې ټول ملک کې يوه هنګامه جوړه شوه او د ازادۍ او قومي تحريک نه د خلکو توجه فرقه واريت ته وګرځېده. تر دې وخته پورې چې د قومي تحريک د وحدت د پاره څومره کوششونه شوي وو، هغه په سين لاهو شول، په کار خو دا وو چې څوک غلط کار وکړي ټول هغه ته غلط ووايي نه سرېتوب، نه مذهب، نه انسانيت، نه شرافت،نه اخلاق دا وايي چې مونږ د غلط کار او غلط سړي ملګري شو،د هر چا خپل مذهب دی او خپله عقيده ده،يو سړی داسې کار ولې کوي چې د بل مذهب او بلې عقيدې خاوند پرې خپه او غصه شي، حالانکه هېڅ مذهب ددې اجازت نه ورکوي. دا نن چې د هندوستان او پاکستان هندو او مسلمان د نفرت په لوی عذاب کې ګير دی، نو د دې هم دا وجه ده. تاسو دې خبرې ته هم فکر وکړئ چې هندوستان کې د غوا او جماعت په سر فرقه وارانه فسادونه ډېر کېږي او زمونږ شريک دښمن دا حربه زمونږ د قومي اتحاد خلاف استعمالوي، چې سړی دې ته وګوري نو حيران شي چې يو ښه وينې او بينا بنيادم د غوا په حلاله بد وګڼي نو بل بنيادم د وژنې يعنې د بنيادم حيثيت او حقيقت د يوې غوا يا ځناور نه هم لاندې او غير ضروري دی او دې بل اړخ ته د خدای د کور په خوا کې د تېرېدونکي جلوس د ډولکي او سرنا اواز دومره لوی جرم دی چې هم د دغه رحمان او رحيم خدای په پاکه نامه

د هغه د مخلوق انسان په مړي چاړه راښکل کېږي. د دې واقعاتو نه فسادونه جوړ شي، کورونه تالا شي، ماشومان په کې وسېزل شي او دا هر څه په دې جذبه کېږي چې د خدای پاک د رالېږلي دين خدمت کېږي. په دې سلسله کې ماته يوه کيسه را ياده شوه. زمونږ د کلي د خپلې کورنۍ يو مشر د خپل وراره د لاسه د خپل کلي په جومات کې د لمانځه دپاسه په سجده قتل کړی شوی و، تفتيش له پوليس راغی پوليس کپتان پيرنګی و، هغه جومات ته بوټانو سره ننوتو هلته ولاړ يو سړي ورته وويل((صاحب!بوټان وباسه جومات دی)) پيرنګي ورته ووې، چې ستاسو په زړه کې د خدای د کور هم صرف دومره احترام دی چې پيزار سره په کې نه ګرځئ او د هغه خدای پيدا کړی مخلوق په کې هم د هغه د وړاندې په سجده کې پروت وژنئ؟ دا ستاسو عجيبه مذهب دی او عجيبه تعليم دی.

د هندوستان ډېر عجيبه مخلوق دی دوی پيرنګيانو د خپل تکبر او فرعونيت په وجه د ځانه خپه کړي دي او پخپله مقابله کې يې ودرولي دي،ځکه چې زمونږ بارک ته به کله يو پيرنګی د معاينې دپاره راغی نو يوه عجيبه تماشه به وه،مونږ کې به د هريو کس دا کوشش و، چې په څه چل او څه طريقه به هغه خپل ځان طرفته مايل کړي او چې يو ځل به هغه مونږ طرف ته خپل رغبت ښکاره کړو او څه لږې خبرې به يې را سره ښې وکړې، نو چې دوباره به راتلو نو لا بارک ته به را دننه شوی نه و، چې مونږ به ورته لاس په نامه ولاړ وو،لاسونه به مو ورته جوړه کړي وو، سلامونه به مو ورته کول او مسکي به ورته

کېدو او دا عادت خاص زمونږ په انټيليجنشيا يعني زمونږ په تعليم يافته خلکو کې ډېر زيات و، زما يو مهربان چې د لايلپور و، زما د جېلخانې استاذ و او يو لوی وکيل و، ماسټر ګوردت مل نومېده او هر وخت به يې سياسي کتابونه لوستل ډېر عالم او پوهـ سړی و، ليکن چې يو ځل به کوم پيرنګي ورسره ښې خبرې وکړې، نو بيا به پرې دې پتنګ و، هغه يوه ورځ ما ته د خپل قيد د لايلپور د جېلخانې کيسه کوله چې زه به يې په اورېدو باندې حيران شوم ما به په زړه کې وې چې د هندوستان څومره ښه خلک دي او د دوی د پيرنګيانو سره څومره ښه محبت دی د هغوی زور او ظلم او بد سلوک ورته هډو مخې ته ودرېږي نه او نه يې محسوسوي. هغه غريب، بې ګناه ډپټي کمشنر دوه کاله قيد کړی و، ليکن بيا هم دی د هغه نه خوشحاله و، د هغه برخلاف يې په زړه کې څه نه وو، بلکې همېشه به يې ما ته د هغه صفت کولو چې هغه بيچاره ډېر ښه سړی دی او د دې ښه سړيتوب وجه دا وه چې څه وخت يې دی قيد کړو، نو هغه يوه ورځ جېلخانې ته راغلی و او د ده پوښتنه يې کړې وه او د ده په مخکې دومره ويلي وو چې د وکيل صاحب چکۍ مو سپينه کړې ولې نه ده؟ په دې دومره خبره دی خوشحاله و، بلکې د هغه احسانمند و او چې څومره ده سره ظلم او زياتی شوی و، هغه ترې هېر و. هغه به کله نا کله په فخر دا کيسه ما ته کوله چې ډپټي کمشنر جېلخانې له راغی نو زما پوښتنه يې وکړه چې هغه کوم ځای دی؟ بيا ما له راغی جېل والاو ته يې وويلې چې د ده چکۍ مو سپينه کړې نه ده؟ دا سپينه کړئ. ما به ورته ويلې چې ماسټر صاحب ته يې بې

ګناه دوه کاله قید کړی یې او د ډېره غازي خان غونډې ګنده جېل ته یې رالېږلی یې او مالي نقصان پرې علاوه، دې ته فکر نه کوې او چکی سپینول درته یاد دي.

ما به همېشه خپلو سیاسیانو ورونو سره خندل چې ستاسو مطلب سوراج نه دی بلکې ستاسو مطلب دا دی چې پیرنګیان دې مونږ هم ځان سره په حکومت کې شریک کړي او څه لږه غوندې حصه دې په کې راکړي.

## لاهور جېل ته دوباره تګ:

زما د غاښونو مرض ورو ورو بیا په زیاتېدو شو، ماته یوه ورځ داروغه صاحب د سپرنټنډنټ په مخکې دا خبره وکړه چې نن سبا جرنیل صاحب بیا په دوره باندې دلته راځي ته د خپل مرض حال هغه ته ووایه او عرض ورته وکړه چې تا د علاج دپاره بیا د لاهور جېلخانې ته ولېږي، لیکن ما ورته دا جواب ورکړو چې جرنیل صاحب ته د هېڅ قسم عرض معروض نه کوم، ځکه چې زما اصلي ذمه دار سپرنټنډنټ صاحب دی او که چیرې زه څه وایم نو ده ته به وایم. سپرنټنډنټ صاحب هم زما د خبرې تایید وکړو او په جواب کې یې راته وویل چې د جرنیل صاحب د دورې نه پس به زه تا لاهور ته ولېږم. هغه زما دپاره ولیکل چې زه دې د علاج دپاره لاهور ته بدل شم او زر ترزره حکم راغی او زه لاهور ته روان شوم، دا ځل زما تلل په پته نه وو، زه ټولو سیاسي ورونو سره یوځای شوم او په خندا خوشحالۍ سره ترې رخصت شوم او په خیریت لاهور ته ورسېدم. د ور رسېدو سره یې زه خپل زوړ اشنا داروغه

خیرالدین خان ته پیش کړم ولې چې مخکې علاج دپاره راغلی وم ده سره مې لېده کاته شوي وو، هغه زما نه پوښتنه وکړه چې ته د علاج دپاره د ډېره غازي خان جېلخانې نه راغلی يې او پس د هغه نه يې زما صندوق او بستره ايساره کړه او خپل اردلي يې ماسره کړو چې ما هغې احاطې ته بوځي چې کومه احاطه د سياسي قيديانو دپاره مقرره وه، لږ چې مونږ وړاندې شو، نو زما خيال دا و، چې ما به هغه ځای له بيايي چې مونږه په کې وړاندې وو چې مونږ لاړو نو ما يو وړوکې غونډې دروازه وليده، د هغې په خوا کې يو قيدي نمبردار ولاړ و، نو چې څه وخت مونږ دغې وړوکې غونډې دروازې ته نزدې شو،نو د داروغه صاحب اردلي هغه ته اشاره وکړه او هغه فوراً ور پرانيسته او زه هغه ځای ته وردننه شوم، هغه ځای ډېر وړوکی او تنګ و. زه لا په دې فکر کې وم چې د ننه کوټه کې مې اغا صفدر او ملک لال خان په نظر شو،د هغوی په ليدو رانه هر څه هېر شو او زه ډېر خوشحاله شوم چې شکر دی د ګپ شپ دپاره مې ملګري بيا مونده. لاله لاجپت رای او د هغه سره يو بل هندو ليډر هم په دې بارک کې ناست وو، چې څه وخت ور دننه شوم هغه ټول راپاڅېده او په مينه محبت يې ما سره ستړي مه شي وکړل. د دوی په ملاقات زه نور هم ډېر خوشحاله شوم. زمونږ دا ځای دومره تنګ و، چې مونږ په کې ګرځېدی قدر نه شو او نه مو په کې د څه قسم ورزش کولی شو او بله دا چې د ورځې خو به مو څه نه څه ګذاره کېدی شوه، ليکن د شپې به مونږ ته ډېر زيات تکليف و،ځکه چې هوا په کې بالکل نه لګيده دګرمۍ دلاسه به په کې مونږ پوره خوب کولی نه شو.

ټوله ورځ تېره شوه او ماښام شو لیکن زما بستره او صندوق رانغلل او د شپې چې څه وخت ما له یې ډوډۍ راوړه نو هغه د سپېشل کلاس نه وه، بلکې د (سي) (C) کلاس خوراک و، ما خپلو ملګرو سره د دې خبرې ذکر وکړو، چې زه خو د سپېشل کلاس قیدي یم ما سره ولې د (سي) (C) کلاس سلوک کېږي، لیکن هغوی زما په دې خبرو کې څه دلچسپي وانه خیسته او په هغه دغه کې یې تېره کړه، زه هم چپ شوم، لیکن دا خبره زما په زړه کې نه ځایېده چې بغیر د څه قصور نه جېل والاو ماسره ولې د دې قسم سلوک کوي. ما څه کولی نه شو او نه ورته زه خپلو ملګرو پرېښودم. هغوی هم زما دپاره څه قدم اخیستو ته تیار نه وو. زما بستره او صندوق راغلل بیا هم چې زما په صندوق کې څه د خوراک څیز و، هغه رانغلل د هغه په باره کې دا خبر راغی چې هغه به په دفتر کې پروت وي او د ضرورت په مطابق به تاله درکېدی شي. د دې مطلب داو، چې د نیمې نه زیات به جېل والاو خوړو، جېلخانه ډېر یو عجیبه ځای دی، د ښودو له پاره یې یو قانون جوړ کړی دی، لیکن په حقیقت کې قانون نشته د داروغه او سپرنټنډنټ خوله قانون دی او هرڅه چې غریب قیدي سره هغوی کوي هماغه کېږي. ډېره غازي خان جېل کې د خوراک څیزونه ځان سره کېښودل جایز وو او دلته ناجایز شو او دا خبرې څوک رښتیا و له وروستی هم نه شي، ځکه چې د کمزوري او د زورور معامله ده، د ګډې او شرمښ کیسه ده. بله ورځ خیرالدین خان زمونږ بارک ته راغی ما ورته ووې چې زه افسوس کوم چې دا دومره ورځې تا ماله بغېر د څه وجهې تکلیف راکړو؟، هغه راته په جواب کې داووې چې ستا

وارنټ سره د مجسټریټ د سپېشل کلاس د تصدیق چیټی نه وه،نو مونږ څنګه دا یقین کړی وی چې ته په رښتیا په سپېشل کلاس کې یې. ما ورته ووې چې اخر زما په ټکټ د سپېشل کلاس تصدیق د ډېره غازي خان د سپرنټنډنټ د طرف نه شوی دی، هغه جواب راکړو چې دا زمونږ د تسلي دپاره کافي نه و. ما ورته ووې چې دلته اول خو هم راغلی وم او تا لیدلی وم، هغه وخت خو ما سره صندوق او بستره نه وه او نه ما خپلې جامې اغوستې وې، نو بیا دا څیزونه ماڅنګه را پیدا کړل؟ هغه جواب راکړو چې زمونږ خیال و،چې هسې نه دا ورته چا په لاره کې ور کړي وي. زه پوهه شوم چې ده کج بحثي شروع کړه،نو ما دا خبره پرېښوده.مقصد دا دی چې د جېل والاو یو عجیبه قسم عادتونه وي هغوی همېشه په دې فکر او کوشش کې وي،چې په څه طریقه به د خدای مخلوق ته تکلیف ورسوو،دا ټولې خبرې زما د ملګرو په مخکې وشوې لیکن هغوی بالکل خاموشه وو.

هر کله چې زمونږ دا دعوه ده، چې مونږ به حکومت سره تعاون نه کوو؛ نو بیا دا مناسب دي چې په جېلخانو کې هم هغه حکومت سره تعاون او ملګرتیا ونه کړو.د حکومت سره تعاون اوملګرتیا خو په هېڅ شان زمونږ د شان سره جایزه نه ده او بیا د خپلو ملګرو برخلاف او داسي ملګري چې د خدای دپاره یې مونږ سره د قوم او ملک د خدمت دپاره ملا تړلې ده.

څو ورځې پس زما د غابښونو د کتو دپاره بیا هم هغه ډینټل سرجن راغی زما د غابښونو او اُورو په لیدو خوشحاله شو او ماله یې مبارکي راکړه چې غابښونه دې بچ شو. زما د ژامې یو

غابښ يې وايستلو او نور غابښونه يې را له په ښه شان صفا كړل او نوي دارو يې د پورې كولو دپاره راته وليكل د تلو په وخت كې يې داروغه صاحب ته وويل چې څلور ورځې پس به بيا زه دده غابښونه ګورم او زمونږ نه رخصت شو.

## مطالعه:

مونږ په جېلخانه كې د قران مجيد درس شروع كړى و او د سحر د لمونځ نه پس به تقريباً دوه،درې ګېنټې د قران په تلاوت كښې مشغوله وو. څلور كسان وو او مونږ سره څلور قسمه تفسيرونه وو، د څلورو وهډو ترجمه به مو په ښه شان اورېده او بيا به مو پرې ښه غور او فكر كولو او كله نا كله به مو خپلې خپلې رايې هم وركولې،چې څه وخت به مو د قران درس شروع كولو، نو دا مو فېصله كړې وه چې هغه ټولې خبرې او كيسې چې د وړوكوالي نه مونږ اورېدلې دي او زمونږ په زړونو كې ناستې دي هغه بالكل د زړه نه اېستل په كار دي او په يو صفا زړه د قران شريف په مطالبو او تعليم باندې غور او فكر كول په كار دي او د هغو په اصلي معنو او مفهوم ځان پوهول په كار دى او دا هله كېدى شي،چې مونږ د خپل زړه نه هغه ټولې خبرې او كيسې لرې كړو او كه چيرې دا ونه كړو، نو بيا د قران په حقيقت رسېدى نه شو، ځكه چې مونږ مخكې د هغه متعلق يوه رايه قايمه كړې ده. دې خبرې مونږ ته ډېره فايده ورسوله او په دې طريقه مونږ د اسلام د خُوبو او ښېګړو نه په ښه شان سره واقف شو.

ورځ په ورځ زمونږ شوق زياتېدو ،ليكن ملك لال خان

غریب چې هغه د خپل زړه نه هغه وهمونه لرې نه کړی شو، زمونږ سره ونه چلېدی شو او یو څوورځې پس هغه په درس کې شرکت پرېښود. مونږ یو ځل قران کریم ختم کړو او په دوباره مو بیا شروع کړو کومه مزه، لطف او علم او پوهه چې د دې درس نه ما ته حاصله شوه. زه د هغې بیان کولی نه شم. زه د قران په خوبو ښه پوهه شوم،د اسلام د تعلیم نه خبردار شوم او د مذهب په حقیقت ورسېدم، د درس نه علاوه اغا صفدر صاحب په مختلفو مضمونونو باندې څه نوټونه لیکل هغه به هم ماکتل او بیا به مې پخپل نوټ بک کې ځان سره نقل کول او د ټولو نه زیاته د فایدې خبره زمونږ د شپې تبادله خیالات و، ورځ به په څه طریقه تېره شوه لیکن په دې ځای کې شپه تېرول ډېره ګرانه وه او په دې طریقه به مو خپل وخت تېرولو، څه ورځې پس ولي او محمود زما د ملاقات دپاره راغلل د ملاقات په وخت کې یې راته وویل چې هغوی عبدالولي موګا ته بیایي چې د سترګې اپرېشن یې وکړي. ما چې د هغه سترګې ته وکاته،نو د هغې هغه داغ د اول نه ډېر زیات شوی و او په دې مې زړه ډېر خپه شو او ددې ماشوم په حالت مې ډېر افسوس وکړو، لیکن بغیر د افسوس نه ما بل څه کولی شو؟ زه چې څه وخت قید شوم نو ما ډېر خطونه کلي ته ولیکل چې د ولي د سترګې غور وکړئ او موګا ته یې ولېږئ، لیکن د ولي غریب په حالت چا غور ونه کړو او نه چا د هغه سترګې ته فکر وکړو او په دې کې یو نیم کال تېر شو او څه وخت چې د هغه مرض په زیاتي شو،نو بیا یې هغه موګا ته ولېږه،لیکن دې تلو هغه ته څه فایده ونه رسوله. د غفلت په سبب د هغه یوه سترګه

بې کاره شوه او دا داغ زما د زړه نه لرې شوی نه دی هر وخت چې ماته د ولي سترګه رایاده شي نو زړه مې ډېر زیات خپه شي.

ولي دوی سره چې ما څه وخت ملاقات ختم کړو او هغوی رخصت شو او زه بهر راووتم نو هغه نایب داروغه چې چا زمونږ ملاقات کړی و، دلاسه ونیولم او یو سړي له یې بوتلم چې هغه له هم خپل خپلوان ملاقات له راغلي وو، داروغه راته ووې چې هغه هم ستاسو د ډلې دی او ستاسو د عدم تعاون ورور دی او دی د یو کال دپاره په ضمانت کې جېلخانې ته راغلی دی او دی د سرجان لارنس بت چې په یو لاس کې یې توره ده، او بل لاس کې قلم دی د ماتولو دپاره تلی و، لیکن کامیاب نه شو او ګرفتار شو، ځکه چې د ده دا خیال و، دا بت د هندوستانیانو دپاره یو لوی د بې غېرتۍ څیز دی او په دې وجه د هر هندوستاني فرض دي چې دا مات کړي، ما ورته ووې چې دا خو ډېر غیرتي سړی دی او دا خو یې یو لوی د غیرت کار کړی دی، هغه ووې چې بې شکه کار خو یې د غیرت کړی دی لیکن اوس بې غېرته شوی دی، یوه هفته یې لا په جېل کې پوره شوې نه ده او بیا دې حالت ته رسېدلی دی چې شپه او ورځ ژاړي او چغې وهي چې په هره طریقه چې کېدی شي ما د دې قید او بند نه وباسئ. نن ورله مونږ خپل خپلوان د ملاقات له پاره راغوښتي دي راغه واوره چې ورته څه وایي. دې قیدي غریب هغوی ته لاسونه جوړه کړي دي او ډېر په عاجزۍ هغو ته لګیا و، چې په هره طریقه چې وي زما ضمانت وکړئ او ما د دې بلا نه وباسئ. په دې کې پرې دې داروغه اواز وکړو چې

اوس یوازې په ضمانت وتی نه شې، بلکې معافي به ورسره هم غواړې؛ نو په ډېره غریبۍ یې جواب ورکړو چې معافي ورسره وغواړم، نو بیا به مې پرېږدئ، هغه ووې چې هو، ده وې ښه ده معافي به هم وغواړم؛ نو ما پرې اواز وکړو چې پوزه به هم را کاږې؛ نو وې چې ښه هغه به هم راکاږم؛ نو بیا مې ورته ووې چې په یوازې پوزه راښکلو به کار ونه شي دې سره به د اوښ پل هم جوړوې، وې چې هغه څنګه وي؟ نو ما ورته ووې چې داسې خاورې به راغونډې کړې نو بیا به داسې کارونه نور هم وکړې، نو هغې غریب وې چې ښه ده دا به هم وکړم، خو چې د دې جېل نه بهر شم.

د دې په اورېدو ما ډېر وخندل او زه تري روان شوم. ما په زړه کې ووې چې داسې جذباتیان ځوانان وي او دایې همت وي نو مشکله ده،چې هندوستان ازاد شي یا د پیرنګیانو نه څه نه څه حصه په حکومت کې واخلي.

دا کیسه مې لاله لاجپت رای او اغا صفدر ته هم وکړه او لاله جي سره مې وخندل چې په پنجاب کې د دې قسم ځوانان شته دی، نو امید دی چې تاسو ډېر زر سوراج حاصل کړئ او مونږ ټولو په دې خبره افسوس وکړو چې سړی یو کار کولی نه شي، نو هغې ته دې ملا نه تړي.او د داسې کولو نه ،نه کول بهتر وي. زمونږ ځوانانو له په کار دي چې هر یو کار شروع کوي چې په هغې ډېر فکر کوي د هغه په ټولو تکلیفونو باندې په ښه شان غور کوي که چیرې هغو ټولو تکلیفونو ته تیار وي نو هله دې هغه کارته ملا وتړي او که چېرې دا تکلیفونه تېرولی نه شي،نو ښه به دا وې چې په ارام کېني او دعا

کوي، ځکه چې د ده بزدلي قومي مقصد ته نقصان ورکوي. اګر چې زه د او خت په کانګرس کې نه وم، په خلافت کې قید شوی وم، صرف زه او لاله جي په سپېشل کلاس کې وو، لیکن هغه ته د ورزش دپاره په ټوله جېلخانه کې د سحر او ماښام د ګرځېدو اجازت و، او ماته نه و. هغه به په کټ کې څملاسته او زه په ځمکه، نور هم هغه ته ډېر رعایتونه حاصل وو. جېل والاو به یې ډېرې خوشامندې کولې، په هفته کې به یې یو ځل ملاقات کولو خلکو به ورله قسم قسم مېوې رالېږلې. په جېلخانه کې ورته هر قسم ارام و. مونږ په یو داسې تنګ او ځان له ځای کې قید وو، چې مونږ هېڅ د دنیا له حاله خبر نه وو، نه یې مونږ ته څوک را پرېښودل او نه مونږ ته د دې ځای نه د وتو اجازت و، په دې وجه مونږ د نورو قیدیانو د حاله نه خبرېدو چې هغو غریبانانو سره د څه قسمه سلوک کېږي. لیکن زمونږ د احاطې په دروازه کې یو سُوری و، چې د هغه نه به مونږ ته د قیدیانو یوه ټټی ښکارېده سحر به ترې په سوونو قیدیان چاپېره وو، دا یوه ډېره عجیبه نظاره وه، چې د دې په لیدو به هر سړی غمجن او حیران و، چې دې خوارانو سره د دې قسمه ذلیل سلوک کېږي، لیکن مونږ هېڅا د هغوی څه مدد کولی نه شو. ما به کله نا کله لاله جي ته وې چې که خیر وي او هر کله بهر ته ووتې نو د دې خوارانو دپاره په اخباراتو او په اسمبلۍ کې څه نه څه ایجي ټېشن وکړئ، ولې چې دوی ډېر مظلومان او بې اسرې دي، یوه ټټۍ وه چې په هغې کې شاید د ناستې دپاره پنځه یا شپږ ځایونه وو او د دې دپاره درې ډلې قیدیان وو، د هر یو سړي په سر به درې، څلور کسان ولاړ وو،

چې کله به دی پاڅي چې زه کېنم، بل طرف ته سپاهيانو او نمبردارانو هم زور لګولی و، چې شابئ زر شئ! او که چيرې يو قيدي به لږ زيات وخت تېر کړو نو بيا به د هغه خير نه و، د يو طرف نه به پرې سپاهي راغی او د بل طرف نه به پرې نمبردار او هر څه به يې پرې اورسکور کړل. لنډه دا چې يو ډېر د شرمندګۍ حالت و، مونږ ټولو به دا خبره ډېره محسوسوله او د قيديانو دې قابل رحم حالت سره زمونږه د ټولو همدردي وه،ليکن افسوس دی چې مونږ د هغوی هېڅ قسم امداد کولی نه شو، زمونږ يو پښتون مشقتي و، هغه ډېر يوه عجيبه قسم سړی و، تقريباً اووه کاله قيد يې تېر کړی و او ډېره کمه معافي يې اخيستې وه. اکثر د قيد حصه يې په ډېرو تکليفونو او مصيبتونو کې تېره شوې وه، ليکن د دې نه يې هېڅ قسم عبرت اخيستی نه و، سړی دومره خراب هم نه و، ليکن هغه ته چې دا هر څومره تکليف رسېدلی و، د ژبې د لاسه يې و، ژبه يې بالکل په واک کې نه وه. ما چې به ورسره هر څومره سرخُوږ کړو او هر څومره به مې پوهه کړو ،ليکن په هغه يې هېڅ اثر ونه کړو او چې څنګه ناپوهه و ،هم هغه شان ناپوهه پاتې شو.د دې ټولو خبرو دپاسه يوه ورځ ماله راغی او ماته يې ووې،يوه چيټۍ کلي ته لېږم. مهرباني وکړه په تا باندې يې ليکم ما په ډېره خوشحالۍ قلم،مشوانۍ او کاغذ راواخيسته. د سرنامې نه پس مې ورته ووې چې وايه څه وليکم؟ راته يې ووې چې وليکه، زما دښمنان خبر کړئ،خوشحالي دې نه کوي لږې ورځې را ته پاتې دي او که خير وي زه يو ځل در ورسېدم او د بند نه خلاص شم نو تاسو سره به پوهه شم،نور به رانه په کلي

کې ونه ګرځئ. د دې په اوربدو زه ډېر زيات حېران شوم، چې زما د کوششونو او نصيحتونو ايله دا نتيجه شوه.څه ساعت پورې خو چپ و ،بيا مې ورته ووې چې زما ټولې خبرې تا هېرې کړې او په يوه دې هم عمل ونه کړو! ده راته ووې چې عمل مې پرې کړی دی،خو د دوی پلان ميدان کړی.دوی زما په قيد خوشحالي کوي. ما ورته بيا خپل بيم وغوړولو او دا مې ورته ووې چې اوس دنيا بدله شوه، مونږ له هم بدليدل په کار دي. د دې خبرو زمانه تېره شوه ته نه ګورې چې هندوان،سکهان او مسلمانان په کور کې ورونه شو او دلته که په سوونو دا خلک قيد دي تا ته معلومه شوې ده، چې دا په څه کې قيد شوي دي؟ ته خو يې وينې او ددې نه هم څه سبق نه زده کوې.

هندو او مسلمان خو په کور کې ورونه کېږي اومونږ پښتانه د يو بابا زامن، يو قوم، يوه وينه يو، زمونږ دې دا حال وي؟سړی مې ورو ورو راضي کړو او راته يې ورو ورو سر وخوځوو او ويې وې چې ښه دا خبرې به زه نه ليکم. هغه غريب ته زه ډېره ګناه نه کوم ولې چې په دې ماحول او په دې خبرو کې هغه لوی شوی دی، سپين ږيری شوی دی او دا ټولې خبرې د هغه يو قسم عادت ګرځېدلې دی، نو عادت پرېښودل څه اسان کار نه دی، ددې خبرو د اصلاح دپاره ډېر کار کول په کار دي او پښتنو غريبانانو کې نه داسې خلک پيدا شوي دي او نه په کې چا داسې کار کړی دی او نه دوی چا داسې پوهه کړي دي، چې مونږ ددوی نه ګيله وکړو.ما روژه دلته تېره کړه او د روژې نه پس يې بيا د دې جېلخانې نه واپس د ډېره غازي خان جېلخانې ته بدل کړم.

## د لاهور جېل نه بیا ډېره غازي خان ته:

با وجود د دې دومره تکلیف او پریشانۍ نه چې دلته ما ته وه، بیا هم زه پخپلو بدلیدو بانددې ډېر خپه وم، ولې چې دلته ما ته د لاله لاجپت رای په شان او د هغه د یو ملګري او اغا صفدر او لال خان په شان سوسایټي او ملګرتیا حاصله وه او هغوی سره زه ډېر خوشحاله وم او د هغوی سره د تبادله خیال نه ماته ډېره فایده حاصله شوې وه او بل د قران درس او بل د اغا صفدر په شان یو عالم او روشن خیاله سیاستدان زما ملګري هم زما په جدايي ډېر غمجن و، لیکن څه کېدی نه شو، زمونږ واک خو د بل و او اخر هغه وخت راغی چې د یو بل نه جدا شو، پولیس په ډیوډۍ کې زما انتظار کوو، زه چې ډېوډۍ ته راورسېدم نو جېل والاو زه پولیس ته حواله کړم.او زه د پولیس سره د ډېره غازي خان جېل ته روان شوم.دوی پیاده اول پولیس لاین ته او بیا سټېشن ته بوتلم. د ډېره غازیخان د جېل دا قانون و، چې داروغه پولیس ته ووې چې ده ته د اتکړو لګولو حکم نشته او پولیس له یې د لاهور سټېشن نه دلاهور جېلخانې پورې کرایه هم ورکړې وه او دلته د خیرالدین حکم و،چې اتکړۍ هم ورته ولګوئ دی مسلمان و او د ډېره غازي خان داروغه هندو و، څه وخت چې مونږ سټېشن ته ورسېدو نو ماښام و،ګاډی تیار و او په ګاډي کې سواره شو او سبا په تکنه غرمه زمونږ ګاډی د شېرشاه سټېشن ته ورسېدو.دا یو لوی جنکشن دی او دلته د ډېره غازي خان دپاره ګاډی بدلول غواړي. مونږ چې د ګاډي نه کوز شو ډېره ګرمي وه پولیس والاو زما اسباب اوچت کړو او ویټنګ روم ته روان شو، ما ته

يې هم اواز وکړو زه يې هم ويتينګ روم ته د ننه کړم. يوه ارام کرسۍ پرته وه هغه يې ماته سمه کړه او زه په هغې کېناستم. زه به د دې پوليس د سپاهيانو د خدمت او شرافت څه ذکر وکړم. په ګاډي کې ټوله شپه په ارام ويده وم او هېڅوک يې نژدې راته را پرېښي نه دي. د هر قسم زما د ارام فکر به يې کولو ويتينګ روم ته چې ننوتلو نو په دغه وخت کې دا اواز مو تر غوږه شو، چې د ننه پير صاحب اوده دی چې څه وخت مونږ ور دننه شو، نو پير صاحب ته يو شيخ بادپکی راښکه او د هغې د لاندې دوه کټونه پراته وو په يو کې پير صاحب او په بل کې د هغه وړوکی زوی اوده وه. څوک په کرسو او څوک په فرش پراته وو، نو زه ورو غونډې په هغه ارام کرسۍ کېناستم ما باندې هم ښه باد لګېدو، د لږ ساعت دپاره مې سترګې پټې شوې، چې ما سپښين شو او مونږ ټول د لمونځ له پاره را ويښ شو، نو پير صاحب وکتل چې پوليس والا ماته لاس په نامه ولاړ دي. د هغه په ما دا شک راغی چې دا څوک د پوليس لوی افسر دی په دې وجه يې زما طرف ته څه رغبت او محبت ظاهرولو او ورو ورو يې ماسره خبرې هم شروع کړې، د هغه د وړوکي زوی ماسره ډېره مينه پيدا شوه ما نه به نه جدا کېدو، په خبرو خبرو کې پير صاحب زما نه پوښتنه وکړه، چې ته سرکاري نوکر يې، ما ورته ووې چې نه. ده راته ووې چې نوکر نه يې نو بيا دا سپاهيان تاسره څه کوي؟ ما ورته ووې چې زه قيدي يم. په دې وجه دا سپاهيان ماسره دي، نو ده راته ووې د دوی سلوک خو تاسره د قيديانو په شان نه دی. ما ورته ووې چې هغه شان قيدي نه يم، زه سياسي قيدي يم او په

خلافت کې قید شوی یم. د دې په اورېدو سره پیر صاحب فوراً بدل شو او ما طرف ته یې رغبت کم شو، د تحقیق نه راته معلومه شوه چې دا د تونسې یو ډېر لوی پیر دی او په ټول هندوستان کې په لکونو مریدان لري او په زرگونو روپۍ په شکرانه کې ورله راځي. مونږ چې لمونځ وکړو او بهر ته راوتلو، د پیر صاحب زوی چې ډېر ماشوم و، خو زما په مینه محبت داسې مین شوی و، چې هغه هم مونږ سره راوتلو د ټیشن خلک خبر شو، چې دا خو د خلافت مشران راغلي دي، نو ټول خلک مونږ ته راجمع شول او زمونږه د زنده باد چغې شوې. پیر صاحب چې وکتل چې د ده هغه ماشوم زوی زما سره دی یو مرید یې ورپسې راولېږلو هغه ماشوم ته یې ډېر وویل خو ماشوم زما خواته رانژدې شو او د ده سره د تلو نه یې انکار وکړو، شیخ لاړو او پیر صاحب ته یې دا کیسه وکړه. پیر صاحب ورته ووې چې ورشه او په زور یې راوله شیخ راغی او هغه ماشوم یې زما د غېږې نه وشوکو او په زور یې په ژړا بوتلو. د گاډي تلو ته لا وخت و، خو پیر صاحب د خپل زوی سره را پاڅېدو لاړ او په رېل کې کېناستل. اخر دا چې مازیگر شو رېل راغی او مونږ په کې سواره شو، ماسختن غازي گاټ ته ورسېدو، په غازي گاټ کې مو د سین په غاړه شپه شوه. په سبا له د اتوار ورځ وه او د اتوار په ورځ جهاز بند وي او څوک پورې وتی نه شي لیکن یو موټر بوټ چې په هغه کې ضروري ډاک پورې باسي زه یې هم په هغې کې پورې ویستم. د اباسین هغه زوروري چپې چې اوس هم رایادې شي نو زړه مې وبوگنېږي خو د خدای فضل و پورې وتو د ډېره غازي خان

پولیس راغلي وو ،دوی هغوی ته په حواله کړم هغوی په یکه کې د ډېره غازي خان جېلخانې ته ورسولم. تقریباً لس بجې جېلخانې ته ورسېدو. د دروازې ور لرې شو او زه وردننه شوم او بابوګانو، سپایانو او قیدیانو چغې کړې او ټول رانه چاپېره شو او هرکلی یې راته ووې. د جېلخانې د ننه ور لرې شو او زه خپل بارک ته ور روان شوم. زما سیاسیان ورونه هم خبر شوي وو، بعضې کسان راته لاره کې ولاړ وو. زما په لیدو ټول ډېر خوشحاله شول، بارک کې چغې شوې او ټول رانه چاپېره شول، څوک راترغاړې وتل او د خیر خیریت پوښتنې یې رانه وکړې. ما ورته د لاهور د جېل ټولې کیسې وکړې چې په دې کې د ډوډۍ وخت شو او مونږه ډوډۍ خوړلو له روان شو. د سردار کهړک سنګه په ضعیف والي او بربنډوالي مې ډېر افسوس وکړو چې هغه سره د نورو ملګرو لا هغه شان بربنډ و او څه فېصله یې نه وه شوې.

## د مور مرګ:

په دغو ورځو کې مې د مور یو خط د کلي نه راغی، په کې یې لیکلي وو، چې ډېره موده وشوه چې ته مې لیدلی نه یې. زما ډېر یادېږې. زما زړه غوارې چې درشم او تا ووینم نو ته ماله اجازت راکړه چې زه ملاقات له درشم. ما چې په دې خط څومره غور او فکر وکړو نو زما زړه خو هم غوښتل چې خپلې مور سره ملاقات وکړم، ولې چې د دې ځای د راتلو لارو ته به مې فکر شو ،نو په کې ډېر تکلیف و او بل طرف ته هغه بوډۍ هم وه او زړه مې هم غوښتل چې دا ووینم، لیکن حکومت

مونږه قصداً داسې لرې جېلخانه کې بند کړي وو، چې ملاقاتیانو ته ګرانه وه نو ما مناسب ونه ګڼل چې هغې له ددې ځای د راتلو تکلیف ورکړم او ورته مې ولیکل چې که خیر وي ما ته اوس لږه موده پاتې ده او امېد دی چې ډېر زر ستا او زما ملاقات خپل کور کې وشي دا ځای ډېر لرې دی ځای په ځای رېلونه بدلېږي او بیا د اباسین نه پورې وتل دي،نو ما وې چې ښه به داوي چې ته دا تکلیف ونه کړې. لیکن زه د الله تعالی د کارونو نه څه خبر وم،چې زه او مور به مې د یو بل نه داسې جدا شو چې تر قیامته پورې به یو بل ونه وینو او که زه ددې نه خبر وی نو ما به مور سره ضرور ملاقات کړی وی انسان د تقدیر نه خبر نه دی.

څه موده پس د مازیګر وخت و، زه په کټ ناست وم چې زما یو ملګری په منډه راغی او اخبار یې په لاس کې و،چې په هغه کې یې لیکلي و، چې زما مور مړه شوه،ما انالله و انا الیه راجعون ووېل. ددې خبر په لوستو را باندې عجیبه کیفیت طاري شو او په دې مې ډېر افسوس وکړو چې ما ولې د ملاقات نه منع کړه. خدایه! زمونږه د دې اخري ملاقات نصیب هم نه و. ما به خپل زړه له ډېره تسلي ورکوله لیکن زړه مې ژړا کوله ولې چې زما خپلې مور سره ډېره زیاته مینه او محبت و او هر وخت به ډېر پرېشانه وم او ډېر خپه په دې وم چې زه د خپلې مور بې بې د اخري خدمت او دیدن نه محروم شوم او ما د هغې په ناجوړتیا کې او د وفات په وخت کې هېڅ خدمت ونه کړی شو. دې خبرې به هر وخت ژړولم که نه وي نو مرګ خو حق دی هېڅوک ترې خلاصېدی هم نه شي، نو د چا په مرګ ژړا

اوواویلا نه ده په کار خو مینه او محبت داسې څیز دی چې د چا زړه صبرېدی نه شي. زه چې بیا د قیده راخلاص شوم، نو خور مې بیا راته دا خبره کوله چې مور به دې په ځنکدن کې هم ډېر ډېر یادولې چې غفاری راغی او که رانغی.

## د سیاسي قیدیانو جنګونه:

زمونږ سیاسي ورونه به همېشه په معمولي معمولي خبرو باندې پخپل منځ کې په جنګ وو او کله نا کله به نوبت کنځلو ته ورسېدو او بعضې وخت به یې لرګي هم یو بل پسې را واخیستل، لیکن نور ورونه به ترمنځه شول او معامله به یې رفع دفع کړه.

جېلخانه داسې یو ځای دی چې د سړي زړه په کې تنګ وي، ((د ګوجرو ګړهی د مردان ضلعې شاکرالله باچا به خپلو ملګرو ته دا خبره کوله که تاسو یو بل سره ایرئ وهئ نو مونږه خو ټول خپل ورونه یو دا ستاسو نقصان نه دی دا ټول نقصان د دې قلا دی چې مونږ نه تاو ده. په کور کې د مور او لُور ډېره خوږه رشته وي، خو چې د دېوال ترې چاپېره وې نو مور او لور هم هر وخت یوې بلې پورې نښتې وي او په جنګ وي.)) زه هم انسان وم زما چې څومره معلومات او تجربه ده نو زه دا ویلی شم چې زمونږ د دې جنګونو ټول بنیاد بحث او مباحثه وه، اکثر ما لیدلي دي چې مونږ به په یوه معمولي خبره بحث شروع کړو، نو چونکه زمونږ هغه بحث به په دې خیال نه و، چې مونږ به د یوبل د معلوماتو نه څه فایده حاصله کړو. د هر یو دا خیال و، چې زه بنه پوهېږم او دا بل نه پوهېږي چې زه وړ او دا بل پړ دی، د

دې قسم بحثونو نتيجه همېشه کج بحثي وي او بيا بد رد جنګ و جدال او خفګان. په دې وجه که څوک چرې د دې خبرو نه بهر که د ننه بچ کېدل غواړي هغوی له په کار دي چې د داسې مباحثو نه ځان وساتي او همېشه خپل ځان، ژبه،او خوله واک کې ولري او که چېرې په يوې ضروري مسئلې د بحث کولو ضرورت پيش شي، نو چې ده ته څه معلوم وي يا چې څه د ده رايه وي هغه دې ښکاره کړي او زيات بحث دې پرې نه کوي، نو بيا به ورته خدای خير کړي. بله دا چې زمونږ په سياسي ورونو کې يوه بله غټه د عيب خبره وه او هغه داوه چې مونږ خو به په خوله ويل چې مونږ يو وروڼه يو،او په کار هم داسې وه چې مونږ يو وروڼه وی ولې چې مونږ د يو نېک مقصد دپاره جېلخانې ته راغلي يو، ليکن حقيقت داسې نه و او نه زمونږ په دې عمل و. په معمولي معمولي خبرو کې به په مونږ کې د سکهـ، مسلمان او هندو سوالونه پيدا کېدل. ما خو مخکې هم دا ذکر کړی دی، چې جنګ د ملتان په ښار کې وشو او تعلقات دلته په جېلخانه کې د هندوانو او مسلمانانو خراب شول. مونږ دومره فکر هم نه کوو چې هلکه بهر به خلک هر څه کوي، ليکن زمونږ په ډله دې د هغې اثر ولې وشي؟ او که چيرې په مونږ هم دا قسم اثر کېږي، نو بيا په مونږ او په هغو خلکو کې څه فرق شو، چې څوک د دشمن په پاليسۍ دا کارونه کوي او خپل قوم او ملک ته نقصان رسوي. زمونږ دعوه خو دا ده چې مونږ د هندوستان په ټولو قومونو کې ورورولي پيدا کوو او ملک ازادوو. کومې پورې چې د پيرنګيانو حکومت وي تر هغې پورې خو نا ممکنه ده چې د

هندو مسلمان جګړې ختمې شي.

دا خوبه کېږي لیکن که مونږ کانګرس او خلافت والا هم په دې کې حصه واخلو نو بیا دې د هندوستان خدای پاک مل شي. نور خلک خو پرېږدئ زمونږ یعنې خلافت او کانګرس والاو کې تر اوسه پورې د رښتینې ورورولۍ خیال پیدا شوی نه دی او زمونږ زړونه یو بل ته صفا نه دي. زمونږ په زړونو کې خیری دی په دې وجه په معمولي خبرو باندې مونږ په کور کې جنګ ،دنګې او فساد کولو ته تیار یو. یوه ورځ دا چل وشو چې زمونږ یو مشقتي چې هغه زمونږ لوښي پاکول او هندو و هغه سر پرېښو سکهانو دا مشهوره کړه چې دی مونږ سکهه کړو، ددې په اورېدو سره هندوان ډېر په غصه شو، هندوانو هغه ته ووې چې ته سر وخریه سکهانو پرې زور راوړو چې پام کوه چې سر ونه خریې دا کشمکش ورو ورو زیات شو او د سکهانو او د هندوانو تعلقات ډېر زیات خراب شول. لنډه دا چې معامله جېل والاو ته ورسېده او هغوی هغه سړی زمونږ د بارک نه بدل کړو. سړی خو بدل شو لیکن بیا هم زمونږ د ورونړو زړونه یو بل ته صفا نه شو،((لا اکراه فی الدین)) الله تعالی وایي چې په دین کې زور نشته ځکه چې د دې تعلق زړه سره دی. د خپل دین هر مذهب والا ته دا حق حاصل دی چې د تبلیغ په ذریعه فایدې او خوبۍ ښکاره کړي، لیکن یو مذهب هم دا نه وایي چې تاسو په زور او زیاتي او لالچ خلک پخپل مذهب کې داخل کړئ،ځکه چې د مذهب معامله خو د زړه او دماغ سره ده،چې زړه او دماغ او عقیدې کوم مذهب نه وي قبول کړی په هغه عمل کولی نه شي او چې عمل پرې ونه کړي، نو

هېڅ فايده ترې حاصلولی نه شي. بلـه ورځ مونږ ټول په بارک کې جمع ناست وو. او خبرې اترې مو کولې په خبرو خبرو کې د لاله لاجپت رای ذکر راغی يو موهن لال نومي وکيل و، چې هغه صرف دومره خبره وکړه چې لاله جي شير پنجاب دی. يو سکهـ پرې اواز وکړو چې د شيرپنجاب لقب خو د سردار رنجيت سنگهـ دی او ورو ورو دا خبره زياتېده او دې حد ته ورسېده چې يو خوا سکهان او بل خوا هندوان جنگ کولو ته تيار شو او يو بل پسې يې ډنډې راواخيستې او په ډېرو خوارو مونږ دا معامله رفع دفع کړه نوبت کوتک بازۍ ته ونه رسېدو.

مونږ په دې جېلخانه کې هندوان، سکهان او مسلمانان وو، مونږ به پخپله خپله طريقه خپل خپل عبادت کولو. مسلمانانو کې اکثرو کسانو لمونځ نه کولو صرف مونږ دوه کسان مولانا اسماعيل غزنوي صاحب او ما به کولو او هغه هم ځان له. دغه حال د هندوانو هم وو، چې هغوی هم اکثرو به عبادت نه کولو او چې چا به کولو نو ځان ځان له به يې کولو. زما يو مهربان دوست چې نوم يې ماستر گردت مل و، او يو ډېر ښه سړی و، ډېر عبادت به کولو او د عبادت په اخر کې ډېر شانتي شانتي به يې ويل خو دی پخپله شانت نه و، ما به ورسره خندل چې ماستر صاحب ته خو شانتي شانتي ډېر وايي خو شانت نه يې. يو سکهان وو چې دوی به خپل عبادت په جمع کولو او څومره چې په هغو کې مذهبي جذبه او جوش و، دومره نه په هندوانو کې و او نه په مونږه مسلمانانو کې و، زمونږ په نسبت په سکهانو کې مينه، محبت اتفاق او وروروليي زياته وه، په

دې خبره چې ما ښو مره غور او فکر کړی دی زه په دې نتیجه رسېدلی يم چې د هغوی مذهب په خپله ژبه کښی دی هغوی د هغې په مطلب او مقصد باندې پوهېږي. د هندوانو او مسلمانانو مذهب په بله ژبه کې دی، د هندوانو مذهب سنسکرت کښی دی، هندوان په هغې نه پوهېږي او زمونږ مذهب په عربی کښی دی او مونږ په عربی نه پوهېږو. سکهان چې به خپل عبادت ته کښناستل نو په هغه کې دا يوه جمله زما نه هيرېږي. او ياده مې ده، چې وې به يې ((سرجاوي توجاوي ميري پياري سکهيانه جاوي)) داسې خبرې چې جذبه او جوش زياتوي د هندوانو په مذهب کې هم شته او زمونږ د مسلمانانو په مذهب کې هم شته، خو مونږ او هغوی په مطلب نه پوهېږو، هم دا وجه ده چې د سکهانو په شان مذهبي جوش او جذبه نه په مونږ کې پيدا شوه اونه په هندوانو کې.

زمونږ اکثر ملګري خلاص شو اومونږ پنځه کسان پاتې شو ولې چې تول شپږ شپږ مياشتې يا کال قيد وو. دوی به هم اوس رها شوي وی خو هغوی په جېلخانه کې هغه د ايجي ټيشن په وجه خپل قيدونه زيات کړي وو. زمونږ د پنځو وهډو مجلس ښه برابر و او د مطالعې دپاره را سره قسماقسم کتابونه هم وو او د خپل قيد ورځې شپې مو په ډېر ارام او خوشحالۍ سره هډولې او بغير زما نه دوی ته لږ قيد پاتې و. په دې پنځو کسانو کې مونږ دوه مسلمانان او دوه سکهان او يو هندو و. يو زه او بل مولانا محمد اسماعيل غزنوي او سکهانو کې سردار کهړک سنګهـ، جسونت سنګهـ او د هغوی يو بل ملګری و. د جېل والاو سلوک مونږ سره ډېر ښه وو، کپتان

هیرز(Haers) زمونږ سپرنټنډنټ و، چې په رښتیا ډاکټر و او ډېر همدرد او ښه سړی و. لیکن په دې ځای کې یو لوی نقص دا و چې د شپږو میاشتو نه زیات یو انګرېز سپرنټنډنټ پاتې کېدی نه شو، په شپږو میاشتو کې به ایله مونږ د هغه سره اشنا شوي وو خو چې به اشنا شو نو هغه به را نه بدل شوی و، د دې وجه دا وه چې په ډېره غازیخان کې به په یخنۍ کې زمونږ انګرېز سپرنټنډنټ و او په ګرمۍ کې به هندوستانی و، بیا د جرنیل د دورې اواز شو چې جرنیل صاحب په دوره راځي هر څوک په دې فکر کې و، چې بیا به څه کېږي ځکه چې دا جرنیل ډېر بد نیته، رشوتي او بغضي سړی و او خاص بیا سیاسي قیدیانو سره خو به ډېر په ترخ چلېدو. جرنیل صاحب څو ورځې پس را ورسېدو او د راتلو سره اول د سردار کهړک سنګ کتو له راغی او په یو قسم غرور او تکبر کې یې سردار صاحب ته ووې(Well Kharaksingh) وایه کنه کهړک سنګهه) نو هغه ورله ډېر په بې پروایۍ سره دا جواب ورکړو(Yes,wad) ښه یم.

د دې په اورېدو سره په جرنیل اور بل شو او بله یې هېڅ خبره ونه کړه او فوراً د بارک نه بهر ته ووت او جېل والاو ته یې ووې چې د ده نه تر اوسه باد وتی نه دی او د هغه ټکټ یې وغوښتو او د کمزورۍ په وجه چې هغه له ډاکټر کومې پې لیکلې وې هغه یې کټ کړلې او حکم یې ورکړو، چې ده له هېڅ بغیر د(سي) (C) کلاس د قیدیانو د خوراک نه مه ورکوئ.او بل یې دا حکم ورکړو چې په دوی بله مقدمه وچلوئ دا هم ډاکټر و، د جرنیل دوره چې ختمه شوه او دی واپس لاړ نو

داروغه صاحب مونږ له راغی او دا ټول بیان یې راته وکړو. او د خپل طرف نه یې ډېره همدردي ظاهره کړه او ویې وي چې زه خو یو ماتحت سړی یم زیاتی څه کولی نه شم تاسو پخپل کور کې صلاح او مصلحت وکړئ او سبا چې تاسو ته څه مناسب ښکاري ما له جواب راکړئ. د دې په اورېدو سره زمونږ ملګري ډېر غمجن او فکر مند شول، ولې چې د هغوی رهایي ته دوه، څلور میاشتې پاتې وې.

مولانا غریب ته خو ټوله ټاله یوه نیمه میاشت پاتې وه، لیکن سردار کهړک سنګهـ و د هغه ځان له پرېښودل د دوی دپاره ډېر مشکل و، چې اخر بهر خلک به څه وایي؟ چې بوډا سردار مو یوازې پرېښود او تاسو ځوانان ترې را وتښتېدئ. دا خواران ډېر په کشمکش کې وو اخر د ډېر بحث مباحثې نه پس په دې فېصله وشوه چې بهر کانګرس ته خبر ورکول په کار دي، چې د دې په باره کې هغوی یو قرارداد پاس کړي او مونږ ته یې راولېږي چې ایجي ټېشن جاري وساتئ یا یې پرېږدئ او چه کانګرس څه فېصله وکړله مونږ به یې منو. انسان هم یو عجیبه څیز دی څه وخت چې دی کمزوری شي او همت بایلي نو بیا د خپلې کمزورۍ او بې همتۍ د پټولو دپاره قسماقسم حیلې او حوالې لټوي. څه وخت چې دوی ایجي ټېشن شروع کولو نو زمونږ په ډله کې اکثرو خلکو ورته دا خبره یاده کړې وه، چې کانګرس دا قسم خبرې په جېلخانو کې منع کړې دي او د بهر نه کانګرس والاو ورله هم جوابونه رالېږلي وو، چې په جېلخانو کې ایجي ټېشن د کانګرس د اصولو خلاف دی په دې وجه مونږ تاسو له حکم درکوو چې ایجي ټېشن شروع نه

کړئ، لیکن هغه وخت دوی په جوش کې وو، چې کانګرس په دې نه پوهېږي چې دا زمونږ د حقوقو او خودداری سوال دی لیکن هم هغه خلک وو چې د کانګرس حکم ته لېواله دي، ځکه چې نور تکلیف تېرولو ته تیار نه دي. ددې تولو خبرو نه مونږ له سبق اخیستل په کار دي. او هر کار چې کوو نو محض په جوش او جذباتو یې ونه کړو، بلکې د هغې په هر پهلو باندې په ښه شان سوچ او غور وکړو، او که چېرې د هغې دپاره د هر قسم قربانۍ او تکلیفونو ته تیار نه یُو نو شروع یې نه کړو، کانګرس والاو یو قرار داد را ولېږه دوی هغه سردار کهړک سنګهـ له یوړو هغه ته یې وښودلو چې د کانګرس دا حکم دی. ته په دې کې څه وایې؟ هغه ورله جواب ورکړو چې د کانګرس حکم څه نوی حکم نه دی، بلکې زوړ حکم دی او کوم قدم چې ما اوچت کړی دی، زه د هغه نه د وروسته کېدو دپاره تیار نه یم چې تر څو حکومت زما مطالبات منلي نه وي، په دې لاره کې چې هر څومره تکلیفونه او مصیبتونه راځي د هغو دپاره زه تیار یم. دوی په ځای د دې چې د هغه د عزم او ارادې تعریف کړی وی او خپله کمزوري یې څرګنده کړې وی د هغه خلاف یې دا پراپېګنډه شروع کړه چې دی خپل ځان د کانګرس نه لوی ګڼي او په دې وجه د کانګرس حکم منلو ته تیار نه دی دا څومره لویه د افسوس خبره ده، او بده خبره ده چې مونږ د خپلو کمزورو د پټولو دپاره او د بل د غورځولو دپاره ددې ډول ناپاکې پراپېګنډې کوو او پخپل جماعت او قوم کې اختلافات پیدا کوو او دا په هر جماعت کې چې څومره اختلافات وینئ د دې وجه هم اکثر د دې قسم ذاتیات وي، که

ته وایي چې زه بغیر د څه غرض نه د قوم او ملک خدمت کوم او زه هم وایم نو بیا اختلاف په څه؟ په خدمت کې اختلاف نه راتلی شي او نه کېدی شي اختلاف همېشه په ذاتیاتو کې وي او هر سړی که په ایمانداری په دې نظر وکړي او خپل زړه ولټوي نو دا به ورته معلومه شي چې دا اختلاف زما د ذاتیاتو په وجه پیدا شوی دی. مونږ خو به خپلې کمزورۍ د خلکو نه پټې کړو، لیکن د خدای نه خو یې پټولی نه شو، نو په کار دي چې د خلکو نه یې هم پټې نه کړو او چې کوم کار کولی شو په جار ووایو چې دا کولی شم او چې کوم کا رنه شو کولی په جار ووایو چې دا نه شم کولی او دا ونه کړو چې یو بل ته کار دی چې زما یو بل ورور لګیا دی کوي یې او هغه کار زه کولی نه شم. نو مونږ له د هغه امداد په کار دی مخالفت یې په کار نه دی او پخپله ډله او قوم کې اختلاف پیدا نه کړو او په ځای د ډاډ ورکولو په هغه قسما قسم الزامونه نه لګوو او هغه ته مشکلات پیدا نه کړو.

مولانا اسماعیل صاحب او سردار جسونت سنګهـ او د هغوی ملګري جامې واغوستې، کار یې شروع کړو او هر قسم ایجي ټیشن یې ترک کړو، سردار کهړک سنګهـ خوار یوازې په میدان کې پاتې شو جیل والاو پرې مقدمه وچلوله او شپږ میاشتې قید یې نور زیات شو، لیکن د هغه په همت جرات او خندا کې د هیڅ قسم فرق پیدا نه شو، لکه د غر په شان د حکومت په مقابله کې پخپل ځای ولاړ و او په صبر یې هر قسم تکلیفونه تېرول او کوم قدم یې چې یو ځل مخکې کړی و، هغه یې روستو نه کړو. او تر اخره پورې په هغه باندې ټینګ ولاړ و

او ټینګ پرې پاتې شو او ډېر بهادر سړی و، د دې نورو ورونو ګذران ډېر سخت شو هسې به پخپل ځان کې کچه کچه کېدل دوی د دې خبرې کوشش شروع کړو چې په هره طریقه چې کېدی شي چې مونږ د دې جېلخانې نه بدل شو. د جېل والاو هم دوی سره ډېره همدردي وه، هغوی هم د دوی دپاره کوشش وکړو او ویې لیکل، د مولانا خو لږې ورځې پاتې وې هغه تېرې شوې رها شو او ددې نورو منظوري راغله. دوی رانه بدل شول او په دې دومره لوی بارک کې صرف زه او سردارکهړک سنګهـ صاحب پاتې شو، هغه یې هم زما نه جدا کـه او په هسپتال کې چې کوم (Solitary Cell) و،(تنها کوټه) هلته یې بوته او په چکۍ کې یې بند که.

زه یوازې په دې بارک کې پاتې شوم، زما بارک ته یوه وړوکې غوندې دروازه هسپتال لوري ته لګېدلې وه، چې هغه به همېشه بنده وه. او چې کله به ډاکټر راتلو نو هغه به یې ورته لرې کوله، نو په هغې کې یو سُوری و، سحر،ماښام به زما او سردار صاحب په هغه سُوري کې ملاقات کېده. سردار صاحب باندې د حکومت له طرف نه قسماقسم جرمونه او تکلیفونه راغلل او ډېر کمزوری شو، په رنګ کې یې هم فرق پیدا شو، خبرې اوخندا یې هم هغه شان وه، ما چې به سردار صاحب ته کاته ما له به دهغه په حالت ډېر افسوس راغی. زه هم د هغه په شان قیدي وم ما دهغه دپاره څه کولی نه شو صرف دومره به مې کول چې ما سره به څه د خوراک دپاره مېوه دانه وه، هغه به مې څه نه څه ورکوله هغه به هم هغه نه اخیسته په ډېر زور او منت او جګړو به مې پې ځایوله. هغه به ویل که د دې ځایه بدل

شوي نو بيا به مېوه چېرته وي نو د دې له پاره ما له دا عادت پيدا کول په کار نه دي ما به ورسره خندل چې په جېلخانه کې څرنګې تېرېږي، هغه شان يې تېرول په کار دي. ممکنه ده چې زما د تلو نه پس څه بل سبب خدای پيدا کړي. جېل والاو ته زما د بارک ډېر ضرورت و، ولې چې دلته درې بارکونه وو او په دې درې وړو بارکونو کې زما بارک ډېر لوی و، په دې کې زيات قيديان راتلل او په دې جېلخانه کې بل داسې ځای نه و، چې زه يې يوازې په کې ساتلی وی نو د هغوی ډېر زيات کوشش و، چې زه د دې ځای نه بدل شم او دا بارک د قيديانو دپاره وزګار شي د دې دپاره هغوی جرنيل ته وليکل چې دی دې د دې ځايه بدل کړی شي ولې چې د نهو شلو(۱۸۰) قيديانو ځای يوازې ده نيولی دی. او مونږ ته د هغه ځای ډېر زيات ضرورت دی، څه موده پس حکم راغی او زه يې د دې ځايه ميانوالي جېلخانې ته بدل کړم.

## ميانوالي جېل ته:

اول د دې نه چې زه د ميانوالي جېل حالات شروع کړم، زه دا ضروري ګنړم چې تاسو ته د حکومت هغه حقوق ښکاره کړم، چې کوم يې سپېشل کلاس قيديانو له ورکړي دي. دا حقوق په داسې فريب او چالاکۍ جوړ کړی شوي دي، چې د دې ټول انحصار د جېلخانې په سپرنټنډنټ منحصر دی. که چيرې يو سپرنټنډنټ شريف و او د هغه نيت د قيديانو د تنګولو او رنځولو نه و، نود قيديانو هر قسم حقوق شته او قيدي ته د هر قسم ارام وي او که چيرې يو سپرنټنډنټ بدنيته او بد ديانته

وي او دايې خيال وي چې قيديانو له تکليف ورکوم، نو بيا د قيدي غريب هېڅ قسم حقوق نشته او هغه ته د هر قسم تکليف وي، زمونږ د ډېره غازي خان په جېل کې د هر قسم سپرنټنډنټانو سره ګوزاره شوې ده.زمونږ اول سپرنټنډنټ مسلمان و، دويم انګرېز و، درېم هندو او څلورم بيا انګرېز و، د اول سپرنټنډنټ په وخت کې زمونږ ډېر حقوق وو، د دويم سرنټنډنټ په وخت کې باوجود د ډېرو جګړو او کشمکش نه بيا هم زمونږ کافي حقوق وو، ليکن چې څه وخت يو هندو سپرنټنډنټ رايې صاحب راغی او چارج يې واخيست او زمونږ سپرنټنډنټ شو زمونږ حقوق کم شو، چې چا به ويل چې زه مېوه راغواړم هغه به وې چې دا (Luxury) يعنې عياشي ده، او که چا به چای يا مصري را غوښتل نو دا هم د هغه په خيال عيش و، اجازت به يې نه ورکولو، لنډه دا چې د خوړو څهو قدرې چا ته اجازت نه و، د هغه په خيال کې دا هم لګژري(عيش) ګڼلی شو.

هره ورځ به زمونږ تالاشی وې او لږ غونډې څيز چې به يې چا سره د خوراک پيدا کړلو، نو بيا به د هغه پېښی وې او سزاګانې به وې صرف ما ته زما د غاښونو د بېماری په وجه د يو ام د راغوښتلو اجازت و،او د هغې دپاره هم د هغه دا حکم و،که چيرې دا معلومه شوه چې تا بل چا له ورکړی دی،بيا به په تا هم بند شي او هغه اجازت هم ځکه و،چې زما غاښونو او اُورو کې نقصان و،او ډېنټل سرجن ليکلي وو،چې د ده دپاره روزانه څه نا څه مېوه خوړل ضروري دي، دا خو زمونږ حال و، چې په سپېشل کلاس کې وو،نو تاسو اندازه ولګوئ چې د

عامو قیدیانو چې په(سي) (C) کلاس کې وو، د هغوی به څه حال و؟، او د هغوی د حقوقو به څه حال وي؟ حقیقت دا دی چې پیرنګیان خپل رعیت ته د پر بدنیته دي او هر قسم قانون چې د دوی د پاره جوړ وي هغه په ښه نیت نه جوړوي تاسو وګورئ چې دوی شپه او ورځ نوي نوي قانونونه جوړوي په دې بهانه چې په ملک کې جرمونه کم شي او امن شي او خلک په ارام شي، لیکن ورځ په ورځ جرمونه په زیاتېدو وي، بد امني وي او خلک نا ارامه وي.د دې څه وجه کېدی شي، د دې همداوجه ده چې دا ټول قانونونه په ښه نیت نه جوړیږي په بد نیتی سره جوړیږي او په بدنیتی سره استعمالیږي او عمل پرې کېږي او که ښه قانون جوړ شي،خو چې نیت بد وي نو بد استعمالیږي، پیرنګیان په ملک کې په رښتیا سره نه امن قایمول غواړي او نه جرمونه او جګړې او نه فسادونه کمول غواړي دا د منلو خبره ده چې که یو حکومت په رښتیا سره د یو ملک اصلاح او امن غواړي او هغه به ونه شي؟ تاسو خو لږ دې ته وګورئ چې هندوستان کې هم د انګرېزانو حکومت دی او په انګلستان کې هم د پیرنګیانو حکومت دی هلته دا ټول څیزونه قایم دي نو دلته ولي قایمېدلی نه شي؟ بوه ورځ زما د سرحد د پولیس د جرنیل سره د پولیس په دیانت داری او ایمانداری باندې بحث شو نو ما ورته دا خبره وکړله چې زه په دې نه پوهېږم چې تاسو په انګلستان کې یو دیانت دار او ایماندار پولیس په رښتیا معنو کې د خلکو خدمتګار پیدا کولی شئ، نو دلته یې څنګه نه شئ پیدا کولی؟، خو تاسو یې نه پیدا کوئ.

زه چې هلک وم نو زه به زبرګانو او ملايانو پسې ډېر ګرځېدلم ډېر لمونځونه او وظيفې به مې کولې او لاس نيوی مې هم کړی و، ما به ډېرې وظيفې کولې خو چې ځان ته به مې کتل نو په ما کې هيڅ تغير او تبدل نه راتلو، د هغه زبرګانو او ملايانو نه مې هم تپوسونه کول چې زه خو ډېرې وظيفې کوم ولې چې ځنګه وم هغسې يم هغوی به زما د پوهولو ډېر کوشش وکړو، خو زما تسلي به ونه شوه اخر چې زه ډېره غازي خان جېل ته لاړم هلته زما يو ډېر مهربان دوست و ماسټر ګوردت مل نوم يې و، چې د هغه سره مې تعلق پيدا شو، هغه ډېر عالم او ښه سړی و، او ماسره يې ډېره مينه او محبت و هغه سره يو کتاب و، چې يو پادري ليکلی و، د هغه کتاب نوم (Your forces and how to use them)يعنې ستاسو قوتونه او د هغو نه د کار اخيستلو لارې چارې) هغه کتاب چې مې په غور ولوستلو نو زه د وظيفې کولو په حقيقت پوهـ شوم، هغې کې ليکلي و، چې دا تاسو وظيفې کوئ او د خدای پاک نوم او صفاتي نومونه يادوئ نو تاسو له ښايي چې هغه صفات ځان کې پيدا کړئ، مثلاً د خدای يو صفت دا دی چې هغه رحمان دی يعنې بخښونکی مهربان دی نو تاسو هم ځان کې د بخښنې او رحم عادت پيدا کړئ او همداسې نور.

زه چې څه وخت خبر شوم چې زما ددې جېلخانې نه بدلي وشوه، نو زه هغه سُوري له ورغلم او سردار کهړک سنګهـ صاحب هم هغه سُوري له راغی او په ډېره خندا او خوشحالۍ سره يو د بل نه رخصت شو. دروازه کې زما د بوتلو دپاره سپاهيان تيار ولاړوو، جېل والاو هم ماسره په مخه ښه وکړله

او زه سپاهیانو سره د میانوالي جېل ته روان شوم دا ځل مونږ ته د اباسین په پورې وتلو کې څه تکلیف ونه شو، ولې چې ژمی و او په یخنۍ کې اوبه لږې وې او په اباسین باندې د کشتو پل وې چې سټېشن ته ورسېدُو زمونږ رېل تیار و، مونږ په کې کېناستو او سبا وختې میانوالي ته ورسېدو، سټېشن ته نزدې جېلخانه ده، زه یې جېلخانې ته بوتلم جېل والاو ته یې په حواله کړم. داروغه صاحب ماسره ډېره ګړه بړه وکړه او په ډېره مینه محبت یې جېل ته بوتلم. په دې جېلخانه کې کافي سیاسي قیدیان وو، زیاته حصه په کې د سکهانو وه او یو څو کسان په کې هندوان او مسلمانان وو، په سکهانو کې یوڅو کسان زمونږ د سرحد هم وو او دوه کسان خو خاص د پېښور وو، د هغوی په لیدو مې زړه ډېر خوشحاله شو. دلته صرف درې کسان مسلمانان وو یو د مولانا ظفر علي خان زوی مولانا اختر علي خان صاحب و، او نور دوه کسان د پاني پت ملایان وو. په دوی کې د یوکس نوم صوفي اقبال صاحب و، چې ډېر خوش مزاجه او مجلس ارا سړی و او زمونږ د خوړو، څکلو انتظام هم د هغه په لاس کې و، په پخلي هم ډېر ښه پوهېده، پخلی به یې همېشه پخپله کوو داروغه صاحب زه دوی ته په حواله کړم، معلومېده چې د داروغه صاحب د دوی سره خاص تعلق و، او چې څه وخت داروغه صاحب تلو نو ماسره یې ډېر اخلاص ښکاره کړو او ماته یې ووې چې زه ستا هر قسم خدمت ته تیار یم. تا ته چې د څه قسم تکلیف یا د څه قسم ضرورت وي نو ماته به ایله د اشارې کولو ضرورت وي، لیکن روستو ماته د تجربې نه معلومه شوه چې داروغه صاحب

دومره ښه سړی نه و، ویل به یې یو څه او کول به یې بل څه خبرې به یې ډېرې کولې لیکن عمل یې پرې ډېر کم و. بل نقص په کې دا و چې د سړي به یې ډېرې خوشامندې کولې، لیکن ورسره به زر ترزره د هغه بې عزتي کولو ته هم تیار شو. په دې جېلخانه کې د ډوډۍ پخولو دپاره دوه باورچي خانې وې. یوه د هندوانو او سکهانو او بله د مسلمانانو،د دې بېلتون ټوله ذمه واري د هندوانو او سکهانو په سر وه، ځکه چې هغوی به د مسلمانانو نه کرکه کوله او دوی به یې خپلې باورچي خانې ته دننه نه پرېښودل او په دې کې لا د بعضې خلکو دا هم خیال و، چې د مسلمانانو په ورتلو سره چوکه پلیتیږي. په دې وجه مسلمانانو د هغوی نه خپله باورچي خانه بېله کړې وه او په دې کې د هغوی غریبانانو څه قصور نه و.

د دې متعلق ما ډېرې کیسې اورېدلې وې لیکن زه یې مناسب نه ګنم چې دلته یې ولیکم او په دې کې زه څوک ډېر ګرموم هم نه، ولې چې د ټول عمر عادتونه په څوورځو کې بدلېدی نه شي. زه امید کوم چې ورو ورو به په خلکو کې علم او پوهه راځي. د هندوانو او مسلمانانو نفرت به لرې شي لیکن رفته رفته د دې دپاره وخت په کار دی او کار په کار دی. بیا هم زه دې ته لویه کامیابي وایم چې دلته اکثر هندوان او سکهان د دې خیال نه وو، اکثرو خو به مسلمانانو سره یوځای خوړل او څکل کول. که زمونږ په کېچن کې چې به هر څه پاخه شو د هغې خوراک کې به یې هم باک نه کوو او د زړو خیالاتو خلک هم ډېر کم وو لیکن بیا هم د دې اثر ښه نه و او د هندو اومسلمان مینه محبت او اتفاق کې یې ډېر نقصان غورځولی و.

دلته دا قاعده مقرره وه چې چا به د مسلمانانو دلاسه د

خوړلو پاک نه کولو نو مسلمانانو به هم د هغوی دلاسه هر څیز قبلولو او خوړلو او چا چې به د مسلمان د لاس څیز نه خوړو او د هغوی نه به یې کرکه کوله نو مسلمانانو به هم د هغوی دلاسه څه څیز نه اخیسته او نه به یې د هغوی دعوت قبلولو، سردار سردول سنګهه سره دلته زما په اول ځل ملاقات وشو دا هم د سکهانو یو لوی لیډر و، او ډېر پوهه او عالم سړی و، او دده د صحبت نه هم ما ډېره فایده حاصله کړه. مونږ د تبادله خیالات دپاره یووخت مقرر کړی و او همېشه به مو په مذهبي او سیاسي معاملو باندې د یو بل خیالات معلومول سردار صاحب ډېر یو ازاد خیال سړی و. د نورو سکهانو په شان نه و، څو مره سکهانو ورونو سره چې زماملاقات او تبادله خیالات شوي وو، په هره معامله کې د ده رایه سنجیده اومعقوله به وه اوماسره به یې ډېره مینه او محبت کولو، دلته ډېر سکهان وو او زمونږ د پېښور سردار راجه سنګهه صاحب هم و، چې څه وخت اصلاحات (Reforms) راغلل نو دی زمونږ د صوبې اولنی ایډوکیټ جنرل و او ده سره د پېښور یو بل سکهه هم و، چې ما نه یې نوم هېر دی د چایو سوداګر و او د چین نه به یې چای راغوښتله او ماله به یې د شنو چایو هغه ګلونه چې ډېر قیمتي او خوندناک وي ساتلي وو او راکول به یې ماسره یې ډېره مینه محبت کولو، ډېر محبتي سړی و، صوفي صاحب د ډوډۍ د پخلي ښه ماهر و، هر څیز به یې ښه پخولو لیکن مرچکی به یې ډېر زیات خوړو او مرچکي سره زه بلد نه وم، په دې وجه به زه ډېر زیات په تکلیف وم. یوه ورځ صوفي صاحب قیمه پخه کړه او په کې یې دومره مرچکی

اچولی وو، چې نوړی اخستو سره زما خوله وسوزېده، ما ډوډی پرېښوده او سپوره مې خوراک شروع کړو، صوفي صاحب راته ووې چې دې کې خو ما ستا د وجې نه لږ مرچکی اچولی دی، ګوندې د دې قاعده خو دا ده چې سېر قیمه کې سیر مرچکي لګي، خو ستا د وجې نه مې په کې صرف سل مرچکي اچولي دي. ما ورته ووې چې خدای دې درسره ښه شي چې زما دې دومره خاطرکړې دی، خو زه د مرچکي سره بالکل عادت نه یم؛ نو ښه به دا وي چې ما ته بېله کټوی پخوې ولې چې په دې طریقه تاسو ته هم تکلیف وي او ماته هم تکلیف وي. بیا دپاره ځان له د خپل خواهش کټوی پخوئ او ماله زما د طبیعت پخلی کوئ، نو دواړو ته به ارام وي. صوفي صاحب لوی عالم و، ډېر ښه سړی او خدمتي و، لیکن زیات خوراک به یې کاوه پخپله یې هم زیاته غوښه خوړه أو اخترعلي خان له به یې هم زیاته غوښه ورکوله او د دې له پاره به یې اختر علي خان ډېرې خوشامندې کولې. ما خو چیرې د دې خبرو نوټس نه اخیستو ولې چې ما به خیال کوو، چې دی دومره تکلیف او مهرباني کوي او مونږ له ډوډی پخوي نو که لږ ډېر څه وخوري نو دومره باک یې نشته، ولې زما هغه بل ملګری مولانا صاحب به ور سره همېشه په جنګ و او ورته به یې ویل چې ستا دا عادت ښه نه دی چې ځان له هم ډېره خورې او چې څوک دې خوښ وي هغه له هم ډېره ورکوې لیکن صوفي صاحب باندې د دې قسم خبرواثر نه کېدو، هغه به همېشه په زړه طریقه روان و.

د میانوالي جېل هم د غازي خان جېل نه په ګرمۍ کې او په

بادونو کې څه کم نه و، که چیرې هغه یوه دشته و، نو دا یو ریګستان و او که هلته به د خاورو سیلۍ الوتې نو دلته د شګو سیلۍ الوځي، هلته خو مونږ ته دا فایده وه چې مونږ لوی بارک کې اوسېدو دلته بارک هډو شته نه. تول سلونه(چکۍ) دي.د دې په نسبت زمونږ هغه بارک ډېر ښه او یخ و او باد به په کې هم لګېدو، بله دا چې هلته د بارک نه بهر د هر چا د ملاستې دپاره کټ وې، چې په ګرمۍ کې به مونږ پرې څملاستو او دلته خلک په ځمکه څملي. مونږ سیاسي قیدیانو کې یو بل نقص دا و،چې سیاسي قیدیان په یو معمولي کوشش سره جېل والاو د ځانه سره ملګری کولی شي او د خپلو فایدو دپاره یې د سیاسي قیدیانو برخلاف استعمالوي چې یو سیاسي سره جېل والاو لږ غوندې ښه سلوک شروع کړي او څه نا څه رعایت ورکړي نو بیا دې خدای خیر کړي او دا امتحان دې خدای په چا نه راولي. مونږ فوراً د هغوی ملګري شو او د جېل والاو طرفداري شروع کړو او په زړه کې وایو چې دوی زمونږ ډېر دوستان دي او په دې نه پوهېږو چې دوی زمونږ نه فایده حاصله کړې ده او زمونږ حقوقو ته یې ډېر نقصان رسولی دی.

زما د دې نه دا مطلب نه دی چې څوک دې د حکومت د نوکرانو نه نفرت وکړي. مونږ له د چا نه نفرت کول په کار نه دي، په کار دي چې هر چا سره ښه سلوک وکړو خو دا مه کوئ چې د خپل جماعت د بل چا ملګري او رازدار او مددګار شئ. مونږ له په کار دي چې په هر حالت کې د خپل جماعت د خلکو رازدار او مددګار یو. د دې قسم خلک همېشه د جېل والاو د

خوشحالولو د پاره د خپلو ملګرو د هر قسم مخالفت کولو ته تيار وي او دا کوشش کوي، چې څوک د هغوی برخلاف ايجي ټيشن شروع نه کړي او که چيرې د دې قسم څه خبره پېښه شي، نو دوی همېشه د هغې مخالفت کوي او پخپل جماعت کې نفاق پيدا کوي، حکومت چې څومره مونږ ته يا زمونږ حقوقو ته نقصان رسولی دی دا ټول د دوی دلاسه او د دوی د برکته که چېرې مونږ يوه خوله او يوموټی وی نو حکومت په مونږ د دې قسم زياتي نه شو کولی او زمونږه حقوقو ته يې نقصان رسولی نه شو. دا زمونږ د شان سره مناسب نه دي چې د خپلې ذاتي معمولي فايدې دپاره د هغه حکومتي پرزو سره تعاون کوو، چې د چا بر خلاف مونږ د عدم تعاون اعلان کړی دی او که د دې دپاسه چيرې څوک بيا هم دوی سره تعاون کوي،نو په جايزو خبرو کې دې ورسره تعاون وکړي او په ناجايزو خبرو کې خو تعاون يوه لويه ګناه او جرم دی.

جېل والاو سره دا د دوستۍ مرض په ميانوالي جېل کې د ډېره غازي خان جېل نه زيات و او بيا زمونږ مسلمانان ورونه په داروغه صاحب باندې هسې پتنګان وو او تر دې حده پورې رسېدلي وو،چې د خپلو ملګرو سره د جېل په باره کې بحث کول خو پرېږده بلکې اورېدو ته هم تيار نه وو او څومره خوشامندې او تابعداری يې چې د داروغه صاحب کوله د هغې بيانول مناسب نه ګنم. د دې دوستۍ چې څومره حقيقت ما ته معلوم دی هغه دا و چې دوی له به يې پې،کارډ او لفافه او خط د خپل حق نه زياتي ورکول او چې څه وخت به جرنېل په دوره راغی نو دوه مياشتې معافي به يې هم ترې د دوی دپاره

اخېسته. بل دوی به هر وخت دفتر ته تلی شو او د مازیگر په وخت کې ورته په چکر کې د گرځېدو هم اجازت و، خو دی سره دا خبره هم وه چې داروغه صاحب به همېشه چې څومره د دې خپلو دوستانو بې عزتي کوله هغه هومره یې چیرې د بل چا کړې نه وه. د داروغه صاحب په دې جېلخانه کې ډېر لوی اشنا د ظفر علي خان زوی اختر علي خان و، چې داروغه صاحب به څه وخت مازیگر د گنترې د بندولو دپاره چکر ته راغی نو دوی به هم ورغلل او د هغه سره به په کرسو ناست و، یوه ورځ ډاکټر صاحب د هسپتال نه چکر ته راغی چونکه په چکر کې نورې کرسۍ نه وې بس دغه دوه کرسۍ وې چې په یوې داروغه صاحب او په بلې اخترعلي خان ناست و، اختر علي خان د داروغه د دوستۍ په وجه یا د لیډرۍ په خیال ډاکټر صاحب ته اوچت نه شو او کرسۍ یې ورته هم خالي نه کړه داروغه صاحب ته د اختر علي خان دا رویه ښه ښکاره نه شوه او هغه ته په قهر شو، بې عزته یې کړو او د کرسۍ نه یې پاڅولو او په یوه سپکه طریقه یې ورته ووې، چې ته ځان وپېژنه ته قیدي یې شاید تا نه ځان هېر شوی دی. ته نه پوهېږې چې ډاکټر صاحب د جېلخانې یو لوی افسر دی هغه ولاړ دی او ته په کرسۍ ناست یې. د چکر نه یې په بې عزتۍ وشړلو او اینده دپاره یې په چکر بند کړو، خو چې مازیگر به شو او داروغه صاحب به چکر ته راغی نو دی به ورغی نمبردار ته به یې وویل چې داروغه صاحب ته ووایه چې اختر علي خان چکر ته اجازه غواړي، هغه به ویل چې نه، نه دې راځي. یوه ورځ ما ورته وویل چې اختر علي خان ته سیاسي قیدي یې او

د ظفر علي خان زوی یې دا ته چې څه کوې دا زمونږ د ټولو سیاسي قیدیانو بې عزتي کوې. چکر به څه وي؟ او ته ولې دا خپل ځان د داروغه په مخکې داسې وړوکی کوې ته ګورې نه چې داروغه هره ورځ ما ته منت کوي چې راځه چکر ته راشه خو زه نه ورځم. چکر ډېر ښه ځای و او ډېر ګلونه وو، اختر علیخان تر هغه وخته پورې په چکر بند و، چې تر څو یې د داروغه صاحب نه معافي ونه غوښته او رضا یې نه کړو. د دې نه تاسو پخپله نتیجه وباسئ چې دې ته به څوک دوستي وویلی شي؟ دا خلک په دې دوستۍ نیازېده او ډېر فخر یې پرې کولو.

میانوالي جېلخانې کې همېشه شګې الوزي او شګې او سېلۍ ډېرې ګرمې وي هر څیز کې شګې وي او هر څیز د شګو ډک وي او داسې هیڅ څیز به دې په نظر را نه شي چې په هغې کې به شګې نه وي سره د ډېره احتیاطه بیا هم په هر څیز کې څه نا څه شګې وې او معلومېږي دا چې د داسې قسم خاص جېلو نه پیرنګیانو دیده دانسته د سیاسي قیدیانو د ازارولو او صحت خرابولو دپاره خوښ کړي دي. زما صحت دلته د ډېره غازي خان په نسبت زیات خراب شو، وزن مې هم ډېر کم شو، ما څو ځله سپرنټنډنټ ته دا خبره وکړه چې ما د دې جېلخانې نه بلې جېلخانې ته بدل کړئ، نو هغه به وې چې زه څه کوی نه شم ولې چې حکومت د سیاسي قیدیانو دپاره دا جېلخانه مقرره کړې ده. د قیدي خبرې ته څوک غوږ نه ږدي. د پیرنګیانو په راج کې قیدي هډو سړی نه دی، په سپي به یې رحم راشي، لیکن په قیدي یې رحم نه راځي. چې ګرمۍ ډېر زور وکړو، نو په جېلخانه کې د ننه یو کوهی و، چې د هغې

اوبه ډېرې يخې وې د کومو خلکو چې به داروغه صاحب سره تعلق و ،هغوی ته کوهي له دتلو اجازت و ،او هغوی به همېشه د مازيگر لمبلو له تله هغوی به د اوبو د يخوالي ډېر صفتونه کول چې هر چا ته به د هغه ځای د لمبلو شوق پيدا شو، ليکن افسوس چې هر سړی به هلته تلی نه شو، دا رعايت صرف د داروغه اشنايانو ته و، او کله ناکله به بغير د څه وجهې نه داروغه صاحب خلک بند کړل اونمبردارانو ته به يې حکم وکړو، چې هېڅوک ته ور لرې نه کړئ، نودغه وخت به د داروغه صاحب د اشنايانو يو عجيبه حال و، ولې چې هغوی د کوهي دپاسه په يخو اوبو د لمبلو اموخته وو، چې مازيگر به شو او د لمبلو وخت به راغی نو په دوی به مېږي لگيا شو، ورونه به يې ډزول نمبردارانو ته به يې چغې وهلې او منتونه زارۍ به يې ورته کولې چې په دې کې به ماښام شو جېلخانه به بنده شوه، نو اخير به د دې خوارانو زړه صبر شو. داروغه صاحب به کله نا کله ما ته هم د دې کوهي د يخو ابو صفت کولو او راته به يې منت هم کولو او راته به يې وې چې که چېرې همېشه نه ځې نو کم از کم يو ځل خو لاړشه او د هغه ځای د لمبلو مزه خو واخله ليکن ما په دې څيزونو ځان نه اموخته کولو ،ځکه چې ما خو د خلکو دا بې قرارۍ او بې عزتۍ هره ورځ ليده او داروغه صاحب به ماته ډېر منت کولو چې ته نه چکر له راځې او نه لمبلو له ځې د خپلې احاطې نه بهر نه وځې ما به خپل زړه کې خيال کوو چې اوس خو داروغه صاحب ستا منت کوي،ليکن چې يو ځل يې ددې نورو په شان اموخته کړې نو بيا به تاسو سره هم دغه شان سلوک کوي ته ولې بل له داسې موقع

ورکوي؟ د هر سړي خپل عزت پخپل لاس کې دی او که هر سړی خپل خواهشات او ضروريات قابو کړي، نو همېشه به په ارام خوشحاله او عزتمند وي.

## رهايي:

دلته هم زمونږ مشقت څرخه او تارونه (سپنسي) رېشل وو، زه به اکثر د خپل مشقت(کار) نه صرف په دوه (۲) ګېنټو کې فارغه شوم او بيا به مې مطالعه کوله.

اخر زما درې کاله قيد په ختمېدو شو او رهايي مې را نزدې شوه، د رهايۍ تاريخ په ټکټ وختو، زه نه پوهېږم چې ددې نه څنګه زمونږ جماعت انجمن اصلاح الافاغنه خبر شو، ځکه چې ما چيرې هم د دې قسم خبرې چا ته نه وې ليکلې او دا به مې هم نه خوښول چې چا له تکليف ورکړم. د اتمانزو نه به ګرم ګرم خطونه راتلل چې مونږ د خپلې رهايۍ د تاريخ نه خبر کړه ولې ما دا خبره نه خوښوله او چا له مې دلته د راتلو تکليف نه ورکولو. په دې وجه ما دا خبره همېشه د خپلوخپلوانو او د دوستانو نه پټه ساتلې وه،او زه د دې خبرې نه خبر نه وم چې انجمن زما استقبال کول غواړي.د انجمن زما استقبال خوښ و او زما استقبال يې کولو، ليکن د حکومت خوښه نه وه،ځکه چې خلک به د ده د رهايۍ نه خبر شي او په خلکو کې به ډېره لويه پراپېګنډه وشي په دې وجه د حکومت سره فکر پيدا شو او ماته لا څه ورځې وې، چې په دې کې جمعدار راغی او ماته يې ووې،چې داروغه صاحب دې غواړي،زه به دفترونو له نه تلم نو ما ورته ووې چې د څه دپاره مې غواړي؟ هغه راته ووې چې ستا رهايي شوې ده،نو ماورته وويل چې زما لا څو ورځې پاتې دي.زه د وخت نه مخکې

رهایي نه غواړم نوهغه لاړ او بیا راغی چې ستا رهایي نه بلکه د پېښور جېل ته دې تبدیلي شوې ده، حقیقت دا دی چې ما د معافۍ نه انکار ځکه کړی و، چې جېل والاو به د معافۍ په طمع زمونږ سیاسي ورونه ډېر سپکول او درې څلورو ورځو په معافۍ به یې پرې ډېر احسانونه کول ما خپل سامان واخیستو د ټولو ورونو نه که هندوان وو که سکهان وو که مسلمانان، په خندا او خوشحالۍ رخصت شوم او ټولو ته ورتر غاړه وتم. ما سره که سکهان وو که هندوان اوکه مسلمانان، د ټولو ډېر محبت و. چې دفتر ته ورسېدم او په دفتر کې مې سپاهیان ولیدل نو تسلي مې وشوه، زه یې هغوی ته په حواله کړم، مونږ د جېل والاو نه رخصت شو او د سټېشن په طرف روان شو، چونکه دګاډي د راتلو وخت نه و، او د ګاډي راتلو ته څه وخت پاتې و، څه وخت چې مونږ سټېشن ته نزدې شو هغوی زه د سټېشن نه بهر ایسار کړم او سټېشن ته یې په دې وجه بو نه تلم چې خلک به مې ویني او بله دا د میانوالي خلک ټول پښتانه دي مشرانو له پښتو ژبه ورځي او د کشرانو نه یې هېره شوې ده، زمونږ د میانوالي د جېل ډاکټر چې و، هغه له پښتو نه ورتله او یوه ورځ یې پلار زما ملاقات له راغلی و، نو هغه ما سره پښتو ویله، پښتنو کې دا ډېره لویه کمزورتیا ده، چې چېرته لاړ شي او چا سره واده وکړي نو هغه خپله ژبه ترې پاتې شي. مونږ سره په سرحد کې په زرګونو هندوان اوسي هغوی هغه خپله ژبه هېره کړې نه ده. پنجابي یې هم زده ده او زمونږ ژبه یې هم زده کړې ده. دا کمزوري صرف په مونږ پښتنو کې ده.

ماښام تیاره ګاډی راغی مونږ په کې سواره شو، په دې رېل کې ډېرې سورلۍ نه وې اکثر کوټې (ډبې) په کې خالي وې مونږ په کې کافي ځای بیا مونده او په کې په ارام کېناستو او رېل پېښور ته روان

شو ،توله شپه د خوشحالۍ نه خوب را نغی ساعت په ساعت به راویښېدم او د سپاهیانو نه مې تپوس کولو چې د اټک نه پورې وتو او که نه؟

اخر سحر وختي چې مې سترګې پرانیستې نو زمونږ ریل د خیراباد په سټېشن ولاړ و. زما خپل ملک او خپل قوم سره ډېر محبت دی د خپل ملک په داخلېدو او د پښتنو په لیدو مې زړه ډېر خوشحاله شو، زه پخپل ځای بې غمه پروت وم او په دې خیال کې وم چې پېښور ته به څه وخت ورسو، لیکن رېل روانېدو نه، په دې کې زه راپورته شوم دروازه مې لرې کړه تماشه کوم چې رېل ولې نه روانیږي، ګورم چې پولیس واله په پلېټ فارم منډې وهي کله یوه کوټه، کله بله کوټه د رېل لرې کوي، چې په دې کې یې زه ولیدم زما په لیدو هغوی ډېر خوشحال شو ،تانه دار ماله راغی او ماته یې ووې چې مونږ خو تا لټوو ته کوم ځای وې، زمونږ زاره دې په لټولو شنه کړه رېل هم لېټ شو ما ورته ووې چې زه خو همدې کوټه کې وم لیکن تاسو څکه لیدلی نه یم، چې زه ملاست وم ما ورته ووې چې ما سره مو څه کار دی؟ هغه راته ووې، چې راځه ستا دپاره مو چای تیاره کړې ده،زما اسباب یې د ګاډي نه را کوز کړو زه ورسره روان شوم، چای تیاره وه انسپکټر صاحب هم هلته ناست و ،مونږ چای څکله چې په دې کې رېل روان شو ما ورته ووې چې ګاډی خو را نه لاړ هغوی وخندل او په خندا کې یې راته ووې چې مونږ به دې په موټر کې وورورسوو چای مو څکله زما چارج یې د پنجاب د پولیس والاو نه واخیستو هغوی ماسره ګړه بړه وکړه او رخصت شو، خلک د پنجاب د پولیس نه ډېر شکایت کوي، لیکن دې پولیسو چې ماسره کوم ښه سلوک او د هر قسم ارام رسولو کوشش کړی دی زه یې مشکور یم، اوهېچرې به د

هغوی ښه سلوک رانه هېر نه شي، د ستېشن نه چې بهر شو موټر تیار ولاړ و، زه یې په موټر کې سور کړم، تانه دار او دوه تنه سپاهیان راسره په کې سواره شول انسپکټر صاحب پاتې شو چې نوښار ته نزدې شو نو زه یې بهر په بهر د مردان په سړک چارسدې ته روان کړم اوس زه پوهـ شوم چې د پېښور په ځای مې چارسدې ته بیایي په لاره راته یو ځای دوه ځله موټر پنکچر شو، اتفاق دا و چې هر ځای به راته پنکچر کېدو هغه ځای به ډېره ابادي نه وه، د ابادۍ نه به لرې وو، اخر دا چې سر ډېرو ته ورسېدو د رارسېدو سره راته بیا موټر پنکچر شو چې چارسدې ته ورسېدو، دلاور خان زمونږ اسسټنټ کمشنر و، د سیند په غاړه یې قچري کوله په قچري کې ډېر خلک ولاړ وو، چې زه یې ولیدم نو خلکو ما له رامنډه کړه او زما نه چاپېره شو، زه یې دلاور خان ته پېش کړم، هغه ماسره ډېره راشه درشه وکړه ځان سره یې د پکي لاندې کېنولم ډېرې خبرې اترې یې راسره وکړې بیا یې تانه دار له حکم ورکړو چې دی اتمانزو ته ورسوه، د تلو په وخت کې دلاور خان هم ماسره را روان شو چې د برنډې نه بهر شو نوما ورته ووې چې بس مهرباني زیات تکلیف مه کوئ دغه جلب بس و، نو هغه راته په خندا کې ووې چې خلک خو په دې لوی فخر کوي او لوی عزت یې ګڼي که چیرې یو اسسټنټ کمشنر یو څو قدمه ورسره جلب وکړي ما ورته په جواب کې ووې چې دا تکلیف دی او زه دا څیزونه نه خوښوم چې څه وخت مونږ بهر راووتو په دې لږ ساعت کې په سوونو خلک جمع شوي وو. ما ټولو سره ګړه بړه وکړه او د هغوی هغه جذبه او محبت مې ډېر محسوس کړل او تم تم کې زه سره د تانه دار او پولیس اتمانزو ته روان شوم.

❋❋❋

# سیاسي سرگرمي او پښتون اخبار

## کلي کور کې، د اتمانزو جلسه، فخر افغان، انجمن او مدرسې،

## (هشنغر، دواوه، صوابۍ، بالاګړهۍ، ساول ډېر، رستم کاټلنګ، ګلياړه، اسميلا، پېښور، کوهاټ، هنګو، ټل، بنو، ککي)

## د حج سفر (شام، بيروت، عراق، موصل، بغداد، نجف، کوفه، کراچي)

## پښتون اخبار سنه ۱۹۲۸ ع،

## د امان الله خان خلاف شورش او مونږ، نادرخان باچا کېږي

## کلي کور کې:

ټکنه غرمه ده مونږ کلي ته ورسېدو، زه چې ازاد سکول ته نزدې شوم، هلته د سکول یو هلک وپېژندم. هغه په منډه لاړ چغې یې کړې چې باچا خان راغی،د دې په اورېدو ټول هلکان سره د استاذانو سړک ته را اوزغلېدل، په سړک باندې یو ځای شو، نو هلکانو چغې کړې او یو شور جوړ شو یو ساعت کې ټول راجمع شول او زه یې دغه شان پخپل منځ کې ګیر مدرسې ته بوتلم او دا به یې په شریکه وې، چې:((فخر افغانه! په خیر راغلې د زندانه، مرحبا مرحبا)) استاذان هم راغلل مونږ ټول یو بل ته ورتر غاړه وتو. او ډېرې خوشحالۍ مو وکړې، هلکانو ما ته د خپل طرف نه سپاسنامه(Welcome Address) راکړه، چې د کلي خلک خبر شو هغوی هم په منډه منډه مدرسې ته راغلل ډېر د خوشحالۍ وخت و، چونکه د ډوډۍ او د ارام کولو وخت و ما د دوی نه اجازت واخیست چې څه وخت کور ته لاړم، نوهلته د کلي خپلې پردۍ ډېرې زنانه راجمع شوې وې او دومره قدرې لار نه وه چې زه د ننه تلی وی هغوی کې ډېره مینه وه ډېر محبت و، ډېر احساس و او ډېره جذبه وه، د راشه درشه نه وروسته هغوی رخصت شوې او یو څو کسانې زمونږ نزدې رشته دارې پاتې شوې. د ټولو نه اول مې ولمبل غسلخانې ته لاړم او جامې مې بدلې کړې،لږه غوندې ډوډۍ مې وخوړه ډېر ستړی شوی وم بیا ډېر زر اوده شوم ماسپښین راپاڅېدم جماعت ته لاړم هلته هم ډېر خلک جمع وو لمونځ مو وکړو او پس د لمونځ نه حجرې ته راغلو او د خلکو سره مې ګپې شپې شروع کړې، څوک به چې خبرېدل زما لیدو له به

راتلل ما چې د خلکو دا جوش او خروش ولیدو نو زه ورته حیران پاتې شوم،ما ته معلومه شوه چې یو خوا زما قید او بله خوا د ((انجمن)) کارګزارۍ په خلکو ښه اثر کړی دی،او قوم کې یې یوه زبردسته جذبه او احساس پیدا کړی دی. یو څوورځو کې د پېښور،مردان،کوهاټ،بنو او ډېرو ټول دوستان او ملګري زما سترې مه شي له راغلل. اخر یو څو ورځې پس دا سلسله ختمه شوه. زه چې کلي ته راغلم. نو زمونږ هر څه چې وو هغه لوټ شوي وو،چې زه یې قیدولم نو زمونږ ډېره ګوره ډېر جوار، ډېر غنم زمونږ کور کې وو، چې هغه وخت کې به تقریباً د یو لک روپو وو،زه درې کاله قید وم، ما یوازې په پنیرکو کلي کې د پنځو ګانو ګنې پخپله کرلي وو،چې واپس راغلم نو زما خوربي سلطان خان راته وویل چې په تاسو درې زره روپۍ مالیه بقایا ده،دغه شان ماته معلومه شوه،چې زما د ښځې ټول کالي (زیورات) ګانه وو، زمونږ په پښتنو کې دا قاعده ده چې په غم، خوشحالۍ خپل خپلوان او دوستان ورله ډوډۍ کوي او ډېرې پیسې پرې لګوي ما ته هم ډېرو دوستانو او خپلوخپلوانو د ډوډۍ ستونه وکړل ما د هغوی په خدمت کې دا تجویز پیش کړو،چې د پخې ډوډۍ په ځای ماله(او م خرځ) اومه ډوډۍ راکړئ ماله یې نغدې راکړئ، څومره چې ستاسو په ډوډۍ خرځ کېږي د هغه نیمه نغدې ماله راکړئ، ولې چې زمونږ قوم ډېر وروسته پاتې شوی دی.او دومره لوی قوم دی او دده د خپلې ژبې یو اخبار قدرې نشته او نه یې د بچو د تعلیم دپاره مدرسه شته. د پښتنو پخپله ژبه کې داسې هېڅ څیز نشته چې زمونږ قوم ترې څه فایده اوچته کړي،

مدرسه جوړه کړئ او پښتون څه نه څه ددنیا د حالاتونه خبر کړئ، لیکن زما دې خبرې په دوی څه اثر ونه کړو، هر پښتون دوډۍ ورکولو ته تیار دی لیکن نغد حساب ورکولو ته تیار نه دی، صرف درې کسان وو چې هغوی زما د خبرې سره اتفاق وکړ، او کافي نغد حساب یې راکړو چې یوه مې چاچې( د تره ښځه) بل عباس خان و ،او دریم عبدالله شاه میا و ،او نورو ما سره اتفاق ونه کړو پخه ډوډۍ ما قبوله نه کړه ،او نغده ډوډۍ هغوی را نه کړه دا زمونږ د پښتنو یوه لویه بدقسمتي اوناپوهي ده ،چې مونږ په بې ځایه خرڅونو، رسمونو او رواجونو باندې په زرګونو روپۍ خرڅوو(لګوو) او د قام، وطن او اجتماعي ښېګړو دپاره د یوې پیسې خرڅ کولو ته تیار نه یو، نور ژوندي قومونه په هرڅه کې د قوم حصه کوي، یوه هندوه وه زمونږ کلي کې اوسېده ،بوډۍ ښځه وه چاوې چې هر وخت دا اوره اغرې نو یو موټی اوړهبېل په کټوۍ کې اچوي چا ترې تپوس وکړو ،چې دا څه کوې هغې وې دا په قومي فنډ کې ورکوم او زمونږ پښتانه ورونه په رواجي ډوډۍ زرګونه روپۍ لګوي خو د قام بنیادي فنډ کې یوه پیسه نه ورکوي، دغه وجه ده، چې مونږ د دنیا د ټولو قومونو نه وروستو پاتې یو.

## د فخر افغان لقب:

انجمن اصلاح الافاغنه زما د راتلو په خوشحالۍ کې د یوې لویې جلسې انتظام وکړو او د ټولې صوبې خلکو ته یې د شرکت دپاره دعوت نامې ولیږلې.د جلسې په ورځ په زرګونو

خلک په ډېر شوق او مینه محبت شریک شو، په اتمانزو کې د ټول قوم یوه (عظیم الشانه) لویه جلسه وشوه، چې په هغې کې ماله د قوم د طرف نه یوه سپاسنامه(Welcome Address) راکړی شوه، یوه تمغه او جوبه هم د قوم د طرف نه راکړی شوه او بله دا چې د ټول قوم له طرف نه یې ماله د فخر افغان خطاب راکړو.
چې زما د تقریر کولو وخت راغی نو اول ما د ټول قوم او د جلسې د کارکنانو د ډېرې ډېرې شکریې نه پس یو مختصر تقریر وکړو او د قوم د ډاډ او حوصلې زیاتولو د پاره مې ورته یوه کیسه وکړه چې ما په مدرسه کې په یو کتاب کې لوستې وه ما ورته ووې چې ای پښتنو ورونړو! تاسو باندې د هغه زمري ټوقه شوې ده چې کوم په ګډو کې لوی شوی و، او د ګډو عادتونه یې اخیستي وو، په هغه کتاب کې لیکلي وو چې یو زمری د مور په ګېډه و، چې مور یې د ګډو په یو کنډک حمله وکړه د ورټوپ کولو سره یې بچی پیدا شو او مور یې مړه شوه او بچی ترې پاتې شو دا بچی ګډو سره لوی شو او څه وخت چې لوی شو نو ده کې اکثر عادتونه د ګډو وو او د هغوی سره به څرېده او د هغوی په شان د بین بین اوازونه یې هم کول یوه ورځې یو زمری په دې ګډو را پېښ شو د ده په لیدو ګډې د دې خپل زمرکټې سره تس نس شوې او یو خوا بل خوا وتښتېدې د ځنګلي زمري په دې زمري نظر شو، چې د ده په لیدو لکه څنګه چې دا ګډې تښتي او بین بین کوي دغه شان د دې زمري بین بین کول او تښتېدل ورته ډېر عجیبه ښکاره شو، ده ګډې پرېښوې او ځان یې دغه زمري ته ورسولو او هغه یې راونیو او ځان سره یې هلته یو نزدې د اوبو تالاب ته

راوستو د تالاب په غاړه يې ودروو چې په هغه کې خپل شکل وويني او خپل ځان وپېژني چې ته هم زما په شان زمري يې بين بين مه کوه او وغړمبېږه! زمري چې خپل شکل وليدو نو ورته معلومه شوه چې زه خو زمری يم،او هغه وخت يې د بين بين په ځای غړمبېدل شروع کړل نو ما دې پښتنو ته ووې ای پښتنو ورونړو! تاسو هم زمري يی نور بين بين مه کوئ وغړمبېږئ،د غلامۍ دا زنځير وشلوئ،پاڅئ،ملا وتړئ او خپل ملک او قوم د غير د غلامۍ نه ازاد کړئ! زما دې تقرير په خلکو ډېر اثر وکړو او جلسه په ډېرې کاميابۍ سره ختمه شوه.

زما صحت په جېلخانه کې ډېر خراب شوی و، او وزن مې هم پنځه پنځوس پونډه کم شوی و،کمزوری شوی وم او په ملا کې مې هم دردونه پيدا شوي وو،په دې وجه د قاضي عطاءالله خان په مشوره او د هغه په ملګرتيا زه د يو څو ورځو دپاره د ارام او هوا بدلولو په غرض کوه مري ته لاړم قاضي صاحب هم راسره لاړ او د هغه ځای اب و هوا راته ډېره فايده ورسوله بيا د هغه ځايه د ګلياتو په لاره ايبټ اباد ته لاړو. او ما څه ورځې په ايبټ اباد کې د لالي او زما اوښي اميررحمان خان سره تېرې کړې او ددې هوا په بدلولو زما صحت ته کافي فايده ورسېده، زه چې څه وخت واپس راغلم نو اتفاقاً دلاور خان مې وليدو، هغه زمونږ اسسټنټ کمشنر و، ډېرې خبرې يې راسره وکړې په اخر کې يې بېل کړم او راته يې ووې چې ګرفټ صاحب هم ستا تقرير ډېر خوښ کړی دی .او ډېر خوشحاله شوی دی صرف دا يوه خبره يې په کې خوښه نه وه ما ورته وې چې کومه؟ نو ده راته ووې دا د زمري غړمبهار ځکه چې خلک جاهلان دي او د

دې نه څه غلطې نتیجې ونه باسي او غلط مطلب ترې وانخلي، ګرفټ صاحب زمونږ ډپټي کمشنر و ما ورته ووې چې ما دا تقریر د ګرفټ صاحب د خوشحالولو په خیال نه دی کړی، نه ددې پروا کوم، چې هغه د دې په اورېدو خپه یا خوشحاله شي،هغه مې د قوم او ملک دپاره کړی دی او د هغوی د اوچتولو په خیال مې کړی دی. دلاور خان چارسده کې ډپټي کمشنر په دې خیال اسسټنټ کمشنر مقرر کړی و، چې زمونږ انجمن او ازادې مدرسې ته نقصان ورسوي او هغه چې دلته راغی نو اول یې په انجمن کې د بې اتفاقۍ پیدا کولو کوشش وکړو، خو هغه په دې کې کامیاب نه شو او مدرسې ته یې هم د هېڅ قسم نقصان ونه رسولی شو، نو بیا یې په حکومت باندې زمونږ د مدرسې په مقابله کې په چارسده کې یو انګرېزي سکول جاري کړو او ځای په ځای به یې زمونږ د مدرسې په خلاف پراپیګنډه کوله.

په بنو کې دخلافت تحریک په خلکو باندې ډېر زیات ښه اثر کړی و، تردې چې د بنو د ضلعې ټول ملایان په دې تحریک کې داخل شوي وو،بلکې د بنو د ضلعې ټولو نمبردارانو استعفاګانې ورکړې وې او په تحریک کې شامل شوي وو،د پیرنګیانو سره ډېره وېره پیدا شوه او ډېر هیبت پرې راغی.زمونږ د چارسدې اکبر خان هلته جج و.د بنو ډپټي کمشنر هغه راوغوښتو اوورته یې ووې چې د دې خبرې مخنیوی په کار دی نو هغه ورته ووې چې دا زما کار نه دی،زما کار خو دا دی چې تاسو یې ونیسئ او ماته یې را چالان کړئ. زه به د مقدمې سماعت وکړم.ډپټي کمشنر چې د

ده نه مایوسه شو، نو بیا یې دلاورخان را وغوښتو، دلاور خان په بنو کې مجسټریټ و، او یوه د رشوت مقدمه پرې هم وه او هغه ته یې چې ووې نو هغه ورته سینه وټپوله هغه ملایان یې په چل ول وغلول او نمبرداران یې هم دوکه کړل او هلته دخلافت هغه تحریک فېل شو، چونکه ده په بنو کې یوه لویه فتح کړې وه دی یې زمونږ دې تعلیمي تحریک او اصلاحي تحریک پسې چارسدې ته راولېږه چارسده یو ډېر اهم ځای دی. دلته به همېشه اسسټنټ کمشنر انګرېز و، دیسي سړی به نه و، دلاور خان په مشن سکول کې او د مشن سکول په بورډنګ کې ما سره ډېره موده یو ځای پاتې شوی و، زمونږ د ورونو په شان یو د بل سره مینه او محبت و او زما نه یو یا دوه جماعته روستو و، ساده خلکو ته به یې وې او اکثر به یې په دې دوکه کول چې په اتمانزو کې چې تاسو پخپلو بچو سبقونه وایئ، نو سند به ورله څوک ورکوي؟ او نوکر کېدی به څنګه شي؟ او مونږ به چې چېرته په علاقه کې غم، ښادۍ له لاړو نو چې دی به خبر شو، دی به هم راپسې راغی اکثر به یې د تعلیم متعلق د خلکو په مخکې بحثونه شروع کړل قوم کې لږ ډېر شعور پیدا شوی و، د خدای فضل و چې په هر ځای کې به یې شکست خوړ. دده د غلطې پراپېګنډې با وجود په خلکو کې د غلط فهمۍ پیدا کولو په ځای د خلکو به زمونږ انجمن او مدرسې سره نوره هم زیاته همدردي پیدا شوه، د ده غلطه پراپېګنډه مونږ دپاره ډېره مفیده ثابته شوه او تر اخره پورې الله تعالی دې پخپلو حیلو او حربو کې کامیاب نه کړو او چارسدې نه ارماني لاړو او زمونږ انجمن او مدرسې ته یې

هیڅ قسم نقصان ونه رسولی شو. دلاورخان عجیبه سړی و.دی د پیرنګیانو دپاره هر قسم قربانۍ ته تیار و،یوه ورځې زمونږ حجرې ته راغی اوپه حجره کې نور هم ډېر مېلمانه و،ده ډاکټر صاحب ته مخ کړو او ورته یې ووې چې وګوره دې افغانستان ته، څومره ظلمونه یې په قیدیانو شروع کړي دي،که چېرې پیرنګیانو په افغانستان حمله وکړه نو زه به د ټولو نه مخکې یم توره به را سره وي د پښتنو سرونه به وهم.ډاکټر صاحب ورته په جواب کې ووې شاید زه به ستا په مخالفه ډله کې یم ولې چې زه پښتون یم زه به څنګه د پیرنګیانو دپاره پښتانه ووهم؟ د دې په اورېدو غریب په هغه مجلس کې کچه شو، او بیا یې بل بحث شروع کړو.

## انجمن او مدرسې:

د انجمن په کوشش زمونږ د مدرسې په ملک کې ډېر شاخونه قایم شوي وو. یو ډېر لوی شوق په پښتنو کې د خپل بچو د تعلیم پیدا شوی و ما او خادم صاحب د هغو معاینه شروع کړه. مونږ چې به کله دا دورې کولې، نو د ازاد سکول هلکان به هم مونږ سره تلل، ولې او سعادت خان د ترنګزو به زمونږ دې جلسو کې نظمونه ویل، دوی ډېر خوش اوازه وو، ولې به ډېر ښکلی قرات ویلو او د دې به په خلکو ډېر ښه اثر کېدو او د خپلو بچو د هر قسم تعلیم ورکولو سره به یې شوق پیدا شو.

زمونږ د یوسفزو مدرسې په ډېر ښه حالت کې وې او د هغې ټوله وجه د صاحبزاده خورشید خان صاحب،دادینه او نصرالله

جان محنت، قرباني او کوششونه وو، د هشنغر او د دواوي نه پس مونږ د یوسفزو دوره شروع کړه او د تحصیل مردان او د تحصیل صوابۍ ټولې مدرسې مو وکتلې، خادم محمد اکبر صاحب به امتحانونه اخیستل او ما به خپل اکثر وخت د خلکو سره په لیدلو کتلو او تبادله خیالات کولو کې تېرولو مونږ اول شروع د مولانا شاه رسول صاحب د بالاګړۍ د مدرسې نه وکړله بیا ساول ډېر، کاټلنګ او د رستم مدرسې مو وکتلې او په دې ځایونو کې مو لویې لویې جلسې هم وکړلې او خلکو ته مو د اتفاق د ورورولۍ، قامولۍ او د علم فایدې بیان کړې. په دې دوره کې صاحبزاده خورشید صاحب او نصرالله جان هم راسره وو، څه وخت چې د ساول ډېر نه، رستم ته روانېدو نو خادم صاحب او مولانا شاه رسول صاحب مونږ رستم ته رخصت کړل او ما او نصرالله جان فېصله وکړه چې د سودم هر یو کلي کې چې زمونږ په لاره راځي څه نه څه ساعت به په کې تېروو او خلک به د خپلو اغراضو او مقاصدو نه خبروو، مونږ پیاده روان شو او مونږ سره چې یو اس و هغه باندې مو مولانا صاحب سور کړو ولې چې هغه ډېر ضعیف و، دا زما د سودم اوله دوره وه، په دې دوره کې زما شېربهادرخان د کوترپاڼ او شاپسند خان د چارغولۍ سره ملاقاتونه وشو، دوی سره مې ډېرې خبرې وشوې او بعضې نور خانان مې هم ولیدل. زه د سودم د خانانو په لیدو ډېر خوشحاله شوم او د دوی دا ساده ژوند زما ډېر خوښ و. رستم ته مونږ ماښام ورسېدو زمونږ خیال و، چې دلته د شپې جلسه وکړو، خو زمونږ د مدرسې سرپرست خان په کلي کې موجود نه و، او بل څوک د خلکو د

خبرولو د پاره تیار نه و، ما او نصرالله جان چې څه وخت ډوډۍ وخوړه نو زه د کلي په يو سر او هغه د کلي په بل سر شروع شو.

هرې حجرې او هر جماعت له ورغلو او خلکو ته مو ووې چې په فلانـي جماعت کـې د ماسختن د لمونځ نه پس جلسه ده تاسو چې څه وخت لمونځونه خلاص کړئ،نو د خدای د پاره هلته راشئ چې خلک په جماعت کې جمع شو نو مونږ ورته خپل مقصد او غرض بیان کړو.سبا مونږ د هغه ځای د مدرسې امتحانونه واخیستل او شپې له ګلیاړۍ ته لاړو دلته زمونږه یوه ډېره ښکلې مدرسه وه.د ګلیاړۍ نه نوي کلي ته لاړو او د نوي کلي نه اسمیلا ته لاړو هغه مدرسې مو هم وکتې او په اسمیلا کې نصرالله جان او صاحبزاده صاحب د یوې لویې جلسې انتظام کړی و،او د ټولې علاقې خلک یې راجمع کړي وو،جلسه په ډېره کامیابۍ سره وشوه. نصرالله جان زمونږ ډېر قابل، لایق ملګری او د ده په وجه زمونږ د تحریک کار په ښه شان مخکې روان و، د پیرنګیانو دا خوښه نه وه او دغه شان به د هغوی دا کوشش و، چې زمونږ د دې قسم مخلصان، کارکنان زمونږ نه جدا کړي، د هغه ماما چې د پیرنګیانو نوکر و، هغه یې مجبوره که چې نصرالله جان د بیرسټرې د پاره لندن ته ولیږي او هغه لندن ته لاړ.

اصل کې دا ځای د ټول یوسفزي د تحریک مرکز و،بیا مونږ د پېښور د علاقې دوره شروع کړه او چې د پېښور د علاقې له دورې نه فارغه شو، نو بیا زه د کوهاټ او بنو په دوره لاړم، په کوهاټ کې زمونږ دوه مدرسې وې،دا مدرسې د مقامي کارکنانو د اخلاص او کوششونو په وجه ډېرې په ښه حالت کې

وي، پـه هنګـو کـې مدرسـه ټيکـدار صـاحب علـي بادشـاه جـوړه کـړې وه، هلتـه مـو يـوه لويـه جلسه وکـړه، چې پـه هغـې کـې تقريباً د کوهـاټ د هـرې علاقـې خلـک شـريک شـوي وو، پـه هنګـو کـې ډېـر شـيعه ګـان دي دلتـه بعـضې خودغرضـه او سـرکاري خلکـو د شيعه او سني تعلقـاتو تـه ډېـر نقـصان رسـولی دی د مينـې محبـت پـه ځـای يـې پـه کـې ډېـر نفرت پيدا کړی دی. پـه جلسه کـې مـا يـو لـوی تقريـر وکـړو او پـه شيعه او سـني مـسئله مـې ډېـره روښـنايي واچوله، اولـه خبـره مـې ورتـه دا وکـړه چـې مـونږ ټـول پښتانه يـو کـه شـيعه دي نـو هـم پښتون دي او کـه سـني دي نـو هـم پـښتون دي، يـو قـوم يـو او يـو مـو ملـک دی، يـو مـو خـدای دی، يـو مـو رسـول دی يـو مـو قـران دی، او حـضرت علـي تاسـو هـم منئ، مـونږ يـې هـم منو، نـو بيـا دا اخـتلاف پـه څـه؟ د هـر چـا لاره بېلـه بېلـه ده خـو دا ملـک خومـو شـريک دی، د دې ملـک خـدمت پـه شـريکه پـه مـونږ ټولـو فـرض دی او بايـد چـې مـونږ ټـول د دې ملـک خـدمت وکـړو مـونږ بايـد دا فکـر وکـړو چـې دا ملـک زمـونږ دی او خـدمت يـې هـم بايـد پـه ګـډه وکـړو، دا نفرت خو خودغرضـو خلکو پـه شيعه او سني کـې پيدا کـړی دی. زمـا دې تقريـر پـه خلکـو ډېـر ښـه اثـر وکـړو کـه شيعه و او کـه سني و، او څـه نـه څـه د نفـرت هغـه اور چـې خودغرضـو خلکـو لګـولی و، کـم شـو، زما پـه دې تقريـر د هنګـو خانـان ډېـر خپـه شـو اوماتـه يـې ووې چـې زمـونږ د شلو کلـو خـواري دې پـه سـيند لاهـو کـړه مـا ورتـه وويـل چـې پـه دې بـې اتفـاقۍ کـې خـو نـه ستاسـو خيـر شـته او نـه د قـام او ملـک تـه تـرې ډېـر نقـصان رسـيږي کـه دې کـې فايـده ده نـو هغـه خـو دانګريزانـو ده، هغـوی پـه دې خبـرې پسې ګرځـي او د بـې اتفـاقۍ اورتـه پـه

هر ځای کې پکې وهي.

د هنګو نه بیا ټل ته لاړو دلته زمونږ ډېر ښه ملګري وو، د هغه ځای مدرسه مو هم وکتله او کوهاټ ته واپس راغلو، د کوهاټ په ټوله ضلع کې چې د دې مدرسې د پاره څومره قرباني او فداکاري د ټل خلکو کړې ده، دومره هېڅ نه ده کړې، دوی په تعلیمي او بیا په سیاسي سرګرمو کې هم ډېره برخه اخیستې ده او زما سره یې ډېر امداد او کار کړی دی. د کوهاټ نه بیا بنو ته لاړم، بنو کې مې امیر مختار صاحب چې زمونږ د ازادې مدرسې د هېډماسټر پلار دی او یو ډېر مخلص کارکن دی. د هغه په وساطت مې د علاقې دوره وکړه او دوه مکتبونه مو د ملایانو په برکت پرانیستل او ډېرو خلکو سره مو لیدل کتل وشول او تبادله خیالات مو ورسره وکړل. د بنو په ښار کې ملک خدابخش صاحب وکیل د پېښور د جېلخانې په کوارنټین کې څو ورځې ما سره پاتې شوی و، او یو بل سره مو پېژند ګلوي شوې وه، د هغه په ذریعه حکیم عبدالرحیم صاحب، محمد جان بیرسټر او محمد نوازخان وکیل سره مې لیدل کتل او واقفیت پیدا شو، زه چې څه وخت د لاهور په جېلخانه کې وم هلته مو یو څو قیدیان د بنو د ککي کلي لیدلي وو، د هغوی سره ما د دې خبرې فیصله کړې وه، چې هر کله زه رها (خلاص) شم او بنو ته درشم نو ککي ته به ضرور درځم. په هغه خیال زه او هېډماسټر صاحب او د هغه پلار ککي ته لاړو، په یو جماعت کې مو لمونځ وکړو او بیا مو د خلکو د راجمع کولو کوشش وکړو. په هغه ورځ د دوی چېرته څه لوبه(اینده) وه، دوی ټول هغې لوبې له روان وو، ما ورته یو څو

خبرې وکړې، چې: اې پښتنو وروڼو! يو کافر خپل کافر ورور نه وژني تاسو چې ځان ته مسلمانان وايئ، بيا ولې يو پښتون بل پښتون وژني؟ او نه چرې يو پيرنګي پخپل قوم مخبري کوي او نه ستاسو ملګرتيا کوي، بيا ولې تاسو د خپل ورور په سر هغوی له مخبري کوئ. او د هغوی ملګرتيا کوئ او نه چرې يو هندو د خپل هندو برخلاف ناحقه او د دروغو شاهدي کوي او نه د خپل هندو ورور د شرمولو او د بې عزتۍ کوشش کوي، خو اې پښتنو وروڼو بيا تاسو ولې په ناحقو شاهدو د يو بل بې عزتۍ او شرمولو پسې روان يئ، لږ خو د خدای نه ووېرېږئ او شرم وکړئ، يو کافر خو خپل کافر ورور نه وژني، مخبري يې نه کوي او شرموي يې نه او مونږ چې ځان ته مسلمانان وايو او پښتانه يو مونږ دې خپل پښتون مسلمان ورور وژنو، شرموو او مخبري دې پرې کوو. ما ورته ووې چې دعا وکړئ چې مونږ له خدای پاک پوهه او علم راکړي او زمونږ په زړونو کې الله تعالی مينه او محبت، وروروليي،عزيزداري،قاموليي او اتفاق پيدا کړي. څه وخت چې مونږ د جماعت نه ووتو نو څو کسان رانه چاپېره شو او زه يې د لاسه ټينګ ونيولم،چې نن دې پرېږدو نه مونږ سره به ضرور شپه کوې،ما ورته ووې چې زمونږ په سر ډېر زيات کارونه دي او مونږ پاتې کېدی نه شو خو هغوی هم راته کلک شو چې دا خبره شوني نه ده، ما ورته وې چې اخر دا تاسو مونږ ولې دومره مجبوروئ،هغوی راته ووې چې خدای ګواه دی، دومره ژوند مو تېر شو ډېرو کې مو سپين ولګېده ليکن د چا ميا ملانه مو دا قسم خبرې اورېدلې نه دي،چې، تاسو پښتانه هم پخپل کور کې ورونه يئ او که

چرې يو کافر بل کافر نه وژني نو تاسو هم خپل ورور مسلمان مه وژنئ، خلک وايي پښتون ترقي ونه کړه په ورانو لارو روان شوي دي، ليکن حقيقت دا دی چې پښتنو ته چا سمه لارښودلې ده؟ چا د ورانو نه منع کړي دي او دوی منع شوي نه دي، هی افسوس د نورو قومونو په شان د دوی غمخور نشته! د دوی شپون نشته ځکه خو يې شرمښان خوري او ماتوي.

څه وخت چې زما دوره ختمه شوه او زه کلي ته راغلم يوه ورځې زه عباس خان جدا کړم او ماته يې ووې چې دا کاکاخېل ميا معروف ډېر خطرناک سړی دی. نن ورځې دهغه دا کوشش دی چې ما او تا کې بې اتفاقي پيدا کړي،او د هغه يوڅو خبرې يې ماته وکړې، چې زه د هغې بيانول نه غوارم. هغه خبرې په رښتيا سره ډېرې خرابې وې ماته نورو خلکو هم د ميا معروف صاحب ډېرې کيسې کړې وې او که د عباس خان او مقصود جان په منځ کې چې زمونږ د هايي سکول هېډماستر و، چې دا څه قسم ناچاقي پيدا شوې وه، هغه هم د ده کارګذاري وه. ماته دا هم معلومه شوه چې دی زمونږ د انجمن په ممبرانو کې پرې جنبې پيدا کول غواړي او اول چې کوم د مينې محبت او اتفاق مظاهره د انجمن په ممبرانو کې وه نن هغه نشته بلکې د انجمن ممبرانو د يو بل نه ګيلې مانې او شکايتونه شروع کړي دي. ميا صاحب زمونږ د انجمن يو ډېر فعال رکن و، د کډو کار ده ته په حواله و دا خبره ورو ورو وګونېده او د ميا معروف غوږو ته هم ورسېده او څه ورځې پس هغه د انجمن د انسپکټرۍ نه استعفا وکړه،محمد عباس خان زمونږ د انجمن صدر و،د هغه دا خيال و،چې زه دده استعفا فوراً منظوره کړم،

لیکن ما ورته ووې چې ته لږ صبر وکړه او دا به ښه وي چې د ده استعفا انتظامیې ته پیش کړی شي، بله ورځې ما مولانا محمد اسرائیل صاحب ولیده هغه راته د میا معروف د استعفا ذکر وکړ، ده باندې هم د میا صاحب تعلیم اثر کړی و، ده راته ووې چې د میا صاحب خوله سوری ده، هغه بله ورځ هم دلته خلکو ته لګیا و، او د انجمن خلاف یې خلکو ته خبرې کولې هغه چې په هر شان وي رضا کول یې په کار دي او که چیرې هغه مستعفي شي نو زمونږ انجمن ته به ډېر نقصان ورسي او زمونږ بر خلاف به پراپېګنډه شروع کړي. ما ورته ووې چې دا خو ته منې چې د هغه خوله سوری ده د هغه پخپله خوله قبضه نشته بیا داسې سړی چې زمونږ انجمن کې وي زیات خطرناک دی چې زمونږ د انجمن برخلاف پراپېګنډه کوي، په ځای د دې چې زمونږ د ډلې نه بهر وي او زمونږ بر خلاف پراپېګنډه کوي، نو په خلکو به یې دومره اثر نه وي او خلک به وایي چې دی خو په انجمن کې نه دی، نو بیا خلک د ده په خولې دومره اعتبار نه کوي او دی به مونږ ته د دومره نقصان رسولو قابل هم نه وي لکه چې نن دی. بله ورځ مونږ خبر شو چې عباس خان د هغه استعفا منظوره کړه لیکن کوم کر چې زمونږ په انجمن کې میا صاحب کړی و او کومې جرړې چې زمونږ په انجمن کې خورې شوې وې، هغه و نه وتلې او زمونږ د انجمن د بعضې اراکینو دا عادت شوی و، چې څه وخت به یو ځای شو نو د یو بل خلاف خبرې به یې کولې او بیا ورو ورو زمونږ خادم صاحب او عبدالاکبر خان خو دې درجې ته ورسېده چې د مدرسې د هلکانو مخکې به یې داسې فضول

خبرې کولې، چې سړی به ورته حېرانېدو.

يوه ورځ ماته هېډ ماسټر صاحب ووې چې ناظم صاحب او سکرټري صاحب د هلکانو په مخکې داسې خبرې کوي، او ددې قسم خبرې کول په کار نه دي، ځکه چې دا خو د انجمن ذمه وار خلک دي او د دوی په داسې خبرو په خلکو خراب اثر کېږي او زمونږ انجمن او مدرسې ته ترې سخت نقصان رسېږي ما ورته ووې چې هغوی څه خبرې کړې وې، هغه راته ووې چې نورې خبرې خو پرېږده هغه بله ورځ د هلکانو په مخکې لګيا و، چې ستا دوست قاضي عطاالله خان د پيرنګيانو مخبر دی او ده پسې يې لګولی دی او دی چې په کار کې هغه دغه کوي دا د قاضي تعليم دی چې په ده يې اثر کړی دی. زه د دې په اورېدو ډېر خپه شوم چې دوی په ما او په قاضي صاحب شکونه او الزامات لګوي، ما څه کولی نه شو ددوی خولې بادې شوې وې، ډېر ځله ما دوی ځان له پوهه کړل چې ستاسو د دې قسم خبرو نتيجه به څه وي؟ خو دوی نه پوهېدل.

د ۱۹۲۵-۲۶ع وخت و چې په پېښور کې د جمعية العلماء هند جلسه وه مونږ له يې هم دعوت راکړی و، زه مقصود جان د اتمانزو د ازاد سکول هېډ ماسټر او ددې ازاد سکول يو څو هلکان دغه کنفرانس کې شريک شوي وو، په دې کنفرانس کې غني چې دغه وخت د ديارلسو کالو و تقرير کړی و، چې د هغه د تقرير په ټوله جلسه او د جمعية العلماء هند په ليډرانو ډېر زيات اثر وشو. مولانا کفايت الله چې د جمعية العلماء صدر و، را پاڅيدو او غني يې ډېر ښکل کړو. په دې کنفرانس کې صاحبزاده عبدالقيوم صاحب هم موجود و، چې جلسه خوره

شوه نو صاحبزاده ماته وویل چې زمونږ د اسلامیه کالج جلسه ده که ته هغې له راشې نو ډېره ښه به وي ما ورته دا وویل چې مونږ سره یو تعلیمي نظم دی که ته مونږ له اجازه راکوې چې هغه نظم زمونږ د مدرسې هلکان هلته ووایي نو زه به درشم مونږ به تا ته دا نظم وښیو ته یې وګوره هغه یو تعلیمي نظم دی، هېڅ سیاست په کې نشته.

صاحبزاده صاحب ته مو هغه نظم ولېږلو او د کتلو نه پس یې مونږ له اجازه راکړه او مونږ دې جلسه کې شریک شو، هلته زمونږ د مدرسې دوه هلکان پاڅېدل او هغه جلسه کې یې هغه نظم وویلو هغه نظم د جلسې په خلکو دومره اثر وکړو چې د اسلامیه کالج هلکان په ژړا شول او په جلسه کې د شریکو ډېرو پښتنو د سترګو نه اوښکې تویې شوې او دا پیرنګیان چې وو په کرسو کې داسې نېغ شو او ویې ویل چې دا هلکان څوک دي؟(who are these boys?) ما ورته وویل چې دا د اتمانزو د ازاد هایي سکول طالب علمان دي نو دوی وویل چې ښه د ازاد سکول؟

## د حج سفر:

زه په ۱۹۲۲ع کې د حج په سفر روان شوم، په دې سفر کې یو زه وم، یوه مې خور وه، بل مې اوښی،زما د تره زوی عطاالله خان و،او بله مې ښځه وه،پېښور ته لاړو او ډاکټر صاحب راته د سیکنډ کلاس ډبه ریزرو کړه او کراچۍ ته ورسېدُو.مونږ په کراچۍ کې د حاجیانو په کیمپ کې وو،چې د عبدالله هارون صاحب بې بې راغله مونږ یې کورته بوتلو، د

هغوی یو ښه مناسب کور و، هلته یې ډېره کړو. د حاجیانو جهاز راغی زمونږ د پاره عبدالله هارون صاحب ډېر کوشش وکړو چې مونږ له د سیکنډ او فسټ کلاس ټکټونه واخلي، مګر هغه ټول ډک شوي وو د روانېدو په وخت کې هغه مونږ سره لاړ او د جهاز کپتان ته یې ووې چې دوی ته سیکنډ او فسټ میلاو نه شو، هغه ته یې ووې چې زمونږ خیال وساتي په دې تهرډ کلاس کې یې خلک د ګډو بزو په شان اچولي وو چې جهاز روان شو، سمندر په چپو کې و، چې لږ غوندې د سمندر منځ ته شو، نو د خلکو قی شروع شو مونږ ټول په تکلیف کې وو، ولې د خور حالت مې ډېر خراب و، مونږ د جهاز د پاس نه کوز ځای ته ورکوز شو خو هلته هم زمونږ تکلیف کم نه شو، بلکې زیات شو، نو زه بیا د جهاز هغه کپتان له ورغلم او ورته مې ووې چې مونږ خو ډېر تکلیف کې یو، ته چې زمونږ نه څومره کرایه اخلې، نو مونږ به یې درکړو ته مهرباني وکړه مونږ له یو ځای راکړه، چې مونږ په کې ارام وکړی شو، او روپۍ مې ورکړې په جهاز کې یوه کمره وه چې سامان په کې پروت و، هغه یې خالي کړه او مونږ هغې کمرې له لاړو دا خو ښه وشو، چې مونږ ځان له شو ولې تکلیف مو کم نه شو. دوی درې واړه دلته پاتې شو او زه د فسټ کلاس نه بهر لویه برنډه وه هلته لاړم. مونږ خو کپتان صاحب له حساب ورکړی و، نو ما ته چا څه نه وې، اووه یا اته ورځې پس عدن ته ورسېدو.

دلته جهاز یو شو اروز ولاړ وي. دلته شپه یخه وه زه یخنۍ ووهلم او انفلوینزامې شوه زه د فسټ کلاس نه بره په هغې

برنډه کې پروت وم، چې يو عرب زه وليدم هغه راغى او زه يې ځان سره د ننه فسټ کلاس ته بوتلم، زما يې ډېر خدمت وکړ چې زه به يې ټول عمر ياد لرم. چې جدې ته ورسېدُو نو زه لرې ښه شوى وم. د جهاز نه راکوز شوم زما دا ملګرى هم راکوز شو، يو ځاى شو خو ټول سامان چې دوى سره وو هغه ترې په جهاز کې پاتې شو، عطاالله خان خو ډېر ساده سړى و، هغه په څه نه پوهېده او دا قدرې يې هم ونه کړى شو، چې هغه خپل سامان يې د جهاز نه راکوز کړى وى. مونږ ځان سره ډېر سامان اخيستى وو، زما هغه ټول سامان او زما د ټبر جامې چې په کې د سرو زرو تنې وې هغه هم لاړ، ما هغه وخت زمونږ (معلم) ته ووې چې په جهاز کې زمونږ سامان پاتې شوى دى هغه لاړ ويل يې سامان مې بيا نه موند، د دغه ځاى نه چې بيا مونږ مکې معظمې ته راورسېدو، نو مونږ رپوټ وکړ، د غو ورځو کې د سعوديانو حکومت نوى جوړ شوى و، شريف مکه يې په مخه کړى و، د شريف مکه په وخت کې به چې چا په حاجيانو ډاکه وکړه يا غلا وکړه، نو په هغې کې به ورسره دى هم شريک و، دى عياش سړى و، ولې سعوديان داسې نه وو هغوى به د حاجي چې څه نقصان وشو، د هغه ذمه دار به يې معلم ګرځولو او د هغه تاوان به يې ترې اخيسته، د دوى په وخت کې داسې په ملک کې امن و، چې بيان يې درته کوى نه شم، حکومت زمونږ د رپوټ په وجه هغه زمونږ معلم راوغوښت او ورته يې ووې چې ((مال پيدا کړه او که دې پيدا نه کړو نو تاوان ورکړه!)) هغه معلم زمونږ د پېښور حاجي جان محمد له ورغى او ورته يې ووې چې دوى ته ووايه چې ما معاف کړي. او چې

حاجي او ورسره هغه معلم د جرګې په طريقه مونږ له راغلل نو مونږ معاف کړ.

مونږ د حج مراسم د ديني احکامو سره مطابق په خپل خپل وخت ترسره کول چې د هغو له تفصيلي ذکر نه تېرېږو، صرف دا يوه پېښه يادوم چې د حج په دوران کې د سعودي حکومت له خوا ((موتمر عالم اسلام)) په نامه يوه لويه جرګه جوړه شوه، هغې ته د حاجيانو نه د دنيا د هر ملک د مسلمانانو مشران راوغوښتل شو، دهندوستان نه مولانا محمد علي، مولانا شوکت علي، مولانا ظفرعلي خان اومولانا اسماعيل غزنوي او ځينې نور په دې موتمر کې شامل وو ،زه هم په کې شامل شوم، مولانا محمد علي او شوکت علي دوی دا خبره پېش کړه چې تاسو د دې مزارونو او قبرونونه، ګنبدونه جبې او قبې ولې ورانې کړې دي او اوار کړي مو دي هغوی ورته وويل دا د اسلامي شريعت نه خلاف دي دوی وويل چې دا خو((اثار قديمه)) وو هغوی ځواب ورکړ چې اثار قديمه وو خو تاسو وګورئ چې د دې نه مسلمانانو ته فايده رسېدلې ده که نقصان؟

دوی يو بل تجويز هم وړاندې کړ هغه دا چې بايد د مکې معظمې د متولي توب دپاره دې د ټولې دنيا د مسلمانانو په خوښه يو سړی مقرر شي،نو هغوی ورته ووې چې فرض کړه چې د دنيا مسلمانانو د هندوستان يو مسلمان دې کار دپاره خوښ کړو ،نو ايا هغه د مکې معظمې حفاظت کولی شي؟ ځکه چې اوس دا دی مونږ اوليدل چې کله کافر پيرنګی دلته راغی نو د هندوستان مسلمانان هم د هغه په فوځ کې هغه سره راغلل او

زمونږ په دې مقدسو مقاماتو هغوی د ګولیو چلولو نه انکار ونکړو، ګولۍ یې اوچلولې،د دې نتیجه دا شوه چې موتمر ته د فایدې په ځای نقصان ورسېدو او هغه موتمر ختم شو.

کله چې د حج نه فارغ شو زه خو ناجوړه وم، زه او زما ټبر طایف ته لاړو،زما د خور او اوښې تادي وه،هغوی مدینې منورې ته لاړل. طایف ته چې تلو مونږ سره په لاره کې یو پښتون ملګری شو، ډېر ښه سړی و،چې طایف ته ورسېدو هغه مونږ خپل کور ته بوتلو، د ده هلته ډېر ښکلی کور و،طایف ډېر ښکلی او اباد ځای دی،ښه اب و هوا لري،مونږ څو ورځې هلته تېرې کړې،په دې ورځو کې چې هلته وو یوه ورځ یو سړي مونږ ته غږ وکړو چې:((تعال تعال)) یعنې (دلته راشئ) مونږ ورغلو هغه وویل:((دا د حضور صلی الله علیه وسلم وېښته دی او دا بل په ګټه کې د هغه د پښې د پل نښه ده دا وګورئ!!)) ما ورته ووې چې مونږ خو طایف ته د دې دپاره راغلي یو چې دلته د حضور صلی الله علیه وسلم هغه عزم اراده عفو وګورو.چې هغه دلته د تبلیغ دپاره راغلی و،او خلکو په کاڼو ګټو وویشت. زخمي یې کړ، خو هغه په خپل عزم ټینګ ولاړ و،او بیا یې هغو خلکو ته دعا وکړه چې خدایه ته دوی ته هدایت د نیکۍ وکړې. په طایف کې زمونږ صحت ښه شو نو بیا واپس مکې ته راغلو په هغه وخت کې موټر نه وو، مونږ دا ټګ راټګ د اوښانو په سورلۍ کاوه. په مکه کې مې مولوي محمد اسماعیل غزنوي صاحب ولید هغه خو زما د جېلخانې ملګری و.د جېلخانې دوستان ډېر خواږه وي. په خبرو خبرو کې ما ورته ووې چې مونږ مدینې منورې ته ځو، راته یې ووې چې

راځه ماسره جدې ته لاړ شه د جدې نه هم مدينې ته لاره تلې ده ما ورته ووې زه په بله لار مدينې ته ځم، ليکن هغه مجبور کړم او ورسره جدې ته لاړو. چې جدې ته ورسېدو هلته يو لوی امير سړی د ده اشنا و هغه کره دېره شو. په دې ورځو کې د سعودي بادشاه جدې ته راغی او همدې کور ته راغی او مونږ سره يو ځای په هغه کور کې دېره شو، هغه ډېر ښه سړی و، مونږ سره به يې يو ځای ډوډۍ خوړله، يو ځای به ناست پاست و، يو ځای به مو سره مجلس کوو. ما په ده کې د يو ملک او خان هومره غرور نه ليده، بلکې يو فقير او درويش سړی و، حالانکه چې دی بادشاه و، څو ورځې پس مونږ مدينې منورې ته روان شو د سعودي باچا سکتر مونږ له د لارې د مرکزونو په نامه يو خط راکړ، چې د دوی د ارام خيال وساتئ.زمونږ ټوله قافله پنځه اوښان وو، څلور يا پنځه ښځې،درې يا څلور نارينه وو، کوم اوښ چې زما دپاره و، يوه کجاوه يې زما د ټبر او بله يې زما وه؟ کجاوې لنډې وې او زه په کې تنګېدم. د شپې به اکثر د اوښ نه کوزېدُو او د عربستان په هغو نرمو شګو مو پياده مزل کاوه. دې مزل ډېر خوند کاوه. په دې قافله کې چې دا نور عرب مونږ سره وو، دا هغه کسان وو چې د پيرنګي د راتګ په وخت کې يې د شريف مکه په دور کې د مدينې نه تر کويته هجرت کړی و، اوس واپس راغلي وو اومدينې ته تله.چې مونږ مدينې ته ورسېدو نو په دوی کې د يو کره دېره شو، زه په مسجد نبوي کې د لسو ورځو دپاره معتکف شوم، هغه جماعت کې يوه ستن وه د هغې سره به ناست وم. يوه ورځ په دې مسجد کې مې حاجي محمد امين وليد، روغ جوړ مو

وکړ، ما ترې تپوس وکړو هغه راته وویل چې دلته په دې مسجد نبوي کې ما یوه کوټنۍ پیدا کړې ده او اراده لرم چې دلته به یو کال (چله) وباسم. ما ورته ووې چې د څه دپاره؟ وې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوشحالۍ دپاره، نو ما ورته وویل چې رسول صلی الله علیه وسلم په دې نه خوشحالیږي ما ورته ووې چې داسې وکړه او دعا او بیا استخاره وکړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خوشحالیږي چې ته دلته هغه سره په کوټنۍ کې ناست یې او که په دې خوشحالیږي چې ته لاړشې او د هغه پیغام خلکو ته ورسوې. چې د شپې ویده شوی دی نو سحار وختي ما له راغی چې ستا خبره سمه ده سبا وطن ته ځم او خدمت به کوم او که خیر وي ته چې په خیر راغلې نو بیا به تاسره یو ځای کار کوم. ما ورته څه حساب هم ورکړ، دی خو لاړ مونږ څو ورځې دلته تیرې کړې. بیا بیت المقدس ته روان شو، د حجاز د یو واړه بندر (پورټ) (رابغ) نه مصر ته لاړو کله چې زمونږ جهاز د سویز په بندرګاه ودریدو او مونږ ترې کوز شو نو زما اراده وه چې د قاهرې او اسکندریې ښارونه هم وګورو په دې اراده زه ورو غونډې یو مصري افسر ته ورنږدې شوم او دا خبره مې ورته وکړه او دا مې هم ورته ووې چې مونږ ستا د اسلام ورونه یو امید دی چې ته به مونږ سره په دې کې امداد وکړې. د مسلمان د ټکي د اوریدو سره هغه موسکی شو او ما ته یې ووې چې نن ستا ضرورت دی، نو زما مسلمان ورور یې او چې سبا پیرنګیان په مونږ حمله کوي، بیا نو مسلماني او ورورولي چیرته لاړه شي؟ تاسو د هندوستان خلک مسلماني څه پېژنئ

ستاسو اسلام خو پیسه ده. تاسو داسې قوم یئ چې د پېرنګي د یو اتانیز دپاره مو ټوله دنیا د پیرنګي غلامه کړې ده او دا مونږ هم چې د پیرنګي غلامان یو دا هم ستاسو د لاسه که زمونږ اختیار وي نو دا ستاسو ناپاک او منحوس قدم به په دې خاوره پرې نه ږدو،د دې په اورېدو زه چپ شوم. دلته مونږ لس ورځې په کورانتین (قرنطین) کې تېرې کړې او د هغې نه پس فلسطین بیت المقدس او شام ته لاړو. په بیت المقدس کې مونږ ته یوه دردناکه حادثه را پېښه شوه،دلته زما تبر د بیت المقدس د جماعت د پاوړو (زینو) نه راپرېوته زخمي شوه او څو ورځې پس مړه شوه(انا لله و انا الیه راجعون). او بیا هم هلته دفن کړی شوه.

په فلسطین کې یهودیانو ښکلي ښکلي نوي کلي،ښارونه او باغونه جوړ کړي دي او لګیا دي جوړوي یې لیکن مسلمانان یې لا هغه شان په غفلت کې پراته دي او امام مهدي صاحب ته په انتظار کې ناست دي،چې مونږ به پخپله څه نه کوو هغه به راشي او هغه به راله هر څه وکړي.دوی دومره بې علمه او بې خبره دي چې امام خو پرېږده چې پیغمبر راغلی دی او خپل قوم ورسره ملاتړلې نه ده نو پیغمبر کامیابه شوی نه دی.

په بیت المقدس کې زما د مسلمانانو ورونو عربو سره په دې باندې ډېرې خبرې شوې وې،زه چې به د بیت المقدس نه بهر ووتم کومه ځمکه چې به مې ولیده چې شاړه او رېګ دی،نو چې تحقیق به مې وکړو، نو معلومه به شوه چې د عرب ده او کومه ځمکه چې به اباده وه په هغې کې به یوه وړوکې

غونډې بنګلـه او بـاغ و، نـو چـې تپـوس بـه مـې وکـړو وې دا ديهـودي ده او دغـه شـان د کلوحـال و. د يهوديـانو ښـکلي ښـکلي ابـاد او پـاک کلـي او ښـکلي ژونـد و ،او د عربـو بـه درتـه څـه ذکـر کـوم او بلـه دا چـې سحر بـه ووتـم يهوديـان بـه ښـځې، نـر لګيـا وو کارونـه بـه يـې کـول او پـه بيت المقدس کې چې بـه سحر هوټـل تـه لاړم څوک بـه پـه کـې نـه و، چـې غرمـه بـه لاړم څوک بـه پـه کـې نـه و، چـې مـازيګر بـه لاړم نوهوټـل بـه ډک و ،ښـکلي ښـکلي ميزونـه بـه لګېـدلي وو ،خلکـو بـه ښـکلې ښـکلې پـاکې، صـفاې جـامې اغوسـتې وې، چـا بـه چـاى څکلـه،چا کـافي،او چـا د انګـورو اوبـه .او چـې د عربـو هوټـل لـه بـه لاړم نـو کـه سحر و هـم بـه خلـک پـه کـې ناست و ،کـه غرمـه وه هـم دخلکـو نـه بـه ډک و ،او کـه مـازيګر و هـم بـه خلـک پـه کـې وو غـټ غـټ چيلمونـه بـه پراتـه وو ،چيلم بـه هلتـه اوړېـدلی و سـر بـه يـې يـو ځـاى پـروت و د دوی پـه هوټـل کـې هغـه صـفايي نـه وه کومـه چـې د يهوديـانو پـه هوټـل کـې وه او لګيـا بـه وو لـوبې بـه يـې کـولې زه پـرې نـه پوهـېدم، چـې څـه لـوبې يـې کـولې يـوه ورځـې مـې دې عربـو ورونـو تـه ووې چـې دا تاسـو پـه کومـه دنيـا کـې يـئ لـرې سـترګې خـو وغـړوئ، زه چـې ستاسـو پـه دې ملـک کې ګـرځم چـې چېرتـه ښـاره ځمکـه وي او رېـګ وي نـو چـې تپـوس وکـړم چـې د چـا ځمکـه ده؟ نـو وايـي چـې د عـرب ده او چـې ښـکلې ابـاده ځمکـه او بـاغ او بنګلـه ووينـم نـو چـې تپـوس وکـړم چـې دا د چـا ده؟ نـو وايـي چـې دا د يهـودي ده، تاسـو دې خپـل ژونـد تـه وګـورئ، او د هغـوی ژونـد تـه وګـورئ کـه علـم مـو نـشته نـو سـترګې خومـو شـته. نـو پـه هغـوی کـې يـو کـس جـواب راکـړو، چـې مـونږ دا شـاړې ځمکـې پـه يهوديـانو بانـدې خرڅـوو چـې

ابادي یې کړي او اوس اخري صدۍ ده امام صاحب به راشي او دا هر څه به زمونږ شي. زما خیال و، چې ملا صاحب ګیني یوازې مونږ پښتانه امام صاحب ته کېنولي یو، لیکن عرب غریبانان یې هم ورته کېنولي دي. اوس مې کله نا کله خیال پیدا شي چې فلسطین ته لاړلې او د عربو نه مې تپوس وکړی چې هغه ځمکې ستاسو شوې او که د یهودیانو شوې؟ ځوار لسمه صدۍ خلاصه شوه.

یوه ورځې زه د بیت المقدس نه باهر سېل ته ووتم یو ځوان عرب راسره ملګری شو، ماله لږه لږه عربي راتله هغه سره مې خبرې شروع کړې ورته مې ووې چې بیت المقدس خو ډېره ترقي کړې ده نوي نوي سړکونه په کې پیرنګیانو جوړ کړل او نوې نوې ابادۍ یې په کې وکړې هغه ما ته وکتل څه یې ویل لیکن چپ شو او ماله یې هېڅ جواب رانه کړو ما ورته ووې چې ولې چپ شوې؟، نو هغه رانه پوښتنه وکړه چې ته هندی یې؟ خوما ورته ووې چې اخر ستا مطلب څه دی؟ هغه راته ووې چې هندیان ډېر خراب خلک دي د هغوی کار بغیر د مخبرۍ نه نور هېڅ نشته په دې ټول ملک کې خلک هندوستاني ته په ډېر نفرت سره ګوري دوی ته ډېره ګناه نه وه ځکه د دنیا په لوی جنګ کې دې خلکو سره هندوستانیانو اود هندوستان فوج چې څه کړي دي، د هغې سزا دې دوی له خدای ورکړي. د دې هندوستان فوج اکثریت د مسلمانانو و، ماورته ووې چې زه تا ته کم از کم دومره ویلی شم چې زه مخبر نه یم هغه راته ووې چې مونږ به سړکونه او ابادۍ څه کړو مونږه اوز مونږ ملک ورځ په ورځ په پرېوتو او د غربت طرف ته روان

دی، ځکـه چـې ترکـو بـه د قـسطنطینې د خزانـې نـه روپـی دلتـه لګـولې او پیرنګیـان لکـه د جـورو پـه مـونږ لګیـا شـوي دي، زمـونږ مـال خـوري او ولایـت تـه یـې لېـږي او بیـا یـې یـو سـوږ اسـویلی وکـړو، چـې مـونږ څـه ترکـو سـره وکـړه اوس الله تعـالی مـونږ تـه د هغـې ناشـکرګذارئ سزا راکـوي اوس مـونږ ترکـو پسـې ډېـر ارمانونـه کـوو، لـیکن وخـت تیـر دی الله دې مونږتـه عفـوه وکـړي او د دې ظالمـانو د پنجـې نـه دې مـونږ خـلاص کـړي دغـه حال د شام هم دی.

د شـام ملـک پـه دوو حـصو تقـسیم دی،د یـوې حـصې چـې(اوس ورتـه لبنـان وایـي) دارالخلافـه بیـروت دی،دا د سـمندر پـه غـاړه یومزیـدار ښـار دی. دلتـه د علومـو او فنونـو دزده کولـو دپـاره امریکـې یـو لـوی دارالعلـوم قـایم کـړی دی،د شـام پـه دې حـصه کـې د اوبـو کمـی دی غرونـه هـم پـه کـې ډېـر دي لـیکن خلـک پـه کـې دومـره تکـړه دي چـې غـر او سـمه یـې ټولـه ابـاده کـړې ده. اواکثـر غرونـه یـې د انګـورو باغونـه کـړي دي،کلـي او باغونـه ډېـر پـه اعلـی طریقـه بانـدې جـوړ دي،خلـک یـې ډېـر ښـه او اسـوده دي پـه کومـه علاقـه کـې چـې د مـسلمانانو ابـادي زیاتـه ده، د هغـې دارالخلافـه دمـشق ښـهر دی، دمـشق هـم یـو ډېـر مزېـدار ښـار دی،کـور پـه کـور او کوڅه پـه کوڅه اوبـه بهیـږي اوبـه پـه کـې ډېـرې زیـاتې دي ځمکـې یـې ډېـرې ښـې دي، لـیکن خلـک یـې هغـه شـان محنـت کـش او ابـاد کـار نـه دي او نـه یـې خلـک هغـه شـان ترقـي یافتـه دي او نـه یـې هغـه شـان پاخـه کلـي دي. پـه دې ملـک کـې د فـرانس حکومـت دی،دلتـه مـې پـه دې خلکـو کـې دا د صـفت یـوه خبـره ولیـده چـې پـه عیـسایانو او پـه مـسلمانانو کـې مینـه او

محبت دی او په دوی کې هغه بې اتفاقي او نفرت نشته لکه چې څنګه د فلسطین په مسلمانانو او یهودیانو کې ما لیدلي دي. زما په خیال په فرانسیانو کې لکه د پیرنګیانو په شان دا بد عادت نشته دی چې د خپل مطلب دپاره پخپلو رعایاو کې نفاق اونفرت پیدا کوي. د پیرنګیانو پالیسي خو د (divide and rule) ده، خلک بې اتفاقه کړئ او بیا پرې په مزه حکومت کوئ.

د بیروت په یوهوټل کې مې د یو مسلمان عرب سره خبرې وشوې هغه راته وې چې زه دلته د یوې کمېټۍ دپاره راغلی یم چې هغه کمیټي د فرانس حکومت د دې دپاره مقرر کړې ده، چې په دې خبره غور وکړي چې تش تعلیم د رعایا دپاره مفید نه دی. دې سره صنعت او حرفت هم په کار دي، زه حیران شوم چې د فرانس په دې ملک لس کاله لا د حکومت شوي نه دي او بیا ددوی د صنعت او حرفت ورسره فکر اوخیال دی. او په هندوستان د انګرېزانو د پاچايۍ تقریباً دوه سوه کاله وشو غریب رعایا هره ورځې د صنعت او حرفت چغې وهي، لیکن څوک پرې غوږ قدرې نه ږدي.د شام نه زه عراق ته لاړم، په موصل کې مو دوه ورځې تېرې کړې دا یو وړوکی مزیدار ښار دی او سیند په کې بهېدلی دی. خلکو کې شراب خوري او عیاشي زیاته شوې وه که چېرې د پیرنګیانو حکومت په دې خلکو ډېره موده پاتې شو، نو زما په خیال به بالکل تباه او برباد شي. د موصل نه بغداد ته لاړم بغداد کې مې کافي ورځې تېرې کړې په دې ښار کې هم بې شماره شرابخانې وې،د شرابو اکثر دکانونه د هندوستانیانو دي چې د پیرنګیانو قبضه

کېدو سره هلته تللي دي.دديې ښار اخلاقي حالت ښه نه و او پیرنګیانو ډېر ارمینین هم دلته اباد کړي دي، بغداد یو ډېر مزېدار ښار دی او د ښار په مینځ کې یو لوی سیند بهېدلی دی. د بغداد نه کربلا ته او نجف ته لاړم، دا دواړه ډېر متبرک ځایونه دي او د لرې لرې ملکونو نه مسلمانان خصوصا شیعه ګان د حضرت علي«رض» او د امامانو زیارتونو له راځي، دا زیارتونه په یوه لویه پیمانه باندې ډېر مزېدار جوړ دي په لیدو یې د سړي زړه خوشحاله شي. شیعه ګان غریبانان تر اوسه پورې هغه شان هلته ځانونه ټکوي او جنګلو سره ډغرې وهي او په زار زار ژاړي. ددې په لیدو سړي ته هغه پخوانی حالت را په مخکې شي.د نجف نه بیا زه کوفې ته لاړم. کوفه نجف ته نزدې ده کوفه یو وړوکی غونډې ښار دی او د سیند په غاړه اباد دی، د نه ترقي وجه یې خلک دا بیانوي چې د دې ښار د هغه وخت اوسېدونکو حضرت امام حسین صاحب او د هغه اولاد سره غداري کړې وه نو الله تعالی د دې ښار اوسېدونکو ته دا سزا ورکړه. که چېرې دې خلکو حضرت امام حسین سره وفا داري کړې وی او هغوی کامیابه شوي وی نو د دې ښار به دا حالت نه و.او دا ښار به د بغداد په ځای د عراق دارالخلافه وی په دې ملک کې پیرنګیانو ډېر نهرونه جاري کړي دي او چې کومو ځمکو ته د نهرونو په ذریعه اوبه نشي رسېدلی نو هلته یې په سیند باندې مشینونه لګولي دي، د هغې په ذریعه اوبه خور کېږي، یوځوان عرب ما سره په رېل کې سفر کوو هغه ته مې ووې چې د پیرنګیانو په راتلو خو ستا سو ملک ښه ابادشو او تاسو ته ډېرې فایدې ورسېدې هغه زما دې خبرې

پورې وخندل او ويې وې چې بې شکه دا د يو قوم د غافلولو دپاره ډېر ښه ترتيب دی دا ته چې څه ته ترقي وايي، دا د يو قوم او ملک دپاره اصلي ترقي نه ده او نه دا پيرنګيانو زمونږ د ترقۍ دپاره کړي دي، د دې نه مطلب د هغوی زمونږه اوده کول او غافله کول دي، چې مونږ په دې مشغوله شو او هغوی په مزه زمونږ په ملک کې حکومت کوي دا خو په حقيقت کې د غلامۍ يو جال دی چې زمونږ د غلامۍ دپاره هغوی خور کړی دی، په عراق کې يهوديان او عيسايان خو نشته خو هلته پيرنګيانو شيعه او سني په جنګ کړي دي. چې په کومو ښارونو کې سنيان زيات دي او شيعه ګان په کې لږ دي نو هلته دوی د شيعه ګانو ملګري دي او چې په کومو ښارونو کې شيعه ګان زيات دي او سنيان کم دې نو هلته د سنيانو ملګري دي ليکن د دوی دا پاليسي کامیابه کېدی نه شي ولې چې په عراق کې د شيعه ګانو ابادي ډېره کمه ده.

بيا زه بصرې ته راغلم او د څو ورځو قيام نه پس په جهاز کې سور شوم او په کراچۍ کې کوز شوم.

په عربو کې چې څه وخت د پيرنګيانو حکومت قايم شوی دی، نو د نورو ځيزونو نه علاوه دوه ځيزونو له دوی ډېره ترقي ورکړې ده، يو شرابخورۍ له او بله ډم بازۍ له، په هر ښهر کې د شرابو دکانونه دي او د ډمو بازارونه دي، باجې دي، عيشونه دي او سرودونه دي او د خلکو اخلاقي حالت يې ډېر خراب کړی دی، يوه ورځې د بصرې په بازار کې ګرځېدم چې چوک ته ورسېدم نو په چوک کې مې پانسي لکه وليدله د تحقيق نه راته معلومه شوه چې په دې پيرنګيانو ډېر قوم پرست عرب

پانسي کړي دي او ډېر ظلمونه يې عربو سره کړي دي. د هندوستان په اخباراتو کې به مو د شام د ظلمونو کيسې لوستې چې فرانس په عربو باندې کړي وو، ليکن په عراق کې چې پيرنګيانو په عربو کومې لوبې کړې وې، د دې متعلق مونږ چيرې د هندوستان په اخباراتو کې څه ليدلي نه وو، معلومېږي دا چې د هندوستان ځينې اخبارات څه خپل ضمير نه لري او چې پيرنګيان ورته څه وايي هم هغه ليکي. دلته هم د هندوستانيانو نه ډېر نفرت دی، ولې چې دوی د اسلامي اخوت په جامه کې پيرنګيانو ته ډېرې مخبرۍ کړې دي او ډېر عرب يې په پانسۍ کړې دي. په کار دي چې د داسې قوم نه نفرت وکړي او که لږ قدرې د عراق اختيار خپل شو د هغوی اول کار به دا وي چې دا خلک د خپل ملک نه وباسي.

څه وخت چې کراچۍ ته ورسېدم نو په بندر کې زمونږ د نوښار يو پښتون تانه دار و، هغه چې څه وخت په جهاز کې وليدم، نو را ترغاړه وتو او په زور يې خپل ځای ته بوتلم.

زمونږ د طورو نواب زاده امين الله خان هم په کراچۍ کې و، دی په رېل کې ډېر لوی افسر و، چې هغه خبر شو هغه راغی نو بيا هغه زه خپل ځای ته بوتلم، يو دوه ورځې مې ډېرې په مينه او محبت سره هغه سره تېرې کړې، بيا وطن ته را روان شوم او کلي ته په خيريت سره راورسېدم.

## پښتون (اخبار- مجله):

په جېلخانو کې ما د خپل قوم په حالاتو باندې په ښه شان سره غور کړی و، زه په دې نتيجه ورسېدم چې په دنيا کې هېڅ

قوم بغير د خپلې ژبې نه ترقي كولى نه شي.او په هغوى كې علوم او فنون پيدا كېدى نه شي. ما دا اراده كړې وه چې ضرور به يوه رساله په پښتو كې د خپل قوم د پوهولو، د دنيا د حالاتو نه خبرولو او د خپلې ژبې طرف ته د مايل كولو (مخ كولو) دپاره جاري كوم. او ددې كوشش به هم كوم چې انجمن پخپله ژبه كې د بچو دپاره د ابتدايي تعليم انتظام وكړي. حقيقت دا دى چې دغه وخت په پښتو ژبه كې هېڅ نه و او نه پښتو د چا ياده وه او پښتون قوم دومره ناپوهه، نادانه و، چې دا خپله ژبه ورته سپكه ښكارېده او چې كوم قوم ته خپله ژبه سپكه شي نو هغه سپک شي،او چې خپله ژبه ترې ورکه شي نو ورک شي.د راتلو سره ما دا دواړه خبرې انجمن ته پيش كړې.انجمن دې خبرو سره خو اتفاق وكړو، ليكن د مالي مشكلاتو په وجه پرې عملي قدم فوراً اخيستلى نه شو،د رسالې ذمه وارې ما په خپل سر واخيستله او عبدالاكبر خان او عبدالله شاه ته دا خبره حواله شوه چې د رسالې د جارې كولو دپاره اجازت نامه دې د حكومت نه واخلي ليكن په مينځ كې درې كاله تېر شو او هغوى د اجازت نامې دپاره يو درخواست قدرې هم ونه كړى شو، زه پوهه شوم چې بغير زما نه دا كار نه شي كېدى او د ۱۹۲۷ ع په اخر كې ما دې كار ته پخپله ملا وتړله او دا كار مې پخپل لاس كې واخيستو.

د اجازت نامې دپاره مې حكومت ته درخواست وركړو، اجازت نامه مې حاصله كړه او په ۱۹۲۸ ع كې مې د ((پښتون)) په نوم يوه رساله د پښتو په ژبه كې د اتمانزو نه جاري كړه. افسوس خو په دې دى چې پښتون دومره لوى قوم دى،او

خدای ورله د نعمتونو او دولتونو ډک ملک ورکړی دی ،نه د ده پخپله ژبه کې یوه رساله او نه یو اخبار شته.دا د پښتو ژبې اولنۍ رساله ده، چې د پښتنو په ملک کې جاري شوه، پښتون قوم ډېر خراج دی، لیکن دې قسم څیزونو باندې پیسې نه لګوي او په دې قسم څیزونو خرڅ کولو سره نا اشنا او نابلده دي.ډېرې پیسې ما د خپل جېب نه پرې خرڅ کړې. دې رسالې د پښتنو په ښځو او نرو کې یوه نوې ژندګي پیدا کړه او دا رساله پښتنو کې ډېره هردلعزیزه شوه. دا خپل ملک خو پرېږده پښتانه چې په یورپ،امریکه او استرېلیا کې ددې نه خبر شو نو هغوی به غوښته او امداد به یې هم ورسره کوو د پښتنو یې پښتو طرف ته شوق پیدا کړو او په افغانستان کې هم ښه لوستل کېده. عبدالهادي خان داوي ما ته کیسه کوله چې پښتون اخبار به کابل ته راغی په قومیت(ملیت) چې به کوم مضمونونه لیکل شوي وو هغه به یې مونږ لوستل او د افغانستان په خلکو کې هم پښتو طرف ته رغبت زیات شو او په امان الله خان خو یې دومره اثر وشو چې هغه اعلان وکړو چې خلکو له په کار دي چې پښتو ژبه زده کړي، درې کاله پس به په دې ملک کې پښتو تعلیمي او سرکاري ژبه وي او عبدالهادي خان دا راته هم ووې چې مونږ هم د یوې رسالې بنا وکړه او د هغې نوم مو هم پښتون کېښوده، نو امان الله خان راته ووې چې د پښتنو به بس دغه یو پښتون وي،نو ما بیا هغې خپلې رسالې له (د پښتنو ژغ) نوم کېښود ،لیکن افسوس چې پیرنګیانو دا خبره برداشت نه کړی شوه.او هغه ووې چې د دې رسالې یو څو نمبره وتي وو چې افغانستان کې بغاوت

وشو ،امان الله خان لاړو او د هغه په ځای (بچه سقه) د څه وخت دپاره د افغانستان په تخت کېناست.

زمونږ انجمن د پښتو د ترقۍ دپاره او د شاعرانو د خيالاتو بدلولو دپاره د مشاعرو انتظام وکړو ،او د ښو ښو نظمونو او بيتونو له پاره يې انعامونه مقرر کړل او په کال کې يو ځل چې د مدرسې کاليزه جلسه به کېده ورسره د مشاعرې دپاره به هم انتظام کېدو.د دې په وجه په پښتنو شاعرانو کې يو عظيم الشان انقلاب راغی او د خال و خط په ځای د اتفاق، وروری او قومي ترقۍ دور شروع شو په قوم او ملک کې يې د انقلاب دپاره يوه نوې جذبه پيدا کړه او په ښځو نرو کې يې داسې جوش پيدا کړو چې د جلسې په ورځ به د جلسې په ځای کې ځای موندل ګران شو ،او د ملک د هرې علاقې او تپې خلک که خان و که غريب و د انجمن په جلسه کې يې شرکت خپل فرض ګڼلو ،د ښځو دپاره خاص د پردې انتظام و او په سوونو ښځې به هم په دې جلسه کې شريکېدې، ليکن افسوس چې د انجمن ذمه دارو خلکو خپله اصلاح ونه کړی شوه او زمونږ د کور اختلاف دومره زيات شوی و، چې زمونږ نه د بهر کار پاتې شو که چېرې مونږ د انجمن هغه تبليغ او اشاعت او په ملک کې د دورو هغه کار جاري ساتلی وی،نو مونږ به ددې نه هم زياته ترقي کړې وه او زمونږ قوم او زمونږ ملک ته به زياته فايده رسېدلې وه،ليکن دا زمونږ او زمونږ د قوم بد قسمتي وه چې انجمن ته د خپلو جګړو نه دومره فرصت نه و، چې پخپل قوم او ملک کې ګرځېدلي وی او بې خبره او اُوده پښتون ورور يې خبر کړی او بيدار کړی وی، اخر دا چې خادم

صاحب، عباس خان او عبدالاکبر خان خپلو کې اوجنګول، نو دې انجمن ته نور هم زیات نقصان ورسولو بیا خادم صاحب زما او د عباس خان د جنګولو کوششونه شروع کړل،لیکن تر ډېرې مودې پورې کامیاب نه شو په یوه ګرمۍ کې زه کوه مري ته لاړم خادم صاحب ته میدان خالي شو او د عباس خان او زمونږ بعضې نورو د انجمن د ورونو په دماغو کې یې دا خیال پیدا کړو چې د لویې ونې د لاندې وړه ونه وده کولی نه شي او د هر قسم قربانۍ او خدمت چې تاسو کوئ،نو نوم پرې د هغه کېږي. څه وخت چې زه د مري نه واپس راغلم او د انجمن د بعضې ذمه دارو خلکو رویې ته مې کتل،زه ډېر پرېشانه شوم، هر ځای زما بر خلاف پراپېګنډه کېده،ما حاجي عبدالغفار خان سره مشوره وکړله، دا خلک مې د هغه په ذریعه را جمع کړل او په ډېر منت سره مې دوی ته ووې چې دا کار ښه نه دی او د دې نتیجه به زمونږ د انجمن بربادي وي،او خدای دپاره په دې خپل قوم رحم وکړئ. دی خو ډېر برباد شوی دی او په کار خو نه دي چې مونږ یې نور هم برباد کړو او دا یو بل باندې د دروغو الزامونه مه لګوئ.او د یو بل غیبت مه کوئ او هر څه چې وایئ خو د هغه سړي په مخکې وایئ چې د چا نه ستاسو شکایت وي،یا مو په هغه د څه قسم شک وي او یا ستاسو په خیال هغه څه غلط کار کړی وي،په ځای د دې چې تاسو پشي شا خلکو پسې خبرې شروع کړئ. نو دا د فایدې کار نه د نقصان دی،نو عبدالاکبر خان او میا عبدالله شاه به وخندل او خادم صاحب ته به مخاطب شول. او ورته ویل به یې چې خادم صاحب مونږ به پشي شا د چا نوم اخیستی شو که نه؟ خیر دا

خبرې دوی په خندا په ټوقو کې تېرې کړې. د شپې چې څه وخت د حاجي عبدالغفار خان په ځای کې ډوډۍ وخوړی شوه، نو زمونږ بعضې ممبران د عباس خان سره د څملاستو دپاره تلل نو ما هم ځان د دوی سره ملګری کړو، هلته هم ما دا بحث شروع کړو چې تاسو سره د پوهې ځانونه ولې داسې نادانه کړي دي؟ نو عباس خان راته صفا جواب راکړو چې یوه ونه چې ډېره لویه او ګوره شي، نو د هغې د لاندې نورې ونې وده کولی نه شي کومې پورې چې د هغې ونې شاخ تراشي ونه شي، نومونږ دا غواړو چې ستا لږه شاخ تراشي وشي ما ورته په خندا خندا کې ووې چې هسې نه چې هغه ټوقه دربانديې وشي چې د یوې ونې خو څه نه څه سیوری پیدا شوی دی او د پښتنو بچې د هغې سیوري د لاندې ناست دي او که د هغې ونې شاخ تراشي وکړئ او هغه بله ونه کې دومره طاقت نه وي چې هغه ستاسو د بچو دپاسه سیوری شي، نو نتیجه به یې دا وي چې ستاسو بچې به په نور (لمر) شي د دې دپاسه ما بیا هم خپل کوشش جاري وساته چې اخر به د دې اصلاح وشي لیکن اصلاح ونه شوه، اخر د عبدالاکبرخان د کلي په جلسه کې عباس خان یې ما سره وجنګولو، چې زه کلي ته واپس راغلم نو زه په دې نتیجه ورسېدم چې د موجوده جماعت اصلاح مشکله ده په دې وجه ما دا فېصله وکړه چې د انجمن د «انتظامیه» نه استعفا ورکړم په استعفا کې مې دا ولیکل چې ما ځنګه اول چنده درکوله په هغې کې به کمی نه راولم بلکې د هغې نه به زیاته درکوم او زه به د انجمن د نورو ممبرانو په شان یو عام ممبر یم او د انجمن د هر قسم خدمت دپاره به تیار یم، لیکن د

نن نه پس به زه د انجمن په انتظاميه جماعت کې نه يم او نه به د انجمن په انتظاميه جلسو کې شاملېږم. حکومت نه چې څومره کوشونه کېدی شو هغه لګيا و، زمونږ د انجمن د بربادلو دپاره يې کول ليکن دې دومره زورور حکومت هيڅ قسم نقصان زمونږ انجمن ته رسولی نه شو بلکه زمونږ انجمن ورځ په ورځ مخ په ترقۍ و، ليکن زمونږ دکور په بې اتفاقۍ زمونږ د لاسه چې څومره نقصان زمونږ انجمن ته ورسېدو هغه هومره نقصان ورته پيرنګيانو رسولی نه شو، انجمن هسې په نوم پاتې شو او ځای په ځای شاخونه يې په بندېدو شو او د انجمن سالانه جلسې هم پاتې شوې، زما د استعفا نه پس عباس خان هم څه ډېرې ورځې په انجمن کې پاتې نه شو، هغه هم د انجمن نه مستعفي شو او خپل مالي امداد يې پرې هم بند کړو او د خپل ورور فيض محمد خان امداد يې په زور په هغه بند کړو حالانکه چې فيض محمد خان په دې ډېر زيات ناراضه و، او څوځله يې ماته خپله ناراضي ښودلې وه، ليکن د مشر ورور مخې له ورتلی نه شو. عباس خان د انجمن او زما برخلاف پراپېګنډه شروع کړه ليکن په هغې کې کامياب نه شو.

چې څه وخت د انجمن حالت په ابترۍ شو نو خادم صاحب له هله هوش ورغی او بيا يې ماپسې تګ ودو او تله را تله شروع کړل، هره ورځ به يې راته څه نوی قومي راګ غږوو ليکن د هغه راګونو په ما اثر کولی نه شو، ولې چې دا ټوله تباهي د هغه د لاسه په انجمن راغلې وه، چې سړی خبرې يو شان کوي او عمل يې بل شان وي نو د هغه خبرې په خلکو ښه اثر نه کوي

اخر چې به کله نا کله ده زه ډېر تنګ کړم، نو سپینه خبره مې ورته وکړه چې خادم صاحب دا ټوله تباهي په انجمن تا راوستې ده. او ددې ټولې تباهۍ به خدای او قوم ته جواب ده او ذمه وار یې. یوه ورځې یې راته وویل چې انجمن شه او د انجمن په شان ځان کې طاقت پیدا کړه او دا ټولې کوټې (ډبې) ځان پسې را کاږه ما ورته وې چې خادم صاحب انجمن هغه کوټې راښکلی شي، چې کومو کوټو ته بریکونه لګېدلی نه وي او چې په کومو کوټو بریکونه لګېدلي وي یا لګي نو بیا ممکنه نه ده، چې انجمن هغه کوټې راکاږي کله نا کله به یې راته په علاقه کې د ګرځېدو کیسه را مخکې کړه، لیکن زما ورته هم هغه یو جواب و، چې تا سره دوري کولی نه شم او که چیرې انجمن ما له حکم راکړي نو زه هر وخت حکم منلو ته تیار یم. هغه د پښتو خبره چې خادم صاحب ته مې (کړښه) راښکله نو ایله هغه څه نا څه پخپلې غلطۍ پوه شو او محسوسه یې کړه.

## امان الله خان:

څه وخت چې افغانستان کې شورش شروع شو، دا انقلاب نه و، شورش و امان الله خان قندهار ته لاړو، په کابل بچه سقاو قبضه وکړه. انګرېزي اخبار اتو د افغانستان برخلاف کیسې، طعنې او خوشحالۍ شروع کړې، نو زه پوه شوم چې پیرنګیان چې په افغانستان کې د پښتنو ترقۍ ته کتی نه شي نو مونږ به ترې دلته په سرحد کې څه ترقي وکړی شو؟ او فوراً مې دا اراده وکړه چې په دې راز پښتانه پوهول په کار دي.او

دوره مې شروع کړه کلي په کلي،ښار په ښار او علاقه په علاقه وګرزيدم، جلسې مې وکړې، د خدای په فضل ټول پښتون يکدم د خوبه را بيدار شو، پوهـ شو او د خپل قوم تباهي او بربادي يې محسوسه کړه او د افغانستان د خدمت د پاره يې ملا وتړله، په بعضې علاقو کې ملايانو چې څه نه څه مخالفت شروع کړو، ليکن چې د قوم په جذبه پوهـ شول نو مخالفت يې پرېښود.که بعضې ملايان د خپلو ذاتي فايدو په وجه قلار نه شو، نو قوم په زور او بې عزتۍ د هغوی خولې بندې کړې،مونږ سره په دې معامله کې د قوم شاعرانو هم ډېر زيات امداد اواخلاص کړی و، او د قامولۍ يوه نوې جذبه يې په قوم کې پيدا کړې وه،او په دې معامله کې تور سم خان د دوسرو زمونږ سره ډېر مدد کړی و،ده به اشعار جوړول او مونږ به په پښتون اخبار کې شايع کول چې د هغې نه يو بيت دا دی:

ماوې دا سړی زمونږ قوم کې خلل دی
اوس دې وليد چې د ږيرې خاوند غل دی

دا بيت دومره مشهور شو،چې ږيرې والا به خلکو ليدو چغه به يې کړه، ږيرې والا غل،او په دې ورځو کې د کيسه خوانۍ په بازار کې د ږيرې خاوند ګرځېدی نه شو. او خانمير هلالي خو زما سره په ټولو دورو کې شريک و،او داسې نظمونه يې جوړ کړي وو او د افغانستان يې په کې داسې خاکه را ښکلې وه، چې د هغې په اورېدو تقريباً هر پښتون پوهـ شو او ماته هم په تقرير کې د هغوی د پوهولو ضرورت پاتې نه شو او په دې کې زمونږ د مدرسې هلکانو ډېره حصه اخيستې

وه،زمونږ انجمن هم هر قسم مالي او جاني خدمت ته تيار شو،د افغانستان د پښتنو بربادي او غم د سرحد پښتنو خپل غم او خپله بربادي ګڼله، ځکه چې مونږ يو ورونه او يو قوم يو.او د سرحد په پښتنو کې د افغانستان د ورونو د امداد او همدردۍ يوه داسې جذبه پيدا شوه چې زه د هغې بيان کولی نه شم که امير و که غريب و،که تعليميافته و اوکه بې علمه ښځې وې او که نر وو د افغانستان په مصيبت زهير وو. او د امان الله خان دوباره حکومت قايمولو دپاره هر خدمت ته تيار وو او خلکو به دعاګانې کولې چې ای الله ته زمونږ غمخور بادشاه امان الله خان ته کاميابي ورکړې. په پښتنو کې ډېر بادشاهان تېر شوي دي،ليکن د پښتنو ښځو،نرو چې څومره مينه او محبت د امان الله خان سره و، هغه بل بادشاه سره نه و، امان الله خان به وې چې زه د پښتنو انقلابي بادشاه يم.او د هغه دا خبره بالکل رښتيا وه چې هغه په پښتنو کې يو عجيبه انقلاب پيدا کړو،او زه چې نن پښتنو ته ګورم نو حيرانېږم چې په پښتنو کې دا دومره زر دا تبديلي د قومولۍ او ورورولۍ احساس پيدا شو او سياسي شعور په کې راغی.انقلاب يو سېلاب وي، چې راشي نو اوده خلک يوسي اوويښ ترې فايدې اوچتې کړي. د افغانستان انقلاب کې د افغانستان پښتانه لاهوشول، مونږ کوزو پښتنو ترې فايدې اوچتې کړې، ولې چې مونږه ويښ او بيدار وو د کوزو پښتنو زړه چېرته په تشو دعاګانو او جلسو باندې قراربده هغوی د افغانستان په دې غم او مصيبت کې عملي شرکت غوښتو او ددې خبرې خواهش يې لرلو چې افغانستان ته لاړ شو او خپلو ورونو سره

په دې غم کې شریک شو.او د خپلو زخمیانو ورونو دارودرمل وکړو او د هغوی پس ماندګانو سره امداد وکړو،چې څوک مړه دي او بچي او ښځې یې پاتې شوي دي،د دې دپاره مو یوه کمېټي جوړه کړه چې د هغې نوم«افغان هلال احمر» و.او د دې کمېټۍ کار د افغانستان د پښتنو طبي او مالي خدمت و، کلي په کلي علاقه په علاقه خلکو د دې کمېټۍ دپاره د چندې جمع کولو انتظام وکړو او په یو لږ وخت کې یو طبي وفد تیار شو چې هغه زما د مشر ورور ډاکټر خانصاحب په سرپرستۍ کې تلو ته تیار شو، د افغانستان په امداد کې یو پښتون هم څه کمی کړی نه دی. لیکن د بنو خلک، د ډېره اسماعیل خان کُنډي خاندان، د سودم خانان، د بایېزو خانان، قاضي عطاالله خان، علي اصغر خان، علي ګل خان او میا احمد شاه صاحب د ډېر تعریف وړ دي، لیکن پیرنګیانو دا خبره چېرته خوښوله، د هغوی په زړه دا چېرته ځایېدی شوه چې د افغانستان د امداد دپاره دې د سرحد پښتانه لاړ شي ولې چې په دې طریقه خو زمونږ ورورولي او قومولي قائمېده او هغوی چېرته دا غوښتل. مونږ له یې اجازه رانه کړه. ما خو ډېر دا کوشش وکړو چې د دوی د اجازې نه بغیر مونږ له افغانستان ته تلل په کار دي، مونږ ته د پیرنګیانو د اجازې او د پاسپورټ څه ضرورت نشته،ولې زما دا خبره کمېټۍ ونه منله او ما دا هم کمېټۍ ته وویل چې تر څو امان الله خان په افغانستان کې وي،مونږ له انګرېزان د تلو اجازت افغانستان ته نه راکوي.خو کمېټۍ به ویل چې مونږ خو که بغیر د انګرېزانو د اجازت نه لاړ شو نو بیا به په مونږه دارو او درمل بند کړي. پیرنګیانو خو اول دا

اعتراض اوچت کړو، چې تاسو خو د امان الله خان امداد دپاره ځئ.لیکن که هغه هم ستاسو د امداد خواهش وکړي، که چېرې تاسو د هغه اجازت نامه راوړه بیا مونږ تاسو له د تلو اجازه درکوو. زه او میا جعفر شاه د دې کار دپاره مقرر شو چې امان الله خان ته لاړ شو او اجازتنامه ترې راوړو ولې ما کمېټۍ ته وویل چې مونږ خو د قوم اوخپلو ورونو د امداد دپاره ځو، په دې کې د امان الله خان د اجازې څه ضرورت دی اومونږ خو د پښتنو د امدا دپاره تلو.

مونږ اول د پېښور وکیل تجارت له لاړو چې هغه زمونږ دپاره اجازه را وغواړي،لیکن چې څو ورځې تېرې شوې او هغه اجازه راونه رسېده.نومونږ کندهار ته د تلو اراده وکړه چې د امان الله خان نه اجازتنامه راوړو. په شاهي باغ کې د پښتنو یوه عظیم الشانه جلسه وشوه، ما او جعفر شاه د خپلو تلو نه خبر کړل، لیکن دا مې ورته هم ووې چې دا ټولې د پیرنګیانو بانې دي،هغوی پخپل وس زمونږ وفد له د تلو اجازت نه راکوي او دا به تاسو ته ډېر زر معلومه شي، مونږ شپې له نوښار ته لاړو، شپه مو هلته تېره کړه د شپې یوه لویه جلسه وشوه او سبا له مونږ د نوښار د سټېشن نه رېل کې سواره شو.
د راولپنډۍ سټېشن ته ورسېدو، مولانا اسحاق صاحب هزاروي او د ښار ډېر مسلمانان زمونږ د لیدو دپاره سټېشن ته راغلي وو، او څه وخت چې زمونږ ګاډی لاهور ته راورسېدو،نو مولانا ظفر علیخان او د مسلمانانو او هندوانو ډېر لیډران زمونږ لیدو له راغلي وو،مونږ یې د ګاډي نه راکوز کړو او د لاهور ښار ته یې بوتلو او یو لوی جلوس یې

اوښکلو حالانکه زه د دې نه مخالف وم. په سبا له په لاهور کې د هندوانو او مسلمانانو یوه لویه جلسه وشوه، چې په هغې کې د حکومت د ملامتیا او موږ سره د امداد او همدردۍ تقریرونه وشول. او قرار دادونه پاس شول، بله ورځې موږ د کراچۍ په میل کې د لاهور نه کوټې ته روان شو، چې سکهر ته ورسېدو، د سندهـ حضرت مولانا او بعضې د سندهـ مسلمانان زموږ لیدلو له راغلي وو، هغوی سره مو ډېرې خبرې وشوې، دلته زموږ ګاډی بدل شو او موږ کوټې ته روان شو، سحر وختي زموږ ګاډی سبوې ته ورسېدو، زموږ ګاډی ولاړ دی او موږ په دې فکر کې یو چې چای به څنګه وڅکو چې په دې کې زموږ ډبې ته کپتان صاحبزاده خورشید چې د بلوچستان پولټیکل ایجنټ و او بل ورسره د پېو یو خان چې پولیس کپتان و، راننوتل زما په زړه کې څه شک پیدا شو، ګني دوی موږ پسې راغلي دي، هغوی موږ سره ګپ شپ شروع کړو او بیا یې موږ ته ووې چې راځئ دلته موږ سره په ارام چای وڅکئ، نو بیا به ګاډي کې کېنئ کوټې ته به لاړ شئ، موږ اصرار وکړو او ورته موو ویل چې ستاسو مهرباني ده، ګاډی به رانه لاړ شي هغه وې چې دلته ګاډی ډېر ساعت ولاړ وي، نو موږ هغوی سره روان شو، د کپتان خورشید بنګلې ته لاړو چای مو وڅکله، موږ تادي کوله چې ګاډی را نه لاړ نه شي، موږ ته معلومه نه وه چې حکومت موږ مخکې تلو ته نه پرېږدي، ګاډی لاړ او موږ پاتې شو، زموږ او د دوی په مینځ کې ډېرې خبرې وشوې، د ډوډۍ وخت راغی، ډوډۍ مو وخوړه، حکومت صاحبزاده صاحب او د پېو خان د دې دپاره

راپسي راليږلي وو، چې مونږ په دې رضا کړي چې په خوښه سره واپس پېښور ته لاړ شو، د هغوی او زمونږ په مينځ کې ډېرې خبرې وشوې، ولې مونږ په واپس تلو رضا نه شو او چې مونږ رضا نه شو؛ نو مازيګر چې کوم ګاډی راغی په زور يې په هغه ګاډي کې کېنولو، پوليس ته يې په حواله کړو چې مونږ د بلوچستان د علاقې نه بهر وباسي او چې جيکب اباد ته را ورسېدو نو هلته پوليس مونږ په سټېشن د ګاډي نه کوز کړو هغوی را نه لاړل او مونږ پاتې شو، مونږ جېکب اباد ته لاړو او يو وړوکی غونډې ځای مو په کرايه واخيستو او پېښور ته مو اطلاع ورکړه، چې مونږ حکومت کوېټې ته پرې نه ښودو او د سېوي د سټېشن نه يې را واپس کړو او مونږ کندهار ته نه پرېږدي او مونږ اراده کړې ده، چې د حکومت دا ناجايزه حکم ونه منو او سبا بيا د کندهار په طرف روانېږو. په سبا له مونږ د بلوچستان (Resident) رزډنټ له يو تار ورکړو، چې مونږ ستا د دې قسم ناجايز حکم منلو ته تيار نه يو او مونږ تا خبروو چې سبا له به بيا مونږ کوېټې ته روانيږو. د شپې په ګاډي کې مونږ بيا روان شو او چې سحر بيا زمونږ ګاډی د سېوي سټېشن ته ورسېدو نو څه ګورو چې مسلح سپاهيان سره د يو پيرنګي ولاړ دي ګاډی چې ودرېده هغه پيرنګی زمونږ ډبې له راغی او مونږ يې د ډبې نه کوز کړو دا ځل صاحبزاده صاحب او د پېو خان د دوی سره نه وو، زمونږ خو دا خيال و، چې جېلخانې ته مو بيايي ليکن هغه پيرنګي مونږ په وېټنګ روم کې کېنولو او په وېټنګ روم يې يوه ډبله پيره ودروله دا ډېر يو شريف پيرنګی و، ما ته يې په خبروخبرو کې ووې چې زه د دې

حکومت په پالیسۍ نه پوهېږم یو طرف ته خو وایي چې مونږ
غیر جانبدار یو او تاسو ته وایي چې لاړ شئ، مونږ له د امان
الله خان نه اجازتنامه راوړئ نو تاسو به پرېږدو او بل طرف ته
ما له حکم را کوي چې پام کوه چې دا سړي درنه مخکې لاړ نه
شي، او بیا تاسو د داسې کار نه منع کوي او ستاسو طبي وفد
نه پرېږدي چې په دې کې د خدای د مخلوق د خیر نه بل هېڅ
شی نشته. مازېگر چې بیا هغه رېل گاډی واپس راغی نو مونږ
یې په کې کېنولو او د جېکب اباد په سټېشن یې بیا کوز کړو،
مونږ ته معلومه شوله چې مونږ حکومت په هېڅ قسم کندهار
تللو ته نه پرېږدي نو هسې تلل راتلل مومناسب ونه گڼل او
اراده مو وکړه چې دهلي ته به لاړ شو او د افغانستان کونسل
جنرل سره به ووینو که هغه زمونږ دپاره څه د اجازه نامې انتظام
وکړی شي، دهلي ته روان شو، دهلي ته ورسېدو او کونسل
جنرل صاحب مو ولیدو او خبرې اترې مو وشوې، مونږ سره یې
ډېره همدردي ظاهره کړه او امان الله خان ته یې تار ورکړو او د
تار په ذریعه یې مونږ له اجازتنامه را وغوښته په دغه ورځې
مونږ ته په دهلي کې معلومه شوله چې پیرنگیانو د شور بازار
د حضرت ورور چې په هندوستان کې په کاټهیاواړ کې اوسي
را غوښتی، او د هغه پاوندو پسې چې د هغه مریدان دي د
امان الله خان برخلاف افغانستان ته لېږي، ځکه چې پیرنگیانو
ته معلومه شوې وه چې د خلکو څه نه څه همدردي د امان الله
خان سره پیدا شوې ده، او هسې نه چې هغه چېرته کامیاب
شي. مونږ د کونسل جنرل صاحب نه رخصت واخست او سرحد
ته را روان شو، څه وخت چې مونږ پېښور ته را ورسېدو نو

مونږ ته معلومه شوه چې د افغانستان وکیل تجار له هم د کندهار نه زمونږ دپاره د امان الله خان پخپل دستخط فرمان رالیږلی شوی دی. د دې دپاسه به بیا هم حکومت چل ول کوو او په مونږ به یې وخت هډوه څه وخت چې زما بالکل دا یقین راغی چې حکومت په هیڅ طریقه زمونږ وفد له اجازت نه ورکوي، نو ما خپلو د جماعت ملګرو ته ووې چې د حکومت دا ټولې انې بانې زمونږ د پاتې کېدو دپاره دي او که چرې تاسو د حکومت اجازت ته ناست یئ نو همدغه شان به ناست پاتې شئ او هیڅ قسم د افغانستان امداد به ونه کړی شئ او بله دا چې ایا افغانستان کې د دوی سفارت نشته؟ نو بیا د پاسپورټ ضرورت څه دی؟ مونږ خو افغانستان ته د پېرنګیانو په ذمه وارئ نه ځو، مونږ که افغانستان ته ځو نو پخپله ذمه وارۍ ځو، نو بیا د پیرنګیانو د راه دارۍ مونږ ته څه حاجت دی؟ لیکن زما داکثرو ورونړو داخیال و، زمونږ تلل او راتلل به بند شي او زمونږ د دې وفد په لاره کې به د دارو را غوښتلو په سلسله کې مشکلات پیدا شي او نه به مونږ د افغانستان ورونړو سره مالي امداد وکړی شو. ما ورته ووې چې په دې صورت کې به مونږ دغه شان په انتظار کې پاتې شو، د افغانستان به هډو د هیڅ قسم امداد ونه کړی شو. او امان الله خان چې تر کومې پورې په افغانستان کې وي نو دوی مونږ له اجازه نه راکوي او چې هغه د افغانستان نه لاړ نو بیا به مونږ له اجازه راکړي.

ما او زما یو څو ملګرو دا اراده وکړه چې مونږ بغیر د پیرنګیانو د اجازت نه د افغانستان د امداد دپاره روانېږو او

په دې غرض مو په پېښور کې يوه جلسه وکړه او قوم ته مو دا حقيقت ښکاره کړو، چې پيرنګيان مونږ له راهداري نه راکوي، او مونږ د دوی راه داري ضروري هم نه ګڼو، زمونږ افغانستان ورور دی او مونږ خپلو وروڼو له پخپله ذمه واري باندې ځو، چې څوک تلل غواړي او تلو ته تيار وي چې فوراً دې مونږ له د راهدارۍ له پاره درخواست راکړي او خپل تصويرونه دې ورسره راولېږي. زه د حکومت په دې خيال پوهـ شوم ليکن د جماعت اکثرو خلکو را ته ووې چې ستا هسې د دې حکومت نه نفرت دی او د دوی څېره درته د چل او دروغ ښکاري. زه چپ شوم او د راهدارۍ نه بغير د تلو خيال مې پرېښوده او د راهدارۍ دپاره مو تصويرونه او درخواستونه ورکړل.

## نادر خان:

د ډېرو ورځو نه په دې ملک کې دا ګونګوسې و، چې نادرخان د خپلو وروڼو سره د فرانس نه را روان شوی دی، بلکه ورځې راته معلومه شوه چې نادرخان سره د خپلو وروڼو پېښور ته را رسېدلی دی او دوکيل تجار په کور کې دی. زه او ډاکټر صاحب يې هم د ليدو دپاره لاړو، نادرخان او هاشم خان ما د اول نه پېژندل په ښه شان سره مو ملاقات وکړو، ډېرو خلکو پرې زور ولګولو چې قندهار ته لاړ شه او امان الله خان ورپسې ډېر استازي راولېږل ليکن نادرخان د قندهار د تلو دپاره تيار نه شو، يوه ورځې زه او نادر خان يوازې يوه کمره کې ناست وو، د افغانستان په مستقبل مو خبرې کولې چې ده

ما ته ووې زه چې هر څه کوم نو د امان الله خان دپاره يې کوم ماورته ووې چې خلک وايي چې د حبيب الله خان هغه زوی چې ستا خوريی دی تاسو د هغه په حکومت باندې د کېنولو دپاره کوشش کوئ،ده راته ووې چې ته به هم ژوندی يې او زه به هم ژوندی يم،که چېرې ما هغه بادشاه کړو يا پخپله بادشاه شوم،نو ته راشه او مخ را له تور کړه او راته ووايه چې نادره خپله وعده دې پوره نه کړه،څه ورځې پس هاشم خان جلال اباد ته او نادرخان او شاه ولي خان څائيو ته روان شول، زه يې په دې خبره مجبور کړم او وعده يې رانه واخستله چې سبا به مونږ تل کې يو. په سبا له هلته راشه او ما ضرور ووينه، زه سبا له تل ته لاړم ليکن نادر خان په مخه تلی و اوتل کې ايسار شوی نه و،د را روانېدو په وخت کې حکيم مې په موټر کې وليدو چې د نادرخان د ليدو دپاره څائيو ته روان و،هغه له مې يو خط ورکړو او په هغې کې مې نادرخان ته وليکل چې اوله وعده خو دې پوره نه کړی شوه،نو چې د بلې وعدې به دې څه حال وي؟. بغير زما نه د ټولو خلکو دا خيال و، چې پيرنګيان به د افغانستان د تلو او امداد دپاره مونږ له اجازت راکړي، ليکن زما دا خيال نه و،ولې چې دوی د امان الله خان غوندې د پښتنو خير خواه بادشاه په افغانستان کې نه غوښتو او زمونږ خوش اعتقاده ورونه په دې اميد کې پراته وو،چې نن دی که سبا دی اجازت به راشي د فصل وخت و،مونږ د افغانستان دپاره چنده جمع کولو په خيال د بايېزو په دوره وو خلکو را سره ډېر په اخلاص او خوشحالۍ د ټول زکواة د راکولو وعدې وکړې، پښتانه د افغانستان د ورونو هر قسم امداد کولو ته

تیار وو، زه او خوشحال خان د باري کاو د سخاکوټ په لاره مردان ته را روان شو، چې مردان ته را ورسېدو نو خبر شو چې امان الله خان د جنګ خیال پرېښودی دی او کوېټې ته راغلی دی. د دې خبر په اورېدو په ما ډېر غم او خفګان راغی. خوشحال خان کلي ته رخصت شو، او زه د قاضي عطاالله خان ځای ته لاړم او په یو کټ کې وېروېر پرېوتم څو ورځې پس څه وخت چې امان الله خان بمبئ ته ورسېدو زه ډاکټر صاحب او نورو دوستانو مجبور کړم چې بمبئ ته لاړ شه امان الله خان ووینه او د افغانستان متعلق مشوره ورسره وکړه او دا خبره معلومه کړه چې که مونږ د افغانستان سره د څه قسم امداد کول غواړو نو د چا سره وکړو او دا هم معلوم کړه چې د نادر خان او د هغوی د ورونو متعلق د هغه څه خیال دی؟. زه بمبئ ته لاړم عبدالهادي خان داوي هم هغه سره و، او د هغه په ذریعه مې د هغه سره ملاقات وشو، خبرې مو وشوې.

ما د افغانستان ته د واپس د تلو خبره وکړه، لیکن هغه د افغانستان نه مایوسه شوی و، او د افغانستان خیال یې پرېښی و، د پښتنو نه ډېر مور معلومېده زما چې ده سره ملاقات وشو، نو ما سره یې په پښتو کې خبرې وکړې، د ګفتګو په دوران کې د نادرخان دوی ذکر هم راغی او ما ورته دا وویل چې مونږ سره چې د افغانستان دپاره کوم حساب جمع دی هغه چاله ورکړو؟ نو په جواب کې ده راته ووې چې تاسو یې نادرخان ته ورکړئ او د نادرخان امداد وکړئ ملاقات ختم شو، په ډېر خفګان سره مونږ د یوبل نه جدا شو په هغه هوټل کې هغه سره نور هم ډېر سرداران وو. هغوی سره مې هم لیدل

کتل وشو او د شیې عبدالهادي خان د بمبۍ د کونسل په کور کې زه مېلمه کړم او د ډوډۍ په وخت کې مې نورو ډېرو سردارانو سره خبرې اترې وشوې.د دې خلکو دا خیال و،چې امان الله خان به ضرور واپس افغانستان ته راځي ځکه چې په موجوده جنګ کې کوم کوم جرنیلان د بچه سقه د لرې کولو کوشښونه کوي،هغوی په کور کې بې اتفاقه دي او په یو او بل اتفاق کولی نه شي او د ټولو اتفاق په امان الله خان راتلی شي، دغه جرنیلان یو نادرخان و، چې د ځاځیو په مرسته یې کابل اخیستو او بل غلام نبي خان و،چې د ترکستان د طرف نه په کابل حملې کولو دپاره را روان و،زه د بمبۍ نه واپس راغلم دا ټولې خبرې مې انجمن هلال احمر ته ورسولې او د امان الله خان خیال او رایې او د نادرخان متعلق خبره مې هم هغوی ته ظاهره کړه، او دا تجویز مې پېش کړو چې دا څومره روپۍ هلال احمر سره جمع دي او کوم سامان چې د طبي وفد دپاره مونږ ته خلکو راکړی دی دا ټول نادرخان له لېږل په کار دي، لیکن په دې کې بعضې وکیلانو چې د هغوی سرغنه ابراهیم خان د چینې و مخالفت وکړو. زما په خیال د هغوی د خپلو چندو واپس اخستو دپاره دا بهانه وه اخر فېصله په دې وشوه، چې څوک خپلې روپۍ نادرخان ته لېږل نه غواړي نو هغوی ته دا حق حاصل دی چې خپلې روپۍ واپس واخلي، حالانکه د هلال احمر د قانون نه دا خبره خلاف وه،او تقریباً اکثرو وکیلانو چې مونږ له څه نه څه چنده راکړې وه، واپس یې

واخیسته بیا هم مونږ نادرخان له پنځوس زره نغدې روپۍ او هغه ټول سامان چې مونږ له خلکو را کړی و ولېږه او په علاقه کې مو د چندې دپاره انتظام هم وکړو.

په دې ورځو کې هر سړی په جوش کې و، زمونږ د اسلامیه کالج په هلکانو کې هم یوه زبردسته جذبه را وچته شوې وه، د افغانستان دپاره چنده مې هم را جمع کړې وه، د دسمبر میاشت وه کالجونه بند وو، زما د یو طالب علم دوست میا اکبر شاه د بدرشو دا خیال و، چې د پښتنو د ځوانانو یو انجمن قایمول په کار دي. هغه یوه ورځې د میا احمدشاه صاحب په ځای کې ما سره دا ذکر وکړو، چې مونږ د صوبه سرحد ځوانان راجمع کېږو او که چېرې ته د مېلمنو دپاره انتظام وکړې، نو دا به په مونږ یو لوی احسان وي، ما ورته ووې زه هر وخت ستاسو خدمت ته تیار یم لیکن که د پېښور په ځای په اتمانزو کې راجمع کېږئ نو دا به بهتر وي. هغه زما دې خبرې سره اتفاق وکړو او په اتمانزو کې را جمع شو، زما د انجمن بعضې ممبران هم دوی سره د تبادله خیالاتو دپاره ما راغوښتي وو، بحث شروع شو چې په صوبه سرحد کې یوتهـ لیګ (Youth league) جوړول په کار دي. د بعضې خلکو داخیال و، چې د یوتهـ لیګ په ځای دې د هغې نوم د صوبه سرحد د ځوانانو جرګه وي، لیکن زمونږ د انجمن صدر عبدالاکبر خان او سکرټري خادم محمد اکبر د دې مخالفت وکړو چې د پښتنو یو جماعت خو قایم دی چې ستاسو او د

هغې په اغراضو مقاصدو کې فرق نشته په دې وجه د نوي جماعت د قايمولو ضرورت نشته، دغه جماعت له ترقي ورکول په کار دي، ليکن ځوانان ډېر په جوش کې وو هغوی دې خبرې سره اتفاق ونه کړو، زمونږ د خلکو دا خيال وي چې ګني ترقي د يو نوي انجمن قايمولو سره لګېږي د نادرخان تار ماله راغی چې کابل فتح شو او چې خلک خبر شو چې کابل فتح شو نو يو قسم خوشحالي په خلکو راغله چې بيان يې کولينه شم. بله دا چې د قوم حوصلې زياتې شوې او د ملک د بر سر او د کوز سر نه جلوسونه او جنجونه را روان شول په جلوسونو کې خلک ګډېدل ځکه چې ډېر خوشحاله وو، د غريبنونو ډزې وې ټوپکې هم خلاصېدې.

دا ټول جلوسونه په اتمانزو کې يو ځای شول او يوه لويه جلسه وشوه، په جلسه کې نورو زمونږ ملګرو هم تقريرونه وکړل او ما هم په اخر کې تقرير وکړو، د تقرير په دوران کې مې پښتنو ځوانانو ته ووې د کابل د فتحې نه سبق واخلئ د افغانستان د فتحې په سلسله کې ډېره حصه ستاسو د کوششونو ده، په دنيا کې داسې هېڅ کار نشته چې هغه کېدلی نه شي، خو چې څوک يې کولو پسې ملا وتړي، نپولين به وې چې زما په ډايرۍ کې د ناممکن لفظ نشته تاسو اوده يئ د دنيا نه بې خبره يئ زه مو خبروم.

کابل د ۱۹۲۹ع کال په اکتوبر کې فتح شو او نادرخان د خپلې بادشاهۍ اعلان وکړو، په دې خبره باندې مونږ ډېر

حېران شو، ولې چې داسې کار يې وکړو، چې زمونږ په خواب اوخيال کې نه و، ځکه چې هغه خو مونږ سره وعده کړې وه چې زه به نه باچا کېږم.

مونږ خو پرېږده چې خپلو خلکو سره يې کومې وعدې کړې وې هغه يې هم ماتې کړې. په دغو ورځو کې عبدالهادي خان چې کابل ته روان و،ومې ليدو زما په ليدو سره يې وخندل او ويې ويل چې کم بخت په يوه وعده هم ټينګ نه شو،که بادشاهي يې خوښه وي نو کم از کم (Constitutional Monaechy)«کانستي ټيوشنل مانر کې» اعلان به يې کړی وی. د نادر خان بې وفايۍ زمونږ په خلکو ډېر خراب اثر کړی و،ليکن مونږ څه کولی شو. مونږ دا خبره خدای ته پرېښوده چې خدای دې سزا ورکړي، چې بيا څوک قوم سره داسې کيسه نه کوي، د افغانستان د فيصلې نه پس مونږ وزګار شو ميا احمد شاه صاحب مې هم راضي کړو،اومونږ د خپلې صوبې د دورې اراده وکړه.زه او عبدالاکبر خان او احمدشاه د کوهاټ، بنو، ډېره اسماعيل خان په دوره ووتو،د دوی تقريرونه به په جرګه يعنې يوتهـ ليګ (Youth league) باندې وو او ما به خلکو سره د قوم او وطن خبرې کولې او په هر ځای کې زمونږ دا دوره ډېره کامیابه ثابته شوه.

***

# منظم سیاسي جدوجهد، خدايي خدمتگاري، لاهور کې د ال انډیا کانګرس جلسه سنه ۱۹۲۹ ع خدايي خدمتگاري، دورې او سرې جامې (مردان، بايي زي، سودم، اکبر پوره، نوښار، خیشکي، نسته)، سالاران، مرغزکې لویه جلسه او یوه قامي پریکړه، اتمانزو کې لویه جلسه او مشاعره

## لاهور کې د کانګرس جلسه ۱۹۲۹ع:

په دسمبر ۱۹۲۹ع کې په لاهور کې د کانګرس سالانه جلسه وه او چونکه لاهور صوبه سرحد ته ډېر نزدې و، په دې وجه د صوبه سرحد ډېر خلک د کانګرس د جلسې د ليدو له پاره لاړل. ما او امير ممتاز خان زمونږ د ازاد سکول هيډماسټر د تللو اراده وکړه. مونږ کانګرس کې نه وو، مونږ خو خلافت کې وو او مونږ تماشې له تللي وو، د کانګرس جلسې زمونږ په ځوانانو باندې ډېر ښه اثر وکړو او بيا دې خبرې پرې ډېر اثر وکړو چې ځوانان خو پرېږده د هندوانو جينکو هم د ملک د ازادۍ او د خدمت د پاره ملا تړلې ولاړې دي. مونږ هم د کانګرس په پنډال کې ځاى په ځاى وګرځېدو، مونږ چې د جينکو «والنټيرو» (Volunteers) «رضاکارانو» دا قومي جذبه وليدله نو د دې نه ډېر متاثر شو.

مونږ د صوبه سرحد نه تللي ټول ملګري هلته را جمع شو ما ورته ووې چې سړي خو پرېږده د هندوانو ښځې هم بيدارې شوې دي او د ملک د ابادۍ د پاره يې ملا تړلې ده په پښتون د ښځو ډېر اثر کېږي، د دې خبرې په هر يو ډېر اثر وشو او هر سړى چې لاهور ته تللى و، نو په زړه کې يې د قام او وطن احساس پيدا شوى و، جلسه ختمه شوه.

## خدايي خدمتګاري:

مونږ چې د لاهور نه واپس شو نو په اتمانزو کې مو لويه جلسه وکړه، زه په جلسه کې را پاڅېدم او خلکو ته مې ووې، چې تاسو خو اوده يئ او سړي څه کوې، چې د هندوانو ښځې

هم را بیداري شوې او هغوی سرو سره یو ځای د ملک د ازادۍ دپاره ملا تړلې ده او جدوجهد کوي. تاسو خو لږ دې لمر خاته ته وګورئ څومره لوی سېلاب را روان دی او سېلابونه همېشه اوده قومونه وړي پاځئ، ویښ شئ او ملا وتړئ، تاسو خو وګورئ، پیرنګیان وایي چې هندوستان مونږ په تُوره فتح کړی دی دا زمونږ دی او مونږ به پرې حکومت کوو او ګټه وټه یې زمونږ ده، هندوان پیرنګي ته وایي چې تاسو مونږ په زوره نیولي یو، اوس چې مونږ پوهـ شو او متفق شو خپل وطن درنه اخلو دا زمونږ وطن دی اوس به پرې مونږ حکومت کوو، تاسو د دې نه خبر یئ که نه؟ زه مو خبروم چې خبر شئ د هندوانو او پیرنګیانو په دې جنګ دی چې پیرنګی وایي چې هندوستان کې به بادشاهي مونږ کوو او هندوان وایي چې دلته به بادشاهي مونږ کوو او مسلمانان د غفلت په خوب اوده دي، نو ای پښتنو ورونو زه ستاسو نه پوښتنه کوم چې تاسو به څه کوئ، ناست به یئ دوارو ته به دعا کوئ او د غلامۍ او پېټي توب ژوند به تېروئ. (مونږ چې هلکان وو، غوزان به مو کول، لویه دایره به مو را ښکله او په هغې کې به مو غوزان کېښودل، ګټه بایلات به د دوو لوبغهډو و، یو درېیم سړي به دوارو له غوزان را ټولول هغه سړي ته به یې پېټي ویلو چې چا به غوزان وګټل نو هغه ته به یې دوه غوزان ورکول.) نو ای پښتنو تاسو ته وایم دا د پېټي توب ژوند خوښوئ او که تاسو هم ځان د دې وطن مالکان ګڼئ؟ نو پاځئ او ملا وتړئ او دا خپل ملک خپل کړئ. جلسه په ډېر جوش و خروش ختمه شوه او په پښتنو زما د تقریر ډېر ښه اثر وشو. د شپې زمونږ د کلي

محمد اکبر خان، سرفراز خان او حجاب ګل او يو څو نور هلکان زما دليدو دپاره زمونږ حجرې ته راغلل او ما سره يې د يو جماعت د جوړولو مشوره وکړه ما هغوی په ښه شان پوهه کړل چې دا لوبې ټوکې نه دي دا ډير مشکل کار دی، د دې په لار کې ډير اغزي دي په تاسو به زما د تقرير ډير اثر شوی وي، خو لاړ شئ. په دې معامله ښه غور او فکر وکړئ، هغوی مې رخصت کړل، بله شپه بيا راغلل، ما ورته ووې چې ستاسو په ذهن کې زما هغه تقرير لا اوس هم ناست دی. تاسو د دنيا تاريخ وګورئ په دنيا کې چې څوک د خدای د مخلوق د خدمت دپاره پاڅيدلي دي، نو په هغه مصيبتونه او تکليفونه راغلي دي، تاسو بيا په دريم ځل په دې ښه غور او فکر وکړئ. بله شپه بيا راغله او راته يې وويل چې مونږ په دې کار ډير غور او فکر وکړ. مونږ د قوم او ملک د خدمت دپاره د هر قسم تکليفونو، مصيبتونو او قربانيو ته تيار يو، بيا مونږ کېناستو او په دې خبره مو غور کولو چې د دې نوي جماعت نوم دې څه وي. زما دا خيال و، چې په دې پښتون کې د خدمت خيال نشته، په دې جماعت مونږ يو داسې نوم کېږدو چې د پښتنو په دماغ کې د خدای دپاره د خدمت خيال پيدا شي، قسم قسم نومونه پېش شول، خو زمونږ خوښ نه شول، د شپې زما په زړه کې د خدايي خدمتګار نوم راغی. چې سبا له دوی راغلل نوما ورته دا نوم وړاندې کړ، د دوی هم خوښ شو، او دعا د خير پرې وشوه دې نوم زمونږ په زړونو کې يو قسم اطمينان پيدا کړو، مونږ پښتانه خدايي کار او خدمت هغه کار او خدمت ته وايو چې بې دکومې طمعې، غرض او اجرت نه د خدای دپاره

کوو او خدای خو خدمت ته ضرورت نه لري، د خدای د مخلوق خدمت د خدای خدمت دی.

زمونږ په علاقه کې ملایانو، ډولکی او سرنا بند کړي وو، د ډمانو یو مشر و، هغه خپلو کشرانو ته ویلي وو، چې بچو دا ډول ډبلي د کوټې په تیر کې کېږدئ. اخر به خدای مسلماني راولي، نو ډمانو ته مو وویل چې هغه خپل ډول ډبلی را واخلئ هغوی ډېر خوشحاله شول، هغوی هم مونږ سره خدایي خدمتګار شول او مونږ د هشنغر او بیا د دواوې په دوره روان شو، او چې یو کلي ته به نږدې شو، نو ډول به مو وواهه، چې خلکو به د ډول او سرنا اواز واورېدو نو حیران به شول، ولې چې ډول او سرنا خو ملایانو بند کړي وو، نو چې چا به اورېده ښځې، نر، بچي به راغونډېدل او مونږ پسې به روان وو، مونږ چې به د کلي مېنځ ته ورسېدو نو ډول او سرنا به مو بند کړل، د کلي اکثر خلک به را غونډ شوي وو او دې کار مونږ سره ډېر مدد وکړو، نو ما به ورته یو مختصر غونډې تقریر وکړو، چې پښتنو وروڼو! مونږ ستاسو وروڼه یو، ستاسو خدمتګار یو، ستاسو خدمت له راغلي یو، راځئ چې دا خپل وران کور جوړ کړو، تاسو لږ دې دنیا ته وګورئ که علم مو نشته نو سترګې خو مو شته، د دنیا خلک او قومونه اسمانونو ته وختل او مونږ په مځکه پاتې شو، هغوی چې زمونږ په شان بنیادم دي، مونږ ورته لاس نیولي دي چا نه دانې غواړو چا نه پیسې غواړو، مونږ له خدای د جنت په شان ملک راکړی دی. د دولتونو او نعمتونو ډک دی او زمونږ په کې څه حال دی؟ د جوارو ډوډۍ نشته چې په مړه ګېډه یې وخورو هغوی ولې اباد

شول؟ او مونږ ولې پاتې شو؟ هغوی کې وروروليي ده، قاموليي ده، او اتفاق دی، په مونږ کې پرې دي جنبې دي او بغض دی، کينه ده، نفاق دی. دا نن دنيا د قامولۍ دنيا ده که قوم شوئ نو ستاسو دنيا به هم اباده شي او ستاسو اخرت به هم اباد شي.

زمونږ دې خبرو په خلکو ډېر اثر وکړو او مونږ چې به هر چېرته لاړو، نو ښځې، نر، واړه، زاړه به ټول را سره روان شول، نو ملايانو دا فتوه وکړه چې باچا خان دجال دی. د دجال په هکله دا مشهوره ده چې دی راشي نو ښځې، نر، اوماشومان به ور پسې وي. ملايانو به خلکو ته ويل چې تاسو نه ګورئ چې نر، ښځې، زاړه، واړه ورپسې دي؟

کوم ځوان چې به زمونږ جماعت کې داخلېدو نو هغه به عهد کوو مونږ به ورته ويلي چې دا لار ډېره ګرانه ده او په دې لاره کې ډېر اغزي مصيبتونه او تکليفونه او قربانۍ دي که دې ته تيار يې نو هله خدايي خدمتګار کېږه، ښه غور او فکر په کې وکړه، بيا به مو ورته ويلي چې خدای ته خو د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت دا دی چې د هغه د مخلوق خدمت د هغه د رضا دپاره وکړئ، بيا به مو ورته دا خبره وکړه چې پرې، جنبې، تربګنۍ به پرېږدئ ولې چې د دې دلاسه زمونږ کور وران دی، او که څوک دربانديې زياتی وکړي نو ته به ترې بدل نه اخلې، صبر به کوې بيا به مو ورته ووې چې تشدد به نه کوئ ولې چې تاسو وګورئ د پښتون خپل کور د تشدد په وجه وران دی او د ده تشدد خو خپل ورور سره دی بل ته يې ايمان نشته، خدايي خدمتګار به د خپل قوم او ملک خدمت د خدای دپاره کوي، بل غرض به يې نه وي رسم او رواج به پرېږدي او هره

ورځ بـه پخپـل لاس دوه ګېنتـې کـار کـوي، دا وعـده چـې بـه يـې وکـړه نـو هلـه بـه مـونږ د هغـه نـوم د خـدايي خـدمتګارو پـه فهرسـت کې وليکلو.

د عـدم تـشدد پـه هکلـه خلکـو کـې عجيبـه عجيبـه خيـالات دي د دې پـه هکلـه ډېـرې پراپېګنـډې کېـږي او پـه خلکـو کـې غلـط فهمـۍ پيـدا کـوي. څوک وايي چې کـه څوک پـه يـو مـخ څپېړه در کـړي نـو تـه ورتـه دا بـل مـخ هـم ونيـسه چـا بـه وې چـې تـه ورتـه پـروت اوسـه او بـل بـه در بانـدې ګرځـي چـا بـه وې چـې تـه بـه ورتـه پـروت يـې او هغـه بـه دې وهـي تـه بـه لاس پـښه نـه خوځـوې چـا بـه وې چـې پـښتون يـو بهـادر او زبردسـت قـوم دی،غفـار خـان يـې بزدلـه کوي،لنـډه دا چـې قـسم قـسم خبـرې وې،دراصـل عـدم تـشدد يـو طاقـت دی څرنګـه چـې تـشدد يـو طاقـت دی د عـدم تشدد هم دغه شان فوج دی لکه څنګه چې د تشدد دی.

خـو د عـدم تـشدد وسـله تبليـغ دی او د تـشدد وسـله ټوپـک دی،عـدم تـشدد پـه خلکـو کـې محبت پيـدا کوي،همت پيـدا کـوي او جـرات پيـدا کـوي او تـشدد پـه خلکـو کـې نفـرت پيـدا کـوي او وېـره پيـدا کـوي او بزدلـي پيـدا کـوي. بعـضې خلـک وايـي چـې د ((ډيفـنس))(Defence)(دفـاع) دپـاره خـو تـشدد پـه کـار دی، دوی دې تـه فکـر نـه کـوي چـې تـشدد دې وکـړو نـو د عـدم تـشدد لاره دې پرېـښوده حالانکـه عـدم تـشدد کـې خپلـه دفـاع شـته،عدم تـشدد کـې شکـست نـشته او تـشدد کـې شکـست شـته. څنګـه چـې د تـشدد يـو نظـام دی،دغـه شـان د عـدم تـشدد هـم مکمـل نظـام دی، تـشدد اسـان دی او پـه دې لاره تلـل هـم اسـان دي او عـدم تـشدد ډېـر ګـران دی او پـه دې لاره تلـل هـم ډېـر ګـران دي، يـو سـړي

له د پرق جواب کې پرق ورکول اسان کار دی، خو پرق زغمل ګران کار دی.

## دورې:

د هشنغر او دواوې نه پس زه او میا احمدشاه صاحب د صوابۍ په دوره لاړو، کلي په کلي وګرځېدو، او ډېر خلک په خدايي خدمتګارۍ کې داخل شول، کلي په کلي مو جرګې جوړولې. مونږ د هغه ځای نه بیا پېښور، خالصه او د داودزو کلي وکتل د مردان او بیا د بايېزو دوره مو وکړله او سودم او رستم له لاړو صاحبزاده خورشيد د ادينه او مولوي شاد محمد صاحب د تولاندۍ ما پسې راغلل بيا ما هغوی سره د امازو ګړۍ نه تر نارنجي پورې دوره وکړه، په دې دوره کې د صاحبزاده صاحب بايسکل مونږ سره ډېر مدد کړی و، زمونږ دا ټولې دورې به پياده وې. صاحبزاده صاحب به په بايسکل سور شو او زمونږ نه به یې مخکې یو کلي ته ځان ورسولو، مونږ چې به ورتلو نو هغه به د کلي خلک یو ځای ته راجمع کړي وو، مونږ چې به ورته تقرير شروع کړو نو صاحبزاده صاحب به د خپل بايسکل سره د بل کلي د خبرولو دپاره روان شو او په دې طريقه مونږ به په ورځ کې نهه لس جلسې کولې، په دې دوره کې مونږ ډېر کار وکړو او ډېرې جلسې مو وکړې د هغې لويه وجه دا وه چې روژه وه او خوړل څکل په کې نه وو، هغه وخت چې په خوړلو څکلو ضايع کېدلو بچ شو، اختر له مونږ ټول خپلو خپلو کلو ته لاړو او د اختر په دريمه ورځ چې په چارسده کې به یوه لويه مېله لګېدله (چې د نسرو مېله به يې

ورته وې) مونږ خپل خدايي خدمتګار د ډول سرنا سره د يو جلوس په طريقه ميلې له لاړو، په دغه ورځو کې زمونږ د خدايي خدمتګارو وردي د سپينې خامتا وه، هغه به زر خيرنه شوه او چې دوره کې به هغه خيرنه شوه نو ښه به نه ښکاريده، په مېله کې د لرې لرې علاقو خلک راغلي وو، هلته مونږ يوه لويه جلسه وکړه په زرګونو خلک راجمع شول خلکو کې ډېره مينه وه، محبت و، جذبه وه او په خلکو ډېر اثر وشو، ما خو هره جلسه کې هغه يو تقرير کولو بيا مونږ خالصې ته روان شو، ولې چې هلته هم په اکبر پوره کې يوه لويه مېله وي هغلته هم مونږ ته ډېر خلک راجمع شول او خپل اغراض او مقاصد مو ورته بيان کړل او په خلکو يې ډېر اثر وشو په لاره کې خدايي خدمتګارو د يو سړي نه د لارې تپوس وکړو هغه چې ورسره ډول سرنا وليدل ورته ويل يې ماته دا ساز وغږوئ نو بيا به درته لاره وښيم هغوی ورته ووې چې دلته ورو ستره يو سړی را روان دی هغه نه پوښتنه وکړه که هغه راته ووې، نو بيا به درته ساز وغږوو چې زه ور ورسېدم نو هغه سړي چې زه وليدم نو وشرمېدو او لاره يې راته وښودله. د اکبر پورې نه تارو ته لاړو او د تارو نه په ريل کې نوښار ته لاړو، د نوښار په صدر بازار کې مو جلسه وکړه او د خدايي خدمتګارۍ په مطلب مو خلک پوهـ کړل. شپې له پورې نوښار له لاړو د شپې د ډوډۍ انتظام معزالله خان کړی و، ګل احمد او يونس خان د نوښار په ډاګ کې د جلسې انتظام کړی و، په سبا له په جلسه کې خانان او غريبانان په لوی تعداد کې شريک شول. سربلند خان، سرفراز خان او امين الله خان او حضرت بادشاه سره د

خپلو زامنو فیروزشاه او سرور شاه او عبدالدیان جلسه په ډېره کامیابۍ سره وکړه. په نوښار کې ډېر جوش و خروش پیدا شو او حضرت بادشاه میا صاحب په جلسه کې اعلان وکړو چې ما خپل دوه زامن فیروزشاه او سرور شاه د خدایي خدمتګارۍ دپاره باچا خان ته بخښلي دي.

په نوښار کې چې ډېر خدایي خدمتګار او ممبران جوړ شو نو دلته مونږ جرګه جوړه کړه او د خدایي خدمتګارو جرنیل سرورشاه مقرر شو. ما خو وړاندې ددې خبرې ذکر کړی دی چې د خدایي خدمتګارو وردي د سپینې خامتا وه، خدایي خدمتګارو ما ته شکایت وکړو چې دا سپینه وردي په دوره کې زر خیرنه شي او د وینځلو هم څه انتظام نه وي، نو ښه به داوي چې مونږ ورله څه رنګ ورکړو نو ما ورته ووې چې ورکړئ، نوهغوی اتفاقاً سُور رنګ ورکړو خدایي خدمتګارو ځان له سرې وردۍ جوړې کړې، هر خدایي خدمتګار به ځان له پخپله وردي جوړوله. دې رنګ د خلکو په زړونو ډېر زیات اثر وکړو ځکه چې ښکلې وردۍ وې او زلمي به په کې ښکلي ښکارېدل او ټولو خدایي خدمتګارو یو شان رنګ ورکړو.

دغه د سرو جامو وجه وه چې پیرنګیانو بیا زمونږ برخلاف پراپیګنډه شروع کړه چې دا د بالشویکو تحریک دی. مونږ خوهغه وخت د دې نه خبر هم نه وو چې د بالشویکو هم سره وردۍ ده دا خو یوه اتفاقي خبره وه. ما تر دغه وخته پورې نه د مارکس، نه د لینن او نه د ګاندهي جې کوم کتاب لوستی وه او نه ترې خبروم. مونږ د نوښار نه خیشکو له راغلو او جلسه مو وکړه او ډېر خلک مونږ سره په خدایي خدمتګارۍ کې شریک

شول او سیف الملوک او تاج الملوک د سرخپوشو مشران مقرر شول.او بیا نیستي له راغلو دلته هم جلسه وشوه او ډېر خلک په خدایي خدمتګارۍ کې شامل شول د خدای شان و،چې پښتنو کې داسې یوه جذبه پیدا شوې وه، چې مونږ به کوم کلي ته ورغلو او خلک به زمونږ نه خبر شو نو په یوه منډه به مونږ له راتلل او د تقریر نه پس چې به ما اپیل وکه چې تاسو کې څوک شته چې د خدای دپاره د ملک او قام خدمت وکړي، نو یو به پاڅېدو چې زما نوم ولیکه د هغه پسې بل او بل به پاڅېدل چې زما نوم ولیکه او خدایي خدمتګارۍ کې به شامل شول.

زمونږ د جرګو د ممبرانو او خدایي خدمتګارو تعداد چې زیات شو نو مونږ د دوی تنظیم جوړ کړو.او د اتمانزو سرفراز خان د باوردۍ خدایي خدمتګارو سالار اعظم مقرر شو،د هغوی د منډاۍ د ډېوډۍ دپاسه یوه بالاخانه وه هغه د خدایي خدمتګارانو دفتر شو، دا مرکزي دفتر و، د سرفراز خان نه پس رب نواز خان سالار شو،او د هغه نه پس بیا امین جان خان سالار اعظم شو، دغه شان د ضلع پېښور سالار اینزرګل،د مردان سالار منیر خان ، د کوهاټ سالار اسلم ختک،د بنو سالار یعقوب خان، د ډېرو سالار مولا داد او د هزارې سالار داود خان او یو سالار کنور بهان نارنګ مقرر شول.

په دغه ورځو کې قلي خان چې د مومندو پولټیکل و، زمونږ مومندان وروڼه یې را اوغښتل او ورته یې وویل چې په تاریخ کې لیکلي دي چې د دې ملک خلک به بوټان ته ځي او دا ملک به ترې پاتې کېږي. که تاسو د دوی ملګرتیا اونکړئ

او دوی، سره په تحریک (خدايي خدمتګاري) کې شامل نشئ نو دا مزکې به سرکار تاسو له درکړي. زمونږ يو مومند خدايي خدمتګار و، چې د ویتکی و، ویتکی، د تخت بايي سره يوه وړوکې بانډه ده هغه راغی او ما ته يې دا کيسه اوکړه، په دغه وخت کې زمونږ سره ډېر ښه مومندان په دې تحريک کې شريک وو، هغه چې ما ته داخبره وکړه نو ما ورته وويل چې ته د دې علاقې بارسوخه مومندان راوغواړه او ما ته هم خبر وکړه چې زه هم درشم او دوی سره د ورورولی او عزيزولی يو څو خبرې وکړم او دا څه چې ورته قلي خان ويلي دي د دې په حقيقت يې پوهه کړم. نو هغه خپل عزيزان مومندان راوغوښتل او زه يې هم خبر کړم، زه ورغلم ما دې خپلو ورونو مومندانو ته وويل چې د پښتنو د ورورولی ويش شوېدی او هر چا له خپله خپله حصه ورکړې شوېده. اوس چې تاسو ته دا قلي خان څه خبرې کوي دا مونږ کې صرف د نفاق او جګړې پيدا کولو دپاره کوي او زمونږ رورولي ګډه وډه کوي، زه تاسو ته دا خبره کوم، چې زمونږ لکه، چې ما ورته وويل د ورورولی ويش شوی دی، زمونږ دا ملک او ځمکې نه پيرنګيان تاسو ته درکوي او نه يې درکولی شي، دا که درکوو نو مونږ به يې درکوو، راځئ مونږ سره د ملک د ازادی دپاره ملا اوتړئ او چې مونږ دا ملک ازاد کړو نو تاسو سره زه وعده کوم، چې هرې کورنی له به شل شل جريبه ځمکه ورکوم. زمونږ د پښتنو ډېرې مزکې دي، د هر چا په کې برخه رسېدی شي، خو دا نه، چې ته به وايي، چې زه دا يا ددې سړي مزکه اخلم، ځکه چې زمونږ خو قومي ويش شويدی. په دې زمونږ کور کې نفاق او

جګړه پیدا کېږي. زه افسوس کوم چې دې ورونو ما سره اتفاق ونکړو(کله چې د قیوم حکومت راغی نو هغه بیا دا کیسه را وسپړده او چې بهټو راغی نو هغه دا کیسه لا ګرمه کړه او په دې صورت یې زمونږ ډېره تباهي او بربادي اوکړه او مونږ ته یې ډېر سیاسي او اقتصادي نقصان را ورسولو.)

د خدایي خدمتګارۍ اثر په وړو زړو،ښځو،نرو او ماشومانو داسې شوی وو چې زه به ورته ډېر حېرانېدم چې دا قوم څومره ښه قوم دی،او څنګه په یو مخ را بیدار شویدي د ماشومانو دا حال وو چې زه به یو کلي ته لاړم، نو دوی به ټول ما ته راجمع شول او په قطار کې به ودرېدل او زما نه به یې داخواهش کولو چې زه هر یو چپ(ښکل) کړم. زما هم ور سره ډېر محبت و، زما به هم دا خواهش و، چې هر یو چپ کړم. زه خو د ونې ډېر دنګ ووم او دوی ماشومان وو،نو د چپ کېدو په وخت کې به زه هر یو ته راټیټېدم نو ماته به ډېر تکلیف و، او ډېر به ستړی کېدم، خو بیا به هم ما ټول چپ کړل او هغوی به په دې ډېر خوشحاله شول، دې ماشومانو په کلو ا و بانډو کې خپل تنظیم جوړ کړی و.جلسې او جلوسونه به یې کول یو کلی او بل کلی ته به تلل او زمونږ جلسو او جلوسونو کې به شریکېدل،دغه شان جینکو هم سرې جامې جوړې کړې وې، نظمونه یې یاد کړی وو.هغه به یې نورو ښځو ته اورول، د پښتون رساله (مجله) یې په شوق لوستله، چې(پښتون) مجله به راغله نو جینکۍ به راجمع شوې، یوې جینۍ به لوستله او نورو به اورېدله، په دې ډول د اخبار لوستلو شوق هم خدایي خدمتګارو پیدا کړو.

د حکومت پولیس به هر وخت مونږ پسې و، او د ساعت ساعت خبر به یې حکومت ته ورکولو. حکومت ته چې معلومه شوه چې خدایي خدمتګاري په پښتنو کې په ډېر زور او شور سره خورېږي او په خلکو کې جوش او خروش زیاتیږي او دا تحریک پښتنو کې ډېر کامیاب او هر دلعزیز شو نو مېږې پرې لګیا شو چې دا په پښتنو څه چل وشو او زه هم د خدای پاک دې قدرت ته حیران وم چې پښتنو کې دا دومره مینه محبت، ورورولي، عزیزداري او ژوندون زمونږ په لږ کړاو خنګه را پیدا شو حکومت په دې فکر کې شو چې په څه چل به دا تحریک ختم کړي، زمونږ ډپټي کمشنر له چې زمونږ د علاقې خو خانان به ملاقات له لاړل نو هغه به ورسره هم دا کیسې کولې چې دا عبدالغفار خان بیا څه تماشه جوړه کړې ده ولې په قلار نه کېني او کلي په کلي ګرځي اخر مطلب یې څه دی؟

هغوی به راغلل او دا ټوله کیسه به یې ماته بیان کړه ما به ورته وې چې تاسو ډپټي کمشنر ته ووایئ چې زما مطلب صرف د پښتنو کور جوړول دي چې دا پرېجنبې، دشمنۍ تربګنۍ پرېږدي او د تخریب په ځای تعمیر ته یې فکر شي، بله ورځې د سودم د باریکاب خان خوشحال خان زما لیدو له راغی او ماته یې ووې چې لاټ صاحب وایي چې دا ده څه کیسه شروع کړې ده، ماورته ووې چې زما مطلب د حکومت مخالفت نه دی زه خو د پښتنو اصلاح کول غواړم چې د دوی دا بد رسمونه، رواجونه، پرېجنبې لرې شي او که چرې هندوان او سکهان لګیا دي پخپل قوم کې مینه او محبت او ورورولي پیدا کوي، نو په دې کې څه ګناه ده؟، چې پښتون هم خپله

اصلاح وکړي دا ستاسو رعیت نه دی څه؟ نو خوشحال خان راته ووې چې هغوی وایي چې یو ځل په پښتون کې اتفاق راغی او د ده اصلاح وشوه نو د دې څه ضمانت دی چې هغه دې زمونږ بر خلاف استعمال نه شي؟نو ما ورته ووې چې ته لاټ صاحب ته ووایه چې د قومونو ضمانت په یو بل اعتماد او اعتبار دی دوی دې په مونږ اعتبار وکړي، بیا حکومت ما پسې ځواب راولیږلو او راته یې ووې چې دا ته څه کوې؟ ما ورته ووې چې زه خو هغه کوم چې د یو ښه حکومت کار دی، دا خو ستاسو کار دی زه یې درله کوم او په تفصیل سره مې ټولې خبرې ورته بیان کړې، لیکن د هغوی تسلي په دې خبرو چرته کېدله خو د دې خبرو نه زه په دې نتیجه ورسېدم چې د حکومت نیت دې تحریک ته ښه نه دی.

## مرغز کې جلسه او یوه قامي پرېکړه:

مونږ خو چې به یو ځل دوره شروع کړه، نو په ټولو ضلعو کې به مو یو شان دوره کوله او چې د صوبې د یو سرنه به مو دوره شروع کړه نو د بل سره پورې به مو کوله،لیکن چې په کومو علاقو کې به ښه د کار خلک پیدا شو نو هغه علاقه کې به تحریک ترقي وکړه نو زمونږ تحریک په یوسفزو کې ډېره ترقي کړې وه او په یوسفزو کې خصوصاً په صوابۍ تحصیل کې داسې یو کلی نه و چې په هغه کې به زمونږ جرګه نه وه یا به خدایي خدمتګار نه وو، په یوسفزو کې زمونږ سالار منیر خان د مانیرۍ او جرنیل د مرغز خلیل الرحمان و او بیا د مرغز

کلي خدايي خدمتګار ډېر د کار خلک وو او دوی به لګيا وو پخپله علاقه کې به يې کار کولو زمونږ په خدايي خدمتګارو کې دا يو لوی صفت و، چې څوک به خدايي خدمتګار شو او يا به جرګه کې ممبر شو نو هغوی به د شپې او د ورځې پخپله علاقه کې کار کولو کور به نه کېناستل، په مارچ ۱۹۳۰ع کې دوی په ما پسې راغلل چې مونږ خپله علاقه کې ډېر کار کړی دی او ډېر خلک مونږ سره ملګري شوي دي، نو مونږ غواړو چې دا خلک ټول راجمع کړو او په مرغز کې جلسه وکړو او دا د خدايي خدمتګارۍ اوله جلسه وه او ميا احمدشاه صاحب او زمونږ د کلي عبدالغفور چې په خوش اوازۍ به يې نظم وې او د ماسټر عبدالکريم صاحب مشر ورور و، دوی سره د باوردۍ يو څو خدايي خدمتګارو لاړو او د مرغز په جلسه کې شريک شو، د ټولې علاقې خلک راجمع شوي وو ميا صاحب په کې تقرير وکړو او نورو خلکو هم تقريرونه او ښکلي ښکلي نظمونه وويل، ما چې وکتل نو حيران شوم چې زمونږ د پښتنو په شاعرانو کې د قومي جذبې دا تحريک څنګه را پيدا شو؟ څکه چې د دوی په نظمونو به قوم کې ډېر جوش او طاقت پيدا کېدلو او دا دومره لويه تبديلي په کې څنګه راغله؟

محمد عمر خان د مانيرۍ په کې د موجوده او د پخوانۍ زمانې حاکمانو بادشاهانو فرق خلکو ته په ډېره ښه طريقه بيان کړو چې پخواني حاکمان او بادشاهان چې به په دوره راغلل نو هغوی به خلکو له ډوډۍ ګانې، انعامونه، اکرامونه ورکول او د

موجوده زمانې حاکمان چې په دورو راشي نو هغه انعام اکرام خو پرېږده هر څه د مظلوم رعیت نه خوري،نو دا تقریر خلکو ډېر خوښ کړو زه د دغه جلسې صدر وم اخري تقریر زما و، زه پاڅېدم او تقریر مو شروع کړو ما خلکو ته ووې چې زه تقریر نه کوم تاسو ته یو تجویز پیش کوم تقریرونه خو ډېر وشو خو دا خبره زما یاده ولرئ چې په دنیا کې کوم قومونه چې خبرې لرې کوي او عمل ډېر، نو هغه قامونه همېشه خپل منزل ته رسېدلي دي،زه تقریر نه کوم زما په تجویز غور وکړئ. په دې پښتنو باندې ددې رسم و رواج ډېر بوجونه دي او زمونږ د تحریک یو دا غرض هم دی چې په دوی باندې دا بوجونه کم شي، خو زه یرېږم چې هسې نه دا جلسې په پښتنو باندې یو بل بوج شي نو زه دا تجویز ستاسو په خدمت کې پېش کوم چې په کوم کلي کې زمونږ جلسه وي په هغې کې به خلک نه چای څکي او نه ډوډۍ خوري او نه به څوک پاتې کېږي او نه به څوک شپه کوي. خلک به خپلو کلو ته ځي او که څوک خپلو کلو ته رسېدی نه شي نو په یو کلي به هم ډېر کسان نه ورځي او که هغه کلي کې چې د دوی شپه شي نو په یو خدایي خدمتګار به هم نه دېره کېږي او چې په هغه کلي کې څومره خدایي خدمتګار وي هغوی به ورلــه خپلــه خپلــه ډوډۍ راوړي دوی بــه یې په شریکه خوري او څوک به زیات تکلیف نه کوي. او که د چایو وخت وي نو چې د دوو پیالونه زیاته چای ونه څکي دا تجویز په اتفاق سره پاس شو او جلسه ختمه شوه. د مرغز

مشران مالـه راغلـه، هغوی مـا تـه د ډوډۍ ذکـر وکـړو مـا ورتـه ووې چـې دا تکلیـف دی، د مرغـز ډېـر ښـه خلـک دي کـه خانـان دي کـه غریبانـان دي کـه کـسبګر دي هغـوی کـې ډېـر اتفـاق او جذبـه ده، هغـوی راتـه ووې چـې مـونږ تـه خـو هـېڅ تکلیـف نـشته. مـونږ د ټـول کلـي خلکـو د جلسې د خلکـو د پـاره چـا غـوړي، چـا چـرګ او چـا اوړه راوړي دي، مـا ورتـه ووې چـې ستاسـو خـو اتفـاق دی او تکلیـف درتـه نـشته خـو یـو کلـی دی چـې هلتـه ستاسـو پـه شـان اتفـاق نـشته کـه مـونږ هلتـه جلسه وکـړو بیـا بـه هغـوی تـه څـومره تکلیـف وي؟ او تاسـو کـه اوس دا ډوډۍ وکـړه دا بـه رسم شي. پښتانه خو داسې قوم دی کـه یـو کلـی څـه وکـړي نـو بـل کلـی د هغـوی د سیالۍ نـه ضـرور کـوي، دوی زمـا هغـه خبـره ومنلـه. مـازیګری چـې جلسه ختمـه شـوه پـه مرغـز کـې زمـونږ ماماګـان وو، زمـونږ نیـا ددې کلـي وه، هغـوی راتـه ووې چـې مـونږ خـو تالـه ډوډۍ پخـه کـړې ده او مـونږ سره بـه شـپه کـوې مـا ورتـه ووې چـې تاسـو پـه جلسه کـې نـه وئ څـه؟ پـه جلسه کـې خـو دا تجـویز پـاس شـو چـې د جلسې پـه کلـي کـې بـه مېلمانـه نـه شـپه کـوي او نـه بـه ډوډۍ خـوري او دا خـو ډېـر بـد کـار دی چـې سړی وایي یـو څـه او کـوي بـل څـه، هغـوی مـې پـه ډېرو خـوارو رضـا کـړل او زه بـام خېلـو تـه لاړم او دغلتـه مـې باچـا صـاحب سره شـپه وکـړه چـې هغـه زمـا نـه وعـده اخیستې وه چـې دې علاقې لـه راشې نـو شپه به ماسره کوې.

## اتمانزو کې لویه جلسه او مشاعره:

مونږ خو چې تر اوسه پورې کومې جلسې کولې نو د ضلعې او تحصیل په سطح وې نو ما اراده وکړه چې اوس به مونږ د ټولې صوبې په سطح باندې یوه لویه جلسه وکړو ځکه ما چې کتل د خدایي خدمتګارو دې تحریک په پښتنو کې یوه نوې جذبه پیدا کړې وه، نو د دې دپاره ما دا مناسب وګڼل چې اول باید د جلسې انتظام وکړو، د سرحد ټولو پښتنو له مو د شرکت دعوت ورکړو او دا جلسه مو په شلم او یوویشتم اپریل ۱۹۳۰ع په اتمانزو کې مقرره کړه او د یوې مشاعرې بندوبست مو هم وکړو او د دې مشاعرې طرح داوه:

«جنګ د ازادۍ له همېشه ځلمي وتلي دي».

چې د جلسې اعلان وشو نو زمونږ د جلسې د اعلان سره حکومت ډېر په فکر او تشویش کې پرېوتو او د اتمانزو په خانانو پسې حکمونه جاري شول. حکومت غوښتل چې دا جلسه په څه چل بنده شي چې مونږ په دې بدنام نه شو او د کلي خانان او خلک د دې څه مخالفت وکړي او مونږ له بهانه په لاس راشي، لیکن حکومت په دې مکر او فرېب کې کامیاب نه شو ځکه چې زمونږ د کلي خانان خو په خدایي خدمتګارۍ کې شریک شوي وو، صرف برني محمد عمر خان زمونږ په خدایي خدمتګارۍ کې شریک نه و، نوره کورنۍ یې ټول خدایي خدمتګار وو، حکومت په بعضې سیندونو پلونه هم خلکو ته

وران کړل خو په دې کې کامیاب نه شو او په زرګونو نر او ښځې په جلسه کې شریک شول ،جلسه ډېره کامیابه وشوه او بیا خاص د خدایي خدمتګارو پرېنډ ، جلوس او سلامۍ په خلکو ډېر اثر وکړو ،د پیرنګي خو د مخکې نه اراده نه وه چې مونږ دې کار ته پرېږدي خو د خدای فضل و چې درې درې نیمې میاشتې مونږ کار وکړو ،مونږ چې د کانګرس د جلسې نه راغلو نو په جنورۍ ۱۹۳۰ ع کې موکار شروع کړو او په اپرېل کې پیرنګیانو ګرفتار کړم. دومره وشوه چې زمونږ اواز د پښتنو غوږو ته ورسېدو په ۲۲ اپرېل ایله د جلسې مېلمانه رخصت شول د بر تهکال ارباب جمعه خان چې څه وخت رخصتېدو نو چونکه دی زما ډېر مهربان و ، ما ورته ووې چې ستا خو ډېر زامن دي د خدای فضل دی نو دا یو ارباب عبدالغفور په کې ما له د خدایي خدمتګارۍ دپاره راکړه نو ده وې چې ما په نامه د خدای دربخښلی دی او دې جلسې له د پېښور نه علي ګل خان، لعل باچا او د کانګرس نور ډېر کارکنان راغلي وو چې دوی د جلسې نه رخصتېدل نو ما ته یې وویل چې مونږ سبا له سول نافرماني کوو او په پېبو کې به مالګه جوړوو ته هم دغلته زمونږ تماشې له راشه ګوره مونږ خو خدایي خدمتګار نه یو تاسو سره په دې جلسه کې شریک شوي یو که ته کانګرس کې نه یې نو تماشې له خو راشه!

❋❋❋

# ګجرات جېل او کانګرس سره تړون

زماګرفتاري ۱۹۳۰ ع، ګجرات جېل، د قصه
خانۍ واقعه،
د پېرنګي جبر او تشدد او پښتانه (اتمانزو،
پړانګ، ګوجرګړهۍ، ټکر، شیرګړ،
لوندخوړ، مینۍ، رستم،
کوهاټ، بنو، ازاد قبایل، حبیب نور،
د اپرېدو حمله، د ایپي فقیر صاحب)،
کانګرس او مونږ، د پټیل کمېټۍ رپورټ،
دګجرات جېل ملګري.

## ګرفتاري سنه ۱۹۳۰ ع:

زه په ۲۳ اپرېل د دوی د دعوت په سلسله کې په لاری کې پېښور ته روان شوم او چې د ناقې تاڼې ته ورسېدم نو پولیس والا ولاړ وو لاری یې ودروله او ماته یې ووې چې مونږ ته ستا د ګرفتاری حکم دی، ما ورته ووې چې زما هېڅ عذر نشته خو ماته زما د ګرفتارۍ وارنټ وښیئ. دوی سره وارنټ نه و، خو لاری والا ته یې ووې چې لاری مه روانوه ودرېږه! لاری والا غریب لاری ودرولې وه چې په دې کې د چارسدې نه پولیس والا په لاری کې راغلل او ماته یې دګرفتارۍ وارنټ وښودلو او زه یې ګرفتار کړم او واپس یې چارسدې له راوستم او د چارسدې د حوالات قبلې ته د زنانه و په حوالات کې یې ځانله بند کړم، زمونږ د دې جلسې خرخ ما کړی و. او انتظام ټول زمونږ حاجي صاحب شهنواز خان کړی و، ډېر ښه انتظام یې کړی و، جلسه کې به یې د خاموش اواز کولو صرف په دې اواز سره دا غریب هم مونږ سره ګرفتار شو، چې زه یې د زنانه و حوالات ته د ننه کړم نو میا احمد شاه په کې ناست و، بیا یې حاجي شهنواز خان او سرفراز خان او عبدالاکبر خان هم راوستل او حوالات ته یې را دننه کړل، زمونږ د ګرفتارۍ خبر په لږ ساعت کې په ټوله علاقه کې خور شو او په زرګونو خلک هلته راجمع شول او راجمع کېدل چې د خدای فضل و، ډاکټرخانصاحب چې زما مشر ورور و را ورسېد، دا ټول خلک خو خدایي خدمتګار نه وو، د دې خلکو اراده وه چې قلي خان چې دغه وخت د چارسدې اسټنټ کمشنر و ووژني، خو چې ډاکټر خانصاحب د دې نه خبر شو نو خلکو ته یې ووې چې ای

وروڼو زمونږ دا تحریک خو د عدم تشدد تحریک دی مونږ خو خدای سره وعده کړې ده، چې تشدد به نه کوو او ډېر کوشش یې وکړو چې دا کار ونه شي او خلکو له یې ترغیب ورکړو چې خلک خپلو خپلو کلو ته لاړ شي خو خلک ناست وو او که چیرې ډاکټر صاحب نه وی نو لویه خونریزي به شوې وه چې حکومت پوهه شو چې دا خلک نه خوربږي، نو دلته هم کافي پولیس وو خو د مردان نه یې د فوج رساله راوغوښته او زمونږ د حوالات خولې له یې راوستل او لارۍ یې مونږ ته د حوالات په خوله کې ودروله، ډېر پولیس او رساله ترې چاپېره وو مونږ یې دې لارۍ کې کېنولو او د لارۍ نه څه رساله وړاندې او څه وروستو مردان ته روان شو، په زرګونو خلک مونږ ته ولاړ وو او مونږ په اشارت پوهول چې تشدد به نه کوئ، چې څه وخت سر ډېرو ته ورسېدو د شیخو د تپې زرګونه خدایي خدمتګار د فتح محمد جرنیل په حکم په سړک ولاړ وو، سړک یې بند کړی و، ما د لارۍ نه دوی ته ووې چې تشدد مه کوئ او چې په مونږ خپه یئ نو وګرځئ او خدایي خدمتګارۍ له ترقي ورکړئ هغوی لاره پرېښوده او مونږ مردان ته ورسېدو شپه مو د مردان په جیل خانه کې وکړه وختي سحر یې د مردان نه روان کړو د مردان خلک چې زمونږ د نیوو نه خبر شوي وو نو چې مونږ د جېلخانې نه را ووتو بهر په سړکونو ډېر خلک ولا ړوو، بیا یې مونږ د رسالپور چاونۍ ته بوتلو او حوالات کې یې بند کړو، د نوښار هندوان او مسلمانان چې څوک خبرېدل هغه ټول زمونږ د لیدو دپاره رسالپور ته راغلل او سرکار پخپله زمونږ د ګرفتارۍ

پراپېګنډه په لويه پيمانه وکړه. لږ ساعت پس قلي خان زموږ د چارسدې اسسټنټ کمشنر، سره د خپلې عملې دلته راورسېد.

زموږ مقدمه ورته پېش شوه، مقدمه د څه وه؟ خو مقدمه هم د سرکار وه او فېصله هم سرکار کوله ما ته معلومه وه چې موږ قيدوي، ما ته خو يې د ضمانت ونه وې خو زما ملګرو ته يې ډېر ووې چې باچا خان پرېږدئ او تاسو ضمانتونه ورکړئ او خپل کور ته ځئ هغوی ورته ويل چې اخر ضمانت د څه ورکړو موږ څه جرم کړی دی؟ موږ ټولو د ضمانت نه انکار وکړو، نو ټول يې په دفعه چاليس(څلوېښتمه ماده) کې درې درې کاله سخت قيد کړو، مازيګر يې موږ د دې ځای نه روان کړو چونکه خلک زموږ نه خبر شوي وو، د نو ښار په ټېشن ډېر خلک جمع شوي وو، نو حکومت موږ د رېل د سورلی دپاره د نوښار نه د جانګيري ټېشن له بوتلو رېل زموږ په انتظار کې ولاړ و، موږ يې په کې کېنولو او رېل روان شو.

## ګجرات جېل:

سحر وختي ګجرات ته ورسېدو موږ يې د رېل نه کوز کړو او د ګجرات جېلخانې له يې بوتلو او وردننه يې کړو، سحر وختي وه، چې د جېلخانې دفتر ته ورسېدو داروغه صاحب لا ويښ شوی نه و په دې وجه موږ ډېر ساعت دفتر کې د هغه په انتظار کې ناست وو، چې هغه راغی نو زموږ چارج يې د پوليس نه واخستو، زموږ نومونه يې په کتاب کې وليکل. موږ چې څه وخت جېلخانې ته ورننوتو نو ښه رڼا وه نور(لمر)

ختلی و.

زمونږ نه مخکې یو څو سیاسي قیدیان ورونه راغلي وو، مونږ نه چې خبر شو نو د جېلخانې دروازې سره زمونږ په انتظار کې ولاړ وو، مونږ ته را ترغاړه وتل بارک له یې بوتلو او زمونږ دپاره یې د چایو انتظام وکړو، دا جېلخانه د سرحد، پنجاب او ډهلي د هغو سیاسي قیدیانو دپاره وه چې څوک به ((ای))(A) او((بي))(B) کلاس کې وو، هره ورځ به لس اته سیاسي قیدیان راتلل تولو ورځ زمونږ په دې مشغولا تېره شوه، بله ورځ علي ګل خان، لعل باچا، لاله پېرا خان سره د شپږو، اتو رضاکارانو هم د پېښور نه دلته دې جېل ته را بدل شول، زمونږ تعداد ورځ په ورځ زیاتېدو څه وخت چې زمونږ تعداد زیات شو نو زمونږ سیاسي ورونو دا تجویز پیش کړو چې اوس زمونږ دپاره یوه کمېټي جوړول په کار دي چې زمونږ د حقوقو حفاظت کوي او د ټولو په اتفاق یوه کمېټي جوړه شوه، ورپسې د صدارت سوال راغی چې صدر به څوک وي؟ ټولو په اتفاق ووې چې ته زمونږ صدرارت قبول کړه، خو دا ځیزونه زما د ابتدا نه خوښ نه دي او ما به د عهدو نه اکثر پرهیز کولو نو په دې موقع هم ما د خپل طرف نه معذوري ظاهره کړه او بل څوک یې مقرر کړو. سکرټري هم منتخب شو هره یوه خبره به زمونږ له طرفه ده وړاندې کوله زمونږ کار په دې باندې ښه شو، یوه ورځ زمونږ جیلخانې ته د پنجاب د جېلخانو جرنیل او زمونږ سپرنټنډنټ راغلل، د ټولو نه په سر کې زما چکی وه نو د ټولو نه اول یې زما نه شروع وکړه زه د ننه په کډۍ ناست وم دوی راغلل زما د چکی ورکې ودرېدل

دوی د ننه رانغلل او زه ورله جنګلي ته ورننه رغلم دا طریقه وه چې اخلاقي قیدیان به جنګلي له ورتلل زه خو سیاسي قیدي وم، زما چکۍ په سر کې وه او د مولانا ظفر علي خان اخر کې وه چې د هغه چکۍ ته ورسېدل نو هغه ورته ووې چې زه د سیاسي قیدیانو متعلق تا سره خبرې کول غواړم، لیکن هغه په ترشۍ سره دا جواب ورکړو چې د پنجاب په جېلخانو کې شل زره قیدیان دي. زه د هغوی په غم کې یم ما سره د یو څو کسانو سیاسي قیدیانو دپاره وخت نشته چې تا سره پرې خبرې وکړم. دا خبره چې سیاسي قیدیانو ته ورسېده، نو چې څه وخت دی د هغوی لیدو له ورغی نو څوک ناست وو، څوک اوده شو چا ورته پښې و غزولې چې ده دا حالت ولیدو نو معاینه یې پرېښوده او د فتر ته لاړو او په ډېر قهر او غصه د دفتر نه رخصت شو.

## د قصه خانۍ واقعه:

دلته ما ته د پېښور ملګرو ویل چې په ۲۳ اپرېل ۱۹۳۰ چې ته یې نیولې، نو په دغه شپه یې د پېښور ښار کې مونږ ټول هم ګرفتار کړو، الله بخش برقي صاحب چې د کانګرس کمېټي سکرټري و، په دغه شپه دی په دفتر کې و، پولیس ده پسې کورته تللي وو، دی کور نه و، نو د شپې د ګرفتارۍ نه پاتې شو سحر پولیس دی هم دفتر کې ونیولو چې دی څه وخت ګرفتار شو او خلک خبر شو، نو ډېر خلک را غونډ شول، دی یې د پولیس موټر کې کېنول غوښتل خو خلکو نه پرېښودو، نو پولیس پیاده کابلۍ تانې ته روان کړو او د خلکو جلوس

وریسې شو چې تانې ته څو رسېدل نو ډېر مخلوق راجمع شوی وو، چې دی یې تانې ته د ننه کړو، نو دروازه یې بنده کړه او خلکو ته یې وویل چې خواره شئ،خو خلک نه خورېدل کشمکش زیات شو، نو فوج یې راوغوښتو دا فوج هندوستانی و، او ګړوالیان وو هغوی ته یې حکم ورکړو چې په دې خلکوګولۍ وچلوئ،خو هغوی انکار وکړو ځکه چې هغوی وویل چې دا خو د تش لاس خلک دي نه جنګ کوي نه فساد نو مونږ پرې ګولۍ ولې وچلوو؟ هغه یې لرې کړل اوګوره فوج یې راوغوښتو هغوی د راتلو سره په خلکو ګولۍ وچلولې او ډېر خلک مړه او زخمیان شول.

## ګجرات جېل کې:

بله ورځ مونږ ټول د سرحد سیاسي قیدیان یوځای ناست وو چې خبر راغی چې د بنو نه د سیاسي قیدیانو چالان را روان دی، مونږ وې چې څوک به وي خو خبر شو چې دفتر ته راورسېدل، مونږ په منډه ورغلو یو سردار رام سنګهـ و او بل حکیم عبدالرحیم صاحب او دریم سیوک رام و،او څه وخت چې یې هغوی جېلخانې ته را دننه کړل نو مونږ ورترغاړه وتو،د ملک ټول حال یې راته ووې او ویې ویل چې باوجود د ډېر سخت ظلم او جبر کار په ښه شان سره روان دی.د دې په اورېدو زه ډېر خوشحاله شوم ځکه چې ما سره د خپل ځان هېڅ فکر نه و،ما سره به د پښتنو د تحریک فکر و، چې دا حکومت دباو کړی نه وي،مونږ له به هم د ملک نه خطونه راتلل چې تحریک ښه په زور کې دی او د خدایي خدمتګارو تعداد د سوونو نه

زرګونو ته ورسېدلو او څومره چې حکومت د دې تحریک د دباو کولو کوششونه کوي هغومره دا تحریک خورېږي.

د لاهور د محمود علي قصوري صاحب پلار مولانا عبدالقادر صاحب هم د ګجرات جېل ته راغی، دده ځای نه وو؛ نو ما خپل ملګری سرفراز خان خپلې چکۍ ته راوستو او د هغه چکۍ مې مولانا قصوري صاحب ته ورکړه. دغه شان د جمعیة العلماء هند مولانا کفایت الله صاحب او ناظم مولانا احمد سعید صاحب هم دې جېلخانه کې وو، دوی به زه کله کله مېلمه کولم. ناظم صاحب به ډېره خوندناکه پیتي او حلوا پخوله.

مونږ په دې جېلخانه کې دوه قسمه قیدیان وو، یو «ای»(A) کلاس او بل «بي»(B) کلاس زمونږ د خوراک وغیره ټول حقوق یو شان وو، خو یو دا فرق و، چې د اې کلاس قیدیانو ته د بهر څملاستو اجازت و، او وَر به یې ورته نه بندولو او بي کلاس به د ننه څملاستل او ور به یې وَرپسې بندولو او بل فرق دا و، چې اې کلاس به د ځان دپاره د بهر نه د خوراک، څښاک څیز را غوښتی شو او بي کلاس نه شو راغوښتی، دلته صرف زه او اغا لعل باچا، میا احمدشاه او عبدالاکبر خان په اې کلاس کې وو، باقي نور ټول بې کلاس کې وو، څو ورځې پس یې اغا لعل باچا او عبدالاکبر خان د ای کلاس نه بي کلاس ته کړل، مونږ به بهر څملاستو او زمونږ دا نور ملګري به د ننه څملاستل ډېره ګرمي وه، علي ګل خان ناجوړه و، او د ګرمۍ نه به پرې چېچې راتلې ما ته دا خبره ډېره بده ښکارېده چې مونږ دې بهر یو، او حاجي شهنواز خان،

سرفراز خان، عبدالاکبر خان، رام سنګهـ، حکیم عبدالرحیم او علي ګل خان دي دننه څملي مونږ دا خبره خپلې کمېټۍ ته پېش کړه سپرنټنډنټ سره يې هم پرې خبرې وکړې حکومت ته مو هم ډېر درخواستونه لېږلي وو، ليکن چا پرې غور نه اېښوده، جرنيل د جېلخانو هم راغلی و، او هغه زمونږ نه خپه تلی و، هغه هم زمونږ د پاره څه نه کول او حکومت هم د څه کولو د پاره تيار نه و، اخر چې مونږ مايوسه شو او په دې خبره پوهـ شو چې په منت او درخواستونو څه کېدی نه شي، نو مونږ اراده وکړه چې قدم اخيستل په کار دي. زمونږ سپرنټنډنټ راجا صاحب و او په رښتيا راجا و او ډېر شريف سړی و مونږ ته يې ووې چې تاسو بيا دا خپل شکايتونه وليکئ او ماله يې راکړئ چې زه يې جرنيل صاحب له ولېږم. مونږ د هغه د خبرې سره اتفاق وکړو ټولې خبرې مو بيا وليکلې او هغه له مو ورکړې هغه هم پرې ډېر ښه رپورټ وليکه، ليکن ډېرې ورځې تيرې شوې څه ځواب رانغی چې په انتظار ستړي شو نو بيا مونږ فيصله وکړه چې اوس قدم اخيستل په کار دي، ليکن زمونږ د پنجاب ورونړه څوک چې په «اې»(A) کلاس کې وو هغوی به د دې مخالفت کولو او ويل به يې چې جېلخانه کې ايجي ټيشن په کار نه دی، د هغوی دا خبره خو درسته وه ولې چې هغوی ته د ايجي ټيشن ضرورت نه و، هغوی خو په ارام وو. تکليف که و، «بي»(B) کلاس ته و ګرمي چې به ورو ورو زياتېده نو د علي ګل خان طبيعت به هم ورو ورو خرابېدو او خولې به پرې هم راتلې اخر دا فيصله مو وکړه چې مونږ پرې قدم اخلو او که څوک په خوشحالۍ سره زمونږ په دې ايجي

ټیشن کې شریکېږي،نو هم ښه ده او که نه کېږي، نو هم کور یې اباد.مونږ له د خپلو بې کلاس ورونو دپاره ایجي ټیشن شروع کول په کار دي.مونږ ایجي ټیشن شروع کړو او فیصله مووکړه چې بېګا له به نه بند ېږو او که جېل والاو مونږ په زور بندوي نو یو بل له به لاسونه ورکوو، هر کله چې ماښام شو ا و ډوډۍ مووخوړه او د بندېدو وخت شو نو مونږ ټول ګینترۍ ته راغونډ شو او په چمن کې غونډ کېناستو او لاسونه مو یو بل له ورکړل او جېل والاو ته مو ووې چې مونږ په رضا نه بند ېږو که په زور مو بندوئ نو ستاسو اختیار دی. اکثر «ای»(A) کلاس والا مونږه سره په دې ایجي ټیشن کې شریک نه شول نور خو پرېږده چې زمونږ د خدایي خدمتګارو صدر صاحب او سکرټري صاحب عبدالاکبر خان اومیا احمدشاه هم رانه لرې لرې ګرځېدل اوماته یې ووې چې تا خو به مونږ ته وې چې جېلخانه کې ایجي ټیشن ونه کړئ او اوس دې پخپله شروع وکړه،ما ورته وې چې زه ددې برداشت نه شم کولی چې زه دې په ارام یم او زما د کار نور ملګري دې په تکلیف کې وي په دې وجه مجبوره یم چې ایجي ټیشن وکړم. جېل والاو فوراً سپرنټنډنټ صاحب له اطلاع ورکړه هغه راغی او په دفتر کې کېناستو خبرې شروع شوې،هغه ووې چې دې کې زما څه قصور دی؟. زه خو ستاسو دپاره هر څه ته تیار یم نو تاسو زما برخلاف ولې دا ایجي ټیشن کوئ ما ورته ووې چې مونږ دا قدم ستا برخلاف اخیستی نه دی،د حکومت برخلاف مو اخیستی او ته په دې خپه کېږه مه اخر فیصله په دې وشوه، چې تاسو نن بند شئ او سبا له به زه د تار په ذریعه خبر را

وغواړم. موږ ورته ووې چې ته زموږ نه مه خپه کېږه ، موږ دا فېصله کړې ده چې پخپله خوښه نه بند پرو ، لیکن دا ده، چې بند پدو کې به څه جګړه او کشمکش نه کوو د جېلخانې سپاهیان دې موږ وچتوي او بارک ته دې موږ رسوي هغه هم په دې راضي شو چې سپاهیان د بې کلاس قیدیان په ډنګه ډولۍ بارک کې قید کړل سبا له وختي خبر راغی چې په زنانه احاطه کې دوی بند کړئ او د بهر ور ورپسې پورې کوئ او دننه د دوی خوښه ده چې که بهر څملي او که دننه.لنډه دا چې د بې کلاس دپاره هم موږ هغه ټول حقوق حاصل کړل کوم چې د ای کلاس دپاره مقرر وو.

## د پېرنګي جبر او د پښتنو عزم:

دا خو د جېلخانې واقعات وو اوس د بهر د حال نه موخبروم چې موږ یې ونیولو فوجونه او رسالې اتمانزو له راغلې اول د خدایي خدمتګارو په دفتر ورغلل ګوره ګانو په دفتر اور ولګولو او په دفتر کې چې څومره خدایي خدمتګار وو هغه ټول یې ښکته یو یو په پوخ سړک را وغورځول. زما زوی ولي چې هغه وخت د دیارلسو څوارلسو کالو هلک و، د خدایي خدمتګارو دفتر کې و، په ده باندې یو ګوره د سنګین ګذار وکړو خو یو دیسي افسر ورته لاس ونیو هغه ګذار یې په لاس واخیست او دی یې بچ کړو بیا یې د مټ نه ونیو، په پوړو یې ښکته د بالاخانې نه را وغورځولو فوجونه د کلي نه چاپېره شول، ټول خدایي خدمتګار یې ګرفتار کړل او رسالې به په لارو او کوڅو کې ګرځېدې، په هر کور به ورننوتل ټوپکې او

کـه بـل ځیـز بـه یـې خـوښ شـو هغـه بـه یـې یـوړل، چـې ټـول خـدایي خـدمتګار ګرفتـار شـول، نـو ډپټـي کمـشنر مدرسـې سـره د خلکـو پـه مینـځ کـې ودرېـدو او پـه اوچـت اواز یـې ووې چـې د سـرو جـامو ځـوک شـته؟ پـه دې هجـوم کـې زمـونږ د کلـي خـان محمـد عبـاس خـان هـم ولاړ و، خپلـو نوکرانـو تـه یـې اواز وکـړو، چـې راځـئ د ده حجـره د غلتـه نـزدې وه پـه منـډه لاړل پـه دېـګ کـې یـې سُـور رنـګ واچـوو خپلـې او د نوکرانـو جـامې یـې سـرې کـړې او وایـې غوسـتې او اوبـه تـرې بهېـدې چـې راغـی او د ډپټـي کمـشنر پـه مخکـې ودرېـدو چـې دا دې د سـرو جـامو خلـک ډپټـي کمـشنر خـو دوی ګرفتـار کـړل،خـو دا داسـې اواز و چـې پـښتنو کـې یـې ننـګ او غیـرت پیـدا کـړو او پیرنګیـانو چـې ځـومره کوشـش وکـړو نـو سـرې جـامې یـې ورکـې نـه کـړې شـوې،محمد عبـاس خـان پـه خـدایي خـدمتګارو کـې نـه و او د انجمـن نـه یـې هـم اسـتعفا ورکـړې وه،مـونږ نـه خپـه هـم و،خـو د پـښتو ننـګ او نـاموس یـې وګـټلو،انګرېزانـو زمـونږ د کلـي محاصـره وکـړه،د کلـي خلـک یـې بهـر تـه نـه پرېـښودل او د بهـر خلـک یـې کلـي تـه نـه پرېـښودل، بنیـادم خـو بـه د فوجیـانو پـه وینـا بند شـو، ولـې ځـاروو تـه خـو دا تکلیـف پـېښ شـو،چـې هغـوی میـرو او شـولګرو تـه وتـل،کورونو کـې د ننـه د ګیـاه ځـه انتظـام نـه و،کلـه چـې بـه ځـاروي د کورونـو نـه را اووتـل پټـو تـه بـه تلـل،نو ګـوره ګـانو بـه پـه اسـونو زغلـول چـې کلـه بـه هغـه ځـاروي پـه سـیند خیتـه ورواچولـه نـو بیـا بـه یـې پـه ټوپکونـو ویـشتل او پـه دې طریقـه د ډېـرو زمینـدارو غریبانـانو ډېـر ځـاروي مـړه شـول،د ښـکار بابـا غونـډۍ سره یـو لـوی میـدان و دا خلـک یـې هلتـه راجمـع کـړل وهـل بـه یـې، ټکـول بـه یـې او ورتـه

به یې وې چې ګوتې ولګوئ چې مونږ خدایي خدمتګار نه یو هغوی به ورته وې چې مونږ خدایي خدمتګار نه یو او حقیقت هم دغه و، دوی خدایي خدمتګار نه وو خدایي خدمتګار خو ټول ګرفتار شوي وو، خو ګوته لګول پښتنو ته شرم ښکارېده او ګوتې یې نه لګولې. دوی باندې به یې د ښکار بابا ډېرې ته کاڼي خېژول او یو لوی ځلی یې پرې جوړولو، کله چې یو لوی ځلی جوړ شو او پیرنګي خلکو ته ووې چې ستاسو هغه باچا خان مو په دې کې ښخ کړو په دې خلکو کې یو سړي ګوته ولګوله هغه پیرنګي ورته وې چې تا ته اجازه ده کورته ځه! هر کله چې کور ته لاړو نو ښځې یې جامې وینځلې ده نه یې تپوس وکړو چې ته څنګه راغلې؟ هغه وې زه یې را پرېښودم هغې ورته وې چې نور نه راپرېږدي نو ته یې څنګه پرېښودې؟، تا به ګوته لګولې وي، دا ګوته دې رادېخوا کړه د ده په ګوته رنګ لګېدلی و، دې سره سوباړی په لاس کې و، نو ده ته یې ووې چې واخله بې غېرته په دې سوباړي جامې وینځه زه میدان له ورځم سړی ډېر کچه شو او پښېمانه شو او د دې ښځې په پښو پرېوتو چې ته مه ځه بیا ورځم چې دی راغی نو پیرنګي ورته وې چې ته خو مې پرېښودې وې ته بیا ولې راغلې؟ ده وې چې ښځه مې کور نه پرېږدي، نو زه اوس جېل ته هم تیار یم او مرګ ته هم تیار یم او نورو خلکو سره کېناستو. دا محاصره پنځلس ورځې وچلېده، پیرنګیانو ډېر څه وکړل، خو عامو خلکو هم ورته ګوتې ونه لګولې ځکه چې چا به ګوته ولګوله نو کلي کې د هغه ژوند ډېر د شرم و او خلکو به ور پورې خندل.

د پړانګ چارسدې محاصره یوویشت ورځې چلېدلې وه، د

پړانګ چارسدې په محاصره کې ډېر زيات فوج و، چاپېره به هم ولاړ وو او سواره به په لارو کوڅو کې هم ګرځېدل چې څوک به د کوره را ووتو نو وهلو به يې اذانونه او د جمعې لمونځونه هم بند شول خدايي خدمتګار يې ونيول او قيد يې کړل او عام خلک به يې په تودو شګو برينډ څملول او د کورونو تالاشۍ کېدې خو د قام اتفاق و چا کره چې غلې دانې وې هغه يې په غريبانانو ووېشلې او د ميرې خلک به سحر وختي راغلل د دوی د مېرې فصلونه به يې ګوډ کړل، خاوره کړل، اوبه کړل، بيا به شپې له کورته لاړل او د شولګري خلکو به ورله، د شولګرې فصلونه سنبالول، دا محاصره هم ناکامه اوچته شوه. دا محاصرې، وهل، ټکول خو سخت و، خو د دې يوه فايده دا وشوه چې دا کوم کلي چې انګرېزانو محاصره کړل او ويې سوزول، دا په جرنيلي سړک پراته و، نو چې عامو خلکو به دا تشدد او ظلم ليده نو د خلکو په زړونو کې به د انګرېزانو سره نفرت او د خدايي خدمتګارو سره همدردي زياتېده او په دې توګه زمونږ په حق کې ډېره غټه پراپېګنډه وشوه.

دغه شان په ۲۷ مۍ ګوجرو ګړهۍ کې جلسه وه د مردان نه کپتان مرفي سره د پوليس راغی، دی يو ډېر ظالم پيرنګی و، لکه چې د ګوجرانو سره د مېښو څرولو دپاره کوم کوتک وي د ده سره به هم هغه شان کوتک و، او ډېر بې ترسه و، بې دريغه به يې خلک وهل، ده چې څنګه د خلکو په وهلو لاس پورې کړ او په پره نېغ د خلکو مينځ ته ننوتو، نو هلته طالبان وو، هغوی حيران شو، په دې چې دا يو پيرنګی تش لاس را روان دی او

هېڅوک ورته څه نه وايي. خدايي خدمتګار خو چونکه د عدم تشدد پابند وو، نو دغه طالبانو پيرنګي پسي خپل تبرګی را واخستو او په هغې يې اووهلو، پيرنګی چې را پرېوتو نو يوې ښځې چې منګی ورسره وو، د جلسې خلکو ته يې اوبه ورکولې، هغې هغه ډک منګی د پيرنګي په سر راواچولو او هغه مړ شو. چې د هغه د مرګ خبر مردان ته ورسېدو نو هې(Hay) چې د مردان اسسټنټ کمشنر و هغه فوج را وغوښتو خلک د دې نه خبر شول خو بيا هم خلکو جلسه جاري وساتله دغه وخت باران او سېلۍ راغلل او د دې په وجه د فوج د رسېدو نه مخکې جلسه خوره شوه ګني نو که فوج په جلسه ورغلی وی نو ډومره خونريزي به په کې شوې وه.

سبا له د دې پيرنګي بدل اخيستلو دپاره په ۲۸ مۍ په ټکر فوجونه ورغلل کلی يې محاصره کړو او په خلکو يې بې دريغه ګولۍ وچلولې مشين ګنونه يې هم په کې استعمال کړل ډېر ماشومان، زلمي، او ښځې، نر په کې شهيدان شول، بيا د ملک هاشم خان خدايي خدمتګار حجره او کور يې هم وسېزل او د سالار شمروز خان د پلار ملک امين ګل دېره يې هم وسېزله. د شېرګړ او جلاله کلو خلک چې خبر شو نو د ټکر د امداد دپاره سره د وسلو راغلل نو پيرنګيانو محاصره پورته کړه او مردان ته لاړل. د دې نه پس فوجونه لوند خوړ ته لاړل او هلته د غلام محمد خان خدايي خدمتګار حجره او کور يې وسوزول او د کلي په عامو خلکو يې ډېر ظلم زياتی وکړو. کوهاټ کې هم دغه شان پيرنګيانو په خدايي خدمتګارو او په عامو خلکو ګولۍ وچلولې او ډېر خلک په

کې شهیدان شول. دلته به یې خدایي خدمتګار یخو اوبو ته غورځول او غوپې به یې ورکولې، د بنو په سپین تنګي هاتي خېلو کې د خدایي خدمتګارو جلسه وه، قاضي فضل قادر د ستېج د پاسه ولاړ و، د قران شریف تلاوت یې کولو پیرنګي په تمانچه وویشتو او شهید یې کړو خلکو ته یې وویل چې جلسه خوره کړئ، خو خلکو جلسه نه خوروله نو په ټوله جلسه یې ګولۍ وچلولې، ډېر خدایي خدمتګار په کې زخمیان او شهیدان شول او څه یې ګرفتار کړل. د مینې تحصیل صوابۍ د مولاناصاحب په کور پولیس ورغلو او د هغه کور یې وسو او د هغه په کتب خانه یې اور ولګولو چې هغې کې ډېر مذهبي کتابونه او قران شریفونه د حدیث او فقهې کتابونه وو هغه وسوزېدل د رستم مولانا عبدالحی صاحب په کور ورغلل کتابونه او سامان یې ورته ګډوډ کړو او هغه یې ګرفتار کړو. دغو ورځو کې زمونږ په ټوله صوبه کې یو داسې کلی نه و چې هغې کې خدایي خدمتګار او د هغوی دفتر نه و او هغه ته فوځ ورنه غلو، هلته د خدایي خدمتګارو دفتر د هغوی کورونه، د هغوی مال، حال او د هغوی سرې جامې یې ونه سوزول او په خلکو یې ظلمونه ونه کړل؟

دې ظلمونو پښتانه را ولړزول په زرګونو زلمو د ملکند نه تر ډېره اسماعیل خان پورې خپلې جامې سرې کړې او د وطن د ازادۍ په میدان کې د سور نښان لاندې ودرېدل، د خدایي خدمتګارۍ تحریک په ازادو قبایلو، باجوړ، مومندو، اپرېدو، اورکزو، وزیرو، مسودو او بیټنو کې خور شو. د باجوړ او مومندو خلک د ترنګزو د حاجي صاحب په مشرۍ

کې په کړپه کې ډېره شول. درې میاشتې جنګ و شپه او ورځ په پرې بمونه ورېدل، حبیب نور په تحصیل چارسده کچهرۍ کې په سحر نهه نیمې بجې په انګرېز اسسټنټ کمشنر تماچه وچلوله خو کارتوس غل شو، پیرنګی بچ شو، دی ګرفتار شو، او سبا له په پېښور کې پانسي شو، قلي خان پولیټیکل اېجنټ دا غوښتل چې خدایي خدمتګار مشران په دې کیس کې راولي. ولې حبیب نور انکار وکړو او قلي خان ته یې ووېل چې زه پخپله اراده د ده په قتل پسې راغلی وم، خو کامیاب نه شوم تاسو وګورئ دا خلک ځان ته مسلمانان هم وایي پښتانه هم وایي او د پیرنګي دپاره هر ناروا او ذلیل نه ذلیل کار کولو ته تیار دي. زمونږ د خدایي خدمتګارو څه ګناه وه؟د دوی دپاره مو حق غوښتو، ډېر اپریدي پښتانه را کوز شول، په پېښور یې حمله وکړه فوجونو سره وجنګېدل مکړې ګودام یې تالا کړو او اور یې پرې ولګولو، وزیرستان نه هم حملې شروع شوې او ډېر فوجونه یې خراب کړل. دا جنګونه ډېره موده جاري وو دا اول ځل وو چې د مومندو نه را واخله تر اپریدو او وزیرو مسودو پورې ټول قبایلي ورونه د خپلو رونو په امداد کې را پاڅېدل او تر هغې یې د صلح کولو نه انکار اوکړو تر څو چې باچا خان او ګاندهي جې نه وې را پرېښې.

## کانګرس او مونږ:

مونږ د ګجرات په جېلخانه کې وو، چې زمونږ یو دوه ملګرې، یو میا جعفر شاه کاکاخېل، بل میا عبدالله شاه د قاضي خېلو چارسدې زمونږ ملاقات له راغلل زما ملاقات خو

بند و او زما دې نورو ملګرو سره يې ملاقات وشو هغوی وويل چې حکومت زمونږ د ټولې صوبې ناکه بندي کړې ده نه څوک د صوبې نه بهر تللی شي او نه څوک د بهر نه صوبې ته راتللی شي او په خلکو يې ډېر زور او ظلم شروع کړی دی، کوشش دا دی چې دا زمونږ تحريک ختم کړي، مونږ په اباسين راپورې وتو ځکه چې ګودرونه ټول سرکار نيولي دي او تاسو له راغلو چې مونږ څه وکړو په مونږ داسې ناروا ظلمونه کېږي، چې دنيا کې په چا نه دي شوي خو دنيا زمونږ د حال نه خبره نه شوه. زمونږ د ملګرو چې ملاقات وشو نو راغلل ماته يې دا ټول حال ووې مونږ خو په خلافت کې وو زمونږ په صوبه کې مسلم ليګ نه و، مونږ خو د پنجاب سره په خلافت کې پاتې شوي وو او زمونږ د خلافت ډېر ورونه په مسلم ليګ کې هم وو، مونږ دوی ته دا رايه ورکړه چې تاسو هندوستان کې د مسلم ليګ مشرانو له ورشئ اوورته ووايئ چې پيرنګيانو په مونږ ډېر ناروا ظلمونه شروع کړي دي او زمونږ صوبه يې بالکل محاصره کړې ده، تاسو زمونږ مسلمانان ورونه يئ. مونږ سره صرف دومره امداد وکړئ چې دنيا زمونږ د حال نه خبره شي چې زمونږ تحريک خدايي خدمتګار خو اصلاحي تحريک دی. مونږ ورته دا هم ووې چې لاهور ته لاړشئ، دهلي ته لاړ شئ، شملې ته لاړ شئ، په مسلمانانو وګرځئ او د خپل حال نه يې خبر کړئ. دوی لاړل او څه موده پس چې راغلل او مونږ يې خبر کړو چې مونږ د مسلم ليګ په ټولو ليډرانو وګرځېدو هغوی خو زمونږ مدد ته تيار نه دي او تيار ځکه نه دي چې هغه خو يو جماعت دی چې پيرنګيانو د هندو د مقابلې

دپاره جوړ کړې دی او زمونږ جنګ خو پیرنګي سره دی نو هغوی به زمونږ څنګه مدد وکړي؟، نو مونږ ورته ووې چې بیا لاړ شئ. هندوستان کې نورو جماعتونو سره ووینئ او خپل حال ورته ووایئ، دوی لاړل او چې څه موده پس راغلل نو مونږ ته یې ووې چې مونږ خو ډېر وګرځېدو، خو بغیر د کانګرس نه زمونږ سره امداد ته چا غاړه کېنښوده، د کانګرس لیډرانو مونږ نه تپوس وکړو چې ستاسو پیرنګي سره جنګ په څه دی؟ مونږ ورته ووې چې د ملک په ازادۍ دی، د جنګ طریقه مو څه ده؟ مونږ وې عدم تشدد، دوی ووې چې دغه جدوجهد او اصول خو زمونږ هم دي تاسو هم غلامان یئ، مونږ هم غلامان یو، ستاسو هم انګریز دښمن دی، زمونږ هم دی، تاسو هم ازادي غواړئ، مونږ هم. که تاسو مونږ سره ملګري کېږئ نو مونږ ستاسو مدد ته تیار یو، نو د دوی د دې بیان نه پس مونږ دوی ته ووې چې واپس خپلې علاقې ته لاړ شئ او خپلې د صوبې جرګې سره دا خبره وکړئ هغوی چې څه فېصله وکړه نو مونږ ته منظوره ده، دوی لاړل او د صوبې جرګې دا خبره منظوره کړه چې کانګرس سره ملګري کېږو،مونږ خو نن په دریاب کې لاهو یو او غرقیږو، څوک چې لاس راکوي ورکوو یې. د دې نه پس جرګې د کانګرس سره خپل تړون وکړو او د کانګرس کمېټۍ سمدستي په مرکزي اسمبلۍ کې سپیکر ولبهـ بهایي پټیل د یو وفد په مشرۍ صوبه سرحد ته د تحقیقاتو دپاره راولېږه خو پیرنګیانو په اټک بند کړو نو هغوی پینډۍ کې کېناستل او تحقیقات یې شروع کړل. زمونږ د پنجاب مسلمانان ورونه زمونږ نه ګیله کوي چې دوی

کانګرس سره شو او کانګرس د هندوانو جماعت دی اول خو زه داخبره کوم چې کانګرس د هندوانو جماعت نه دی دا د ټول هندوستان د ټولو خلکو شریک جماعت دی، جناح صاحب خو هم په دې کانګرس کې و، او بله دا چې مونږ کانګرس سره ځنګه شو که چیرې دوی زمونږ امداد کړی وی نو مونږ کانګرس څه کوو؟ حقیقت دا دی چې مونږ خو دوی کانګرس سره ملګري کړي یو مونږ پښتانه خو سېلاب په مخه کړي وو. دوی له ورغلو چې تاسو زمونږ مسلمانان ورونه یئ لاس راکړئ دوی لاس رانه کړو کانګرس وې زه درکوم مونږ له یې لاس راکړو زه د دنیا ټولو مسلمانانو ته وایم چې اوس تاسو انصاف وکړئ، چې دوی ګرم دي که مونږ؟

څه ورځې پس حاجي عبدالغفار خان، عبیدالله خان او سلطان خان زمونږ ملاقات له راغلل او د ملک ټول حالات یې راته بیان کړل او راته یې وویل چې پښتنو کې داسې یوه جذبه را ویښه شوې ده چې بیان یې درته کولی نه شو،څومره سختي چې پیرنګیان کوي هغه هومره خلکو کې جوش او همت زیاتیږي تاسو غم او فکر مه کوئ دا خدایي تحریک دی اوخدای ورله د غیبو نه امداد ورکوي. د دې په اورېدو مونږ ډېر خوشحاله شو او ملاقات ختم شو.د ختمېدو نه پس مې عبیدالله خان ته د پښتنو په نامه یو پیغام ورکړو چې:«ای پښتنو ورونو! چې ونه یرېږئ! او مایوسه نه شئ! دا د خدای د طرف نه په مونږ یو ازمایش او امتحان دی،بیدار شئ او د خدای د مخلوق خا مت ته ملا وتړئ» هر کله چې دا پیغام په اخباراتو کې شایع شو نو په خلکو یې ډېر ښه اثر وشو او

حکومت د جېل سپرنتېنډنټ ته حکم ولېږه چې د ده ملاقات بند کړه چې ده سره د بهر سړی اینده دپاره ونه ویني. مونږ سره په جېلخانه کې د پنجاب او ډهلي لوی لیډران وو د هغوی لیډو له به خلک راتلل او زمونږ حالات به یې اخباراتو کې شایع کول مونږ سره په دې کار کې چې څومره امداد دې لیډرانو کړی دی زه به ټول عمر دهغوی مشکور یم. دوی په جېلخانه کې د ننه او بهر زمونږ هر قسم امداد ته تیار وو. د دوی پخپلو کې څه نا څه اختلافات وو خو مونږ سره د ټولو ډېر ښه تعلقات وو، دلته سیاسي قیدیان که مسلمانان وو که هندوان وو که سکهان وو لکه د سکه(خپلو) ورونړو زمونږ خدمت او امداد ته تیار وو، او هندوان خو زمونږ امداد او خدمت ته د مسلمانانو نه هم زیات تیار وو. دلته زمونږ یو پښتون جمعدار و چې د ننه د جېلخانې ټول اختیار د هغه و، هغه ډېر ښه سړی و مونږ سره یې ډېره همدردي وه،زمونږ هر کار چې هغې کې به خطره هم وه خو دی به ورته تیار و ما به ډېر منع کولو چې ته خو سرکاري نوکر یې داسې کار مه کوه چې سبا له درته نقصان رسیږي.

## پټېل کمېټۍ رپورټ:

پټېل کمېټۍ خپل کار پوره کړو او خپل رپورټ یې شایع کړو، د شایع کېدو سره هغه حکومت ضبط کړو، لیکن دا رپورټ څه ناڅه کانګرس یورپ او امریکې ته ورسولو د دې شایع کېدو سره حکومت خپله غلطي محسوسه کړه او مونږ له یې جېلخانې له یووفد را ولېږلو او مونږ ته یې ووې چې تاسو

سره دا وعده کوو، چې څه هندوستان له ورکوو د هغه نه به زیات تاسو له درکړو کانګرس پرېږدئ، مونږ سره جوړه وکړئ مونږ راغلو او د جېلخانې ټول سیاسي قیدیان ورونه مو را. غونډ کړل او دوی سره مو په دې مسئلې باندې مشوره وکړه. د بعضې خلکو دا خیال و، چې مونږ له ډپلومیسي په کار ده ما ورته ووې، چې ډپلومیسي خو منافقت دی، او زه خو منافق نه یم. او مونږ د حکومت دا خبره منظوره نه کړه، په جېلخانه کې څه ورځې پسې میا احمدشاه سره دا خیال پیدا شو، چې مونږه حکومت بالکل بې ګناه قید کړي یو او په مونږ هېڅ قسم قانوني ثبوت نشته نو په دې وجه مونږ له نګراني کول په کار دي. دې ته یې عبدالاکبرخان، سرفراز خان او حاجي شهنواز خان هم تیار کړي وو، میا صاحب دې ته فکر نه کولو چې دا خو سرحدي قانون دی، دې کې دوه خبرې وې چې جېلخانې ته ځې او که په ضمانت کورته ځې؟ نو ده ماته د نګراني خبره وکړه ما ورسره په دې کې اتفاق ونه کړو، ځکه چې دا کار زمونږ دا صولو نه خلاف و، خو دا مې ورته ووې چې که چېرې تاسو نګراني کول غواړئ نو وکړئ، خو زه یې نه کوم نو میا صاحب ووې چې ته یې ولې نه کوې؟، نو ما ورته ووې چې دا زمونږ اصول نه دي. نو راته یې ووې چې ته یې ولې ښه نه ګڼې او په دې یې راسره بحث شروع کړو. ما ورته ووې چې ته لږ بهر دنیا ته وګوره چې زمونږ په دې قوم څومره لوبې او تشدد پېرنګیانو وکړو او زه دلته په مزه په جېلخانه کې ناست یم، خورم، څکم، نو زه صرف دا قید نه شم تېرولی؟ زما د هرې خبرې او کمزورۍ اثر زما په قوم پرېوزي او زما پُوتی کمزوري

هم قوم ته ډېر نقصان رسوي، په دې وجه زه معذور او مجبور یم بلکه دا چې زمونږ دا تحریک د عدم تشدد او عدم تعاون تحریک دی. زما د دې خبرو په هغوی هم اثر وشو او د نګرانۍ خیال یې پرېښود.

## د ګجرات جېل ملګري:

په جېلخانه کې زمونږ شپې ورځې ډېرې ښې تېرېدې ولې چې دلته د هر مذاق خلک وو، لوی لوی عالمان وو او لوی لوی سیاستدانان وو، او بلکه دا چې د هر مذاق کتابونه هم وو، ما خو خپل ټول وخت تقسیم کړی و، د خپل وخت لویه حصه مې د مذهبي کتابونو مطالعې او درس له ورکړې وه او د لویو لویو خلکو سره مې تبادله خیالات کول. ما پخپل ټول ژوند کې د کتابونو دومره مطالعه نه وه کړې لکه چې دلته مې یو کال کې وکړله. بله مفیده خبره دلته دا وه چې مونږ به په دویمه، دریمه ورځ ټول غونډېدو او په مختلفو مضمونونو به بحثونه او تقریرونه کېدل او کله نا کله به د بعضې ورونو په بعضو خاصو مضمونونو باندې زمونږ د پوهولو دپاره عالمانه تقریرونه کېدل او ډاکټر انصاري صاحب خو د ملکي او انتظامي معلوماتو حاصلولو دپاره زمونږه یو پارلیمنټ قایم کړی و، چې په هغې کې به وقتاً فوقتاً اجلاسونه کېدل او زمونږ د پوهولو او تربیت دپاره به د پارلېمنټ په طریقه په ملکي او قومي واقعاتو باندې تقریرونه کېدل. لنډه دا چې دې قید ما ته ډېر څه وښودل او مونږ ډېر څه زده کړل.

ما دلته ډېر کوشش وکړو چې دلته به د قران او د ګیتا درس

شروع شي ولې چې په هندوستان کې که مونږ مسلمانان يو او که هندوان يو او که سکهان يو، که عيسايان يو مونږ د يو بل د مذهب نه خبر نه يو او نه زمونږ د خبرولو چا کوشش کړی دی، بلکې په مونږ کې خودغرضو خلکو مذهبي تعصب او نفرت پيدا کړی دی، مذهبونه چې دنيا ته خدای رالېږلي دي دا ټول د خدای مذهبونه دي دا د تعصب او نفرت دپاره نه دي بلکې د مينې او محبت دپاره دي، زه په دې کې کامياب شوم او درس مو شروع کړو.

پنډت جګت رام چې د غدر پارټۍ کې شل کاله قيد شوی و او د تورو اوبو نه په دغو ورځو کې را بدل شوی و، ډېر قوم پرست او ښه عالم او ښه سړی و، د ګيتا درس به هغه ورکولو او ما به د قران ترجمه کوله. ډېر خلک به دې درس کې شريکېدل او چې ددې تعليم په حقيقت به پوهـ شول، نو حيران به شول چې خدای مونږ له څه تعليم راکوي او دا مونږ په کومه لاره روان يو، او هغه د مذهب په نوم تعصب او نفرت چې پيدا شوی و. تر ډېره حده د هغې اصلاح وشوه او د يو بل د مذهبي اصولو نه خبر شو، زما يو مهربان و د هغه نوم لاله شام لعل و او يو لوی وکيل و او ډېر ښه سړی و ما ته به يې د انګرېزۍ کتابونه اورول او ما ترې ډېره فايده واخيستله. بل رای زاده هنسراج و چې د جالندهر و، زما ډېر مهربانه و، چې کله به يې ملاقات راتلو نو مونږ ته به يې ډېرې غوړې زېړې راوړلې او د هغې سره د مطالعې دپاره قسما قسم کتابونه به يې هم راوړل. حاجي شهنواز خان به سحر وختي مونږ له چای تياره کړې وه. د ډوډۍ د غمه يې هم خلاص کړي وو، ډېر ښه منتظم سړی و او

هر قسم خبرونه به يې هم را له راوړل چې جېلخانې کې چې به څه وشو يا به د چا ملاقاتي راغلی و،نو دی به ترې خبر و.او د هر چا ملاقاتي سره به يې اول ملاقات کړی و،جېل والاو دده د دې خبرې نه ډېر تنګ وو او ډېر به يې منع کولو خو دی يې د ډېوډۍ نه منع نه کړی شو، دی ډېر خدمتي او بردباره سړی و، ليکن په يوه معمولي خبره ورسره احمدشاه ميا جنګ وکړو. جنګ يې حاجي صاحب سره وکړو او چای څکل يې مونږ سره پرېښودل.د ميا صاحب طبيعت لږ سخت و او جېلخانه هم داسې يو ځای دی چې د سړي طبيعت په کې تنګ وي او په معمولي خبرو باندې جګړې ته تيار شي، سرفراز او ما سره يې هم جنګ کړی و او په جېلخانه کې مونږ ته د لوبو اجازت و او په لوبو کې به هم کله نا کله ميا صاحب جګړې کولې ما چې به خپل ځان ته کتل نو په ځان کې به مې کمی او کمزورۍ ليدلې يو نقص را کې د ډېرو خبرو او ډېرو بحثونو و،او بل د قهرېدلو و.ما به دا ډېره محسوسوله او دا فکر به مې کولو چې د دې نه به څنګه خلاص شم ما به کوشش کولو ليکن په ما يې داسې قبضه کړې وه، چې خلاصېدی ترې نه شوم د دې د اصلاح دپاره ما دا اراده وکړه چې په هفته کې به يوه ورځ روژه نيسم خو روژه به مې يوازې د خوراک،څښاک نه نه وي بلکې د خبرو نه به مې هم روژه وي او پخپلو کمزوريو باندې به غور او فکر کوم او د هغې د اصلاح کوشش به کوم،نو د سحر لمونځ چې به مې وکړو نو د چکۍ ور به مې بند کړو تر ماښامه پورې به چکۍ کې ناست وم،ذکر به مې کولو او چې د ماښام اذان به وشو نو د چکۍ نه به راووتم او دواړه روژې (د خوراک او

خبرو) به مې ماتې کړې دې روژو ما ته ډېره فايده رسولې وه او ځه نا ځه زما د دې بدو عادتونو اصلاح هم وشوه.

څه موده پس په دې جېلخانه کې زما په ملا کې بيا هغه درد چې د ډېره غازي خان په جېلخانه کې پيدا شوی و، شروع شو. ډاکټر انصاري صاحب وکتم او يوه نسخه يې زما د پاره وليکله.او د غوښې خوراک يې را باندې بند کړو، د دې دارو او پرهېز په وجه زما ګذاره وشوه ليکن کيسه داسې وشوه چې هغه پيرنګي سول سرجن چې زمونږ د جېل د هسپتال انچارج و، هغه چې به راغی نو هسې به ناست و، هر څوک به ډاکټر انصاري صاحب له ورتلل،ولې چې هغه ډېر لوی او لايق ډاکټر و، ليکن هغه پيرنګي دا خبره ډېره بده محسوسه کړه او د جېلخانو جرنيل ته يې وليکل او د هغه ځايه دا حکم راغی چې بغير د جېلخانې د ډاکټر نه په نورو خلکو باندې علاج کول بند شو. زما هم شامت راغی ما هم د خپلې بيمارۍ کيسه همدغه سول سرجن ته بيان کړه هغه راته ووې چې ته د انصاري صاحب نسخه نه شې استعمالولی ما ورته ووې ته راله يوه نسخه راکړه هغه را له يوه نسخه وليکله خو په هغې زما څه فايده ونه شوه او مرض مې زيات شو.

بله ورځ هغه له ورغلم او ورته مې ووې چې ډاکټر انصاري صاحب به ماله داسې دارو راکول، چې په هغې به زما فايده کېدله. هغه راله نسخه بدله کړه ليکن په هغې هم زما فايده ونه شوه، ما ورته بيا د ډاکټر انصاري صاحب نسخه ياده کړه، ليکن هغه راته ووې چې دغه نسخه ته استعمالولی نه شې، نو هغه ته مې ووې چې د نن نه پس زه نور علاج نه کوم او نه ستا

دارو خورم او نه د ډاکټر انصاري.هغه راته ووې چې ستا د صحت ذمه وار به څوک وي؟ نو ما ورته وويل چې زه د خپل صحت پخپله ذمه وار يم. د دې په اورېدو هغه ډېر په قهر شو او زما نه روان شو، دوه مياشتې زه د کټ نه پاڅېدی نه شوم، گرځېدی نه شوم، اودس ماتی به هم راته گران و، زما وزن شل پونډه کم شو، ځان مې خدای ته وسپاره،نو ورو ورو په جوړېدو شوم او څه موده پس د کټ نه پاڅېدم او د ملا درد مې ډېر کم شو.

راجا صاحب زمونږ سپرنټنډنټ و،چې جېلخانه کې زمونږ سکهانو ورونو دا سوال اوچت کړو، چې مونږ جټکه خورو مونږ له دې د جټکې اجازت راکړی شي راجا صاحب ډېر ښه سړی و؛ خو د زړې زمانې مسلمان و،هغه د سکهانو دې خبرې منلو ته تيار نه و، هغه سکهانو ته ووې چې دلته جټکه نه کېږي؛ نو په دې وجه مونږ تاسو له د جټکې غوښه درکولی نه شو.هغوی ورته ووې چې مونږ له پخپل قيمت چرگ راکوئ، هغه به مونږ دلته جټکه کوو ليکن حکومت دې ته تيار نه شو، په دې وجه راجا صاحب ته يې هدايت وکړو، چې داسې چل وکړه چې جټکه هم بنده شي او حکومت هم بدنام نه شي. سپرنټنډنټ سيد اغا لعل باچا دفتر ته وغوښتو او د جټکې د مخالفت دپاره يې تيار کړو او سکهانو ته يې ووې چې په دې خبره ستاسو خپل د سرحد مسلمانان ملگري اعتراض کوي، نو په دې وجه مونږ تاسو ته اجازت درکولی نه شو. سکهانو دا خبره ماته پېش کړه او ما د سرحد ټول مسلمانان ورونه د دې د فېصلې دپاره راجمع کړل. د بحث په شروع کېدو سره سيد اغا

لعل باچا او بعضې زمونږ نورو ملګرو د دې خبرې مخالفت وکړو، لیکن ما ورته ووې چې بېشکه جتکه د مسلمان دپاره ښه نه ده،لیکن دیو سکهـ دپاره خو ښه ده،بله دا چې دا جتکه به هغوی خوري او که په مونږ به یې هم خوري؟ که چېرې دا هغوی خوري نو زمونږ په دې څه؟ او مونږ ته کوم نقصان دی؟ او په اغا لعل باچا مې دا سوال وکړو که چېرې یو سړی تا باندې حلاله بندوي نو ته به خپه یې که خوشحاله؟ ویې وې چې خپه به یم.نو دغه شان په جتکه بندولو به بل هم خپه کېږي نو کم از کم مونږ خدایي خدمتګارو له بل خپه کول په کار نه دي، مونږ بیا خپلو سکهانو ورونو ته وویل چې د جتکې په خوراک مونږ ته هېڅ اعتراض نشته،نو اغا صاحب ماسره اتفاق وکړو،او دا فېصله وشوه چې زمونږ د طرفه سکهانو ورونو ته اجازت دی ما ورته دا ووې چې حکومت اجازت نه ورکوي تماشه جوړوي او مونږ او سکهانو کې نفاق پیدا کوي. هم هغه وشوه. بله ورځ حکم راغی چې حکومت په جېلخانه کې د ننه چا له د جتکې اجازه نه ورکوي. چې درې میاشتې تېرې شوې نو حاجي شهنواز خان ته خپل کاروبار ور په یاد شو او کله نا کله به یې اواز وکړو چې روان یم نن دی که سبا ضمانت داخلوم. زما خیال و،چې دی توقې کوي خو بیا راته معلومه شوه چې د ده په رښتیا د تللو اراده ده،په دغو ورځو کې د مهاتماګاندهي او لارډ ارون په مینځ کې څه د صلحې خبرې روانې وې ما به تسلي ورکوله چې که خیر وي نو نن دی که سبا صلح کېږي.امید دی چې مونږ ټول به پرېږدي لیکن چې څه وخت خبر راغی چې صلح ناکامیابه شوه،نو حاجي صاحب له

دا خبر هم راغی چې د ده کشر ورور اکبر خان گرفتار شو او درې کاله قید شو ما به ورله ډېره تسلي ورکوله خو په ده یې اثر نه کولو ،دده ملاقات له دده تره محمد عظیم خان او عمرا خان راغلل اوورته یې وویل چې موردې ناروغه ده،اکبر ورور دې هم قید شو او ټول کاروبار او بزنس دې خراب شو،او ته خو خدایي خدمتګار نه وې نو ته ولې ضمانت نه ورکوې؟ نو دې خبرو دی ضمانت ورکولو ته تیار که او ده سره دا فکر پیدا شو،چې اکبر بهر و ،نو دی دومره فکر مند نه و ،خو چې هغه ګرفتار شو نو دده فکرونه زیات شول.

بله ورځ ورله خط راغی چې مور دې ډېره ناجوړه ده، نو دی نور هم ډېر غمجن شو ځکه چې د ده د خپلې مور سره ډېر محبت و ، د دوی په کور کې یو دی و بل یې ورور د ده بل څوک نه و ،ده ووې چې د هغې خدمت او علاج دپاره خو څوک پاتې نه شو دوه ورونه وو، او دواړه قید شو.لنډه دا چې زما نه یې پټ کلي ته یو خط ولیکلو چې زما ضمانت دا خل کړئ . بله ورځ څه ګورو چې میر صاحب دده وراره دده ضمانت ګجرات له راوړو مونږ خبر شو چې حاجي ضمانت ورکړو، ما او پنډت شنتنانم صاحب ځان له بېل کړو او ښه مو پوهه کړو چې دا کار ستا د شان سره نه ښایېږي او دا به ښه وي چې لږ نور انتظار هم وکړې او هغه د مور جوړ نا جوړه خدای ته وسپاره، ورو ورو حاجي صاحب رضا شو خو چې څه وخت زمونږ نه لاړو نو اغا لعل باچا او علي ګل خان لیدلی دی او هغوی ترې پوښتنه کړې ده، چې حاجي رښتیا دې ضمانت داخل کړو؟ نو هغه ورته زما کیسه کړې ده،چې زما خو خیال و ،خو هغه وې چې لږ

انتظار وکړه او په دې وجه مې معامله في الحال ملتوي کړه هغوی ورته ووې چې د تلو اراده دې شته نو د دې څه فایده چې نورې ورځې تېروې؟د هغوی دې خبرو په حاجي صاحب اثر وکړو زما نه پټ لاړو او دفتر کې يې په ضمانت دستخط وکړو زه چې خبر شوم نو دروازې له ورغلم نو ورته مې ووې چې حاجي ځې خو ځې ليکن ستومانه به شې او بيا به زما دې خبرې پسې ارمان کوې او وخت به تېر وي.هغه سترګې ټيټې کړې او ماله يې ځواب رانه کړو،زه ترې راغلم او حاجي صاحب کلي ته لاړو،زه نه پوهېږم چې علي ګلخان او اغا سيد لعل باچا هغه له په کوم خيال دا مشوره ورکړې وه.ولې چې په هغو ورځو کې د دوی خدايي خدمتګارو سره ډېره نه لګېده ولې چې دوی په کانګرس کې وو حاجي صاحب چې کلي ته رسېدلی دی او د ملک حالت او د خلکو جذبه يې ليدلې ده.
خپل پردي ترې وېزاره وو ماته يې خط وليکه چې زه تاسره ملاقات کول غواړم ما ورسره د ملاقات کولو نه انکار وکړو چې ډېر تنګ شوی دی نو خپلو خپلوانو ورته ويلي دي چې ضمانت واپس کړه او بيا جېلخانې ته لاړ شه، ليکن هغه به ورله دا ځواب ورکولو چې ما لويه ګناه کړې ده.د دې د پاره قيد کافي نه دی.اخر دا چې يوه ورځ يې ځان پخپله په ټوپک وويشتو او د خپل ژوند خاتمه يې وکړه چې زه د حاجي صاحب د مرګ نه خبر شوم نو ډېر افسوس مې وکړو چې ما ولې ده له د ملاقات اجازت ورنه کړو او د ملاقات نه مې انکار وکړو، حاجي شهنواز خان ډېر د کار سړی و،حاجي خو مړ شو ليکن د هغه مرګ زمونږ تحريک ته ډېره فايده ورسوله او د هغه د

مرګ نه پس بیا چا د معافي غوښتو او یا ضمانت جرات ونه کړی شو. چې څه وخت د حاجي د مرګ خبر د ګجرات جیلخانې ته راغی نو ټول خلک ډېر غمجن شول ولې چې حاجي زمونږ په جلیخانه کې ډېر زیات هردلعزیز و، مونږ چې په جېلخانه کې څومره سیاسي قیدیان وو ټول راجمع شو او د هغه د مغفرت دپاره مو د الله تعالی نه دعا وغوښته.

مونږ چې څه وخت د ګجرات جېلخانې ته لاړو نو دا جېلخانه لا تیاره نه وه، څه وخت چې جېلخانه تیاره شوه نو زمونږ بارکونه او چکۍ د هر طرف نه ازادې وې اوس په کې حکومت د بېلتون دپاره دېوالونه شروع کول. د شا په دېوالونو د چا اعتراض نه و؛ خو د مخ دېوالونه د هېچا خوښ نه وو، یوه ورځې ما ته میا احمدشاه صاحب ووې چې د مخ د دېوال په ځای د اوسپنې جنګله ولګي نو ډېره به ښه وي ما ورته ووې چې دا خو حکومت بغیر د ایجي ټیشن نه په تشه وینا نه کوي؛ نو که دې خوښه وي ایجي ټیشن به شروع کړو. ده ووې چې ډېره ښه ده د میا صاحب په وینا زه پاڅېدم او د دې خبرې ذکر مې د نورو سیاسي ورونو سره وکړو زمونږ هغو سیاسي ورونو به زما ډېر عزت کولو او ټول زما په وینا تیار وو، څه وخت چې سپرنټنډنټ صاحب خبر شو نو هغه راغی چې تاسو حکومت له یو درخواست ولیکئ او ما له یې راکړئ. مونږ یو درخواست ولیکه او ټولو خلکو پرې دستخطونه وکړل او چې څه وخت هغه درخواست میا احمدشاه ته پېش شو نو هغه پرې د دستخط کولو نه انکار وکړو هغه سړی ما له راغی چې میا صاحب خو دستخط نه کوي، ما هغه درخواست د هغه نه

واخیست او میا صاحب له مې د دستخط د پاره یوړ، میا صاحب په هغې ولیکل چې زه په جېلخانه کې د ایجي ټیشن مخالف یم او د هغې د لاندې یې دستخط وکړو. په دې زه ډېر خپه شوم اوورته مې ووېل چې دا ټول ایجي ټیشن خو را باندې تا شروع کړی دی او دا څه چې مونږ کوو خو ستا په وینا کوو نومیا صاحب ځواب راکړو چې زما خو ایجي ټیشن خوښ دی خو که نور خلک یې کوي په دې خبره زه چپ شوم او د میا صاحب د چکی نه راووتم او هغه درخواست مې پوټې پوټې کړو او بل مو ولیکلو او سپرنټنډنټ صاحب له مو ورکړو، څوورځې پس ځواب راغی چې د دېوال په ځای جنګلې ولګوئ اوولګېدې.

څه وخت چې د سیاسي قیدیانو تعداد ډېر زیات شو او د بعضې خلکو مینه او شوق مې صدارت طرف ته ولید ،نو ما د صدارت نه استعفا وکړه. ټول سیاسي ورونه زما په استعفا خپه وو او دا کوشش یې کولو چې زه استعفا واپس واخلم، خو ما انکار وکړو او هغوی له مې دا ځواب ورکړو چې اخر صدارت خوزما ټیکه نه ده، نورو خلکو له هم موقع ورکول په کار دي. زما نه پس ظفر علي خان صدر شو، لیکن د هغه ډېر عجیبه صدارت و، څه وخت به چې د خلکو کار پېښ شو نو هغه وخت به خلکو وې چې دی زمونږ صدر صاحب دی او چې کار به یې وشو نو بیا به د چا صدر صاحب یاد نه و،او بعضې وخت خو به د خلکو ورسره داسې رویه وه چې ما له به په غریب رحم راغی،ډېر ځله مې ورته په رموز کې ووې چې مولانا صاحب د دې صدارت نه استعفا ورکړه، لیکن د هغه د

صدارت کرسۍ ډېره خوښه وه او پرېښودو ته يې تيار نه و، دغه وجه وه چې خلکو به يې عزت نه کولو. زمونږ صدارت خو څه دومره لوی څيز نه و او که چيرې لوی هم شي نو دا خو يو قومي خدمت دی، نو چې د قوم په رضا او رغبت وي نو چلېدی شي او که چېرې د قوم د مرضۍ خلاف پخپل خواهش او خوښه شي،نو بيا يې چليدل مشکل دي او د فايدې په ځای نقصان او د عزت په ځای بې عزتي شي. د دې دپاره په کار دي چې هر څوک د خپل خواهش په ځای د قوم د خواهش قدر اوکړي.

د دې جېلخانې د کتو دپاره به ډېر پيرنګيان افسران راتلل مونږ کې چې به يې د چا سره لږې غوندې خبرې وکړې، نو بيا به هغوی په جاموکې نه ځايېدل او په فخر به يې دا خبرې کولې چې دی زما د فلانې وخت اشنا و، خو چې د يو قوم بدقسمتي راشي، نو هغه سره د عقله ناپوهه شي ګوندې که دې پيرنګيانو څه لږ ډېر ښه سلوک زمونږ سره کولی نو مونږ به هېچرې د دوی برخلاف شوي نه وی. په جېلخانه کې اوازه شوه چې وزير صاحب ايمرسن په دوره راوتلی دی او د دې جېلخانې کتو له راځي، وزير صاحب راغی خلکو ورته خپلې چکۍ ښې ښايسته کړې وې وزير صاحب سره نور پيرنګيان هم وو، زما چکۍ په سر کې وه زه پخپله کډۍ ناست وم، چې زما چکۍ ته راورسېدو نو زما خيال و،چې دی به ماله د ننه راشي زه به ورته پاڅم او خبرې به ورسره وکړم،ليکن هغه دننه رانغی زما د چکۍ په وره کې ودرېدو سپرنټنډنټ صاحب ماته ووي چې وزير صاحب وايي چې ته څه وايې؟ ما ورته ووې چې زه

هیڅ نه وایم بیا یې راته ووې چې وزیر صاحب تاسره خبرې کوي، ما ورته ووې چې زه خبرې نه کوم ځکه چې که ده ما سره خبرې کولی نو د ننه به راغلی و، جنګله کې خو ورسره اخلاقي قیدیان خبرې کوي او زه خو سیاسي قیدي وم. وزیر صاحب یو ساعت ولاړ و بیا روان شو، هغه سره د ګجرات ډپټي کمشنر هم و، چې هغه لاړو نو ډپټي کمشنر زما چکۍ ته رانووت.زه ورته پاڅېدم زما په پاڅېدو هغه ډېر حېران شو ما ته یې ووې چې تا ولې وزیر صاحب سره خبرې ونه کړې او نه ورته پاڅېدې ما ورته ووې چې زه خو خدایي خدمتګار یم او د خدای د مخلوق نه نفرت ګناه ګنم او د خدای خدمت د خدای د مخلوق خدمت دی ته خو هم انګرېز یې تاسره خو دا دی خبرې کوم زه خو سیاسي قیدي یم ما سره سیاسي سلوک په کار دی هغه ماله رانغی نو زه هم ورنغلم هغه ما ته د اخلاقي قیدي په نظرو کتل چې ته راغلې نو دا دی تا ته پاڅېدم. زما په دې خبرو هغه غلط فهمي لرې شوه کومه چې زما متعلق د ده په زړه کې پیدا شوې وه.

د راجا صاحب د سیاسي قیدیانو سره ډېر ښه سلوک و او حکومت دا نه غوښتل خپلو ماتحتو او پولیس پرې ډایرۍ ورکړي چې د ده د سیاسیانو سره ډېر ښه سلوک دی او سیاسیان په ارام او مزه کې دي په دې وجه یې راجا صاحب زمونږ نه بدل کړو سیالکوټ له یې ولېږلو او د سیالکوټ سپرنټنډنټ رای صاحب یې راولېږه دا یو ډېر سخت سپرنټنډنټ و،او بله دا چې د جېل قانون ورته د خدای قانون ښکارېدو،خو حکومت پخپل خیال کې کامیاب نه شو او

زمونږ د اتفاق په وجه د هغه غریب نه هر څه خطا شول او خپل د جیل قانون یې ونه چلولی شو رای صاحب د راتلو سره کوم څیزونه چې به ټیکه دار مونږ له جیل ته د ننه راوړل هغه یې بند کړل چې دا د جیل په قانون کې نشته، ټیکه دار به دروازه کې ناست وي او چې څوک څه اخلي نو د دې ځایه دې وړې نو مونږ چې د دې نه خبر شو نو په اتفاق سره مو په دې فیصله وکړه چې هېڅوک به دروازې له نه ځي. سپرنټنډنټ صاحب ډېر ځوابونه را ولېږل او چې پوهـ شو چې څوک دلته نه راځي نو حکم یې وکړو چې ټیکه دار دې د ننه ځي او څیزونه دې وړې او هغه ټول رعایتونه چې راجا صاحب مونږ له راکړي وو رای صاحب د هغې په راکولو مجبور شو.

بله ورځ د سرفراز ملاقات له د هغه مشر ورور سربلند خان راغی د هغه ملاقات یې په دې وجه نامنظور کړو، چې تاله اردو نه درځي او پښتو ژبه کې ملاقات بند دی، ولې چې سپرنټنډنټ په پښتو ژبه نه پوهېدو مونږ چې خبر شو نو ډېر حېران شو اوخپه شو د انقلاب زنده باد چغې مووهلې.سبا له پرېډ و د پرېډ نه مو انکار وکړو هر کله چې رای صاحب دا کیسه ولیده،نو په سربلند خان پسې یې سړي ورولېږل، په تیشن کې یې بیا مونده راغی او سرفراز خان سره یې ملاقات وکړو. رای صاحب چې په ډېرو خبرو کې شکست وخوړ او ورته معلومه شوه چې تر کومه پورې چې د دوی اتفاق وي نو زه کامیابېدلی نه شم نو په مونږ کې یې د نفاق اچولو کوشش شروع کړو او هندوانو سره یې اشنایي او تعلقات جوړ کړل. او د هغوی په ذهن کې یې دا واچوله چې زه خو ستاسو ورور

هندو يم او زما نقصان خو د هندوانو نقصان دی نو که چيرې تاسو زما مدد نه کوئ نو دا خو هندو قوم ته نقصان رسوي د دې پراپېګنډې اثر په يو څو قيديانو باندې وشو چې هغوی هم مونږ سره قيد وو او تر ډېره حده پورې سپرنټنډنټ په دې کې کامياب شو، چې څه کيسه به پېښه شوه نو هغوی به هندوانو ته وې که چېرې دا مو وکړل نو ستاسو هغه بيچاره هندو ورور ته به نقصان ورسي دا زهرناک خيالات د پنجاب په هندوانو او مسلمانانو کې ډېر زيات دي. بله کمزوري مې د پنجاب په ليډرانو کې دا هم وليده چې څه وخت يو ځای شي نو بيا ورونه وي؛ خو چې پوتی خودغرضي پيدا شي، نو بيا هندو هندو شي او مسلمان مسلمان شي. دا قسم کمزوری چې د کانګرس په خلکو کې وي، نو د نورو به څه حال وي؟ او دغه وجه ده چې پنجاب کې د کانګرس جرړې مظبوطې نه شوې او هندوان مسلمانان ورونه نه شول او سوراج اخيستل ګران شو.

څومره چې مونږ د ګجرات په جېلخانه کې په ارام وو، هغه هومره د (سي) (C) کلاس قيديان د پنجاب په جېلونو کې بې ارامه وو. او څومره چې مونږ سره ښه سلوک و، هغومره د هغوی سره بد سلوک و، حقيقت خو دا و که مونږ سره چېرې ښه سلوک و؛ نو دا د حکومت مهرباني نه وه دا لاچاري وه، د راجا صاحب په ځای د رای صاحب مقررول د حکومت د بدنيتی ترجماني کوي په مونږ کې د بعضې خلکو دا خيال و، چې زمونږ نور ورونه که پنجاب کې دي او که سرحد کې دي يا په نورو صوبو کې په تکليف کې دي، نو مونږ له هم دا خپل ا رام پرېښوول په کار دي او د پنجاب بعضې ليډرانو له د جېلخانو نه د

(سي)(C) کلاس قيديانو خطونه رالېږلي وو، چې ستاسو خو زمونږ په تکليف څه پروا نشته، جېلونو کې هم په مزو کې يئ او بهر هم، خو دا ځل که بهر ته ووتو نو بيا به رانه په ستيجونو کېنئ نه، بعضې خلک دې فکر هم وړي وو، خو بيا هم څه عمل ته تيار نه وو، د ګاندهي جي زوی ديويداس چې مونږ سره په دې جېلخانه کې و، په دې معامله قدم وچت کړ او مونږ سره يې هم د دې متعلق مشورې شروع کړې، يوه ورځ يې زه هم په دې مشوره کې شريک کړم اول خو په دې بحث وشو چې د سرحد خلک په دې معامله کې شريک کړو او که نه؟ د بعضې پنجابيانو رايه وه چې د سرحد حکومت وحشي حکومت دی په هغوی زمونږ د ايجي ټيشن څه اثر کېدی نه شي په کار دي چې مونږ يوازې د پنجاب د سياسي قيديانو دپاره قدم وچت کړو؛ خو اخر فېصله په دې وشوه چې د سرحد د دې مظلومانو ورونو دپاره هم څه نا څه کول په کار دي، بيا يې زما نه تپوس وکړو چې ستا څه رايه ده؟ ما ورته ووې چې تاسو سره زما اتفاق دی خو زه به د سرحد د نورو ملګرو نه تپوس وکړم او څه چې د هغوی رايه وي تاسو ته به يې بيان کړم. په دې جېلخانه کې مونږ د سرحد يوولس(۱۱) کسان وو، هغوی ته مې دا کيسه وکړه چې د (سي) (C) کلاس د قيديانو په همدردۍ کې فېصله شوې ده چې د هر قسم رعايتونه پرېږدو تر هغه وخته پورې چې د (سي) (C) کلاس قيديانو سره د ښه سلوک او ښه خوراک منظوري شوې نه وي. د دې دپاره به د هندوستان په اخباراتو کې پراپېګنډه شروع کوي او زمونږ د سرحد دپاره خو دا يوه نادره موقع ده که مونږ دوی سره شريک شو، نو

زمونږ د قیدیانو دپاره به هم په ټول هندوستان کې پراپېګنډه وشي.د ټولو نه اول عبدالاکبر خان دا ځواب راکړو چې زه خو دې ته تیار نه یم، علي ګل خان او اغا لعل باچا هم د هغه تایید وکړو او سرفراز خان په کې صرف دومره خبره وکړه که تاسو مراعات پرېښودل زه به یې هم پرېږدم، چې زه پوهـ شوم چې زما ورونه تیار نه دي نو بیا ما دا تجویز پېش کړو چې دا کار د هر چا په مرضۍ پرېښودل په کار دي خو احمدشاه میا صاحب ووې چې هر څه به په کثرت رای فېصله کوو ما ورته ووې چې د تکلیف فېصلې په کثرت رای کېدی نه شي، ځکه چې تکلیف ته لږ خلک تیارېدی شي،سردار رام سنګهـ ورته ووې چې دې ته ما او دی پرېږدئ علي ګل خان او لعل باچا دا تجویز پېش کړو چې مونږ به تحقیق وکړو که ټول خلک غواړي چې مونږ مراعات پرېږدو نو مونږ به یې هم ترک کړو. په دې اتفاق وشو او د دوی دپاره علي ګل خان مقرر شو، زه پوه شوم ځکه چې تر اخره پورې د دې خط و کتابت نه څه ونه وتل او مونږ په انتظار کې رها شو.

د دې قسم واقعات همیشه زمونږ په کمېټو کې هم پېښېږي،هلته هم چې کوم خلک کمزوري وي او تکلیف ته تېنګ نه وي نو د یو فایده مند تجویز مخالفت به کوي او قوم او ملک ته ډېر زیات نقصان رسوي، نو په کار دي چې زمونږ په ذمه واره کمېټۍ کې د دې قسم کمزوري خلک نه وي. دیوېداس او نورو لیډرانو د کلاس مراعات پرېښودل او د (سي) (C) کلاس خوراک ته کېناستل ماته به خپل ځان ډېر بد ښکارېده چې ما سره د یو مقصد ملګري یو شان ګذران کوي

او زه بــل شــان،ليکن زمــا د ملګــرو د اکثريــت د فيــصلې نــه مجبوروم،بعــضې ليــډران نــاجوړه شــول خــو د ديويــداس د خــاطره تېريدی نه شول رای صاحب حيران شو چې دا څه چل وشو؟.په اخبــاراتو کــې د ايجــې ټيشن پراپېګنــډه شروع شــوه اخــر دا چــې رای صاحب حکومت تـه وليکـل چې مـا تـه اجازت راکړئ چې زه د دې ا يجــې ټيــشن ســرغنه د دې جېــل نــه بــدل کــړم. حکومــت اجــازه ورکــړه او د ټولــو نــه اول يــې ديويــداس او ورپــسې يــې ډاکټر سيف الدين کچلو بدل کړل او يو کس نيم يې نور هم بدل کــړل د دوی پــه بدلېــدو نــور خلــک کمــزوري شــول او ورو ورو د سپرنټنډنټ پــه ترغيــب ســره ځينــو واپــس کلاســونه واخيــستل. اول کــې خــو خلــک هغــوی تــه ډېــر پــه قهــر شــول لــيکن ورو ورو د هغــوی ملګــري زياتېدل،صــرف درې کــسان پــاتې شــول او نــورو کــلاس واخــستو ا و دغــسې دغــه ايجــې ټيــشن خــتم شو،سياســي قيــديانو لــه پــه کــار دي چــې هــر يــو قــدم پخپــل خيــال وچتــوي او نــور څــوک مجبــوروي نــه، مجبــور کــسان چــې رو بيــا مــومي نــو د ميدان نه بيا تښتي.

بعــضې وخــت زمــونږ سياســي ورونــه پــه معمــولي معمــولي خبرو باندې ايجي ټيشن شروع کړي او ځان پــه يو لـوی مـصيبت کــې واچــوي. مــونږ چــې جېلخانــه کــې وو،زمــونږ کټونــو تــه بــه يــې ځنځيرونــه اچــول چــې هــسې نــه څــوک داکټونــه د جېلخــانې دېــوال تــه ولګــوي اووتــښتي، نــو زمــونږ ورونــو پــه دې ايجــې ټيــشن شــروع کــړو مــا ورتــه ډېــر ووې چــې دا ځنځيــر خومــونږ تــه نــه اچــوي کټ تــه يــې اچــوي خــو چــا زمــا خبــره ونــه منلــه او مــونږ پــه يــو لــوی مــصيبت کــې اختــه شــو. زه پــه جېلخــانو کــې پــه معمــولي خبــرو

ایجي ټیشن نه منم او په کار دي چې ایجي ټیشن په جیلخانو کې ونه کړو او که داسې لویه اهمه او سیاسي خبره وي نو که په هغې باندې ایجي ټیشن کوئ نو باک نشته. زمونږ د جېلخانې سپرنټنډنټ رای صاحب یو ډېر عجیبه سړی و، چې هغه ته به معلومه شوه چې یو سړی په دې جېلخانه کې خوشحاله دی بدلېدل نه غواړي نو هغه به یې بدلوو او چې چا به ورته وې چې ما بدل کړه نو هغه به یې نه بدلولو ما نه به یې همېشه دا پوښتنه کوله چې دې جېلخانه کې خو سیاسي قیدیانو ته ډېر ارام دی دا جېلخانه به ستا خوښه وي نو ما به ورته وې چې زه دلته خوښ نه یم نو زه یې نه بدلولم، لیکن احمدشاه، حکیم عبدالرحیم صاحب او لعل باچا چې د دوی دا جېلخانه ډېره خوښه وه او بدلېدل یې نه غوښتل هغوی یې بدل کړل او د نورو خلکو د بدلېدو تجویزونه یې کول چې د ګاندهي جي او د حکومت د صلحې خبرې شروع شوي نو په دې وجه خلک دلته پاتې شول.

او څه وخت چې د ګاندهي جي اولارډ ارون صلح وشوه نو د «ای» (A) کلاس بندیان یې فوراً رها کړل. زه هم د «اې»(A) کلاس قیدي وم، خو زه یې پرې نه ښودم ما د سپرنټنډنټ نه پوښتنه وکړه چې زه خو هم د «ای»(A) کلاس قیدي یم؛ نو هغه راته ووې چې ستا متعلق ماته حکم راغلی دی چې دی تر هغه وخته پورې مه پرېږده چې تر کومه وخته پورې ده سرفضل حسین او سرصاحبزاده عبدالقیوم سره لیدلي نه وي، لیکن ما ورله صفا ځواب ورکړو چې ته حکومت ته ولیکه چې هغه وخت تېر شو زه هغوی سره لیدل نه غواړم او که دا خلک راشي

هم زه د دوی سره د هیڅ قسمه خبرې کول نه غواړم، ځکه چې په مونږ مصیبت و، نو دوی ما سره نه لیدل او اوس چې ارام راغی دوی ماسره لیدل غواړي ته یې خبر کړه چې نه راځي.

بله ورځې میا جعفرشاه او عبدالله شاه راغلل تولې کیسې یې راته وکړې چې حکومت تا پرېښودل نه غواړي او مهاتماګاندهي ته یې ستا په سر ډېرې غلطې او بې بنیادې خبر ې کړې دي او دا خبره ده چې مهاتماګاندهي مونږ رالېږلي یو چې ستا نه پوښتنه وکړو زه د دې په اورېدو ډېر حېران شوم ما وې چې سړی په یو جماعت کې وي او یا ورسره ملګری وي د هغه خبره به څنګه نه مني او د هغه د اصولو نه به ولې انحراف کوي. بله دا ده چې ما اورېدلي دي، چې زمونږ لاټ صاحب ((سر ستورډ پیرس)) حکومت ته دا خبره کړې ده چې په دې صوبه کې مونږ دوه کسه ځایېدی نه شو یا به دی وي یا به زه یم.

## رهايي:

ګاندهي جې زما د حاله زمونږ خلکو خبر کړی و، او څه خلک ورله تلي هم وو مهاتماګاندهي ((لارډ ارون)) له لاړو او هغه ته یې ووې چې دی خو زمونږ د کانګرس سړی دی ته یې ولې نه پرېږدې دا خو ته د صلحې خلاف کار کوې هغه ورته ووې چې تا له دا پښتانه دوکه در کوي پښتون او عدم تشدد؟ ته خو لږ سرحد ته لاړ شه دا خلک خو د تشدد نه ډک دي. ګاندهي جې ورته ووېل چې که ته باچا خان نه پرېږدې نو بیا زمونږ او ستا صلح ماته ده، نو زه یې پرېښودم، عبدالاکبر خان

او سرفراز خان زما نه وړاندې رها شوی وو، خو لا کلي ته تللی نه وو او د ګجرات په ښار کې د یره وو، چې زما د رهایۍ نه خبر شو نو ماله د جیل دروازې له راغلل او زه چې د جیل نه بهر کېدم نو په زرګونو هندوان، مسلمانان او سکهان راجمع شوي وو، زه یې په موټر کې کېنولم او په ښار کې یې زما جلوس اوښکو او بیا یوه لویه جلسه وشوه ما د هغوی شکریه ادا کړه او یو مختصر تقریر مې وکړو چونکه ما ته د لاهور د دوستانو له طرفه ډېر تارونه او ټیلیفونونه راغلي وو، په دې وجه زه لاهور ته لاړم په دغه وخت کې زمونږ د جیهلم یو دوست د موټرو سره راورسېد او مونږ اول جیهلم ته او بیا لاهور ته روان شو. زه یې جیهلم ته په زور روان کړم ولې چې مونږ د لاهور خلکو ته ټیلیفون کړی و، لیکن چې څه وخت جیهلم ته نزدې شو او هغه ښځې او نر مو ولیدل چې زمونږ په انتظار کې د ښار نه بهر راوتلي وو او ولاړ وو، ما زړه کې ووې چې که مونږ دلته راغلي نه وی نو دې خلکو ته به ډېره صدمه رسېدلې وه. زمونږ جلسه په ټول ښار کې وګرځېده او بیا واپس د خپل دوست ځای ته راغلو او د لاهور د تلو انتظام مو وکړو، لاهور ته ګاډی د شپې په یوه بجه تلو، لنډه دا چې لږ څه ارام موهم ونه کړی شو ټیشن له راغلو.

## لاهور کې زما استقبال:

سرفراز خان کلي ته رخصت شو او زه او عبدالاکبر خان لاهور ته روان شو، مولانا ظفر علي خان، پنډت سنتانم سره د نورو دوستانو په ټیشن کې ولاړ و، مونږ د پنډت سنتانم ځای

تـه روان شـو اغـا لعـل باچـا او علـي ګـل خـان هـم دلتـه وو. علـي ګـل خـان د پېښور نـه د لعـل باچـا د بوتلـو دپـاره راغلـى و، ولـې چې هغـه يـو كـال قيـد و او زمـونږ نـه وړانـدې خـلاص شـوى و. لـږ ساعت پـس دا خبـر راغـى چې ښځو پـه زنانـه جېلخانـه بانـدې مورچـه ولګولـه او مسزجو تـشي مـا سـره خبـرې كـولې چې پـه دې كـې پـه منـډه منـډه د هغـې لُـور راغلـه او ورتـه يـې ووې چې مـورې را پاڅـه مورچـه ولګېده، مونږ تـول پـه موټرونـو كـې زنانـه جېـل تـه روان شـو او چې څـه وخـت ورسـېدو نـو څـه ګـورو چې د جېـل مخكـې جنـډه ښـخه ده، ښـځې تـرې چـاپېره ناسـتې دي او قـومي نظـم وايـي جګـړه پـه دې ده چې مـسزاصف علـي يـې نـه پرېښوده، ددې دپـاره نـورو ښـځو وې چې مـونږ هـم د دې ځـاى نـه نـه ځـو چې تـر څـو دا رهـا شـوې نـه ده. پـه ډېرو خـوارو مـو هغـوى رضـا كـړې او واپـس راغلـو. پـه واپـسۍ كـې مـو د هلكـانو پـه جېلخانـه كـې خپـل خـدايي خـدمتګار مكـرم خـان د ترنـاو شـولګړې سـره د ملګـرو وليـدو چې پـه بـارک ختلـى و، او مـونږ تـه يـې اشـارې كـولې مـونږ ورتـه ووې چې خپـه كېـږئ مـه، دې څـو ورځـو كـې بـه خـلاص شـئ. دا زمـونږ هغـه هلكـان وو چې د لاهـور په شرابخانه په پكټنګ قيد شوي وو.

د جلـوس وخـت څلـور بجـې و، او پـه څلـورو بجـو د كـانګرس كاركنـان راجمـع شـول زمـا دپـاره خوځـه د سـورلۍ انتظـام شـوى و، خـو مـا ووې چې زه پـه سـورلۍ كـې نـه ځـم جلـوس سـره بـه پيـاده ځـم او دوى سـره پيـاده روان شـوم. ځـاى پـه ځـاى مـسلمانان هنـدوان او سـكهان زمـونږ اسـتقبال تـه ولاړ وو، خلكـو تـه بـه يـې پـه غـهـډو كـې ګلونـه اچـول او د مـسلمانانو او هنـدوانو لـه طرفـه

سپاسنامې راکېدې شوې او په يو ځاى کې يو مسلمان ما لـه يوه لُونګۍ او يوه کوله هم راکړه او هغه وې د ټوپۍ په ځاى پټکى په سروه. موټر سره په جلوس کې ډېرې زنانه هم وې.زه ډېر ستړى شويوم، ليکن چې د هغوى جوش او مينې ته به مې وکتل نو موټر کې نه کېناستم. ماښام جلوس ختم شو او موټر د جلسې ځاى ته ورسېدو د جلسې ځاى د خلکو نه ډک و په زرګونو ښځې، نر، هندوان، مسلمانان او سکهان جمع شوي وو، چونکه موټر د شپې په ګاډي کې پېښور ته راتلو نو د لاهور کارکنانو ته مو ووې چې د جلسې کار دې څومره مختصر کړي هومره به ښه وي. ما د سپاسنامې په ځواب کې مختصر تقرير وکه او د سپاسنامې ځواب مې ورکړو او شکريه مې ادا کړه.دوى ته مې تقرير کې ووې چې موټر له بې غمه کېناستل نه دي په کار، چې څومره کېدى شي هغومره کار وکړو، ولې چې دا سوله نه ده بلکې التوا ده. زما به دا کوشش وي چې د اينده جنګ د پاره يو لک رضاکاران د عدم تشدد په اصولو تيار کړم. په دې سلسله کې چې کله زه څه موده پس د سودم (ضلع مردان) په دوره لاړم نو هغوى ما ته په منظومه سپاسنامه کې ووېل چې د يو لک (۱۰۰۰۰۰) رضا کاران چې تا يې د لاهور جلسه کې اعلان کړى دى ستا د شان سره نه ښايي،د دې نه معلومېده چې په هغه وخت کې په پښتنو زلمو او ځوانانو کې څه قسم جذبه وه،چې جلسه ختمه شوه دومره خلک را نه چاپېره شول، چې موټر ته مو لاره نه مونده،خلکو نه مو سوال وکړو چې موټر له لار راکړئ ګاډى به رانه لاړ شي خلکو لاره راکړه خو د هجوم په وجه د موټر يوه

دروازه هم ماته شوه او رېل ته په وخت ورسېدو، رېل کې سواره شو رېل روان شو. ملايانو چې د سحر بانګونه وې مونږ راولپنډۍ ته ورسېدو.

او د پنډۍ په ټيشن د انقلاب زنده باد چغې وې زه ويښ وم خو ملا مې خوږېده پاڅېدی نه شوم چې اخر مې د سيټي صاحب اواز واورېدو نو پوهـ شوم چې دا خلک خو مونږ له راغلي دي. سيټي صاحب مونږ سره د ګجرات په جېل کې قيد و او ډېر ښه سړی و، او د پيکوړو باټينګنو او چڼو جوړولو ډېر ماهر و او دا څيزونه به يې وتلول نو مونږ له به يې راکول په ډېرو خوارو پاڅېدم او د رېل نه ورکوز شوم زمونږ په ليدو هغوی ډېر خوشحاله شول او راته کلک شول چې مونږ سره به کوزېږئ په ډېرو منتونو تري خلاص شوم چې پېښور کې به راته خلک په انتظار وي او ورته مې ووې چې بيا به راشم، نورخاته کيمبل پور(اټک) ته راورسېدو، زه د پاڅېدو نه وم چې په دې کې يو خدايي خدمتګار زما کوټې (ډبې) ته راوختو، د هغه په ليدو خوشحاله شوم اواز مې ورته وکړو هغه په ټوپونو شو او بهر يې منډه کړه نور ملګري يې خبر کړل په دې کې ګورم چې ميا عيسی زرين خان د يو څو کسانو سره راغی او راترغاړه شول معلومه شوه چې دوی هم د ډېرو د جېل نه راخلاص شوي دي. د دوی په ليدو زه جوړ شوم او هغه درد مې بالکل ورک شو.

مونږ ټول په يوه ډبه کې کېناستو او يو لوی ګپ مو ولګولو ګاډی روان شو او د نوښار په ټيشن ودرېدو باوردی خدايي

خدمتګار سره د نورو خلکو زمونږ په انتظار کې ولاړ وو، د ډبې نه وتل راته مناسب ښکاره نه شول. ما وې هسې نه چې رېل روان شي نو د خپلې ډبې په دروازه کې ودرېدم او يو څو خبرې مې دوی ته وکړې او ګاډی روان شو او پېښور له ورسېدو تېشن له ډېر خلک راغلي وو، مونږ د ګاډي نه کوز شو خلکو سره مو روغ جوړ وکړل بهر موټرونه ولاړ وو زه عبدالاکبر خان او ميا احمدشاه په يو موټر کې کېناستو او لعل باچا او علي ګل خان په بل موټر کې کېناستل زمونږ جلوس په ټول ښار کې وګرځېدو او د هغې نه پس مونږ کلي ته روان شو، ځکه چې هلته هم ډېر خلک زمونږ په انتظار کې وو، مونږ چې د ناقی، تانې ته را ورسېدو نو کوم ځای چې زه ګرفتار شوی وم په هغه ځای يوه دروازه جوړه وه،او د داودزو تخته بادي خان عبدالاحد خان او نور خلک زمونږ استقبال ته ولاړ وو، مونږ يې د موټر نه کوز کړو، خلکو سره مو روغ جوړ وکړل او د يو مختصر تقرير نه پس رخصت شو ځای په ځای خلک ولاړ وو اخر دا چې مونږ چارسدې ته ورسېدو ،دلته په زرګونو خلک جمع وو دلته مونږ د موټر نه کوزېدل مناسب ونه ګڼل،ما ميا احمدشاه او عبدالاکبر خان د موټر نه تقريرونه وکړل او اتمانزو ته روان شو په زرګونو خلک مونږ سره روان شول څه وخت چې د اتمانزو مقبرې ته ورسېدو نو مونږ د موټرونو نه کوز شو او د هغو شهيدانو زيارتونو له لاړو چې لړې ورخې وړاندې د پيرنګيانو په ګولو د اتمانزو په جلسه کې شهيدان شوي وو. دا واقعه داسې وه چې دلته اتمانزو کې خدايي خدمتګارو جلسه کوله په هغې پسې فوج راغی او ترې

چاپیره شو ورته یې وویل چې جلسه مه کوئ او ځئ ولې دوی نه تلل نو ډزې یې پرې وکړې دوه کسان په کې شهیدان شول او نور خلک وتښتېدل، زمونږ جلسو ته به ډېرې زنانه هم راتللې، هغو زنانه و کې یوه جینۍ وه چې زما خورزه وه، دل ارا نوم یې و او د ربنواز خان سالار اعظم خور وه. هغه د زنانه و نه راووتله او جلسې طرف ته یې رامنډې کړې، کوم خلک چې تښتېدل هغوی کې یو سړي ورته وویل چې یه جینۍ دا ته څه کوې؟ نه وینې چې دا ډزې کېږي دې ورته وویل چې بې غېرتو تاسو تښتئ، ځکه خو زه مخامخ پرې ورځم د دې جینۍ په وینا دا ټول خلک ور واپس شول او د فوج نه چاپېره شول نو د فوج افسر تپوس وکړو چې دا خلک څه غواړي؟، سعدالله خان ورته وویل چې دوی ستا تلاشي اخلي چې تاسو د دوی مړي د ځان سره یونه سئ. په دې خبره فوجیان د خلکو د منځ نه ووتل او لاړل، هلته ما د شهیدانو په یاد کې یو مختصر تقریر وکړو، اوخلکو ته مې ووې چې د ازادۍ بُوټې د ځوانانو د وینو په اوبه خور لوېږي او کوم بُوټې چې مونږ لګولي دې امید دی چې ډېر زر به لوی شي ولې چې زمونږ ځوانانو ورله د خپلو وینو اوبه خور ورکړو. د دې ځایه مونږ جلوس مات کړو اوعبدالاکبر خان خپل کلي ته او میا احمدشاه خپل کلي ته لاړل. زه سره د خپلو مهربانانو حجرې ته لاړم، کور هم زنانوو نه ډک و، د هغوی لیدو له هم لاړم. اکثر دوستان زمانه رخصت شول، لیکن زه په ارام نه شوم، ولې چې څوک به تلل اوڅوک به راتلل څه وخت چې به ډېر خلک راجمع شول نو ډاګ ته به راووتو او ټولو ته به مې یو تقریر وکړو. په دې کې به ډېرې

ښځې هم راغلې وې.زمونږ په زنانوو کې هم ډېر جوش و او سياسي شعور پيدا شوی و. مونږ چې د خلکو دې جوش و خروش ته وکتل نو پوهـ شو چې مځکه تياره ده او د کر وخت دی د دې موقع نه فايده اخيستل په کار دي ځکه چې زما دا يقين نه و، چې دا عارضي سوله به پايداره پاتې شي نو په پښتنو کې مو کار شروع کړو شپې او ورځې ته به مو نه کتل دوی پسې کلي په کلي، کور په کور په ټوله صوبه کې وګرځېدم ټول مې د دنيا په حالاتو پوهـ کړل نو تسلي مې وشوه، ماله خدای ډېر ښه ملګري راکړي وو، او جېلخانوکې يې ډېر ښه تربيت حاصل کړی و. ځکه چې جېلخانه د قومي کارکنانو دپاره يوه تربيتګاه ده.زمونږ د تنګي صاحب حق صاحب ډېر مخلص خدايي خدمتګار و، ده سره چې به چا بحث کولو نو ده به ورته ووې چې ته جېلخانې له د قام او ملک دپاره تلی يې نوچې هغه به ورته ووې چې نه نو ده به ورته ووې چې ته په قران نه پوهېږې،زه چې جېلخانې له لاړم نو په قران پوهـ شوم،زمونږ د کار طريقه داوه،چې د صوبې د يو سرنه به شروع شو؛ نو بل سر ته به مو ځان رسولو.مونږ په ټوله صوبه کې او د صوبې په ټولو ضلعو کې يو شان کار کړی دی، خو چې په کومو علاقو کې به خدايي خدمتګاران پيدا شول نو په هغه علاقو کې به تحريک هم ترقي کړې وه.

❋❋❋

# گاندهي اروڼ پېکټ
## (زمونږ دورې او تجربې) دورې
## (هشنغر، دواوه)
## کتوزي، د کانګرس جلسه کراچۍ کې

د خدايي خدمتګارو(سرخپوشو) ښه اثر،کراچۍ کې مصروفيت، د هندوستان دوره، وطن ته واپسي او د سرحد دوره (ټل، هنګو، لاچي، احمدي بانډه، زرکۍ، لتمبر، بنو، سراى نورنګ، ککي، پيزو، شهبازخېل، ډېره اسماعيل خان، ټانک،کلاچي،ګل امام،ګومل، پنياله)، د پنجاب پښتني علاقو ته (کېمبلپور اټک، ميانوالي،عيسى خېل وغېره) زمونږ کار او د پيرنګيانو سازشونه، د کانګرس په ځای سرحد جرګه، ګاندهي جي په بلنه باردولي ته، د پوېداس سره دوره، (بمبۍ ،ګجرات، احمد اباد) بابړه کې ډرامه،کمزوري ملګري، پيرنګيانو تشدد زيات کړو، ديوېداس ګاندهي سرحد کې.

## دورې:

څه ورځې زه د خلکو نه ډېر ناوزګاره وم لیکن کوم وخت چې خلک کم شول نو بیا زه او میا جعفرشاه او عبدالله شاه په لویه دوره ووتو، موټر کې مود صوابۍ او نوښار دوره وکړه او شپې له زیارت کاکاصاحب له لاړو ځای په ځای زرګونه خلک مونږ ته ستړي مه شي له ولاړ وو. پښتنو کې ورورولي، قامولي،مینه محبت او سیاسي شعور پیدا شوی و، خلکو کې داسې جوش و چې بیان یې کولی نه شم. د نوښار په جلسه کې ما له خلکو یوه سره جوبه راکړه او د راکولو په وخت کې یې راته ووې چې دا یاد ولره چې دا جوبه زمونږ په وینو سره ده، چې زمونږ مظلومان درنه هېر نه شي. په مونږ ناوخته شو او زیارت له ناوخته ورسېدو،خدایي خدمتګار غریبانان مخې له راغلي وو او تر هغې ولاړ وو. چې مونږ ور ورسېدو. زمونږ په ورتلو ډېر خوشحاله شو اومونږ د فخر قوم میا حمید ګل صاحب ځای له لاړو، چونکه فخر قوم میاصاحب وفات شوی و. هغه د خپل قام او ملک دپاره ډېرې قربانۍ کړې وې په دې وجه مونږ د هغه لاس نیوي له د ټولو نه اول لاړو، سبا له مو زیارت کې جلسه وکړه، چې جلسه ختمه شوه نو بیا کلي ته واپس را روان شو. بیا ما د هشنغر او د دواوې دوره شروع کړه او خلکو ته مې د خدایي خدمتګارو او جرګو اغراض، مقاصد ښکاره کړل او هغوی مې د خدایي خدمتګارۍ په تحریک پوهـ کړل.زه په دې ډېر خوشحاله شوم چې د هر کلي په جلسه کې ډېرې ښځې شریکېدلې لیکن چې د تنګي په جلسه کې مې د ښځو زور ولیدو نو زړه مې باغ باغ شو ځکه چې زما دا

عقیده وه چې یو قوم هله ترقي کولی شي چې د هغوی سره ښځې اوږه په اوږه لکه د ګاډي د دویمې پایې روانې شي،د الله تعالی شکر مې ادا کړو چې زمونږ خوارې ځای ونیوه او چې زمونږ زنانه را بیداري شوې، نو ډېر امیدونه مې پیدا شول چې که خیر وي اوس به زمونږ قام ترقي وکړي. د تنګي نه ابازو ته لاړو،د ابازو نه قطب ته یو وړوکی کلی دی چې هغې کې ډېر مخلص خدایي خدمتګار اوسیږي په دې خدایي خدمتګارو د ابازو کاکاخېل میاګانو ډېر ظلمونه د پیرنګیانو په وخت کې کړي وو ،ورته یې ویل چې خدایي خدمتګاري پرېږدئ،لیکن د ابازو کاکاخېل میاګان په دې ناوړه اراده کې کامیاب نه شول. اوزمونږ بهادرانو خدایي خدمتګارانو ته د قوم او د ملک د خدمت په لاره کې چې څه مشکلات او څه تکلیفونه د دې میاګانو د لاسه رسېدلي وو، هغه یې په ډېر صبر او استقلال برداشت کړي وو.

له دې ځایه دواوې ته پورې وتُو د کتوزو خلک مونږ له مخې له راغلي وو،دا د دواوې مرکز هم و.دلته ډېر خلک جمع وو،جلسه مو وکړه او خلک مو د خدایي خدمتګارۍ د اغراضو نه خبر کړل، شپې له متې ته لاړو هلته مو هم جلسه وکړه د متې نه سبا وختي سره د خدایي خدمتګارو سیکو ډېرۍ ته لاړو په لاره چې به ځوک خبرېدل د کلو نه به زمونږ د لیدو له پاره راوتل او دې جلوس کې به شریکېدل چې ډېرۍ ته رارسېدو نو زمونږ شمېر زرګونو ته رسېدلی و،په ډېرۍ کې چې جلسه وشوه د جلسې نه پس مو د برې دواوې خلک رخصت کړل او مونږ شپې له انباډېر له راغلو د دې ځای خلک

په خدايي خدمتګارۍ کې سست وو د دې دپاره په جلسه کې ما ښځو ته اپيل وکړو او ورته مې ووې چې دا ملک څنګه د سړو دی دغسې دښځو هم دی او که سړي خدايي خدمتګارۍ ته تيار نه وي نو تاسو ملا وتړئ او تاسو خو هم ما سره وعده کړې وه:

که د زلمو نه پوره نه شوه
فخر افغانه جينکۍ به دې ګټينه

د هغې ټولې جلسې په مخکې هغو ووېل چې مونږ ټولې تيارې يو او تا سره د قام د خدمت وعده کوو چې څه وخت د جلسې نه فارغه شو. زه سره د يوځو خدايي خدمتګارو دولت پورې ته لاړم او د ماښام لمونځ مې هلته وکړو او خلکو سره مې دغه خبرې وکړې. شپې له انباد پر ته واپس راغلو، سباله سوکړ ته راغلو هلته مو جلسه وکړه او ترناو ته راپورې وتو او چې ترناو کې جلسه وشوه نو شپې له اتمانزو له راغلو.

## د کانګرس جلسه کراچۍ کې:

چونکه د ټول هندوستان د کانګرس د جلسې ورځې نزدې وې نو په دې وجه مې نورې دورې پرېښوې او د جلسې دپاره مو د تللو انتظام شروع کړو، زما دا خيال و چې د هرې علاقې جرګه دې يو يو خدايي خدمتګار د کانګرس جلسې له مونږ سره ولېږي او د دوی خرڅ دې خپلې خپلې جرګې برداشت کړي، دې کې دوه فايدې وې يوه خو به خدايي خدمتګار په دې سفر کې تجربه کار شي، بل به زمونږ پراپېګنډه په ټول

هندوستان کې وشي. زما دا تجویز جرګې منظور کړو او د هر ځای نه جرګو یو یو خدایي خدمتګار باوردی راولېږلو. په اتمانزو کې یو ځو ورځې جرنیل عظمت خان چې ډېر قابل او همتناک جرنیل و، دوی له ټرېننګ ورکړو د ټولو دپاره یو شان وردۍ جوړې شوې او بیا کراچۍ له روان شو، چې څه وخت پېښور ته ورسېدو نو خدایي خدمتګارو ډېره پراپیګنډه او جلوسونه کړي وو او په دې طریقه یې د خپل مقصد اشاعت کړی و، شپږ ځلوېښت باوردی خدای خدمتګار وو زه او حاجي عبدالغفار خان، مقصود جان، عبدالله شاه او سعدالله پرې دپاسه وو.

## د خدایي خدمتګارو (سرخپوشو) ښه اثر:

د خدایي خدمتګارو کماندر مونږ سرورشاه مقرر کړو او خزانچي او منتظم مقصود جان شو، مازیګر په رېل کې سواره شو دا ګاډی نېغ کراچۍ ته تللو ټیشن په ټیشن چې به ګاډی ودرېدو نو مونږ به ګاډي نه راکوز شو او د جلوس په صورت کې به را روان شو، ډول او سرنا به غږېدل او چې خلکو به واورېدل، نو خلک به راجمع شول، نو مونږ به خپله پراپېګنډه کوله، سحر وختي لاهور ته ورسېدو دلته ګاډی بدلېدو، لاهور کې ډېر زیات خلک ټیشن ته زمونږ لیدو له راغلي وو.

خدایي خدمتګار سره د خپل بیم باجې په قطار کې روان شو یوه عجیبه نظاره وه په خلکو دومره اثروشو چې زما یو دوست ووې چې: ستاسو د دې ننني مظاهرې نه معلومېږي داسې لکه چې نن د پیرنګیانو حکومت نشته، بلکې د خدایي

خدمتګارو حکومت وي. بیا په رېل کې کېناستو او رېل روان شو او د انقلاب زنده باد په نعرو کې د خلکو نه رخصت شو. چې یو څو ټیشنه مخکې لاړو نو په ټیشن یوې ښځې او یو سړي ما ته سوال وکړو چې مونږ له اجازت راکړه چې مونږ دې خدایي خدمتګارو سره په یوه ډبه کې کېنو، ما ورته وې چې هلته ځای نشته تاسو به په تکلیف یئ، لیکن د هغوی د ډېر محبت او اصرار په وجه ما هغوی له اجازت ورکړو، وروسته معلومه شوه چې دا سړی د بهګت سنګهـ پلار و او دوه ورځې شوې وې چې حکومت بهګت سنګهـ پانسي کړی و، او دا ښځه د جلندر د جینکو د مدرسې مشره استاذه وه، د بهګت سنګهـ د پلار په مخکې هغوی دا مناسب ونه ګڼل چې ډولونه او باجې وغږوي، لیکن هغه په غږولو باندې مجبوره کړل هغه وې چې زما زوی د قوم او ملک د پاره قربان شوی دی هغه مړ نه دی ژوندی دی، په دې وجه مونږ له خوشحالي کول په کار دي او په ټوله لار یې په دوی ډولونه وغږول بلـه دا چې هغه استاذه ډېره زوروره قومي ښځه وه، هغې ډېرې قومي غزلې خدایي خدمتګارو ته یادې کړې او قومي نظمونه یې ورته ولیکل او وښودل او دوی سره به یې پخپله هم یو ځای ویل. زمونږ خدایي خدمتګار به په هر یو ټیشن چې ګاډی ودرېدو نو دوی به کوز شول او په یو لاین (قطار) کې به جوړه جوړه روان شول، ډول سرنا به ورسره غږېدل او دوی به د((انقلاب زنده باد))، ((فخر افغان زنده باد)) چغې وهلې، د ټیشن ټول خلک به ورسره روان شول، دوی ته به ډېر خوشحالېدل او ډېر عجیبه کار ورته ښکارېدو.

## کراچۍ کې مصروفیت:

هر کله چې د کراچۍ ټیشن ته ورسېدو، نو ډېر خلک مونږ له ټیشن ته راغلي وو، عبدالخالق خلیق صاحب هم سره د یو څو نورو پښتنو دغلته موجود و، د کراچۍ ډېر پښتانه راغلي وو، خو د ټیشن نه بهر ولاړ وو، مونږ چې ګاډي نه کوز شو او خدایي خدمتګارو خپله وردي برابره کړه د بهارت سبها یو څو ځوانان چې سره کمیسونه یې اغوستي وو او په هغوی کې د پېښور دیوان روشن لال هم و، ماله راغلل چې دا ډولونه بند کړه ما ترې پوښتنه وکړه چې په څه سبب؟ دوی ماته دا ووې چې بهګت سنګهـ پانسي شوی دی، ما ورته ووې چې تاسو به په بګهت سنګهـ ډېر خپه یئ که د هغه پلار؟ د هغه پلار خو زمونږ سره په رېل کې یو ځای راغی، خدایي خدمتګارو ډولونه او باجې نه غږولې هغه په زور په دوی وغږول او مونږ ته د هغه حکم دی چې ډولونه به غږوئ ځکه چې هغه وایي چې بهګت سنګهـ د قوم او ملک نه ځان قربان کړی دی، هغه مړ نه دی ژوندی دی نو دا د خوشحالۍ مقام دی هغه په دې ټیشن موجود دی تاسو ترې پوښتنه وکړئ، که چیرې د هغه رضا نه وي نو مونږ به ډولونه بند کړو.

مونږ چې د ټیشن نه را ووتو نو په زرګونو خلک مونږ ته ولاړ وو، د پښتنو د طرف نه خلیق صاحب مونږ ته سپاسنامه پېش کړه د هغې په ځواب کې ما یو مختصر تقریر وکړو، او د هغوی شکریه مې ادا کړه، د پښتنو دا خیال و، چې مونږ پیاده د جلوس په شکل کې دوی سره د کانګرس تر پنډاله پورې لاړ شو، لیکن مونږ ته چاووې چې مهاتماګاندهي جلوسونه بند

کړي دي په دې وجه مونږ په لارو کې سواره شو او د هغوی خواهش مو پوره نه کړی شو او خپل عذر مو ورته پېش کړو، خو هغوی په دې خبره خپه شول.

څه وخت چې مونږ د کانګرس پنډال ته ورسېدو نو د کانګرس په پنډال کې شور شو او د رضاکارو د تیارۍ د پاره سیټۍ (شپېلۍ) وغږېدې، لیکن چې دا ورته معلومه شوه چې دا خو خدایي خدمتګار دي نو په قلار شول. حقیقت دا و چې څه وخت ګاندهي جي راتلو نو تیشن له ورله د بهارت سبها سُور کمیسي ځوانان تللي وو او توري جنډې یې ورله مخې له وړې وې او ډېرې ګستاخانه خبرې یې هم ورته کړې وې نو چې څه وخت مونږ ښکاره شو؛ نو زمونږ وردۍ سرې وې نو چا دا اواز وکړو چې هغه دي سُورکمیسي راغلل، او د کانګرس په پنډال حمله کوي.د هندوستان او انګلستان په اخبارونو کې دا غلط خبرونه شایع شول چې سرخپوشو ګاندهي جي له توري جنډې وړې وې، او هغوی د کانګرس نه بغاوت وکړو. د انګلستان اخباراتو پرې لوی لوی مضمونونه ولیکل او ډېرې خوشحالۍ یې وکړې، خو د دروغو مزل لنډ وي او تر هغه وخته پورې وي، چې رښتیا ښکاره شوي نه وي، مونږ یې د کانګرس یو خاص کېمپ له بوتلو هلته لوی لوی تنبوان لګېدلي وو، په هغه کېمپ کې خو ډېر تنبوان وو،خو ما د ځان او د خدایي خدمتګارو د پاره پنځه تنبوان کافي وګڼل او په هغو کې مو خپلې بسترې خورې کړې.مونږ لادمه شوي نه وو چې د اخبارونو خبرلوځي راغلل او د ګاندهي جي او د خدایي خدمتګارو د مخالفت سوالونه یې شروع کړل ما ورته ووې

چې دا ټولې خبرې غلطې او بې بنیاده پراپېګنډه ده، زمونږ ګاندهي جي سره او کانګرس سره هېڅ قسم مخالفت نشته او اخباراتو کې چې څه شایع شوي دي هغه کې یوه زره رښتیا نشته، ټول خبرونه غلط او بې بنیاده دي. مازیګر د پنډت من موهن مالویه جي زوی راغی او هغه زما نه د دې متعلق یو لوی بیان ولیکلو او هغه یې د هندوستان ټولو اخباراتو له ولېږلو.

د هندوستان ښځې، نر، د خدایي خدمتګارو او زما د لیدو ډېر خواهشمند وو او هر وخت به زمونږ په کېمپ کې یو غوبل و، او زرګونه خلک به زمونږ کتو له راتلل ولې چې هغوی ته خو پښتانه د ځناورو په رنګ ښودلی شوي وو. او دلته د انسانیت او قومیت په اوچته پوړۍ ولاړ وو، د پښتنو متعلق په ټول هندوستان کې ډېره غلطه پراپېګنډه شوې وه او دوی ورته متشدده خلک ښکارېدل خو اوس د کانګرس سره اوږه په اوږه د عدم تشدد په لاره روان وو او د پیرنګیانو جبرو ظلم ته یې په صبر او استقامت خپلې سینې ډال کړې دي. دوی ته پښتانه او کانګرس سره ملګرتیا ډېره عجیبه ښکارېده، چې دوی پښتانه خدایي خدمتګار پخپلو سترګو ولیدل د دوی د عمل د دوی د تنظیم، د دوی د اخلاص او د دوی د عدم تشدد نه خبر شول نو سترګې یې وغړېدې او تسلي یې وشوه او چې څومره پراپیګنډې د دوی برخلاف شوې وې هغه یې د ماغزو نه ووتلې، قسم قسم خلک به ماله راتلل او قسم قسم سوالونه به یې کول. ما به چې څومره زما نه کېدی شوه پوهول. د خدای ډېر شکرګزاره یم، چې کوم خیالات د مودونه زمونږ خلاف د دې خلکو په زړونو کې پیدا کړی شوي وو، د هغوی تر ډېره

حده پورې اصلاح او ازاله وشوه. بله دا چې دلته د کانګرس دې جلسې له د ټول هندوستان خلک راغلي وو، هغه ټول د حقيقت نه خبر شول. خدايي خدمتګار چې به څه وخت د کانګرس لنګر له ډوډۍ خوړلو دپاره لاړل نو لوی لوی سپيان به لاس په نامه د دوی خدمت ته ولاړ وو او هر سړي به د دې کوشش کولو چې د خدايي خدمتګارو سره شريک شم او هر طرف ته چې به خدايي خدمتګار لاړل نو خلکو به يې ډېر عزت کولو او څه وخت چې د کانګرس دا سالانه جلسه شروع کېده، نو په دغه افتتاحي اجلاس کې د شرکت دپاره ګاندهي جي، جواهر لال نهرو او سردار پټېل خدايي خدمتګارو پسې راولېږل چې سره د بينډ باجو په دغه غونډه کې حصه واخلي. جواهر لال نهرو او د هغه بي بي کملا ديوي او خور بي بي يې سره د خپلو دوستانو د خدايي خدمتګارو پريډ او باجې ليدو او اورېدو له به راتلل په ټول ملک کې د خدايي خدمتګارو يو درز و او زمونږ د خدايي خدمتګارو په وجه د پښتنو د نېک نامۍ ډېره لويه پراپېګنډه وشوه او هغه د بدنامۍ داغ د دوی د تندي نه ووينځلی شو او د دوی په وجه خلکو پښتانه وپېژندل او هغوی سره يې مينه پيدا شوه.

د کانګرس په جلسه او پنډال کې خدايي خدمتګارو ته ازادي وه هر ځای له تلی او ګرځېدی شول يا هغه پښتون و، چې ټول هندوستان کې به تري خلکو سترګې پټولې او ډاکو قاتل ورته ښکارېده او يا دا ساعت دی چې د کانګرس او قوم په دوی دومره اعتبار پيدا شو، چې د خپلو زنانوو انتظام او حفاظت يې خدايي خدمتګارو ته حواله کړو، بله دا چې دا کار

ډېر ګران و، نه دا انتظام پولیس کولی شو او نه د کانګرس رضا کارانو کولی شو خو دې خدايي خدمتګارو داسې په ښه طریقه سره وکړو چې د دوی انتظام او ډسپلین ته دنیا حېرانه شوه او نور خلک خو پرېږده،د پولیس یو لوی افسر چې دلته د انتظام دپاره لګېدلی و،د خدايي خدمتګاروکمانډر عظمت خان ته یې ټوپۍ کوزه کړه،او لاس یې ورکړو او دده شکریه یې ادا کړه. او چې څه وخت به عظمت خان ښکاره شو نو د پولیس مقامي افسرانو به ورته سلامونه کول او د خدايي خدمتګارو نه علاوه چې پولیس له به یې څه قسم حکم ورکړو هغوی به یې تعمیل کولو.د دې هم په کانګرس او ټول هندوستان ډېر ښه اثر وشو.

کراچۍ کې ډېر پښتانه اباد دي چې د روزګار دپاره تللي دي. د هغوی دا خواهش و، چې خدايي خدمتګارو له میلمستیا وکړي او د دوی دپاره یې روپۍ هم جمع کړې وې د هغوی یو څو مشران د خلیق صاحب سره زمونږ کېمپ ته راغلل او ماته یې خپله اراده ظاهره کړه ما د دوی د محبت او اخلاص ډېره شکریه ادا کړه او دا عرض مې ورته وکړو چې تاسو خو زمونږ ورونه یئ مونږ ستاسو خدمتګار یو مونږ ته په درتلو کې هېڅ عذر نشته او چې څه وخت تاسو غواړئ مونږ به درشو خو ډوډۍ سره مې اتفاق نشته پښتون دومره غریب دی چې د ده پیسې په ډوډو لګول په کار نه دي. هغوی ووې چې مونږ چنده جمع کړي ده نو ما ورته ووې چې د پخې ډوډۍ په ځای دوی له اُومه ډوډۍ ورکړئ هغه به په څه فایده راشي هغوی ما سره په دې اتفاق وکړو، بله ورځ مونږ هلته لاړو،ټولو پښتنو

سره مو لیدل کتل وشو د کراچۍ نور خلک هم راجمع شوي وو هغوی مالـه یوه سپاسنامه راکړه او دوه نیم سوه روپۍ یې راته پیش کړي ما د هغوی شکریه ادا کړه اود سپاسنامې ځوابي تقریر مې وکړو او روپۍ مې د خدایي خدمتګارو دپاره منظورې کړې.

په کراچۍ کې د جمعیة العلماء هند سالانه جلسه وه، مولانا احمد سعید صاحب ناظم ماته یو خط ولیکلو، مولانا احمد سعید صاحب ناظم او صدر صاحب مولانا کفایت الله مونږ سره د ګجرات په جېلخانه کې یو ځای اوسېدلي وو او زمونږ ورسره ډېر ښه تعلقات جوړ شوي وو، چې که کېدی شي نو خدایي خدمتګار دې د جلسې په ورځ مونږ سره شرکت وکړي چې مونږ سره امداد وکړي اومونږ له یې هم دعوتي خطونه راولېږل، مونږ په ډېره خوشحالۍ سره د دوی دعوت منظور کړو او خدایي خدمتګار مو د هغوی خدمت او امداد دپاره ورولېږل او زه هم د هغوی جلسه کې شریک شوم. د خدایي خدمتګارو د انتظام او خدمت نه هغوی ټول ډېر خوشحاله وو او ماته یې د هغوی د انتظام ډېر تعریف وکړو.

## د هندوستان دوره:

د کانګرس جلسه ختمه شوه او د جلسې د ختمېدو نه پس مونږ په دوه ځایه تقسیم شو یوه ډله د حاجي عبدالغفار، میا عبدالله شاه او سعدالله خان سره د هغو خدایي خدمتګارو چې هغوی واپس تلل غوښتل، او بله ډله زما سره وه چې مونږ په ټول هندوستان کې ګرځېدل غوښتل اوخپله پراپېګنډه مو

کوله.زمونږ اوله ډله کلي ته روانه شوه او دا دویمه زه او مقصود جان د خدایي خدمتگارو سره د کانگرس د مسلمانانو په اصرار بمبۍ ته روان شو، مونږ ماښام د اوبو په جهاز کې سواره شو ډېر پښتانه او د کراچۍ خلک زمونږ رخصت کېدو له راغلي وو مونږ چې څه وخت خپل سامان سمبال کړو، نو بیا ټول په یو قطار کې ودرېدو او د جهاز نه مو باجې او ډولونه وهل شروع کړل په بندر کې پښتنو شهدوله واچوله او هغه پړپیشکو یې جوړه کړه چې د جهاز ټول پیرنگیان او مېلمانه د دوی تماشې ته ودرېدل لاندې یو پیرنگی په جوش کې راغلو، سره جنډه ورسره وه میدان ته یې راودنگل لیکن یو پولیس افسر راغی او هغه یې د دوی نه وښکلو یو عجیبه کیفیت او عجیبه ننداره وه چې په دې کې زمونږ جهاز روان شو او لږ ساعت پس د بندر هغه ټول خلک زمونږ د نظر نه غیب شول.

بله ورځ مونږ بمبۍ ته ورسېدو دلته په زرگونو خلک زمونږ استقبال له راغلي وو، ولې چې په اخباراتو کې زمونږ لویه پراپیگنډه شوې وه په کوم بندر کې چې خلک جمع شوي وو زمونږ جهاز یې هلته ونه درولو بلکې د هغه نه کوز په یوه بله بندرگاه کې یې مونږ کوز کړو، لیکن په یو ساعت کې هغه خلک هلته راورسېدل، زمونږ یې یو لوی جلوس په ښار کې ووېستو او څه وخت چې مونږ د کانگرس دفتر ته ورسېدو، نو جلوس ختم شو او بیا مونږ د ارام د پاره چې کوم ځای زمونږ د پاره مقرر و هلته لاړو، په بمبۍ کې زمونږ ډېره لویه پراپیگنډه وشوه، ځای په ځای مو جلسې وکړې او بله دا چې زمونږ په ورتلو په مسلمانانو هم څه اثر وشو، خو په پیرنگیانو

باندې مېږي لګيا شول او زمونږ خلاف يې دا پراپېګنډه په مسلمانانو کې شروع کړه چې دا خلک هندوانو په دې غرض راوستي دي چې جماعتونو سره ډولکي او باجې وغږوي چې سبا له مسلمانانو ته د هندوانو په ډولکو او باجو څه اعتراض نه وي، د هندوستان په مسلمانانو کې دومره سياسي شعور نشته چې څومره په هندوانو کې دی، سياسي شعور په يو قوم کې د اسمانه نه راځي او چې په کومو قومونو کې د سياسي شعور خلک پيدا شي نو خپل قوم پسې وګرځي هغوی کې سياسي شعور پيدا کړي، مسلمانان ډېر ښه قوم دی خو په هغوی کې داسې خلک تر اوسه پورې پيدا شوي نه دي.تاسو د هندوانو، مسلمانانو دې ليډرانو ته فکر وکړئ، د هندوانو مشران او ليډران قوم پرست دي خو د مسلمانانو مشران او ليډران خان بهادران او خان صاحبان وي، دوی چې څه غواړي ځان له غواړي يا پېرنګي له غواړي. د دې غريبانانو څوک غمخور نشته او ځکه دوی د هندوانو نه وروسته پاتې شول.

د پارسي قوم له طرفه مونږ ته يوه سپاسنامه هم راکړې شوه، په جلسه کې په زرګونو ښځې، نر شريک شوي وو، ما د ډېرې شکريې نه پس د خدايي خدمتګارۍ ضرورت او حقيقت ښکاره کړو او ما ورته ووې چې دا تحريک په دې غرض شروع شوی دی چې مظلوم د ظالم د ظلم نه خلاص کړي او هر څوک چې په دنيا کې ظالم وي که مسلمان وي که هندو وي او که پيرنګی وي دوی هميشه د هغوی مخالفت کولو دپاره تيار دي. خدای ته خو د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی.

د بمبئ نه پس دهلي له راغلو، دلته هم زمونږ استقبال له په زرګونو خلک راغلي وو، زمونږ د مېلمستيا انتظام جمعية العلماء هند کړی و، مونږ هلته لاړو او ارام مو وکړو او مازيګر يې زمونږ جلوس په ښار کې وګرځولو، هندوانو او مسلمانانو چې د کومې مينې او اخلاص مظاهره وکړه د هغې به درته څه ذکر کوم په ټوله لاره زمونږ په جلوس خلکو ګلونه نوستل او ځای په ځای سپاسنامې راکړی شوې ماښام جلوس ختم شو د جلسې په ځای کې ښځې او نر د ماشو اومېږو په شان راجمع شوي وو، ما په جلسه کې د شکريې نه پس يو تقرير وکړو چې اميد دی چې ستاسو د زړونو نه هغه شکونه او وهمونه اوس لرې شوي وي، چې کوم ستاسو په زړونو کې د پښتنو خلاف دښمنانو پيدا کړي وو او په دې تقرير کې مې د ډيلي د ښځو د بهادرۍ او قربانۍ چې کومې هغوی د ازادۍ په دې تحريک کې کړې وې تعريف وکړو او دا مې ووې چې د کوم قوم ښځې چې بېدارې شي او د ملک د ازادۍ دپاره ملا وتړي نو هغه قوم څوک غلام ساتلی نه شي او هغه قومونه به ډېر زر خپل منزل ته ورسيږي.

جلسه په ډېره کاميابۍ سره ختمه شوه او مونږ ټيشن ته لاړو او په رېل ګاډي کې سواره شو لږ ساعت پس ګاندهي جي هم سره د يو څو تنو خپلو ملګرو په دې ګاډي کې زمونږ سره يو ځای امرتسر ته روان شو په هر ټيشن کې به د ګاندهي جي د ليدو دپاره خلک راغلي وو، دومره شور او غوغا وه چې مونږ ترې خوب کولی نه شو او نه ګاندهي جي اوده کېدی شو، او څه وخت چې زمونږ ګاډی سهارنپور ته ورسېدو، نو هلته ډېر خلک

راجمع شوي وو هغوى ته مونږ خبر نه و کړى، خو دوى د جلسې اعلان هم کړى و او په زرګونو ښځې، نر نيمه شپه تيښن سره نژدې زمونږ په انتظار ولاړ وو، ګاندهي جې خو بالکل د کوزېدو نه انکار وکړو د هغه نه پس هندوان، مسلمانان ماله راغلل او ماته يې ډېر منت وکړو چې وګوره په دې نيمه شپه کې څومره ښځې، نر راجمع شوي دي نو که چېرې ته هم مونږ سره کوز نه شوې، نو دا خلک به ډېر مايوسه شي او راته يې ووې چې يوه ګينټه پس بل ګاډى راځي، نو زه د دوى د خوشحالۍ له پاره ورسره کوز شوم، مونږ چې د جلسې مقام ته ورسېدو نو زمونږ د پاره د ښار نه بهر خلک زمونږ په انتظار کې ناست وو ما په دې خپل زړه کې ووې که چېرې زه هم دوى سره راغلى نه وى نو د دوى زړونو ته به څومره صدمه رسېدلې وه. زما په راتلو يې هم څه نا څه تسلي وشوه، يو څو خبرې مې د تقرير په شکل وکړې وخت راسره نه و بيا ترې واپس تيښن ته راغلو چې په دې کې هغه رېل راغى او په هغه کې مونږ سواره شو، راى زاده هنسراج چې د جلندر و او ماسره د ګجرات په جېلخانه کې يو ځاى قيد و، او ډېر ښه سړى و او چې کله به د ده ملاقات و نو مونږ له به ډېرې غوړې زېړې دده کوروالاو راوړلې. زما ډېر اشنا و او مونږ سره يې ډېر ښه تعلقات وو. ما د ده سره دکوزېدو وعده کړې وه اوزمونږ اراده وه چې جلندر کې به کوزېږو ده سره به دمه کوو بيا به بل ګاډي کې امرتسر ته لاړ شو، چې څه وخت زمونږ ګاډى لوديانې ته راورسېدو نو هغه خلک زمونږ نه خبر شوي وو، ښځې، نر تيښن له راغلي وو او دا کوشش يې کولو چې مونږ سره دلته

کوز شي مونږ يې په دې مجبوره کړو چې د جلندر نه واپس لوديانې له راځئ نو وعده مو ورسره وکړه نو هلته ترې مونږ خلاص شو او بيا هم راسره يوه ښځه په ګاډي کې جلندر ته ورسېده، نو لاله هنسراج او د هغه ټبر او خاندان او ورسره نور ډېر خلک ټيشن له راغلي وو او د هغه هم مونږ سره امرتسر ته د تللو اراده وه چې ټيشن کې داسې غوبل جوړ شو چې زه به يې درته څه ووايم.

بعضې خدايي خدمتګار ګاډي کې پاتې شول او څه ماسره کوز شول خو خپل سامان يې کوز نه کړی شو مونږ جلندر ته لاړو هلته مو د جينکو سکول وکتو زرګونو خلکو ته مې يو مختصر تقرير وکړو او بيا واپس لوديانې ته روان شو مونږ يوه لارۍ کې د لاله هنسراج سره لوديانې ته لاړلو د ښار نه بهر ډېر خلک ولاړ وو ډېر وخت مونږ په کشمکش او جلوسونو کې ضايع کړو او دلته مو لويه عظيم الشانه جلسه وکړه خو ريل ګاډی رانه لاړلو، د دې ځای مسلمانانو خدايي خدمتګارو له د لارۍ انتظام وکړو او له دې ځايه مونږ په لارۍ کې امرتسر ته روان شو، مازيګر ورسېدو، په بازارونو کې خلکو مونږ سره ډېره مينه کوله چې دوی به زمونږ د لارۍ نه چاپېره شو اخر په ډېرو خوارو هغه ځای ته ورسېدو چې کوم ځای ګاندهي جي کوز شوی و، معلومه شوه چې ګاندهي جي ته هم خلکو په ټيشن ډېر تکليف ورکړی و او هغه ناجوړه هم و زه د هغه ليدو له لاړم هغه مخ سرتړلي وو او په ډېر تکليف کې و، ما هغه خپل ټول د قيد ملګري که هندوان وو که مسلمانان وو که سکهان وو چې څوک ماسره د ګجرات په جېل کې اشنا شوي وو

ولیدل. زما طبیعت هم ناسازه و، په دې وجه ما مناسب وګڼل چې د سکهانو ورونړو نه اجازت واخلو او کلي ته لاړ شو.

## وطن ته واپسي:

هغوی نه مې په ډېر زور رخصت واخیستو، ما وې زه ناجوړ یم، هېڅ هم نه شم کولی او تاسو مې پاتې کوئ، نو زه به زیات ناجوړه شم هغوی رضا شول او ما له یې رخصت راکړو او مونږ د شپې په ډاک ګاډي کې راروان شو سحر وختي نوښار ته راورسېدو او چې کوم خدایي خدمتګار د دې ځای وو هغوی مو رخصت کړل او مونږ مردان ته روان شو، د مردان ټیشن له په زرګونو خلک راغلي وو، مونږ هغوی سره هوتي مردان ته لاړو د کلپانۍ په غاړه د یوې لویې جلسې انتظام شوی و، چې جلسه ختمه شوه نو بیا طورو مایارو ته لاړو هلته هم د دواړو کلو خلک راجمه شوي وو جلسه مو وکړه خلکو ته مو د دورې ټول حال ووې او بیا مونږه واپس اتمانزو ته راغلو.

یو څوورځې مې ارام وکړو او چې ښه شوم نو د صوبه سرحد د دورې اراده مې وکړه چې په دې کې د کوهاټ، بنو، ډېره اسماعیل خان، د کمېټو له طرفه دعوتونه هم راغلي وو، زه د ټل او هنګو په دوره روان شوم په دوره کې ماسره د مانګانو باندې د قاري صاحب زوی هم تلی و هغه ډېر خوش اوازه و، قومي نظمونه به یې ویل چې:

ستا له میچنو نه وېرېږو ای سرکاره ولې مو وېروې.

د دې به په خلکو ډېر ښه اثر کېدلو، په لاره کې د درې ټول اپریدي ورونړه خبر شوي وو زمونږ استقبال د پاره ځای په ځای

ناست وو او د چاى او ډوډۍ انتظام يې هم کړی و، زمونږ د ښکاره کېدو سره ډزې شروع شوې او ډېر خوشحاله شول، ما به ډېر منع کول چې ډزې مه کوئ زما نظريه خو د عدم تشدد ده، خو هغوی خو ازاد خلک وو کله منع کېدل. ځای په ځای چې به دوی جمع وو مونږ به ور کوز شو او مختصر تقريرونه به مې ورته وکړل او د خدايي خدمتګارۍ په حقيقت به مې پوهـ کړل، د دې ځای نه اول ټل او بيا واپس هنګو ته لاړو او چې هلته مونږ خپل د تحريک ورونه وليدل او جلسې وشوې نو واپس د کوهاټ ښار له راغلو، د کوهاټ خلکو خو يو لوی نمايش کړی و، خو د باران په وجه رونق خراب شو، د جلوس نه پس مو جلسه وکړه او تقرير مو وکړو او خلکو ته مې د خدايي خدمتګارۍ د جرګو جوړولو دعوت ورکړو، چې سباله بنو ته روان شو په لاره کې لاچۍ او احمدي بانډې، بانډه داود شاه کې مو جلسې وکړې، بيا کرک ته لاړو هلته جلسه وشوه د زرکې په ټوله علاقه کې وګرځېدو، واپسۍ کې لتمبر ته راغلو او د محمد افضل خان ځای کې مو جلسه وکړه کوهاټ کې زمونږ ډېر ښه کارکنان وو،1 چې دوی کې يو د زرکې عبدالغفار نومېده چې د قومي خدمت په لار کې يې ځان قربان کړی و، ده د خودکشۍ په وخت کې يو خط زما په نامه ليکلی پرېښی وو، په هغې کې يې ليکلي وو چې ما د يو خدايي خدمتګار په حيث تاسره د لوی خدای د وړاندې دا لوظ کړی وو چې زه به د خدای د مخلوق خدمت د هغه د رضا د پاره کوم او که په دې لاره کې هر قسم تکليف او مصيبت په ما راځي نو زه به د هغې مقابله په عدم تشدد کوم. چونکه د مسلم ليګ په

نامه د قیوم خان حکومت دلته زمونږ د وهلو، ټکولو، قیدولو، مال تالا کولو، او جایداد ضبط کولو نه علاوه زمونږ د کورونو او زنانوو بې پردګي هم کوله نو زما پښتنې غیرت دا برداشت نه کړی شوه، پکار خو دا وو چې ما ټوپک را اخستی وی او د دې ظالمانو نه مې خپل بدل اخیستی وی خو چونکه ما تا سره دا لوظ کړی وو چې زه به په عدم تشدد پابند اوسم نو د دې وجهې نه زه خپل ژوند ختموم او د خدای سره سره تانه هم معافي غواړم چې زه تاسره په هغه خپل لوظ ټینګ پاتې نه شوم.]

دې ضلع کې تقریباً یو لک خدایي خدمتګار وو، دلته د لتمبر د کلي خان د سړک په غاړه مونږ ته د چایو انتظام کړی و، مونږ چای څکله چې زمونږ د بنو خدایي خدمتګار را ورسېدل او مونږ ورسره په موټر کې بنو ته روان شو، بنوڅو هم مونږ د پاره ډېر نمایش کړی و، او په ښار کې یې زمونږ یو عظیم الشان جلوس وښکو په زرګونو خلک په کې شریک شول ډېره ښه جلسه وشوه او ډېر مخلوق ورله راغلی و، سالار یعقوب خان او ویشوامتر دلته ډېر کار کړی و، دوی د لته د هندوانو او مسلمانانو ښه اتفاق رااووستی و، هلته مې هم یو مختصر تقریر د خدایي خدمتګارۍ متعلق وکړو، د هغه ځایه سبا له مونږ ډېرو ته روان شو، میراخېل کې نورنګ او سرای کې مو جلسه وکړه ککي کې مو هم جلسه کړې وه، شهباز خېلو او پیزو کې مو جلسه وکړه، لکي مروت لاره کې راتلل هلته مو جلسې وکړې. ډېرو ته نزدې مونږ د پاسو پښتنو څه کډې ولیدې او مونږ هغوی ته ورستانه شو، مونږ لا هغوی سره خبرې

کولي چې په دې کې يو موټر راغى او موټر ته يې ووې چې زر راځئ خلک د ښار نه بهر راوتي دي سخت په انتظار کې دي، موټر هغوى سره روان شو او چې د ډېرو ښار ته نږدې شو نو په زرګونو خلک زموږ په انتظار کې ولاړ وو، زموږ د موټرو په ليدو سره يې د انقلاب او فخر افغان زنده باد نارې ووهلې، بازارونه، سړکونه، دکانونه يې بند کړي وو ځاى په ځاى دروازې ډېرې ښې جوړې شوې وې، زما په خيال دلته ډېر لوى لوى خلک راغلي وو، خو داسې استقبال يې شوى نه و، زه يې په اس سور کړم او د جلوس ورانـدې روان شوم، په زرګونو ښځې، نر په دکانونو، بالاخانو او کوټو باندې ولاړ وو، پيرنګيانو ډېر کوشش کړى و، او په هندوانو يې ډېر دباوونه کړي وو چې په دې طريقه زما جلوس او استقبال ونه شي خو بالکل ناکامه شوي و، ددې جلوس ټول انتظام هندوانو کړى و.

ډېره اسماعيل خان کې په دې ورځو کې د قومي تحريک زور او شور و، د دې ښار په چاپيره علاقو کې هم تحريک په زور کې و، ټانک، کلاچى، ګل امام، ګومل بازار او پنياله کې خلک په تحريک کې په زور او شور کې شاملېدل، ښار کې د سړونه علاوه د ښځو او وړو هلکانو جلوسونه وتل. يوه ورځ د ښځو جلوس په بازار کې تېرېدو هر کله چې دا جلوس د ډاکټر جنډه رام چوک ته ورسېدو نو د صوبه سرحد انسپکټر جنرل پوليس ايس مانګر د جلوس د خورېدو حکم ورکړى و، خو ښځو انکار وکړو، جرنيل د ښځو په دې انکار ډېر غصه شو او تمانچه يې راوښکله او چلوله يې چې ناڅاپه يو زلمي

سرداربهگوان سنگهـ د ده لاس ونیـو او ورتـه یـې ووې چـې تالـه شـرم نـه درځـي چـې پـه ښـځو تماچـه چلوې. د جرنیـل صـاحب لاس وړچیـدو او تماچـه تـرې ښـکته پرېوتـه جرنیـل صـاحب وارخطـا شـو او بنګلـې تـه لاړ او تماچـه ورلـه یـو سپاهي یـوړه. د بهګـوان سنګهـ د دې جـرات بدلـه پـه ۱۹۳۱ع کـال کـې د فرقـه وارانـه فـساد نـه پـس واخیـستی شـوه او هغـه د دروغـو د یـو قتـل پـه مقدمـه کـې ونیـوی شـو او ډېـر مـصیبتونه یـې پرې تېـر کـړل او چـې ثبوت پرې پیدا نه شو نو پرې یې ښوده.

هنـدوانو تـه حکومـت ډېـر پـه قهـر و او دغـه وجـه وه چـې پینځـه میاشـتې پـس یـې پـه هنـدوانو، مـسلمانان ورواچـول اوکـور کـې یـې وجنګـول او لـوی فـساد وشـو، د هنـدوانو مالُونـه یـې پـرې لُـوټ کړل، کورونـه او بازارونـه یـې وسـوزول او ډېـر هنـدوان اومـسلمانان قتـل شـول. او د لکونـو روپـو نقـصان وشـو او د پنیـالي یوخـان بهـادر چـې هغـه سـره د ډپټـي کمـشنر او شـیخ محبـوب علـي اسـسټنټ دا صـلاح وکـړه او دوه لاري یـې هـم ورکـړې چـې خپلـو نوکرانـو لـه سرې وردی جوړې کـړي او پوهـ یـې کـړو چـې مـونږ پـه ښـار کـې فـساد کـول غـواړو، کـوم وخـت چـې در تـه ټیلیفـون وکـړم نـو دغـه د سـرو جـامو نوکرانـو لـه ټـوپکې او تمـاچې ورکـړه او ښـار لـه یـې د لُـوټ او اور لګولـو د پـاره فـوراً راورسـوه،ده هـم دغـسې وکـړل. د پیرنګـي ډپټـي کمـشنر دا پالیـسي وه چـې یـو خـوا بـه هندوان ووهـل شي لُـوټ بـه شي اوبـل خـوا بـه سـرخپوش خـدایي خـدمتګار بـدنام شـي او د دوی بـر خـلاف بـه پراپیګنـډه پـه ټـول هندوسـتان کـې وکـړو چـې کـانګرس هـم پـه دوی بدګمانـه او خپـه شـي او دوی لـه ځانـه بېـل کـړي.د

شپې یوه عظیم الشانه جلسه وشوه ما په کې یو مختصر تقریر وکړو چې زه ستاسو د هندوانو او مسلمانانو په اتفاق ډېر خوشحاله شوم او امید کوم چې تاسو به خپل دا اتفاق د اینده دپاره قایم او دایم وساتئ او د ملک د ازادۍ په لاره کې به کافي حصه واخلئ. سبا له مونږ کلاچۍ له لاړو کلاچۍ کې د ګنډه پور خانان رمضان خان وغیره ټول مونږ سره ملګري شول دلته د خدایي خدمتګارو جرنیل کنور بهان نارنګ صاحب وروستو بیا سالار شو او د هغه ځای خلکو زمونږ ښه استقبال وکړو، خدایي خدمتګارۍ کې خلک په ډېر شوق داخل شول او جرګه مو هم جوړه کړه، د کلاچۍ نه ټانک ته لاړو او د ټانک خو ډېر زورور پښتانه دي. ډېر خلک په جلسه کې شریک شول، شپې له ګل امام له لاړو ظفر خان دوی هم مونږ سره شامل شول، دلته هم جلسه وشه او ډېرو خلکو خپل نومونه خدایي خدمتګارۍ کې ولیکل. له دې ځایه واپس بنو ته لاړو بیا کوهاټ او پېښور ته واپس شو.

## د پنجاب د پښتني علاقو دوره:

خدایي خدمتګاري چې جوړه شوه نو مونږ ته ضلع کیمبلپور (اټک) او ضلع میانوالي نزدې وې او په کې زیاته ابادي زمونږ د پښتنو ورونو وه. او دا دواړه ضلعې مونږ سره لګېدلې دي. کېمبلپور د پېښور ډیویژن کې اومیانوالي ډېره اسماعیل خان ډیویژن کې وو، څه وخت چې تحریک شروع شو نو دا ضلعې یې زمونږ نه کټ کړې او پنجاب سره یې کړې دا ضلعې زمونږ ګاونډ کې دي، نو مونږ دې کې هم دورې کول

غوښتل، خو ضلع کېمبلپور ته حکومت نه پرېښودلو تر دې چې زمونږ خپل وزارتونه جوړ شول، بیا هم چا نه پرېښودو، یو ځل مونږ د وزارتونو په وخت کې د کېمبلپور په دوره تللو خیال مو دا و چې اوس خو قومي وزارتونه دي، مونږ به پرېږدي خو چې د اټک نه پورېوتلو نو پولیس سنګینو نه چړاو ولاړوو مونږ ته یې سړک بند کړی و، مونږ ته یې ویل چې واپس شئ مخکې مو نه پرېږدو ما ورته وویل چې مونږ خو واپس نه ځو نو مونږ چې پوهه شو چې دوی مو نه پرېږدي نو د لارۍ نه کوز شو او د سړک په خوا کې د غره څنګ ته کېناستو دې کې ډېر وخت تېر شو چې هغوی پوهه شول چې دوی خو واپس نه ځي نو بیا یې لارۍ راوستله او په هغې کې یې مونږ کېنولو او کېمبلپور طرف ته روان شو ولې د کېمبلپور په ځای یې خوشحال ګړ ته بوتلو، د سین نه یې پورې کړو ضلع کوهاټ کې یې پرېښودو، دغه شان چې کله ما یا خدایي خدمتګارو اراده کړې ده، نو چا پرېښې نه یو او میانوالي ته به هم کله نا کله ورغلو، کېمبلپور کې به د چچهه علاقې ته کله نا کله ورتلو، چې میانوالي ته به لاړو نو په علاقو به ګرځېدو کالاباغ ته هم تللي یو دغلته کالاباغ سره جخت په نمر خاته یو کلی دی هغې ته هم ورغلي یو او هغه علاقې ته هم تللي یو چې په کې د اوسپنو کان دی او بیا د هغې نه به عیسی خېلو ته ورتلو یو ځل چې مونږ عیسی خېلو ته لاړو نو د هغه ځای نواب جلسه نه پرېښوده خپلو نوکرانو ته یې لوی لوی ډانګونه ورکړي وو چې څوک به جلسې ته راتلل هغوی به یې وهل ما داسې چل وکړو چې په بازار روان شوم او په تلو تلو کې مې خلکو ته خپل

تقرير کولو سره د دې هم چې څوک به زما تقرير اورېدو ته راجمع شول نو هغه به يې په ډانګونو وهل، لنډه دا چې زه يې جلسې ځه چې خبرو ته هم پرې نه ښودم خو هلته يو هندو و، هغه مونږ مېلمانه کړو او د هغه يو سراى و، په هغې کې يې زمونږ د پاره د ډوډۍ انتظام وکړو نواب صاحب هغه پسې جواب راولېږلو چې دا سړى مه پرېږده او د سراى نه يې وباسه خو هغه د نواب صاحب خبره ونه منله اومونږ هلته په ارام شپه تېره کړه. سباله جمعه وه مونږ دا فکر وکړو چې د جمعې لمانځه له خو به د علاقې ډېر خلک راځي نو مونږ به هم لاړ شو، دوى سره به لمونځ کې شريک شو او که موقع وه نو خبرې به ورسره هم وکړو خو چې سباله مونږ جماعت له ورغلو نو د نواب صاحب ډانګ ماران د جماعت نه چاپېره ولاړ وو او چې جماعت ته ورننوتلو نو يو بنيادم په کې نه و، خوشې پروت و. مونږ ته دا معلومه شوله چې د نواب صاحب دا سړي د دې د پاره ولاړ وو چې د هغوى دا خيال و چې سباله به دوى د جمعې لمونځ د پاره راځي نو زمونږ نه مخکې يې دا بندوبست کړى و، چې جماعت ته د کلي او علاقې څوک رانه شي، نو ځکه دا سړي يې ودرولي وو چې څوک راځي نو هغوى د جماعت نه منع کوي، چې مونږ په دې پوه شو چې دې علاقه کې مو کرار ته څوک نه پرېږدي نو واپس شو.

يو ځل زمونږ د مردان يو خدايي خدمتګار جرنيل شاه ولي خان د څو تنو نورو خدايي خدمتګارو سره د کېمبلپور د ضلع د پنډۍ ګهيپ تحصيل ته تللى و، هلته دوى په جلوس کې روان وو، جرنيل صاحب وړاندې روان و جنډه يې په لاس کې

نیـولې وه او نـور خـدايي خـدمتګار ورپـسې وو، چـې دوی د دوست محمـد صـوبېدار کورتـه نـزدې شـول نـو هغـه او د هغـه زوی غـلام محمـد ورتـه مخـه ونیولـه او پـه جرنیـل صـاحب یـې پـه ټوپـک ډز اوکـړو چـې هغـه شـهید شـو او بیـايي نـور خـدايي خـدمتګار پـه برچـو ووهـل او پـه جلـوس یـې کـاڼي وورول او جلـوس یـې تـس نـس کـړو او جلـسه خـوره شـوه. زمـونږ د پنجـاب رونـه زمانـه ګیلـه کـوي چـې تـه پـښتنو تـه کـار کـوې، زه ورتـه وايـم چـې زمـونږ دا تحریـک خـو د خـدايي مخلـوق د خـدمت دپـاره دی اومـونږ خوکوشـش کـړی دی چـې د هـر چـا خـدمت اوکـړو ولـې زه څو ځلې درغلی یم خو چا ستاسو خدمت ته پرې ایښی نه یم.

د دې نـه پـس بیـا څـه وخـت چـې پیرنګیـانو اعـلان وکـړو چـې دا ملـک مـونږ پرېـږدو نـو یـو ځـل بیـا زه میـانوالي تـه لاړم او پـه داود خېلـو کـې یـوه لویـه جلـسه وشـوه. د میـانوالي پـښتانه نیازیـان دي چـې ډېـر ښـه او بهـادر پـښتانه دي. زمـونږ جلـسې تـه پـه ډېـر تعـداد کـې پـه ډېـر شـوق راغلـي وو، مـا هغـه جلـسه کـې دوی تـه تقریـر وکـړو د هغـه تقریـر یوڅـوخبرې مـا تـه یـاد دي زه یـې تاسـو تـه کـوم مـا ورتـه وویـل چـې ای ورونـو! نـن د قـامولۍ دنیـا ده تاسـو وینـئ چـې کومـو قومونـو کـې قـامولي او ورورولـي راغلـې ده نـو هغـه اسـمان تـه وختـل او ابـاد شـول دا مـونږ خـو هـم یـو قـوم یـو نـو دا مـونږ ولـې پـاتې شـو؟ دا مـونږ ځکـه پـاتې شـو چـې مـونږ کـې قـامولي، ورورولي، مینـه، محبت او اتفـاق نـشته نـوزه تاسـو لـه ځکـه راغلـی یـم چـې تاسـو زمـا قـام یـئ خـو تاسـو خپلـه ژبـه پـښتونولي تمـدن او ټـول څیزونـه پرېـښي دي تـر دې چـې لنګونـه مـو وهلـي دي. دا هـم درتـه وایـم چـې یـوه مرغـۍ د سـېل نـه جـدا

شي نو هغه ورکه شي اوس د فیصلې وخت راغلی دی دا زما د قامولی او عزیزولی فرض و، چې تاسو ته راشم او درنه تپوس وکړم چې تاسو به څه کوئ مونږ سره به ځئ، که پنجاب سره به ځئ، مونږ خو پیرنګي جدا کړي وو، چې پیرنګی ځي نو تاسو به پنجاب سره ځئ که مونږ سره به او سېږئ نو په هغوی کې یو سړی راپاڅېدو او هغه وویل چې مونږ ستاسو ورونه یو او پښتانه یو او تاسو سره به ځو، مونږ به خپلو بچو ته پښتو ښیو بچو ته څه چې مونږ پخپله هم پښتو زده کوو، خو ته به مونږ سره دا وعده کوې چې کم از کم په شپږ میاشتو کې به یو ځل مونږ له راځې، زما او د هغوی وعده وشوه او جلسه خوره شوه، ملک ازاد شو، پاکستان جوړ شو خوما لا تر اوسه د هغوی سره داوعده پوره نه کړی شوه، ولې چې پاکستان جوړ شوی دی نو میانوالې خو پرېږده پخپله صوبه کې چا خدمت ته پرېښی نه یم بلکې څومره موده چې پاکستان کې وم نو لا به جیلخانه کې وم لا به کور نظر بند وم.

## زمونږ کار او د پیرنګي سازشونه:

پیرنګیانو چې ولیده چې دا تحریک پښتنو کې د ځنګل د اور په شان خورېږي نو دوی سره یره پیدا شوه او زمونږ د تحریک د تباهی کوششونه یې شروع کړل اول یې د پنجاب انګرېزي اخباراتو کې زمونږ برخلاف دا پراپیګنډه شروع کړه چې دا تحریک د کانګرس مخالف دی او په دې طریقه یې مونږ د کانګرس نه جدا کولو او د کانګرس او د ګاندهي جي امداد یې را نه لرې کولو، لیکن ما فوراً د میا احمدشاه او

نورو ملګرو په سلا او مشوره یو اعلان وکړو، چې دې حکومت یوه غلطه پرا پېګنډه زمونږ برخلاف شروع کړې ده. مونږ د کانګرس ملګري یو مونږ نه د کانګرس نه جدا یو او نه جدا کېږو، بلکه دا چې د لاهور په اخباراتو کې، چې د پیرنګیانو د اثر د لاندې وو، دا پراپېګنډه شروع کړه چې ماله په بمبۍ کې د اپرېدو دپاره شپېته زره روپۍ راکړې شوې وې حالانکه دا ټول دروغ وو ما خو په هندوستان کې نه د چا نه چنده غوښتې ده او نه چا راکړې ده او نورې داسې طریقې یې هم اختیار کړې چې د قوم او زما او اپرېدو ورونو په مینځ کې غلط فهمۍ او ناچاقې پیدا کړي. لیکن دروغ د رښتیا مقابله کولی نه شي: «قل جاء الحق و ذهق الباطل» یوه ورځې ما د لاهور په ټیشن د انقلاب اخبار ایډیټر ولیدو هغه زما اشنا هم و، لیکن پیسه چې یو قوم ته خوږه شي نو هغه بیا اشنایۍ او دوستۍ نه ګوري، راغی او ما ته راتر غاړه شو ما ترې پوښتنه وکړه چې دا ستا کله اپرېدو سره دومره اشنایي او وروروللي پیدا شوې ده؟ هغه وخت دې د هغوی مدد نه کوو چې څه وخت پرې د پیرنګیانو د توپو ګولۍ ورېدې؟ او دا مې ورته ووې چې دا ممکن کېدی شي چې د یو پنجابي دې د اپرېدو سره زیاته همدردي وي؟ زما خپل قوم دی او زه خو د هغوی خدمتګار یم، نو دا ممکنه ده چې زما نه ستا هغوی سره زیاته همدردي وي؟ نو هغه راله ځواب راکړو چې چونکه تاسو کانګرس سره یئ او زمونږ پالیسي د کانګرس خلاف ده نو په دې وجه مونږ ستا برخلاف شو او ستا خلاف لیکو. ما ورته ووې چې مونږ به اوس کانګرس پرېږدو او مونږ خو تاسو له

درغلي وو خو تاسو زمونږ هیڅ قسم امداد ته تیار نه وئ!
حقیقت خو دا دی چې تاسو مونږ کانګرس سره کړي یو که
تاسو اوس هم مونږ سره ملګري کېږئ او د پیرنګیانو د زور
ظلم نه مو خلاصوئ نو تاسو سره کېږو. ده سترګې ښکته کړې
او روان شو. اسلام خو دنیا ته د ازادۍ دپاره راغلی و او د
مظلوم د ظالم نه د خلاصولو دپاره راغلی و، لیکن نن د
هندوستان مسلمانان په غلامۍ خوښ دي او د ظالم ملګري
دي او بیا هم د اسلام دعویدار دي.

## د کانګرس کمېټۍ په ځای د سرحد جرګه:

زمونږ دا خیال و چې د صوبه سرحد (د کانګرس کمېټۍ)
نوم دې (جرګه) شي نو دا به ښه وي ولې چې زمونږ خلک په
کانګرس نه پوهېږي او دا هم و چې مونږ خدایي خدمتګار د
کانګرس سره ملګري وو او کانګرس کې نه وو او بله خبره دا
هم وه چې د صوبه سرحد کانګرسیانو به زمونږ مخالفت کوو
او مونږ سره یې کمک نه کولو نو ځکه مونږ غوښتل چې د
کانګرس د کمېټۍ نوم دې(جرګه) شي. مونږ د ټولې صوبې
کارکنان خدایي خدمتګار او د صوبې کانګرسیان د جرګې
جوړولو دپاره راجمع شو او مونږ ټولو په شریکه جرګه جوړه
کړه د ټولو کارکنانو دا خیال و، چې زه دې صدر شم او صدارت
دې منظور کړم ولې زه د دې دپاره نه وم تیار نو په دې وجه د
صدارت دپاره دوه نومونه پېش شول. د ښار خلکو د علي ګل
خان نوم پېش کړو او مونږ د کلو خلکو د میا احمدشاه نوم
پېش کړو. میا احمدشاه د رایې په اکثریت سره صدر مقرر

شو، د جنرل سکرټري د پاره ما د پیر بخش وکیل د پښنور نوم پیش کړو او په اتفاق سره هغه منظور شو او کار موشروع کړو. زمونږ کار ورځ په ورځ په ترقۍ و، زمونږ په خلکو کې احساس جذبه او شعور پیدا شوی و او ورځ په ورځ په زیاتېدو و، خو حکومت زمونږ دې تحریک ته کتی نه شو او هېڅ وخت زمونږ د تحریک د بربادۍ نه قلار نه و او په دې کوشش کې و چې په څه چل زما دورې او کلي په کلي ګرځېدل بند کړي، اخباراتو کې یې زما برخلاف غلطې پراپېګنډې شروع کړې او مهاتماجي ته یې هم زما متعلق دروغ ولیکل، لیکن مهاتما جې د دوی د دروغو په دام کې رانغی. ما چې څه وخت د کوهاټ د دورې بیا اراده وکړه او څه خدایي خدمتګار مې هم د ځان سره کړل نو د سرحد حکومت وایسرای ته ولیکل چې د کوهاټ علاقه زمونږ د فوجي برتۍ مرکز دی او که چېرې ده په کې دوره وکړه نو بیا به دا علاقه زمونږ دلاسه لاړه شي نو په کار دا دي چې دی ګرفتار کړی شي. وایسرای مهاتماګاندهي ته ولیکل چې مونږ هغه ګرفتاروو، مهاتماجي جواب ورکړو که چېرې هغه ګرفتاروئ نو زمونږ او ستاسو چې کومه صلحه شوېده، هغه به ماته شي. ما چې د کوهاټ دوره شروع کړه نو حکومت څلور افسران ما پسې مقرر کړل یو د کوهاټ ډپټي کمشنر، بل پولیس کپتان ورسره د علاقې مجسټریټ او بل د بارډر پولیس یو پیرنګی چې هغه به ډېره ښه پښتو ویله چې کلي په کلي وګرځي او خلک دې ته تیار کړي چې نه ما کلو ته پرېږدي او نه ما ته راجمع شي، لیکن په دې هم څه ونه شول، مونږ چې به کوم کلي ته تلو دوی

به زمونږ نه مخکې تللي وو، خلکو ته به يې وې چې ګورئ هغه را روان دی چې کلي ته يې پرېښږدئ، خلکو به ورته وې چې دا مونږ څنګه کولی شو تاسو يې بند کړئ زمونږ کلو ته يې مه راپرېږدئ بيا به يې ورته وې چې خبرې ورسره مه کوئ جلسې له مه ورځئ په يو کلي کې زمونږ جلسه وه دوی هم هغې جلسې له راغلل ما خلکو ته تقرير کولو چې مونږ خدايي خدمتګار يو او مونږ د خدای د پاره د دې قام او ملک خدمت ته ملا تړلې ده، دا ملک او دا قوم خو ستاسو هم دی تاسو کې څوک شته چې مونږ سره په دې خدمت کې شريک شي، نو يو پاڅېدو چې زما نوم وليکه، بل پاڅېدو چې زما نوم وليکه، بل پاڅېدو چې زما نوم وليکه، دا د بارډر پيرنګی ماته رانزدې شو او ماته يې ووې په دې خلکو دې څه چل کړی دی دا به زمونږ د يو سپاهي نه دومره يرېدل چې د هغه په مخکې به يې کلمه نه شوه ويلی اوس دا دی مونږ ولاړ يو او د دوی په زړه کې هيڅ وېره نشته لګيا دي خپل نومونه د خدايي خدمتګارۍ د پاره پېش کوي ما ورته ووې چې دا چل پرې ما نه دی کړی، دا پرې تاسو کړی دی دا ستاسو د ظلم نتيجه ده.

بيا مونږ بنو ته لاړو لکي مروت او ورسره نورو کلو کې او سرای نورنګ کې مو جلسې وکړې، جرګې مو جوړې کړې او خدايي خدمتګار برتي شو، د بنو شاوخوا ټول کلي مو وکتل جلسې مو په کې وکړې او خلک مو د حقيقت نه خبردار کړل بيا مو هاتي خېلو کې د يوې لويې جلسې انتظام وکړو او په هغه مقام مو جلسه وکړه په کوم ځای چې په ۱۹۳۱ع کال کې پيرنګيانو په يوه لويه جلسه ګولۍ چلولې وې او ډېر خلک

شهيدان شوي وو او ګرفتار شوي وو او قيد شوي وو. مونږ چې هاتي خېلو ته نزدې شو نو ماله د پوليس يو افسر يو سل او څلور څلو ېښت دفعه (د قانون يو سل او څلور څلو ېښتمه ماده) (دفعه ۱۴۴) کې نوټس راکړو چې هلته به نه ځې ما د هغه د تعميل نه انکار وکړو، نو بيا مې دا خيال وکه ماوې که زه جلسې ته ځم نو جلسه به بنده کړي نو بيا مې دا فېصله وکړه چې خپل ټول ملګري مې هاتي خېلو ته ولېږل او زه لتمبر ته لاړم او د لتمبر د خان محمد افضل خان په حجره کې اوده شوم. ماښام محمد افضل خان سره زما د ملګرو د جلسې نه واپس را ورسېدل حالات يې راته بيان کړل چې ډېره ښه جلسه وشوه او خلکو په حکومت چې ته يې ددې جلسې نه منع کړې لعنت او ملامت ووې او بيا واپس کوهاټ ته راغلو او کومه علاقه چې دغلته زمونږ نه پاتې وه هلته مو جلسې وکړې جرګې جوړې شوې او خدايي خدمتګار جوړ شول.

## د ګاندهي جي په بلنه باردولي ته تګ:

چې د کوهاټ ښار له راغلو نو خبر شو چې د پېښور نه خبر راغلى دى چې مهاتما جي غوښتى يم. ليکن په کوهاټ کې صرف د هنګو علاقه پاتې وه ما ويل چې د کوهاټ دوره ختمه کړم نو بيا به لاړ شم، مونږ د هنګو دوره وکړه ځاى په ځاى جرګې جوړې شوې نو بل استازى راپسې راغى چې ته ګاندهي جي ډېر زر غوښتلى يې او ليکلي يې دي چې ټول کارونه پرېږده او فوراً باردولي ته راشه. زمونږ کار تقريباً ختم شوى و، زه سبا له پېښور ته لاړم او د پېښور نه باردولي ته روان شوم

چې بهوپال ته ورسېدم نو د نواب صاحب اې، ډي، سي، شعيب قريشي صاحب چې زمونږ د خلافت ملګری و، او د مولانا محمد علي جوهر زوم و، ولاړ و ما له راغی جوړتازه مو وکړل زما هم ډېر مهربانه و او ماته يې ووې چې راځه سفر کې به ستړی شوی يې او نواب صاحب وايي چې لږ ارام وکړئ او بيګاله به د هغه مېلمه يې ما ورته ووې چې هلته به ګاندهي جي زما انتظار کوي د نواب صاحب شکريه او په واپسی کې به ورشم خو هغه پرې نه ښودم،نو زه ورسره د رېل نه را کوز شوم او ورسره روان شوم چې مهمان خانې ته ورسېدم نو شوکت علي صاحب هم هلته موجود و. او په سبا له نواب صاحب راته ووې چې تا به وايسرای له بوزو هغه سره به دې ليده کاته وشي او چې ته څه غواړې هغه به درکړي باردولي ته مه ځه. خو ما د هغوی دې خبرې سره اتفاق ونه کړو هغوی په ما ډېر زور واچوو خو کار ونه شو. سبا له ترې زه رخصت شوم او باردولي ته روان شوم ټيشن له سردار پټېل او ديوي داس راغلي وو، ټيشن ته نزدې د باردولي اشرم و دا د ګاندهي جي اشرم دی او دې کې همېشه اوسېږي ګاندهي جي سره مې ملاقات وشو څه خبرې مو وشوې ګرمي وه او زه سفر هم په تهرډ کلاس کې کوم، ومې لمبل او جامې مې بدلې کړې چې مازيګر شو نو ګاندهي جي سره هوا خوری له روان شوم. د سي،اۍ،ډي يو مسلمان انسپکټر زمونږ د خبرو اورېدو دپاره مونږ پسې روان و،خو چې څه وخت ورته زمونږ فکر شو نو شرمنده شو او واپس شو.ګاندهي جي به ما سره د سرحد بحث څه لږ ډېر په ورځ کې يو ځل کولو،ليکن دا خبره يې لا راته

کړې نه وه چې د حکومت په شکايت مې رابللی يې. يوه ورځې يو مسلمان پټپل (نمبردار) زما د مېلمستيا دپاره راغی او ګاندهي جي ته يې ووې چې که ته اجازه کوې نو سبا له به دی زما مېلمه شي هغه په ډېره خوشحالۍ اجازت ورکړو او د تلو په وخت کې يې ورته ووې چې په ده باندې ښې غوښې وخوره. دلته خو مونږ په دالونو مړ کړو، هغه زه خپل کور ته بوتلم د هغه ډېر ښکلی کور و. او هغه ډېر په ښه حالت کې و ډېر محبتي سړی و، د هغه هغه اخلاص او محبت به رانه هېر نه شي.

## ديوي داس سره دوره:

ديوي داس ګاندهي د ګاندهي جي په مشوره د باردولي دوره را باندې شروع کړه او څومره اشرمونه چې دلته وو هغه ټول يې را وښودل. د دې اشرمونو (تربيت ګاه) هغه ساده زندګي زما ډېره خوښه شوه تر دې پورې يې په ما اثر وکړو چې زما هم دا خيال پيدا شو چې د خدايي خدمتګارو د تربيت دپاره به زه هم داسې اشرمونه جوړوم. د دې ځای خلکو د ازادۍ په جنګ کې ډېره قرباني ورکړې وه او تر اوسه پورې د ډېرو خلکو جايدادونه چې ليلام شوي دي هغه لا هغسې د نورو خلکو په قبضه کې دي. دلته د مسلمانانو او هندوانو تعلقات هم ډېر ښه وو او د حکومت په ډېرو کوششونو او دباوونو هم مسلمانانو د هندوانو مځکې اخيستې نه وې او که څه نا څه يې اخيستې وې هغه يې هم واپس کړې وې ما چې کوم کوم ځای تقريرونه وکړل هغه داسې وو چې مسلمانانو!، دا ملک د هندو او

مسلمان دواړو دی او د دې د ازادۍ دپاره تاسو دواړو له اتفاق په کار دی او که په چا کې دا همت نه وي چې د ازادۍ په جنګ کې حصه واخلي، نو دومره خو ورله په کار دي چې د ازادۍ په جنګ کې چې د چا مځکې او مالونه ليلامېږي چې هغه وانخلي او که چېرې چا اخيستې وي نو مناسب دا دي چې اوس يې ورته پرېږدي. مسلمانانو ته مې ووې چې ويښ شئ که چېرې اوده پاتې شوئ نو دا کوم انقلاب چې را روان دی دې کې به لاهو شئ؟ انقلاب سيلاب دی او همېشه اوده قومونه وړي اوويښ ابادوي تاسو ويښ شئ او منظم شئ او د انقلاب نه ګټه واخلئ.

څه ورځې پس جواهر لال هم دلته راغی او بيا مونږ ټول سره د ګاندهي جي بمبۍ ته لاړو او د بمبۍ نه بيا زه ګاندهي جي او ديوي داس ګجرات له راغلو او دلته ګاندهي جي د يو بل نوي اشرم بنياد کېښود. دلته نزدې د مسلمانانو هم يوه عربي مدرسه وه چې هغوی زما نه خبر شو ما پسې راغلل او زه او ديوي داس ورسره د هغې مدرسې کتو له لاړو. په دې مدرسه کې ډېر پښتانه طالبان هم وو. د هغوی په ليدو ډېر خوشحاله شوم او ډېرې خبرې مې ورسره وکړې. د مدرسې مقام او احاطه ډېره ښکلې وه ټول طالبان او استاذان مينه ناک وو اوما سره يې ډېرې د مينې ډکې خبرې وکړې. د طالبعلمانو په اصرار ما هغوی ته مختصر تقرير وکړو اوورته مې ووې چې زه نن ډېر خوشحاله يم چې تاسو سره مې ملاقات وشو، ځکه چې زما ستاسو نه ډېر توقعات دي که تاسو د دنيا تاريخ وګورئ نور قومونه د طالبعلمانو د قربانو په ذريعه ازاد شوي دي.

ديويداس يې هم مجبور کړو هغه هم ورته يو مختصر تقرير وکړو بيا بېرته راغلو او ګاندهي جي سره يو ځاى شو بيا مونږ مدراس ته لاړو او خواوشا په ټوله علاقه کې وګرځېدو. زما ډېرې ورځې وشوې او دا مې خواهش و، چې واپس لاړ شم خو ګاندهي جي زه نه پرېښودم او پوهولم يې هم نه او ماسره به يې د سرحد متعلق خبرې کولې او بيا به يې حکومت سره خط و کتابت کوو چې په دې کې ما په اخباراتو کې وليدل چې د ميا احمدشاه او عبدالاکبر خان او علي ګل خان او پير بخش دوى په مينځ کې جګړه پيدا شوې ده. او ډله بازي جوړه شوې ده اوجرګه دوه ځايه شوې ده. د دې په ليدو زه خپه شوم ولې چې زما د ډله بازو اونفاق نه ډېره کرکه کېږي او زما دا يقين دى چې کوم قوم کې نفاق او ډلې وي هغه خپل منزل ته رسېدى نه شي. او نن چې مونږ غلامان يو د دې وجه نفاق دى او پرې جنبې دي ما ګاندهي جي ته خپله اراده ظاهره کړه چې زما په غير حاضرۍ کې دا واقعات را پيدا شوي دي ماله تلل په کار دي نو ګاندهي جي پس له دې نه د وايسراى ټولې کيسې راته وکړې. ما ورته ووې چې دا ټول دروغ دي ته وايسراى ته وليکه چې داټول زما برخلاف د دروغو پراپېګنډې دي،او که ستا يقين نه کېږي نومونږ به هم درشو او هغه خلک ته را وغواړه چې تا له چا دا ډايري درکړي دي چې ريښتينولي (سپيناوى) ورسره وکړم.مهاتماجي زما د دې تجويز سره اتفاق وکړو چې زه به ورته وليکم چې ته منصف شه دا يې هم وايسراى ته وليکل چې لاړ ارون ماباندې ډېر تاکيد کړى و، چې ته ضرور سرحد ته لاړ شه نو که ته ماله اجازه راکوې نوزه

به هم سرحد ته لاړشم. د وايسراى نه دا جواب راغى چې ستاسو د راتلو ضرورت نشته دى او نه زه دا مناسب ګڼم چې په دې وخت کې ته سرحد ته لاړ شې نو ګاندهي جې ماته وويل چې زه پوهه شوم ته په حقه يې، پرنګيان دا نه غواړي ته څه خپل کاركوه. او بيايې ديويداس ته ووې چې دى احمداباد ته بوځه او د هغه ځاى هغه اشرم ورته وښيه او د هغه ځاى خلک چې هلته دي هغه ورته وښيه. زه او ديويداس احمد اباد له روان شو اوچې هلته ورسېدو نوخورشيد بهن سره مو په ټيشن ملاقات وشو او درې واړه هغه اشرم له لاړو

د احمد اباد ډېر مزيدار او ښكلى اشرم دى او ډېر عجيبه ځاى كښې دى او د يو لوى خوړ په غاړه اباد دى ټول اشرم كې ديويداس وګرزولم د اشرم نر، ښځې زما نه چاپېره شول او ماسره يې ډېره مينه محبت ښكاره كړو. ماښام چې زه څه وخت د لمونځ نه فارغ شوم نو دوى ټول ماله راغلل او د سرحد متعلق يې مانه سوالونه شروع كړل چې د بعضې سوالونو په اورېدو به زه حېران شوم ولې چې د هغو به هېڅ بنياد نه و، هغه به صرف زمونږ د بدنامولو پراپېګنډه وه. د خورشيد بهن دا خواهش و چې احمد اباد ته نزدې يو پښتون پير دى او د هغه ډېر مريدان دي او ډېر رسوخ لري نو كه چېرې هغه مونږ سره ملګرى شي نو د هغه په ذريعه مونږ ډېر څه كولى شو ما سره هغه پير له لاړ شه ما ورته ووې چې زما خوهېڅ انكار نشته خو دا كار د دې قسم خلكو نه دى او نه يې د دې قسم خلک كولى شي زه د دې قسم خلكو پسې ډېر ګرځېدلى يم. ديويداس هم زما د خبرې تاييد وكړو نو پس له هغه يې هغه خبره پرېښوده. ما

سره د دوی ډېرې خبرې وشوې او زما نه یې ډېر تپوسونه وکړل او ما سره د خورشید بهن ډېر بحث مباحثې نه پس یې دا خیال پیدا شو چې زه تاسو سره سرحد له ځم او مونږ چې څه وخت واپس ګانډهي جي له روان شو نو دا هم راسره روانه شوه او ګانډهي جي ته یې ووې که چېرې ته ماله اجازت راکوې نو زه د خدمت دپاره سرحد ته ځم نو هغه اجازه ورکړه او ورته یې داووې چې په دې خبره سوچ غور او فکر وکړه، احمد اباد باندې شپږ سوه کاله مسلمانانو حکومت کړی دی دلته د مسلمانانو ډېرې ښې ښې ابادۍ دي،مونږ هغه د پخوانو بادشاهانو ابادۍ وکتې دلته ډېرې کارخانې دي چې کپړې په کې جوړېږي هغه مو هم ولیدې او بل په کې د هندوانو یو لوی قومي کالج دی چې هغې ته«وډیاپېټ» وایي د هغې لیدو له هم لاړو، وډیاپېټ والاو زه مېلمه کړم او یوه شپه مې ورسره وکړه،دا ډېر ښکلی کالج دی او ابادي یې ډېره ښکلې ده. دې کالج ډېر زیات قوم پرست هلکان پیدا کړي او روزلي دي او هغوی د هندوستان د ازادۍ دپاره ډېرې قربانۍ ورکړې دي چې څه وخت ما وډیاپېټ کالج کتلو نو یو هلک مې ولیدو چې زورور ډېنډېټ یې وهلو ما تپوس وکړو چې دا څوک دی هغوی وې چې دا د ګانډهي جي نوسی دی. په کالج کې هلکان نه وو د تحقیق نه راته معلومه شوه چې هغه ټول نن په ګجرات کې خواره شوي دي او کلي په کلي ګرځي نو زه پوهه شوم چې دا په رښتیا قومي کالج دی او پخپلو طالبعلمانو کې یې قومي جذبه پیدا کړې ده او دا دوی له چې دا کوم تعلیم ورکېدی شي دا رښتینی تعلیم دی.

په احمد اباد کې د ېر پښتانه دي هغوی سره مې هم ليده کاته وشو هغوی مې هم د خدايي خدمتگارۍ په حقيقت پوهـ کړل په اخري ورځ د احمد اباد د هندوانو مسلمانانو يوه لويه جلسه وشوه. په زرگونو ښځې، نر په کې شريک شول، هغوی ته مې يو مختصر تقرير وکړو، د هغوی د هغې مينې محبت شکريه مې ادا کړه او ورته مې ووې چې مونږ يوه نوې ورورولي جوړه کړې ده، چې د هغې نوم خدايي خدمتگاري ده.خداى ته خو د خدمت ضرورت نشته د خداى خدمت د مخلوق خدمت دی.او مونږ که هندوان دي اوکه مسلمانان يو د خداى مخلوق يو،دښمنانو د يو بل نه جدا کړي يو؛ خو په حقيقت کې يو يو،جلسه ختمه شوه اومونږ واپس گاندهي جي له راغلو، گاندهي جي له د وايسراى لاړېدولنگډن ځواب راغلی و،زما په ليدو په خندا شو چې ته بالکل ريښتينی يې او حکومت دروغجن دی، حقيقت دا دی چې حکومت د خدايي خدمتگارو تحريک نه پرېږدي او دا تحريک نه غواړي،زه پوهـ شوم او اصليت راته په ښه شان معلوم شو وايسراى وايي چې دلته مه راځئ او ماته هم ليکي چې تا ته د سرحد د تلو اجازه نشته نو څه تاسو خپل کار کوئ.

حقيقت داو چې د حکومت د دې پراپېگنډې نه مطلب دا و چې د گاندهي جي او زمونږ په مينځ کې مخالفت پيدا کړي ما ونيسي او زمونږ تحريک ختم کړي،او چې حکومت پوهـ شو چې گاندهي جي په هېڅ شان دوی نه پرېږدي نو مونږ د هغو د پنجو نه بچ شو،دوی ته معلومه شوه چې که مونږ دی ونيسو نو د کانگرس دا سوله ماتيږي. زمونږ ډېر کسان دوی د دفعه

۱۴۴ (د قانون د يو سل او څلور څلويښتمې مادې په حکم) نيولي وو، د دوی مطلب خو زما په نيولو کې و خودې کې ناکاميابه شول، ګاندهي جي زه يوه مياشت ځان سره وساتلم او چې د هغه تسلي وشوه نو زه يې رخصت کړم. ديويداس هم ما سره د احمد اباده پورې راغی زما د هغه ځای نه د روانېدو په وخت د مهاتما جي سکتر مهاديو ډيسايي صاحب راغی او ماله يې يوه لويه پرچه راکړه چې هغه مهاتماجي ته زمونږ د چارسدې اسسټنټ کمشنر ليکلې وه دا هغه پيرنګی و چې حبيب نور پرې حمله کړې وه او هغه پرې پانسي شوی و، د بابړې د ډرامې کيسه هم په کې وه هغه راته ووې چې د دې ځواب مهاتماجي له راوليږه ما چيټی جيب کې واچوله او ګاډي کې را روان شوم، يوه شپه مې اجمير کې، يوه شپه مې جيپور کې او بله شپه مې ډيلي کې وکړه او بيا کلي ته واپس راغلم.

## بابړه کې ډرامه او زمونږ کمزوري ملګري:

څومره چې به حکومت مونږ سره سختي کوله هومره به زمونږ خلک پوهېدل او اوچتېدل او څومره چې به زمونږ تحريک ترقي کوله او خدايي خدمتګار زياتېدل هومره به حکومت خپل زور او ظلم زياتولو. د چارسدې او بابړې بعضې ماشومانو هسې د ټوقو يوه ډرامه وکړه ليکن حکومت خو بانه لټوله زه په دوره وم ډپټي کمشنر زمونږ سکتر عبدالاکبر او احمد شاه او عبدالله شاه وغوښتل او په دوی يې دومره رعب واچولو چې عبدالاکبر خان د ډرامې والاو نه خپله بيزراي

څرګنده کړه دا جرات يې ونه کړو چې د ډپټي کمشنر ته يې ويلي وي چې دا خو د هلکانو لوبه وه، داسې لوبې هلکان ټول عمر کوي خو حکومتونه دومره اهميت نه ورکوي. حکومت ته چې زمونږ کمزوري معلومه شوه نو فوراً بله ورځ يې چارسدې ته فوجونه او توپچي راولېږل او د ډرامې هلکان يې ګرفتار کړل او فوجونه يې د پړانګو، بابړې او چارسدې په کوڅو کې ور خوشي کړل. بله دا چې په يوه عامه جلسه کې د چارسدې په جامع مسجد کې ميا احمدشاه په دې هلکانو ملامتيا وويله او خپله بيزراي يې ترې ظاهره کړه چې د دې نتيجه دا شوه چې حکومت هغوی ونيول او يو يې يو کال او دوه يې دوه نيم کاله په دې دومره معمولي خبره قيد کړل. زه چې د دورې نه واپس راغلم نو پړانګو، بابړې او چارسدې ته لاړم خلک مې جمع کړل او د صبر تسلۍ يو تقرير مې ورته وکړو او د حکومت په دې قسم پاليسۍ مې نکته چيني وکړله چې دا خو د هلکانو يوه ټوقه وه حکومت ترې بوقه جوړه کړه. زمونږ خلکو کې چې خفګان او مايوسي پيدا شوې وه هغه لرې شوه او تسلي يې وشوه. زمونږ په ملګرو باندې د ډپټي کمشنر دومره يره اوهيبت راوستو چې ماته په دوه پښې شو چې ته ټوله ورځ دورې کوې، جلسې کوې او په هغو کې غير ذمه دارانه تقريرونه کوې او خلک دومره خدايي خدمتګار شول چې په هغو قابو موندل ګران شو، په دې وجه مونږ د تحريک نه استعفا ګانې ورکوو. چونکه دوی زمونږ زاړه ملګري وو نو زما د دوی استعفا ګانې خوښې نه وې نو دا فيصله مو وکړه چې مردان ته لاړ شو او قاضي صاحب عطاالله خان او ثمين جان سره دې کې مشوره

وکړو. مونږ لاړو او د قاضي صاحب سره مو شپه شوه د شپې مو دا خبرې شروع کړې زما عجيبه ملګري وو په کار خو دا وو چې د شپې ورځې په کار کولو يې ماته ډاډ راکړی وی، خو زه يې ملامته کولم. د دې ټولو خواهش دا و چې زه دې دا جلسې پرېږدم او د دوی په شان په قلاره کېنم ما ورته ووې چې کار را باندې مه پرېږدئ او چې تاسو څنګه وايئ هغسې کار به کوم تاسو ماله يو ليکلی تقرير راکړئ.زه به هم هغه په جلسو کې خلکو ته کوم ليکن هغوی دا هم ونه منله او راته يې وويل که ته دا جلسې بس کوې نه نو مونږ استعفاګانې ورکوو قاضي صاحب، ثمين جان او د هغوی نورو ملګرو د هغوی ملګرتيا کوله ما دوی ته ووې چې د ګاندهي لاړډ ارون سوله چې ده دا عارضي سوله ده او دا راوند ټيبل کانفرانس چې دی دا کاميابېږي نه او دا چې کله ناکامیابه شو نو د ټولو نه اول به ما نيسي او که مونږ تقرير وکړو او که ونه کړو که جلسې وکړو او که ونه کړو نو هم ترې خلاصېدی نه شو، نو دا مونږ له خدای يو وخت راکړی دی. په کار دي چې د دې نه فايده اوچته کړو او شپه او ورځ په ځان يوه کړو او په دې خپل قام پسې وګرځو او چې دا تاسو دا وايئ چې خپل تقرير کې دا خبره مه کوه چې«د پيرنګي يو ښکر مو مات کړی دی،او پاڅئ پښتنو ملا وتړئ چې دا بل ښکر يې هم مات کړو» نو اوس تاسو ماته ووايئ چې زه دا ونه وايم نو څه ووايم؟ هغوی ماته وويل چې ته وايه چې مونږ حکومت ته لاس ورکړی دی ما ورته ووې چې زه ستاسو نه پوښتنه کوم چې ايا په دې خبره به پښتانه پوهـ شي او کومه جذبه چې زه پيدا کول غواړم هغه به په کې پيدا

شي؟

د هغوی خبرو ته مې مجبوراً غاړه کېښوده چې دوی رانه جدا نه شي حالانکه دا خبره ماته ښه نه ښکارېده او عجيبه خو لا دا وه چې زمونږ دوه جلسې مقررې شوې وې او د هغو اعلانونه هم شوي وو، يوه سودم کې او بله د خليلو په سپينه وړه کې راته يې ووې چې دې له به هم نه ځې، ميا عبدالله شاه او جعفر شاه ووې چې مونږ خو استعفا ورکوو، نن دی او که سبا ولې چې حکومت مونږ گرفتار وي، مونږ يې ډېره تسلي وکړه خو رضا نه شو بيا مونږ ورته ووې چې ښه ده استعفا ورکړئ خو چې اخباراتو کې يې چاپ نه کړئ، ځکه چې حکومت به د دې نه ناجايزه فايده اوچته کړي خو هغوی دا هم ونه منله د هغوی دا خيال و چې د دی نه مونږ حکومت خبروو چې مونږ د دې تحريک نه ويزاره يو. زمونږ دې نورو دوستانو ورته ووې چې دا خبرې د حکومت نه هسې هم پټې نه پاتې کېږي خو بيا هم هغوی په اخبارونو کې اعلان وکړو، شپه ډېره تلې وه د دې خبرو نه پس مونږ اوده شو خو دغه شپه په ما ډېره بې ارامه تېره شوه او ټکی خوب مې ونه کړی شو ما دې خپل بدنصيبه قوم ته کتل چې اول خو د دوی د خدمت څوک نه وي او که څوک يو نيم پيدا هم شي، نو څوک د خدمت موقع نه ورکوي، سحر چې زه او قاضي صاحب د ګرځېدو د پاره لاړو نو ما قاضي صاحب ته دا خبره وکړه چې ښه ده، چې تاسو دا ناروا په ما کوئ، نو چې د قيامت په ورځ حساب کتاب کېږي نو زه به ستاسو ګرېوان ته لاس اچوم او د دې ټولو خبرو ذمه وار به تاسو يئ او ستاسو د دې فيصلې نقصان چې قوم او ملک ته

رسیږي د دې ذمه واري به هم ستاسو په سروي نو قاضي صاحب ما ته ووې چې زه څه وکړم ما ته هم دا خبره مناسبه نه ښکاري خو که نه یې منُو نو دوی تښتي او مونږ په ډاګه پرېږدي، چې چای مو څکله نو قاضي صاحب دوی سره د سودم او د سپینې وړې ذکر وکړو او دوی یې په دې رضا کړل چې دې جلسو له دې دی(زه) لاړ شي خو په دې شرط چې تاسو ورسره لاړ شئ او چې تاسو ورته څنګه وایئ هغسې تقریر به کوي یوې جلسې له راسره میا صاحب احمد شاه او بلې له راسره عبدالاکبر خان لاړل.

د سودم په جلسه کې چې قوم کومه سپاسنامه راله راکړې وه نو په هغې کې دا ذکر هم و، چې تاسو د پښتنو د شان سره چې د یو لک خدایي خدمتګارو اعلان کړی و، دا لږ دې مونږ د دې نه زیاتو ته تیار یو،د دې علاقې خانان او ټول خلک د قاضي صاحب د کار په برکت مونږ سره د ملګرتیا د پاره تیار شول، د سپینې وړې جلسه چې شروع شوه نو ډېرې ښځې هم دې جلسې له راغلې وې چې په د ې کې یو هوایي جهاز راغی او په دې ښځو را غُوټه شو ډېرې ښځې وتښتېدې؛ خو ما چې ورته اواز وکړو چې تاسو څنګه پښتنې یئ چې د هوایي جهاز نه تښتئ، نو ټولې واپس شوې، هوا باز خپل جهاز ډېر ځله د هغوی په سرونو تېر را تېر کړو چې ښځې ونه یرېدې نو مایوسه شو او واپس لاړو،چې جلسه ختمه شوه نو زه د میا صاحب سره کلي ته راغلم نورې دورې پاتې شوې،او زه د کلي نه بهر ته تلی نه شوم د خدای دې فضل ته ګوره چې زما تلل راتلل بند شول نو بیا خلکو اتمانزو ته تلل راتلل شروع کړل.

زما کار جاري شو او ډېر ښه کېدلو ميا صاحب چې د لويې جرګې سکتر و د ځه ضروري معاملاتو د فېصلې دپاره يې لويه جرګه اتمانزو ته راوبلله چې کار ختم شو نو پير شهنشاه او سردار رام سنګهـ ماته د دورې کولو ووې ما ورته ووې چې زما خو عذر نشته خو صدر صاحب عبدالاکبر خان او احمدشاه ميا صاحب زه د دورو نه منع کړی يم تاسو ځکه ما غواړئ نو د هغوی نه اجازت واخلئ؛ هغوی ميا صاحب مجبور کړو او ماله يې اجازت راکړو او هغوی سره د دورې دپاره روان شوم.ما د کوهاټ او بنو کلي په کلي دوره وکړه او ډېرې ورځې مې په کې تېرې کړې ډېرې جرګې جوړې شوې او ډېر خلک خدايي خدمتګار شول، چې د هغه ځايه واپس راغلم نو سيد فضل لطيف په هرې چند کې د لويې جلسې انتظام کړی و،او ټولو مومندو او رانيزو له يې دعوتونه لېږلي وو،هغه زه هغې جلسې له بوتلم ډېر مخلوق جلسې له راغلی وو جلسه وشوه ما په کې تقرير وکړو چې:اې پښتنو ورونو مونږ ټول يو قوم يو او د يو بابا اولاد يو زمونږ مثال د يوې ونې دی چې دې کې ډېرې ځانګې وي خو مُونډ يې يو وي او چې څوک د هغې ونې نه يوه ځانګه پرې کوي نو د هغې ونې سيورې ته نقصان رسي او که د هغې ونې مُونډ وچ شي نو ټولې ځانګې يې وچې شي،نو نن ورځې پيرنګيان لګيا دي دغه ځانګې ورو ورو پرې کوي،تاسو وينئ شئ که دغه ځانګې ختمې شي نو ستاسو بچي به په نمر(نور) پاتې شي او د سر سيورې به يې ورک شي او که چېرې دغه مُونډ وچ شو نو دغه ټولې ځانګې به يې وچې شي يوه به هم پاتې نه شي،زه تاسو ته وايم چې دښمن لګيا دی

تاسوورکوي او په دې کوشش کې دي چې دا مونږ وچ شي که تاسو نه دا مونږ وچ شو نو بیا به ورک شئ. پاڅئ!دا خپل کور جوړ کړئ دا بیل بیلوالی پریږدئ یو قوم شئ، که یو قوم شوئ؛ نو ستاسو دنیا به هم اباده شي او اخرت هم،چې جلسه ختمه شوه نو زمونږ د تنګۍ کارکنان کلي ته رخصت شول او زه او فضل لطیف باچا بدرګي ته او بیا رانیزو ته لاړو او د هغې علاقې دوره مو وکړه چې د هغه ځایه واپس شوم نو غلام محمد خان د لوند خوړ د جلسې انتظام کړی و،زه او میا احمدشاه او عبدالاکبر خان هلته لاړو،دلته هم ډېره لویه جلسه وشوه او ډېرې زنانه ورله راغلې وې او په هغه جلسه کې ماسره زنانه و دا وعده وکړه چې:

که د ځلمو نه پوره نه شوه
فخر افغانه جینکۍ به دې ګټینه

جلسه چې ختمه شوه نو میا احمدشاه او عبدالاکبر خان واپس راغلل او زه یې هغوی ته د بایېزو د دورې د پاره پرېښودم او غلام محمد خان سره پاتې شوم. مونږ د بایېزو او شموزو دوره وکړه. زه د بایېزو د کارکنانو نه ډېر خوشحاله شوم ځکه چې هغوی پخپله علاقه کې ډېر کار کړی و،او د تولونه زیاته د خوشحالۍ خبره دا وه چې کوم ځای به جلسه وه او چې کومې ښځې به په کوټو(بامونو) جلسې ته ناستې وې نو هغو سره به څرخې هم وې او هغوی به د جلسې شروع کېدو نه وړاندې څرخې کولې بلــه دا چې غلام محمد خان او زرین خان به زما د ارام ډېر فکر کولو د دوی په برکت به زه په ارام وم،بلــه

دا چې غلام محمد خان او زرین خان په زنانه وکې ډېر کار کړی و.

په لوند خوړ کې د ښځو جلسه وشوه، په زرګونو ښځې ورله راغلې وې او ماله یې سپاسنامه هم راکړه او تقریرونه یې هم وکړل په دې زه خوشحال شوم ولې چې بغیر د ښځو نه یو قوم ترقي کولی نه شي ولې چې زمونږ د کور او بچو ټول پرورش د هغوی په لاس کې دی او زمونږ د ګاډي چې کومې دوه پایې دي نو یو سړی دی او بله ښځه ده، نو تاسو پخپله خیال وکړئ چې یوه پایه پنچر وي نو ګاډی به څنګه لاړ شي؟

په سپاسنامه کې دوی دا مصرع لیکلې وه:

که د ځلمو نه پوره نه شوه

فخر افغانه جینکۍ به دې ګټینه

له دې ځایه زه او غلام محمد خان د یوې ورځې د پاره یوسفزو له لاړو هلته د یوسفزو یوه عظیم الشانه جلسه وه، زرګونو خلک او خدایي خدمتګار جمع وو داسې لویه جلسه ما بل ځای لیدلې نه وه، ما په جلسه کې تقریر وکړو چې خدایي خدمتګار ځان ته خدایي خدمتګار وایي، لیکن خدای ته د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی او د خدای مخلوق یوازې مسلمانان نه دي ټول د هغه مخلوق دي، که هندو دی که سکهـ دی که عیسایي دی زمونږ فرض د دنیا نه ظلم ورکول دي او مظلوم د ظالم نه خلاصول دي. مونږ به د هغه قوم او حکومت مخالفت کوو چې څوک د خدای په مخلوق ظلم کوي که ظالم زمونږ ورور او

مسلمان هم وي. بله دا چې زمونږ خدمت به د خدای دپاره وي د څه غرض دپاره به نه وي. مونږ له چې څوک څومره تکلیف راکوي زور اوزیاتی راباندې کوي مونږ به بدل نه اخلو بلکې مونږ به صبر کوو او د هغه سړي، قوم یا حکومت د پوهولو کوشش به کوو، چې جلسه ختمه شوه مونږ د شپې د ارام دپاره سودم ته راغلو دلته زمونږ ملګرو امیر محمد خان او مهردل خان او شاکرالله باچا او د هغوی ملګرو په دې علاقه کې ډېر ښه کار کړی و. دلته هم ډېره ښه جلسه وشوه او د دې ځای په زنانوو کې هم د ازادۍ جذبه پیدا شوې وه، د دې ځای د دورې د ختمېدو نه پس د سلیم خان په ډېرۍ کې د مومندو یوه لویه جلسه وشوه دعلاقې ټول مومند راجمع شوي وو او د دې تحریک په غرض او مقصد مې پوهه کړل چې دا تحریک زمونږ د رورولۍ او قامولۍ تحریک دی او مونږ دا کوشش کوو چې د ټولو پښتنو یوه ورورولي او قامولي جوړه کړو او د دوی د زړونو نه بغض، کینه، تربګني او دښمني لرې کړو چې اتفاق په کې پیدا شي، محبت او همدردي په کې پیدا شي او یو قوم شي. ای ورونړو! که یو قوم شوئ نو تاسو له خدای داسې ملک درکړی دی چې د دولتونو او نعمتونو نه ډک دی خو ستاسو د بې اتفاقۍ په وجه پرې نور خلک مزې کوي او که تاسو یو قوم شوئ نو ستاسو ملک بل څوک خوړی نه شي ستاسو دنیا او اخرت به اباد شي. او دا داسې ملک دی چې دې کې به یو سړی غریب پاتې نه شي ټول به خانان شي.

ډېره ښه او کامیابه جلسه وشوه او خلک د دې تحریک په غرض او مقصد پوهه شول او د انقلاب زنده باد، فخر افغان

زنده باد په چغو کې جلسه خوره شوه بيالـه دې ځايه مونږ منګادرګۍ تـه لاړو خلکو سره کېناستو. دلتـه زمونږ تحريک ښـه روان دی او ډېر مجلسونه مـو وکړل او بيا تـرې رخصت شو. خپل کلي تـه لاړم پـه دې ډېر ګرځېدو او تقريرونو مې اواز ناست و مری مې خوږېده ناجوړه شوم. لږ ارام مې وکړو، ليکن زما پـه نصيب کې ارام چېرتـه و؟ کـه زه بـه خلکو پسې نـه تلم نو خلک مـا پسې راتلل او ارام مې نـه شو کولی مـا بـه ډېر پوهول خو نـه پوهېدل، دا د هغوی هغـه ډېر محبت و او کـه خبرې مې ورسره نه کولې نو خپه کېدل به.

## د پيرنګيانو د جبر او تشدد زياتوالی:

د سرحد حکومت د ګاندهي لاړې ارون د سولې هېڅ پروا نـه کولـه، ورځ پـه ورځ بـه يې نـوي نـوي حکمونـه او قانونـه پـه مونږ لګول اول خو خدايي خدمتګار پـه چاونو بند وو چې نـه بـه ځي، بيا يې پـه سړکونو هم ګرځېدو تـه نه پرېښوول، بيا حکم جاري شو چې څومره جرنيلي سړکونه دي د هغونـه څلور څلور ميلـه يو خوا بل خوا جلوسونه جلسې او پـه وردو کې ګرځېدل بند دي علاقـه پـه علاقـه د دې نـه علاوه دفعـه ۱۴۴ ولګېده او پوليس تـه اختيار ورکړی شو چې تاسو پخپل حکم چې څوک نيسئ نيوی شئ، پـه صوبه سرحد کې پوليس راج جوړ شو، يوه ورځې زه د خان بهادر ميا مشرف شاه د زوی فاتحې لـه تلم څلور خدايي خدمتګار باوردی هم راسره وو چې د مردان د جرندو اډې لـه ورغلم نو زمونږ پـه ليدو سره يو پوليس سنتري را منډه کړه او د عام سړک دروازه يې زمونږ موټر تـه بنده کړه بلـه لار نـه

وه مونږ د موټر نه کوز شو او هغه ته مو ووې چې دا خو عام سړک دی او بله لار هم نشته مهرباني وکړه دروازه راته لرې کړه هغه راته ووې چې سړک مړک نه پېژنم ما ته خو دا حکم دی چې د سرو جامو سړي په دې سړک مه پرېږده او که هغه څه ویلې نو بیایې په ټوپک اوولـه.ټوپک یې مونږ ته مخامخ کړو او راته یې ووې چې که تلی شئ نو لاړ شئ! چا چې زه پېژندم هغوی ورته ډېر ووې چې داسې مه کوه دوی ته دروازه لرې کړه هغه ووې چې ماته د خپل افسر حکم دی دروازه دوی ته نه شم لرې کولی مونږ واپس شو او د نهر په غاړه د پولیس لاین سړک ته راووتو تانې دار مو ددې خبرې نه خبر کړو هغه راته ووې چې زمونږ صاحب سره په دې کې لیدل په کار دي ما ورته ووې چې دا خو ستا د صاحب حکم دی د لیدو نه به څه جوړ شي؟ تاسو فکر وکړئ چې ستاسو ما سره داسې سلوک وي نو عامو خدايي خدمتګارو ته به څومره تکلیف وي؟

په کلو کې لارو کوڅو کې به پولیس بې ګناه خلک وهل سواره به راتلل کلو کې به ګرځېدل او د خلکو سترونه به یې ماتول،خو مونږ د خپل طرف نه په سوله ټینګ اوسېدو او داسې کار مو نه کولو چې په مونږ څه الزام راشي او دا ټول تکلیفونه مونږ په صبر او استقلال تېرول او بیا په اخره نوبت دې ته ورسېدو چې دوهلو په ځای به یې خدايي خدمتګار قتلول د شپې به د دوی (بارډر)لاړل په دفتر کې چې به د کوم خدايي خدمتګار ډیوټي وه هغه به یې ونیولو او چې څه به ورسره وو هغه به یې ترې واخیستل او بیا به یې په ټوپک وویشتو.دغه شان یو صوبه دار چې زمونږ یو خدايي خدمتګار

غریب بې ګناه په اورمرو کې وویشتو هغه ورته چغې وهلې چې زه یم او هغه یې شهید کړو، د کلو خلکو پولیس ونیول او توپکې یې ترې واخیستې خو زمونږ تحریک دومره اثر په پښتنو کړی و، چې تشدد یې ورسره ونه کړلو صرف رپوټ یې وکړو او چې اسسټنټ کمشنر راغی نو توپکې یې ورکړې. پیرنګیانو ته ډېر قهر په دې ورتلو چې خلکو تشدد نه کولو پیرنګیانو به خلک مجبورول چې تشدد وکړي چې زمونږ ورته بانه جوړه شي او ښه پرې زړونه یخ کړو، او برباد او تباه یې کړو. د خدایي خدمتګارو اصل صبر و خپل ځانونه یې خدای ته سپارلي وو او په دې یقین وو چې یوه ورځ به زمونږه دا مظلومیت رنګ راوړي. پیرنګیانو به ویلې چې مونږه دې خلکو حېران کړي یو مونږ کوشش کوو چې دوی تشدد وکړي د تشدد علاج خو مونږه سره شته ځکه چې مونږ سره د تشدد ډېر سامان دی خو د عدم تشدد علاج راسره نشته.

پیرنګیانو به دا خبره کوله چې:

**[The Non-violent Pathan is more dangerous than the violent Pathan]**

د عدم تشدد په اصولو روان پښتون د متشدد پښتون نه ډېر خطرناک دی.

چې د کراچۍ د کانګرس د سالانه جلسې نه واپس راغلو زمونږ د صوبې لاټ صاحب ماسره د ملاقات کولو خواهش ظاهر کړو او ماله یې د بعضې کسانو په خولې ځوابونه راولېږل، لیکن ما چې د پیرنګیانو زور او ظلم او زیاتي ته کتل نو زړه مې نه غوښتل چې لاټ صاحب سره ملاقات وکړم او نه ماته په کې د قوم او ملک څه فایده ښکارېده ولې چې یو

طرف ته يې باوجود د سولې زمونږ د رانيزو قيديان پرې نه ښودل او بل يې د لوبو ټوقو په ډرامه زمونږ بچي ګرفتار کړل او په خدايي خدمتګارو يې توره تياره جوړه کړې وه، په دې وجه ما د هغه د ملاقات نه انکار وکړو، ليکن زما د انکار باوجود حکومت اصرار کولو چې ما سره دې خامخا ويني نو يوه ورځ زما مشر ورور ډاکټر خان صاحب راغی او راته يې ووې چې د حکومت دومره اصرار دی نو ملاقات ورسره وکړه نو ماورته ووې چې لاټ صاحب زمونږ د جماعت د صدر او سکتر سره ولې ملاقات نه کوي؟ولې چې ذمه وار خلک خو هغوی دي او زما خو څه ذمه واري نشته او که چېرې ما سره ملاقات کول غواړي نو زه ورسره په دې شرط ملاقات کوم چې موجوده وخت کې د حکومت له طرفه کوم مشکلات مونږ ته پېښ دي که د هغې حل کول په اخلاص او ايمانداری سره غواړي، لکين لاټ صاحب دې شرط ته غاړه کېښوده او ويې ويل چې په سياست کې ايمانداري نه وي نو ما ورته ووې چې ايمانداري نه وي زه داسې ملاقات کول نه غواړم ځکه زما سياست د ايمانداری دی په دې وجه هغه ملاقات پاتې شو.

څه ورځې پس زمونږ ملګری ميا احمد شاه صاحب د څه خبرې دپاره مسټر لاټر ته چې د پوليس نائب جرنيل و.او زمونږ د صوبې د سي، ائ، ډي لوی افسر و تلی و او بيا دواړه لاټ صاحب له لاړل،لاټ صاحب بيا هغه سره زما د ملاقات خبره تازه کړه نوميا صاحب ماله راغی او ماته اړم شو چې لاټ صاحب سره ملاقات وکړه ما ورته ووې چې ماته په ملاقات کې څه عذر نشته خو زه په کې څه فايده نه وينم ستا او د هغه

دا خبرې اترې هم تسلي بخش نه دي او بيا د پړانګو د فوج متعلق دا ځواب چې مونږ سره طاقت دی او بيا د لارې د بندولو ځواب چې هغه سپايي خو ستاسو خټک و،د ميا صاحب طبيعت زما په انکار خپه شو نو بيا يې جرګه راوغوښته او جرګې ته يې دا مسئله پيش کړه او جرګې په کثرت رای دا فيصله وکړه چې ملاقات کول نه دي په کار په دې ميا صاحب نور هم خپه شو،ليکن په دې رو منتونو قاضي صاحب او علي اصغر خان رضا کړو،د فيصلې نه پس ما د هغه نه پوښتنه وکړه چې فردوس خان او غلام محمد خان تاسو د ملاقات په حق کې څنګه لاسونه وچت کړي وو هغوی په خندا کې ووې چې مونږ خو د دې وېرې نه لاسونه وچت کړي وو چې که ته ورسره ملاقات ونه کړې نو مونږ به ګرفتار کړي او بيا به جنګ شروع شي.

د يو جماعت کارکنان چې د وېرې نه داسې کارونه کوي نو د هغونه قوم ته او جماعت ته نقصان رسيږي،دا خبره حکومت دلته پرې نښوه، وايسرای ته يې ورسوله او زما برخلاف يې غلطه پراپېګنډه شروع کړه چې د ده د پرنګيانو نه نفرت دی.د ده مونږ سره ذاتيات دي ځکه مونږ سره ملاقات نه کوي او بيا وايسرای په دې الفاظو ګاندهي جي ته شکايت وکړو، ګاندهي جي ماته وليکل چې ته خپل لاټ سره ملاقات وکړه زه پوهېږم چې ته په څه وجه ملاقات کول نه غواړې خو دوی ستا بر خلاف پراپېګنډه کوي او په خلکو کې ستا متعلق غلط فهمي پيدا کوي اخر زه مجبور شوم او دا خبره مې د جرګې انتظامې ته پيش کړه او د هغوی په اجازه مې لاټ صاحب سره په نتهيا

ګلی کې ملاقات وکړو.

مــا لاټ صــاحب تــه پــه خــدايي خــدمتګارو د ظلمونــو او د رانيــزو د قيــديانو ووي؛خــو بــاوجود د دې خبــرو د پيرنګيــانو پــه پاليسی کې څه فرق رانغی بلکې د اول نه زيات شول. حقيقت دا دی چې د دوی دا ټول ملاقاتونــه د دې قــوم اوملــک د فايــدې دپــاره نــه وي، دې کــې د دوی مقــصد دا وي چــې دا ســړی بــه څنګــه دوکــه کــړو خپــل مقــصد بــه تــرې پــاتې کــړو او د ځــان ســره بــه يــې ملګــری کــړو او مــا چــې څومره ملاقاتونــه کــړي دي نــو بغيــر د لالــچ نــه مــې پــه کــې بــل څــه ليــدلي نــه دي. حکومــت د مــاليې پــه بانــه ظلمونــه شــروع کــړل دا نــه چــې ګونــدې خــدايي خــدمتګارو د مــاليې نــه انکــار کــړی و خــو غلــه دومــره ارزانــه شــوې وه چــې خلــک تنــګ وو.د مــاليې وس يــې نــه کېــده او د مــاليې بقــايې يــوازې پــه خــدايي خــدمتګارو نــه وې د دوی نــه زيــاتې پــه ســرکاري خانــانو اوملکــانو وې خــو هغــوی تــه يــې څــه نــه وې خــواران خــدايي خدمتګار بــه يــې تنګــول مالونــه بــه يــې لــيلام کــول حوالاتونــو کــې بــه يــې اچــول او لا د هغــوی بــرخلاف بــه يــې دا پراپېګنــډه هــم کولــه چــې دوی د مــاليې ورکولــو نــه انکــاري دي پخپلــه يــې هــم نــه ورکــوي او نــور خلــک هــم منــع کــوي حالانکــه دا بالکــل دروغ وو،خلکــو ســره پــه رښــتيا ماليــه نــه وه او خــدايي خدمتګارو ســره هــم نــه وه دوی بــه حکومــت تــه وي چــې دا تاســو نــورو خلکــو ســره څنګــه ســلوک کــوئ دغــسې مــونږ ســره هــم کوئ،مــونږ خــو هــم ستاســو رعيــت يــو چــې بعــضې خلکــو تــه معلومــه شــوه چــې حکومــت د خــدايي خــدمتګارو پــه کړولــو خوشــحاليږي نــو پــه خــدايي خــدمتګارو يــي د دروغــو مقــدمې شــروع کړې،پــه دواوه

کې د جبار خان او اول میر ملک د لاسه خدايي خدمتګار په اورکې ولاړ وو، په ابازو کې افتاب ګل میا او یحیی میا او د دوی نورو ورونو او عزیزانو خدايي خدمتګار د ورګو په کوټو کې بند کړل او د بُوسو لوګي يې ورته وکړل. د دې کاکاخېلو، میاګانو د پیرنګیانو سره دومره محبت و او د هغوی دومره وفادار او خدمتګار وو چې څه وخت به د خدايي خدمتګارو د راتلو نه خبر شول نو ټوپکې به يې ورپسې واخیستې او د هغوی مرګ ته به تیار وو، د مالیې په بانه د بټګرام عبدالله جان میا او د هغه زوی چې په خلکو څومره ظلمونه کړي دي دهغو بیان کولی نه شم. ده هم خلک په کوټو کې بند کړي دي او د بُوسو لوګي يې ورته کړي دي فضل الرحمان خان د شوقدر سړي خو پرېږده د ښځو بې عزتي يې هم کړې ده.بلـه دا چې زمونږ د هشنغر په کلو کې او مېرو کې د پولیس تانه دار ګرځېدو او هر چانه به يې پوښتنه کوله چې دلته هم څوک خدايي خدمتګار شته او چې څوک به خدايي خدمتګار و هغه به يې وهلو، ټکولو او بې عزته کولو، د ملکنډ ایجنسۍ د سخا کوټ کلي نه یو څو ماشومان زما د لیدو دپاره راتلل نو پولیس ترې خبر شول اول خو يې په دوی ډېر دباوونه وکړل چې دوی ونه یرېدل او خپله اراده يې پرې نه ښوه نو بیا يې دومره ووهل چې سرونه يې ورله مات کړل. هغو کې یو ماشوم زما ورور ډاکټر خانصاحب مات سرګاندهي جي له ولېږلو چې هغه دغو ورځو کې شمله کې و او دا ټول حال يې ورته ووې. حقیقت دا دی چې پیرنګیان دغو ورځو کې بالکل لېوني شوي وو او د ګنهګار او بې ګناه تمیز نه و، ګاندهي جي دا ټولې

خبرې وایسرای ته ولیکلې او ورته یې ولیکل چې د دې تحقیق دپاره زه سرحد ته تلل غواړم خو وایسرای اجازت ورنه کړو، حقیقت دادی چې په پښتنو باندې څومره ظلم کېدلو دا ټول پیرنګیانو کولو،هغوی دا نه غوښتل چې پښتانه دې را ویښ شي او منظم دې شي او په دوی کې دې اتفاق او سیاسي شعور پیدا شي.

## د دیوېداس ګاندهي د سرحد دوره:

مهاتماجي وایسرای ته دوباره ولیکل چې که حکومت ماله اجازه نه راکوي نو بیا دې جواهر لال یا پټېل له اجازت ورکړي چې هغوی سرحد ته لاړ شي او تحقیق وکړي، چې څوک سوله ماتوي؟خو حکومت د دې نه هم انکار وکړو ځکه چې سوله خو دوی ماتوله بیا ګاندهي جي وایسرای ته ولیکل چې زما زوی دیویداس له اجازت ورکړه حکومت دې ته هم تیار نه شو اخر چې ګاندهي جي د حکومت نه مایوسه شو نو وایسرای ته یې ولیکل چې ښه ده،که ماله اجازت راکوئ او که نه راکوئ زه سرحد ته ځم،نو پس د هغې نه حکومت په دې رضا شو چې ښه ده مونږ دیویداس له اجازه ورکوو په دې شرط چې هېڅ قسم جلسې او جلوسونه به نه وي،ګاندهي جي مونږ له تار راکړو چې دیویداس سرحد له راځي لیکن استقبال جلوس او نمایش به نه وي.

دیویداس راغی اومونږ د ده استقبال ونه کړو،او دیویداس چې څه وخت راورسېد نو مونږ ته یې هم د مهاتماجي هغه خیال ظاهر کړو چې څه وخت مونږ د پېښور نه اتمانزو ته

روانیدو نو مونږ دیویداس ته ووې چې د پېښور نه تر اتمانزو پورې په سړک د لسو لسو ګزو په فاصله خدایي خدمتګار د حفاظت دپاره درته ودروو خو هغه د دې نه انکار وکړو چې سباله مونږ تهکال ته لاړو نو خبر شو چې دلته ارباب عبدالغفور خان او د بهادرکلي عاشق شاه باچا او په ترخه کې ډېر بېګناه خدايي خدمتګار حکومت ګرفتار کړي و، او د ارباب عبدالغفور پلار ارباب جمعه خان د دیویداس دپاره مېلمستیا کړې وه، د خلیلو، مومندو زمونږ ټول کارکنان موجود وو او دیویداس ته یې هغه ټولې کیسې وکړې چې حکومت مونږ سره کړې وې. بله ورځ اتمانزو ته روان شو، مونږ چې د ښاره روانېدو نو موټر نه و، نو په لارۍ کې کېناستو او چې د شاهي باغ نه لږ واوړېدو نو د زرین خان د ترنګزو موټر راغی دوه ښکلي خدایي خدمتګار په ښکلو وردو کې په کې ناست وو او سره جنډه پرې لګېدلې وه مونږ د لارۍ نه کوز شو او موټر کې کېناستو زه او دیویداس او خورشید بهن درې واړه روستو کېناستو موټر روان شو او ډېر په تېزۍ روان شو، یو مشهور ظالم ډاکو مفرور چې په قاضي مفرور مشهور و مونږ ته د سردریاب د پل په غاړه قلي خان چې د حکومت سړی و، د لوخو ځنګل کې کېنولی و، چې زمونږ موټر ور ورسېدو او هغه دوه خدایي خدمتګار چې د موټر مخ کې ناست و د هغوی باقاعده وردۍ وې نو د هغې ډاکوانو دا خیال راغی چې دا به د جرنیل موټر وي نو ببرته کېناستل او بله دا چې دوی ته خو دا معلومه نه وه چې مونږ به موټر کې ځو ولې چې مونږ د اډې نه په لارۍ کې ناست و، خو مونږ پسې چې کومه لارۍ وه هغې

له دغه مفروران را پاڅېدل او ډزې يې پرې وکړې دا هغه لارې وه چې موږ پکې ناست وو، سړي په کې زخميان شول مالونه يې ترې واخيستل او يو بل ته يې ووې چې هغوی خو دې لارۍ کې نشته چې موږ ورته ناست وو، دغه لارۍ چې چارسدې ته را ورسېده نو موږ ته يې دا ټول حال ووې بيا ماته زموږ د موټر هغه ډرېور ووې چې موږ دغه ځای له را ورسېدو نو ما وليدل چې دغه لوخو کې يو سړی را وچت شو او بيا کېناستو غالباً چې د دوی به دا خيال پيدا شوی وي چې دا موټر د جرنيل معلومېږي ځکه چې جنډه هم پرې لګېدلې وه.او باوردي فوځيان هم په کې ناست وو او دوی له خو قلي خان پوليټيکل ايجنټ ډايري ورلېږلې وه چې باچا خان او دوه ملګري يې په لارۍ کې در روان شول، دوی ځکه په موټر غرض ونه کړو او په هغه لارۍ يې ډزې وکړې چې موږ په کې د پېښور نه ناست وو،موږ رځړو کې وو چې د دې لارۍ د واقعې نه خبر شو نو چې د چارسدې هسپتال ته ورغلو هغه زخميان مو هم په کې وليدل او هغوی راته دا ټول حال ووې. د دغو ډاکې مارونه چې خلک خبر شول دغو ډاکې مارو پسې داګري او نور خدايي خدمتګار او عام خلک راووتل خو دوی ترې وتښتېدل او چې تيراه ته ورسېدل نو زموږ اپريدي ورونه د دې واقعې نه خبر شوي وو هغوی يې ونيول او هغه مالونه يې ترې واخيستل او دا قاضي مفرور يې قتل کړو او کومې روپۍ چې زموږ په سر قلي خان ورکړې وې هغه ترې هغوی واخيستې او د خلکو هغه سامان يې موږ ته رالېږلو او هغه موږ خپلو خاوندانو له ورکړو چې پکې يوه تماچه هم

وه.

د اپرېدو ورونو دا خيال و چې که دا د پښتنو مېلمانه د ګاندهي جي زوی او خورشېد بهن دوی وژلي وی، نو د پښتنو به په هندوستان کې څومره بد نامي شوې وه دغه وجه وه چې اپرېدو دوی قتل کړه که نه وي نو ازاد قبايل هغه سړي نه وژني چې دوی ته يې پناه ور وړې وي. د دې مغرور په سر پيرنګيانو اپريدو له ډېرې روپۍ ورکولې، ولې هغوی نه اخيستې.

دا شکر دی چې د پيرنګيانو د حکومت دا منصوبه خدای نا کاميابه کړه که د ګاندهي جي زوی يا د خورشيد بهن چې دا د «دادا بايي ناروجي» نوسۍ وه دادابايي ناروجي د کانګرس باني و او د ده په کوشش کانګرس دې ځای ته رسېدلی و که دا دلته په سرحد کې وژل شوي وی نو پيرنګيانو له به هم د پښتنو برخلاف د پراپېګنډې ښه موقع په لاس ورغلې وه پښتانه به يې دنيا کې بدنام کړي وو، او هندوان او پارسيان به يې هم د پښتنو نه وېزاره کړي وو او کوم اثر چې په هندوستان کې او په کانګرس د خدايي خدمتګارو په وجه پيدا شوی و هغه ته به ډېر نقصان رسېدلی وی او پښتانه به بيا د پيرنګيانو زور او ظلم ته يوازې پاتې شوي وی او دنيا سره به يې د سترګو لګېدو شان نه وو پاتې شوی، خو مونږ خدايي خدمتګارو د خدای د پاره د هغه د مخلوق خدمت ته ملا تړلې وه نو هغه هم مونږ سره په هره موقع مدد کړی دی او مونږ يې د دښمن د چالونو نه بچ کړي يو.

د اتمانزو نه مونږ دواوې ته لاړو ولې چې په دې خلکو هم د ماليې په بانه قسم قسم ظلمونه شوي وو. په شوقدر کې په يوې ښځې او د

هغې په ماشومې لُور دومره ظلمونه شوي وو، چې د هغو ظلمونو په اورېدو سره مونږ ټولو وژړل او هغې ووې چې اوس يې هم زه تاسو ته نه راپرېښودم او خان بهادر قلي خان هم راته ډېر منتونه وکړل چې ته څه وايي هغه به ټول وکړم خو دې خلکو له مه ورځه.د شوقدر نه بيا ګونډاته لاړو د هغه ځای واقعات مو هم قلم بند کړل او بيا واپس اتمانزو ته لاړو، په واپسۍ کې مې ديوي داس ته هغه ګنده د ماليې حوالات هم وښودلو چې ډېر خانان په ماليه کې بنديوان ناست وو.په سبا له مونږ د ملکنډ ايجنسۍ له لاړو ځکه چې دلته هم پيرنګيانو ډېر ظلم کړی و، په سخاکوټ کې د راحت خان په حجره کې د رانيزو ډېر خلک جمع وو،هغوی سره مو وليدل او د هغه ځای ټول ظلمونه قلم بند شول. د ديوي داس د ملکنډ او چکدرې د کتلو خواهش و،مونږ روان شو ليکن درګۍ کې راته سرکاري سپايانو د سړک دروازه بنده کړه،مونږ د ملکنډ پوليټيکل ايجنټ ته ټيلفون وکړو چې مونږ د چکدرې پورې صرف په سړک تلل غواړو ليکن هغه اجازت رانه کړو واپس را روان شو درګۍ سره ډېر خلک جمع شوي وو هغوی ته مې ووې "پښتنو وروڼو په دې خبره فکر وکړئ چې ملک زمونږ دی او اختيار يې د بل دی مونږ په کې ګرځېدو ته هم نه پرېږدي". سبا له مردان او صوابۍ له لاړو د مردان نه زه د لاټ صاحب د ملاقات دپاره نتهياګلي ته روان شوم او عبدالاکبر خان او ميا احمدشاه ديوي داس ګاندهي سره پاتې شول،د يوي داس يې په ټوله صوبه کې وګرځولو،پيرس صاحب ته مې د حکومت د مظالمو کيسې وکړې هغه وخندل ويلې چې کيرو (Caroe) ډپټي کمشنر ما راغوښتی دی د هغه دومره وړوکی سر دی او ماغزه يې ډېر ګرم دي زه به ورله په سر واوره وترم چې دا ماغزه يې لږ يخ شي.ددې ملاقات نه پس هم د

حکومت په سخت ګیرۍ کې څه فرق رانغلو، لاټ صاحب دا هم راته ووې چې مونږ د صوبه سرحد له طرفه تا راونډ ټېبل کانفرنس له لندن ته لېږو، ما ورته ووې چې مونږ فېصله کړې ده چې د خدايي خدمتګارو او کانګرس له طرف به صرف يو سړی وي، او هغه به صرف مهاتماګاندهي وي لاټ صاحب په دې خبره حېران غوندې شو خو زيات يې څه ونه ويل ملاقات ختم شو او لاټ صاحب راسره په جلب کې تر ډېره پورې راغی او د رخصت په وخت کې يې راته ووې چې زه اميد کوم چې ته به خپل خدايي خدمتګار کنټرول کې وساتې ما ورته ووې چې زه خو په خپلو خدايي خدمتګارو کنټرول کولی شم خو ته هم دا خپل خلک په قبضه کې راوله.

د لاټ صاحب نه رخصت شوم شپه مې په چنګا ګلۍ کې د ډاکټر خانصاحب سره چې د ګرمي د تېرولو دپاره دلته و تېره کړه. سبا له مې مري کې مهرتاجه چې زما لُور وه وليده دې په کانونټ کې سبق ويلو او تيمور صاحب سره مې هم چې بيا وروستو د اسلاميه کالج پرنسپل او زما ډېر مهربانه و ملاقات وشو، شپې له پېښور ته را ورسېدم په سبا له اتمانزو له لاړم بله ورځ ديويداس دوی هم د صوبې د دورې نه واپس راغلل او مونږ د بمبۍ د تللو اراده وکړه صدر صاحب عبدالاکبر خان او سکرټري ميا احمدشاه را باندې ډېر تاکيد وکړو چې ته کوشش وکړه چې د کانګرس کمېټۍ په ځای دې د صوبې جرګه شي او د دوو په ځای دې يوه شي، د شپې مونږ د ميا صاحب مېلمانه شو محمد زمان ميا صاحب احمدشاه ميا مجبور کړ چې زمونږ سره بمبۍ ته لاړ شي احمدشاه ميا هم د تلو انتظام وکړلو، زه او ديويداس د ده په تلو ډېر خوشحاله شو او سبا له بمبۍ ته روان شو په لاره ګاډي کې ميا صاحب او ديويداس کاغذات درست کړل.

پہ فساونہ

# د راوند ټيبل کانفرانس ورځو کې

## د جرګې مشرانو کې اختلاف، شيملې ته زما تګ، شمله کې مصروفيت، فارن سکتر او هوم سکتر سره ليدل

په بمبۍ کې د ال انډيا کانګرس کمېټۍ جلسه وه او هغې له د ټول هندوستان ممبران راغلي وو څه وخت چې مونږ د بمبۍ ټېشن ته ورسېدو او د ګاډي نه کوز شو نو ميا احمدشاه ماله راغی او ډېر خپه و.ده راته ووې چې ما ته خو ديويداس ووې چې ته د کانګرس ځای له لاړ شه دا خو داسې شوه چې ماله يې ځواب راکړو،امير محمد خان د هوټي ورته ووي چې ماته يې هم داسې ويلي دي، ليکن ما ورته ووې چې کوم ځای فخر افغان صاحب وي زه به هم هلته يم نو بيا هغه چپ شو، ليکن ميا صاحب وې چې زه يې ستاسو نه منع کړی يم او ماله يې ځواب راکړی دی تاسو سره نه ځم ما هم د ميا صاحب د راضي کيدو کوشش وکړو خو دی رضا نه شو نو بيا زما څه مسلمانان دوستان ټېشن له راغلي وو موټر يې راويستلي وو هغوی سره مې په تلو رضا کړو، ليکن د ميا صاحب طبيعت خراب شوی و، بلـه ورځ مونږ د ميا صاحب ليدو له لاړو، دی مو وليدو ليکن طبيعت يې درست نه و، ما ته د ګلياړي د يو مهربان پښتون نه معلومه شوه چې ميا صاحب ډېر خپه دی او وايي چې بس نور کار نه کوم او کلي ته روان دی. ديويداس چې د دې واقعې نه خبر شو هغه ورته ووې چې ما خو په دې خيال ويلي وو چې دلته به تا ته تکليف وي په مځکه به ملاسته وي، دال، چپاتي به خورې او هلته د کانګرس د مېلمنو د پاره ډېر ښه انتظام دی،خو د ميا صاحب خفګان لرې نه شو ما هم ميا صاحب ته ډېر منت وکړو چې واپس مه ځه چې مونږ خپله فيصله کانګرس سره وکړو او د کانګرس هغه بلـه ډله هم راغلې ده ځکه ستا موجودګي ضروري ده، خو چې سبا

له مونږ خبرېدو میا صاحب تلی و زمونږ معامله د کانګرس ورکنګ کمېټۍ ته پېش شوه او زمونږ د پاره د صوبه سرحد لویه جرګه نوم یې منظور کړو او ما له یې اختیار راکړو چې څنګه ستا خوښه وي په سرحد کې هغسې تنظیم جوړ کړه.

## د جرګې مشرانو کې اختلاف:

زمونږ د پېښور یو ورور سردار عبدالرب نشتر په دغه وخت کې دا اعتراض وکړو چې دوی (خدایي خدمتګار)خو د کانګرس په اصولو کار بند نه دي، بلکې فرقه وارانه نعرې وهې او په مثال کې یې وویل چې دوی د نعره تکبیر الله اکبر اواز کوي، ګاندهي جي د ده نه تپوس اوکړو چې د الله اکبر څه معنی ده،نشتر صاحب جواب ورکړو چې: خدای لوی دی، نو ګاندهي جي ورته جواب کې وویل چې ولې خدای ورکوټی دی څه؟

دغه شان دوی کامیاب نه شول،د دې فېصلې نه پس مونږ سرحد ته را روان شو،د را رسېدو سره ما خپل کارشروع کړو او د مردان او صوابۍ په دوره روان شوم میا صاحب خپه د دیوي داس نه شو او نقصان یې خپل قام ته ورسولو او زما مخالف شو او چې کلي ته ورسېدو نو د بلې ډلې جوړولو کوشش یې شروع کړو او د صوبه سرحد لویه جرګه یې هم را وغوښته چې د بمبۍ د فیصلې د نه منلو د پاره یې تیاره کړي،ماله یې هم خبر راکړو او د جرګې ورځې له راغلم او دا معامله لویې جرګې ته پېش شوه میا صاحب د بمبۍ د فېصلې په مخالفت کې تجویز پېش کړو او تقریر یې وکړو او تائید یې

عبد الاکبر خان او غلام محمد خان د لوند خوړ وکړو، بیا ما تول حقیقت ممبرانو ته ښکاره کړو ممبرانو زما سره اتفاق وکړو او د بمبۍ د فیصلې تصدیق وشو.

زه چې په دوره صوابۍ له لاړم نو ډېر خوشحاله شوم ځکه چې د دې ځای خدایي خدمتګارو په هر کلي کې ډېر زیات کار کړی و او هر ځای جرګې او خدایي خدمتګار په ډېر تعداد کې جوړشوي وو، زمونږ د تحریک ډېر زور یا په تحصیل چارسدې کې و او یا په صوابۍ کښې، د دغه ځای خدایي خدمتګارو راته یوه ډېره عجیبه کیسه وکړه دوی وې چې تا ته معلومه ده چې زمونږ د ترنګزو حاجي صاحب سره ډېر زاړه تعلقات دي. په ابتدا کې چې تاسو راغلئ او دلته خدایي خدمتګاري جوړه شوه نو په دغو ورځو کې مونږ حاجي صاحب له د مومندو غازي اباد ته تلي وو هلته مونږ د حاجي صاحب د مشر زوی فضل اکبر باچا ګل سره په مجلس کې د خدایي خدمتګارۍ خبره وکړه هغه وې پام کوئ چې ګورئ خدایي خدمتګاري ونه کړئ،دا ښه تحریک نه دی مونږ ډېر حېران شو بیا مو حاجي صاحب نه ځان له پوښتنه وکړه ځکه چې هغه مو پیر و او مونږ یې مریدان وو چې باباجي باچا خان زمونږ علاقه کې د خدایي خدمتګارۍ تحریک شروع کړی دی، او مونږ او نور خلک په کې شریک شوي دي ته مونږ تهووایه چې دا تحریک ښه دی او که نه؟ نو حاجي صاحب راته وویل چې دغه تحریک د پیرنګیانو په حق کې دی که مخالف دی؟ مونږ ورته ووې چې د پیرنګیانو مخالف دي نو هغه راته ووې چې دغه خو جهاد دی او تاسو ګورئ نه ما د پیرنګیانو مقابله ونه کړی

شوه. زه د پيرنګيانو نه دې تورو غرونو ته راغلم او باچا خان دغه د جېلخانو تکليفونو او تاوانونو ته سينه ډال کړې ده. په خدايي خدمتګارۍ کې ملا د ده سره وتړئ! مونږ ورته ووې چې مشر باچا ګل صاحب وايي چې خدايي خدمتګاري مه کوئ نو هغه يې راوغوښتو او ورته يې ووې باچا ګله داسې خبرې مه کوه که نه وي عاق به دې کړم. مونږ په دې ډېر خوشحاله شو چې حاجي صاحب هم ستا سره کلک ملګرى دى.

زمونږ د صوبې جرګې چې فېصله زما په حق کې وکړه نو ميا احمدشاه صاحب خپله استعفا پېش کړه او منظور شوه او خلک خپلو کلو ته روان شول، زما طبيعت هم د دورې په وجه خراب و، پېښور ته لاړم چې ډاکټر صاحب به دارو راکړي او زه به لږ ارام وکړم ليکن د ډېره اسماعيل خان رمضان خان راپسې راغى چې پاڅه چې ډېره اسماعيل خان ته لاړ شو هلته ډېره بربادي شوېده حکومت، هندوان مسلمانان جنګولي دي او ډېر خلک په کې مړه شوي دي او ډېر اسبابونه او ابادۍ سوزېدلي دي.

## شيملې ته زما تګ:

چې پېښور ته ورسېدو نو ماله د مهاتما ګاندهي له طرفه تار راغى چې د دې تار په ليدو شملې ته را روان شه رمضان خان او ما په دې فېصله وکړه چې د شملې نه په مخه به ډېرو ته درشم. رمضان خان چې ماته د ډېره اسماعيل خان د هندوانو د تباهۍ او بربادۍ تول بيان وکړو، نو زه پوهه شوم چې پيرنګيانو دوى له هغه سزا ورکړه چې دوى زما د ږمبې

دورې په موقع زما استقبال په ډېر شان او شوکت سره کړی و او زما عظيم الشان جلوس يې په ټول ښار کې ګرځولی و ټول ښار يې ښايسته کړی و. ډپټي کمشنر دوی ته ويلي وو چې د باچا خان استقبال جلوس جلسه تا سو مه کوئ که نه وي نو تباه به شئ خو دوی ونه منل زما زړه ته په دې واقعه لويه صدمه ورسېده چې دا پيرنګيان به زمونږ دا مسلمانان تر کومه په دنيا کې شرموي او بدناموي.

زه د دوو خدايي خدمتګارو سره شملې ته په ګاډي کې روان شوم، چې زمونږ ګاډی لاهور ته ورسېدو نو سردار سردول سنګهه کوليشر سره زما د نورو ملګرو او دوستانو ټېشن ته راغلی و او ماته يې ووې چې د سکهانو يو لوی کانفرانس دی او مونږ هغه کانفرانس ته روان يو او د جلسې ځای ټېشن ته نزدې دی نو دوی زه مجبوره کړم او جلسې له يې روان کړم په جلسه کې مې خپل ټول د ګجرات د جېلخانې دوستان وليدل باران ورېدو ما يو مختصر تقرير وکړو او سکهانو ورونو ته مې ووې چې په ۱۸۵۷ع کال کې ستاسو او زمونږ د پنجاب او سرحد په وجه هندوستان غلام شوی دی، اوس زمونږ او ستاسو فرض دي چې پاځو، ملا وتړو او هندوستان ازاد کړو، دا کوم نفاق او جګړې چې زمونږ دښمنانو زمونږ په کور کې پيدا کړې دي دا د هندوستان د ازادۍ د پاره ډېرې خطرناکې دي مونږ له بغير د خپل ذاتي غرض د ملک او قام خدمت په کار دی. چې جلسه ختمه شوه نو رای زاده هنسراج صاحب په زور جلندر ته بوتلو او د شپې په ګاډي کې د هغه ځايه شملې ته روان شو سحر وختي زمونږ ګاډی کالکا

تـه ورسـېدو او د هغـه ځايـه پـه مـوټر کـې شـملې تـه روان شـو چـې ورسـېدو نـو جـواهر لال اډې لـه زمـونږ د بوتلـو د پـاره راغلـی و، مـونږ هغـه سـره د مهاتمـاجي ځـای تـه لاړو، لـيکن مهاتمـاجي د وايسرای ملاقـات لـه تلـی و لـږ سـاعت پـس راغـی او هغـه سـره مـو ملاقـات وشـو،د لـږ ارام نـه پـس مـونږ ټول يـو ځـای شـو نـو ګانـدهي جـي د وايـسرای د ملاقـات حـال ووې او مـا او جـواهر لال نهـرو تـه يـې ووې چـې حکومـت د صـوبه سـرحد او يـوپي تحقيقـات تـه تيـار نـه دی اوس چـې ستاسـو څـه رنګـه رضـا وي چـې هغـه شـان کـړی شـی. مـونږ دواړو ورلـه دا ځـواب ورکـړو چـې سـتا پـه رضـا مـو رضـا ده او پـه دې فېـصله وشـوه چـې مهاتمـاجي دې ګـول مېـز کنفـرانس لـه لاړ شـي. وړانـدې دا فېـصله شـوې وه چـې پـه دې دواړو صـوبو کـې چـې حکومـت کـوم ظلمونـه کـړي دي کـه حکومـت د دې تحقيقـات نـه کـوي نـو ګانـدهي جـي دې ګـول مېـز کنفـرانس لـه نـه ځـي. خـو مـونږ پـه دې نتيجـه د ډېـر غـور نـه پـس ورسـېدو چـې ګـول مېـز کنفـرانس خـو د ټـول هندوسـتان د ازادۍ سـوال دی صـرف د دوو صـوبو د ظلمونـو د تحقيقـات پـه نـه کولـو ګانـدهي جـي لـه د کنفـرانس نـه پـاتې کېـدل نـه دي پـه کـار. موټرونـه راغلـل او سـامان پـه کـې کښـېښنودی شـو چـې ګانـدهي جـي ايمرسـن هـوم سـکتري سـره پـه ټيلفـون خبـرې وکـړې نـو د دغـو دواړو صـوبو نـه عـلاوه نـورې خبـرې چـې حکومـت د مهاتماګانـدهي سـره منلـې وې د هغـو نـه هـم پـه شـا شـوی و،مهاتمـاجي د موټرونـو نـه سـامان راکـوز کـړو او موټرونـه يـې رخـصت کـړل او پـه راونـډ ټېبل کنفـرانس کـې يـې د شـرکت اراده پرېښوه چـې څـه وخـت موټرونـه رخـصتېدل نـو جـواهر لال ورتـه

ووې چې انتظام په کار دی ولې چې په تلو کې صرف یوه سبانۍ ورځ پاتې ده دوی ته وینا په کار ده چې د سبا ورځ دپاره دې تیار اوسي خو مهاتماجي د دې خبرې په اورېدو ډېر په قهر شو او ویې وې چې هېڅ ضرورت د انتظام نشته که حکومت غواړي چې زه دې ګول مېز کنفرانس کې شریک شم نو هغه به د دې خبرې انتظام وکړي چې ما په وخت ورسوي. ګاندهي جي ته ما ووې چې ته دغه شان حکومت ته لړ کلک شه او کلکې خبرې ورته وکړه نو ته به وګورې چې بیا به حکومت د هر څه دپاره تیار شي، ولې چې دا یو ډېر عجیبه حکومت دی. مهاتماجي وخندل او ویې ویل چې زه اوس خدایي خدمتګار کېږم. ما چې څه رنګې وې هغه شان وشوه، چې سباله حکومت هغه ټولې خبرې منظورې کړې او د ګاندهي جي د رسولو دپاره د یو خاص ګاډي انتظام یې هم وکړو او د بمبۍ میل او د جهاز دپاره یې تارونه ورکړل چې د ګاندهي جي د رسېدو پورې ایسار شي.

د تلو په وخت کې ګاندهي جي ووې چې په راوند ټېبل کې هېڅ نه کېږي. زه صرف د لاړ اورون د زړه دپاره ځم. د دې کنفرانس د کامیابۍ امید نشته تاسو خپل کار جاري وساتئ او ماته یې وویل هاول فارن سکتر او ایمرسن هوم سکتري ماته لیکلي دي چې دی مونږ سره نه ګوري، او هغوی تا سره لیدل غواړي نو هغوی ضرور وګوره. ما ورته ووې چې ګاندهي جي زه د پیرنګیانو سره ملاقات نه کوم نو ده راته وویل دا زه چې کوم نو ما ورته وویل چې ته خو مهاتماجي او زه خو کمزوری انسان یم. په ښویدانې پښه نه ږدم هسې نه چې

ونښویږم، خو چې ته وایې زه به ورسره ووینم د رخصتېدو په وخت کې ما ورته ووې چې ګانده‌ي جي سرحد ډېر مظلوم دی چېرته هېر درنه نه شي، د دې په اورېدو یې وخندل او ویې ویل چې: د سرحد ورونه زه هېرولی نه شم، زما دواړه خدایي خدمتګار د ګانده‌ي جي مخکې او مونږ ورپسې روان شو، د خلکو دومره غوبل و چې مونږ یې ګډوډ کړو او زه د مهاتما جي نه ډېر وروسته پاتې شوم او دا دوه خدایي خدمتګار زما ملګري د ده سره د ټېشن پورې لاړل. زما د لیډو دپاره یو دوه پېښوریان راغلي وو په دې وجه هم د ټېشن پورې ونه رسېدم.د روانېدو په وخت کې ګانده‌ي جي هغه دوه خدایي خدمتګار ځان ته نزدې کړل او ویې ټپول او دوی ته یې وویل چې که تاسو نه وئ نو زما را رسېدل ډېر ګران و.

## شیمله کې زمونږ مصروفیت:

د پولیس افسرانو او نورو خلکو چې په دغه موقع یې دا خدایي خدمتګار ولیدل نو د دوی د کارګذارۍ نه ډېر متاثره شول،او د دوی به یې ډېر تعریفونه کول او د خدایي خدمتګارو په شمله کې ډېر رعب قایم شو او مونږ چې به دغلته بازارونو کې ګرځېدT و نو نور خلک خو پرېږده پیرنګیانو او میمانو به هم خدایي خدمتګارو پسې منډې وهلې او ویلې به یې چې دا هغه "ریډشرټ (Red Shirts)"(سرخپوش) دي، چې سبا شو د پنجاب یو خان بهادر چې په انټیلیجنس ډیپارټمنټ کې و د هغه زوی چې زمونږ په اسلامیه کالج پېښور کې سبق ویلو ماله د چایو دعوت

راکړو، ما ورته ووې چې ستا پلار خو د سرکار نوکر دی هسې نه هغه ته نقصان ونه رسي، خو هغه زما خبره منظوره نه کړه نو ښه مې ورته وکړل. د دې طالب علم پلار سیسل هوټل کې اوسېده مونږ له یې هلته چایې وکړه. زه سره د هغه دوو خدایي خدمتګارو هوټل ته ورغلم هلته ډېر پیرنګیان ناست وو چای یې څکلې نو چې دا خدایي خدمتګار یې ولیدل نو په ډېر تعجب یې ورته وکتل مونږ له یې د دغه ځای نه ځان له د چای څکلو انتظام کړی و او ماسره یې د فیروز خان نون چې هغه وخت د پنجاب وزیر و، او دوه د پنجاب ټیکه داران یې مېلمانه کړې وو مونږ چې کښېناستو نو لږ ساعت پس سر فیروزخان نون راغی او چې زه یې ولیدم نو شور یې جوړ کړو او راته یې ووې: «خانصاحب! آپ نی تو غضب کردیا اپ کانګرس کی ساتھ مل ګی هو؟» خانصاحب! تا خو عجیبه کار وکړو د کانګرس سره ملګری شوې؟ اوس به هغوی مونږ له خپل حق رانکړي. ما ورته ووې چې ملک صاحب ته لږ په ارام سره کښېنه نو خبرې به وکړو چې کښېناستو نو ما ورته ووې چې ملک صاحب مونږ څه چل کړی وی، مونږ خو کانګرس له تاسو لېږلي يو که چېرې تاسو زمونږ مدد کړی وی نو مونږ کانګرس څه کوو، مونږ خو اول لاهور ته درغلو او مسلم لیګ ته مو ووې چې مونږ ستاسو مسلمانان ورونه یو. زمونږ یو تحریک دی هغه اصلاحي تحریک دی مونږ د پیرنګیانو د حکومت خلاف نه یو، مونږ د خپل قام اصلاح کول غواړو او پیرنګیانو په مونږ زور ظلم زیاتی او توره شپه جوړه کړې ده او دنیا زمونږ نه خبره نه ده. مونږ د مسلم لیګیانو نه دا هیله وکړه

چې تاسو زموږ په حال دا دنیا خبره کړئ چې دې پښتنو څه ګناه کړې ده چې دې پیرنګیانو پرې توره شپه جوړه کړې ده چې په پښتنو دا دومره ظلم ولې کېږي؟ او په مسلم لیګ پسې ډهلي او شملې له هم لاړو خو تاسو زموږ امداد ته غاړه کښېښودو او موږ له مو لاس رانکړو نو موږ به څه کول؟ موږ مجبور وو، سیلاب اخیستي وو، نو کانګرس لاس راکړو او موږ ورسره ملګري شو او اوس هم زه تاته وایم یوازې د پنجاب مسلمانان دې زموږ ملګرتیا وکړي نو موږ د ټول هندوستان د مسلمانانو په ملګرتیا پسې نه ګرځو صرف ستاسو د پنجاب د مسلمانانو ملګرتیا غواړو که تاسو دا کوئ موږ اوس هم د کانګرس پرېښودو ته تیار یو اوس هم د کانګرس ورکنګ کمېټۍ ناسته ده زه به استعفا ورکړم نو سرفیروز خان نون ووې چې: «هم سوچ کر جواب دینګی» یعنې موږ به په دې خبره فکر وکړو او بیا به ځواب درکړو، بیا مې هغه شپاړس کاله پس د بهار صوبه کې چې هلته یو لوی فساد شوی و ولیدو ما ورته ووې چې ملک صاحب تا خو ماله هغه ځواب رانه کړو؟ نو وې خندل سترګې یې ښکته کړې او روان شو، نو اوس دې د هندوستان مسلمانان فیصله وکړي چې ګرم موږ یو که پنجاب؟

څه وخت چې زموږ خبرې او چای ختم شوې او روانیدو نو زموږ مېزبان په شمله کې د سبا دپاره د ډوډۍ دعوت راکړو سبا له د ډوډۍ په وخت کې چې ورغلو نو په هوټل کې ټول پیرنګیان او میماني په کرسو کې ناستې وې موږ له په بېل ځای کې انتظام شوی و، موږ سره د لاهور د سول اینډ ملټري

ګزټ د اخبار چلوونکی او بل د کلکتې د سټیټ مین خبرلوځي هم په دې دعوت کې وو. ماسره د انګرېزي اخبار ایډیټر خبرې شروع کړې چې اوس خو سوله وشوه نو د خدایي خدمتګارو څه ضرورت دی؟ تا له په کار دي چې دا تحریک فوراً ختم کړې؟ ما ورته ووې ښه ده، خوپه یو شرط هغه وې هغه څه دی؟ ما ورته ووې چې هغه دا دی چې پیرنګیان دې د دې ملک نه لاړ شي او دا ملک دې ازاد کړي نو بیا به دا تحریک پخپله ختم شي.ددې په اورېدو هغه غصه شو او څومره چې مونږ د دې مېز نه چاپېره ناست وو، نو هغوی ټولو ور پورې وخندل نورې هم ډېرې خبرې وشوې، ډوډۍ ختمه شوه اکثر مېلمانه رخصت شول،خان بهادر صاحب او د هغه زوی او د کلکتې خبر لوځي پاتې شول، خان بهادر صاحب د خدایي خدمتګارو متعلق مانه تپوس وکړو ما ورته ټوله کیسه بیان کړه بیا هغه راته ووې چې ستاسو د دې تحریک برخلاف ما ډېرې غلطې خبرې اورېدلې وې خو اوس ماته معلومه شوه چې دا ډېر نېک تحریک دی او د خدای د مخلوق د خدمت دپاره دی او اخر کې یې راته ووې چې زه هم خدایي خدمتګار یم او دې خدایي خدمتګارو سره یو ځای تصویر وباسم بیا یې یو انګرېز فوټوګرافر راوستو او مونږ سره یې یو ځای تصویر وښکو د هغې نه پس مونږ رخصت شو او خپل ځای له د ارام دپاره لاړو.

## د فارن سکتر او هوم سکتر سره لیدل:

ما زیګر د مسټر هاول فارن سکتري خط راغی چې سبا له ما په لس بجې ووینه او د هغه سکرټري راته ووې چې ستا د

تلو دپاره به زه خپله رکشه درولېږم ما ورته ووې چې ستا مهرباني ده، زه خدايي خدمتگار يم، رکشه کې نه ځم ځکه چې سړي يې راکاږي سباله به پخپلو پښو درشم سباله ټيک لس بجې ورغلم هغه د بنگلې نه بهر ته راووتو او زه يې خپل دفتر ته بوتلم.لږ ساعت پس اسسټنټ فارن سکتري ويلي هم راورسېدو، دی ماسره ډېر بلد و، دی په پېښور کې ډپټي کمشنر هم و او د بندوبست مهتمم هم پاتې شوی و، خبرې شروع شوې ما ورته ټولې کيسې وکړې هغه ماته ووې چې زمونږ او د پښتنو خو ډېر ښه تعلقات وو دا څه چل وشو چې په مونږ او تاسو کې نفاق چا پيدا کړو؟ ما مسټر ويلي ته وکتل ما ورته ووې چې د ده نه تپوس وکړه چې دا ټولې کيسې د مسټر ويلي په مخکې شوي دي بيا زما او د هاول د تحريک متعلق خبرې شروع شولې اوپه خبرو خبرو کې هاول صاحب ما ته ډېر ښنه ښنه باغونه وښودل خو ما ورته ووې چې زه په دوه پيسو گوزاره کولی شم.د يوې پيسې ډوډۍ او په بله پيسه تليدلي باټينگڼ ماله خدای هر څه راکړي دي.زه ځانله څه نه غوارم چې څه غوارم هغه د قوم دپاره غوارم. که څه راکوئ نو هغه زما دې قوم له راکړئ. حقيقت دا دی چې لکه څه رنگ مسټر هاول وويل د پښتنو او انگرېزانو تعلقات ښه وو خو په انگرېزانو کې د گريفټ جيمي سن،ميجر کول او کيرو غوندې کسان را پيدا شول او دا تعلقات يې خراب کړل .په دې کې د مسټر ايمرسن هوم سکتري ټيلفون راغی ما ته ده ووې چې ايمرسن صاحب دی او وايي چې ماسره دې ملاقات وکړي ما ورته ووې چې ده خو ما سره د ملاقات وخت مقرر کړی نه دی،

خو ده ما ته ووې چې له دې ځايه ځې لاړه کې بنګله ده ورسره ووينه مسټر هاول ډېر شريف سړى و او ماسره يې په ډېر شرافت کې خبرې وکړې او ده ټول عمر ملازمت کې په صوبه سرحد کې پښتنو سره تېر کړى دى چې زمونږ ملاقات ختم شو نو مسټر ويلي ووې چې زه به دې د هوم سکټري دفتر له بوځم مسټرهاول ماسره پخپله د هغه د دفتره پورې پياده لاړلو نه په رکشه نه په اس سور شو، اس يې ورپسې سائيس نيولى راوستلو زما په انتظار کې د مسټر ايمرسن هوم سکټري اردلي ولاړ و زه او فارن سکټري له يو بل نه رخصت شو او اردلي زه د هوم سکټري دفتر ته بوتلم. هوم سکټري يو عجيبه سړى و او ماسره يې عجيبه خبرې کولې او دباوونه يې هم راباندې کول اول خو يې راته دا ووې چې تا په مېرټ کې تقرير کړى دى چې د پيرنګيانو مخونه سپين دي او زړونه يې تور دي که چېرې زه ستا دا خبرې د لندن اخباراتو کې شايع کړم نو بيا به ستاسو صوبې له هېڅ ورنه کړي او ټول پيرنګيان به مو خلاف شي. ما ورته ووې چې د دې خبرې وجوهات خو ما پخپل تقرير کې څرګند کړي دي او زه په دې رضا يم چې زما هغه ټول تقرير ته شايع کړه يوازې دا خبره مه شايع کوه چې د ولايت خلک په حقيقت خبر شي او زه يې هم خبرول غواړم.

بيا يې راته ووې چې ته په حکومت دباوونه کوې چې که چېرې دوى مونږ له خپل حق رانه کړو نو مونږه به داسې وکړو او مونږ به دا وکړو. د پيرنګيانو حکومت داسې کمزورى شو چې ستاسو د دباوونو نه به يرېږي ما ورته ووې چې زه په چا دباوونه کوم زه خو خدايي خدمتګار يم او څه چې زما د قوم خواهش دى په هغې

حکومت خبروم. اختر پټ مېړه نه دی چې که چېرې تاسو مونږ له خپل حق را نه کړو نو بیا به وکتی شي نو سړی لږ نرم شو او ویې ویل چې مونږ خو تاسو له خپل حق درکوو اخر کې یې راته ووې چې خدایي خدمتګار د عدم تشدد پابند نه دي همېشه تشدد کوي ما ورته وویل چې مثال خو راته وښیه ټینګ ټینګې (رِنګ) یې وغړولو دده سکتري راغی ورته یې وویل چې فایل راوړه هغه لاړ او فایل یې راووړ چېرته په کې تشدد راونه وتو راته یې ووې چې سربند کې لیډران ونیوی شو نو خلک تانې پورې ور سره لاړل او چغې یې ووهلې چې انقلاب زنده باد ما ورته وویل چې ما نن ستا نه واورېدل چې چغې وهل تشدد دی چې د هغوی لیډران مو بېګناه ونیول او تانې ته مو بوتلل نو هغوی به دومره هم نه کول چې دوی سره تانې پورې تلي وی یا یې نارې وهلې وی. ملاقات ختم شو او زه د هوم سکتري نه رخصت شوم.
په ایمرسن کې او په هاول کې څومره فرق دی حقیقت دا دی چې ایمرسن په پنجاب کې لوی شوی و او هاول سرحد کې پښتنو سره لوی شوی و. زه چې واپس خپل ځای له تلم نو د سیسل هوټل سره هغه زمونږ د کالج طالب علم او د کلکتې د اخبار هغه خبرلوڅي ولاړ وو زه یې په زور هوټل ته بوتلم اود هغه په کمره کې چې کښېناستو نو ماته یې ووې چې ته سبا له ضرور وایسرای ووینه او خان بهادر صاحب هم راغی هغه هم د دې خبرې تائید وکړو ما ورته ووې چې زما د لیډې د ویلنګډن ملاقات خواهش و، خو هغه ناجوړه ده نو په دې وجه یوازې وایسرای سره نه وینم او په یوه بله موقع به دواړو سره ملاقات وکړم. زما وایسرای سره د ملاقات خواهش نه و، ولې چې زما ورسره څه کار نه و، هسې مې د هغه وخت ولې ضایع کولو خو دوی ډېر اصرار وکړ نو ما ورته ووې چې ښه ده که هغه ماته ولیکي نو زه به ورسره

ملاقات وکړم دوی ووې چې هغه خو داسې نه کوي نو ما ورته ووې چې ما هم چا ته د ملاقات درخواست نه دی کړی. دوی ما ته ووې چې مهاتماجي هم وايسرای ته د ملاقات دپاره ليکي ما ورته ووې چې د هغه به دغه اصول وي او زما دا صول دي. چې زما څه کار ورسره نه وي نو هسې د ملاقات څه ضرورت دی؟. زه په شمله کې د هغه د اشنا رای بهادر سره اوسېدم دوی رای بهادر صاحب ته ټيلفون وکړو يو بل تجويز يې پېش کړو ،ليکن ما هغه هم نامنظور کړو سبا له يې رای بهادر صاحب سره په ټيلفون خبرې وکړې او هغه يې هم ځان سره ملګری کړو ،لنډه دا چې هغه ما ته ووې چې ته د ملاقات دپاره خط مه ليکه ستا سکتر دې وليکي.زما وايسرای سره څه کار نه و،نو دا ټولې خبرې راته بې فايدې ښکارېدې خو دې ټولو دوستانو مجبور کړم، وايسرای ته يې خط وليکلو د لاندې يې د تاج محمد زما د سکتري دستخط وکړو د وايسرای سکتري ته يې ټيلفون وکړو چې مونږ د ملاقات دپاره يو خط درلېږو چې فوراً يې وايسرای ته پېش کړې هغه هم خوشحاله شو او ما رای بهادر صاحب ته ووې چې تاسو زما د ضمير خلاف کار ما باندې کوئ او دا مې ورته هم ووې چې هر چېرې زما د ضمير خلاف چا په يو کار مجبوره کړی يم، نو د هغې نتيجه ښه نه ده وتلې. مازيګر د خط ځواب راغی چې د وايسرای صاحب طبيعت ښه نه دی سبا له ملاقات کېدی نه شي او د هغه سکتر ما له يوه خاصه چيټۍ وليکله او په ټيلفون يې هم د هغوی عذر معذرت وکړو چې وايسرای صاحب خپه نه دی هسې نه څه بل خيال پيدا نه شي. حقيقت دا و چې وايسرای صاحب په دې خپه شوی و چې ده ما ته پخپله خط نه دی ليکلی او د سکتر په ذريعه يې ما له خط رالېږلی دی او زما د هغه ملاقات خبرې هم ورته رسېدلې وې. زه دا

ویلی شم چې دا زما غلطي وه دې خلکو سره زما دا قسم خبرې او بحثونه په کار نه وو او مونږ خلکو ته په کار دي چې په داسې خبرو کې چپ پاتې کېږو او ډېرې خبرې نه کوو او که مشوره یا څه خبره کوو نو خپله هم خیالو دوستانو سره کوو هر سړی د خپل راز او ارادې نه خبرول نه دي په کار.

په شمله کې د یوې هفتې ارام سره زما صحت ښه شو.زما ډېرو هندوانو، مسلمانانو سره ملاقاتونه وشول او د هغوی په زړه کې چې د ډېره اسماعیل خان د فساد په سلسله کې کومې غلطې خبرې او شکونه حکومت پیدا کړي وو د هغې د لرې کولو کوششونه مې وکړل د خدایي خدمتګار تحریک د حقیقت نه مې خبر کړل او تسلي مې ورکړه چې دا جماعت د خدای د مخلوق خدمت او ارام دپاره جوړ شوی دی،او د دوی کار د ملک د ازادۍ او ترقۍ دپاره دی.یوه لویه جلسه موشمله کې هم وکړه اوخلکو ته مې ټول حقیقت د خدایي خدمتګارو د تحریک ښکاره کړو.د ډېرو مسلمانانو او هندوانو په دعوتونو کې شریک شوم او د جمعې په ورځ مې د شملې په جامع مسجد کې لمونځ وکړو او یو مختصر تقریر مې هم وکړو چې اسلام دنیا ته د څه دپاره راغلی دی؟ هغه وخت د مسلمانانو څه حال و؟ او نن د مسلمانانو څه حال دی؟ نن په غلامۍ کې پراته او خوښ دي حالانکه غلامي په اسلام کې نشته. اسلام کې غلامي د خدای لعنت دی، مسلمان او غلامي دواړه متضاد څیزونه دي. د افغانستان کونسل جنرل سره مې هم ملاقات وشو.لنډه دا چې په دې څو ورځو کې مې د خدایي خدمتګارو دپاره ښه کار وکړو او خدای د دې پراپېګنډې ښه موقع په لاس راکړه او زما د امید نه زیات تعارف وشو.

زه د شملې نه امبالې ته لاړم او دلته ما د جېلخانې يو ډېر مهربان دوست لاله دوني چند وليده چې د هغه په بلنه دلته راغلی وم. په امباله کې موهم د شپې يوه جلسه وکړه او د جلسې نه پس ډېرو مسلمانانو او هندوانو سره مې وليدل. مسلمانان غريبانان د ليډر د نه درلودو په وجه داسې بربادۍ ته رسېدلي دي چې د سياسي زندګۍ نه اډو خبر نه دي او نه يې څه خپل داسې جماعت شته او نه د بل جماعت سره کار کوي.

د امبالې نه لاهور ته راغلم پنډت سنتانم زما د جېلخانې دوست و هغه سره د هغه کورته لاړم. د فري پرېس(ازاد مطبوعات) خبرلوڅي مو راوغوښته او چې څه غلطې خبرې د سول اينډ ميليټري ګزيټ هغه ايډيټر چې ماسره يې د شملې په هغه دعوت کې خبرې شوې وې او په اخبار کې ده د شر پيداکولو دپاره شايع کړې وې، د هغې ترديد مې وکړو. ده پخپل اخبار کې ليکلي وو چې باچاخان کانګرس نه جدا کېږي. دا خبرې چې سر نواب صاحبزاده صاحب عبدالقيوم لوستې وې نو ما پسې يې سړی لاهور ته را ولېږه چې باچا خان ته ووايه د خدای دپاره چې د کانګرس نه جدا نه شې او که جدا شوې نو بيا پيرنګيان زمونږ صوبې له هېڅ نه راکوي. په لاهور کې راته زما د جېلخانې يو ملګري وويل چې ته چې همېشه راشې د هندوانو مېلمه کېږې اومسلمانانو سره نه ډېره کېږې نو ما ورته وويل چې په لاهور کې خو ډېر مسلمانان زما دوستان دي کوم يو راته ووې چې راشه زما مېلمه شه او زه نه يم ورغلی، زه پښتون يم، پښتون خو بې ستې په کور کې هم ډوډۍ نه خوري.

✵✵✵

# خپله صوبه کې کار

ډېره اسماعيل خان ته، اتمانزو ته واپسي،
د احمدشاه معامله، بیا د ډېرو په
دوره(بنو، کوهاټ) د سرحد لويه جرگه،
د هزارې دوره(پکلی، بفه،
شنکیاری، ډوډیال، مانسهره، سپیدو،
نوانښهر، ایبټ اباد، هري پور، سرای صالح،
کلابټ، چڅ، غُرغشتي) د هزارې نه واپس،
ترنگزو حاجي صاحب او خدايي
خدمتگاري، د خلیلو مومندو دوره، د
مانړگانو بانډه، اورمړ او خالصې جلسې،
لاټ سره لیدل، نوښار تحصیل کې جلسې،
صوابی تحصیل کې جلسې.

## ډېره اسماعيل خان ته تګ:

بيا ډېره اسماعيل خان ته روان شوم، چې ډېرو ته ورسېدم نو راته معلومه شوه چې رمضان خان حکومت ګرفتار کړی دی،او چې د ډېرو د ښار هغه تباهي او بربادي او د هندو او مسلمان نفرت او دښمني مې وليده نو ډېر زيات خپه شوم او تصفيې دپاره مې د کوهاټ او بنو هندوانو او مسلمانانو پسې ځوابونه ولېږل چې هغوی فوراً راشي او د دې مسئلې د جوړولو کوشش وکړي. هغوی زما په جواب فوراً راغلل.سلا او مشورې مو وکړې او ځان ځان له مو هندوانو او مسلمانانو سره وليدل ليکن يو خو حالت ډېر خراب و او بل په کې حکومت ګوتې وهلې او خپل سړي يې په هندوانو او مسلمانانو پسې لګولي وو او مونږ يې کاميابۍ ته نه پرېښودو غريبانان هندوان به راضي شوي وو، ليکن غټو هندوانو سولې ته نه پرېښودل او مسلمانان د وکيلانو په لاس کې لوبېدل او روغه يې نه کوله ولې چې هغوی وې چې زمونږ دکان به سوړ شي په ډېرو کې چې کوم خلک د سرکار تعلقدار نه وو په دې فساد کې هغوی ته ډېر نقصان رسېدلی و، دا ټوله کارروايي د حکومت وه او شيخ محبوب علي چې دلته اسسټنټ کمشنر و او لکه څنګه چې يې پيرنګيانو دپاره دامان الله خان په وخت کې کابل تباه کړی و دغسې يې د هغوی دپاره ډېره اسماعيل خان هم تباه کړو.

زه د خپلو ملګرو سره پنيالې ته لاړم او هغه خان بهادر له ورغلم او هغه نمايشي سرخپوش مې پخپله وليدل چې فساد يې کړی و، خان بهادر راته ووې چې ماله شيخ محبوب علي

چې د دې ځای اسسټنټ کمشنر دی دوه لارې د دې کسانو در سولو دپاره راکړې وې اومونږ خو د حکومت خلک یو څه چې راته وایي هغه کوو، ما ورته ووې چې حکومت به هم وي خو دا دې خپل قوم دی، خپل قام سره څوک داسې بد نه کوي. د هغه زوی غلام سرور خان د علیګړ یونیورسټي نه په چوټۍ راغلی و، مونږ سره یې ډېره مینه ښکاره کړه، ما ورته ووې چې بابا دې پوهه کړه که سبا له د دې خپل قام حکومت جوړ شي نو دی به څه ځواب ورکوي بیا تړې واپس ډېرو ته راغلو د خان بهادر عبدالرحیم خان کنډي په ذریعه کرنل نول چې د دغه ځای ډپټي کمشنر و ماله د ملاقات دعوت راکړو خو ما د هغه بنګلې له تلل مناسب ونه ګڼل او عبدالرحیم خان ته مې ووې چې که چېرې ستا ځای کې مو ملاقات کېدی شي نو ما ته په کې انکار نشته. ډپټي کمشنر هم په دې خبره راضي شو او هغه مونږ له د چایو دعوت راکړو، لیکن مسټر ایډم زمونږ د صوبې د پولیس جرنیل و په دوره ډېرو ته راغلی و او ډپټي کمشنر یې د داسې ملاقات نه منع کړو خو ده پخپله ما سره د ډېرو د نواب په ځای کې ملاقات وکړو. د پولیس جرنیل ښه سړی و خو د خبرو چل نه ورتلو په خبرو کې یې ما ته ووې چې د ډرامې متعلق چې د حکومت خلاف تا کوم تقریر کړی و، زه په هغې کې تا هر وخت ګرفتارولی شم ولې چې ستا ذمه دار ملګري په هغوی الزام لګوي او تا د هغې خلاف په حکومت الزام لګولی دی ما ورته ووې زه د ګرفتارۍ نه، نه یرېږم ځکه خو حکومت ته رښتیا وایم او څوک چې یرېږي هغوی حکومت ته رښتیا ویلی نه شي ته منصف شه چې دا حکومت د توقې نه

بوقه جوړه کړې نه ده؟ او د بچو د توقې ډرامې له اهمیت ورکول د داسې حکومت شان شایان دی؟ بیا یې راته ووې چې ستا دا حکومت خوښ نه دی نو بیا ولې د دې ملک نه بل خوا نه ځې؟ ما ورته ووې جرنیل صاحب دا ملک زمونږ دی او که ستا دی؟ نو ده راته ووې چې ستاسو دی ماوې څنګه د خپل ملک نه بل ملک ته لاړ شم او دا به ښه نه وي چې تاسو دا زمونږ ملک مونږ ته پرېږدئ چای ختم شوه او مونږ خواره شو.

بیا د رمضان خان ملاقات له لاړم ملاقات مې ورسره وکړ. او ډېر حالات راته معلوم شول. زه د هندوانو او مسلمانانو په سوله کې لګیا وم لیکن په څه نتیجه ونه رسېدم بلکې د لویو هندوانو دا خیال و چې مونږ د خدایي خدمتګارو دلاسه تباه شوي یو. ما ورته ووې چې دا څنګه؟ دوی راته ووې چې دا داسې چې د دې تحریک په وجه د حکومت رعب داب پاتې نه شو، حکومت کمزوری شو او امن یې قایم نه کړی شو، او مونږ لوټ او برباد شو، مونږ خومظبوط حکومت غواړو ما ددې په اورېدو ډېر وخندل چې ښه ده چې حکومت ته ګناه نشته نو لاله جي ستا څومره نقصان شوی دی او ستاسو په دې ښار کې څومره خدایي خدمتګار دي؟ ځواب یې راکړو چې زما خوڅه نقصان نه دی شوی او نه دې ښار کې خدایي خدمتګار شته ما ورته ووې چې د کومو خلکو چې نقصان شوی دی، هغوی خو ماته لیکلي بیانونه راکړي دي چې دا فساد د حکومت په شرارت شوی دی او مونږ د حکومت له لاسه برباد شوي یو.

## اتمانزو ته واپسي د احمدشاه معامله:

په دې دوران کې ماته يو خط راغی چې ته فوراً اتمانزو ته راشه داسې واقعات پيدا شوي دي چې د مشورې ضرورت دی. زه لا نه يم او لګيا وم دا کوشش مې کولو چې د هندو او مسلمان سوله وشي. ليکن ورځ په ورځ مونږ په ځای د دې چې سولې ته نزدې شو لرې کېدو چې په دې کې جرنيل عظمت خان راغی او زما په نوم يې يو دستي خط راوړی و هغه کې ليکلي وو چې د دې خط په ليدو فوراً را روان شه. د شپې مې د عظمت خان نه پوښتنه وکړه چې خير خو دی هغه راته ووې چې نور خو خير دی ليکن ميا احمدشاه زمونږ مخالفت شروع کړی دی.ددې ځای کار ګډوډ و نو سحر مونږ ټول د ډېرو نه روان شو اتمانزو ته ورسېدو نو معلومه شوه چې ميا احمدشاه صاحب زما مخالفت کې په خدايي خدمتګارو کې ځانله يوه ډله برابرولو کې مصروف دی او د جرګو په ممبرانو کې هم د نفاق دپاره هلې ځلې کوی او خط و کتابت يې هم شروع کړی دی، د دې خبرې په اورېدو خپه شوم ولې چې زما د ميا صاحب غوندې تعليميافته سړي نه دا اميد نه و، چې دی به په يوه معمولي خبره په قوم کې د دومره نفاق پيدا کولو کوشش وکړي او بل چې د دې نه خبر شوم چې حکومت زمونږ په دې اختلاف ډېرې خوشحالۍ کړې دي او خپلو حاکمانو ته يې حکمونه جاري کړي دي چې د ميا صاحب امداد وکړي او د عبدالغفار خان مخالفت وکړئ. جعفر شاه او عبدالله شاه راغلل او ماته يې دا تجويز پېش کړو چې مونږ دا غواړو چې ته او ميا صاحب د يو څو ملګرو سره زمونږ کلي کې جمع شئ

او مخامخ خبرې وکړې.ما د هغوی دې تجویز سره اتفاق وکړو ،او سباله زه احمد شاه،عبدالله شاه،تاج محمد خان،حاجي عبدالغفار خان او عبدالاکبر خان د میا جعفرشاه صاحب کلي ته لاړو،یو ځای شو چې ډوډۍ مو وخوړه نو ماسختن په یوه کمره کې کښیناستو او وَرونه مو بند کړل. خبرې شروع شوې،احمد شاه اخوا دېخوا خبرې کولې او چې په زړه کې یې څه و هغه یې نه ظاهرول یا یې نه شو ظاهرولی شپه ډېره تېره شوه ما ورته ووې چې میا صاحب خپل مطلب ووایه نو هغه بیا هم شپ شپ وکړل او ویې وې چې ماته د لویې جرګې فیصله منظوره نه ده یوه عامه جلسه دې وکړی شي او هغوی ته دې دا معامله پېش کړی شي چې هغوی دا فیصله وکړي ما ورته ووې چې ښه ده مونږ ته ستا دا خبره منظوره ده، لیکن که هغې عامې جلسې دا فیصله وکړه چې مونږ د کانګرس نه نه جدا کېږو نو بیا به دغه خبره ومنې؟ نو ځواب یې راکړو چې بیا به زه استعفا ورکړم،ما ورته ووې چې استعفا خو دې ورکړې ده چې د عامې جلسې منلو ته تیار نه یې نو د جلسې څه ضرورت دی؟ بیا یې دا خبره وکړه چې زما په هندوانو باور نشته هسې نه چې سبا له راسره دوکه وکړي، نو بیا به مونږ څه کولی نه شو نو ته مونږ له اجازت راکړه چې مونږ یو بل جماعت جوړ کړو چې سبا له زمونږ لاس د هندوانو نه ازاد وي ما ځواب ورکړو چې زه منافق نه یم زه د دې اجازه درکولی نه شم ولې چې دا ځیز د خپل قوم دپاره مفید نه ګڼم پاتې د هندوانو دوکه شوه نو زه د دې په باره کې ستا په خدمت کې دا عرض کوم چې ستا داخیال درست نه دی،چې

ګیني مونږ کانګرس سره یو ځای شو نو مونږ ور پورې وتړلی شو ،او هندوان چې هر څه کوي مونږ به خپل لاس خوځولی نه شو ،بلکې زه تاسره دا وعده کوم چې کله کانګرس مونږ سره دوکه وکړه نو هغه ساعت به کانګرس پرېږدو ته به مخکې یې مونږ به درپسې یو او چې ته څه وایې هغه به کوو نو کم از کم ته د هغې پورې وار خو وکړه اخر ستا زما متعلق څه خیال دی،زه خو چې هر څه کوم د خپل ملک دپاره کوم.عبدالله شاه او جعفر شاه هم زما د خبرې تائید وکړو او ویې ویل چې ګول مېزکنفرانس په لندن کې شروع دی دا د سود او زیان وخت دی مونږ له انتظار په کار دی او دا خبرې پرېښودل په کار دي او بل یې د یو خاص سرکاري سړي خبره وکړه، احمدشاه ته یې ووې چې هغه ماته ویلي دي چې احمدشاه دې دا خبرې پرېږدي په دې حکومت ډېرې خوشحالۍ کړې دي اومونږ له یې حکم را لېږلی دی چې د عبدالغفار خان خلاف د احمدشاه مدد وکړئ میا صاحب مو په دې رضا کړو چې ښه ده زه به اختلاف پرېږدم او په قلاره به کښېنم،او د نتیجې انتظار به کوم مونږ ټول خوشحاله شو او اوده شو سحر وختي چې لمونځ مو وکړو نو زه عبدالله شاه، عبدالاکبر خان، حاجي عبدالغفار خان او تاج محمد خان د جعفر شاه د باغ لیدو له لاړو زه ترې اودس ماتي له لاړم، چې واپس راغلم نو حاجي عبدالغفار خان او تاج محمد خان خپه ولاړ وو راته یې ووې چې احمدشاه میا په بېګانۍ فیصلې باندې ټینګ نه شو هغه اوس مونږ ته څه نورې کیسې وکړې او عبدالاکبر خان یې زمونږ نه بېل کړ

زه هم د دې په اورېدو خپه شوم په دې کې سړی راغی چې

چای تیاره ده نو چې چایو ته کښیناستو نو احمد شاه صاحب بیا هغه کیسې شروع کړې چې بېګا فېصله شوې وې ما ورته ووې چې د دې خبرو فېصله خو بېګا شوې ده، اخر احمد شاه میا صاحب د خپل زړه هغه پټه خبره څرګنده کړه او ماته یې ووې چې زه د دې خبرې برداشت کولی نه شم چې ټول خلک دې د یو سړي په خولې پسې روان شي ما ورته ووې چې میا صاحب همېشه په دنیا کې خلک یو سړي پسې روان وي او دا خو د قوم او ملک دپاره ډېره د فایدې خبره ده چې ټول قوم په یو سړي متفق شي نو خپل منزل ته ورسي خو دې خبرې ته کتل په کار دي چې هغه سړی چې څه کوي د ځان دپاره کوي او که د قوم دپاره؟ په خپله خوښه کوي که د ملګرو په سلا؟ که د ځان دپاره کوي او پخپله خوښه یې کوي، نو بیا هغه پسې تلل نه دي په کار. او دغه ځای ته خلک په خدمت رسیږي نه په مخالفت. ته زما نه زیات خدمت وکړه هغوی به زما نه زیات ستا خبرې منلو ته تیار شي تا چې په ولایت کې سېلونه کول هغه وخت زه د دې خپل قام دپاره په جېلخانه کې پروت وم او مېچنې مې اوړولې د دې بحث مباحیثو نه دا یوه فایده وشوه چې هر سړي د میا صاحب د اصلي غرض نه واقف شو. عبدالله شاه او جعفر شاه غیر جانبداري ظاهره کړه عبدالاکبر خان ووې چې زه به پس له دې نه سیاست نه کوم او حاجي عبدالغفار خان او تاج محمد خان سره یې وعده وکړه چې تاسو سره به د سکول په کار کې مدد کوم مونږ ټول خپلو کلو ته روان شو. عبدالاکبر خان، میا عبدالله شاه ځان سره په زور قاضي خېلو ته روان کړو مونږ پوهـ شو چې عبدالاکبر خان کمزوری سړی

دی میا صاحب ورلـه دوکـه ورنـه کـړي. د عبدالله شاه پـه احمدشاه چې د ده تربور و ،ښه ورځ نه پېرزو کېده، عبدالله شاه ډېر ډله باز او د پرو جنبو جوړولو ماهر اوشوقي سړی و او دا ټوله تماشه ده جوړه کړې وه.

مونږ د احمدشاه دوی کلي ته لاړو ولې چې مونږ د عبدالله شاه د ورور اکبر جان مېلمانه وو چې د ډوډۍ نه فارغ شو نو حاجي عبدالغفار خان ماته را نزدې شو او ویې ویل چې عبدالاکبر خان خو یې بالکل بدل کړی دی ما وې ته یې پوهه کړه هغه وې ما پرې ډېر کوشش وکړو خو پوهېږي نه. سبا له کلي ته راغلو بله ورځ ما ولیدل چې عبدالاکبر خان او احمدشاه زما برخلاف یوه لویه پرپړه چاپ کړې وه په کې یې لیکلي وو چې زمونږ د مصرو په شان په اوبو کې اوبه شو او زمونږ هېڅ هستي پاتې نه شوه. په دې اشتهار د احمدشاه، عبدالله شاه او عبدالاکبر خان دستخطونه وو. مونږ خپل بعضې ممبران را غونډ کړل او د هغوی په مشوره مې د هغوی په شان چاپ شده ځواب ورکړو او زه د یوځو خدایي خدمتګارو سره بیا د ډېرو په دوره روان شوم.

## د ډېرو دوره:

په دې وخت کې خبر شو چې زمونږ لاټ صاحب سرستوورډ پیرس چې ډېر ښه او شریف سړی و د غر نه پرېوتو او مړ شو.او د هغه په ځای سرریلف ګرفت لاټ شو دی یو فوجي سړی و ،دده خیالات مونږ ته معلومه وو دی وړوکی زمونږ په صوبه کې لوی شوی دی، دی چې د وزیرستان

رېزيډنټ و نو ده يو خپل افسر ته د خدايي خدمتګارو متعلق خپل خيالات ظاهر کړي وو چې که لږ غونډې وينه تويه شي نو ښه به وي.د لاټ کېدو سره يې شملې ته وليکل چې زه عبدالغفار خان ګرفتار وم ولې چې دا ډېر ښه وخت دی د دې نه فايده اخيستل په کار دي په دوی کې نفاق پيدا شوی دی خو شملې ورسره اتفاق ونه کړو ځکه چې ګول مېز کنفرانس روان و، د مرکزي حکومت دا خيال و چې مهاتما ګاندهي د ده په ګرفتارۍ لندن کې څه قدم وچت نه کړي. او ده ته يې وليکل چې دا اختلاف به دوی پخپله تباه کړي زمونږ د دخل ضرورت به پاتې نه شي، هغوی نور هندوستان ته کتل او د دې نه خبر نه وو چې پښتانه د نور هندوستان په شان نه دي، دا يوژوندی قام دی اول پوهـ نه و اوس پوهـ شوي دي او سياسي شعور په کې راغلی دی نو هغه به د ناپوهو کار ونه کړي.

مونږ خپل کار او خپلو دورو له زور ورکړو ولې چې ماته معلومه شوه چې حکومت مونږ ډېر زر ګرفتارول غواړي. کلي په کلي وګرځېدو او خلک مو په حقيقت پوهـ کړل او دې خبرې له مو ډېر زور ورکړو چې زمونږ جنګ د عدم تشدد جنګ دی او دې لاره کې چې هر قسم تکليفونه او مصيبتونه راځي نو په صبر به يې تېروو.مونږ به د چا نه بدل نه اخلو مونږ خدايي خدمتګار يو، خدای به زمونږ بدله د ظالم نه اخلي مونږ د بېتهنو په دوره وو نيمه شپه د جلسې نه فارغه شوي وو ايله مو سترګې ورغلې وې چې د عمرزو عبيدالله خان چې د پوليس کپتان و د لاټ صاحب يو دستي خط يې راوړو په هغې کې يې ليکلي و،چې زه تاسره د ډېره اسماعيل خان د تقريرونو متعلق

خبرې اترې کول غواړم ته مهرباني وکړه پېښور ته راشه ما ورته وليکل چې زه د قانون برخلاف تقريرونه نه کوم او نه مې کړي دي تا ته که څه غلط خبر رسېدلی وي دا به ستا د خفيه پوليس والاوغلطي وي زه په دې وخت کې درتلی نه شم ځکه چې ما د خپل پروګرام نه ټول خلک خبر کړي دي زه هغه پرېښوی نه شم څه وخت چې فارغ شوم نو پېښور ته به درشم نوکه تا ته ضرورت ښکارېدو زه به تا سره ووينم چې څه وخت مې دا ځواب ليکلی عبيدالله خان له ورکړو نو فوراً روان شو د ډېره اسماعيل خان په دوره کې حکومت ډېر کوشش وکړو، چې زه بعضې علاقو ته لاړ نه شم او د دې دپاره يې خان بهادر عبدالرحيم خان ما پسې راولېږلو خو زمونږ مقامي ملګرو دا خبره خوښه نه کړه او مونږ د ټولې علاقې دوره وکړه بيا مونږ بنو ته لاړو جرنيل عظمت خان زمونږ نه مخکې د کار دپاره دلته راغلی و، د بنو دوره موکلي په کلي وکړه.

مونږ چې د ککۍ نه مروتو ته روان شو نو مونږ له خورشيد بهن، سعدالله خان او د جواهر لال اوښی په موټر کې مخې له راغلل او راته يې ووې چې جواهر لال دا حکم رالېږلی دی چې تاسو فوراً د سرحد لويه جرګه جوړه کړئ او د قاعدې په مطابق کار شروع کړئ ما ورته ووې ښه دی تاسو د جلسې دپاره خلکو پسې خطونه جاري کړئ او په مقرر تاريخ به زه درشم مونږ د جلسې دپاره تاريخ مقرر کړو او هغې نه پس دوی پېښور ته لاړل او زه د بنو نه د کوهاټ دورې له راغلم د کوهاټ دوره هم په ډېر ښه شان وشوه دلته زمونږ په زرګونو خدايي خدمتګار وو جلسې مو وکړې کلي په کلي، تپه

په تپه وګرځېدو مونږ چې څه رنګه دورې د پښتون د اتفاق دپاره شروع کړې وې، دغسې دورې میا احمدشاه د پښتون د نفاق دپاره شروع کړې وې خو دا یوڅیز یې زمونږ نه زیات و چې ده به زمونږ بر خلاف پرچې هم چاپ کولې اخباراتو کې به یې هم زمونږ برخلاف پراپېګنډه کوله د پنجاب اخبارات هم دده ملګرې وو ولې د هغوی مقصد هم د پښتون کور ورانول دې د احمدشاه دوی مقابله زمونږ خدایي خدمتګار خصوصا جرنیل انځرګل او عبدالله استاذ د چارسدې وکړه او احمدشاه دوی پخپل مقصد کې کامیاب نه شول. مونږ چې د کوهاټ دوره ختمه کړه او د پیر شهنشاه صاحب په ځای کې موشپه وه نو زمونږ د هنګو او ټل بعضې مخلصان ملګرې چې د میا صاحب د پراپېګنډې نه متاثر شوي وو د تحقیق دپاره دغلته راغلل او ما ته یې ووې چې دا تا څه چل وکړو چې د پښتنو یو ځان له جماعت دې کانګرس کې مدغم کړلو تا خو به اول مونږ ته دا خبرې کولې چې دا جماعت او تحریک خو د پښتنو دی ما ورته ووې چې تحریک خو هم هغسې د پښتنو تحریک دی د کانګرس سره خو صرف مونږ تعاون کړیدی چې هغوی هم د پیرنګیانو نه د هندوستان ازادي غواړي او دا د تعاون فیصله خو ستاسو لویې جرګې کړې ده، مونږ خو جېلخانه کې قید وو پښتنو باندې چې څه وخت پیرنګیانو توره شپه جوړه کړه او خدایي خدمتګار یې ګرفتار کړل نو مونږ د ګجرات په جېلخانه کې وو چې جعفر شاه او عبدالله شاه راغلل او مونږ ته یې وویل چې پیرنګیانو په مونږ توره شپه جوړه کړې ده او تحریک تباه کول غواړي مونږ څه وکړو؟ مونږ له چې راغلل نو

زما خوملاقات هم بند و او احمد شاه او عبدالاکبر خان ورسره ملاقات وکړو او مونږ په شریکه دا رایې ورکړه چې لاړشئ او د مسلم لیګ مشرانو سره ووینئ چې مونږ سره امداد وکړي. دوی لاړل او بیا راغلل او ویې ویل چې مسلم لیګ زمونږ ملګرتیا ته تیار نه دی او کانګرس وایي چې تاسو هم د ملک ازادي غواړئ او د عدم تشدد په اصولو کاربند یئ او مونږ هم نو په دې وجه مونږ ستاسو امداد ته تیار یو مونږ ورله ځواب ورکړو چې واپس لاړشئ او خپلې لویې جرګې ته دا مسئله پېش کړئ. هغوی راغلل او جرګې فېصله وکړه چې مونږ کانګرس سره ملګري کېږو او ملګري شول او هغوی زمونږ پراپېګنډه په اخباراتو کې وکړه او د تحقیقاتو دپاره یې جرګه راولېږله. دا خو د هغوی د ملګرتیا برکت دی چې زه بهر ګرځم او ستاسو سره جلسې کوم که دا نه وي نو زه به اوس جېلخانه کې قید وم او دا تاسو چې لګیا یئ د تحریک کار کوئ، دا خو د کانګرس برکت دی که نه وي نو پیرنګیانو تاسو کار ته پرېښودلئ څه؟ د هغوی تسلي وشوه او خپل کلي ته روان شول او مونږ پېښور ته را روان شو.

چې را ورسېدو نو معلومه شوه چې حکومت زمونږ ګاډي والا خدايي خدمتګار په مخه کړي دي. دوی په پېښور کې سامان د یو ځای نه بل ځای ته وړلو او رسولو، کارکولو. دا ډېر سخت او مشقتي کار و، او مقامي خلکو نشو کولی دا د بهر نه راغلي خلک وو، او اکثریت په کې زمونږ د مومندانو ورونړو وو او قابو سل په سل د خدايي خدمتګارۍ په تحریک کې شامل وو، او مقدمې یې پرې جوړې کړې دي او دباوونه

پرې هم کوي چې خدايي خدمتګاري نه لاس په سر شئ که نه وي نو د دې ملکه ځئ او چې په دوی کې کوم د کار خلک وو نو په هغوی يې دا مقدمه جوړه کړه چې تاسو د دې ملک نه يئ او په فلانۍ دفعه کې مونږ تاسو د دې ملکه وباسو، دا خلک ډېر د کار او تکړه خلک او ښه پښتانه وو، پلرونه او نيکونه يې د افغانستان نه راغلي وو او همدلته زمونږ په صوبه کې اوسېدل دوی ته يې ويل چې:

تاسو خپل ملک ته لاړ شئ حال دا دی چې دا غريبانان خو پلار په نيکه دلته اوسېږي. مونږ نمک منډۍ کې د حکومت د دې ظلم برخلاف يوه لويه جلسه وکړه او په زرګونو ښځې، نر په کې شريک شول او د حکومت د دې رويې برخلاف مو تقريرونه وکړل. زمونږ د جلسې نتيجه ښه شوه او په حکومت يې دومره اثر وکړو چې هغه خلک يې پرېښودل او مقدمې يې واپس کړې.

د دې دورو او بې ارامۍ په وجه زما طبيعت بيا خراب شو دلته مې ارام کولی نه شو، د څو ورځو دپاره کوه مري ته لاړم. قاضي عطاالله او غلام محمد خان هلته وو. په ګاډي کې کښېناستم او مري ته ورسېدم. شير بهادر خان د بروچ لارۍ کې ناست و او خپل کلي ته راتلو چې زه يې وليدم. د لارۍ نه را کوز شو او ماسره يو څوورځې پاتې شو، څه ورځې مې ارام وکړو چې طبيعت مې ښه شو نو زه او شير بهادرخان واپس راغلو.

## د سرحد لويه جرګه:

کانګرس ماله اختيار راکړی و چې ستا څه رنګې خوښه وي

د سرحد لویه جرګه جوړه کړه خو ما په پېښور کې د ټولې صوبې کارکنان راجمع کړل او د دې خبرې کوشش مې وکړو چې د کانګرس د جرګې سره په یو ځای والي کې څه اختلاف پیدا نه شي. خو زمونږ د پېښور ورونه په دې رضا نه شو او بیا مې د کوهاټ او بنو کارکنانو ته ووې چې زه پخپل اختیار سره صدر نه مقرر کوم. تاسو په اتفاق سره یو صدر خوښ کړئ هغوی پیر شهنشاه خوښ کړو او صدر شو، او سعدالله خان په اتفاق سره جنرل سکتري شو او مرکزي دفتر مو هم اتمانزو کې مقرر کړو ولې چې هغه د جرګې او خدایي خدمتګارو ړومبنی مرکز و، د صوبې جرګه جوړه شوه او کانګرس له مو د دې خبرې خبر ورکړو، هغه قوم دنیا کې ډېر بدقسمته وي چې هغوی کې داسې خلک پیدا شي چې پخپله خو د قوم او ملک د خدمت دپاره تیار نه وي او چې څوک په کې د خدمت دپاره پیدا شي نو هغوی خدمت ته نه پرېږدي. دا خلک چې د څه وخت د پاره جېلخانې ته لاړ شي نو دا خیال کوي چې زه خو اوس لیډر شوم او د خپل ځان د وړاندې کېدو کوششونه شروع کړي او خپل غرضونه یې په مخه واخلي او که څوک د خدای دپاره د دې قام خدمتونه کوي نو د هغوی مخالفت شروع کړي خو هر څوک چې د خدای دپاره د قام خدمت کوي نو د هغوی مخه څوک نه شي بندولی او هغوی د چا مخالفتونه نه کوي ځکه چې خپل څه غرض یې نه وي مخالفت خو ذاتیاتو کې پیدا کېږي. د ښار دې ورونو ته هم مونږ د میا صاحب په شان ډېر منتونه وکړل چې دې کې څه شته نه او د قام خدمت دی راځئ چې په شریکه ورته ملا وتړو! خو دوی هم خپلو غرضونو په مخه کړي وو او د

جرګې او خدايي خدمتګارو خلاف يې پراپېګنډه شروع کړه او دې ته يې فکر و نه کړو چې په دې طريقه خو مونږ خپل ځان ته او قوم ته نقصان رسوو او د غلامۍ ځنځيرونه مضبوطوو.

په ډيلي کې د کانګرس د ورکنګ کميټۍ اجلاس و، او د هغې دپاره د ۱۹۳۱ع کال د اکتوبر مياشت مقرره شوې وه زه د لوند خوړ غلام محمد خان سره ډيلي ته لاړم. په ورکنګ کميټۍ کې ما دا خبره پېش کړه چې تر اوسه زمونږ د ملکنډ ايجنسۍ قيديان په سوله کې رها شوي نه دي او هغه شان جېلخانه کې پراته دي او مونږ ته حکومت دا وايي چې دا علاقه د ګاندهي ارون پيکټ نه بهر ده، د ورکنګ کميټۍ دا اجلاس دې مرکزي حکومت ته سفارش وکړي چې زمونږ دا ملګري قيديان پرېږدي دوی ووې چې مونږ له د ګاندهي جي د راتلو پورې انتظار کول په کار دي.

## د هزارې دوره:

د ورکنګ کميټۍ جلسه ختمه شوه او زه او غلام محمد خان واپس راغلو نو بيا ما د هزارې دوره شروع کړه ولې چې دې اوسنۍ دوره کې صرف دا ضلع زمانه پاتې وه. شل، پينځه ويشت خدايي خدمتګار مې د هرې تپې نه يو يو را وغوښتل او د ځان سره مې ښه په شان او شوکت هزارې ته بوتلل دې دوره کې د ستي جان شاګرد باچاګی چې ډېر خوش اوازه هلک و، مونږ سره و، ده به دا نظم وې:

انګرېزه! ځه...... خپل وطن ته کړېږه

ما يو پوهـ او هوښيار خدايي خدمتګار پټ چچ له ولېږلو

چې د هغه ځای حال معلوم کړي او په پټه خلکو سره زما د ورتلو مشوره وکړي ولې چې دې علاقې ته حکومت زمونږ خدایي خدمتګار نه پرېښودل او په ډېر بد سلوکۍ سره یې واپس کول نو ما دا غوښتل چې زه په پټه (اونا ځاپه) دې علاقې ته لاړ شم او چې حکومت خبرېږي چې زه دغلته رسېدلی یم.

مونږ سحر وختي په رېل کې د پېښور نه را روان شو حکیم عبدالسلام صاحب له مو مخکې خبر ورکړی و، څه وخت چې زمونږ ګاډی شاه ډېرۍ ته ورسېدو نو حکیم صاحب په ستېشن ولاړ و، مونږ ګاډی بدل کړو او بل ګاډي کې سواره شو او چې هرېپور تېشن ته ورسېدو نو ډېر خلک زمونږ د استقبال دپاره ستېشن ته راغلي وو، چونکه زمونږ پروګرام د پکلۍ و په دې وجه د ګاډي نه کوز نه شوم او د خپلې ډبې په دروازه کې ودرېدم او د خلکو شکریه مې ادا کړه یو څو خبرې مې هم وکړې چې په واپسۍ کې به ستاسو په خدمت کې حاضرېږو، ګاډی روان شو مونږ چې مخکې لاړو نو یو موټر مو په سړک ولیدو چې سرخپوش په کې ناست دي او رېل سره یې په منډه پرېښې دی.د دوی په لیدو ډېر خوشحاله شوم چې شکر دی دلته هم خدایي خدمتګار جوړ شوي دي. مونږ چې په حویلو ستېشن کې د ګاډي نه کوز شو نو هغه موټر هم را ورسېد. دوی هم راکوز شول او یو بل ته ورترغاړه شو بیا مو یوه لارۍ کرایه کړه او پکلۍ ته روان شو. زه په لارۍ کې سور شوم او باجې والا مو موټر کې سواره کړل، هغوی مخکې اومونږ ورپسې شو،د کوهاټ ډپټي کمشنر په شان د هزارې ډپټي

کمشنر اپ کینسن هم چې څه وخت زما د راتلو نه خبر شوی دی نو لېونی شوی دی او پـه دې نـه پوهـېدو چې څـه چل وکړي. پـه ډېرو کوششونو بانـدې یې غـلام ربـاني وکیـل پـه دې خبـره راضي کړو چې زه بـه بیا ستا ورور چې پـه ښار کې سب ډیویژن و او موقـوف شـوی دی بحـال کـړم کـه تـه د دوی مخالفت تـه ملا وتـړې. مـونږ چې د حویلو سټیشن نـه روان شـو د سـړک پـه غـاړه چې کوم کوم کلي راتلل هغوی ته به مو خپله کیسه کوله.

ایبټ اباد تـه ورسېدو او چې د بازار پـه مینځ کې تللو نـو ډېر خلـک زمـونږ د راتلـو نـه خبـر شـول، څـه وخـت چـې مانـسهرې تـه نـزدې شـو عبـد القیوم خـان سـواتی وکیـل چـې زمـا د خلافـت ملګـری او مـا سـره یـې قیـد تېـر کـړی و سـپېدو کلـي سـره د څـو نـورو معتبـرو مـشرانو زمـونږ هـر کلـي تـه ولاړ وو د هغـه نـه معلومـه شـوه چـې غـلام ربـاني وکیـل د حکومـت پـه مـشوره مانـسهره کـې د څـو کـسانو سـره ولاړ دی او هغـوی لـه یـې تـورې جنډې ورکـړې دي. مـونږ پخپلـه ټولـه صوبه کـې دا تماشـه لیدلې نـه وه او چـې هغـه ځـای تـه ورسـېدو نـو دا خپـل موټرونـه مـو ورو کـړل هغـوی کـې څـو کـسانو زمـونږ د موټرونـو د ودرولـو کوشـش هـم وکـړو خـو مـونږ موټرونـه ونـه درول لـیکن یـو عجیبـه سـړی مـې پـه نظر راغـی چې پـه یـو لاس کې یې تـوره جنډه وه او پـه بـل لاس یـې مـونږ تـه سـلامونه کـول وروسـته معلومـه شـوه چـې دا خلـک یـې دوکـه کـړي وو بـې خبـره یـې راوسـتي وو او تـورې جنډې یـې ورکړې وې.

پکلـي تـه ورسـېدو د بفـې خلـک تقریبـا دوه میلـه مخـې لـه راغلـي وو مـونږ ورسـره پیـاده بفـې تـه روان شـو ماښـام ورسـېدو

مونږ یې د سین په غاړه یو ښه ځای کې ډېره کړو. دغه ځای ډېر مزیدار و. د تورو جنډو په دې کیسه چې دغه خلک خبر شول نو ډېر خپه شول. د هزارې خلک پښتانه دي خو ژبه ترې ورکه شوې ده د ډېروکلو د خلکو ددې تورو جنډو په وجه مونږ سره همدردي پیدا شوه او مونږ سره خدایي خدمتګار شول. د بفې او د دې علاقې ټول خلک سبا له په جلسه کې شریک شول. د بفې جرګې او خدایي خدمتګارو د جلسې ښه انتظام کړی و. د تورو جنډو په وجه زما زړه ته هم ډېره صدمه رسېدلې وه حالانکه په داسې څیزونو سیاست کې خپګان کول په کار نه وي چونکه دا زما اول ځل و ما چېرته پخپله صوبه کې توره جنډه لیدلې نه وه ځکه ډېر خپه شوی وم او دا زما کمزوري وه. ما په جلسه کې ډېر تېز تقریر وکړو او دې خلکو ته مې ووې چې تاسو خپله ژبه پښتو هېره کړې ده دغسې تاسو کې پښتو هم نه ده پاتې شوې. د پکلۍ بعضې خلکو هم تقرېرونه وکړل او په ډېره کامیابۍ سره زمونږ جلسه ختمه شوه خلک خواره شول ماښام حاجي فقیراخان هم د پېښور نه را ورسېدو دی زمونږ ډېر زورور کارکن دی خپله هزارې ضلع کې ډېر کار کوي. مونږ د هزارې د دورې پروګرام د حاجي فقیراخان او نورو کارکنانو په مشوره جوړ کړو. مونږ د پکلۍ په علاقه کې ځای په ځای جلسې وکړې او په هزاره کې پکلۍ داسې علاقه ده چې خپله ژبه پښتو وایي. کوم ځای چې پښتنو خپله ژبه پرېښودې نه ده هلته زمونږ تحریک ډېر کامیاب وي څه وخت چې مونږ د شینکیارۍ د جلسې انتظام وکړو، نو حکومت زمونږ په جلسه کې د شرارت دپاره خپل څه خلک را ولېږل د

خدای فضل و چې هغوی جرات ونه کړی شو او جلسه په ډېره کامیابۍ ختمه شوه. هزاره کې حکومت کوشش کولو چې زمونږ په لاره کې مشکلات پیدا کړي خو خلکو کې پوهه راغلې وه او د غلام رباني تورو جنډو مونږ له کافي کار کړی و او خلکو کې یې پوهه او احساس پید اکړی وو. مونږ اخري جلسه ډوډیالو کې وکړه او د دې ځای ډېر ننګیالي پښتانه دي، د دوی اول د جلسې څه خیال نه و او نه یې زمونږ په تحریک کې د شرکت څه خیال و لیکن د دوی یو سړی غلام رباني په تورو جنډو کې شریک کړی و او د دې غیرته یې خپل کلي کې جلسه وکړه او مونږ سره د خدایي خدمتګارو په تحریک کې شریک شو. حکومت چې به څومره زمونږ مخالفت کولو نو هغه څیز به زمونږ دپاره مفید او د حکومت دپاره مضر ثابتېدو ولې چې مونږ هر څه کول نو د خدای د مخلوق د خیر دپاره موکول. له دې ځایه مونږ مانسهرې له راغلو، په زرګونو خلک زمونږ استقبال له راغلي وو او زمونږ جلوس په ښار او د ښار په بازارونو کې ګرځېدو او چې د غلام رباني وکیل کور له راغلو نو د انقلاب زنده باد چغې یې ووهلې او د بعضې خلکو خو دا اراده وه چې د ده په کور کاڼي ووروي، خو ما منع کړل چې دا زمونږ اصول نه دي. زه دا په دعوه سره ویلی شم که حکومت دلته د تورو جنډو دا کیسه کړې نه وی نو شاید چې دومره خلک به په جلوس کې شریک شوي نه وو.

مونږ د مانسهرې نه سپېدو ته لاړو او د سبا دپاره مو مانسهره کې د جلسې اعلان وکړو، د سپېدو تول خانان زما مهربانان وو، خو عبدالقیوم خان او غلام رسول خان مې د

جېلخانې ياران وو، شپه مو په ارام سره تېره کړه، سبا له نو بعضې د علاقې مشرانو سره خبرې وشوې او د هغوی په زړونو کې چې غلطې پراپېګنډې زمونږ د تحريک برخلاف غلط فهمی پيدا کړې وې هغه لرې شوې. د چای نه پس مو د تلو انتظام کوو چې په دې کې د مانسهرې انسپکټر راغی او ماله يې د ډپټي کمشنر خط راوړو او دا خبره يې هم وکړه چې ډپټي کمشنر سره د پوليس کپتان مانسهرې ته راغلی دی. ما چې خط پرانستو نو هغې کې ليکلي وو چې په جلسه کې د غلام رباني سره ته د دې تحريک مباحثه وکړه او بل که څه فساد وشو نو څوک به يې ذمه وار وي، او انسپکټر راته ووې چې دا ټول شرارت د دې ډپټي کمشنر دی ما وې چې شه ته خو سرکاري نوکر يې، ما ډپټي کمشنر ته وليکل چې دې معامله کې د بحث ضرورت نشته زه دلته د خدايي خدمتګارۍ د تحريک اشاعت له راغلی يم زما کار اشاعت دی او بيا منل او نه منل د دې خلکو کار دی، پاتې شو فسادونه، زمونږ نظريه د عدم تشدد ده، که چيرې څوک مونږ سره فساد کوي هم مونږ ورسره فساد نه کوو نو په دې سبب که چېرې فساد وشو نو د هغې ذمه وار به ته يې. تانه دار رخصت شو او مونږ هم مانسهرې ته روان شو. په لاره کې چې به څوک خبرېدل نو مونږ سره به ملګري کېدل چې مانسهرې ته ورسېدو نو ډېر خلک مونږ سره ملګري شوي وو او هلته د جلسې په ځای کې به زرګونو خلک راجمع شوي وو، د جلسې ځای سره نزدې مو څه خلک جمع وليدل د تحقيق نه راته معلومه شوه چې دا د حکومت خلک دي او حکومت په څه چل ول د ډوډۍ پيسو په

طمعه، لالچ دا خلک دې علاقې ته زمونږ د مخالفت دپاره را وستلي وو او دلته جلسه کوي او هغه وکيل لګيا و تقرير يې کولو خو په دې پوهه نه شوم چې په کومه موضوع تقرير کوي.

ما خو خلکو ته پخپله جلسه کې د خدايي خدمتګارۍ حقيقت بيان کړو اوخلک مې په دې پوهه کړل چې خدای ته د خدمت ضرورت نشته دهغه خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی، دا ملک خدای مونږ له راکړی دی او دغه شان خدای هر يو قوم له يوملک ورکړی دی، د دې دپاره چې هغوی او د هغوی بچي پرې اباد شي ملک خو زمونږ دی خو اختيار يې د بل دی او دغه وجه ده چې زمونږ بچي وږي تږي او بربنډ دي او مزې پرې نور خلک کوي. غلامي د خدای لعنت دی او مونږ له دې لعنت نه ځان خلاصول په کار دي او دا به هله وشي چې مونږ کې قام ولي، ورورولي، اتفاق او مينه محبت پيدا شي، نن دا دنيا د قامولۍ دنيا ده او تاسو وګورئ چې چا کې قامولي او ورورولي او اتفاق دی،نو هغه اباد دي او چې کومو قومونو کې پرې، جنبې تربګنۍ او دښمنۍ دي هغه برباد دي زه اميد کوم چې تاسو به زما په دې خبرو غور او فکر وکړئ که دې کې يوازې زما فايده وي نو مه يې کوئ او که دې کښې ستاسو د دنيا او اخرت ګټه وي نو عمل پرې وکړئ چې تاسو اباد شئ او ستاسو بچي اباد شي. په کار دي چې تاسو هم ټولو پښتنو سره په دې تحريک کې شريک شئ. دا جلسه ډېره په کاميابۍ ختمه شوه، هر يو کار چې د خدای دپاره وي د هغې مخه څوک نيوی نه شي حکومت پخپل فريب کې کامياب نه شو، جلسې سره زمونږ د يو مهربان ځای و هغه له د ارام دپاره

لاړو. د علاقې ډېر معززين جلسې له راغلي وو هغوی سره خبرې وشوې د حاجي فقيرا خان او حکيم عبدالسلام په تجويز او تائيد د دې خبرې فېصله وشوه چې زه دې د هغو خدايي خدمتګارو سره يو ځای يو تصوير وباسم چې پکلي کې د حکومت د طرفه پرې ظلم او زياتی شوی دی. جېلخانو کې يې اچولي دي او په بېنتونو يې وهلي دي. دا د پکلي د معززينو او مخلصانو يوه ډله وه چې د دوی د اخلاقو درته څه ذکر وکړم. علي ګوهر خان چې په دوی کې يو خان و راته ووې چې پلار مې د حکومت د وېرې نه د دې تحريک ډېر مخالف دی. زه يې د کوره شړلی يم ځکه چې زه خدايي خدمتګار يم زه د دې پروانه کوم او د خپل مظلوم قام د بيدارولو کوشش کوم د يو بل مولانا صاحب نه معلومه شوه چې څه وخت يې مونږ په بېنتونو وهلو نو ما سپرنتېنډنټ ته ووې چې زه عالم يم ما مه برېنډوه نو زه يې د ېرش بېنتې ووهلم او زما نور ملګري يې پنځلس پنځلس بېنتونه وهلي وو.

د پکلي د خدايي خدمتګارو يوې بلې خبرې په ما ډېر اثر وکړو. د راتلو په وخت کې مې علي ګوهر خان او يو څو نورو خدايي خدمتګارو ته ووې که ستاسو خوښه وي نو زه به مو ځان سره پېښور ته د سېل د پاره بوځم نو راته يې ووې چې زړه خو مو ډېر کېږي خو زمونږ په سر ډېر کار دی د دې نه تلی نه شو نو زه د دې په اورېدو ډېر خوشحاله شوم چې د دوی دې تحريک سره څومره محبت دی.

مونږ د پکلي د مانسهرې نه را رخصت شو حکيم عبدالسلام صاحب د هريپور زمونږ سره ملګری و هغه

د نعمت الله خان دعوت د شپې د پاره منظور کړی و او مونږ ماښام د هغه ځای ته ورسېدو، د هغه د کلي نه جدا کور او حجره وه. شپه مو په ارام سره تېره کړه، سباله را روان شو، حکيم صاحب زمونږ د تلو د پاره يوې لارې سره خبره کړې وه، خو سباله هغه رانغله، مونږ پياده روان شو لاره کې چې به کوم کلی په مخه راتلو نو هغې کې به مو خپل تبليغ کولو زمونږ د پاره دا پياده تلل ښه شو، ځکه چې ډېر کار وشو کله چې مونږ نوانشهر ته نزدې شو نو ډېر هندوان او مسلمانان زمونږ په انتظار کې ولاړ وو او چې مونږ يې وليدو نو د انقلاب زنده باد چغې يې وهلې هغوی زمونږ جلوس په ښار کې وويستو. مونږ ډېر ستړي شوي وو، مونږ يې د ارام د پاره يو ځای ته بوتلو ماښام نزدې و، لږ ارام مو وکړو، ډوډۍ مو وخوړه او د شپې د پاره يو بل ځای ته لاړو سحر وختي چې څوک زمونږ ليدو له راغلي وو هغوی سره مو خبرې وکړې. دلته مونږ ته معلومه شوه چې په هندوانو او مسلمانانو باندې حکومت ډېر زور اچولی و، چې زمونږ بايکاټ وکړي او استقبال ونه کړي خو کامياب نه شول سباله چې مونږ جلسې له ورغلو نو په زرګونو هندوان او مسلمانان جمع وو او جلسه ډېره په کاميابۍ وشوه او خلک مې د خدايي خدمتګارۍ په تحريک پوهه کړل او ورته مې ووې چې هر چا له چې خدای ملک ورکړی دی نو د هغې اختيار د هغې قوم دی، يو مونږ بدقسمته خلک يو چې ملک زمونږ دی او مزې پرې نور خلک کوي، په کار دي چې مونږ ټول په شريکه ملا وتړو چې خپل ملک ازاد کړو مونږ به اباد شو او زمونږ بچي به اباد شي، چې څه وخت ما تقرير ختم

کړو نو زمونږ د پېښور يو قاضي چې د پوليس انسپکټر و ما ته رانږدې شو چې تاسو به چېرته ځئ ما ورته ووې چې ايبټ اباد له، هغه ووې چې هلته ايکسوچواليس دفعه لګېدلې ده(د قانون۱۴۴ ماده نافذه ده) او زه د پوليس کپتان رالېږلى يم چې د څلورو نه زيات کسان يو ځاى تللى نه شي. ما ورته ووې چې ډېره ښه ده مونږ به څلور څلور ځو، ليکن زما يقين نه دى چې کپتان صاحب به دې په خپل حکم ټينګ پاتې شي ولې چې په دغه طريقه به زمونږ ډېره پراپېګنډه وشي چې مونږ له دې ځايه په مختلفو سړکونو څلور څلور روان شو نو قاضي صاحب زما په خبره پوه شو او کپتان له يې ځواب يوړلو، مونږ د تلو انتظام کولو چې قاضي صاحب بيا راغى او راته يې ووې چې کپتان صاحب وې چې دوى ته په لارۍ کې يو ځاى د تلو اجازت دى،د کاکول او د نورو کلو خلک راغلي وو چې مونږ سره زمونږ کلو ته لاړ شه خو زمونږ پروګرام جوړ شوى و،نو دوى سره مې وعده وکړه چې دوباره راشم نو در به شم.مونږ لارۍ کې سواره شو او ايبټ اباد ته روان شو زمونږ خدايي خدمتګارو خپله باجه ورو ورو په لاره کې غږوله، چې د ايبټ اباد ښار ته نږدې شو نو يو سب انسپکټر ولاړ و هغه زمونږ لارۍ ودروله او ويې ويل چې باجه مه غږوئ ما ورته ووېل چې تاسره ليکلى حکم شته هغه وې نه نو ما ورته ووې چې مونږ بغير د ليکلي حکم نه باجه نه بندوو، نو هغه ووې چې ښه ده نو زه مو ډپټي کمشنر له بيايم مونږ ورته ووې چې ته مو هر چېرته بيايي مونږ د تلو نه انکار نه کوو خو ته هم زمونږ سره په دې لارۍ کې کښېنه ولې چې خلک به جمع شي او دلته خو دفعه

ایکسوچوالیس(۱۴۴ ماده) ده نو د خلکو جمع کېدل خلاف قانون دي، خو هغه زمونږ د دې خبرې هېڅ پروا ونه کړه هغه زمونږ د لارې مخکې روان شو او مونږ ورپسې لارې ورو ورو روانه کړه او باجه مو غږوله چې چا به د باجې اواز اورېدو نومونږ پسې به راتلو او چې څه وخت د پولیس لاین ته رسېدو نو ډېر خلک را جمع شوي وو هلته پولیس سره د افسرانو تیار ولاړ وو هغوی مونږ ته ووې چې دا باجې والا ډېټي کمشنر غواړي ما ورته ووې چې د ده قصور څه دی؟ او که چیرې بې قصوره تاسو دوی بیایئ نو بیا مونږ هم ورسره ځو، مونږ ټول بوځئ په دې کشمکش کې ډېر ساعت تېر شو باجه غږېږي او خلک جمع کېږي په دې کې بهادر خان انسپکټر ماته رانزدې شو چې د خدای دپاره دا باجه خو بنده کړئ! باجه مې بنده کړه یوه عجیبه نظاره وه د مدرسو هلکان د دفترونو کارکنان او د ښار خلک په یو ساعت کې په زرګونو راجمع شول او که حکومت مونږ سره چېرچاړ کړی نه وی نو زمونږ به دومره پراپېګنډه شوې نه وی او دومره خلک به زمونږ نه خبر شوي نه وو. اخر د ډېر بحث مباحثې نه پس مونږ ته اجازه وشوه او مونږ د ایبټ اباد اسلامیه سکول ته راغلو ولې چې دا ځای د ایبټ اباد خلکو زمونږ د ارام دپاره مقرر کړی و، سبا له د جمعې ورځ وه مونږ اعلان وکړو چې سبا له به جامع مسجد کې وعظ کېږي تاسو ټول هندوان مسلمانان د اورېدو دپاره راشئ! مونږ لږ ارام وکړو بیا مو د ایبټ اباد مسلمانانو سره د تحریک متعلق تبادله خیالات وکړل او ورته مې ووې چې مونږ هم یو قوم یو، مونږ له هم د خپلې ابادۍ او ترقۍ دپاره څه جدوجهد

په کار دی او که ټول عمر په دې نیستۍ او غلامۍ کې پراته یو نو ورک به شو. زمونږ اصلي مطلب قوم کې مینه، محبت، قامولي، وروروليي او اتفاق پیدا کول دي. ډېر هندوان او مسلمانان به زمونږ لیدو کتو له راتلل او هر چاته اجازت و، ګورکا او نور فوجیان او ښځې او بچي هم زمونږ لیدو له راغلل مونږ ورسره د مینې محبت خبرې وکړې او د خپل تحریک په غرض مو پوه کړل چې مونږ به د خدای دپاره ستاسو او د ټول قام خدمت کوو. حکومت خو دفعه ایکسوچوالیس په دې وجه لګولې وه چې دلته جلسه ونه شي او خلک زمونږ د تحریک نه خبر نه شي. څه وخت چې حکومت خبر شو چې سباله د جمعې ورځ ده او جامع مسجد له د ایبټ اباد د خلکو نه علاوه نور د بهر خلک هم د لمانځه دپاره راځي نو دا جلسه د دوی دپاره ښه نه ده نو ډپټي کمشنر د جامع مسجد امام سره د کمېټۍ د ممبرانو راوغوښتل او هغوی ته یې ووې چې په هره طریقه چې کېدی شي باچا خان د تقریر نه منع کړئ. مونږ شپه په ارام تېره کړه چې چای مو څکله نو امام صاحب د کمېټۍ ممبرانو سره راغلل او ما سره یې ځان له خبرې وکړې ما ورته ووې چې تاسو ډپټي کمشنر ته ووایئ چې مونږ دا کار کولی نه شو ولې چې جماعت د ټولو مسلمانانو دی او یو مسلمان بل مسلمان د جماعت نه منع کولی نه شي دا خو زمونږ مذهب دی او زمونږ خو دومره زور نشته چې یو مسلمان په جماعت کې د وعظ نه منع کړی شو تا سره زور شته، ته یې ولې نه منع کوې؟ بیا مې ورته دا خبره وکړه چې د ډپټي کمشنر په دې کې بل څه مطلب نشته هغه پوه دی چې

جماعت د هر مسلمان دی خو مونږ مسلمانان په کور کې جنګوي او بې اتفاقي را کې پیدا کوي. مونږ مسلمانان ولې د دښمن په لمسه پخپل کور کې ناچاقي پیدا کوو؟ زما خبرو په هغوی ډېر ښه اثر وکړو او ډپټي کمشنر له روان شول. چې ډپټي کمشنر پوهـ شو چې زما داو ونه چلېدو نو قلار شو. په جماعت کې دومره هندوان او مسلمانان جمع شول چې د پښې اېښودو ځای نه و. د لمانځه نه پس زه پاځېدم او تقریر مې شروع کړو. د قران شریف ځلور ایاتونه مې ولوستل او ترجمه مې خلکو ته وکړه چې خدای پاک وایي چې زما نه امداد په صبر او اتفاق سره غواړئ اوخدای وایي چې څوک زما په لاره کې مړ شي نو دا مړه نه دي ژوندي دي خو تاسو په دې نه پوهېږئ. او خدای پاک وایي چې زه د صابرانو ملګری یم بیا وایي چې زه پخپلو بندګانو ازمېښت کوم د مالونو، او ځانونو، او اولاد، او فصلونو هر کله چې دوی ته زما په لاره کې څه نقصان ورسي نو دوی ووایي چې مونږ هم د خدای یو او هغه له به ورځو، دغه خلک زما د رحمت حقدار دي او دوی په سمه لاره روان دي او بل ځای خدای پاک وایي چې په تاسو کې دې داسې یوه ډله وي چې خپل کارونه پرېږدي او ځي او خلک د بدی نه منع کوي او نېکی ته یې رابلي. زما ورونو! مونږ د خدای دپاره د خدای د مخلوق خدمت ته ملا تړلې ده که تاسو هم د خدای د مخلوق خدمت کول غواړئ او خدای رضا کوئ نو مونږ سره په خدایي خدمتګارۍ کې ملا وتړئ چې دا دنیا مو هم جنت شي او اخرت کې هم د جنت حقدار شو.

جلسه په ډېره کامیابۍ ختمه شوه د تلو انتظام موکولو چې

په دې کې زمونږ د کلي د يو خان زوی چې هلته سب انسپکټر و راغی او راته يې ووې چې بهادر خان انسپکټر زه تاله رالېږلی يم چې څه وخت دوی روانېږي نو باجه دې نه غږوي ما ورته ووې چې بهادر خان خو زمونږ ورور دی خو زه نه پوهېږم چې ده ته په باجه غږولو کې څه تکليف دی؟

زما د طرفه د سلام نه پس ورته ووايه چې که چېرې تاته زمونږ په باجه ذاتي څه تکليف وي نو مونږ به باجه بنده کړو او که تا ته څه نقصان نه وي نو ته زمونږ باجه څه کوې؟ زمونږ په ملک کې ديسي افسران خپل فرض نه پېژني او نه يې پوره کوي بلکې همېشه د خپلو انګرېزانو افسرانو دپاره هغه کارونه کوي چې هغه د دوی فرض نه وي.

لارۍ تياره وه، مونږ لارۍ کې هريپور ته روان شو، په لاره کې د حويلو په تېشن خلک جمع وو هغوی ته مې هم يو مختصر تقرير وکړو. په سرای صالح کې خلک زمونږ په انتظار کې جمع وو خو په مونږ ناوخته شو نوخواره شوي وو. د هريپور خلک غريبانان د ښار نه بهر زمونږ په انتظار کې ناست وو مونږ ماسختن ور ورسېدو او دوی د انقلاب زنده باد، فخر افغان زنده باد چغې ووهلې اوزمونږ جلوس په بازارونو کې وګرځېدو بيا لاړو ډوډۍ مو وخوړه او بيا اُوده شو، د بخشالي، ګجرات شهزاده صاحب مې د حالات معلومولو دپاره چچ ته لېږلی و هغه هريپور ته راغی او ماته يې د چچ حال ووې چې خلک ډېر زيات په شوق کې دي ستاسو ورتلل ډېر ضروري دي ما ده سره وخت مقرر کړو، د دې خبرې مې پرې ډېر تاکيد وکړو چې دا خبره عامو خلکو ته زما دې تللو

نـه وړانـدې معلومـه نـه شي ولـې چـې بيـا بـه حکومـت زمـونږ لاره کـې رکاوټونـه واچـوي سباله چـې مـونږ د چا مېلمانـه وو، ورغلـو او چـې هلتـه ورسـېدو نـو يـو مولـوي صـاحب چـې مالـه راتـه خـدايي خـدمتګارو منـع کولـو خـو مـا ورتـه ووې چـې راپـرې يـې ږدئ. نـو مالـه راغـی مـا ځـان سـره کـښېنولو چـې د ډوډۍ وخـت راغـی نـو خلکـو لـرې کولـو خـو هغـه پـه زور پـه ډوډۍ کـې ځـان شـريک کـړو.زمـا مهربـان محمـد اکبـر قريشي راتـه ووې چـې ببګـا يـو څـو تنـه د تـورو جنډو سره راغلـي وو پـه سـړک ولاړ وو خـو چـې د خلکـو زور يـې وليـدو نـو غريبانـان ګـډوډ شـول او خبـرې تـرې پـاتې شـوې،ما ورتـه ووې چـې دومـره خلـک وو چـې مـا تـورې جنډې هـېڅ ليـدلې نـه دي. چـې د جلسې ځـای تـه ورسـېدو نـو ډېـر پـوليس لاټـۍ پـه لاس ولاړ وو او چـې زه تقريـر تـه پاڅېـدم نـو هغـه مولانـا مـې وليـدو چـې پـه زوره زوره تقريـر کـوي او څـه کـسان ورتـه ولاړ وو. خلکـو وې چـې دا خلـک حکومـت را غونـډ کـړي دي، خانان،ملکان دي او زمونږ برخلاف جلسه کوي.

مـونږ اول فېـصله کـړې وه چـې د دې ځـای نـه بـه شـپې لـه کلابټ تـه ځُـو او سـبا لـه بـه هلتـه جلـسه کـوو.پـه جلـسه کـې مـې د دې اعـلان وکـړو،کلابټ د اباسـين نـه دې غـاړه دی او صـوابۍ پـه بلـه غـاړه ده دا يوسـفزي دي او د هغـه ځـای خـان زمـان خـان زمـا ډېـر واقـف و،مـا يـو ځـل دی د صـاحبزاده فـضل رحمـان پـه ځـای کـې ليـدلی و، مـا او قاضـي عطـاالله خـان تـه يـې ډېـر کلـک سـت د مېلمـستيا کـړی و،زه خبـر نـه وم چـې د حکومـت پـه لمـسه بـه مـونږ د خپـل کلي نـه منـع کـوي مـونږ چـې څـه وخـت کلابـټ تـه نـږدې شـو نـو د کلابـټ د خـان تـره د خپلـو سـړو سـره کوتـک پـه لاس ولاړ دي

اومونږ خپل کلي ته نه پرېږدي حالانکه چې په هغه کلي کې د هغوی يو وروړ عزيز مهدي زمان خان دغلته زمونږ د جلسې انتظام کړی و. او مونږ يې مېلمانه کړي وو، زمونږ لارې والا ډېر تکړه سړی و، چې مونږ دا خلک وليدل نوما دې لارې والا ته ووې چې ته دا لارې لږه ودروه، دې خان سره زه لږه خبره کوم ده ماته ووې چې ته دا خلک نه پېژنې، دا هزاره وال پښتانه دي او ده خپله لارې پرې ورتېزه کړه خان مخامخ زمونږ لارې له راغی او سوټې پکړيې زمونږ نه چاپېره شو ډرائيور په دوی لارې نېغه وروسته او زمونږ لارې تړې تېره شوه دوی را پسې منډې ووهلې خو وروسته پاتې شول او مونږ کلي ته ورسېدو، په هزاره کې خو دفعه ايکسو چواليس(۱۴۴ ماده) لګېدلې وه نو په سبا له مو جماعت کې خلک جمع کړل. د جماعت نه بهر اسسټنټ کمشنر سره د دغو ټولو خانانو او پوليسو ناست وو. زمونږ تقرير يې اورېدلو ما پخپل تقرير کې دا خبره وکړه چې ای د هزارې پښتنو د سيند نه دې غاړه او هغه غاړه ټول يوسفزي دي تاسوخو لږ هغې غاړې ته وګورئ چې هلته څه حال دی او دلته ستاسو څه حال دی؟ بلـه دا چې ما د ټولې صوبې دوره وکړه او په هرځای کې حکومت زمونږ مخالفت ته خلک لمسولي دي خو مونږ بل ځای توره جنډه ليدلې نه ده، دا مو په هزاره کې وليده او نه په مونږ پسې چا کوتکې را اخيستې دي چې زمونږ کلي ته مه راځئ او نه يې زمونږ د جلسې مقابله کې چېرته جلسې جوړې کړې دي دا هر څه مونږ دلته په هزاره کې وليدل هغه هم پښتانه دي او تاسو هم پښتانه يئ راځئ چې د دې وجه معلومه کړو ما چې په دې مسئله

ځو مره غور او فکر کړې دی نو وجه یې دا ده چې تاسو خپله ژبه هېره کړې ده او تشه ژبه درنه ورکه شوې نه ده بلکې ورسره هغه پښتو درنه هم ورکه شوې ده. د هزارې پښتنو! زما دا خبره یاده ولرئ چې د چا نه ژبه ورکه شوې ده، هغه ورک شوي دي او چا ته چې خپله ژبه سپکه شوې هغه سپک شوي دي. جلسه ختمه شوه مونږ سره چې کوم لارې والا راغلي وو، نو د واپسۍ په وخت کې هغه پولیس بنـه وهلي وو او ورته یې ویلي دي چې پام کوئ چې سباله دوی پسې رانه شئ.

چې ادې ته راغلو نو لارې نه وه تهتمونه ولاړ وو، لیکن پولیس منع کړي وو چې دوی سره لاړ نه شي یو تمتم والا ووې چې زه د پولیس هېڅ پروا نه کوم او تاسو سره ځم مونږ د هغه په تمتم کې خپل اسبابونه کښېښودل او ده سره پیاده روان شو تولـه لار په غره کې وه ډېر د مزې سړک و اُترایي وه، چړایي وه لاره کې چې کوم کلي په مخه راتلل هلته به مو خپل کار کولو. حکیم صاحب او زمونږ د هریپور کرنیل صاحب محمد حسین خان مخکې د انتظام دپاره تلي وو،ولې چې د کلابټ د واقعې نه پس مونږ په دې نتیجه ورسېدو چې زمونږ مقامي ملګري مخکې لېږل په کار دي چې هغوی خپل کار وکړي د دغه ځای یو زلمي خان زمونږ د مېلمستیا انتظام کړی و،دا کلی د اباسیند په غاړه اباد دی مخکه یې لږه ده،خو اباده ده،جلسې لـه لاړو په جلسه کې د علاقې خلک راجمع شوي وو د پورې اباسیند د غاړې خلک هم راغلي وو. د دې علاقې خلک په پښتو پوهېدل او د پښتو نظمونو پرې ډېر اثر کړی و.شپه مو هم دغه زلمي خان سره تېره کړه ډېر مخلص او شریف هلک و.

پولیس پرې دباوونه کړي وو چې دا خلک مېلمانه نه کړې خو ده یې څه پروا نه وه کړې افسوس دی چې د ده نوم زما نه هېر دی. سباله د دوی کلي ته نږدې یو بل کلی و د هغه کلي خان مونږ مېلمانه کړو چې هلته لاړو نو هغه خان راته ووې چې د اسمیلا وکیل میا علي حیدرشاه چې د هغې علاقې ډپټي او د پیرپایي بهادر خان چې هلته د پولیس انسپکټر و په ما ډېر کوششونه وکړل چې زه تاسو مېلمانه نه کړم خو ما ورله ځواب ورکړو چې تاسو مې مېلمانه یئ، نو هغوی هم مېلمانه کوم ولې چې تاسو حاکمان یئ او هغه مې مېلمانه دي هغه خان ما ته په خندا شو چې دا خو ستا پېښوریان دي او ځان ته پښتانه هم وایي.د هریپور په علاقه کې چې څومره مشکلات مونږ ته پیدا شوي وو دا د دې دوو سړو برکت و او دوی پیدا کړي وو دا لاڅه کوې چې مونږ کوم ځای ته د خپلو ورتلو او جلسې کولو خبر لېږلی و هغه ځای د دې ځای نه دولس دیارلس میله لرې و مونږ یوه لاری کړې وه. چې د روانېدو وخت راغی نو معلومه شوه چې علي حیدر شاه او بهادر خان زمونږ هغه لاری د پولیس تانې ته بوتلې وه هغه ډرایور ورته چغې وهلې چې هغوی سره مې وعده کړې ده او کرایه مې ترې اخیستې ده ولې زمونږ پېښوریان ورونه، سرکاري افسران ورته وایي هغوی پرېږده مونږ بوځه او چې د سرکاري کار دپاره د لاری ضرورت وي،نو ته څنګه بل څوک بوتلی شې.علي حیدرشاه ډپټي او بهادر خان انسپکټر چې مونږ سره کومه لویه هزاره کې کړې وه داسې مونږ سره په ټوله صوبه کې چا کړې نه وه او دربم سړی چې د دوې نه هم دوه ګوتې دپاسه و خوشدل کپتان و.

موټر چې خبر شو نو حکیم صاحب عبدالسلام غریب ډېر پریشانه شو هغه سورلۍ پیدا کولو پسې اډې ته روان شو او موټر پیاده روان شو موټر شپږ میله پیاده تللي وو چې حکیم صاحب د دوو موټرونو سره راورسېده، موټر په دوو موټرو کې نه ځایېدو خو هغه موټر والا ډېر ښه سړی و، او په زور یې په کې ځای کړو موټر تکړه وو او موټر به اکثر ټولې دورې پیاده کولې خو وخت به راسره وو دلته خو را سره د هغو خلکو فکر و، چې زموټر انتظار به کوي، جلسې نه چې مایوسه شي خواره به شي زموټر په دې پیاده تلو کې دومره فایده خو وشوه چې په لاره کې به مو کوم کلی مخې ته راتلو نو په هغې کې به مو کار وکړو. چې موټر د جلسې ځای ته نزدې شو نو خلک غریبانان په انتظار کې ولاړ وو، دا کلی هم د هغه مخکې کلي په شان د اباسیند په غاړه و او د تانې په خوا کې و. جلسه په ډېره کامیابۍ ختمه شوه او خلک مو د خدایي خدمتګارۍ د تحریک نه خبر کړل. د غرونو نه مشوانی قوم راغلی و. دوی موټر سره خدایي خدمتګارۍ کې د ملګرتیا وعده وکړه. موټر چې به هر چېرته تلو نو ډېټي میا صاحب او بهادر خان انسپکټر به را پسې وو موټر د شپې دپاره دې کلي کې پاتې شو. د شپې د ټول کلي ښځې راجمع شوې ما او حکیم صاحب ورته تقریرونه وکړل، چې تر کومې پورې تاسو د قام دپاره ملا تړلې نه ده قوم وچتېدی نه شي او د خپل ملک د جامو اغوستو وعدې مې ترې واخیستې چې د خپل ملک جامې به اغوندئ.

زموټر دې جلسې له د پورې علاقې د زروبی صدر، سره د

یو څو خدایي خدمتګارو هم راغلي وو او مونږ ته یې ووې چې له دې طرفه وزګار شئ نو زمونږ کلي ته به راځئ، مونږ د خپلو تلو اراده پټه ساتلې وه چا ته معلومه نه وه چې مونږ به کوم خوا ځو د سرحد پولیس هم راغلي وو او د پنجاب پولیس هم راغلي وو هغوی هم تحقیق کولو خو مونږه د خپلې ارادې نه څوک نه خبرول، چې سحر چای مو وڅکله نو ما حکیم صاحب ته ووې چې ته زمونږ دپاره د پنځو ټمټمونو انتظام وکړه او بیا مو هم خبره پټه وساتله چې کوم خوا به ځو؟ چې مونږ اډې له روان شو نو د زوروبي صدر صاحب دوی مو رخصت کړل او دا وعده مې ورسره وکړه چې د چڅ دوره ختمه کړو نو صوابۍ ته به درشو او ضرور به ستاسو کلي ته درځُو په دغه وخت کې ما خپله اراده ظاهره کړه چې زما دا خبره د چڅ یو تانه دار واورېده نو په منډه مونږ نه مخکې لاړو او زمونږ یو ټمټم یې په زور روان کړو او زمونږ نه وړاندې ورسېدو. ما حکیم عبدالسلام صاحب او د هزارې کارکنان د ډېرې شکریې نه پس واپس رخصت کړل صرف د هریپور هغه کرنیل صاحب راسره چڅ ته روان شو ټمټمونو کې سواره شو سړک کچه و شګې وې خوړونه وو او ریګونه وو، اسونه په ډېر تکلیف وو، اکثر به ورسره پخپلو پښو تلُو ځای په ځای خلک سړک ته زمونږ د لیدو دپاره راوتلي وو هغوی سره مو خبرې وشوې. زه به د عامو خلکو مینې او اخلاص ته حېرانېدم او شکر به مې کولو چې الله تا په پښتنو ډېر فضل او کرم کړی دی، چې د دوی په زړونو کې دې د قامولۍ او وروروڵۍ احساس پیدا کړی دی، مونږ چې چڅ ته نزدې شو نو په زرګونو خلک زمونږ په انتظار

د کلي نه بهر ولاړ وو او جنډې ورسره وې. زمونږ په ليدو هغوی نور هم را وړاندې شول او چې را نزدې شول نو مونږ هم هغوی سره پياده روان شو، څه وخت چې د پنجاب په حد کې داخل شو نو مونږ پوليس او خانان او ملکان وليدل چې ولاړ دي ټوپک او توري جنډې يې په لاس کې دي سړک کچه و، ريګونه وو او ډېر خلک وو، په دې وجه دومره دوړې وې چې تياره يې جوړه کړې وه. مونږ چې دې خلکو ته نزدې شو نو خدايي خدمتګار او نور خلک ودرېدل د طورو خان عبدالرحيم خان ماله راغی او راته يې وويل چې پوليس درته سړک بند کړی دی او يو پيرنګی هم ورسره دی مونږ مخکې نه پرېږدي ما ورته ووې چې څه حکم ورسره شته چې اخر په څه وجه مونږ نه پرېږدي هغه وې نشته پوليس په ټوپکو سنګينونه چړاو کړي دي او مونږ ته يې نيولي دي، ما ورته ووې چې څه حکم ورسره نشته نو ورځئ پرې مه ودرېږئ هغه پيرنګی د پوليس کپتان و او ډېر تريخ او خراب سړی و مخکې هم چې زمونږ خدايي خدمتګار چچ له راغلي وو نو ډولونه يې تري شلولي وو جنډه يې تري اخيستې وه او چچ ته يې نه وو پرېښي. هغه پوليس له د ګولۍ چلولو حکم ورکړی و، خو زمونږ هجوم چې پرې ورغی نو په هغوی داسې هيبت راغلی و چې ټوپک يې چلولی نه شو وروستو به تلل په دې تيل کې پيرنګی هم تيله شو او چه څه وخت هغه پوهه شو چې پوليس ګولۍ نه چلوي نو پخپله يې يو ټوپک واخيست نو امين جان خان ورته سينه برېنډه کړه چې وولـه هغه باندې هم هيبت راغی او د امين جان نه يې پوښتنه وکړه چې عبدالغفار

خان چېرته دی؟ امین جان پوهـ شو چې دی ګولی نه چلوي نو زه یې ورته وښودم هغه ماله راغی او ماته یې ډېر په مشکله دا ووې چې ماسره حکم دی ما لاس وچت کړو او خدایي خدمتګار ودرېدل ماهغه پېرنګي ته ووې چې دا خو ستا ډېره بې وقوفي ده چې تا ماته حکم نه دی ښکاره کړی تا له په کار وو چې ماته دې مخکې حکم ښودلی وی مونږ د حکومت حکم منلو ته تیار یو اوس که دا ګولی چلیدلې وی خلک مړه شوي وی، نو د دې به څوک ذمه وار وو؟ هغه ومنل چې دا زما غلطي وه. د خدایي خدمتګارو په ده دومره رعب پرېوتی و چې ټول رچېدو او حکمنامه یې اورولی او لوستلی هم نه شوه ما ترې واخیسته او ومې لوسته هغه حکمنامه کې لیکلي وو چې تاسو دلته جلوس او جلسه نه شئ کولی. ما هغه له ډېره تسلي ورکړه او ورته مې ووې چې مونږ ته بالکل دا حکم منظور دی.
سرحد ورته نزدې و ما هغه ته ووې چې مونږ سرحد کې خو جلسه کولی شو؟ هغه ووې چې بې شکه دا حکم د پنجاب دپاره دی مونږ سره هغه ټول خلک سرحد ته واوړېدُو او یوه لویه جلسه مو وکړه، په دې جلسه کې د چچ د ټولې علاقې د هر کلي خلک شریک وو. ما جلسه کې د خپلو راتلو مطلب بیان کړو او د خدایي خدمتګارۍ د تحریک نه مې خلک خبر کړل او ورته مې ووې چې تاسو هم پښتانه یئ او مونږ هم پښتانه یو د یو بابا اولاد یو مونږ غواړو چې تاسوهم مونږ سره په دې نوې ورورولۍ خدایي خدمتګارۍ کې شریک شئ زمونږ د ټولو پښتنو به یوه جرګه وي قومي مسئلې به هغوی فېصله کوي او په دې وسیله به د یو بل د غم تکلیف او

مصیبت نه خبرېږو نو مونږ به هم د نورو قومونو په شان یو قوم شو مونږ به اباد شو او زمونږ بچي به اباد شي.

جلسه ختمه شوه او خلک رخصت شول، ټول خلک خواره شول، مونږ ځان ته په میدان کې پاتې شو د روانېدو تجویز موکولو چې په دې کې د اسمیلا هغه ډپټي میا او د پیر پایې انسپکټر راغلل او زه یې ښېل کړم او راته یې ووې چې مونږ ستا سره د ورورولۍ یو څو خبرې کول غواړو. د دوی ورورولي خو مونږ هزاره کې لیدلې وه دا غلام ورونه یو عجیبه مخلوق دی، چې حاجت یې پېښ شي نو د سرې ورونه شي او د پیرنګیانو دپاره چې ملا وتړي نو د سرې برخلاف هر قسم حربې استعمالولو ته تیار وي. د دوې په ملک او قوم باندې هېڅ کار نشته او هر وخت په دې کوشش او فکر کې وي چې مونږ به څنګه داسې کار وکړو چې صاحبان خوشحاله شي او په هغوی مو احسان وشي او دا هر څه د خپل ځان دپاره کوي د صاحب د خوشحالۍ دپاره یو ذلیل نه ذلیل کارته هم تیار وي، ما ورته ووې چې څه وایې؟ دوی راته شروع شو چې تا ته معلومه ده چې په دغه علاقه کې حکومت په تا باندې دفعه ایکسوچوالیس ولګوله په دې کې ته نه جلسې کولی شې او نه تقریرونه کولی شې نو د غه به ښه نه وي چې تاسو له مونږ لارې درکړو او مونږ سره هریپور ته لاړشئ او بیا له دغه ځایه پېښور ته لاړشئ! ما دوی لیدلي وو چې د پیرنګي سره ناست وو او خبرې یې کولې دا پټې ورته هغه پړاو کړې وه چې په هره طریقه چې وي چې دوی د دې علاقې نه واپس شي هغه د پنجاب څه افسر نه و خو صاحب خو و، او د دوی دپاره د

صاحبانو خوشحالول یوه لویه خبره وي ما ورته ووې چې واپس تلی نه شو او نه مونږ دلته نوره دوره کوو نن مونږ د غرغشتو خان مېلمانه کړې یو غرغشتو ته ځو او هغه سره شپه تېروو سبا له به په دې لاره پېښور ته ځو.

ما خپل خدايي خدمتګار په څلورو څلورو ټولو کې تقسیم کړل او غرغشتو ته روان شو چې هغوی لاړل نو بیا زه هم د سودم د سالار صاحب او عبدالرحیم خان سره غرغشتو له روان شوم او د خان حجرې ته مو ځان ورسولو ماښام نزدې و چای مو وڅکله لږ ارام مو وکړو د ماښام د لمونځ نه پس مې د کلي خلکو سره ولیدل، خبرې مو وکړې بیا مونږ ټول ډوډۍ ته کښیناستو چېرته زما د خولې نه دا ووتل چې دا پیرنګی ښه سړی و، نو زمونږ خدايي خدمتګار د هریپور کرنیل راته ووې، چې ښه سړی چېرته و، دا خو بیا وروسته ښه سړی شو اول خو چې مونږ ته نزدې شو نوما سره جنډه وه فوراً یې زما په جنډه حمله وکړه او زما نه یې جنډه ونیوه او چې ما چک ورکړو او جنډه مې ترې خلاصه کړه نو بیا یې په ما حمله کوله چې په دې کې غوبل جوړ شو. بله دا چې هغه خو سپایانو له حکم ورکړی و چې په دوی ګولۍ وچلوئ خو سپایان وارخطا شوي وو، دی په خدايي خدمتګارو د مخکې نه عادت و، زمونږ خدايي خدمتګار چې دلته په دوره راغلي وو د هغوی نه یې جنډه په زوره اخیستې وه او ډولونه یې ورله هم شلولي وو او بیا یې واپس کړي وو د ده دا خیال وو چې دا ځل به هم زه هغسې کامیاب شم خو دا ځل خدای داسې وشرمولو او داسې بې رعبه شو چې زه یې درته بیان کولی نه شم، دا لا څه کوې چې د

خلکو په زړونو کې د حکومت رعب پاتې نه شو.

شپه ډېره په خندا او خوشحالۍ تېره شوه سحر خدايي خدمتګارو چای څکلی د هرېپور کرنيل صاحب محمد حسين بهر په پيره ولاړ وو چې ما د ده څه خبرې واورېدې ما راوغوښتو او ورته مې ووې چې څه خبره ده، هغه وويل چې يو څو افسران راغلي وو ما د ننه راپرې نښودل ځکه چې تا چای څکلې. ماوې راپرېږده چې دننه راشي چې را دننه شول نو ما وخندل او ورته مې ووې چې خير دی بيا موڅه نادرشاهي حکم راوړی دی؟

نو هغه وخندل او ويې ويل چې زما نوم نادر دی، د چايو ست مې ورته وکړو چې ما چای وڅکلې،هغه يو بل حکم ماله راکړو چې د دفعه ايکسوبياليس(د قانون ۱۴۲ ماده) مطابق تاله حکم درکېدی شي چې ته فوراً د دې علاقې نه وځه ماورته ووې چې حکم ماته منظور دی چې څه ډوډۍ وخورو نو فوراً به له دې ځايه روان شو او ستاسو د حکم تعميل به وکړو. مونږ چې ډوډۍ وخوړه نو د تلو انتظام مووکړو خو معلومه شوه چې لارو والاو له او ټمټمونو له پوليس حکم ورکړی دی چې دا خلک په سورلۍ کې بو نه ځئ، مونږ ټمټم د اسباب دپاره هم پيدا نه کړو ما ټول خدايي خدمتګار بيا څلور څلور کړل خپل اسبابونه مو واخيستل او روان شو چې ماسپښين شو د سړک په غاړه يو کلی و،لمانځه له وروګرځېدو خلک چې خبر شول نو يو ساعت کې جماعت د کلي د خلکو نه ډک شو د لمانځه نه پس مو خلک د حکومت د زور او زياتي او د خدايي خدمتګارۍ نه خبر کړل او په دې مو پوهـ کړل چې دا حکومت

مونږ پښتانه هیڅ قسم ترقي او اتفاق ته نه پرېږدي تاسو په دې خبره ځان پوه کړئ.

## د هزارې نه واپسي:

په دې کې بیا هغه افسران راغلل او راته یې ووې چې تا ایکسو چوالیس (دفعه ۱۴۴) ماته کړه ماوې په لمونځ هم دا دفعه ماتېږي؟ نو نور څه ترې جوړ نه شو نو یوه بله دفعه یې راته ښکاره کړه چې د نور (نمر) پرېوتو نه اول د پنجاب نه بهر شئ او که بهر نه شوئ نو قانوني کاروایي به درسره وشي ما هغه ډپټي کمشنر ته ولیکل چې لارې او ټمټم تاسو په مونږ بند کړي دي مونږ سره څه داسې ذریعه نشته او نه هوایي جهاز شته چې د نور (نمر) پرېوتونه وړاندې د پنجاب د علاقې نه بهر شو مونږ ته د پنجاب نه بهر کېدو د پاره څه انکار نشته که تاسو راله د بهر کېدو انتظام کولی شئ. د دې نه پس افسران مخکې او مونږ ورپسې په سړک کې ځای په ځای زمونږ د بندولو د پاره یې ونې اچولې وې، مونږ خبر شو چې ډپټي کمشنر او د پولیس کپتان سره د خپلو خانانو او ملکانو راغلي دي او مونږ ته وړاندې په سړک ولاړ دي نو زه د خدایي خدمتګارو نه مخکې شوم او چې څه وخت مونږ هغوی ته نزدې شو او خلکو مونږ ولیدو نو د شاوخوا خلک دغلته راغونډ شول، او مونږ پسې روان شول، مونږ منع کول چې ایکسو چوالیس (دفعه ۱۴۴) دی مونږ سره مه راځئ خو هغه د خدای مخلوق چا په قبضه کې راوستی شول هغه مجسټریټ او د پولیس کپتان ماله راغلل او راته یې ووې چې زمونږ په

کوشش سره ډپټي کمشنر صاحب راضي شو چې ستاسو د پاره د سورلۍ انتظام وکړي. ډپټي کمشنر هم زمونږ مخې له راغی، زه تږی شوی وم او به مې وڅکلې هغه خلکو ووې مونږ تاسو له چای پخه کړې ده، مونږ سره چای وڅکئ، ما یې شکریه ادا کړه او ورته مې ووې چې ستاسو چای مونږ وڅکلې او که ژوند وي نو بیا به راشو، په خبرو کې د خدایي خدمتګارو ذکر راغی، نو هغه ډپټي کمشنر راته ووې چې ستاسو نظریه د عدم تشدد نه ده، دا خو چل دی او س چې ستاسو طاقت نشته نو تاسو تشدد نه کوئ خو چې طاقت پیدا کړئ نو بیا به تشدد کوئ. ما ورته ووې چې زمونږ دا تحریک د رښتیاو تحریک دی، مونږ منافقان نه یو چې په خوله مو یوه وي او په زړه مو بله وي، خدایي خدمتګار لارۍ ته وختل او زه چې موټر ته ختم نو هغه ډپټي کمشنر راته ووې چې د خدای د پاره بیا دې علاقې ته رانه شې ما ورته ووې چې چې کې زمونږ پښتانه ورونه دي، دوی د پنجاب نه جدا کړئ، نو بیا به نه راځم. مونږ د دوی نه رخصت شو، زه د پولیس کپتان ځان سره خپل موټر کې کښېنولم او خدایي خدمتګار یې په لارۍ کې کښېنول، تانه دار هم ماسره موټر کې ناست و ماته یې ووې چې ته دې خلکو له څومره تنخواه ورکوې؟ د هغه په دې خبره ما ډېر وخندل او ورته مې ووې چې دوی ستاسو په شان د کرایې ټټوان نه دي دا هر یو سړی د خپل جایداد خاوند دی او په دې کار کې خپلې پیسې لګوي نو هغه راته ووې چې بیا د دې نه فایده څه ؟

ما ورته ووې چې فایده دا ده چې مونږ خپل قوم د غلامۍ

نه ازادوو، د پښتنو د غلامۍ نه نفرت دی او د غلامۍ ژوند تېرولو ته تیار نه دي چې په دې کې د اټک کلا ته ورسېدو اوزمونږ نه لارۍ ډېره وروسته پاتې شوې وه، نو د هغې د پاره د اټک په ډاک بنګله کې ایسار شو.

د اټک ډاک بنګله ډېره په ښکلي ځای کې ده. مونږ برنډه کې ناست وو او اباسیند ته مو کتل، نو هغه راته ووې چې پښتانه بل شان قوم دی دوی د پنجابیانو په شان نه دي ما ورته ووې چې تا خو لا اصلي پښتانه لیدلي نه دي، ته که چېرې یو ځل پېښور له راغلې نو مونږ به درته ټول پښتانه وښیو. د خدایي خدمتګارو لارۍ را ورسېده، مونږ پاڅېدو موټر کې کښېناستو او خیراباد ته ورسېدو نو د موټر او لارۍ نه کوز شو او هغه پیرنګي ډېر په مینه محبت زمونږ نه رخصت واخیستلو، او زمونږ یو وړوکی خدایي خدمتګار باچاګی یې ځان ته نژدې کړو او ما یې شکریه ادا کړه، او هغه رانه سره د نورو ملګرو رخصت شو. د خیراباد په بازار کې مونږ د لارۍ انتظار کولو چې خلک خبر شول په یو ساعت کې ډېر خلک رانه چاپیر شول. مونږ نوښاره پورې یوه لارۍ وکړه او ماښام نوښار ته را ورسېدو، مونږ به وختي را رسېدلي وو، خو زمونږ لارۍ چې په لاره راتله نو یو فوجي ولیده او ټوپک په لاس یې را منډه کړه. لارۍ والا ته یې ووې چې ودرېږه مونږ لارۍ ودروله هغه راته ټوپک نېغ کړو او ویې ویل چې که لارۍ روانوئ اوس مو په ټوپک ولم. ما ورته ووې چې مونږ خو کمزوري خلک یو ستا د ټوپک د ځواب نه یو که چیرې د خدایي خدمتګارو یو ځای ته تلل جایز نه وي نو مونږ ته ووایه

چې کوز شو. په دې کې د هغه صوبیدار راغی، هغه هم ووې چې ماسره هم حکم نشته زه صاحب پسې ځم، صاحب یې هم راغی هغه چې مونږ ته وکتل نو واپس شو. نه رانزدې شو او نه یې راسره خبرې وکړې. هغوی ته یې ووې چې دا د پولیس کار دی اخر چې پولیس راغی او د تلو اجازه یې راکړه ما ورته ووې چې مونږ په دې پوهـ نه شو چې دا اودرولي مو ولي یو اوس پرېږدئ مو ولې؟، نو هغه پولیس والا وخندل او ویې وې چې د سرکار په دماغ کې فرق راغلی دی.

نوښار کې مې ټول خلک خدایي خدمتګار رخصت کړل په دې کې یو پیرنګی راغی او هغه خدایي خدمتګارو ته وویل چې زه اوس عبدالغفار خان لیدی شم؟ ما ورته ووې چې په ډېره خوشحالۍ مونږ خو خدایي خدمتګار یو او هر چا سره ګورو هغه سره مې ولیدل بیا زه پېښور ته روان شوم لارۍ په لاره کې پنچره شوه ماسختن پېښور ته ورسېدو، خدایي خدمتګار په دفتر کې پاتې شول او زه او باچاګی د ډاکټر صاحب بنګلې له لاړو.

ماته اول هم یوه ګمنامه چیټۍ را رسېدلې وه چې په هغې د چا نوم نه و خو ما ته یې لیکلي وو چې زه تا خبروم چې حکومت دا فیصله کړې ده چې تا، ستا ورور او ستا ټول خاندان ګرفتار کړي او د دې ملکه مو لرې کړې او یوې جزېرې ته مو ولېږي خو زه د دې خبرو فکر نه کوم ځکه چې څوک د خدای دپاره د قام خدمت کوي نو دا هر څه په کې وي اوس بیا خپلو دوستانو خبر کړم چې د سرحد حکومت مرکز ته لیکلي دي چې څه وخت دی ګرفتار کړو داسې یو ملک ته یې لېږل په

کار دي چې هغه ډېر لرې وي او د سرحد باد پرې نه لګي اول چې د ګجرات جېلخانه کې و، نو د سرحد ټول کار به يې چلولو دا ځلې داسې ځاى ته يې لېږل په کار دي چې دی د سرحد د خلکو نه خبر نه شي او که داسې ونه شو نو د دې تحريک ختمول مشکل دي.

د سرحد حکومت کوشش کوي چې تاسو زر ګرفتار کړي ما ورته ووې چې ځوک هاتيان ساتي نو دروازې لويې پرېږدي تاسو د دې پروا مه کوئ چې خداى شته نو هيڅ غم نشته حکومت به خپل کار کوي او مونږ به خپل کار کوو.

ما سره فکر و، چې حکومت به ما د صوبه سرحد دورې ته پرېږدي که نه؟ ما هغه دوره په ښه شان وکړه د هزارې دوره مې هم وکړه کور په کور، علاقه په علاقه وګرځېدم اوس مې هيڅ پروا نشته که حکومت مې هر وخت نيسي نو ومې دې نيسي.

## د ترنګزو حاجي صاحب او خدايي خدمتګاري:

د باچا ګل په نوم زمونږ خلاف يو ځه پراپېګنډه شروع شوې وه زما پرې يقين نه کېده ماوې دی خو د حاجي صاحب زوی دی او حاجي صاحب زمونږ ملګری دی، دی به څنګه زمونږ برخلاف پراپېګنډه کوي. نو ولې مې په ۱۴ جون ۱۹۴۲ د دوهم جنګ دوران و ډېر پټ مومندو ته ولېږه چې حکومت خبر نه شي ولې لاړو او هغه يې وليده ډېرې خبرې يې ورسره وشوې، دغه وخت حاجي صاحب د ترنګزو وفات شوی و، او باچاګل کل اختياره و، خو چې واپس راغی نو بله ورځ زه صوابۍ ته تلم په لاره کې د هوتي بازار کې مولاناګل باچا په

مخـه راغــی هغــه اشــاره وکــړه زه ورتــه ودرېــدم هغــه بېـل کــړم ده راتـه ووې چې سـتا بـرخلاف ټولـه پراپېګنډه قلـي خـان کـوي خـو د باچـا ګـل پـه نـوم يـې کـوي زه سباله مومنـدو تـه ځم او باچاګـل سره د دې فیـصله کـوم چـې دا چرتـه خدای مـونږ لـه يـو سـړی پیـدا کـړی دی نـو ده پـسې دا پراپېګنډې مـه کـوه او کـه کـوې نـو بیـا مـونږ لـه د ده پـه ځای يو بل سړی راکړه.

زه د يــو ځــو ورځــو لــه د حــال معلومولــو دپــاره اتمــانزو لــه لاړم او پــه دې فکــر کــې وم چــې نــن دی کــه ســبا حکومــت دې نیــسي وخت ضـايع کـول پـه کـار نـه دي ا و نـه کـور کښېناستل پـه کـار دي او څـومره چـې کېـدی شـي کـار کـول پـه کـار دي. مـا خـو د صـوبې ټولـــه دوره ختمـــه کـــړې وه. خـــو د خلیلـــو مومنـــدو جرګـــو او د خـدايي خـدمتګارو متعلـق راتـه داسـې خبرونـه رارسـېدلي وو چې هلتـه بعـضې داسـې خلـک شـته چې د خپلـې ناپوهـی پـه وجـه خلکـو تـه دوکـې ورکـوي او د مرکـز عالیـه د حکـم نـه بغیـر داسـې کارونـه کـوي چـې مناسـب نـه دي او جرګـو او خـدايي خـدمتګارو کـې هـم داسـې خلـک شـته چـې مـذهبي جامـه کـې پـه ډلـه کـې نفـاق پیـدا کـوي، بـل دا چـې د اربـاب عبـدالغفور خـان اوعاشـق شـاه باچـا پـه نیولـو خلکـو کـې تېـزي هـم پیـدا شـوې ده نومـاوې چـې دې علاقـې تـه لاړ شم چې کلـي تـه ورسـېدم، نـو راتـه معلومـه شـوه چـې زمـا وراره عبیـدالله خـان چـې د مـاليې پـه حـوالات کـې يـې بهـوک هړتـال کـړی و ،هغـه حکومـت پرېـښو او پـه مـوټر کـې يـې د کپتـان صـاحب بنګلـې تـه ورسـولو زه د هغـه دلیـدودپاره واپـس ښـار تـه لاړم.

## د خليلو مومندو دوره:

ما د خليلو مومندو دوره شروع کړه چونکه دفعه ايکسو چواليس لګېدلې وه نو مونږ يوه لويه جلسه تهکال کې د شپې په يوجماعت کې وکړه حکومت ځای په ځای دفعې لګولې وې او زمونږ جلسې يې بندې کړې وې سباله کلو ته روان شو او کلي په کلي به ګرځېدو او خلک به مو په خدايي خدمتګارۍ پوهول او دوباره مې په جماعتونو کې وعدې واخيستې چې تشدد به نه کوو صبر به کوو ولې چې خدای د صبرناکو ملګری دی او چې خدای د چا ملګری وي فتح به د هغه وي رومبۍ جلسې مو د مومندو تپې په پاوکي. بادرکلي. بډه بير، شيخان، شاب خېل، متني په جماعتونو کې وکړې او خلک مو پوهه کړه دلته مې د خدايي خدمتګارو نه بيا د عدم تشدد وعدې واخيستې اخرې جلسه مو لنډۍ کې وکړه او خلک مې په دې پوهه کړل چې دا تاسو چې زما د باچايۍ چغې وهئ نو چې دا تحريک مونږ شروع کړی دی دا خو د باچايۍ دپاره نه دی چې زه دې بادشاه شم او که چېرې تاسو ما بادشاه کړئ، نو اول خو په اسلام کې باچايي نشته او بله دا چې ستاسو به خاورې په سرشي او زما به مزې وي، نو تاسو پوه شئ چې نه ما او نه بل خپل باچا کړئ. مونږ باچايان جوړول نه غواړو، باچايانو ته مو ضرورت نشته زمونږ به يو مشر وي او د قوم په رايه او مرضا او مشوره به وي او هغه سړی به وي چې د قوم خدمتګار وي. د خان، غريب او ميا ملا فرق به نه وي بلکې هر هغه سړی به وي چې هغه نېک او ايماندار او د قوم او ملک خير خواه وي تکليفونه او قربانۍ او ډېر خدمت يې د

قام اوملک کړی وي او چې د دې مشرۍ اهلیت او پوهه هم په کې وي. زمونږ حکومت به د جماعت تابع وي جماعت به د حکومت تابع وي، بادشاهي خراب شی دی او د قوم اوملک په کې ډېر نقصان دی، او که چېرې نن یو باچا ښه هم وي، نو سبا به یې زوی باچا وي نو څوک ویلی شي چې ګوندې هغه به هم ښه وي او باچایان کله د خپل قوم ترقي غواړي؟ ولې هر چې هر وخت دا خیال کوي چې که دا خلک پوه شول نو ما به لرې کړي نو هغه هر وخت د قوم د پوهې لاره کې خنډ ان اچوي دا ملک زمونږ د ټولو پښتنو دی نومونږ یو سړی نه خان کوو زمونږ به کوشش دا وي چې ټول خانان کړو او داسې حکومت به جوړوو چې هغه کې مساوات وي او د ټولو خلکو په کې یو شان خیر او فایده وي، که پوره وي او که سپوره وي په شریکه به وي. امن وي، انصاف وي زمونږ به د ټول قوم یوه جرګه وي او د هغوی په خوښه به یو صدر وي.

زمونږ جلسو کې به ښځې هم شریکېدلې، د خلیلو مومندو دوره چې ختمه شوه نو اخر کې به زه دا ووایم چې د خلیلو مومندو جرګو او خدایي خدمتګارو ډېر ښه انتظام دی. هر کلي کې دفتر دی او په هغه کې شپه اوورځ د خدایي خدمتګارو پهره وي. په هر دفتر کې یو ګاړیال دی چې ګېنټه په ګېنټه غږېږي دا ټول انتظام د ارباب عبدالغفور خان او سید عاشق شاه باچا دی.

## مانګیانو بانډه، اورمړ خالصه:

خبر راغی چې قاري صاحب پخپل کلي مانګیانو بانډه کې

د يوې جلسې انتظام کړی دی او ماته يې ليکلي دي چې مونږ د خپل تحصيل د خدايي خدمتگارو د تربيت دپاره کېمپ کوو.د دې دپاره ستا راتلل دلته ضروري دي. ما د هغوی دعوت منظور کړو او د اتمانزو نه سحر وختي د ستي جان کلي ته لاړم ولې چې باچا جي راته وې چې زمونږ د کلي په لاره تلل په کار دي،د سحر چای مو ستي جان سره وڅکله د پړانگو صدر او سالار هم را ورسېدل او بيا مونږ نستي ته روان شو،زمونږ د راتلو نه چې د نستي خلک خبر شول نو ډېر خلک راجمع شول هغوی ته مې يو مختصر تقرير وکړو او دوی ته مې ووې چې خپل کور جوړوو،دشمني، تربگني، پرې جنبې او نفاق پرېږدو د دې دلاسه زمونږ کور برباد دی، د نستي نه مونږ د سيند غاړې له لاړو د ببړې انتظام شويو،او ببړې تياره وه صدر صاحب او سالار صاحب واپس شول مونږ په خيريت سره د سيند نه پورې وتو ځای په ځای خدايي خدمتگار ولاړ وو.ماله يې اس راوستی و،خو زه پياده دوی سره روان شوم. د قاري صاحب کلي ته ورسېدو قاري صاحب ډېر ښه انتظام کړی و،دفتر او د هغه احاطه يې ښکلې کړې وه.خلک دفتر کې ناست وو،تبادله خيالات وشول او د ډوډۍ وخت شو د ډوډۍ نه پس جلسې له لاړو جلسه د کلي نه بهر وه،ډېر خلک وو او په زرگونو نر او ښځې راغلي وو جلسه کې تقريرونه وشول،نظمونه يې وويل،زما د تقرير وخت کې مې اول ددې دپاره چې د قاري صاحب زامن حکومت گرفتار کړي وو همدردي ظاهره کړه او خلکو ته مې ووې چې نن دی که سبا په مونږ يو امتحان راتلونکی دی تکليفونه او مصيبتونه

راتلونکي دي که تاسو په صبر سره د هغو مقابله وکړه نو امید دی چې مونږ به کامیاب شو او خلکو ته مې دا هم ووې چې مونږ خدايي خدمتګار ستاسو د خدای دپاره خدمت کوو ولې چې تاسو زمونږ قوم يئ او احسان دربانديې هم نه کوو ځکه چې دا زمونږ فرض دي او يوازې زمونږ نه دي د ټولو پښتنو فرض دي، مونږ ستاسو ګټندوي يو او که چېرې داسې خلک په ملک کې وي چې ددې خپلې ګټې دپاره ملا تړلی نه شي نو نه دې تړي ليکن زمونږ پښې دې دشمن ته نه راکاږي، او که زمونږ ملګرتيا نه کوي خير دی خو چې د قوم او ملک د دشمن سره ملګري نه شي. بيا ښځوله ورغلم او هغوی ته مې ووې چې دا ملک چې څنګه د سړو دی داسې ستاسو هم دی او دا ستاسو چې څنګه خيال دی چې سړي لوی دي او ښځه وړوکې ده دا په اسلام کې نشته لويې په عمل ده که ښځه بااخلاقه، نېکه او پاکه وي نو هغه لويه ده او که دغه شان يو سړی وي نو هغه هم لوی دی او که دغه شان يوه ښځه بدعمله،بد اخلاقه وي نو هغه وړوکې ده او که يو سړی هم دغه شان وي نو هغه هم وړوکی دی،په دې ملک کې ستاسو مونږ سره يو شان حصه ده،ښځه او سړی د ګاډي دوه پايې دي که يوه پنچر شي نو ګاډی مخکې تلی نه شي. جلسه په کاميابۍ ختمه شوه.

زمونږ د اورمړو صدر صاحب او ورسره ډېر خدايي خدمتګار راغلي وو زه هغوی مجبور کړم او ځان سره يې اورمړو ته بوتلم د دوی دفتر ته چې ورسېدو نو زه اول د خپل شهيد خدايي خدمتګار صوبېدار صاحب د بچو کتو له او دعا له لاړم بچي يې ما له راغلل او خپله غېږه کې مې کښېنول دعا

مې ورته وکړه او پسمانده ګانو له مې تسلي ورکړه چې مرګ شته او خلاصی ترې نشته او دی خو په داسې مرګ مړ دی چې خدای ورته ژوندی ویلی دی ،خو مونږ پرې نه پوهیږو او چې تر څو دا دنیا اباده وي د هغه نوم به هېر نه شي،د شپې مو جماعت کې جلسه وکړه،دلته هم جلسې بندې دي سباله د اورمړو منځنې کلې له لاړو دلته زمونږ په خدايي خدمتګارو کې بې اتفاقي وه دوی مې د خدايي خدمتګارۍ په مطلب او مقصد پوه کړل او ورته مې ووې چې تاسو په دې تحریک ځان نه دی پوه کړی او تاسو نه هېره شوې ده چې مونږ خدای سره دا وعده کړې ده چې مونږ به پرې جنبې، دشمنۍ، تربګنۍ، مخالفت، جګړې او بې اتفاقۍ نه کوو نو زه ستاسو په خدمت کې دا عرض کوم چې څوک دشمنۍ، تربګنۍ، پرې جنبې پرېښودی نه شي نو هغوی دې خدايي خدمتګارۍ کې نه داخلیږي او چې دا ځیزونه کله پرېږدي نو بیا دې خدايي خدمتګار شي او که دې کې هم دا ځیزونه پرې نه ږدو نو د دې ورورولۍ فایده څه شوه؟ دې ځیزونو خو مونږ برباد کړي یو، زما په تقریر دوی ښه پوه شول او څه اثر پرې وشو، له دې ځایه مونږ دریم کلي ته لاړو، اورمړ درې کلي دي، هلته مو هم په جماعت کې جلسه وکړه. زمونږ د وړولو دپاره حکومت د جلسې په وخت کې ډېر بادر پولیس راوستلي وو چې خلکو یې هېڅ پروا ونه کړه نو بیا لاړل. د دې ځایه زما اراده وه چې کیچورۍ له لاړ شم لیکن زما طبیعت خراب شو او هغه د سړک نه دوه میله لرې وه او پیاده مزل و،نو بیا شپې له میا ګوجرو له لاړو او بابو فضل الهي سره مو د خوند شپه تېره کړه د شپې

مو جماعت کې جلسه وکړه او چې خلک زما نه خبر شول نو ښځې،نر په ډېره مينه محبت جلسې له راغلل سباله هزارخانې له لاړو.د دې ځای د جرګې او خدايي خدمتګارو انتظام مې ډېر خوښ شو او بيا په دې علاقه کې کلي په کلي وګرځېدو او خلک مې په عدم تشدد په ښه شان پوه کړل او په صبر مې ډېر زور ورکړو او د دې ځای دوره ختمه شوه.

## لاټ سره ليدل:

زما طبيعت ښه نه و ځکه چې نه د شپې ارام و او نه د ورځې باچاګی د ستي جان شاګرد و هغه به نظمونه اورول هغه هم ناجوړه شو هغه مې هم کلي ته رخصت کړو،زه پېښور ته راغلم او ډاکټر صاحب سره پاتې شوم هغه راته د لاټ صاحب د ملاقات په باره کې ووې چې تا ته به ياد وي چې څه وخت ته په ډېره اسماعيل خان کې په دوره وې نو ما ته لاټ صاحب يوه چيټۍ ستا د ملاقات دپاره رالېږلې وه،زمونږ مخکښنی لاټ صاحب مړ شوی و،او د هغه په ځای سرراٸيلف ګريفتهـ لاټ شوی و ما ورته ووې چې ما ته په ملاقات کې څه عذر نشته، هغه لاټ صاحب له زما د موجودګۍ خبر ورکړو او درې بجې ملاقات مقرر شو زه ټيک درې بجې د لاټ صاحب بنګلې له لاړم د هغه سکتر زما په انتظار کې ولاړ و ما ته يې ورلرې کړو او لاټ صاحب له يې بوتلم،لاټ صاحب ما له مخې له راغی او زه يې ځان سره په کرسۍ کښېنولم او سکتري بهر ته را ووت او مونږ پسې ور پورې شو د روغ جوړ نه پس اول سوال يې په ما دا وکړو چې زه ټول عمر پېښور کې پاتې شوی

یم خو تـه مې لیدلی نـه یې مـا ورتـه ووې چې تاسـو لـه اکثـر هغـه خلـک راځـي چې خپـل کارونـه لـري. بیـا د خـدایي خـدمتګارو خبرې شـروع شـوې، ده راتـه ووې چې زمـونږ او د پـښتنو ډېـر ښـه تعلقـات وو خـو د بعـضې خلکـو پـه ګرمـو تقریرونـو هغـه تعلقـات خـراب شـول مـا ورتـه ووې چې تعلقـات پـه تقریرونـو نـه خرابېـږي تاتـه بـه معلومـه وي چې جیمیـسن پـښتنو سره کـوم قـسم سـلوک کوي او د دې په اورېدو سره لاټ صاحب سترګې ښکته کړې.

جیمیـسن د پـولیس کپتـان و چې پـه ۱۹۳۱ع کـې د چارسـدې پـه شـرابخانه مـونږ پکټنـګ لګـولی و، ده د خـدایي خـدمتګارو مخـصوص ځـایونو تـه ډکـې کـوزې ځورنـدې کـړې او د خـسي تـوب مـشین یـې ورپـسې راوړو او ډېـر خـدایي خـدمتګار پـرې خـسیان شـول او دا اواز بـه یـې کولـو چې د پـښتنو نـوغې ورکـوم خدایي خـدمتګارو نـه بـه یې جـامې وشـلولې او بربنـډ بـه یـې کـړل او چې پـه وهلـو کـې بـه بې هوشـه شـول نـو د غولـو متیـازو یـو ډنډوکی یـې جـوړ کـړی و، هغـې تـه بـه یـې ګـذار کـړو دا زمـونږ پـښتانه د مـرګ نـه هـم بـد ګڼـي، مـا ورتـه ووې چې ګـورئ مـونږ خدایي خدمتګار هم ستاسـو رعیت یـو نـو مـونږ سره هـم کـم از کـم هغـه سـلوک کـوئ چې نـور رعیت سره یې کـوئ نـو هغـه ووې چې مـونږ یـو شـان سلوک کـوو او خلـک بې ګنـاه نـه ګرفتـارو مـا ورتـه ووې چې پـه دې سـتا سـره بحـث نـه کـوم لـیکن اکثـر خـدایي خـدمتګار بې ګنـاه ګرفتـاروئ او د دروغـو مقـدمې پـرې جـوړوئ. ده ووې چې هغـوی څـه نـا څـه کـړي دي، مـا ورتـه ووې چې د سـودم خانـانو څـه کـړي دي چې تاسـو ګرفتـار کـړي دي؟ او د مـردان پـه حـوالات کـې پراتـه دي شـاه پـسند خـان او الله داد خـان څـه تقـصیر

کړې دی؟ شیربهادر خان او د هغه نورو خورانو څه قصور کړې دی؟ اخر کې د ازاد سرحد خبرې شوې ما ورته ووې چې تاسو د پولټیکل ایجنټ په محکمه په کروړونو روپی لګوئ نو د دې نه څه فایده وشوه؟ نو ده ووې چې مونږ خپله علاقه په دې باندې د دې خلکو د شرنه بچ کړې ده ما ورته ووې چې د څومره مودې نه تاسو په دې لګیا یئ او ترکومه حده کامیاب شوي یئ،نو ده ووې چې د دپرشو کالو نه زمونږ دا کوشش دی ،خو تر اوسه پورې کامیاب شوي نه یو ما ورته ووې چې مونږ له پنځه کاله موقع راکړئ او تاسو چې څومره روپی لګوئ د هغې شلمه حصه مونږ له راکړئ بیا زمونږ او د خپل کار مقابله وکړئ که زمونږ هغه لاره فایده منده وه نو هغه جاري وساتئ! ماته یې ووې چې تاسو به څه کوئ ما ورته ووې چې مونږ به دغه روپی د خلکو په تعلیم صنعت او حرفت باندې ولګوو او د خلکو به دا یقین راولو چې مونږ دا هرڅه د قوم د فایدې دپاره کوو او د قوم خیر غواړو پښتون داسې قام دی چې دی د زور په نسبت په احسان زر تابع کیږي، بیا به نه پخپله ډاکې کوي او نه به بل څوک پرېږدي. نو چې د لاټ صاحب نه نور څه جوړ نه شو نو ماته یې ووې چې دې ملک ته د روس او افغانستان نه ډېره وېره ده نو په دې وجه مونږ دا کار کله پرېښوی نشو او دا فوجونه چېرته کمولی شو؟ ما ورته ووې د افغانستان غریب خو اډو څه خبره مه کوه ولې چې هغه تا ته معلومه ده چې خپل ځان هم ساتلی نه شي نو په مونږ به څه حمله وکړي؟ او بله دا چې ستاسو په افغانستان کې کوم باچا خوښ نه وي نو هغه باچایي کولی نه شي پاتې روس شو نو که

د هغه نه تاسو ته خطره وي نو په کار دي چې مونږ له د خپل ملک واک او اختيار راکړئ په ټول هندوستان کې ستاسو دومره فوج نشته لکه چې نن په سرحد کې زمونږ خدايي خدمتګار دي، چې مونږ له اختيار راکړئ نو بيا که روس زمونږ په ملک راتلو نو مونږ به يې مقابله کوو او زمونږ ښځې، نر به ملک د حفاظت دپاره تياروي نو بيا روس حمله نه شي کولی او که دانه وي نو مونږ خو ستاسو دپاره جنګ نه کوو اوس مونږ پوه شوي يو چې جنګ دي مونږ کوو او مزې دې ستاسو وي. زما ډېرې خبرې ده نوټ کړې او راته يې ووې چې زه سباله ډيلي ته ځم او د دې خبرو ذکر به وايسرای سره وکړم بيايې راته ووې چې زه اميد کوم چې اينده به هم دغه شان زما او ستا ملاقات کېږي ما ځواب ورکړو، چې لکه دا ځل چې دې څه رنګې ماپسې پوليس راليږلي و دغه شان ماپسې پوليس راليږه،نو زما او ستا ملاقات به کېږي.ده راته ووې ته خو عجيبه سړی يې ته خو لږ بهر وګوره څومره خلک زما ملاقات ته راغلي دي زه و رسره ملاقات نه کوم او تاته زه وايم چې زما ملاقات ته راځه او ته نه راځې نو ما ورته ووېل چې دا بهر خلک چې راغلي دي دا خو خپل غرضونو پسې راغلي دي او زما څه غرض نشته. ملاقات ختم شو او زه د ډاکټر صاحب بنګلې له راغلم په سباله مې د نوښار د تلو انتظام وکړو.

## د نوښار په تحصيل کې جلسې:

لسم دسمبر سحر وختي زه سره د خپلو مومندو خدايي خدمتګارو نوښار ته لاړم او دفتر ته ورغلو صدر صاحب سره د

نورو خدايي خدمتګارو دفتر کې موجود و او لږ ساعت پس د سيند د غاړې د کلو په دوره روان شو په لاره کې مې د شاهباز ګړي جرنيل وليدو چې پوليس په لارۍ کې جېلخانې له بوتلو او دوه نيم کاله يې قيد کړی و. مونږ باران کې د کندړو جلسه وکړه او د هغه نه پس صدر صاحب او د نوښار کارکنان رخصت شول او مونږ د اکوړي جرنيل صاحب سره پوري وتو او پير سباک کې مو جلسه وکړه او د پير سباک نه شپې له زړې مېنې له لاړو خلک راته انتظار کې وو د شپې مو هم هلته جلسه وکړه او د سحر د لمونځ نه اول د زړې مېنې نه روان شو باقي ټول د سيند د غاړې کلو کې مو جلسې وکړې او خلک مو د تحريک په غرض پوه کړل شپه مو خيراباد ته ورسوله. زما طبيعت د اول نه ښه نه و اواز مې ناست و او د دې بې ارامۍ په وجه نور هم ناجوړه شوم. ما به ډېر کوشش کولو چې د کار نه پس مې ارام ته پرېږدي خو دوی نه پرېښودم. د شپې مودلته جلسه وکړه. په دولسم دسمبر د خټکو علاقه کې د اباسيند په غاړه خير اباد کلي ته نزدې د يوې لويې جلسې انتظام مو وکړو هغې له د صوابۍ تحصيل په زرګونو خدايي خدمتګار راغلي وو د چچ خلک هم په شنازونو راپورې وتي وو او موټرو لارو کې راغلي وو. زه د لږ ارام نه پس جلسې له لاړم، شاعرانو قومي نظمونه واورول ډېر اثر يې وکړو اخر کې ما پخپل تقرير کې ووې چې زمونږ د صبر جنګ دی مونږ به د وهلو او کنځلو بدل نه اخلو مونږ به صبر کوو او ځان به خدای ته سپارو مونږ خو خدايي خدمتګار يو خدای به زمونږ بدل اخلي د خپلو زړونو نه خودغرضي او نفاق لرې کړئ، ځکه چې د دې دلاسه

برباد شوي يو. ځان کې ښه اخلاق پيدا کړئ ولې چې د ښو اخلاقو نه بغير څوک ترقي کولی نه شي. بله خبره مې دا وکړه چې اې پښتنو ورونو زه په دې نه پوهېږم چې تاسو ولې د پيرنګيانو نه يرېږئ دوی خو ستاسو په شان بنيادم دي ستاسو په شان يو قوم دی تاسو خو پرو جنبو او نفاق تباه کړئ وېره در کې پيدا شوې ده، د چا په زړه کې چې د خدای وېره وي نو د هغه په زړه کې د بل چا وېره نه راځي او د چا نه نه يرېږي او د چا په زړه کې چې د خدای وېره نه وي هغه د هر چا نه يرېږي. نو په دې وجه چې مونږ د حکومت افسر ووينو نو ويرېږو، اې ورونو! تاسو په زړه کې د خدای وېره پيدا کړئ او بيا مې ټولو ته اپيل وکړو چې کوم کلي کې جلسه وي، نو هلته ډوډۍ چای مه کوئ او مه پاتې کېږئ او د کلي خلکو ته مې هم ووې چې چاله چای،ډوډۍ هم مه ورکوئ مونږ غريب قام يو خلکو له چای،ډوډۍ نه شو ورکولی بيا مې دې خلکو ته ووې چې اې ورونو! تاسو د خدای دپاره يوه ورځ روژه نيوی نه شئ؟ او که څوک ډوډۍ درله پخه هم کړي نو تاسو يې مه خورئ نو چې يو ځل خلکو ته ډوډۍ پاتې شي نو بيا به داسې نه کوي.

## صوابۍ تحصيل کې جلسه:

زه بيا د فردوس خان سره مانيرۍ ته روان شوم په لاره يو بوډا سړي راته ووې چې باچا خانه زه خو نن ايله پوه شوم چې پيرنګي هم زمونږ په شان بنيادم دی. شپه مې فردوس خان سره په ارام تېره کړه سباله يو خدايي خدمتګار وفات شو، نو د هغه جنازه مو وکړه بيا مو د مدرسې د ځای تصفيه وکړه. دوی

مدرسې له ځای ورکړی و، یو کس نیم په کې خپه و هغه مو راضي کړو بیاله دې ځایه باجا ته روان شو ولې چې زمونږ د باجا خانان بې ګناه پولیس ګرفتار کړي وو. دلته مو جماعت کې جلسه وکړه بیا کلابټ ته لاړو د کلابټ په خلکو کې حکومت څه بې اتفاقي پیدا کړې وه، خودغرضو خلکو په کې شرارت کولو ما ورته هم په هغه معامله تقریر وکړو چې فکر وکړئ د هغې بڼه اثر وشو او د روانېدو په وخت کې د کلابټ د خان زوی راته ووې چې تسلي ساته مونږ پوه یو مونږ څوک جنګولی نه شي،له دې ځای نه زروبۍ ته لاړو هلته مو هم جماعت کې جلسه وکړه په زرګونو خلک راجمع شول ډېره کامیابه جلسه وشوه،زه پوه شوم چې په خلکو کې سیاسي شعور پیدا شوی دی. له دغه ځای نه مرغز ته شپې له لاړو په مرغز کې مو د شپې جلسه وکړه، د مرغز جرګه او خدایي خدمتګار ډېر مخلصان او پوه دي، دوی راته د خپل مصیبت ټولې کیسې وکړې او راته یې ووې چې بېګناه د پولیس هغه پیرنګي ووهلو او بیایې د کلابټ خلکو ته وې چې دعوی هم پرې وکړئ،خو په مونږ د کلي خلکو دعوی ونه کړې د دوی جرنیل قابل او پوه سړی دی او دا د هغه قابلیت دی چې دا جذبه یې په خدایي خدمتګارو کې پیدا کړې ده. سباله د مرغز نه قبلې ته یو کلی دی د هغې صدر صاحب مجبور کړو او د سحر چایو له هلته لاړو، خلک چې زمونږ نه خبر شول نو راجمع شول هغوی ته مې هم د وروروليـ او قامولیـ یو مختصر تقریر وکړو او بیا له دې ځایه کوټې له لاړو او بیا ټوپیـ له لاړو ولې چې د دې ځای ډېر کارکنان حکومت ګرفتار

کړي وو. ټوپۍ کې پکټنګ لګېدلی و. د هغې کټو له لاړو ما پرې بعضې سوالونه وکړل چې تاسو ولې پکټنګ لګولی دی؟ دوی ووې چې دا خلک بدیشي مالونه خرڅوي ما ورته ووې چې تاسو څه غواړئ؟ دوی وې چې د خپل ملک مال دې خرڅوي نو ما ترې تپوس وکړو چې دې کې ستاسو فایده ده او هغه کې مو څه نقصان دی؟ دوی ووې چې د ملک مال چې خرڅېږي نو پیسې به زمونږ ملک کې پاتې کېږي او چې د پردي ملک مال خرڅېږي نو پیسې به پردې ملک ته ځي. زه ډېر خوشحاله شوم ولې چې دا کوم خدایي خدمتګار ولاړ وو، نو هغه د یو وړوکي کلي بې تعلیمه هلکان وو او نورې چې مې ترې پوښتنې وکړې نو د هغو یې پوره ځوابونه راکړل دلته هم پولیسو په خدایي خدمتګارو ډېر ظلمونه کړي وو. زه پوه شوم چې زمونږ په قوم کې یوه پوهه راغلې ده بیا مې جماعت کې تقریر وکړو او خلکو ته مې ووې چې دا خدایي خدمتګار ستاسو ګټندوی دي تاسو له ستاسو د پلار نیکه بایللی ملک ګټي، نو تاسو ورسره ولې بد سلوک کوئ؟ که پیرنګیان مونږ سره هر قسم سلوک کوي نو مونږ ترې ګیله نه کوو ځکه چې هغه غیر قوم دی او هغوی سره غم دی چې که پښتانه رانه خپل ملک ازاد کړي نو زمونږ به څه حال وي؟ زمونږ ګیله ستاسو نه ده تاسو خو زمونږ قوم یئ او دا ملک زمونږ شریک دی که دا ملک ازاد شي نو د دې فایده خو به ټول قوم ته وي. چې جلسه ختمه شوه نو د (مینئ) مولانا صاحب را ته ووې چې مونږ سره به ضرور ځې او زمونږ د خلکو ډېر خواهش دی چې هلته مونږ هم جلسه وکړو ما ورته ووې چې مولانا صاحب ته زما حال

وینې زه ناجوړه یم پرېږده چې زه واپس لاړ شم او چې کله لږ ښه شوم نو بیا به ستاسو کلي ته درشم دوی راضي شول او مونږ صوابۍ ته راغلو، په صوابۍ کې په زرګونو ښځې اونر جمع وو او سالار صاحب منیر خان، نجوبائي او فردوس خان ډېر ښه انتظام کړی و، هغوی ته مې تقریر وکړو خدایي خدمتګار رانه چاپېره شول، چې بېګاله به مونږ سره شپه کوئ، ما ورته ووې چې تاسو ماوینئ چې زه ناجوړه یم او په دې ناجوړه وجود لګیا یم شپه او ورځ کار کوم ځکه چې نن دی که سبا دی حکومت مونږ نیسي او د خدمت موقع نه راکوي او دا ټول انتظار راونډ ټېبل کنفرانس ته دی نو زه کوشش کوم چې څومره کېدی شي چې په دې خپل قوم کې دورې وکړم او دوی په هر څه باندې پوه کړم.

هغوی اجازه راکړه او شپې له تولاندۍ له لاړو شپه ښه په ارام تېره شوه دلته خبر شوم چې میا احمد شاه صاحب او ډله یې هره میاشت زما برخلاف کتابګي چاپ کوي او خلکو کې یې خوروي او دلته یومولانا صاحب د هغوی دپاره سخته پراپېګنډه شروع کړېده. ماهغوی ته ووې چې مونږ خو د خدای دپاره لګیا یو د دې قوم خدمت کوو که قوم زمونږ ملګرتیا وکړه نو دوی به ازاد شي او که زمونږ مخالفت یې وکړو نو دوی به برباد شي ولې چې بغیر د قوم د امداد نه مونږ خپل منزل ته رسېدی نه شو، غم او فکر هغه چا سره وي چې د ځان دپاره کار کوي او څوک چې د خدای دپاره کار کوي هغوی هېڅ غم او فکر نه کوي. احمد شاه میا به هره ورځ زما برخلاف هغه کیسه په اخبار کې لیکله او پمفلټونه به یې هم چاپ کول،

لیکن ما ورلـه چرې هم ځواب نه ورکولو ولې چې د دې نه بیت بازي جوړېده ما خو خپل کار کولو او په دې خبرومې وخت نه ضایع کولو، بېشکه چې دروغ د څه وخته پورې په خلکو کې غلط فهمي پیدا کولی شي، خو چې رښتیا راشي نو دروغ پاتې کېدی نه شي. چې سباله مونږ په دغه کلي کې د یو مهربان فاتحې لـه لاړو هلته د هغه په حجره کې مې خپل زوړ ملګري او مهربان مولانا سره ملاقات وشو او ورته مې ووې چې مولانا صاحب په سیاسیاتو کې زمونږ منځ کې څه اختلاف راغلی وي نو دا څه بده خبره نه ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم وایي چې اختلاف د امت رحمت دی او دا مونږ ته چې د رحمت په ځای زحمت شوی دی دا زمونږ ذاتیات دي، مونږ له خپل زاړه تعلقات پرېښوول په کار نه دي او زه چې ستاسو کلي ته راشم نو ملاقات خو راسره کوئ. د دعا نه پس مونږ جماعت له روان شو، مولانا صاحب مې هم ځان سره روان کړو خلک جمع وو مولانا صاحب ته مې ووې که ته څه ویل غواړې نو ووایه مولانا صاحب وې وخت تنګ دی زه څه نه وایم ته خپل تقریر وکړه، ما خلکو ته ووې چې ای وروڼو، عزیزانو تاسو خپل ځان پخپل سود او زیان پوه کړئ زه نه پوهېږم چې خلک زمونږ مخالفت ولې کوې، مونږ خو د خلکو خدمتګار یو، تکلیفونه او مصیبتونه په ځان تېروو او ګټه قوم له کوو، په کار دي چې دوی هم زمونږ په شان د پرنګیانو مخالفت وکړي ولې چې هغوی مونږ غلامان کړي یو، زمونږ د پلار نیکه ملک یې رانه نیولی دی،دا ملک خو خدای مونږ له او زمونږ بچو له راکړی دی خو زمونږ د خودغرضۍ او بې اتفاقۍ

په وجه هغوی زمونږ په ملک مزي کوي، خلک وايي چې زمونږ جرګه پاتې نه شوه، مونږ د مصرو په شان په کانګرس کې اوبه شو او خدايي خدمتګار د هغوی رضاکار شول،دا خبره غلطه ده زمونږ جرګه جرګه ده او زمونږ دا خدايي خدمتګار خدايي خدمتګار دي دا خبره داسې ده چې مونږ کانګرس سره تعاون کړی دی، يو خو دا فېصله ما نه ده کړې ستاسو لويې جرګې کړې ده او د ميا صاحب او عبدالاکبر خان په رضا يې کړېده، تاسو خو لږ ياد کړئ چې مونږ کانګرس سره نه وو نو پيرنګي په مونږ توره شپه جوړه کړې وه. او په مونږ خدايي خدامتګارو يې داسې لوبې کړې وې چې په دنيا کې به په ډېرو کمو خلکو داسې لوبې شوې وي مونږ يې ټول جېلخانو کې اچولي وو او چې هر کله ستاسو جرګې فېصله وکړه او مونږ کانګرس سره شو نو د هغوی په کوشش مونږ د جېلخانو نه را بهر شو،او دا دی ستاسو په جلسه کې تقرير کوم که د هغوی کوشش او امداد نه وی، نو اوس به مونږ ټول خدايي خدمتګار په جېلخانو کې پراته وو په دې وخت کې مونږ پيرنګي له د خپل اتفاق په زور يو ښکر مات کړی دی او که مونږ اتفاق وکړو نو دا بل ښکر به يې هم مات شي او د ده د زور او ظلم نه به خلاص شو. او د کانګرس سره خو مونږ هم د دې دپاره ملګري شوي يو چې دا خپل ملک ازاد کړو تاسو مهرباني وکړئ او په دې خبرو ځان پوه کړئ.

وخت لږ و ما خپل تقرير ختم کړو، کالوخان کې راته ډېر خلک په انتظار کې ناست وو، په دې وخت کې مولانا صاحب ماته ووې چې زه هم څه ويل غواړم ته دې خلکو ته ووايه ما

ورتـه ویـل چـې تاتـه خـو مـا ویلـي وو چـې تقریـر وکـړه. تـا ونکـړو اوس زه دلتـه زیـاتي انتظـار کـولی نـه شم، ولـې چـې کالوخـان کـې ډېر خلـک ماتـه انتظـار کـې ناسـت دي، تـه دوی تـه تقریـر وکـړه او مالـه اجازه راکـړه چـې زه کـالو خـان تـه لاړ شم. زمـا د روانېدو سـره ټـول خلـک روان شـول پـه دې وجـه مولانـا صـاحب څـه تقریـر ونـه کړی شو.

مـونږ چـې کـالو خـان تـه ورسـېدونو خلـک جمـع وو خلکـو تـه مـې ووې چـې ای ورونـو! تاسـو بـه دا وایـئ چـې زه نـن تاسـو لـه د کامـدار خـان د ګرفتـارۍ د غمخـوارۍ لـه پـاره راغلـی یـم نـه! زه غمخـواري لـه راغلـی نـه یم بلکـې تاسـو لـه مبارکۍ لـه راغلـی یـم او تاسـو لـه مبـارکي درکـوم چـې ستاسـو داسـې یـو ننګيـالی خـان و چـې ستاسـو دپـاره او د ټـول قـام او ملـک دپـاره جېلخـانې لـه لاړو او زه د هغـه مـور بـې بـې لـه او خپلـو خپلوانـو لـه د خـان داسـې نېـک کـار تـه جېلخـانې لـه پـه تلـو مبـارکي ورکـوم. بیـا مـې دې خلکـو تـه ووې چـې ای ورونـو! هـر څـه چـې تاسـو سـره کېـږي پـه هغـه صبر کـوئ د ازار نـه چـا بـازار مونـدلی نـه دی او د ظلـم کاسـه نـسکوره ده څـومره چـې پیرنګیـان پـه مـونږ ظلـم او زیـاتی کـوي هغومره به زر تباه شي او مونږ به ترې خلاص شو.

د دې ځـای نـه بیـا ادینـه تـه لاړو هلتـه هـم خـدایي خدمتګارو تـه مـې د صـبر تلقـین وکـړو او بیـا سـمیلا تـه لاړم. پـه دې خلکـو کـې ډېـر جـوش او خـروش و، ولـې چـې پیرنګـي زور او ظلـم شـروع کـړی و. دوی تـه مـې هـم د صـبر او عـدم تـشدد تلقـین وکـړو او بیـا مانېـام شـهباز ګـړې تـه ورسـېدم دلتـه یـې هـم زمـونږ جرنيـل صـاحب نیـولی و، دلتـه هـم ډېـر جـوش و خلکـو لـه مـې تـسلې ورکـړه او

خدايي خدمتګارو له مې د جرنيل صاحب د قيد مبارکي ورکړه.دلته مې د ګجرات بخشالي صاحبزاده صاحب ته ووې چې يوه ټانګه تياره کړه، ليکن د خپلو تلو ذکر مې هېچا سره ونه کړو دا خبره مې پټه وساتله چې کوم ځاى له مونږ تلو هغه ورکوټى کلى و او دا دومره پوليس چې مونږ سره ګرځېده دا به په هغوخلکو لوى بوج.و صاحبزاده صاحب نه به چې چا پوښتنه وکړه نو هغه به وې چې مونږ ګجرات بخشالي ته ځو. مونږ ټانګه کې روان شو او د سړک په غاړه يو وړوکى کلى و ،مونږ چې څه وخت د پوليس موټر وليدو نو کلي ته د ننه شو پوليس زمونږ نه خبر نه شول، هغه ګجرات بخشالي له روان شول،د کلي خلک خبر شول نو ښځې، نر زمونږ ليدو له راغلل زما په راتلو ډېر خوشحاله شول خدايي خدمتګارو ته مې ووې چې څه چا کره تيار وي هغه راوړئ او که نه وي نو خير دى شپه به مونږ دغسې تېره کړو خو چې زمونږ دپاره نوى پخلى ونه کړئ! چې ډوډى مو وخوړه لږ ارام مو وکړو ټوله ورځ بې ارامه وو ،ډېر ستړې شوي وو خو ټول خلک جماعت کې را جمع شوي وو هغوى ووې چې باچا خان دې مونږ ته يو څو خبرې وکړې د لمونځ نه پس د هغوى د محبت مې اول شکريه ادا کړه او بيا مې ورته د تحريک متعلق يو څوخبرې وکړې او په دې خبره مې ډېر زور واچولو چې په هر مصيبت به صبر کوئ.

سبا له هوتي له لاړو ، چې کلپانى ته ورسېدو نو څه ګورو چې پوليس والا په شګو کې خړپړناست دي ماته يې ووې چې ټوله شپه درپسې ګرځېدلي يو او بيا دلته کښېناستو او د مردان نور پوليس هم ټوله شپه تاسو پسې منډې وهلې دي،

خو تاسو یې مونږلي نه یئ دغه انسپکټر ماله د دفعه ایکسو چوالس (د قانون ۱۴۴ ماده) حکمنامه راکړه هغې کې یې لیکلي وو چې ملکنډ ایجنسۍ له به نه ځئ، ما غلام محمد خان د لوند خوړ ته ویلي وو چې هلته لاړ شي هغه لاړو او دوی ګرفتار کړو ،نو په ما یې د دې دپاره دفعه ولګوله چې دی خبر شي نو خامخا به ملکنډ ایجنسۍ ته ځي او حکومت مونږ نه ایجنسو ته پرېښودو او نه قبایلو ته مونږ ډېر کوشش کړی وو، چې مونږ دې ورونو ته لاړ شو او دوی هم مونږ د پښتنو په دې نوې ورورۍ کې شریک کړو او دا یې لا څه کوې چې هغه د خدایي خدمتګارو حکومت هم چې جوړ شو نو هغوی هم زمونږ دې قبایلي ورونو ته په تللو نه خوشحالېدل. ولې چې هغوی ویل چې پیرنګیان به خپه شي. حقیقت دا دی چې حکومت خو زمونږ و خو واک د ګورنر و.

د هوتي نه طورو له لاړو زمونږ یو ډېر زوړ خدایي خدمتګار او بهادر کارکن عبدالرحیم خان مړ شوی و ما سره یې د هزارې دوره کړېوه او چې څه وخت مونږ چې له تلو نو چې پولیس والا راته ټوپکونه نیولي وو نو ده ما ته ووې چې څه چل وکړو ما ورته وې چې ورځئ پرې نو دی پرې د ټولو نه مخکې ورغی. د ده په مرګ مونږ ته ډېر نقصان ورسېدو مونږ خو په دوره وو جنازه مو ونه کړی شوه، فاتحه مې وکړه د هغه مور او خپلوانو له مې ډاډګیرنه ورکړه، د هغه قبر له لاړو او ما او ټولو خدایي خدمتګارو ورته ډېره دعا وکړه بیا مې جماعت کې یو مختصر تقریر وکړو او دوی ته مې ووې چې د عبدالرحیم خان په مرګ مه خپه کېږئ خدای به هغه وبښي او د هغه په ځای به د اسلام

د خدمت د پاره ډېر خلک پیدا کړي. بیا (مایارو) ته لاړو د مایارو صدر صاحب ډېر مخلص او د کار سړی دی دغلته ډېر خلک جمع شوي وو هلته لږ ایسار شو او خلکو ته مې هم یو څو خبرې وکړې.

د دې ځای نه مردان ته راغلو او دلته خبر شوم چې د سودم خانان رها شوي دي زما طبیعت ډېر خراب و ما غوښتل چې د قاضي صاحب په ځای کې لږ ارام وکړم خو خلکو ارام ته نه پرېښودم. قاضي صاحب مې پوه کړو چې بېګاله به دلته راځم خلکو ته مې ووې چې ستاسو نه رخصت یم مخکې ځم خو خلکو زه کله پرېښودم چې اډې له روان شوم نو خلک رانه رخصت شول مونږ اډې سره نزدې د هغه کلي له ورغلو پولیس والا را پسې وو، د هغوی نه چېرته خلاصېږو؟ مونږ لمونځ کولو چې خلک خبر شول او خدایي خدمتګارو زر زر وردې واغوستې او یو ساعت کې د کلي خلک راجمع شول د هغوی د محبت شکریه مې ادا کړه او بیا مې ترې اجازت واخستو او مونږ د قاضي صاحب ځای ته لاړو. د قاضي صاحب ځای کې د سودم یو خان ناست و اول مې د رهایۍ مبارکي ورکړه بیا مو خبرې شروع کړې. ده راته ووې چې ستا راتلل سودم ته ډېر ضروري دي ولې چې په غریبو خلکو کې حکومت یوه غلطه پراپېګنډه شروع کړې ده چې په حقیقت یې پوه کړې چې دوی کې غلط فهمي پیدا نه شي. ما ورته ووې چې زه خو پنچر شوی یم. لږ ارام کوم نو په شلم دسمبر به درشم.

مونږ سبا وختي اډې ته لاړو یوه ټانګه مو کرایي کړه او درګۍ له راغلو بیا پیاده ګل اباد له لاړو خلک ډېر په جوش

کې وو، ما ورته د صبر او عدم تشدد تلقین وکړو. د ګل اباد نه شپې ته خپل کلي محمدنارۍ له راغلم دلته مې دمې ته نیت و خو د اتمانزو نه خبر راغی چې په شلم د سمبر باندې د سرحد د لویې جرګې جلسه ده او د خط په لیدو را روان شه. مونږ یوه شپه دلته وکړه سبا له اتمانزو له لاړو چې هلته ورسېدو څه ګورو چې د نوښار د تحصیل شل، پنځه ویشت افسران خدایي خدمتګار په لارۍ کې راغلل زما په لیدو راکوز شو او حجرې له لاړو هغوی راته ووې چې زمونږ د جرنیلۍ جګړه ده زمونږ فېصله وکړه ماوې چې خدایي خدمتګار خو په عهدو جګړې نه کوي، په خدمت کې جګړه نه وي جګړې خو په ذاتیاتو پیدا کېږي. زما دا وینا هغوی ډېره محسوسه کړه او ټول ډېر ملامته شول نو بیا مې ورته ووې چې سالار اعظم صاحب له لاړ شئ هغه به فېصله وکړي، هغوی وې چې هغه مېرې له تلی دی ما وې مېرې ته لاړ شئ هغوی، سالار صاحب پسې لاړل.

## د لویې جرګې اجلاس:

د ډوډۍ وخت و چې سالار صاحب را ورسېد زمونږ حجرې له راغی زه خو جوړ نه وم، ما ترې اجازت واخستو چې ارام وکړم او د دوی فېصله په خوشالۍ او په رضا سره وشوه. سباله وختي دوی واپس لاړل د سرحد لویه جرګه را ورسېده جلسه شروع شوه د ټولو نه اول حکیم عبدالسلام صاحب دا تجویز پېش کړو چې یو ډېپوټېشن مقررول په کار دي چې هغوی میا احمدشاه صاحب او عبدالاکبر خان راضي کړي او ځان سره یې شامل کړو ما یې تایید وکړو او ماووې چې مونږ

خو لرې کړي نه دي، هغوی جدا شوي دي که هغوی بیا راتلل غواړي نو جرګې ته به هیڅ عذر نه وي. د دواوې شاد محمد خان د دې تجویز مخالفت وکړو چې هغوی خو د جرګې نه بغاوت کړی دی او د جرګې برخلاف کار کوي.

بل تجویز د کانګرس د امداد اخیستو و د دې تجویز ما سخت مخالفت وکړو ما ووې چې تر اوسه پورې مونږ د کانګرس نه یوه پیسه هم نه ده اخیستې او خلک را پسې خبرې کوي او که تاسو د کانګرس نه امداد واخیستو نو بیا خو به حکومت او برخلاف خلک ښه پراپیګنډه شروع کړي، ما ورته دا هم ووې چې جواهر لال ما نه په دې خپه شوی و، د ډاکټر انصاري په کور کې د ورکنګ کمیټۍ اجلاس و هغه راته ووې چې مونږ به هغه مخکې کانګرس له په پېښور کې څلور، پنځه سوه روپۍ د میاشتې امداد ورکولو ستاسو جماعت ډېر لوی دی تاسو له به ډېرامداد درکوو ما ورته ووې چې دا ملک یوازې ستاسو دی که زمونږ هم دی؟ که ستاسو هم وي او زمونږ هم وي نو بیا تاسو نه امداد ولې واخلو؟ هغه مانه په دې خپه شو او ډاکټر انصاري صاحب ته یې ووې چې دی خو ډېر مغرور دی او دا تجویز هم نامنظور شو، بیا سردار رام سنګهـ زمونږ خدایي خدمتګار یو تجویز پیش کړو چې د انګلستان وزیر اعظم چې د سرحد د حقوقو متعلق کوم تقریر کړی دی هغه تسلي بخش نه دی او مونږ ته منظور نه دی لیکن ثمین جان وکیل د ده د تجویز مخالفت وکړو او دا تجویز یې پیش کړو چې دا ریفارم مونږ له اخیستل په کار دي، قاضي صاحب او علي اصغر خان ووې چې څه راکوي دا به واخلو او نور به

ګټو. ما لويې جرګې ته ووې چې د دې په اخيستو کې زمونږ قوم او ملک به څه ترقي وکړي پيرنګيان داسې نادانان دي چې مونږ له به هغه حقوق راکړي چې په کوم کې زمونږ فايده وي، نو ما وويل چې زه د دې هم مخالف نه يم که چا ته په کې فايده ښکاري نو وادې خلي خو د دې تجويز هم شاد محمد خان د دواوې سخت مخالفت وکړو چې مونږ مکمله ازادي غوښتله او اوس هغه اصلاحات واخلو چې ټول هندوستان ترې انکار کړی دی، په دې کې هيڅ فايده نشته،د ثمين جان تجويز وغورزيده او د سردارام سنګهه تجويز پاس شو نورې هم چې څه خبرې وې هغه فيصله شوې او جلسه ختمه شوه او يو ځو ممبران شپې ته پاتې شول او نور لاړل.

په دوه ويشتم د دسمبر په پېښور کې يو لوی دربار و چې هغه کې هم د ريفارمز د خبرو تجويز و، ډاکټر خانصاحب ته او ماله لاټ صاحب دعوتنامې رالېږلې وې، ما او قاضي عطاالله او ډاکټر په دې خبرې وکړې چې تلل په کار دي که نه، زه خو ناجوړه وم ليکن په دې فيصله وشوه چې په داسې حالت کې چې حکومت لګيا دی په خدايي خدمتګارو ظلمونه کوي نو تلل په کار نه دي او مونږ هغې له لاړ نه شو.

زما طبيعت نور هم خراب شو او تبه هم ورسره پيدا شوه، په دې وجه ډاکټر صاحب د علاج دپاره پېښور ته بوتلم زه يې په خپله بنګله کې ديره کړم او زما علاج يې شروع کړو او خلک يې رانه بند کړل زما علاج خو ارام و.

✵✵✵

# زه هزاري باغ جيل کښې

## بهر عامه گرفتاري
## زمونږ گرفتاري، عامه گرفتاري او
## تشدد هزاري باغ جيل ته
## بهادره بنځه

په دې کې د سردار پټېل تار راغی او خورشید بهن هم راته لیکلي وو چې ګاندهي جي به په اووه ویشتم د سمبر راورسیږي نو ته په شپږ ویشتم تاریخ راشه. زه ناجوړه وم خو دا تلل هم ضرور و، په دې وجه ما اراده وکړه چې په پینځه ویشتم د سمبر به سحر وختي په فرنټیر میل کې بمبۍ ته روانیږم. ما سره د تلو د پاره قاضي عطاالله خان امین جان او د اکوړي جرنیل هم تیار شول او فیصله په دې وشوه چې مونږ به پېښور نه روان شو، قاضي صاحب به په نوښار کې راسره شي او د اکوړي جرنیل به په اکوړي راسره مل شي خو انسان ته خپل تقدیر معلوم نه دی، تقدیر په تدبیر پورې خاندي په څلیرویشتم د د سمبر ما خپل کاغذونه تیار کړل او د تېښن د پاره مې ټانګې والا ته هم ووې ډاکټر صاحب ته ما وویل چې په پنځه ویشتم سحر وختي راشه، ډاکټر صاحب او میم صاحب کلي ته تلل، په دغه وخت کې د ارباب عبدالغفور پلار ارباب جمعه خان زما پوښتنې له راغی، ماښام ډاکټر صاحب یواځې د کلي نه راغی او میم صاحب یې کلي کې پرېښوه.

## زمونږ ګرفتاري:

چې په دې کې زمونږ یو مهربان راغی هغه ووې چې ما ته معلومه شوې ده چې تاسو بېګاله ګرفتاروي ډاکټر صاحب دا نه منل هغه ووې چې دا راز به پټ وي خو ما ورته ووې چې که مونږ ګرفتار شو. زمونږ هغه مهربان زمونږ نه رخصت شو، ما سره چې کوم کاغذات وو هغه مې خپل نوکر حنیف الله له ورکړل چې دا میم صاحب له ورکړه. ډاکټر صاحب راته اواز

وکړو چې پولیس راغلل، زمونږ د بنګلې نه چاپیر شول او یو پیرنګی ما له راغی او راته یې ووې چې تا ګرفتاروم. ما ورته ووې چې ډېره ښه ده ستا او ستا د حکومت به شکریه ادا کړم چې ما ګرفتار کړئ ځکه چې زه ناجوړه یم او ارام ته مې څوک نه پرېږدي اوس به ارام وکړم هغه پسې یوه میمه راغله ما هغې ته د بنګلې ور لرې کړو او په ارام مې کښېنوله.

حکومت ته د میم صاحب دوی راتلل معلوم نه و دایې د دې د پاره رالیږلې وه چې د ډاکټر صاحب ښځه میم صاحب به یوازې وي دا به ورسره شپه تېره کړي لږ ساعت ورپسې بل پیرنګی راغی هغه مونږ په څلیرویشتم د دسمبر د شپې ګرفتار کړو د بنګلې نه بهر راغلو او زه یې په یو موټر کې او ډاکټر صاحب یې په بل موټر کې کښېنولو هغوی زمونږ د ګرفتارۍ د پاره ډېر پولیس راوستلي وو شاید چې د هغوی به دا خیال و چې مونږ به ورسره جنګ کوو. ډاکټر صاحب د شپې په جامو کې راغی ما ورته ووې چې جامې بدلې کړه معلومه نه ده چې مونږ چېرته بیایي، ډاکټر صاحب جامې بدلې کړې چې د پېښور نه واوړېدو نو زما خیال و چې هریپور ته به مو بیایي چې د کې د اټک پل ته ورسېدو د لته ټول موټرونه ودرېدل پل بند و ما سره چې کوم پیرنګی و هغه ورکوز شو او سنتري ته یې اواز وکړو چې فلانې صاحب ته ټیلفون وکړه او ورته ووایه چې مونږ ته ور لرې کړه لږ ساعت پس ورلرې شو مونږ چې د پل نه پورې وتو موټرونه ودرېدل او مونږ یې د موټرو نه کوز کړو دلته د پولیس په چوکۍ کې یوه کمره وه مونږ یې وردننه کړو زما طبیعت ډېر خراب و تلی هم نه شوم نو ماله هغه

پیرنګـي کـټ راوړو او زه پـه هغـه کـې ځملاسـتم، ډاکټر صـاحب تـه یې هم یـو کـټ راوړو، پـه دې کې لـږ ساعت پس قاضي صاحب راورسـېد، د هغـه نـه پـس سـعدالله خـان زمـا وراره هـم را ورسېد، قاضـي صـاحب مـا سـره او سـعدالله خـان ډاکټـر صـاحب سـره ځملاسـتل او ښـه پـه ارام مـو خـوب وکـړو. سـحر وختـي مـونږ سـره د هغـو پیرنګیـانو ټېشن تـه لاړو هلتـه ډېـر پـولیس ولاړ وو او زمـونږ د پـاره یې د یـو سپېشل ټرین انتظـام کړی و مـونږ یې هغـه ګـاډي کـې وردننـه کـړو او زمـا پـه ډبې کـې د ننـه یـې پـه مـونږ ټوپـک پـه لاس او سـنګین چـړاو پیـره ودرولـه او ګـاډی روان شـو تاسـو تـه بـه یـاد وي چـې مـالاټ صـاحب سـره ملاقـات کولـو نـو زمـا خبـرې یـې نـوټ کـولې او ده وې چـې دا بـه زه وایـسرای سـره کـوم نـو نتیجـه دا شـوه چـې د راونـډ ټېبل کنفـرانس فېـل(ناکـام) شـو نـو پـه هندوسـتان کـې یـې د ټولـو نـه اول زه ګرفتـار کـړم او د ټولـو نـه یـې خطرنـاک ثابـت کـړم. دغـه نوټونـه یـې د دې غـرض دپـاره اخیستل پـه دې شـپه چـې زه یـې ونیـولم هـم پـه دغـه شـپه پـه سـرحد کـې هم پینځه سوه مشران خدایي خدمتګار ګرفتار شول.

## عامه ګرفتاري او تشدد:

زمـا د نیولـو نـه پـس پـه ټولـه صـوبه کـې عـامې ګرفتـارۍ شروع شـوې چـې د خـدایي خـدمتګارو قیـدیانو تعـداد زرګونـو تـه ورسېده نو بیا یې نور نـه نیـول بیـا بـه پـولیس او ډنډه مـار پـه کلـو ورتلـل او خـدایي خـدمتګار بـه یـې وهـل او ټکـول پـه یخـو اوبـو کـې بـه یـې اچـول او کورونـه بـه یـې ورلـه تـالا کـول. د چارسـدې پـه تحـصیل خـدایي خـدمتګارو پکټنـګ شـروع کـړو شـل شـل کسـان

به هره ورځ راتلل پوليس والاو به په کوتکونو وهل او خلکو به ګرفتارۍ ورکولې.

د هريپور په جېلخانه کې د نورو ټولو جېلخانو نه زيات خدايي خدمتګار قيديان وو يوازې دې جېلخانه کې ديارلس زرو نه زيات قيديان وو، حکومت په دوی ډېر ظلم شروع کړو چې دوی تنګ شي او معافي وغواړي، په يخ ژمي کې يې دوی له يو يو کمبل ورکړی و، چې د سپږو نه ډک و د سيمټو بارکونه وو هغه به يې پرې ووينځل يوه جوړه جامې وې هغه به يې هم ووينځلې، باران به ورېدو، جامې به يې جنګلو کې ځوړندې وې او کمبل به يې د ځان نه تاو کړې و، شپه به په ناسته تېره شوه په دوېمه او کله په درېمه ورځ به يې يوه چپاتۍ ورکولو چې يوه نوړۍ به شوه چې سړی به پوهېدو نو بيا به ختمه وه، د دې ظلم برخلاف يو بوډا هندو خدايي خدمتګار خبرې بندې کړې وې او د چپې خولې روژه يې ونيوله چې تر مرګه يې جارې وساتله، شپږ مياشتې پس هغه مړ شو او خپلو بچو د جيلخانې نه مړ بنو ته يوړو، د دې ظلم برخلاف د اتمانزو حيات ګل خدايي خدمتګار ځلوېښت ورځې بهوک هړتال وکړو او د سر انجام خان سپرنټنډنټ په خوله يې مات کړو هغه ورسره وعده وکړه چې ستا مطالبې منُو سر انجام خان چې سپرنټنډنټ شو نو قيديانو له يې تسلي ورکړه او زور ظلم يې ختم کړو او قيديانو مشقتونه شروع کړل، د ده دا سلوک د پيرنګيانو خوښ نه شو نو دی يې بدل کړو او د ده په ځای يې د بهار صوبې نه يو پيرنګی را وغوښتو چې نوم يې سمتهـ و، هغه هم په اوله کې خدايي خدمتګارو سره ښه جنګ

وکړو او خدايي خدمتګارو ښه په نره د ده مقابله وکړه. د ټاټ ورديو ولاړې اتکړې، بندې چکۍ، ډنډه بېړې او نورې سزاګانې يې ورکړې درې کاله يې په خدايي خدمتګارو دغه تکليفونه تېر کړل خو سمتهه کامياب نه شو او د دې نه پس بيا خدايي خدمتګارو سره ډېر ښه شو.

زمونږ د کتوزو عبدالله جان او د هغه پلار قلي خان ته پېش شو هغه د چارسدې اسسټنټ کمشنر و هغه په عبدالله جان رعب واچولو کچرۍ د خلکو نه ډکه وه پوليس ولاړ وو قلي خان ورته ووې چې ته د پيرنګي حکومت خلاف نظم وايې چې:«د انقلاب به شم ځار ځار» عبدالله جان ورته ووېل چې زه اوس هم دا وايم په فخر يې په چغه داسې ووېل «د انقلاب به شم ځار ځار- که څوک مې سرکاندي په داردار» زمونږ د ځوانانو د جرات داسې ډېرې کيسې دي چې هيڅ شان د چا رعب پرې اثر نه کوي دا خو درته ما مثال بيان کړو.

## هزارې باغ جېل کښې:

حکومت زمونږ سره د سرحد نه يو سردارخېل د پوليس انسپکټر له خپله طرفه لګولی وو، هرې صوبې ته چې به زمونږ ګاډی روانېدو نو دغه پوليس به زمونږ د نګرانۍ او حفاظت انتظام کولو او هغه به راسره کېده، د پنجاب پوليس يو انسپکټر چې په مونږ لګېدلی و. ددې انسپکټر دا کار و چې کله به مونږ د ډبې کړکۍ لرې کړه نو دی به راغی او هغه به يې بنده کړه اخر ما ورته ووې چې انسپکټر صاحب مونږ خو ښځې نه يو چې مونږ کړکۍ د هوا دپاره لرې کړو ته يې بنده

کړې چې دوی څوک ونه ویني او زمونږ دا د صوبه سرحد انسپکټر سردارخېل د ډاکټر صاحب او د قاضي صاحب ډېر اشنا و، او دا به یې هم وې چې زه ډاکټر صاحب د مرګ نه بچ کړی یم قاضي صاحب سره د اخبار ډېر شوق و، ده به د هغه خپل اشنا نه اخبار غوښته خو هغه د وېرې نه اخبار نه ورکولو زما خو همېشه دا قاعده ده چې ګرفتار شم نو چې کوم پولیس ماسره وي نه ترې تپوس کوم او نه ترې څه غوارم. زمونږ دا ګاډی چې به د کویلې او اوبو اخیستو دپاره ودرېدو نو مونږ پسې خو به کړکۍ او ورونه بند وو او که زمونږ به کوزېدو ته شوق شوی و، نو دې پنجابي به نه پرېښودو،څه وخت چې زمونږ ګاډی یو پې ته ورسېدو نو زمونږ د چارج اخیستو دپاره یو انګرېز افسر او یو ګوره سارجنټ راغی،او چې هغه چارج واخیستو نو زما ډبې له راغی او د ډبې د روازه یې لرې کړه او ماته یې ووې چې راځه را کوز شه تېشن کې وګرځه پښې ازادې کړه.اوس د دغه انګرېز او د پنجاب د دغو مسلمانانو افسرانو د رویې مقابله وکړئ! انګرېز سره خو زمونږ جنګ و او مونږ ترې حکومت اخیستو او دا زمونږ مسلمان پنجابي ورور و،چې مونږ د دوی دپاره حکومت ګټلو،دا ورځ د دوی د (بړه ده) رومبۍ ورځ وه هغه په ډېره مینه محبت ماته شراب راوړو ماته یې ډېر په مینه،محبت سره پېش کړل ماورته ووې چې معافي غوارم زه شراب نه څکم هغه زما په دې خبره حېران شو، زه به د هغه دا رواداري او محبت هېچرې هېر نه کړم او څه وخت چې اله اباد ته ورسېدو نو دلته یې زمونږ نه ډاکټر صاحب کوز کړو او هغه یې د اله اباد نیني جېل ته ولېږه. بیا

يې سعدالله کوز کړو او هغه يې د بنارس جېل ته ولېږه. بيا د بهار صوبه شروع شوه او دلته يې قاضي عطاالله صاحب زما نه کوز کړو او د ګيا جېل ته يې ولېږه او زه يې د هزارۍ باغ جېل له روان کړم. د هزارۍ باغ جېل د تېشن نه څلوېښت ميله لرې دی. زه چې يې موټر کې کښېنولم نو ماسره دوه پيرنګيان يو ډپټي کمشنر و، بل د پوليس کپتان و کښېناستل او دا زمونږ سردار خېل انسپکټر هغوی سره کښېناستو، کښېناستو سره هغوی ماله يو انګرېزي اخبار راکړو(چې سردارخېل انسپکټر خپلو دوستانو او محسنانو له نه ورکوو) چې زه يې جېل ته دننه کړم او زه يې بارک له بوتلم نو د جېلخانې افسر چې هندو و راته ووې چې دا تا سره چې د پوليس افسر و دا څوک دی؟ ما ورته وې چې ما نه ولې د ده پوښتنه کوې؟ نو هغه راته ووې چې ما ته خو ډېر رذيل سړی ښکاره شو هغه ما ته وويل چې دا ډېر خطرناک سړی دی فکر ورته کوه. زه يې يو بارک کې يوازې بند کړم او دوی رانه لاړل. ما ته بغير د لوی صاحب(سپرنټنډنټ) او وړوکي صاحب (جېلر) د ليدو نه د بل چا د راتلو يا ليدو اجازت نه و، زما د بارک وړاندې يو سړک چې په هغې به جېل والا تلل راتلل هغه يې بند کړ ما سره د خدايي خدمتګارو ډېر فکر او غم و، په تنهايۍ کې زه ناجوړه کېږم. دلته زه بالکل تنها وم خوب به مې پوره کولی نه شو او ډوډۍ مې هم خواته نه کېده چې په دې کې مې يوه شپه خوب وليدو چې يو لوی سين دی د هغه په غاړه يو ښکلی ګنبد دی زه په هغه کې ناست يم چې په دې کې سېلاب راغی او دې ګنبد ته رانږدې شو دا ګنبد يې وجړقوو زه ډېر وېرېدم ماوې خدای

دې خير كړي چې زما د پاسه راپرې نه وځي خو څه ساعت پس هغه سېلاب تېر شو او ګنبد په كې لاهو نه شو، پاتې شو، چې د خوبه را ويښ شوم د خوب په ليدو ډېره تسلي مې وشوه.او هغه ډېر غمونه او فكرونه مې كم شو،ځكه چې زما زړه ته دا خبره راغله چې زمونږ په تحريک د هيبت كوم سېلاب راروان و، هغه به خير تېر شو او تحريک په كې لاهو نه شو. بيا مې فكر وكړ چې دا ټوله ورځ داسې بې كاره ناست يې نو صحت خو به دې نور خراب شي څه شغل او كار په كار دى چې زه پرې مشغول او دا وخت مې پرې تېرېږي نو سپرنټنډنټ صاحب ته مې وويل چې زه دلته بېكاره ناست يم او بېكاري ماته ښه نه ښكاري ته ماله يوى، څسكوره او رمبى راكړه،زه د خپل بارک مخكې دا بنجره ځمكه ابادوم. په دې كې به ځانله سبزي كرم، هغه ماله دوه قيديان راكړل، هلته چې كومه لږه غونډې ځمكه وه هغه مې اباده كړه او سبزي او ګلونه مې په كې وكرل.د دې نه ما ته دوه فايدې وشوې، يو خو راته كار پيداشو چې زه به پرې مشغول يم او وخت به مې ښه تېرېږي. او بله دا چې يوازې وم نو د خبرو ملګري مې پيدا شول.

زه (شاهي قيدي) وم، ډپټي كمشنر به راله هره مياشت راتلو د هرې مياشتې په اول تاريخ به راغى، دې كې هغه چرې ناغه كړې نه وه هغه هم د دې ګلونو او سبزو كرلو ډېر شوقين و ما سره به يې هم په كې ډېر امداد كولو كله نا كله به يې را له تخمونه هم راوړل. ډېر ښه سړى و په كې ډېر انسانيت و، دى چې به هره مياشت راغى او زه به يې وليدم زما دا تنهايي به يې محسوسوله او زما نه به يې تپوس كولو چې تا ته څه تكليف

خو نشته؟ ما به ورته ویل چې جېلخانه خو د تکلیفونو ځای دی. زما دا عادت دی چې په جېلخانه کې نه څه غواړم او نه (Complaint) شکایت، کوم او ټول تکلیف په ځان تېروم. شپږ میاشتې تېرې شوې او ده خپله ولیدل چې صحت مې خراب شو او نور هم خرابېږي نو بغیر زما د وینا نه یې د صوبه سرحد حکومت ته ولیکل چې ده له یو ملګری په کار دی او په ګیاجېل کې د ده ملګري دي هغه دې دې جېلخانې ته رابدل شي، هلته قاضي عطاالله خان و، هغه غریب هلته یوازې و او زما نه هم زیات په تکلیف کې و، زه به څه نا څه اُوده کېدم او خوب به راغی او هغې غریب له خوب نه ورته او نه اُوده کېدی شو، ځکه چې د تنهایۍ په وجه یې یو کال هډوخوب نه و کړی. د ګیا جېلخانه د هندوستان په ټولو جېلونو کې ګرمه ده بله دا چې زه او قاضي صاحب په یوه صوبه بهار کې وو او ډاکټر صاحب او سعدالله خان په بله صوبه یعنې یوپي کې وو ولې سر ریلف ګریفتهـ زما او د قاضي صاحب ډېر مخالف و، نو مونږ دواړه یې نه یو ځای کولو د هغه په ځای یې ماله ډاکټر صاحب راولېږلو. چې ډاکټر صاحب راغی مونږ یو بل ته ورترغاړه وتو او کال پس یې قاضي صاحب سعدالله له ولېږه.

ماسره څنګ په څنګ د ښځو جېلخانه وه په هغې کې سیاسي قیدیانې وې د راجندرپرشاد خورهم په کې وه، یوه ورځ چوټا صاحب (ډپټي سپرنټنډنټ) ماله راغی ماته یې ووې چې ښځو ډېر تنګ کړی یم او راته وایي چې ته مونږ ته دی وښیه او که راته یې نه ښیې نو مونږ ایجي ټیشن کوو دا خو زه کولی نه شم نو ته مهرباني وکړه دوی ته جواب ولېږه او ما

ترينه خلاص کړه ما هغوی ته جواب ورولېږلو او دی تري خلاص شو.

چې ډاکټر صاحب راغی او هغه وليدل چې ما خو دوی همېشه په بارک کې بندساتي او زه خو به نيني جېل کې جواهر لال سره همېشه بهر ګرځېدم نو د هزارۍ باغ جېل سپرنټنډنټ چې هغه يو پنجابی و او ډاکټر صاحب سره د يورپ په جنګ کې يو ځای پاتې شوی و، خو ډېر بزدل سړی و، ډاکټر صاحب هغه ته د بهر ګرځېدو خبره وکړه نو ده ووې چې: «نه بهايي مين مارا جاونګا» يعنې نه وروره دا خبره مه کوه زه به اووهلی شم، خو ډاکټر صاحب دا خبره نه پرېښوه نو اخر مونږ ته د بارک نه بهر ګرځېدو اجازت وشو. په دې جېلخانه کې بابو راجندر پرشاد او د بهار لوی ليډران قيد وو، اچاريه کرپلاني هم دلته و، هغوی نه زما نه خبر وو اونه زه د هغوی نه خبر وم مونږ چې بهر ګرځېدو يوه ورځې مو د هغوی يو ملګری وليدو نو هغه ډېر حېران شو وې تاسو کله راغلي يئ، ما ورته ووې چې زما خو دلته اتمه مياشت ده او ډاکټر صاحب يو څو ورځې کېږي چې راغلی دی، هغه راته ووې چې دلته خو مونږ د بهار ډېر سياسي قيديان يو بيا به مونږ کله کله د هغوی ليدو له ورتلو، د بهار هغه داروغه صاحب د راجندر پرشاد کلاس فيلو(همصنفي) و، ډېر ښه سړی و او د قوم پرستو سره يې ډېره همدردي کوله. مونږ يوه ورځ چوټا صاحب سره دا خبره وکړه چې د دې ځای نه چې کوم سياسي قيدي رها کېږي هغه يوه ورځ مازيګر مونږ له د رها کېدو نه مخکې رالېږئ، مونږ به هغه له مېلمستيا کوو.

د بهار خلک ډېر ښه خلک دي، لیکن دا چُوت چات په کې ډېر زیات دی مونږ سره د یو ځای په اوسېدو په دې خلکو کې ډېر بدلون راغی او ډېره اصلاح یې وشوه، یوه ورځ یو سیاسي قیدي زمونږ مېلمه و، چې چای راغله نو چای سره ګرمې ګرمې پیکوړې او تلېدلي باتینګڼ هم وو ما به په پیالې کې چای ورکوله او بیا به مې پیکوړې پخپل لاس ورکولې او ډاکټر صاحب به تلیدلي باتینګڼ هم هغه له ورکول او هغه چای سره پیکوړې او باتینګڼ هم خوړل او چې چای ختمه شوه نو هغه ډېر وخندل او بیا یې مونږ ته ووې چې په مونږ کې دومره چُوت چات دی چې یوه ورځې مسلمان ډاکي راغی او هغه ما له زما خط راکړو نو هغه نه د خط اخیستو په وخت کې یوه ځنډه هغه نیولې وه او بله ځنډه ما نیولې وه، په دغه وخت کې زما ورور ما سره ولاړ و، هغه په ما اوبه واړولې او راته یې ووې چې ته خو پلید (بهرشټ) شوې.

د بهار لیډرانو سره زما محبت و د هغوی محبت زه د زړه نه نه شم اوښکلی. د بهار ښځې نر ډېر بهادران دي او هغوی د ملک د ازادۍ دپاره ډېرې قربانۍ کړې دي او زه به درته د یوې ښځې کیسه وکړم چې هغه مونږ سره قیده وه.

## بهادره ښځه:

یوه ورځ چوټا صاحب راغی او خندل یې او ما ته یې ووې چې تا ته نن د یوې ښځې کیسه کوم چې دلته قیده ده، نن جېلخانې له د هغې وکیل خاوند ملاقات له راغلی و، او هغه سره پینځه بچي وو، د ملاقات په وخت کې خپلې ښځې ته یې

ډېر منت وکړو چې دا دوه واړه ته واخله او دا درې لوی به ما سره وي ښځې ورته ووې چې دا ټول به ته ساتې ما خو دا ټول ساتل خو تا زما خبره ونه منله نو اوس یې ساته نو چوټا صاحب ووې چې ما هغې ښځې ته ووې چې دا بچي ولې نه ساتې؟ نو هغې ځواب راکړو چې څه وخت د کانګرس د جنګ بیګل ووهل شو نو ما دې خاوند ته ووې چې دا د ملک اوقوم جنګ دی ته هم لاړ شه خو ده ووې چې زما یو دوه مقدمې دي چې دا ختمې شي نو بیا به لاړ شم. څه ورځې پس مې ترې پوښتنه وکړه چې مقدمې ختمې شوې که نه؟ نو ده ووې چې لږې غونډې پاتې دي. څه ورځې پس مې بیا ترې تپوس وکړو نو هغه دغه ځواب راکړو چې دې بچو سره څه وکړو؟ ما وې چې دا بچي به زه ساتم ولې دی قید ته تیار نه و او زه پوه شوم چې جېلخانې له نه ځي نو زه پخپله راغلم پکټینګ مې وکړو او قید شوم او بچي مې ده ته پرېښودل. د کوم قوم ښځو کې چې دومره قومیت او بهادري وې نو هغوی ضرور خپل منزل ته رسي(او دغه وجه وه چې انګرېز مجبوره شو او زمونږ ملک یې پرېښو).

د ډاکټر صاحب د راتللو نه پس یې بیا مونږ بل بارک ته بدل کړو،د غه بارک سره ډېره مځکه شاړه پرته وه ما چوټا صاحب ته ووې چې زه دا مځکه ابادوم ما سره امداد وکړه هغه ماله دوه قیدیان راکړل، ما په هغه مځکه شروع وکړه او اباده مې کړله. په دې مځکه یو ارټ هم و ما الوبالو، ګنې، قسم قسم سبزۍ وکرلې.د بهار پپیتې ډېرې خوږې وې یو لوی پټی مې ښه جوړ کړو او دا مې په کې وکرلې. ډپټي کمشنر به میاشت

په میاشت راتلو ما سره یې په دې کار کې ډېره دلچسپي وه او کله نا کله به یې د مولو، ټیپرو تخم هم راکوو او راته به یې وې چې زما هم د زراعت سره ډېر شوق دی، دا جېلخانه په ځنګل کې وه کله نا کله به د زمرو اوازونه مونږ اورېدل او په دې جېلخانه کې به د شپې ډېر ماران راو تل او هغه به داسې زهریله وو چې سړی به یې وچیچلو او فوراً به ورته انجکشن ونه شو نو دوه ګېنټې کې به مړ شو. زه به د شپې د ډوډۍ نه پس ګرځېدم. سپرټنډنټ صاحب خو ډېر منع کولم چې مار به دې وچیچي نو ما به ورته وې چې زه ونه ګرځم نو نه خوب راځي او نه مې ډوډۍ هضم کېږي نو بیا هغه ماله یو ګیس لېمپ واخیستو او د شپې به چې ګرځېدم نو هغه به د ملازم سره و هغه به مخکې و او زه به ورپسې وم او چې کله به برسات شروع شو نو دا ماران به ډېر زیات شول او چې مونږ به د شپې ګرځېدو نو چې چېرته به ډنډوکی و، نو هغې کې به بېشماره ماران رېېدل. دا ماران واړه واړه وو خو ډېر خطرناک وو. زه به وختي سحر پاڅېدم یوه ورځ چې پاڅېدم نو ګرګابی کې مې پښه منډله خو چې د اګرګابی مې په پښه سموله او هغه نسکوره شوه نو یو کریټ مار ترې روان شو، خدای ترې وساتلم دلته زمونږ یو مشقتي و ډاکټر صاحب سره به یې ډېر ګپ لګوو. په دې کې ډېر قیدیان د ځنګلي علاقې وو ډاکټر صاحب ته یې وې چې مونږ ښځې او نر لاسونه سره ورکړو او په جمع ګډېږو، یوه ورځ ترې مونږ پوښتنه وکړه چې په څه قید شوي یئ؟ نو هغه ووې چې سړی مې وژلی و او چې مقدمه را باندې جوړه شوه نو خپلو راله وکیل ونیو وکیل راته بیان

اوښولو چې دا به کوې، ما ورته ویل چې دا خو دروغ دي او زه دروغ نه وایم، وکیلانو خلک په دروغو اموخته کړي دي، حقیقت دا دی چې دا وکیلان چې د کوم وخت نه پیدا شوي دي نو په دې ملک کې دروغ او د دروغو مقدمې زیاتې شوې دي، خو ما دروغ ونه وې او رښتیا مې وې، چې د رښتیاوو په برکت له پانسۍ نه خلاص شوم.

حکومت زما بچو له الاونس نه ورکولو حالانکه د ډاکټر صاحب او قاضي صاحب بچو له یې ورکولو او بله لوبه یې مونږ سره داکړې وه چې زما جایداد خو ډېر و، خو د ګورنمنټ په اشاره زمیندارو زما حصه ګډوډه کړه او ماله یې څه نه راکول. نو زما زوی غني د پیسو د نشت په وجه د امریکې نه واپس شو او خپل تعلیم یې پوره نه کړه، زما هغه د پیپتو باغ پوخ شو او یو دوه مونږ خوړلې وې چې زمونږ د رهایۍ حکم راغی مونږ خو ډېرې پیپتې کرلې وې او هغه پخې شوې وې اګر چې په دې جېلخانه کې د ننه د پیپتو د کرلو حکم نه و، خو ماله جرنیل خاص اجازت راکړی و، نو چې مونږ خلاصېدو جېلوالا او قیدیان ډېر خپه و، ویل یې چې تاسو رها شئ او لاړ شئ، مونږ به دا د ښخه وباسو، پیپتې په پخېدو راغلې وې ډېرې خوږې وې. اول په دې جېلخانه کې د پیپتو د کرلو اجازه وه خو هغه قیدیانو اېستلې وې د یوال ته یې اېښې وې او تښتېدلي وو نو ځکه د پیپتو کرل بند شوي و.

چې ډاکټر صاحب نه و نو زما د خوراک ډېر بد حال و ددې خلکو او زمونږ خوراک کې ډېر فرق دی او زه پخلي باندې نه پوهېدم چې ډاکټر صاحب راغی نو بیا کار ښه شو ولې چې هغه به ډېر ښه پخلی

کولو او بیا یې زمونږ مشقتي ته چل وښوده هغه بیا مونږ له ښه ډوډۍ ښځوله ما به د اتوار په ورځ روژه نیوه او ورسره به مې د خبرو هم روژه وه ولې چې زما د ډېرو خبرو کولو عادت و او ډېر قهرېدم به، د روژه ماتي د پاره به ماله ډاکټر صاحب پخپله پخلی کولو او په دغو ورځو کې چې ګاندهي جي بهوک هړتال کړی و ،نو ما هم ورسره کړی و او ماته داسې یاد ېږي ،چې اته ورځې و ، ډاکټر صاحب ما ته ووې چې زه چې په نیني جېل کې وم نو جواهر لال راته ووې چې مونږ غواړو چې خدایي خدمتګارو سره مالي امداد وکړو نو ده وې چې ما ورته ووې چې ډېره ښه ده،ما ورته ووې چې دا خو دې ډېر غلط کار کړی دی مونږ خو د کانګرس نه امداد نه اخلو مونږ هم د خپل ملک د پاره جدوجهد کوو کانګرس هم کوي نو مونږ له د هغوی نه امداد اخیستل خو ماته مناسب نه ښکاري او په دې خو مانه جواهر لال خپه شوی و. مونږ د هغوی نه ولې امداد واخلو مونږ خدایي خدمتګار به دوه،دوه نیم لکه خلک وي نو کانګرس به مونږ له څومره امداد راکړي بله دا چې دوی اوس امداد ورکړي نو هغه خو ټولو ته رسېدی نه شي نو په دوی کې به بې اتفاقي پیدا شي خو دا ښه خبره وه چې کر پلاني رها کېدو نو ما هغه ته ووې چې مونږ د کانګرس نه مالي امداد نه غواړو ډاکټر صاحب ته جواهر لال ویلي و، نو ده د امداد خبره منلې وه ته چې لاړ شې نو دا امداد بند که او ټولو لیډرانو ته ووایه چې هغه وې چې خدایي خدمتګار د کانګرس نه امداد نه اخلي،زمونږ باورچي چې زمونږ د رهایۍ واورېدل نو په ژړا شو،ما ورته ووې چې زمونږ په رهایۍ خپه یې؟ نو هغه وې چې نه ستاسو په رهایۍ خوشحاله یم خو ما سره د ځان غم دی، جېلوالا هم زمونږ په رهایۍ خپه وو زه هم په هغه خپلو پېیتو پسې ډېر خپه وم.

❋❋❋

# زما په صوبه سرحد او پنجاب بنديز

د ال انډيا کانګرس کمېټۍ اجلاس

واردا، کلکتې کښې، بمبۍ کښې، قيد دوه کاله، سابرمتي جېل، بريلي جېل، الموړه جېل، رهايي، وارديې ته، د خپل اولاد سره ملاقات، انتخابات او کانګرس ورکنګ کمېټۍ، زه بمبۍ کښې، د فيض پور کانګرس، د پښتنو په هکله غلط فهمۍ، انتخابات، مونږ واردا کښې، د کانګرس وزارتونه، مونږ بنارس، ډيلي، ګجرات، کاټياواړ کښې، د هندوستان د مسلمانانو فکر، د سندهـ او بلوچستان دوره

## په سرحد زما بندیز:

درې کاله پس مونږ د هزارې باغ جېل نه رها شو او پټنې ته راغلو او د هغې ښځې مېلمانه شو چې وکيل خاوند يې جېل ته نه تلو او دا تللې وه اومونږ سره جېلخانه کې قيد وه. په بهار کې زمونږ ډېر سياسي قيديان ملګري وو او زمونږ او د هغوی ډېر ښه تعلقات وو چې زمونږ د رهايي نه خبر شو او مونږ پټنې ته را ورسېدو نو را جندر پرشاد او هغه نور ليډران مونږ سره راغلل، زمونږ يو لوی جلوس يې وښکو او جلسه وشوه، د جلسې نه پس مونږ له حکومت دا نوټس راکړی و، چې پنجاب او سرحد باندې تاسو بند يئ، مونږ له ګاندهي جي او جمنالال بجاج دعوت رالېږلی و، چې تاسو چې حکومت په سرحد او پنجاب بند کړي يئ نو دلته واردې ته راشئ. بيا مونږ واردې ته روان شو.

## ال انډيا کانګرس کمېټۍ اجلاس:

مونږ په دسمبر ۱۹۳۴ع کې رها شوي وو. په بمبۍ کې د ال انډيا کانګرس کمېټۍ اجلاس و، نو چې زمونږ د رهايۍ خبر کانګرس ته ورسېدو نو د کانګرس کمېټۍ استقباليه کمېټۍ دا فيصله وکړه چې باچا خان دې د دې کانګرس صدر شي او راجندرپرشاد چې د ال انډيا کانګرس صدر مقرر شوی وو د هغه تار راغی چې زه صدر منتخب شوی يم خو ستا په حق کې مستعفي کېږم خو ما دا خبره منظوره نه کړه او د تار په ذريعه مې اطلاع ورکړه چې زه سپاهي خدايي خدمتګار يم. زه صدارت نه کوم، خدمت کوم. د دې جلسې پنډال زما په نوم

جوړ شوی و. او مونږ چې په کومه دروازه ورننوتو هغه لویه او ښکلې دروازه هم زما په نوم جوړه شوې وه، مونږ په دغه اجلاس کې شریک شو عبدالخالق خلیق صاحب او زمونږ نور ډېر پښتانه ورونه چې زما ستړي مه شي له راغلي وو هغوی هم دې جلسه کې شریک شوي وو. څه ورځې پس مونږ د واردې نه کلکتې ته لاړو او هلته د کلکتې کارپوریشن مونږ ته استقبالیه ایډریس راکړو او په کلکته کې زمونږ لوی استقبال وشو.

چې څه وخت کلکتې له تلم نو ګاندهي جې سره مې سلا او مشوره کړې وه چې پنجاب او سرحد ته خو زه تلی نه شم او هسې کښېناستی هم نه شم. زه خو خدایي خدمتګار یم خدمت به کوم نو اوس په دې باقي هندوستان کې بنګال او بل سندھ دی چې دلته د مسلمانانو اکثریت دی ستا څنګه خوښه ده چې کومه صوبه کې شروع کړم؟ نو په دې فیصله وشوه چې بنګال کې کار په کار دی، نو کلکتې ته لاړو په کلکته کې زمونږ ډېر لوی استقبال وشو، ما د مسلمانانو په علاقه کې خپلو تقریرونو کې مسلمانانو ته دا خیال ظاهر کړو چې زه ستاسو د خدمت دپاره راغلی یم. او زه په کلو کې کارکول غواړم ولې چې یو خو قوم په کلو کې اوسي او مصیبت زده او بې خبره خلک هم هلته وي بل ښارونو کې اخبارونه هم وي ریډیوګانې هم وي او کلو کې دا څیزونه نه وي.نو زه خو د هغوی د خبرولو دپاره راغلی یم او هغوی ته ورځم.

کلکته ښار کې د مسلمانانو یو مجلس(انجمن) و، او سهروردي صاحب د دې مجلس مشر و، او دغسې نور

مسلمانان هم دې مجلس کې وو. دې مسلم مجلس ما له دعوت راکړی و، چې مونږ ورغلو د بنګالیانو د رواج مطابق هلته د ټنګ ټکور انتظام هم شوی و، چې د سندرو او ګانې وخت وشو، نوما خواهش وکړو چې دومره به بس وي اوس به څه د مطلب خبرې هم وکړو او چې کله ما دا خواهش ظاهر کړلو چې زه د مسلمانانو علاقو او کلو ته تلل غواړم چې هلته کار وکړم. نو دې لیډرانو ته مې خواست وکړو چې ما سره یو تن داسې په کار دی چې زما د خبرو ترجمه په بنګالۍ کې کوي نو هغوی دا معذرت او بهانه وکړه چې د مسلمانانو په علاقه کې د ملیریا د تبو ورځې دي، ماشي دي او هلته تګ د صحت دپاره مضر دی، یعنې هغه پخپله تګ او خدمت خو پرېږده داسې کوشش و چې ما هم هلته د تللو نه منع کړي ځکه چې د هغوی په لیډرۍ کې فرق راته.

زه چې څه وخت د مسلمانانو نه مایوسه شوم نو ډاکټر پروفولاچندرګهوش چې زما دوست و او د کانګرس د ورکنګ کمېټی ممبر هم و، هغه مې د دې حال نه خبر کړو هغه ته مې ووې چې ما سره کلو ته لاړ شه ځکه چې دغه خلک صرف په بنګالۍ پوهېږي او ماله بنګالي نه راځي هغه راته ووې ښه ده، زه دې هر قسم خدمت کوم او د کلو په دوره درسره ځم خو دا د بنګال خلک خو مړه دي هلته ته څه کوې؟ زه او هغه د کلو په دوره روان شو، مونږ چې به کوم کلي ته لاړو نو ما به پخپله طریقه کار شروع کړو، خلکو له به ورتلو خبرې به مو ورسره کولې او ورته به مې وې چې دا هندوستان د سرو زرو ملک وو، هر کور کې به پۍ وې، غوړي او وریژې وې، لیکن اوس

څه چل وشو چې د دې ځيژونو قات(قحط) دی او زمونږ بچي وږي تږي بربنډ خوار و زار دي؟ هغوی غريبانانو به زما خبرې په غور او فکر اورېدې او په اخر کې به مې ورته وې چې تر کومې پورې دا ملک ازاد شوی نه دی او د دې ملک واک اختيار ستاسو په لاس کې راغلی نه دی نو تاسو او ستاسو بچي اباد به نه شي او په ګېډه مړه به نه شي دا ملک خدای مونږ له راکړی دی خو زمونږ د خود غرضۍ او ناپوهۍ، بې اتفاقۍ په وجه د دې ملک واک اختيار د انګرېزانو دی او ستاسو په ملک هغوی اباد دي. په دې طريقه مونږ چې څوورځې په هغه علاقه کې وګرځېدو، نو بيا به مو يو ځای د جلسې د پاره خوښ کړو زمونږ په اوله جلسه کې پنځوس کسان راجمع شوي وو، او څه ورځې پس چې مونږ دويمه جلسه وکړه نو هغې له دوه سوه خلک راغلي وو، او دغه شان پر له پسې د خلکو شمېر زياتېدو. په دې وخت کې مې پروفولابابوته وې چې تا ويل چې دا خلک مړه دې تا وليدل دا خلک مړه نه دي، ژوندي دي. دا مړه نه دي خو د دې غريبانانو خلکو غمخوار او همدرد نشته چې خدمت يې وکړي او راوېښ يې کړي چونکه د کانګرس جلسه شروع کېدله نو مونږ په هغې کې د شاملېدو د پاره بمبۍ ته راغلو، د کلکتې زما د هستوګنې په دوران کې غني او ولي دواړه ماسره وو.

د بمبۍ د کانګرس په اجلاس کې د عيسايانو د سوسايتۍ څو کسان ماله پنډال له راغلل او ماله يې دعوت راکړو. زه ورسره لاړم نو هغوی زما نه د خدايي خدمتګارۍ په باره کې پوښتنه وکړه ما ورته د خدايي خدمتګارۍ ټوله کيسه بيان کړه چې مونږ څه وخت خدايي

خدمتګارۍ کې داخلېږو او قسم خورو او خدای سره وعده کوو چې د خدای د مخلوق خدمت به کوو. د خدای خدمت د خدای د مخلوق خدمت دی، بیا مې ورته هغه ټول حالات او ظلمونه بیان کړل چې په مونږ تېر شوي وو.

ما ته دغه وخت پورې دا معلومه نه وه چې ربنتیا ویل هم د پیرنګیانو په قانون کې جرم دی،د کانګرس اجلاس ختم شو او مونږ واپس واردې ته راغلو ،نو ګاندهي جي سره مو سلا مشوره وکړه،او بنګال ته مې د واپس تلو پروګرام جوړ کړو او دا فیصله مو وکړه چې تر کومې پورې ما ته د خپلې صوبې د تلو اجازه شوې نه وي،نو تر هغه وخته به دغلته کار کوم زما د دغې ارادې پته چې حکومت ته ولګېده نو هغوی وویل چې د بنګال هندو خو وېښ شوی دی او دا مسلمان که هم را وېښ شو نو بیا زمونږ خیر نشته، نو په بمبۍ کې چې هغه عیسایانو ته ما کوم تقریر کړی و پولیس راغی او په هغې کې یې زه ونیولم. او بمبۍ ته یې روان کړم چې هلته په ټېشن کوز شوم نو ډېرې ښځې او سړي زما لیدو له راغلي وو زه یې جېلخانې ته بوتلم او زما مقدمه شروع شوه ګاندهي جي ماله ځواب راولېږه چې دا وخت د قید نه دی د کار دی ته جېل له مه ځه معافي وغواړه، ما ورته ووې، ما ته ښه معلومه ده چې حکومت مانه پرېږدي نو معافي ولې وغواړم؟ خو هغه پخپله خبره ډېر ټینګ و، او ما ته یې ووې چې صرف دومره ووایه چې (Regret) یعنې زه افسوس کوم. زما خو یقین و چې ما حکومت نه پرېږدي خو د ګاندهي جي هغه خبره مې ومنله خو سره د هغې یې هم زه دوه کاله سخت قید کړم.

## سابرمتي جېل:

زه يې څه ورځې د بمبۍ په جېلخانه کې وساتلم او بيا يې سابرمتي جېل احمد اباد ته چالان کړم د هغه ځای يو انګرېز سپرنټنډنټ و، ډېر سخت مزاج يې و،او د جېل قانون يې خدايي قانون منلو. زه يې ايکي يوازې په يو وارډ کې بند کړم او د هغه وارډ نمبردار ته هم د ننه د راتلو اجازه نه وه هغه به د وارډ دروازې ته جندره واچوله او پخپله به بهر کښېناست. د دې ځای په خوراک کې او زمونږ په خوراک کې ډېر فرق و ما له يې بي کلاس راکړی و ليکن د دې صوبې په بي کلاس کې او زمونږ د صوبې په سي کلاس کې هېڅ فرق نه و دلته د بي کلاس دپاره کټ نه و او په مځکه به څملاستو ما سره څوک د خبرو نه و دلته ډېر بيزوګان وو ما به دوخت د تېرولو دپاره هغوی سره لوبې کولې د دې خراب خوراک په وجه زه ناجوړه شوم.او زما انفلوئنزا شوه او باوجود د دې سختې بېمارۍ زه چا هسپتال ته بونه تلم او نه يې ماله په وارډ کې کټ راکړو.

زه د سيمټو په فرش پروت وم ماله چې يې کوم ترپړی د لاندې اچولو دپاره راکړی و، هغه دومره لنډ و،چې ما به پښې وغزولې نو په سيمټو به پرتې وې او د اغوستو دپاره چې يې کوم کمبل راکړی و،دومره لنډ و،چې سر به مې پټولو نو پښې به مې بربنډېدې او چې پښې به مې پټولې نو سر به مې بربنډ شو،دا ما سره ټول انتقامانه سلوک چې و د دې دوه وجې وې يو چې مستر ايمرسن د ګجرات په جېلخانه کې د معاينې دپاره راغلی و، دی هغه وخت د پنجاب وزير و، نو زه پخپله کډۍ ناست وم، دی دننه چکۍ ته راننغی او زه ورته د

اخلاقیانو قیدیانو په شان جنګلي ته نه وم ودرېدلی، دی په هغې خپه شوی و اوس دی د مرکز هوم سکتري دی، او بله خبره داوه چې شمله کې وم د کانګرس د ورکنګ کمېټې اجلاس له تلی وم ما ته وویل شو، چې وايسرای سره ملاقات وکړه، زما ور سره څه کار نه و او هسې هغه سره ملاقات کول د هغه وخت ضايع کول و، ما وې چې زما ورسره څه کار نشته نو ملاقات د څه دپاره وکړم او که د وايسرای را سره څه کار وي، نو هغه دې راته ولیکي، نو زه به ورسره ملاقات وکړم ما خو سمه خبره کړې وه، خو دوی ته ګستاخي ښکاره شوه، څه موده پس صوفیه سوم جي زما ملاقات له راغله، دا په هغه وخت کې د ټول هندوستان د کانګرس د زنانه رضا کارو کمانډره وه، چې وروسته یې بیا د سعدالله خان سره واده وشو، او د هغې نه پس ګاندهي جي هم زما ملاقات له راغی، ګاندهي جي چې زه ولیدم او زما سره د حکومت د سلوک نه خبر شو نو ډېر خپه شو او د هغه په کوشش سره یې څه موده پس ما له اې کلاس راکړو. د ګاندهي جي نه وړاندې سردار پټېل هم زما ملاقات له راغلی و ګاندهي جي د خپل عادت له مخه د ملاقات په وخت کې ما سره ډېرې ټوقې وکړې اوزه یې ډېر وخندولم. ما سره ملاقات باندې پابندي وه، چې بغير د خپلوانو نه بل چا سره ملاقات نه شي کولی او احمد اباد کې خو زما خپلوان نه وو، کله نا کله به د سعدالله خان ښځه صوفيه بمبۍ نه زما ملاقات له راتله هغې له یې هم اول ډېر تکلیف ورکړی و اجازه یې نه ورکوله هغې په ډېر زور اجازه حاصله کړې وه او دې به ورته ووې چې زه خو د ده د وراره سعدالله خان ښځه یم زه خو

یې رشته داره یم.

په دې جېلخانو کې قیدیانو سره ډېر خراب سلوک کېږي زه به یې تل په هغه خپل وارډ کې بند ساتلم. او د هغې نه اخوا دې خوا د ګرځېدو اجازت هم نه و ماته به یې څوک نه پرېښودل یوه ورځ زه اتفاقي د ملاقات نه راتلم ملاقات به زما د دروازې دپاسه د سپرنټنډنټ په دفتر کې کېدو په دروازه کې د بهر دینجو قیدیان ولاړ وو دروازه کې د دوی تالاشي کېده بربنډ وو یو لنګوټې به یې و، چې وړاندې وروسته به یې پټ وو، نور به ټول بربنډ وو، بس یو مزی شان به یې د ملا نه چاپېره و، په لیدو یې حېران شوم داسې معامله ما په بل جېل کې لیدلې نه وه. د هغه قطار نه به یې یو قیدي را بهر کړو هغه ټوکړه چې د ده فرض به یې پټ کړي و، هغه به یې پرانیسته قیدي غریب به ټول بربنډ شو او بیا به یې هغه کښېنولو او پاڅولو ماوې دا ځنګه ذلیله او شرمناکه طریقه ده نو هغوی راته ووې چې دا قیدیان بعضې څېزونه په ځان کې ومنډي او جېل ته یې دننه کوي، نو ځکه یې مونږ کښېنوو پاڅوو چې هغه څیز به ترې په کښېناستو پاڅېدو کې پرېوزي.

مالـه خـو یـې اې کـلاس راکـړو خـو د ګجراتیـانو او زمـونږ د پښتنو په خوراک کې ډېر فرق دی دلته داسې باورچي نه و، چې زمونږ په شان خوراک یې پوخ کړی وی. په دې دوران کې د جېلخانو جرنیل په دوره راغی او څه وخت چې ماله راغی نوما ورته ووې چې دلته زما د پخلي باورچي نشته نو په بمبۍ کې چې زه قیدوم هلته چې یې ماله کوم باورچې راکړی و، هغه ماله را وغواړه او بله دا چې د دې ځای دا اب وهوا زما د طبیعت

موافق نه ده نو ما ددې جېل نه بلې جېلخانې ته بدل کړه جرنیل صاحب ښه سړی و، په صوبه سرحد کې پاتې شوی و هغه ماته ووې چې زه تا پنجاب ته بدولم او ستا دپاره د پېښور نه پښتون باورچي راغواړم ما هغه ته ډېر ووې چې پنجاب زما د اخیستو دپاره تیار نه دی. زه په پنجاب بند یم او زه پښتون باورچې نه غواړم ما له خو د بمبۍ هغه باورچي راکړه! د هغه خیال خو ښه و. ده وې که دی پنجاب ته بدل شي نو کورته به نزدې شي او پښتون به دده په طبیعت کار کوي خو هغه د حقیقته خبر نه و هغه کوشش وکړو خو د پنجاب حکومت زما د اخیستو نه انکار وکړو او د پېښور نه حکومت یو داسې قیدي را ولېږلو چې پخوا ډاو ورتلل نه او د تې بې مریض هم و، نو زه یې بیا د دې جېل نه ډسټرکټ جېل بریلي ته بدل کړم.

دغه لوی جېل هم و او هغه کې سیاسي قیدیان هم وو که زه یې هلته بوتلی نه وی نو ما ته به ارام و لیکن هغوی خو ما له تکلیف راکولو دغسې زما د قید وخت تېرېدو.

## بریلي جېل:

د بریلي په وړوکي جېل کې یې زه په یو بارک کې ځان له بند کړم دا نوره جېلخانه خو اوچته وه او زما دغه بارک ښکته و، زه به د جېلخانې نه هغه ته په پوړو ورکوزېدم زه یوازې وم! زه یوازې ناجوړه کېږم او اخبار هم نه شم کتی نو سپرنټنډنټ ته مې ووې چې ماله لږه مځکه راکړه اباده به یې هم کړم سبزي به پرې کرم،نو هغه ماله مځکه راکړه،اوکار مې شروع کړو.ډاکټر صیب هم لکه زما په صوبه سرحد او پنجاب بند وو،خو چې

کله هلته په صوبه سرحد کې د مرکزي اسمبلۍ دپاره د يو ممبر د انتخاب اعلان وشو نو د دې صوبې جرګې ډاکټر صيب خپل اميدوار نامزد کړو، اګرچې ډاکټر صيب ته اجازت نه وو چې هغه د خپل انتخابي مهم په سلسله کې صوبه سرحد ته لاړ شي مګر بيا هم هغه په ډېر لوی اکثريت دغه انتخاب وګټلو او چې کله هغه د مرکزي اسمبلۍ ممبر منتخب شو نو هغه ته صوبه سرحد ته د تللو اجازت ورکړی شو.

د بريلي جېلخانې له سعدالله خان او د هغه ښځه زما ملاقات له هم راغلي وو، سعدالله خان راته ووې چې ګورنر راته وې چې د هغه د ارام دپاره مونږ د دې ځای نه باورچي ورلېږلی دی ما وخندل او ما ورته وې چې ګورنر صاحب ته ووايه چې کاکا مې ستا ډېر شکرګذار دی، ځکه چې تا هغه له زورور باورچي لېږلی دی سعدالله خان ته مې ووې چې هغه خو د دق مريض و هغوی د دې دپاره رالېږلی و چې دا مرض په ما هم ولګي او باورچي هم نه و ما په ډېرې خوارۍ بېرته واپس ولېږه، دې جېل ته ماله غني ا و ولي هم ملاقات له راغلي وو چې ډاکټر صاحب د مرکزي اسمبلۍ ممبر شو نو هغه ته د صوبه سرحد حکومت د تلو اجازه ورکړه او بيا يوه ورځ سره د خپلې اهليې (بي بي) زما ملاقات ته راغی.

ډاکټر صاحب سره د هغه لور مريم او زما لور مهرتاجه هم وه، د ملاقات نه مخکې ډاکټر صاحب جېل والاو سره ډېره جګړه هم کړې وه، جېل والاو ورته وې چې جېل کې د دريو کسانو د ملاقات اجازت وي او تاسو څلور يئ! زمونږ د ملاقات اجازه به زمونږ د صوبه سرحد حکومت ورکوله اجازه

دوی لـه د یـو خـط پـه ذریعـه ورکـړی شـوې وه او جګـړه دې جېـل والاو جـوړه کـړه ملاقـات وشـو. بـل ځـل قاضـي عطـاالله خـان او ثمـین جـان راغلـی وو، ثمـین جـان د نوښـار د حلقـې نـه د صـوبايي اسـمبلۍ دپـاره ودرېـدلی وو او د نوښـار د حلقـې خـدايي خـدمتګار دده مخـالف وو ځکـه چـې ده بـه هریپـور کـې ګـډې وډې خبـرې کـولې. دده خـواهش و چـې قـاري صـاحب او د خویـشکو سـیف الملـوک تـه ولیکـه چـې دده مخالفـت نـه کـوي مـا دوی تـه ووې چـې زه خـو قیـد یـم دا خـو د بهـر خلکـو کـار دی خـو د دوی نـه مجبـوره شـوم او خطونـه مـې ولیکـل او زمـا د هغـو خطونـو پـه وجـه دده مخالفـت هغـوی پرېـښودو او دی یـې منتخـب کـړو او ممبـر شـو لـیکن د وزارت جوړولـو پـه وخـت کـې چـې دی(ثمـین جـان) وزیـر نـه شـو؛ نـو زمـونږ نـه خپـه شـو. نـو بیـا زمـونږ نـه لاړو او هماغـه ثمـین جـان چـې مـا د قاضـي صـاحب پـه سـفارش ورتـه خـط ورکـړی و او د هغـې پـه وجـه کامیـاب شـوی و د هماغـه قاضـي مخالفـت شـروع کـړو، ځرنګـه چـې د خـدايي خـدمتګارۍ تحریـک خـدايي او بـې غرضـه تحریـک دی نـو کلـه چـې خـدايي خـدمتګارو یـو رښـیتینی خـدايي خـدمتګار اسـمبلۍ تـه کامیـاب کـړی دی هغـه د دوی پـه کـار راغلـی دی او کلـه چـې یـو سـړی دوی د خپلـو غرضـونو او تعلقـاتو پـه وجـه ودرولـی دی نـو اول خـو هغـه ناکامیابـه شـوی دی او کـه څـوک کامیـاب شـوي دي نـو هغـه هـم د دوی پـه فایـده نـه دي راغلـي بلکـې د فایـدې پـه ځـای یـې جماعـت تـه نقـصان رسـولی دی. بیرسـټر عبـدالغفور خـان خـو اډو د سـره خـدايي خـدمتګار نـه و، او نـه یـې څـه قـومي خـدمت کـړی و، لـیکن د ډاکټـر صـاحب د دوسـتۍ پـه وجـه نـامزد شـو، دی هـم د وزارت

امید وار و، خو څوک به وزیران کېدل؟ وزیران څلور وو او امیدواران ډېر وو، د ډاکټر صاحب بنګله د پارټۍ بازو یوه اډه جوړه شوې وه او په اخر کې دې خودغرضو جماعت سره بې وفايي وکړه. دغسې غلام غوث او جهانګير خان کُنډي اډو د سره کامیاب نه شو.

ما چې به په هغه پټي کې کارکوو نو ما سره جوخت يو بارک و هغه کې به هر وخت ژړا انګولا وه. يوه ورځ مې د قیدیانو نه پوښتنه وکړه چې دا څه کیسه ده؟ هغوی ویرېدل چې که شاجي خبر شي نو مونږ ترې څوک خلاصولی شي، نو هغوی راته ووې چې شاجي صاحب د پیسو د پاره دا قیدیان وهي او چکو کې یې بندوي او که په دې کار ونه شي نو بیا ورسره ډېر د شرم کار کوي جامې ترې وباسي او بیا یې يو بل ته مخامخ کښېنوي، او هر يو له نوسي ورکړي د يو بل د شرم له ځایونو نه وېښته را وباسي. قیدیان د دې شاجي د لاسه ډېر تنګ وو اخر مسټر پامر د جېلخانو جرنیل چې په پنشن لاړ نو د هغه په ځای کرنل سلامت الله خان د جېلخانو جرنیل شو. پامر ډېر بدې خور و او جېلرانو ورله رشوت کې حصه ورکوله څوک د پوښتنې نه و. دا ځکه د قیدیانو، خوارانو دا حال دی او کرنل سلامت الله خان ډېر ښه سړی و. دی په اول ځل بریلي ته راغی نو ناڅاپه جېل ته رانه‌ووت. د هغه دا طریقه وه چې هغه به جېلوالا نه خبرول بدې خور هم نه و، نو جېلوالا ترې ډېر وېرېدل چې د جېل دروازې له راغی او ویې لیدل چې قیدیان بهر صفایي کوي نو شکمن شو او فوراً یې د هغوی ټکټونه را وغوښتل سحر وختي و، د چا ګمان نه و چې جرنیل صاحب به

دومره وختي راځي، شاجي ډېر قيديان د صفايۍ د پاره وښکلي وو، چې زما به نوم وشي خو خداى ګير کړو او معطل شو قيديان پرې ډېر خوشحاله شول. شاجي موقوف شو. د جېلخانې داروغه چې ډېر بدې خورو، بد اخلاقه هم و، ماسره نږدې زنانخانه وه هغې له به هر وخت تلو راتلو زما چې څومره تجربه ده، دا کارونه همېشه قيديانو ښځو سره کېږي.

يخنۍ کې خو دلته ګذاره کېدله خو ګرمۍ کې ډېره ګرانه وه. يو خو زما هغه بارک ډېر په ډوغل کې و تنګ و او لوى لوى دېوالونه ترې چاپېره وو زما وړوکى بارک و. هغه د اوسپنو د جنګلو نه ډک و او په هغو د پاسه ټيکري پراته وو او په هغه کې ځاى په ځاى سُوري وو، په هغه کې به نور(نمر) لګېدو د يوپي د جېلخانو وزير سرمها راج سنګهـ و هغه جېلخانې له راغى او ماسره يې ډېرې خبرې وکړې همدرد او ښه سړيو، او زما د پاره يې وليکل چې دى دې د دې ځاى نه د يخ ځاى جېلخانې ته بدل شي. اپرېل او مۍ کې يوپي کې ډېره سخته ګرمي وي او جون کې برسات مات شي څه وخت چې برسات شروع شي نو موسم ښه شي او ګرمي کمه شي.

## د الموړې جېل:

حکومت د اپرېل او مۍ هغه سخته ګرمي په ما دغلته تېره کړه او په جون کې چې برسات مات شو نو زه يې د الموړې جېل ته بدل کړم ما چغې وهلې چې اوس خو برسات مات شو، اوس خلک د غرونونه مېدانونو ته راځي او تاسو ما غره ته لېږئ هغوى به وې دا د حکومت حکم دى. حکومت خو مالـه

څه ارام نه راکوو خو خپله پرا پېڅکنده یې کوله چې مونږ سیاسي قیدیانو سره ښه سلوک کوو. زه چې د الموړې جېل ته لاړم نو هغه خلک هم حېران شول چې حکومت خوعجیبه توقه وکړه په الموړه کې به اکثر بارانونه وو،او کله کله به اته،نهه ورځې شپه او ورځ باران و. زه به یوازې هغه خپل بارک کې ناست وم د زُول او باران په وجه به اکثر ناجوړه وم ،زه چې د بریلي په جېلخانه کې وم نو جرنېل سلامت الله خان زما کتو له راغی ډېر ښه سړی و، ما ته یې ووې چې څه خبره دې شته ما ورته ووې چې دا زما مشقتي ماله ډوډۍ پخوي او په هغې نه پوهېږي او دده تې بې مرض دی نو ما دده نه خلاص کړه نو هغه یې زما نه بدل کړو او واپس یې سرحد ته ولېږلو د الموړې په جېل کې داسې سړی نه وو چې ماله یې ډوډۍ پخه کړې وی او زما طبیعت هم ښه نه و، ډېر څه به مې خوړی هم نه شو بیا هم د یو سړي ضرورت خو و،سپرنټېنډنټ ښه سړی و او ما سره یې ډېره همدردي وه او د هغه دا کوشش و،چې ماله د بهر نه یو ښه باورچي راکړي نو چې حکومت ته یې ولیکل نو مانه یې تپوس وکړو او ما منع کړو خو هغه ولیکل او حکومت د بریلي د جېل نه یو قیدي را ولېږه چې دا دده زوړ باورچي دی هغه زما باورچي نه و بلکې زما جارو مارو. بله ورځ چې سپرنټېنډنټ صاحب راغی نو ما ورته ووې چې تا خو زما نه منله زما هغه خبره وشوه که نه؟ د پیرنګیانو حکومت د هغه چا دپاره ډېر ړُوند دی چې د چا زړه کې د خپل قام مینه محبت وي. څه ورځې پس جرنیل صاحب دلته الموړې ته په دوره راغی ما سره یې ملاقات وشو هغه ما ته ووې چې دلته بارانونه

ډېر دي او ستا صحت هم ښه نه دی که ته غواړې نوزه به تا د بريلي سنټرل جېل ته بدل کړم ولې چې هلته نور سياسي قيديان هم دي خو ماته لږه موده پاتې وه نو هغه مې دې جېل کې تېره کړه او په ۱۹۳۲ع کې د اګست په مياشت کې رها شوم.

## رهايي:

د رها کېدو په وخت کې سپرنټنډنټ د حکومت له طرفه يو نوټس راکړو چې هغه کې يې ليکلي وو چې سرحد او پنجاب ته تلل نه شي زما په خيال ددې لويه وجه دا وه چې په دغو ورځو کې زمونږ د صوبې د اسمبلۍ اليکشن کېدونکی و، نو ځکه يې زه بند کړم، هسې نه چې زما په اثر د خدايي خدمتګارو زياته کاميابي ونه شي. دغه شان چې په ۱۹۳۲ع کال کې زه او ډاکټر صاحب د هزارۍ باغ جېل نه رها شو نو هغه وخت هم زه او ډاکټر صاحب يې په سرحد او پنجاب بند کړي وو ځکه چې هغه زمانه کې د مرکزي اسمبلۍ انتخابات کېدونکي وو. باوجود د دې چې زه يې خپلې صوبې ته پرېښودم نه، خو بيا هم مونږ خدايي خدمتګارو په ځلو ښتو کې نولس سيټونه وګټل ځکه چې مونږ صوبه کې کار کړی و، او عوام مو د ووټ په اهميت او حقيقت پوهـ کړي وو او هغوی کې شعور پيدا شوی و.

## واردې ته تګ:

زه د جېل دروازې له راغلم نو بهر مې ډېر کانګرسيان

ولیدل چې زما د رهایی نه خبر شوي وو. زما خو هغه وخت اراده وه چې واردې ته لاړ شم مګر د الموړې خلکو پرې نه ښودم یوه شپه مې ورسره وکړه د شپې هغوی یوه لویه جلسه وکړه او ما په کې مختصر تقریر وکړو او سباله واردې له روان شوم، زمونږ ګاډی په یو ټېشن بدلیدو ډېر خلک هغه ټېشن له ماله راغلي وو زه ورله را کوز شوم زما اراده وه چې دا وخت زه په ټېشن کې تېر کړم خو هغوی په زور خپل ښار ته روان کړم د ډوډۍ د خوراک نه پس راغلم او په بل ګاډي کې سور شوم چې واردې ته ورسېدم نو ټېشن له جمنالال بجاج، مهادیو ډیسایي او نور ډېر خلک راغلي وو، معلومه شوه چې ګاندهي جي په واردا کې نشته او څلور میله بېرته سېواګرام کې اوسېږي ما ولمبل او جامې مې بدلې کړې شپه مې واردا کې وکړه سبا له سېواګرام ته لاړم. په سېواګرام کې یوه کوټه وه چې ګاندهي جي د څو کسانو سره هلته ناست و،زما په لیدو ډېر خوشحاله شو او مخې له راغی. زه یې ځان سره کښېنولم او تپوسونه یې وکړل.

د سیټ جمنالال بجاج زوی ما سره سېواګرام ته تللی و، هغه ویل چې باچاخان دې په وارده کې په هغه زوړ ځای کې چې په ۱۹۳۴ع کال کې دی او ډاکټر صاحب په کې ډېره وو واوسي. د ګاندهي جي هم دا خواهش و، خو زما هم دا خوښه وه چې زه دې په سېواګرام کې پاتې شم خو بیا زما دا خیال پیدا شو چې هسې نه د نورو په ارام کې مخل نه شم ځکه چې دغلته یوه کوټه وه او هغې کې دوی څلور شپږ کسان ډېره وو او د ګاندهي جي مېرمن او ورسره یو څو ښځې هم وې ګاندهي جي

زما په خیال پوه شو نو ما ته یې ووې چې که تا ته تکلیف نه وي نو مونږ ته ستا په پاتې کیدو کې هیڅ تکلیف نشته. دویمه کوټه د دې ښځو د پاره وه ما ته خو څه تکلیف نه و او ګاندهي جي سره خوشحاله وم زما ضروریات خو ډېر کم وو د ګاندهي جي د پُوزي سره یې یو بل پُوزی واچولو وې دا یو ستا او یو زما؛ دغه کوټه کې مونږ ډېر کسان وو خو ماته څه تکلیف نه و چونکه زمونږ مقصد یو و نظریه یوه وه د هغه په وجه مونږ یو وو. پښتانه وایي چې زړه تنګ نه وي نو ځای نه تنګیږي.

## د خپل اولاد سره ملاقات:

زما د رهایی نه چې خلک خبر شو نوغني، ولي او مهرتاجه زما لیدو له راغلل د مهرتاجې دوه کاله تعلیم ضایع شوی و،اودا لا شکر و چې ډاکټر صاحب مهرتاجه او خپله لور(مریم) چې دواړه همزولې وې او یو بلې سره یې ډېره مینه محبت و.دا دوه کاله هغوی سره ډېره وه. ولي ببرته کلي ته لاړ او غني او مهرتاج ماسره پاتې شول هلته خو تش ایشیدلي شیان وو ولي هغه خوړی نه شول اومهرتاجه او غني هغه شان نه وو.زه په دې فکر کې وم چې مهر تاجه د مسلمانانو په یو ښه سکول کې داخله کړم ما داسې سکول نه شو موندی نو ډېر وخت تېر شو او اخر مجبوره شوم او د پروفیسر مجیب صاحب په امداد مې مهرتاجه په لکنهو کې د مسلمانانو په یو سکول کې داخله کړه،غني هم ګولي(ګولاګوکر ناتهه) ته لاړو چې هلته یې د ترو په کارخانه کې کار کولو،پاتې علي شو هغه په ډېره دون کې د

کرنل براون کیمبرج سکول کې سبق وې چې د هغه چوټې وشوه نوهغه هم ماله واردې ته راغی د غه سکول په انګرېزی طریقه و ،انګرېزي خو ورتله او په اردو باندې نه پوهېدو ماته دا خبره فایده منه ښکاره نه شوه فېصله مې وکړه چې دی په داسې سکول کې داخل کړم چې انګرېزی سره اردو هم وایي،د ګاندهي جي په صلاح مې هغه د پنج ګلي په یو کېمبرج سکول کې داخل کړو، دا پونې سره نزدې د اب و هوا په لحاظ ډېر ښه غر دی.

## انتخابات او کانګرس ورکنګ کمېټی:

په دغه ورځو کې د الیکشن کیسې وې نو د کانګرس ورکنګ کمېټی د دې د پاره را غونډه شوه، په دې بحث و چې د کانګرس په ټکټ څنګه خلک ودروو؟ زما رایه خو دا وه چې مونږ له په کار دي چې د کانګرس وفادار ازمایلي شوي غړي ودروو، چې د قام دپاره چا ځاني او مالي قرباني ورکړې وي خو د اکثرو ممبرانو خیال دا و او دغه فېصله هم وشوه چې که یو سړی د کانګرس په ټکټ دستخط کوي او پیسې هم ورسره وي او د کامیابی امید یې وي نو هغه به مونږ ودروو نو د کانګرس به ډېر ممبران منتخب شي خو داسې کسانو کانګرس ته کافي نقصان رسولی دی او بیا په هغه وخت چې کله کانګرس د وزارتونو د پرېښودو فېصله وکړه.د ورکنګ کمېټی په اوله جلسه کې چې زه کښېناستم نو معلومه شوه چې د دوی په مینځ کې ډېر اختلاف دی. یو طرف ته جواهر لال و ،او بل طرف ته سردار پټېل او راجګوپال اچاریه وو ګاندهي

جي سره مې هم دا ذکر وکړو هغه هم په دې اختلاف خوشحاله نه وو هر کله چې زه په دغه پرو جنبو کې نه وم،زما دواړو ډلو سره ډېر ښه تعلقات وو او کوشش مې شروع کړو چې د دوی اختلافات کم شي،زه تر ډېره حده پورې هغې کې کامیاب شوم.په بمبۍ کې د کانګرس جلسه وه څرنګه چې زه په بمبۍ کې قید شوی وم نو د هغوی ډېر خواهش و،چې زه دې دغه جلسه کې شریک شم. د ګاندهي جي دا خبره خو ښه نه وه او زما د بمبۍ د تللو مخالف و،هغه پوهېدو چې دی به بیا څه تقریر وکړي او حکومت به ورته بهانه جوړه کړي او قید به یې کړي جواهر لال چې خبر شو نو ډېر خپه شو ګاندهي جي له لاړو او پخپله ذمه واري یې اجازت حاصل کړو او زه یې ځان سره بمبۍ ته بوتلم.

## زه بمبۍ کښې:

د بمبۍ خلکو زما ډېر ښه استقبال وکړو،د بمبۍ هغه کرسچین ایسوسي ایشن چې د چا سره په تقریر زه قید شوی وم،هغوی او د هغوی سره نورو جماعتونو ما له ایډرسونه راکړل. په ورکنګ کمېټۍ کې د قراردادونو په سلسله کې چې به اول څومره بې اتفاقي وه زما د کوشش په وجه هغه اختلافات نه وو او په ډېره ښه طریقه هغه جلسه ختمه شوه. ما د جلسې نه پس څو ورځې صوفیې او سعدالله سره تېرې کړې او بیا سېواګرام ته راغلم. سېواګرام ته به هر قسم خلک ګاندهي جي له راتلل یوازې سیاستدانان نه. د سېواګرام ژوند ډېر ساده او باقاعده و،دغلته ورو ورو زمونږ شمېر زیاتېدو. د

ګاندهي جي خو دا خوښه نه وه چې دلته دې د خلکو تعداد زيات شي نو اخر يې رخصت ورکړو. د ښځو، نرو شمېر کافي زيات شوی و، د هغوی د اوسېدو د پاره هم هغه دوه کوټې وې هلته د دې خبرې څه باک نه و اکثر به هلکان جينکۍ په برنډه کې يو ځای څملاستل، خو زما دا خبره خوښه نه وه دغه هلکان او جينکۍ ډېر ښه او پاک وو، خو زما دا خيال و چې دوی په دې ازمېښت کې اچول په کار نه دي ما دا خبره غوره وګڼله چې هلکان او جينکۍ دې بېله بېله برنډه کې څملي، ګاندهي جي هم دا تجويز خوښ کړو.

په ۱۹۳۷ع کال د کانګرس د انتخاباتو وخت را نزدې شو او د راجګوپال اچاريه نوم د صدارت دپاره تجويز شو او فېصله پرې وشوه ليکن څو ورځې پس په مدراس کې د يوې واقعې په بنا هغه خپل نوم بېرته واخيستو مګر دا د هغه يوه بهانه وه حقيقت دا و چې هغه د مدراس د اسمبلۍ دپاره ودرېدل غوښتل او که چېرې هغه د کانګرس صدر شوی وی نو بيا خو د اسمبلۍ دپاره ودرېدی نه شو، نو جواهر لال وويل زه ودرېږم، په سېواګرام کې لږې ورځې پس د ورکنګ کمېټۍ يو اجلاس وشو سردار پټېل دا تجويز پېش کړو چې جواهر لال دې دوباره دکانګرس صدارت ته نه ودرېږي. جواهر لال وويل که چېرې باچا خان ودرېږي نو زه نه ودرېږم او که چېرې باچا خان نه ودرېږي نو بيا زه ودرېږم خو زه دې خبرې ته تيار نه وم، ځکه چې هغه په دويم ځل دکانګرس صدر شو نو يو بيان يې ورکړو چې د هغې نه د بعضې خلکو دا خيال پيدا شو چې د هغه ددې بيان مطلب دا دی چې زما کاميابي د سوشلېزم په

وجه وشوه او دا د سوشلېزم کاميابي وه. زمونږ د کانګرس کمېټۍ بعضې ممبرانو په دې بحث وکړو او دا فېصله يې وکړه چې ددې ځواب کې مونږ هم يو بيان اخبارونو له ورکوو بابو راجندرپرشاد او پټېل يو بيان تيار کړو او دستخطونه يې پرې وکړل. ماله مهاديو ډيسايي د دستخط دپاره راوړ ليکن ماته هغه خبره دغسې نه ښکارېده نو دستخط مې ونه کړو اومهاتماجي ته مې ووې چې ښه به داوي چې جواهر لال ته يو تار ورکړئ او پوښتنه ترې وکړئ چې د دې بيان نه ستا څه مطلب دی؟ ما ورته ووې چې زما دا خيال دی چې د هغه دا مطلب نه دی، تار يې ورکړو جواب راغی چې زما د بيان نه کوم مطلب تاسو اخيستی دی هغه نه دی. د ګاندهي جي، جواهر لال سره ډېره مينه وه، جواهر لال خو ګاندهي جي د پلار په شان ګڼلو خو بعضې خلکو کوشش کولو چې د دوی په مېنځ کې خفګان پيدا کړي نو تر څوپورې چې زه هلته وم نو ما به د دې غلط فهمو لرې کولو کوشش کولو او د ورکنګ کمېټۍ د نورو ممبرانو په مينځ کې به مې هم کوشش کاوه، ځکه چې ما ته بې اتفاقي د مقصد په لاره کې خنډونه ښکارېدل او هره يوه ډله کې چې بې اتفاقي پيدا شي نو د کاميابۍ په ځای ناکاميابه شي.

## د فيض پورکانګرس:

د ټول هند د کانګرس کمېټۍ سالانه جلسې دپاره فيض پور خوښ کړی شو، فيض پور د بمبۍ په صوبه کې يو کلی دی ما به همېشه ګاندهي جي ته ويل چې قوم خو په کلو کې اوسېږي او د هغه زما د دې خبرې سره اتفاق و، دغه وجه وه

چې دوی زمونږ په شان د کلو د خلکو نه کار اخیستل شروع کړل ځکه چې کلو کې عوام اوسېږي او هر یو تحریک چې عوامو ته ورسي نو کامیاب شي. مونږ ځکه د پښتنو په زلمو او زړو پسې کلي په کلي ګرځېدو او دا زما عقیده ده چې د ښار خلک خو تعلیم یافته وي ځکه چې هلته اخبارونه دي، سکولونه او د تعلیم او تربیت ډېر ځایونه وي او په کلو کې نه وي او خلک بې خبره وي.

د کانګرس د جلسې دپاره په ډېره لویه پیمانه تیاري شوې وه،د ورکنګ کمېټۍ د ټولو ممبرانو د پاره ځان له ځایونه وو،زما ځای د دې نورو نه لوی و.زما هم دا خیال و او د دوی هم چې د صوبه سرحد خلک به راځي او ماسره به دېره وي خو افسوس دی چې دغه کانګرس له د سرحد نه څوک رانغلل ما سره مهر تاجه او مریم او علي تللي وو خو هغوی به ما سره نه وو،هغوی صوفیې سره د جینکو په کېمپ کې وو.صوفیه د بمبۍ د صوبې د رضاکارو جینکو کماندره وه او د هغې رضا کارې هم د خدمت دپاره کانګرس له راغلې وې، مهرتاجه او مریم هم په رضا کارو کې شاملې وې او ټوله ورځ به یې کار کولو.

په دغو ورځو کې ایم، این، رای رها شوی و، هغه هم دې جلسې له راغلی و،د هغه ډېر تعریفونه په اخبارونو کې شوي وو او کوم خلک چې تاشقند ته تللي وو هغوی به هم دده صفتونه کول خو دی چې ما د نزدې نه ولیدو او خبرې مې ورسره وکړې نو ما ته داسې سړی ښکاره نه شو،د ورکنګ کمېټۍ ممبرانو سره به یې هم ګپ لګولو،مهاتماګاندهي ته به

هم نزدې نزدې کېده او خوشامندې به يې کولې. د کانګرس پنډال کې يې يو تقرير هم وکړو خو خوندناک نه و، ځکه چې د سړي په زړه کې يوځه وي او وايي بل څه نو په خلکو د هغه ډېر اثر نه وي،زما خو دا خيال و، چې دی هر څه چې کوي د دې دپاره کوي چې د ورکنګ کمېټۍ ممبر شي او چې پوهه شو چې دا کار نه کېږي نو ورو ورو يې د کانګرس مخالفت شروع کړو او خبره دې ځای ته ورسېده چې بيا د هغه نه زيات بل د کانګرس مخالف نه و او مهاتما جي پسې به يې هم بدې ردې وې.

د فيض پور په کانګرس کې چې به هر کله ما ته لږ ډېر فرصت وشو نو چاپېره کلو ته به تلم او د کلو حال يې ډېر خراب و د غريبۍ او جهالت زور و. د مسلمانانو حالت زيات قابل رحم و، د هغې وجه دا وه چې هندوانو کښې داسې خلک وو چې کله کله به يې د هغوی خبر اخيستو او هغوی به يې د دين دنيا د حال نه خبرول، مګر د مسلمانانو خوارانو څوک غمخور نه و، د خدای اسرې ته پراته وو،زه چې څومره د هندوستان په کلو کې ګرځېدلی يم نو ما ليدلي دي چې د مسلمانانو جذبه د هندوانو نه کمه نه ده، بله دا چې مسلمانان د چوت چات نه وچت دي او هندوانو کې دغه مرض ډېر دی او چې تر کومه ما ليدلي دي نو هندوان په نسبت د مسلمانانو( سوشلي بيک ورډ) دي اجتماعي طور وروسته پاتې دي. څومره چې مسلمان زر ترقي کولی شي هندوان هغومره زر نه شي کولی، ولې قومونه خو په دعوو او تشو خبرو ترقي کولی نه شي چې په کومو قومونو کې نېکان، پاکان او بې غرضه او د خدای دپاره

د خدمت خلک پیدا شي نو هغوی ترقي وکړي. خدای دې په مسلمانانو کې داسې خلک پیدا کړي.

## د پښتنو په هکله غلط فهمي:

زه چې په هندوستان کې وم نو ما به ډېر کوشش کولو چې د پښتنو متعلق چې کومې غلط فهمۍ پیدا شوې دي د دې صفايي وکړم، کلکر چې د هندوانو ډېر عالم او با خبره لیډر و، هغه ما ته دا خبره وکړه چې په سرحد کې او ازادو قبایلو کې دهندوانو مال او عزت محفوظ نه دی ما ورته ووې چې تا سرحد لیدلی دی؟ هلته تلی یې؟ وې نه! نو ما ورته ووې چې دا د ملک د دښمنانو غلطې پراپیګنډې دي هلته د هغوی مال ځان او عزت د دې ځای نه هم محفوظ دی او قبایل خو پخپل همسایه هندو سر ورکولو ته تیار وي، د پیرنګیانو په علاقه کې دلته هم او هلته هم د هندو مسلم د بې اتفاقۍ دپاره حکومت داسې کارونه کوي چې دوی د یو بل دښمنان کړي، د کلکر په فکر کې دا خبره نه راتله چې دومره ښکلي پیرنګیان هم دومره خراب کارونه کولی شي نو ما ورته ووې چې دلته په ۱۹۲۲ع کې په ملتان کې د هندوانو مسلمانانو فساد چا جوړ کړو؟ کانپور کې هندوان مسلمانان د چا په لمسه قتل شول؟ او پرون تا ته نزدې بمبۍ کې د هندو مسلم فساد کې د چا لاس و؟ لاهور کې د شهید ګنج جګړه خنګه پیدا شوه؟، په کوهاټ او ډېره اسماعیل خان کې دا دومره لوی فساد د هندو او مسلمان چا وکه؟ دې ټول هندوستان کې چې هندو او مسلمان لاس په ګرېوان دي ولې؟ ده د ډېر غور او فکر نه پس

وویلي چې تاسو له په کار دي چې په دې باره کې کتابونه او رسالې ولیکئ نو ما ورته ووې چې زمونږ ذریعې محدودې دي تاسو له په کار دي چې تاسو لاړشئ او د هغه ځای حالات پخپله وګورئ او بیا د هغې متعلق اشاعت وکړئ تاسو د امریکې نه او یورپ نه خو خبر یئ او د خپل ملک د یوې حصې نه ځان نه خبروئ پخپله تاسو معلومات نه کوئ. نه ورځئ. نه ګورئ خو د بل په خوله پسې ځئ.

د پښتنو په باره کې چې څومره غلط فهمي پیدا شوې وې د دې د لرې کولو دپاره د کار ښه ځای سبواکرام و. ځکه چې دلته به د هر ملک نه دهر خیال او د هرې عقیدې خلک راتلل ما سره به د خبرو دپاره ښه موقع وه بله دا چې کله نا کله به مې د هندوستان د مختلفو علاقو دورې کولې او د عاموجلسو نه علاوه به مې د هغه ځای د هندوانو، مسلمانانو سره تبادله خیالات کول او د کانګرس خلک مې هم دې ته تیار کړل چې د فیض پور په دې عام اجلاس کې د سرحداتو متعلق یو ریزولیوشن پاس کړي. د کانګرس د ځینو ذمه دارو خلکو په زړونو کې دا خیال پیدا شو چې د هندوستان د ازادۍ او امن دپاره دا خبره ضروري ده، چې مونږ دې د سرحد خلکو سره تعلقات پیدا کړو مګر هغوی د دې خبرې نه خبر نه وو چې په دې لاره کې څومره ډېر مشکلات دي ځکه چې پیرنګیانو دا کله غوښتل چې د هندوستان او د سرحداتو د خلکو تعلقات دې پیدا شي پیرنګیانو مونږ له موقع نه راکوله چې ازادو قبایلو سره خپله وروري جوړه کړو نو هندوتسان له به یې څرنګه دا موقع ورکوله چې هغوی سره تعلقات قایم کړي.

پیرنګیانو خو مونږ هم قبایلو ته نه پرېښودو.

سپواګرام ته به د یورپ د پرې ښځې او سړي راتلل لکه فادرالون(Ilwon) فادرسي ایف ایندروز او میري. د سړو په نسبت ښځو کې همدردي زیاته وه کله کله به هغوی زما نه د سرحداتو او د خدایي خدمتګارۍ تحریک تپوسونه کول. یوه ورځ سپواګرام ته یو څو تنه پیرنګیان راغلل هغوی سره د ناګپور لوی پادري هم و. هغو پیرنګیانو د ازادو قبایلو تپوسونه کول او ما به ځوابونه ورکول چې په دې کې پادري صاحب ووې او داسې شروع یې وکړه چې زه په خیبر کې پاتې شوی یم. زه د اپرېدو نه ښه واقف یم هغه ښه خلک نه دي ځکه چې هغوی پیرنګیانو ته برند اونېغ نېغ ګوري ما وخندل او پادري صاحب نه مې تپوس وکړو چې دوی ولې تاسو ته برند او نېغ ګوري، نو هغه ووې چې هغوی زمونږ نه نفرت کوي ماوې چې ستا دا خبره درسته نه ده حقیقت دا دی چې هغوی پیرنګیانو ته ځکه بد ګوري چې هغوی تاسو ویني نو په زړونو کې یې دا خیال را پیدا شي چې دا هغه خلک دي چې په توپو، ماشین ګنونو، بمونو زمونږ کلي، زمونږ کورونه ورانوي، او زمونږ ښځې نر، مالونه او بچي تباه کوي. زما په دې خبره هغه نورو پیرنګیانو وخندل او پادري د پر کچه شو.

## وزارتونه:

په ملک کې د اسمبلو الیکشنونه شروع شول، او اکثرو صوبو کې د کانګرس امیدواران کامیاب شول. زمونږ د صوبې د انتخاباتو نتیجو پیرنګیان او د هغوی برېڅي د پر حیران کړل

هغوی اولیدل چې د هغوی درنې ستنې را وغورزېدې، بیا د صوبې د ټولو نه لوی نواب سرمحمد اکبر خان هوتي د امیر محمد خان د لاسه شکست وخوړ. سرصاحبزاده عبدالقیوم د یو خدایي خدمتګار عبدالعزیز خان د زیدې د لاسه ارباب شیرعلي خان د تهکال د ارباب غفور دلاسه. د ټیري نواب د اسلم خان دلاسه.خان بهادر قلي خان د صاحب ګل جرنیل خدایي خدمتګار دلاسه.راپربوتل او دغه شان د پیرنګیانو ملاتړ خان بهادران، رای بهادران.خانصاحبان او رای صاحبان وغورځېدل.

د ۱۹۳۵ع د ایکټ د لاندې د صوبایي اسمبلو دپاره د انتخاباتو نتیجو ټولې دنیا ته عموماً او پیرنګیانو ته خصوصاً دا خبره په ډاګه کړه چې کانګرس په حقیقت کښ د عام اولس نماینده دی، ثبوت یې دا و، چې په هغه وخت کې د هندوستان په یوولسو صوبو کې په اتو صوبو کې د کانګرس اکثریت و، باقي درې د مسلمانانو اکثریتي صوبو کې مقامي ډلې کامیابې شوې، صوبه سرحد چې د مسلمانانو اکثریتي صوبه ده (۹۳٪) هغه هم د کانګرس سره لاړله.

څلور ورځې پس په ډیلي کې د کنونشن دپاره یوه جلسه مقرره شوه چه هغه کې د ال انډیا د اسمبلو ممبران راجمع شول او په دې خبره بحث جوړ شو چې دې وخت کې مونږ له څه قسم قدم اوچتول په کار دي، وزارتونه واخلو که نه؟ دې جلسې له د سرحد ډېر کارکنان راغلي وو، ډېره موده پس مې هغوی سره ملاقات وشو. په ورکنګ کمېټۍ کې څه ورځې تاوده بحثونه وشول. جواهر لال د وزارت جوړولو سخت مخالف و او د

ورکنګ کمېټۍ اکثریت یې په حق کې و. زه هم اول د وزارت مخالف وم خو بیا زما خیال بدل شو ځکه چې کوم کسان چې د وزارت په حق کې وو، هغوی به هم داوې چې مونږ وزارتونه د دې دپاره نه اخلو چې مونږ دې دا د «پیرنګي اصلاحات» وچلوو بلکې زمونږ دا اراده ده چې د دې په ذریعه به مونږ د پیرنګي اصلاحات ناکامه کړو، زمونږ د وزارت اخیستو فایده دا ده چې زمونږ ډله مضبوطه شي، که دا کارونه نه کېدل نو فوراً به وزارتونه پرېږدو. دویمه نکته چې په کوم باندې د وزارت د اخیستو مخالفینو اصرار کوو، هغه د صوبایي ګورنرانو خصوصي اختیارات وو چې کوم د دغه اېکټ د لاندې هغوی ته حاصل وو، فېصله په دې وشوه چې تر کومې پورې ګورنران د صوبایي وزراتونو دا تسله ونه کړي چې هغوی به په وزارتي فېصلو کې مداخلت نه کوي نو تر هغې دې وزارتونه نشي اخیستی. د ډېرو ورځو د بحثونو نه پس ورکنګ کمېټۍ د وزارتونو په حق کې تجویز پاس کړو کنونشن کې هم د دې په حق کې او مخالفت کې ډېر تقریرونه وشول، مګر اکثریت د ورکنګ کمېټۍ تجویز پاس کړو د پاس کېدو نه پس په هغه جلسه کې صدر د ټولو صوبو ممبرانو نه د وفادارۍ حلف واخیستو او بیا خلک رخصت شول. زه یو څو ورځې ډیلي کې ایسار وم او بیا واردې ته لاړم.

## مونږ واردا او سېواګرام کښې:

زه چې تر څو هلته وم نو غني اومهرتاجه ماسره وارده کې وو. د لالي هغه سکول خوښ نه شو هغه د واردې په سکول کې

داخل شو د دې سکول هېڅ ماستر نا ایکم ډېر ښه او قومي سړی و. او ډېره لږه تنخواه به یې اخیستله د هغه ښځه ډېل ایم اې وه. ډېره ښه او قوم پرسته ښځه وه هغې به هم د جینکو په سکول کې په لږه تنخواه کار کولو د دې دواړو ماسره ډېر ښه تعلقات او همدردي وه. زما د اوسېدو ځای سبواګرام د واردې نه څلور میله لرې و، د لالي دپاره تلل را تلل ګران و. نو دوی سره ډېره شو. مهرتاجه چې به په چوټۍ راغله نو ماسره به سبواګرام کې وه. ولې په واردا کې و، او په دویمه، دریمه ورځ به سبواګرام ته راتلو، د لالي چې به کومه ورځ چوټي وه نو دلته به راغی یوه ورځې وختي غني سبواګرام ته راغی په دغه ورځ د ګاندهي جي د پیدا کېدو ورځ وه چې ډوډۍ ته کښېناستو نو غني ګاندهي جي ته ووې چې نن ستا د پیدایش ورځ ده. ما وختي ځان را ورسوو چې نن به قسم قسم ښه خوراکونه وي. لیکن دا خو بیا هغه بې خونده اپشېدلی کدو دی، چې تل یې زه خورم. هغه غني ته ووې چې ته هره ورځ سحر وختي دلته راځه غني وخندل وې زه په دې اپشېدلي کدو پسې هره ورځ دا دومره مزل کولی نه شم دا که چېرې اوس پولاو وی او ورسره سُور کړی چرګ وی نو زه به دې کا رته تیار شوی وم. دا خو د توقو یوه خبره وه او په خندا تېره شوه. سباله ګاندهي جي ماته ووې. چې دا هلکان دي دوی باندې جبر په کار نه دی زما دا خیال دی چې د دوی د طبیعت د خوراک انتظام وکړو ما ورته ووې دا خوغني توقه کوله او زما دا خیال دی چې هغه به په هېڅ رنګ دې خبرې ته تیار نه شي. ګاندهي جي په هغه ډېر کوشش وکړو خو کامیاب نه شو دغه شان په مهرتاجه باندې

یې هم ډېر وسونه کړي وو، خو هغې هم دا څیزونه نه وومنلي ډېر خوشحاله شوم چې دوی کې دومره سړیتوب و، چې د بل د جذباتو خیال یې ساتلو د سیګاون کلي چې سېواګرام ته نژدې وو د صفایۍ دپاره ګاندهي جي یو تنخواه دار سړی مقرر کړی و، زه ورسره متفق نه وم.زما رایه دا وه چې د کلو خلکو له تربیت ورکول په کار دي، چې هغوی د کلي صفایي خپل فرض وګڼي او پخپله یې کوي بلـه دا چې د هندوستان په لکونو کلي دي که د دومره کلو د صفایۍ دپاره مونږ یو یو سړی مقرر کړو، نو د هغو دپاره کرورونه روپۍ په کار دي، یو ځل داسې وشوه چې د سیګاون دغه سړي زیاته تنخواه غوښتله دوی ورله تنخواه زیاته کړې هم وه، مګر دا ځل یې زیاته نه کړه هغه کار پرېښودو او لاړو، خبر راغی چې د صفایۍ هغه سړی تښتېدلی دی، نو ګاندهي جي ووې چې راځئ چې مونږ ورله لاړ شو مونږ د صفایۍ سامان واخیستو او ور روان شو.

په دې ورځو کې د بهار د صوبې د زلزلې ځپلې علاقې د جوړولو په سلسله کې د سویزرلینډ یو لوی انجنیر راغلی و، او دلته پېښ و د لالې هم چوتي وه ورته مې ووې چې هلکه تیاربږه هغه وې د څه دپاره؟ ماوې د صفایۍ دپاره هغه په ژړا شو چې زه خو د خلکو غول غورځولی نه شم هغه مو پرېښو او مونږ ټول روان شو چې کلي ته ورسېدو نو جوړه جوړه شو هغه انجنیر ډېر ښه سړی و، په ونه ما سره یو شان و. زه او هغه جوړه شو د ګاندهي جي جوړه نه و، هغه مو خپل جمعدار (مشر) کړو او صفایي مو شروع کړه، خو مونږ ته داسې معلومه شوه چې دا د کلي خلک زمونږ په صفایۍ خوشحاله نه دي کوم

ځایونه چې به مونږ پاک کړل نو زمونږ د لرې کېدو سره ښځې، هلکان او جینکۍ به راتلل او هغه به یې بیا ناولي کول. هغه انجنیر راته ووې چې معلومېږي چې په دې خلکو کې زمونږ د دې خدمت د احساس ماده نشته معلومېږي، چې زمونږ خلاف مظاهره کوي ما او هغه دا خبره ډېره محسوسه کړه چې مهاتماجي غوندې سړی یو کلي ته د صفايۍ دپاره ځي او د خلکو دا حال دی. زه په دې خبره ډېر خپه وم چې کله واپس راغلو نو یو ملګري ما له تسلي راکړه چې شکر وباسئ چې تاسو یې په کاڼو نه یئ ویشتي او صفايي ته یې پرېښوئ. میرابهن اوکنو (کنو د ګاندهي جي نمسی و او میرابهن د یو انګریز امیرالبحر Admiral سلېږ لور وه چې ځان یې د هندوستان د غریب ولس خدمت دپاره ګاندهي جي ته وقف کړی و) هغوی هم د واردې سره نزدې یو کلي ته د صفايۍ دپاره تللي وو نو خلکو صفايي ته نه پرېښوول او دوی صفايي کوله نو د کلي خلکو وړو او لویو په کاڼو وویشتل او بله عجیبه خبره خو لا دا ده چې مونږ خپل ځای له راغلو او زمونږ هغه خدمتګار چې سېواګرام کې یې خدمت کولو خبر شو چې مونږ د هغوی کلي ته صفايۍ له تلي وو، هغوی زمونږ کار پرېښود او وتښتېدل د هغوی په خیال او عقیده مونږ اچوت شو. پلید شو او د پلید وخلکو کار کول د هغوی په خیال ګناه وه. مونږ په سېواګرام کې د اوبو دپاره ډېر ښکلی کوهي ویستلی و. او د هغه ډېرې ښې اوبه وې او هغه اوبه مو ځکلې هغوی به هم د دې اوبو نه خپل منګي ډکول هغوی دا کوهی پرېښود او بل مونږ ته نزدې یو شاړ کوهي و، چې اوبه یې د

څکلو نه وې د هغه نه به يې اوبه ډکولې او څکلې. کومو خلکو چې به دلته زمونږ کار کولو نو دا ټول په هندوانو کې نيچ ذات و، چې ورته اچُوت وايي او نور هندوان دوی ځان ته نزدې نه پرېږدي او په ځينو ځايونو کې چې په چا د دوی سيوری وشي نو هغه پليد ګڼي.

## د کانګرس وزارتونه:

د هندوستان په اکثرو صوبو کې کانګرس اليکشن وګټه او د دوی اکثريت شو. په صوبه سرحد کې د حکومت د ډېر مخالفت او بې ايمانۍ سره هم په څلو ښتو کې نولس ممبران خدايي خدمتګار کامياب شول، حکومت د خدايي خدمتګارانو خلاف ټول خپل اثر رسوخ استعمال کړی و، او د خدايي خدمتګارانو د مقابلې د پاره يې د صوبې خانان، ملکان، وکيلان يو کړل د دوی د عمرونو د دښمنيو جوړه يې وکړه، ليکن بيا هم زه دا ويلی شم چې خدايي خدمتګارو به اليکشن ګټلی وی او اکثريت کې به راغلي وی که د هغوی نه ځينې غلطۍ نه وی شوې او د پرو جنبو او خودغرضو نه يې کار اخيستی نه وی او اصولي خلک يې منتخب کړي وی، سره د دې هم اسمبلۍ کې د دوی مضبوطه ډله وه د دوی مقابله کې بله ډله دومره لويه نه وه بيا هم حکومت بې ايماني وکړه او د قانون او قاعدې بر خلاف سرجارج کننګم د خدايي خدمتګارو په ځای سر صاحبزاده عبدالقيوم ته د وزارت جوړولو دعوت ورکړو او هغه حکومت جوړ کړو د هغه اډو د سره ډله هم نه وه، دی پخپله حلقه کې

فیل شوی و، عبدالعزیز خان تري سیټ ګټلی و. دی د هزارې نه کامیاب شوی و، هغه د پیرنګیانو سرې و او چې اسمبلۍ کې د پیرنګیانو څومره سرې وو هغوی مجبوراً هغه سره ملګرې شول، لیکن بیا هم دا وزارت د شپږو میاشتو نه زیات ونه چلېدی شو او د حکومت د ډېرو کوششونو باوجود مات شو او د خدایي خدمتګارو حکومت جوړ شو.

د کانګرس اول کې چې په کومو صوبو کې اکثریت و، نو د وزارت جوړولو نه یې انکار کړی و، ځکه چې ګاندهي جي حکومت ته یو شرط وړاندې کړی و، هغه دا چې ګورنران به د وزارت په کارونو کې غیر ضروري مداخلت نه کوي. د ۱۹۳۵ع کال ایکټ ټول اختیارات ګورنرانو له ورکړي وو او هغوی د قانون له مخه د وزرارت په لویو او وړو کارونو کې مداخلت کولی شو، حکومت د ګاندهي جي دغه شرط ونه منلو ولې چې هغوی خو د(اوړو پیشو) جوړه کړې وه، پیرنګیان دې ته تیار نه وو چې هندوستان ته دې طاقت او اختیار ورکړي اول کې کانګرس د وزارتونو جوړولو نه انکار وکړو، حکومت د خپلو خلکو وزارتونه جوړ کړل، خو دغه چېرته چلېدی شول، د ممبرانو اکثریت ورسره نه و، خو لږه موده وروسته د کانګرس په ځینو غړو کښې د دې شرط برخلاف ګنګوسې شروع شوه او راج ګوپال اچاریه دې خبرې ته تیار نه شو چې مونږ له وزارتونه اخیستل په کار نه دي مونږه پیټل کې وو دا د سمندر په غاړه یو کلی دی، ګجرات کې ګاندهي جي راجګوپال اچاریه راوغښتو، سردار پټېل هم دلته و ګاندهي جي دوه شپې او ورځې هغوی سره بحث وکړ، خو د هغه خیال

یې بدل نه کړی شو هغوی وې چې مونږ له غیر مشروط طور وزارتونه اخیستل په کار دي او د هغه دا هم خیال و، چې دا څومره موده مونږ وزارت نه دی اخیستی نو د قام او ملک تاوان شوی دی. راجګوپال رخصت شو او مونږ ټول د راجاجي په دې کار خپه وو لیکن د خدای فضل و حکومت د ګاندهي جي شرط منظور کړو او د سندهـ، پنجاب او بنګال نه علاوه د هندوستان په ټولو صوبو کې د کانګرس وزارتونه جوړ شول.

مونږ د سیګاون دکلي نه لږ بېرته اوسېدو او د اب و هوا په لحاظ دغه ځای ډېر ښه و، خو د برسات په زمانه کې به د ګرځېدو تکلیف و لاره هم کچه وه اومالداري یې ډېره وه، اکثر به ډېرې ختې چقړې وې او ځاروو او بنیادمو ته به ډېر تکلیف و، او بل خواته به هلته په پټو او ډېرو کې ډېرکاني وو چې دا لارې پرې جوړېدې شوې خو د بې اتفاقۍ او بې تنظیمۍ په وجه دا کار پاتې و، ګاندهي جي دا کار شروع کړو او په یو کال کې مو یوه لاره پخه کړه، دلته ماشي ډېر وي خوملیریا کمه وه.یو ځل په ګاندهي جي د ملیریا سخته حمله وشوه هغه دارو هم نه خوړل، څه وخت چې هغه بې هوښه شو نو مونږ ورله سول سرجن راوغوښتو هغه دا تجویزوکړو چې زه دی هسپتال له وړم مګر هسپتال خو پرېږده هغه دارو نه خوړل په دې وجه هسپتال نه پاتې شو مونږ ټولو ورته په اتفاق ووې او اخر مو په دې راضي کړو ځکه چې مونږ سره ډېر غم و،او د هغه ناجوړتیا مونږ ټول وارخطا کړي وو، مونږ ټول ورسره هسپتال له لاړو په څو ورځو کې د هغه صحت ښه شو،هسپتال له یوه ورځ یو سړی راغی دوه درې ماران ورسره وو د ګاندهي جي په

مخ کې یې پیتار کنښېښوده او سر یې تړې او چت کړو هغې کې قسم قسم ماران وو، ګاندهي جي ته یې نږدې کول مګر ما تري منع کړو چې په دې ځیز څه اتبار دی بیا د هغه سړي خواهش و، چې زه دا ماران د تبرک دپاره د بابا په غاړه کې اچوم. ګاندهي جي خندل خوما منع کړو هغه وې، دا ما دم کړي دي د نقصان یې ذمه وار یم. ما ورته ووې که څه نقصان وشو نو زه به ستا ذمه واري څه کړم؟ ښه دا ده چې دا کار ونه کړې او هغه مې دې کار ته پرې نه ښوده، بل ځای بیا په سېواګرام کې زمونږ بل ملګری ناجوړه شو د هغه محرقه تبه شوه څه ورځې پس میرابهن هم ناجوړه شوه او محرقه یې شوه هغې ماته ووې چې معلومېږي دا چې زما هم محرقه (تبه) ده مونږ سره د هغې زیات فکر و، ځکه چې پیرنګیان اکثر د محرقې نه مري او دې ته مونږ نه وې ما د دوی دواړو ډېر خدمت کاوه خو د دې به راسره ډېر فکر و او د میرابهن به مې زیات خدمت کاوه.

په دغو ورځو کې د مهاتماجي یو دوست په بنارس کې یوه عبادت ګاه جوړه کړې وه چې په هغې کې د هر مذهب خلکو ته اجازه وه چې په کومه طریقه هغوی د خدای عبادت کوي کولی شي. د هغې د افتتاح د مراسمو دپاره مهاتماجي او زه بنارس ته لاړو، مهرتاجه هم ماسره وه او د هندوستان د مختلفو علاقو نه ډېر نارینه او زنانه دغه افتتاح د پاره راغوښتل شوي وو، ددې رسمونو د ادا کېدو په ورځ د هر مذهب او ملت خلک موجود وو په دغه عبادت خانه کې د هر مذهب پېشوایان په ډېره مینه او محبت سره یو ځای راغونډ شوي وو اوعبادت یې کولو.

## بنارس، ډیلی، ګجرات، کاټیاواړ:

مونږ د بنارس نه ډیلي ته راغلو، بیا د ګجرات کاټیاواړ ته لاړو، په کاټیاواړ کې ما د مهاتماجي کور او خپل خپلوان ولیده هغوی ډېر ښه خلک وو او د ګاندهي جي سره یې ډېره مینه محبت و، یوه شپه موهلته وکړه، بیا ګجرات ته راغلو او احمد اباد کښې، ودیاپټ کې چې د هندوانو یو ډېر لوی قومي کالج دی، ډېره شو، ودیاپټ په رښتیا یو قومي کالج دی. ولې چې د دې شاګردان چې د تعلیم نه فارغ شي نو هغوی کلو ته ځي او د خپل قوم او ملک خدمت کوي. د ګجرات د میونسیپلیټي د خلکو د طرفه سپاسنامه را کړی شوه دا ډېر ښه خلک دي مهاتماجي سره یې ډېر محبت دی، یوازې محبت نه دی د ازادۍ په جنګ کې هم د هېچا نه وروسته نه وو، څو ورځې پس سېوا ګرام له راغلو زه چې څومره هندوستان کې ګرځېدم نو ما به لیدل چې هره صوبه کې په سیاسي اقتصادي او تعلیمي لحاظ بلکې په هر لحاظ مسلمانان د هندوانو نه ډېر وروسته وو څومره چې به ما په دې خبرو فکر کوو نو دې نتیجې ته ورسېدم چې یوازې ګاندهي جي نه دی جواهر لال نه دی مالویه نه دی، پټېل نه دی، راجندرپرشاد نه دی، سوباش، راجګوپال اچاري نه دی، بلکې په سوونو داسې خلک دي چې ډاکټران، انجنیران، تعلیمیافته خلکو مدرسې جوړې کړې دي او لګیا دي، د خپل قام او ملک خدمت کوي. ډېر خلک ځان ځان له په کلو کې دېره دي خلک یې کلو ته نه پرېږدي او د دوی په لاره کې خنډان اچوي سره د هغې هغوی په صبر استقلال د خپل قام خدمت کوي او هېڅ قوت هغوی د

خلکو د خدمت د لارې نه اړولی نه شي د هغو خلکو لوی تعریف دا و، چې ژوند یې ډېر ساده و، او په ډېر لږ ځیز به یې ګذاره کوله. په وارده کې یو ځل د وردې د کلو د کارکنانو جلسه وه هغوی ټول را غونډ شوي وو زه هم د (ونوبا) هغه نوي اشرم کتو له تلی وم د هغو کارکنانو په جلسه کې شریک شوم ډېر خوار او کمزوري وو. زما زړه پرې وسو جاجوجي چې د دې تنظیم صدر و او نینوباجي یې سکتري و ورته مې ووې چې دا خو د قوم ملیکت دی. ددې غریبانانو د خوراک څه انتظام په کار دی او کمزوري سړي د قوم او ملک خدمت کولی نه شي جاجوجي ووې چې تاسره زما پوره اتفاق دی اوس زمونږ جلسه کې دا تجویز وړاندې کړه جلسه کې ما دا تجویز وړاندې کړو چې د دوی تنخواګانې دې زیاتې شي. نو د هغوی د کارکنانو نه یو سړی پاڅېدو هغه وویل چې زمونږ دا ملک ډېر غریب دی اول خو مزدوري نشته او چې مزدوري وي نو درې انې د سړي وي او لس پیسې د ښځې وي او مونږ خو بیا هم څلور انې اخلوزمونږ پټېل دا شان ډوډۍ خوري لکه مونږ یې چې خورو د تنخواهه زیاتولو ضرورت نشته ولې چې دا خلک به وایي چې مونږ خو د باجرې وچه ډوډۍ نه بیا مومو او دا زمونږ خدمتګار غوړې زېړې خوري.

بلـه دا چې د هندوانو امیران، سوداګران اکثریت د هر یو قومي تحریک سره په زرګونو، لکونو روپو امداد کوي بل طرف ته مسلمانان دي تاسو وګورئ هغوی کې د خدمت څوک دي د هغو تعلیمیافته امیران، سوداګران، وکیلان دي چې روپۍ ورکول خو پرېږده د قوم او ملک د ترقۍ څه خیال هم په

زړه کې نه لري، دغه وجه ده چې مسلمانان د زوال سره مخامخ دي.دغه وجه ده چې په هندوستان کې هندوان وچتېږي او مسلمانان پرېوزي، د هندوستان د مسلمانانو راته دا تجربه وشوه، چې کوم سړی د پیرنګیانو خیر خواه وي، هغه د دوی لیډر وي داسې حالاتو کې به څنګه ترقي وکړي؟.

## د هندوستان د مسلمانانو دپاره فکر:

زه چې په ټول هندوستان کې ګرځېدلی یم نو مسلمانانو کې جذبه شته خو غمخور یې نشته او خیر خواه یې نشته. سېوا ګرام ته به کله کله ذاکر حسین صاحب راتللو. ده سره زما ډېر تعلق و، دی د جامعه ملي اسلامیه ډیلي پرنسپل و، ما ده ته هندوستان کې د ګرځېدو او پخپل ذهن د حالاتو او واقعاتو اثر په تفصیل سره بیان کړو او ورته مې ووې چې تر څو دلته په مسلمانانو کې رښتیني خدمتګار پیدا شوي نه دي ترقي کولی نه شي په مسلمانانو کې هم په سړه سینه تعمیري کار کول په کار دي او د هندوانو په شان مسلمانانو له په کار دي چې ځای په ځای کارکنان پیدا کړي چې ددوی د ترقۍ دپاره کار وکړي او مرکز ورته جوړ کړي. زه دې نتیجې ته رسېدلی یمه چې په چُوف او کُوف باندې قومونه اباد ېږي نه، کار په کار دی! او نه د جلسو د تقریرونو په واسطه په هغوی کې ژوند پیدا کېدی شي نو ما اراده کړې ده، چې د مسلمانانو دپاره کار وکړم او دوی له د اصلاح دپاره مرکزونه قایم کړم او چې تر کومې ما ته خپلې صوبې ته د تلو اجازت نه دی شوی د دوی څه خدمت وکړم مګر ما سره د دې خبرې ډېر فکر دی چې که

چیرې ماته د خپلې صوبې د تللو اجازت وشو نو د دوی خدمت به بیا څوک کوي؟ ځکه چې زه خو بیا دلته پاتې کېدی نه شم او په ما د خپلو خلکو د خدمت کولو حق دی، نو که چېرې په دې کې زما سره ستاسو اتفاق وي او د مسلمانانو دا کار فایده مند ګڼئ نو بیا تاسو زما د ملګرتیا دپاره سرې پیدا کړئ چې هغوی دې کار ته د خدای دپاره ملا وتړي او که چېرې زه لاړ شم نو دوی دلته ناست وي او کوم بوټی چې مونږ کرلی دی هغې له به اوبه ورکوي او وچېدو ته به یې پرې نږدي.بل سوال د پیسو دی مسلمانان رسمي خیراتونه خو ډېر کوي مګر د خدای د مخلوق د ابادۍ دپاره یوې پیسې ورکولو ته تیار نه دي دغه وجه ده چې په دوی کې نېک او د ابادۍ تحریک چلیدل ګران دي.

زما خو دا خیال و،چې دا کار دې د سندهـ د صوبې نه شروع شي ځکه چې هلته د مسلمانانو ابادي ډېره ده او په ټول هندوستان کې د سندهـ خلک په هر لحاظ وروسته پاتې دي زمونږ د بل ملګري دا رایه وه چې د بنګال نه دې بیا شروع شي او د سهارنپور هغه پروفیسر صاحب دا خبره وکړه چې که چېرې تاسو د دې کار ابتدا د سهارنپور نه وکړه نو ډېر زر به ترقي وکړي او ډېر زر به ټول هندوستان کې خور شي ځکه چې د یوپي مسلمانان د سندهـ او بنګال د مسلمانانو نه زیات پوهـ او مترقي دي او بله دا چې سهانپور کې ډېرې مذهبي مدرسې دي چې هغو کې ډېر طالبان د سندهـ او بنګال دي او د هندوستان د هرې صوبې خلک په کې شته دا د هندوستان د مسلمانانو تعلیمي مرکز دی او که دا مرکز دغلته جوړ شي نو

د دغو طالبانو نه به سندهـ او بنګال کې او نورو صوبو کې ډېر کار واخیستې شي مونږ ټولو په دغه ځای اتفاق وکړو چې کار به د دغه ځایه شروع کوو او منتظر وو چې څه وخت به هغه یو څو سړي زما سره پیدا شي.

څو ورځې ما په سېواګرام کې انتظار وکړو چې څه جواب رانغی نو بیا زه جواهر لال سره یوپي ته لاړم.بابو راجندرپرشاد ما نه بهار ته د تلو او دورې کولو وعده اخیستې وه.نو زه په اله اباد کې وم چې پروفیسر عبدالباري صاحب راغی زه او هغه دواړه پټنې ته لاړو او په صداقت اشرم کې دېره شو هغه اشرم د ګنګاسین په غاړه و،او ډېر د مزې اشرم و دا اشرم د بهار د صوبې یو مسلمان بیرسټر مظهرالحق جوړ کړی و، هغه د کانپور د جماعت په معامله کې هم د حکومت برخلاف د مسلمانانو مرسته کړې وه افسوس چې د هغه نه وروسته په مسلمانانو کې داسې څوک نه و،چې دغه اشرم یې اباد ساتلی وی او په دې وجه د هغه وراثت کانګرس ته پاتې شو او نن ورځې دغه ځای د بهار صوبې د بهارکانګرس کمېټۍ دفتر دی.

مونږ د دورې دپاره څه پروګرام جوړولو چې د پنجاب میل د اکسیډنټ خبر راغی او د خبرېدو سره سم د کانګرس کارکنان دمدد دپاره هلته ورسېدل. په دې کې ډېر خلک مړه شوي وو او د مړو پېژندل نه کېدل چې دا هندو که مسلمان دی چې په چا به د هندو شک کېدی شو نو هغه به یې سوزوو او چې په چا به د مسلمان شبهه وه نو هغه به یې ښخ کړو او د مړو نه علاوه ډېر خلک زخمیان هم وو او هغوی یې د پټنې لوی

هسپتال له راوړل خدای دې چا ته نه ښيي، د مصيبت يو عجيبه منظر و،څو ورځې پس مونږ د خپلې دورې پروګرام جوړ کړ او کافي ورځې مو د بهار په صوبه کې دوره وکړه، د بهار په صوبه کې د شېرشاه سوري قبر دی چې مونږ هلته جلسه وکړه د دعا دپاره د هغه زيارت له ورغلم د هغه قبر ساده قسم جوړ دی او ښکلی ګنبد دی او چار چاپيره ترې اوبه دي د اوبو تالاب ډېر ښکلی دی لوی شېرشاه ته مې د زړه دا خلاصه دعا وکړه، ځکه چې هغه د پښتنو ګټندويه سياستدان او ننګيالی پښتون و،چې مغلو له يې ماتې ورکړې وه او د مغلو نه يې د پښتنو هغه حکومت دوباره اخيستی و،او بيا يې حکومت په ټول هندوستان جوړ کړی و، د کلکتې نه تر پېښوره پورې سړک ده جوړ کړی دی.د خپل حکومت د ټينګولو دپاره يې د بهار په صوبه کې ډېرو پښتنو له ډېر جاګېرونه ورکړي وو مونږ د هغو پښتنو اولاد او جاګيرونه هم وليدل، يو کس دوو مېلمانه کړې هم وو،مګر د هغوی اوس هغه خوند نشته خلکو د خپل پلار نيکه ژبه هېره کړې ده افسوس چې په پښتنو کې دا کمزوري شته چې خپله ژبه هېره کړي.يوپي کې هم ډېر پښتانه دي د هغوی هم هغه حال دی ذاکر حسين صاحب افريدی پښتون دی د ژبې په هېرېدو خپلو ته سړی پردی شي.د بهار په صوبه کې پښتنو سره ډېر جايدادونه وو خو د بدو عملو په وجه ترې ټول لاړل او نن ډېر خراب ژوند تېروي.

د بهار د دورې نه وروسته زه بېرته سېواګرام ته راغلم د ډېرې مودې نه د سندهـ د کانګرس ممبران ما پسې وو او دا يې

خواهش و. چې زه دې سندهـ ته لاړ شم او د هغه ځای په مسلمانانو کې څه کار وکړم. زما هم خوښه وه ولې چې د سندهـ مسلمانان ډېر وروسته پاتې شوي دي او مظلومان دي او مونږ خدايي خدمتګار خو د مظلومانو ملګري يو او مونږ خپل خدای سره دا وعده کړې ده نو زه د سبواکرام نه سندهـ له لاړم. زما خو دا خيال و. چې سندهـ کې به کافي ورځې تېروم. سندهـ ته چې ورسېدم نو ما د کانګرس د ورکرانو په مشوره د خپلې دورې يو لوی پروګرام جوړکړو او د حيدر اباد نه مو شروع کړو مسلم ليګو. خو زما د دورې د خرابولو د پاره د شرارت پروګرام جوړکړی و. خو د سندهـ وزير اعلی چې ډېر قوم پرست او شريف انسان و خبر شو او مسلم ليګو ته يې ووې چې عبدالغفار خان دلته زمونږ د قوم خدمت له راغلی دی په کار دي چې مونږ تول ورسره مدد وکړو او که مدد نه شو کولی نو شرارت خو د شرم خبره ده. زه خبر شوی يم چې ستاسو د شرارت څه خيال دی خو که د ده په دوره کې مو شرارت وکړو نو ډېر بد به درسره وکړم. د ده په وجه مسلم ليګ په قلار شو او ما خپله دوره په اطمينان سره وکړه. په دغو ورځو کې د سندهـ وزير اعلی خان بهادرالله بخش سومرو و. ده زما سره ډېره مينه وه. په حيدر اباد کې مو جلسې وکړې د ډېرو هندوانو او مسلمانانو سره مو خبرې اترې وشوې. د دې ځای نه کراچۍ ته لاړو. په کراچۍ کې مو کافي ورځې تېرې کړې او ډېر کار مو وکړو. د کراچۍ نه سکر ته لاړو او د سکر نه حيدر اباد له راغلو ولې چې دا خيال مو پيدا شو چې په بلوچستان کې کار کول زيات ضروري دي.

## د بلوچستان دوره:

د ډېرې مودې نه زمونږ د بلوچستان د روښو دا خواهش و. چې زه دې بلوچستان ته لاړ شم. ما ډېر ځله کوشش وکړو خو حکومت نه پرېښودم. په دغه ورځو کې عبدالصمد خان اڅکزی چې د بلوچستان د پښتنو رښتيني خدمتګار او رهنما دی په ما زور ولګوو چې زه بلوچستان ته لاړ شم. په لاره کې مې الله بخش سره ملاقات وشو. د هندوستان په سياست مو ډېرې خبرې وکړې. هغه د پاکستان د جوړېدو په حق کې نه وو ځکه چې د پنجابيانو نه ډېر زړه ستړی و. او پنجابيانو سره يو ځای کېدو ته تيار نه و. هغه دې خبرې ته تيار و. چې که چرې سندهـ. بلوچستان، سرحد او کشمير يوځای شول نو دا به ډېره ښه وي. الله بخش سومرو د سياسي مخالفت په وجه د مسلم ليګ يو ليډر محمد ايوب کهوړو بيا وروستو قتل کړو.

زه په خيريت سره کوټې ته ورسېدم، څه وخت چې زمونږ اورګاډی د بلوچستان په سرحد کې داخل شو نو ترکوټې پورې په لاره کې د واپس کېدو وېره وه، ځکه چې زه يې ډېر ځله راواپس کړی وم. په هر ټېشن چې به مې د پوليس افسر وليده نو دا خيال به مې پيدا شو چې څه جوړې حکم يې راوړی دی. زه په خيريت کوټې ته ورسېدم، زما دا خيال دی چې حکومت جناح صاحب ته چې د هغه تعلق مسلم ليګ سره و اجازت ورکړی و، نو ما ته يې هم اجازه راکړه. ولې چې زما تعلق کانګرس سره وو.

عبدالصمد خان اڅکزی ستېشن ته راغلی و. ستېشن ته نور هم ډېر هندوان او مسلمانان راغلي وو. ما يو څو ورځې کوټه کې تېرې

کړي او بيا د کوټې نه فورټ سنډ مين. قلعه عبدالله. هندوباغ. گلستان، چمن، لورالايي او د بلوچستان د نورو ځايونو دوره مې وکړه. ډېره د خوشحالۍ او کاميابه دوره وه او زړه مې په دې نور هم ډېر خوشحاله شو چې پښتانه او بلوڅ راويښ شوي دي هغوی سره مې جلسو او مجلسونو کې د پښتنو او بلوڅو د رورولۍ خبرې وکړې او په دې کې ماسره د اکثرو پښتنو او بلوڅو اتفاق و. ځينو پښتنو زمونږ د پېښور د خلکو نه شکايت کولو او ډېر گيله من وو پوښتنې نه وروستو ما ته معلومه شوه چې د دې وجه پېښوري حاکمان وو يعنې د پېښور هغه کسان چې دغلته د پيرنگيانو نوکران وو او پيرنگيانو د خپل کار د چلولو لپاره دغلته مقرر کړي وو. دې افسرانو د خپلو رونړو سره شريفانه سلوک نه و کړی، بلکې د سړيتوب نه پربوتی، د فرعونيت بدترين سلوک يې کوو. او د هغوی په زړونو کې يې د ټولو پېښورو نه نفرت پيدا کړی و. ما هغوی له تسلي ورکړه او پوهه مې کړل، چې د يو څو کسانو په گناه تاسو د پېښور ټول پښتانه مه نيسئ او خدای دې نور پښتانه داسې بې ننگه نه کړي لکه دا چې دي. حکومت زمونږ نه دی، بلکې د پيرنگيانو دی. بله دا چې په دوی کې د دې حاکمانو اکثريت د هغه خانانو. مياگانو او ملايانو وو چې د انگرېز د خوشحالولو لپاره دا دلته چې تاسو سره کوم سلوک کړی دی او يا يې کوي دا يوازې تاسو سره نه کوي. بلکې مونږ سره يې هم هلته په هغه خپله صوبه کې کوي دا ډېره عجيبه خبره وه چې دلته د دې پښتنو سرکاري افسرانو د پنجابيانو افسرانو سره ډله وه چې په شريکه يې د بلوچستان پښتانه او بلوڅ خوړل. د بلوچستان د دورې نه وروستو مونږ جيکب اباد ته راغلو. په جيکب اباد کې ډاکټر چيت رام چې د کانگرس صدر و. او محمد امين کوسو

هم مونږ سره یو ځای شو په جیکب اباد کې د هندوانو او مسلمانانو یوه لویه جلسه وشوه، په دې جلسه کې د سېول او پولیس د افسرانو دا اراده وه چې څه ګړبړې وکړي خو د وزیر اعلی الله بخش په مداخلت څه ګړبړې ونه شوه، مونږ د بلوچستان د هغې ټولې علاقې دوره وکړه چې په برېټش بلوچستان کې د پښتنو اکثریت پکښې دی، زما او د عبدالصمد اڅکزي دا رایه وه چې د بلوچستان هغې برخې ته هم لاړ شو چې بلوڅ په کې اباد دي. د ډاکټر چیت رام او محمد امین کوسو هم دا رای وه چې مونږ د بلوڅو دغې علاقې ته لاړ شو، مونږ هلته لاړو خلک ټول په شوق او په مینه را غونډ شوي وو، چې د جلسې وخت راغی نو زما دا اراده وه، چې په هغه جماعت کې جلسه وکړو چې د بازار په سر کې و، او د نورو ملګرو دا خیال و، چې هغه ډاګ کې دې وکړو چې د بازار نه هغه طرف ته و. هلته د جلسې انتظام وشو، جلسه چې شروع شوه نو د بلوڅو یو رییس راغی، د جلسې په خوا کې تېر شو او جلسې ته یې ښه وکتل د هغه نه لږ ساعت پس د بلوڅو یو ټولي تېرونه په لاس جلسې ته را ګډ شول او بغیر د تپوس نه یې په خلکو را باندې کړل چې سرې ته به یې درز ورکوو د علي علي چغې به یې ورسره وهلې ډېر ناترسه وو، بې د سر نه یې په بل ځای ګوزار نه کوو، په یو ساعت کې میدان خالي شو زما یوې خواته ډاکټر چیت رام او بلې خوا ته محمد امین کوسو په کرسو ناست وو څه وخت چې د جلسې ټول خلک وتښتېدل زه یوازې پاتې شوم نو زما نه چاپېره شول سره ورځ یې راباندې جوړه کړه او دا کوشش یې کولو چې زه هم وتښتم خوزه ونه تښتېدم. په هغه ورځ ما خپل سر خرئیلی و، او په کرسۍ سر تور سر ناست وم، زه پوهه وم چې ښه ګوزار به اخلي خو تښتېدم نه، کتل مې چې دوی څه کوي. زما نه ښي طرف ته

محمد امین کوسو و هغه یې په سر وهلی و او بې هوشه شو او د کرسۍ نه را پرېوت بل طرف ته ډاکټر چیت رام و په هغه یې هم سرمات کړی و هغه هم د کرسۍ نه په خاورو کې را پرېوتی و، زما نه چاپېره ډېر وګرځېدل چې دی به هم د نورو خلکو په شان وتښتي پوهه شو، چې دی نه تښتي او مونږ خپل کار وکړو نو پخپله وتښتېدل زه پاڅېدم چې ومې کتل نو د کوسو او ډاکټر د سرنه وینو داري وهلې بل څوک نه وو عجیبه حالت و معلومېده چې د ډاکټر چیت رام او کوسو په باره کې ورته خاص هدایت شوی و. او زما په باره کې هم ورته هدایت شوی و، بیا وروسته معلومه شوه چې دغه بلوڅ رییس د دوی ډېر دوست و او دوی پرې احسانونه کړي وو مونږ سپول سرجن پسې یو سړی په موټر کې ولېږلو دوی مو یوړل او چې کوم ځای مونږ ډېره وو هلته مو کټونو کې واچول وینه یې نه ودرېدله حالت یې خرابېدلو او عبدالصمد خان او زمونږ نور ملګري هم ځُوږ وو، خو دومره نه، د مقامي خلکو نه معلومه شوه چې د دوی د دې کیسې نه خبر و او په تحصیل کې راپورټ هم کړی و، مګر سرکاري افسرانو د دې کار مخه نه نیوله حقیقت خو دا و چې دا ټول کار د سرکار په اشارت شوی و، نو افسرانو یې څله مخه بندوله؟ یوازې دا ځای نه په ټول بلوچستان کې حکومت کوشش کړی و، چې زمونږ جلسو کې ګړبړي پیدا کړي ولې په پښتنو کې دومره پښتو لاپاتې وه چې د خپل مېلمه عزت وکړي مازیګر د هغه علاقې پولټیکل افسر چې پوځي کپتان و او هندو و او دا ټوله کیسه هغه کړې وه. خپل اسسټنټ سره ماله راغی او د دې واقعې تپوس یې رانه وکړو او راته یې ووې که چېرې تاسو په دې خلکو مقدمه چلول غواړئ دعوې پرې کوئ نو زه به د هغې انتظام وکړم دغه اسسټنټ د پېښور د علاقې د

صوابي تحصیل د دوبیانو د کلي و.ما دوی ته په خوب کې ووې چې مونږ خدايي خدمتګار د چا نه بدل نه اخلو ،مونږ مظلومان یو ،زمونږ بدل خدای پاک اخلي هغوی چې ما سره خبرې کولې نو د حکومت د طاقت باوجود ملامته او خږ غوندې ښکاریدل ښه ساعت ما سره وو بیا رخصت شو ،تیاره ماښام شو، سول سرجن را ورسید هغه وخت زمونږ د زخمیانو بد حال و او د محمد امین کوسو حالت ډیر خراب و، د راتلو سره ډاکټر د هغوی د وینو بندولو کوشش وکړو ،او مونږ ته یې وویل چې د دوی حالت ډیر خراب دی د دوی دپاره څه انتظام کیدی نه شي،ښه به دا وي چې د جیکب اباد هسپتال ته یې ورسوو.مونږ هغوی په موټرونو کې واچول او تیر ماسختن جیکب اباد ته ورسیدو سول سرجن ډیر ښه سړی و ،د رسیدو سره یې د هغوی لپاره ډیر پوره انتظام وکړو هغوی یې ځان ځان له په کمرو کې واچول پټۍ مرهم وشول او چې د هغوی انتظام وشو نو بیا مونږ خپلو ځایونو ته رخصت شو ،چې شپه تیره شوه زه سحار وختي هسپتال ته لاړم سول سرجن زمونږ نه مخکې راغلی و او په ما یې زیری وکه چې د دوی د بچ کیدلو زیات امید پیدا شو څه وخت چې دوی د خطر نه بهر شول او حالت یې ښه شو ،نو زه جیکب اباد نه حیدر اباد ته روان شوم حیدر اباد ته زما ګاډی سحر وختي ورسید کله چې سټیشن ته ورسیدم نو لا تیاره وه او سباختلی نه و. پروفیسر ملکاني صاحب د کانګرس د کارکنانو سره سټیشن ته راغلی و، زه ډیر حیران او خوشحاله شوم په دې چې خان بهادر الله بخش وزیر اعلی د سندهـ سټیشن کې حاضر و او حیران په دې شوم چې زمونږ لوی خلک د داسې خلکو مخې له نه ځي او خوشحاله په دې شوم چې د ملک او قوم خدمتګارو سره دومره مینه لري.زمونږ لویو خلکو کې دا ماده

نشته په حيدر اباد کې د سنده کمېټۍ ممبران را غونډ شوي وو او د عامې جلسې نه وروستو زما او د هغوی ترمينځه خبرې اترې وشوې،د ډېرې مباحثې نه وروستو هغوی ما ته دوه د مطلب خبرې وکړې او راتـه يـې وويـل چـې کلـه تـه واردې تـه ورسـې نـو دا خبـره بـه مهاتماګاندهي او د ورکنګ کمېټۍ ممبرانو ته وکړې.يوه دا چې دې صوبه سنده کې په مسلمانانو کې د خاکسارانو تحريک ورځ په ورځ په ترقۍ کې دی که چرې د دې صوبې په مسلمانانو کې د خدايي خدمتګارۍ تحريک شروع شي نو ښه به وي ځکه چې خدايي خدمتګاري يو قومي ملي تحريک دی چې په هندو اومسلمان کې د همدردۍ او ورورولۍ جذبه پيدا کوي او دا بل تحريک په مسلمانانو کې تعصب پيدا کوي،ما ورته ځواب ورکړو چې دا کارونه چې دې داسې خلک کولی شي.د يو سړي په زړه کې چې د خپل قوم او د خپل ملک محبت او همدردي وي بيا به خلک د هغه خبرو منلو ته تيار وي که هغه سړی د هر ملت او مذهب وي بله خبره يې دا وکړه چې مونږ د خلکو لپاره څه کولی نه شو او نه مو د هغوی خدمت ته زمونږ د صوبې د کانګرس مشران جي رام داس،دولت رام پرېږدي اونه مونږ د هغوی لپاره په اسمبلۍ کې څه کولی شو اونه کلو ته د هغوی د خدمت او پوهه کولو لپاره تللی شو،ما ترې پوښتنه وکړه چې د دې وجه څه ده،هغوی راته وويل چې د کانګرس د چلولو لپاره جي رام داس ته اکثره چنده او امداد سرمايه داران ورکوي او هغه سرمايه دار دانه غواړي چې د عوامو د فايدې لپاره دې اسمبلۍ کې څه قانون پاس کړی شي،او يا دې د کانګرس خلک کليوالو او مزدورانو ته لاړ شي او هغوی دې پوهه او راويښ کړي ځکه چې د هغوی په پوهه کې د سرمايه دارو تاوان دی،د دې له پاره مونږ خلکو له څه کولی نه شو

او که وکړو بیا هغوی مونږ سره ملګري کېږي نو دوی بیا مونږ ته چنده نه راکوي، ښه به دا وي چې ته زمونږ دا معامله د ورکنګ کمېټۍ ممبرانو ته ورسوې. زه د حیدراباد نه واردې ته روان شوم کله چې ورسېدم نو په داسې وخت چې جي رام داس هم حاضر و ټوله کیسه مې د هغه په مخکې ورکنګ کمېټۍ ته وکړه. زه چې دې وخت کې وارده کې وم «رفیع احمد صاحب» چې دغه وخت د کانګرس نائب صدر و ما ته وویل چې باچا خانه تاسو پښتنو مونږ پسې ولې را اخیستې ده چې سر کار ته مشکلات پیدا کوئ، ما ورته وویل چې هغه کومه داسې خبره ده چې مونږ په ناجایزه تاسو ته تکلیف در کړی دی نو ده راته وویل چې عنایت الله مشرقي مونږ ګرفتار کړلو نو هغه د حکومت نه معافي وغوښته مونږ پرېښود نو ستاسو د سرحد نه ورپسې پښتانه خاکسار راغلل او تمانچې یې پرې کېښودې چې مونږ دی وژنو تا خو مونږ وشرمولو چې معافي دې وغوښته، هغه ورته منکر شو وې دا دروغ دي او قسمونه یې ورته وخوړل چې تحریک نه پرېږدم هغه د دې خلکو له وېرې بیا کار شروع کړو نو مونږ بیا ونیولو هغه بیا معافي وغوښتله خلک ترې وېزاره شول او تحریک کمزوری شو د هر یو تحریک انحصار په لیډر وي. چې بهادر اوهوښیار وي نو د تحریک خلک هم زړور او پوهه وي چې لیډر کمزوری او تنګ نظره وي نو د تحریک خلک هم بې زړه او تنګ نظره وي.

❋❋❋

# د خدايي خدمتگارو ړومبی وزارت

**د خدايي خدمتگارو وزارت،**
**زمونږ وزيران او پيرنگيان د جواهر لال**
**دوره، د پيرنگيانو افسران او زمونږ**
**حکومت، پښتانه را ويښ شول، د گاندهي جي**
**دوره، وزارتونه او خدايي خدمتگار.**

زه اووه کاله پس خپلې صوبې ته راغلم. زه په ۱۹۳۱ع کال کې گرفتار شوی وم او په ۱۹۳۷ کې راغلم زمونږ په خلکو ډېر زور زياتی او ظلم شوی و، ليکن د هغوی جذبه مړه شوې نه وه، د خلکو د مخونو نه ماته معلومېده چې زړونه يې د جذباتو نه ډک دي،زه چې نه وم نو سرې جامې هم نه وې حکومت بندې کړې وې زه چې راغلم نو سرې جامې هم راغلې ځه وخت چې خدايي خدمتگارو واورېدل چې زه خپلې صوبې ته را ورسېدم نو بيا هغوی بنديز ته کتلې نه دي ټولو خپلې سرې جامې واغوستې مگر حکومت ورسره چېړ ونکړو هغه ټولې پابندۍ د خدايي خدمتگارو نه وچتې شوې.

زما په غير حاضرۍ کې حکومت چې څومره ظلمونه کولی شول هغه يې د صوبې په خلکو او په تېره بيا په خدايي خدمتگارو کړي وو. د خدايي خدمتگارۍ د بربادۍ دپاره يې ټولې طريقې استعمال کړې وې، خو کامياب شوي نه و، بلکې خدايي خدمتگارۍ زياته ترقي کړې وه او خلکو کې پوهه او سياسي شعور پيدا شوی و،څه ورځې پس زه د اسمبلۍ د ممبرانو سره ايبټ اباد له لاړم چې هلته د اسمبلۍ د ممبرانو اجلاس و.د هزارې ډېر خلک زما هر کلي له را ټول شوي وو، د سترې مه شي نه پس يوه جلسه وشوه چې په هغې کې ما تقرير وکړو او د خلکو شکريه مې ادا کړه بيا خپلو ځايونو له لاړو،زه د هزارې د خلکو مېلمه وم، غني او ولي هم راسره وو هغوی زمونږ دپاره ځان له انتظام کړی و.په دې ورځو کې د مسلم ليگ او حزب اختلاف په مينځ کې اختلاف و،د صاحبزاده صاحب د وزارت دا کوشش و،چې دا وزارت دې

مات نه شي او خدايي خدمتګارو زورلګولی و چې مات دې شي. صاحبزاده صاحب لويې لويې جبې او لوی لوی ملايان، مياګان را غونډ کړي وو. هغوی به هره ورځ جلسې کولې هغوی دروغ او بهتان جوړولو زما برخلاف يې تقريرونه کول حال دا چې زه نه په اسمبلۍ کې وم او نه د پارټۍ ليډر وم. د هزارې يو لوی بزرګ مولانا محمد اسحاق صاحب مانسهروي چې د خلافت په وخت کې زما ملګری هم و، او په هزاره کې يې ډېر کار کړی و او خلکو به په جوپان کې په اوږو ګرځولو او پيرنګيانو پنډۍ کې نظر بند کړی و، هغه پخپل تقرير کې زما متعلق داووې چې يوه ورځې عبدالغفار خان پنډۍ له راغلی و،زه ورسره وم ليکن هغه چېرته يو لمونځ هم ونه کړو او د شپې په جلسه کې چې څه وخت هندوانو او مسلمانانو هغه ته ګيتا او قران پېش کړل هغه قران ته ډېره توجه ونه کړه په ښي لاس کې يې ګيتا واخيستو او کيڼ لاس کې يې قران واخيستو، زما په باره کې د مولانا محمد اسحاق صاحب دا ټولې خبرې دروغ وې زه بې شکه جلسې له پنډۍ ته تلی وم، خو مولانا محمد اسحاق خو يو ساعت دپاره راغلی و او هغه وخت کې يې ماته ويلي وو چې زه د دې خلکو په جلسو کې شرکت نه کوم خو چې دا جلسه ستا دپاره ده،او ته خو د اسلام يو مجاهد يې نو ځکه زه بېګا له دې جلسې له ضرور راځم. په دې جلسه کې ماته چا قران او ګيتا پېش کړي نه وو،بلکې زما په ټول عمر کې ما ته په جلسه کې چا قران او ګيتا پېش کړي نه دي چې په کوم قوم کې دا قسم خلک د دين ستنې ګڼلی شي،نو هغه دين کله په داسې ستنو ټينګېدلی شي په دغو

ورځو کې پېرنګيانو دا غوښتل چې د خدايي خدمتګارو په مقابله کې په دې صوبه کې دې يوه بله ډله هم جوړه شي نو د صاحبزاده صاحب په ذريعه فوراً مسلم ليګ جوړ شو او د دوی جلسې شروع شوې. د دې نه څه موده مخکې جناح صاحب د مسلم ليګ د جوړولو په خيال صوبه سرحد ته راغلی و، خو کامياب شوی نه و او ډېر مايوسه تلی و، ځکه چې په هغه وخت کې د پېرنګيانو دا پاليسي نه وه او هغوی په صوبه سرحد کې د هيڅ قسم ډلې جوړېدل نه غوښتل. په دغو جلسو کښې به هم مولانا صاحب محمد اسحاق د کانګرس برخلاف او د مسلم ليګ په حق کې تقريرونه کول. په جلسه کې ترې يو سړي پوښتنه وکړه چې مولانا صاحب ستا خوريی پير کامران د خدايي خدمتګارو په ټکټ ولاړ و، نو تا د هغه د پاره پراپېګنډه کوله او مونږ ته دې وې چې خدايي خدمتګار قومي او ډېر ښه تحريک دی. نن څه چل وشو؟ اوکوم دليل پيدا شو چې خدايي خدمتګار خراب او د هندوانو جماعت شو دغه شان يوازې دی نه نور هم ډېر ملايان وو چې مونږ سره يې قيدونه تېر کړي وو په دې ازمېښت کې کامياب شوي وو خو د پيسو په ازمېښت کې ناکامياب شول. زمونږ يو قومي کارکن مولوي شاکرالله صاحب د نوښار د خدايي خدمتګار د اميدوار ميا جعفرشاه مخالف شو او د تاج محمد خان، خان بهادر ملګری شو، څه ورځې پس د عمرزو خان بهادر سعدالله خان مونږ ميلمانه کړو. دی د صاحبزاده صاحب د وزارت په وخت کې وزير و.دې دعوت ته يې صاحبزاده صاحب هم رابللی و، صاحبزاده صاحب چې راغی نو ماسره يو ځای کښېناستو د

راشه درشه نه پس يې راسره دا خبره شروع کړه چې پخوا به د هندوستان د خلکو سترګې دې خو اته وې او د دې ملک خلکو چې به څه ویل هغوی به هغه کول لیکن افسوس دی چې د دې ملک د خلکو سترګې اوس هندوستان ته دي او هغوی چې څه وايي دوی هغه کوي ما ورته ووې چې صاحبزاده صاحب چې ته د حالاتو نه پوره خبر نه يې نو ځکه داسې خبرې کوې اوس هم هغه حالات دي بدل شوي نه دي اوس هم د هغو خلکو سترګې دې طرف ته دي اوس هم چې د دې طرف خلک څه وايي هغوی هغه کوي څه وخت چې سول اینډ ملټري ګزټ اخبار دا غلط خبر شایع کړو چې باچا خان د کانګرس نه جدا کیږي نو دی صاحبزاده صاحب عبدالقيوم ما پسې لاهور ته سړی را ولیږلو او خط يې ورکړی و ،زه د شملې نه لاهور ته راغلی وم نو دلته مې هغه سړی ولیدو هغه راته زباني هم ووې چې صاحبزاده صاحب وې چې باچاخان ته وایه چې د خدای دپاره چې ګورئ د کانګرس نه جدا نشې او که ته د کانګرس نه جدا شوې نو بیا پیرنګیان زمونږ صوبې له هیڅ نه ورکوي. د دپروخبرو نه پس ما ده ته د خپلې صوبې خبرې شروع کړې ما ورته ووې چې دا کوم حقوق چې حکومت مونږ له راکړي دي زه منم چې دا نیمګړي او ناقص دي او د دې په ذریعه مونږ د خپل قوم او ملک دپاره هغه کارونه نه شو کولی چې زمونږ زړه يې غواړي،خو بیاهم په دې کې دومره څه شته که په اتفاق سره مونږ کوشش وکړو نو د پیرنګي په ځای پښتون د دې ملک مالک کېدی شي نو اوس زه ستا نه پوښتنه کوم چې د پیرنګي په مقابل کې ته مالک کېدی شې؟ هغه ځواب راکړو چې زه نه

مالک یم او نه مالک کېدی شم ولې چې زه د پیرنګیانو مقابلې ته تیار نه یم ما ورته ووې چې ښه ده ستا په ښتنو دا ورځ پیرزو کېږي چې د پیرنګیانو په ځای دې پښتانه د دې خپل ملک مالکان شي، نو هغه ووې چې بیشکه زما زړه همدغه څیز غواړي نو ما ورته ووې چې دا خو به هله کېږي چې ته بل چا له موقع ورکړې نو هغه ووې چې زه بالکل دې ته تیار یم نو ما ورته ووې چې ښه به دا وي چې ته د وزارت نه استعفا وکړې ځکه چې زه دا مناسب نه ګڼم چې اسمبلۍ کې ستا برخلاف د عدم اعتماد ووټ پاس شي هغه ما سره وعده وکړه او په دې خبره راضي شو چې استعفا به ورکړم، خو ما ته چې معلومه شوې ده نو سرجارج کننګم ګورنر هغه دې کار ته پرې نه ښودو او دا افسوسناکه واقعه وشوه چې ما د هغې مخه نیوه یعنې په اسمبلۍ کې د ده په خلاف د عدم اعتماد قرار داد پاس شو او د عدم اعتماد ووټ پاس کېدو سره د خدایي خدمتګارو لیډر ډاکټر خانصاحب ته یې د وزارت د جوړولو دعوت ورکړو او د صاحبزاده صاحب په ځای د خدایي خدمتګارو وزارت جوړ شو.

## د خدایي خدمتګارو وزارت:

د وزارت جوړولو سلا او مشورې دپاره مولانا ابوالکلام ازاد او بابو راجندر پرشاد ایبټ اباد ته راغلل د خدایي خدمتګارو اسمبلۍ پارټۍ په ممبرانو کې چې څوک د وزارت خواهشمند و هغوی د خدایي خدمتګارانو په ذریعه د خپلو خواهشاتو د پوره کولو دپاره کار شروع کړو. د دې ټولو

سرغنه ثمین جان وکیل و، د ده ډېر شوق و چې وزیر شي د قاضي عطاالله په مقابله کې ډېر خلک د ده په طرف وو او د دې وجه هم دغه وه چې قاضي صاحب د خپل وزارت د پاره کوشش نه کولو او هېڅ تا تـه يې ويلي نه وو تر دې پورې چې ماته يې هم د دې خبرې کنايتاً هم ذکر نه و کړی. د خدايي خدمتګارو د مشورې نه پس زه، ډاکټرصاحب، مولانا ابوالکلام ازاد او بابو راجندر پرشاد کښېناستو او په حالاتو مو غور وکړو. زما دا رايه وه چې زمونږ صوبه ډېره وړه صوبه ده مونږ له د درېو يا زيات نه زيات د څلورو وزيرانو نه زيات جوړول په کار نه دي.

په دې دوران کې ثمين جان ماله هم راغی او ماته يې ووې چې زه په دې خبره رضا يم که چېرې ما او قاضي صاحب پارليمنټري سکتريان کړئ ليکن يوازې نه قاضي به هم راسره وي دا هغه ثمين جان خان دی چې قاضي صاحب د ده د پاره ماله د بريلي جېلخانې له راغلی و،او دده د پاره يې زما نه مجبوراً د نوښار د خدايي خدمتګارو په نومونو خطونه واخيستل چې د ده مخالفت دې نه کوي، په دې وجه دی د اسمبلۍ ممبر شو چې ثمين جان په دې پوهـ شو وزارت په ووټونو نه دی او د وزير اعلی په مرضۍ دی او بله دا چې زه د دې پارليمنټري سکتريانو هم مخالف وم ځکه چې زمونږ صوبه وړه ده دومره ګنجايش په کې نشته او نه دومره کار شته نو مونږ دا فيصله وکړه چې ډاکټر صاحب سره دې، درې نور وزيران وي او په هغې کې دې يو هندو وي او دوه مسلمانان چې د هزارې د اسمبلۍ ممبران مونږ سره ملګري شوي وو او د

صاحبزاده صاحب برخلاف يې ووټ ورکړی و، نو مونږ ورسره دا وعده کړې وه چې يو وزير به د هزارې وي پاتې يو وزارت شو نو ډاکټر صاحب قاضي عطاالله صاحب واخيستو او د هزارې نه يې محمد عباس خان واخيستو، په هندوانو کې زما رايه وه چې لاله بنجورام د ډېره اسماعيل خان دې وزير شي ځکه چې هغه د کانګرس زوړ کارکن و او قيد يې هم تېر کړی و او ډېر با اصوله سړی و، د مولانا صاحب دوی دا خيال و چې رای بهادر ايشرداس په هندوانو کې لايق او بارسوخه سړی دی، دی دې وزير شي ليکن زمونږ د ټولو لاله بنجورام خوښ و او هغه وزير مقرر شو، حقيقت دا دی چې کانګرس په با رسوخو رای بهادرانو پسې ګرځي او مونږ په خدمتګارو پسې ګرځو. کله چې زمونږ وزارت جوړ شو نو زمونږ دا فکر و،چې څومره زمونږ نه کېدی شي خلکو ته فايده ورسوو مونږ په اسمبلۍ کې دوه تجويزونه پاس کړل. يو موماليه کې معافي وکړه او بل د کوهاټ، بنو او مروتوخلکو ته د اوبو ډېر تکليف و،د هغوی د اوبو د انتظام دپاره مو څه روپۍ منظورې کړې او دا مو اراده وه چې هر کال به چې څومره کېدی شي د دې خلکو د اوبو دپاره روپۍ منظوروو تر هغې پورې چې دا خلک په اوبو ماړه شي. د کوهاټ د کرک تحصيل دا حال وو، چې هلته به زمونږ ميندو او خويندو د شلو او دوه ويشتو ميلونه د ښکلو اوبه راوړلې د وزارت دا کوشش وو چې د ښکلو اوبه دې هرې علاقې ته ورسوي او چې کله وزارت دوه کاله پس استعفا ورکوله نو هغوی دومره کړې وه چې بيا د دغې علاقې خلک د اتو ميلو نه لرې اوبو پسې نه تلل او اکثرو کلو

ته خو ا وبه ور ورسولی شوي.

د اوبو دا مسئله به بيخي حل شوي وه خو د پښتنو په پرو جنبو او خودغرضو دا كار ترسره كيدو ته پرې نه ښود ، ولې چې هر كلي به ويل چې اوبه اول مونږ له راكړئ. د دې دپاره مو يوه سركاري كميټې جوړه كړه او ما په كې ممبري د دې دپاره منظوره كړه چې دا د عامو خلكو د فايدې او خير كار دی خو افسوس دی چې زمونږ د خپلو خدايي خدمتگارو د بې اتفاقۍ په وجه خلكو ته چې كوم قسم خير او فايده مونږ رسول غوښتل ونه رسولی شوه او هغه كار نيمگړی پاتې شو ،

كانگرس د خپلو وزارتونو دپاره دا هم ضروري گڼله چې د صوبې قانوني مشير يعنې ايډوكيټ جنرل به د گورنر په خوښه نه مقررېږي، بلكې دده واک دې د وزيرانو سره وي او د هغوی چې د خپلې خوښې نه كوم قسم سړی غواړي هغه دې مقرروي. د بهار صوبه كې د گورنر او وزيرانو په مينځ كې لويه جگړه شوې وه،او نوبت د استعفا وركولو ته رسيدلی و دغو ورځو كې سر سلطان احمد د بهار د صوبې ايډوكيټ جنرال و هغه د سركار ډېر خير خواه و نو گورنر نه غوښتل چې هغه دې د دې عهدې نه لرې كړی شي او وزارت غوښتل چې د ده په ځای خپل اعتباري سړی مقرر كړي په دې بانديې د وزارت او گورنر تر مينځه جگړه وشوه او چې گورنر پوهـ شو چې وزيران په دې خبره استعفا وركولو ته تيار دي نو بيا يې د هغوی خبره ومنله، سرسلطان احمد لرې شو او د كانگرس سړی مقرر شو ،

دغه شان زما هم دا خيال و چې زمونږ وزارت دې هم خپل سړی په دې عهده مقرر كړي په دغو ورځو كښې سردار راجه سنگهـ

ایډوکیټ جنرل و ډاکټر صاحب په دې مسئله ګورنر سره خبرې وکړې خو هغه د ده لرې کولو ته تیار نه و، نو راجه سنګهه پخپل ځای ایډوکیټ جنرل پاتې شو، نو نتیجه دا شوه چې زمونږ د وراثت څو کلي د ډاکټر صاحب او زمونږ نه واخیستل که زمونږ خپل ایډوکیټ جنرل وی نو د پاس شوي قانوني زراعتي بل مطابق به عمل شوی و، زمونږ د صوبې خلکو ته به تاوان نه وی رسېدلی او زمونږ دا وراثت به اخیستی شوی نه و، او مونږ ته به هم تاوان نه وی رسېدلی، زما طبیعت ښه نه و نو زه د څو ورځو دپاره هواګلۍ ته لاړم دایو ښکلی د ارام ځای و او ما په کې څوورځې ارام وکړو بیا د دې ځای نه فقیراخان سره د اګرور په دوره لاړم. مونږ چې په ۱۹۳۰ع کال کې خدایي خدمتګاري جوړه کړه دا تحریک د پښتنو د طبیعت موافق و او ډېر زر په پښتنو کې خور شو خو پیرنګیانو مونږ له موقع رانه کړه درې نیمې میاشتې پس یې ګرفتار کړو، او زمونږ قوم اوخدايي خدمتګارو سره یې بې حده ظلمونه وکړل خو څومره چې دوی ظلم کولو تحریک زیات خورېدلو پیرنګیانو زمونږ دا تحریک دباو نه کړی شو او چې زمونږ عارضي سوله د ګاندهي جي او لارډارون په مینځ کې وشوه نو بیا هم مونږ پیرنګیانو کار ته نه پرېښودو ځای په ځای به یې راته ایکسوچوالیس( د قانون یو سل څلورڅلو پښتمه ماده) دفعه لګولی وه او په هزاره کې خو یې مونږ ته ډېر مشکلات پیدا کړي وو، نو دلته مونږ په تسلۍ سره کار نه و کړی. بل زمونږ نه د میا احمدشاه ډله هم جدا شوې وه هغوی هم زمونږ برخلاف ډېرې غلطې خبرې خورې کړې وې خو هغوی هم

پخپلو ذلیلو ارادو کې کامیاب شوي نه وو او اوس چې مونږ اووه کاله پس خپلې صوبې ته راغلو او د خدایي خدمتګارو وزارت هم جوړ شو نو مونږ د نوي سره د خدایي خدمتګارۍ تنظیم شروع کړو، هزاره کې هم مونږ له د کار کولو موقع په لاس راغله او د هغه علاقې دوره مې وکړه.

## زمونږ وزیران او پیرنګیان:

څه وخت چې اول زمونږ وزارت جوړ شو نو په نوکر شاهي خلکو باندې که هغه انګرېزان وو او که دیسیان وو هیبت او وېره راغله، رشوتونه، ظلمونه بند شول، لیکن افسوس چې دا حالت تر ډېره وخته پاتې نه شو نوکرشاهي زمونږ وزیرانو سره خلط ملط شوه او د هغوی د خوی بوی نه خبر شول او تعلقات یې ورسره قایم کړل، نو بیا پخپله زړه پالیسۍ روان شول، رشوت خو پرېږده د وزارت او خدایي خدمتګارۍ تحریک ته نقصان ورسېدو، که زما په هغه تجویز عمل شوی وی، نو دومره تاوان به مو نه وی شوی زما دا تجویز و، چې وزیرانو له د ضرورت نه زیات تعلقات پیرنګیانو سره په کار نه دي او نه د ضرورت نه زیات هغوی سره خلط ملط کېدل په کار دي. ځکه چې زما تجربه ده چې غلام قومونه ډېر کمزوري وي او حاکم قوم ته تینګ نه وي. حاکم قوم کې یو قسم کشش وي او محکوم قومونه خود په خود ځان ته راکاږي، دغه وجه وه چې ما به پیرنګیانو سره نه لیدل هغوی به زما خلاف پراپېګنډه کوله چې ده د پیرنګیانو نه نفرت دی. زه خو خدایي خدمتګار یم او د خدای خدمت خو د خدای د مخلوق خدمت

دی ایا پیرنګیان د خدای مخلوق نه دي؟ او دا نه چې ګوندې په دې کې یوازې زمونږه وزیران فېل شول، دا امتحان که مونږ کې په هر چا راغلی وی هغه به په کې پاتې راغلي و د دې نه هغه سړی بچ کېدی شي چې د دې قسم موقع پیدا کېدو نه ځان وساتي ما د ډاکټر صاحب دپاره د پیرنګیانو سره داسې تعلقات ډېر خطرناک ګڼل ځکه چې په هغه د مجلس ډېر اثر کېږي. هغه چې د انګلستان نه راغلی و، نو په هغه د پیرنګیانو ډېر اثر و، پیرنګیان ورته پاک او رېښتوني ښکارېدل د خپل قام خلک ورته دروغجن ښکارېدل. زه دا منم چې پیرنګیان پاک او رښتیني دي خو د خپل قام دپاره،مګر د بل قام دپاره او خصوصاً په سیاست کې دغه شان نه دي.

## د جواهر لال دوره:

په دغو ورځو کې جواهر لال سرحد ته راغی، پنډت جواهر لال چې زمونږ صوبې ته په اول ځل راغی، نو په ټول ښار کې مونږ دده جلوس وکړځولو، په زرګونو خدایي خدمتګار ورته هر ځای ولاړ وو. او بیا په شاهي باغ کې یوه لویه جلسه د ده په درناوی کې وشوه دې جلسې له سرکاري او قومي ډېر مخلوق راغلی وو، قومي نظمونه په کې وویلی شهو سره د دې چې جواهر لال په پښتو نه پوهېدلو خو د دې نظمونو او د دې نظارې او ماحول نه ډېر متاثر شوی و،دا نظم چې په کې وویل شو چې: (زمونږ سرې جامې زړې کړې د خانانو نوکرانو) نو ډېرو خلکو ورته ژړل او چې تهکال له تلو نو جلوس کې یو سکهـ چې د خدایي خدمتګارو کمانډر و با وردی مخکې روان

و او د (نعره تکبیر) چغې یې وهلې، ما جواهر لال ته ووې چې وګوره دا سکهـ دې خو دلته دومره قومیت او اتفاق خدایي خدمتګارې پیدا کړې دی چې دی د نعره تکبیر نارې وهي. ډاکټر صاحب نهروجي ته زما دا شکایت وکړو چې دی مونږ د پیرنګیانو سره د تعلقاتو ساتلو نه منع کوي. جواهر لال ما سره په دې مسئله ډېر بحث وکړو چې دا خبره د تهذیب نه لرې پرېوتې ښکاري ما ورته ووې چې زه منم ماته هم دا خبره ښه نه ښکاري خو دې کې دومره فایده نشته ،لکه چې څومره په کې نقصان دی. نو مونږ به هغه تهذیب څه کړو چې په هغې زمونږ قوم او ملک ته نقصان رسېږي،لیکن هغه زه په دې خبره مجبوره کړم چې ماله په دې معاملاتو کې دخل کول په کار نه دي. نو ما دا خبره غلې کړه چې کله به زه پېښور ته لاړم، نو ما به کتل چې یا به ډاکټر صاحب د پیرنګیانو مېلمه و او یا به پیرنګیان دده مېلمانه وو. دده او د پیرنګیانو تعلقات دومره زیات شول چې حکومتي کارونه خو پرېږده هغوی زمونږ کورنو معاملو کې هم دخل شروع کړو.د پیرنګیانو او د خپل قوم په باره کې د ډاکټر صاحب هم بیا هغه زړه رویه شوه، چې په ډېرو کوششونو بدل کړې شوې وه، خبره دا وه چې د ډاکټر صاحب دا رایه وه چې پیرنګیان عموماً او ګورنر خصوصاً د وزارت سره د هر قسم تعاون ته تیار دي خو خبره داسې نه وه هغوی به مخامخ د ډاکټر صاحب ډېرې خوشامندې کولې او د دې اظهار یې کولو چې مونږ ستا وفادار یو لیکن حقیقت داسې نه و. او پسې شا به یې پخپله او د خپل لاس لاندې خلکو په ذریعه د خدایي خدمتګارو او وزیرانو په خلاف

پراپېګنډې کولې او په قسماقسم طریقو به یې زمونږ تحریک ته نقصان رسولو د هرې محکمې مشر افسر به د خپلې محکمې کارکوونکو ته تلقین کولو چې ګورئ تاسو په دې خبرو پوهـ شئ، چې ستاسو ترقي او تنزل زما په لاس کې دی نه چې د وزیرانو.او دغه شان د ملک خانان او اربابان به یې هم زمونږ مخالفت ته تیار کړل.او د هغوی ذهن کې یې دا خبره واچوله چې اوس په ملک کې ستاسو رسوخ پاتې نه شو.او که څه وي نو هغه هم خدایي خدمتګار درته نه پرېږدي. که چیرې تاسو خپله هستي غواړئ نو تاسو له په کار دي چې د سرکار امداد وکړئ او د هغه حکومت مضبوط کړئ، د خدایي خدمتګارو تحریک او حکومت کمزوری کړئ دا به هله کېږي چې تاسو ټول خانان اربابان اوملکان راټول شئ او خپل کور کې اتفاق وکړئ،او د خدایي خدمتګارو مقابله کې خپل یو جماعت جوړ کړئ او بیا ملا وتړئ او د هغه جماعت دپاره پخپل ملک کې کار وکړئ قوم د هغوی نه واړوئ او ځان سره یې ملګري کړئ او دغه شان ملایانو باباګانو او میاګانو ته به یې هم دا کیسه کوله. مسټرټالن ټن چې د چارسدې اسسټنټ کمشنر و،د هر چانه اول شروع وکړه،هغه خان بهادر سعدالله خان د عمرزو راوغوښت سلا یې ورسره وکړه او د هشنغر دواوې خانان، ملایان،وکیلان یې ملګري کړل او مسلم لیګ یې قایم کړو او دغه شان په ټوله صوبه کې خانانو،ملایانو،وکیلانو د حکومت په ذریعه مسلم لیګ جوړ کړو او زمونږ برخلاف یې پراپېګنډه شروع کړه. د دې نه وړاندې زمونږ صوبه کې مسلم لیګ نه و، مسټر محمد علي

جناح صاحب د دې جماعت د جوړولو د پاره دلته راغلی و، خو جوړ شوی نه و، عجیبه داوه چې زمونږ حکومت به هغه حاکمان مقرر ول چې کوم به د مسلم لیګ د پاره کارکولو دا خلک به ډېر خوشامندګر و. او ډاکټر صاحب داسې یو سړی و، چې خوشامندو ته تینګ نه و او که خدایي خدمتګارو به ډاکټر صاحب ته د دې قسمه څه خبره وکړه نو هغه به پرې یقین نه کولو او خپل خدایي خدمتګار به ورته دروغجن ښکارېدل او هغه افسر چې به دوی پخپله لګولي و، او د دوی د لاس لاندې به و، ډاکټر صاحب به خپل وفادار ګڼل خو هغوی به ټول کار د خدایي خدمتګارو خلاف کولو.

یو ځل د بنو حاجي محمد اسلم خان ما ته د خان بهادر دلاور خان اسسټنټ کمشنر په باره کې وویل چې هغه زمونږ مقابله کې د مسلم لیګ جوړولو کوشش کوي. حاجي صاحب ډېر رښتیني و، زمونږ ډېر ملګری و، او ډېر مخلص خدایي خدمتګار و. هغه ویل چې ما ډاکټر صاحب ته وویل چې دلاور خان دا کار کوي. دی د دې ځای نه بدل کړه لیکن زما په دې خبره د ډاکټر صاحب یقین رانغی او دا یې خیال و، چې ګوندې زه دروغ وایم حاجي صاحب ډېر خپه و، د هغه لره ډېره تسلي ما وکړه او ورته مې ووې چې مونږ به کوم کوم حاکم بدلوو که چیرې دلاور خان بدل شي او دده په ځای بل راشي نو ستا څه خیال دی هغه به دا کار نه کوي؟

ما دا خبره په زړه واچوله او ډاکټر صاحب سره مې پخپله د دې ذکر وکړو د هغه په دلاور خان دا یقین و، چې هغه دا کار نه کوي او حاجي صاحب زیاته وایي د دې د معلومولو د پاره زه

پخپله بنو ته لاړم څو ورځې مې تېرې کړې او بې طرفه خلکو نه مې تحقيقات وکړو معلومه شوه چې په مسلم ليګ کې د شاملېدلو دپاره دلاور خان په محمد نواز خان باندې هم ډېر زور لګولی دی. محمد نواز خان د ګل امام خان و او په بنو کې وکيل و ما سره يې ډېر تعلقات وو او زمونږ سره يې ډېره همدردي وه.او دده ورور محمد ظفر خان زمونږ ذمه دار خدايي خدمتګار و،د دوی ټول خاندان زمونږ تحريک کې د هر چا نه وړاندې وو او د نورو وکيلانو په شان چالاک او دروغجن نه و. ما دا غوره وګڼله چې د محمد نواز خان نه حقيقت معلوم کړم ماوې چې دی پوهه نه شي او حقيقت معلوم شي، خير زه دده ځای له لاړم ورسره کښېناستم خبرې مو شروع کړې اخره کې مې ترې د دې خبرې پوښتنه هم وکړه چې تاله خو يې هم د مسلم ليګ دعوت درکړی دی هغه وې هو! خو چې وروسته يې فکر وکړو نو بيا پښېمانه و، خو خبره يې د خولې نه وتلې وه، چې لږ فکر يې وکړو نو راته يې ووې چې ما باندې خو دې چل وکړو، زه واپس پېښور ته راغلم او ډاکټر صاحب مې د دې خبرې نه خبر کړو. حقيقت دا و چې د دې قسم خبرو کې خدايي خدمتګارو ته هم قصور و،ډېر داسې خدايي خدمتګار وو چې وزارت ته يې غلط خبرونه رسول او په دې وجه د ډاکټر صاحب عقيده په دې ټينګه شوې وه چې دوی ټول دروغجن دي مګر په خدايي خدمتګارو کې رښتني خلک ډېر وو، خو دروغجن په کې وو، د هغوی په وجه رښتيني هم د شک نه خلاص نه شو،زمونږ چې حکومت جوړ شو نو مونږ له نوي خلک راغلل او مونږ په خدايي خدمتګارۍ کې واخيستل دا خلک د

خدمت دپاره نه بلکې د اقتدار او د لُوټ دپاره او هم د خدايي خدمتګارۍ د بدنامولو دپاره په جماعت کې داخل شوي وو. دا زمونږ نه لويه سهوه او غلطي وشوه چې دغه خلک مونږ پخپل جماعت کې واخيستل په کار دي چې کله زمونږ جماعت اقتدار ته ورسېدو، نو دغسې تماشبين خودغرضه او ابن الوقت کسان دې په خپل جماعت کې د څه مودې دپاره نه اخلي او چې بيا کله يې اخلي هم تحقيق په کار دی چې داسې خلک واخيستی شي، چې هغوی حقيقت کې د خپل غرض دپاره نه دقام د خدمت دپاره پارټۍ ته راځي. زمونږ د صوبې د ګورنر جارج کننګم په باره کې د ډاکټر صاحب عقيده وه چې دی ډېر ښه سړی دی. او هغه يې خپل دوست او مددګار ګڼلو د هغه دې عقيدې سره زما اتفاق نه و. زه منم چې کننګم ډېر ښه اوهوښيار سړی و، خو ډېر ښه پيرنګی هم زمونږ دپاره ښه کېدی نه شو، ولې چې زمونږ او د هغوی قامي مفاد بېل وو.

## د ګاندهي جي دوره:

اوس صوبه سرحد کې خپل وزارت و، په راتلو څه بنديز نه و نو ګاندهي جي هم په ۱۹۳۸ع کال کې راغی. د هغه هر کلی او استقبال چې په کوم شان وشو هغه يو تاريخي حيثيت لري. کوم څيز چې په ګاندهي جي ډېر زيات اثر کړی و، هغه د باوردۍ خدايي خدمتګارو هغه نظم و ضبط و، چې هغوی څومره په خاموشۍ حوصله او انتهايي وقار دا د زرګونو، لکونو خلکو جلسې او جلوسونه سمبالول ګاندهي جي وليدل چې څومره په مينه او اخلاص خدايي خدمتګار

خپل جلوسونه او جلسې منظم او قابو ساتي او دا يې هم وليدل چې په جلسو او جلوسونو کښې اولسونه څومره په جوش او بې باکه مينه د خدايي خدمتګارو سره تعاون کوي. د ګاندهي جي غوندې ګرځنده او جهان ديده قامي او اولسي مشر هم په دې مجبور شو چې ويې ويل: «ما پخپل ژوند کې داسې خاموشه او منظمې جلسې ډېرې کمې ليدلې دي» او ځکه د ګاندهي جي دا اميد پيدا شو چې د دې درنو او تورزنو پښتنو په ذريعه د خپل ژوندون مقصد حاصل کړي او لکه وايي «زما دعا ده چې پښتانه دې نه يوازې دا چې هندوستان له ازادي وګټي بلکې د دغه ازادۍ په برکت ټولې دنيا ته د عدم تشدد دا زرين اصول ور معرفي کړي».

ګاندهي جي به مونږ سره خندل چې د شپې ټوله شپه ما په ګاډي کې ټکې خوب نه دی کړی، ولې چې د پنجاب په هر ټېشن به مخلوقات راغلل دا ټېل او ديکې به وې او چغې سُورې او کريکې به وې، ګاندهي جي به غوږونو کې مالوچ ټومبلي وو، په دې لړ کې ما ته د جواهر لال نهرو هغه خبره را ياده شوه چې کله هغوی په اول ځل د صوبه سرحد په دوره راتلل هغه ويل چې د پنجاب په ټولو ټېشنونو کې ټوله شپه خلکو چغې وهلې وې او مونږ يې ټکې خوب ته نه پرېښولو، هغه نهرو چې پخپل انداز کې ويل چې د هر يو سړي دا کوشش و چې زما غوږ له خوله راورسوي او د انقلاب زنده باد چغه په کې ښه په زوره ووهي لکه چې ددې خلکو دا خيال وي چې د جواهر لال په غوږ کې په چغه وهلو به انقلاب راشي خو هغه ويل چې يو ټېشن کې ګاډی ودرېدو او ما بيا دې چغو او

کریکو ته ځان تیارولو چې کړکۍ نه مې سر بهر کړو نو څه ګورم چې د ټېشن د یو سر نه تر بل سره پورې په پلیټ فارم د سرو جامو خدایي خدمتګار ولاړ دي نه ټېل شته نه کریکې نه دېکې شته،نه چغې،نه غوبل شته، نه داندل یو مشر ماله راغی راته یې ووې: (مونږ ستا سترې مه شي ته راغلي یو او تا ته هرکلی وایو).زه ور کوز شوم هغوی ټولو ماته په شریکه دباجو سره سلامي وکړه، جواهر لال وویل چې زه دومره متاثر شوم چې زما غوني زیګ زیګ شو او بیا یې میا افتخار الدین ته چې هغه وخت د پنجاب کانګرس صدر و مخ کړلو ویې ویل:(همین کسی کی بتانی کی ضرورت هی نه پړی که هم شریف پټهانون کی دیس مین پهنچی هین) یعنې مونږ ته د دې وینا ضرورت پېښ نه شو چې چا راته ویلي وې چې مونږ د شریفو پښتنو خاورې ته را ورسېدو.

ګاندهي جي چې د سرحد په دوره راغی نو اوله عامه جلسه په چارسده کې مقرره شوه فدا عبدالمالک صدر و،او انځر ګل سالار و دوی چې څرنګه خدایي خدمتګار وو او څرنګه خدمت یې کړی و او بیا یې چې څرنګه د کار خلک پیداکړي وو نه داسې کار چا په صوبه کې کړی او نه داسې خلک چا په صوبه کې پیدا کړي وو. ګاندهي جي چې جلسې له راغی په جلسه کې په زرګونو خلک ناست وو د هغوی په راتلو یو سړی د خپله ځایه ونه خوزېدو. د ګاندهي جي موټر راغی سټېج سره ودرېدو مونږ د موټر نه را کوز شو، موټر لاړ،مونږ سټېج ته وختو هلته جلسه شروع شوه، خلک خاموشه ناست وو تقریرونه یې اورېدل، ګاندهي جي د دې جلسې نه ډېر متاثره

شو او چې تقریر له پاڅېدو نوويې وې چې زه په ډېره دنیا کې ګرځېدلی یم، ډېرې جلسې مې لیدلې دي خو ما داسې ډسپلین او داسې جلسه لیدلې نه ده. او بیا چې تلو نو چې څرنګې راغلي وو هغسې لاړل، موټر ستېج له راغلی دی په کې کښېناستو چې دی لاړ نو جلسه خوره شوه نه مخکې او نه څوک وروسته خوځېدلي دي. زمونږ د چارسدې یو خان و هغه به وې چې زه په داسې یوه ډله کې نه شریکېږم چې د کومې ډلې مشر چې بنجاري او قصاب او شاخېل وي. زمونږ مشري په خانۍ نه وه په خدمت وه. زمونږ د اتمانزو جرنیل شاخېل و زیارتګل نوم یې و، د دوی ما تحت ډېر خانان، اربابان، میاګان او ملایان وو، د دوی حکم به یې لکه د تنخواه دارو نوکرانو په شان منلو او دا یوازې د دوی نه و د هر افسر چې هغه به هر څوک و، په خدايي خدمتګارو کې یوه ښکلې وروروليي وه، محبت و او هر کار ته به چې مقرر شو هغه به یې په مینه محبت کولو، ګاندهي جي د ټولې صوبې دوره شروع کړه، د پېښور نه پس مونږ کوهاټ ته روان شو چې درې ته ورسېدو نو ډېر افریدي د هغه استقبال ته را ټول شوي وو، په کې څه هندوان وو دا هغه هندوان وو چې دغه ازاده قبایلي علاقه کې اوسېدل او دکانونه یې کول. ما ګاندهي جي ته ووې چې دوی نه تپوس وکړه چې په دې ازاده قبایلي علاقه کې ستاسو مال، ځان او عزت محفوظ دی؟ دلته هم چېرې په تاسو ډاکې پرېوځي نو ګاندهي جي ترې تپوس وکړو نو هغوی ورته ووې چې زمونږ هر څه محفوظ دي او چې څوک په مونږ زور زیاتی کوي نو دوی د هغو مقابله کوي ما ورته ووې ګاندهي جي! هغه ټولې

ډاکې سياسي ډاکې دي د پيرنګيانو په رعيت کېږي او تاسو پرې وېروي. ولې زمونږ ډرايور و، زمونږ ګاډى به هغه چلولو، ولې ډېر ښه ډرايور دى، چې کوهاټ ته ورسېدو نو د ګاندهي جي استقبال ته ډېر خلک راغلي وو، بيا لويه جلسه وشوه بيا د دې ځايه بنو ته لاړو بيا ډېره اسماعيل خان ته لاړو، د هغه ځايه پېښور ته راغلو او د پېښور نه مردان ته لاړو. او بيا د مردان نه هزارې ته لاړو، او بيا د هزارې نه ګاندهي جي هندوستان ته روان شو، ګاندهي جي د خدايي خدمتګارو د ډسپلين او عدم تشدد نه ډېر خوشحال و.

د سرحد د خلکو سره د ګاندهي جي دومره مينه محبت و، چې ما سره يې وعده کړې وه چې که ته وايي نو زه به شپږ مياشتې په صوبه سرحد کې او شپږ مياشتې په سېواګرام کې تېروم. سردار پټېل سرحد ته د ګاندهي جي په راتلو خپه و، او په دې خبره يې ورسره همېشه اختلاف کولو. سردار پټېل دا نه غوښتل چې ګاندهي جي سرحد ته لاړ شي د پټېل دا کوشش و، چې مسلمانان په کانګرس کې رانه شي، کانګرس کې يو سړى و چې هغه مسلمان و خو ده ته هندو ښکارېدو نو هغه ته يې ويلي وو چې پام کوه دا مسلمانان درنه کانګرس ته رانه شي.

ګاندهي جي ته د صوبه سرحد وکيلانو او بيرسټرانو د ډاکټر صاحب په بنګله کې يوه سپاسنامه د سردار عبدالرب نشتر په ذريعه پېش کړې وه، او په هغې کې يې ورته ليکلي وو چې مونږ په دې فخر کوو چې ته زمونږ هم پېشه يې يعنې وکيل يې ګاندهي جي ورته ډېر مزېدار ځواب ورکړو، چې زه

ستاسو هم پېشه نه يم دا څه ښه پېشه نه ده.د کوم وخت نه چې ما د خداى د مخلوق خدمت شروع کړى دى نو دا پېشه مې پرېښې ده تاسو له هم په کار دي چې دا پېشه پرېږدئ او د ملک خدمت ته ملا وتړئ.

زمونږ د وزارت قايمېدلو لږه موده شوې وه چې په دې کې د ګورنر يو سرکاري دعوت(ايټ هوم) راغى ځنګه چې په دې کې د شرکت دپاره نورو خلکو ته ليکل شوي وو. په دې کې يې ډاکټر صاحب له هم دعوت ورکړى و. په دغو ورځو کې په کلکته کې د کانګرس ورکنګ کمېټى جلسه وه. زه هغې له تللم ډاکټر صاحب ماسره دا خبره وکړه چې مونږ د ګورنر په دې ايټ هوم کې شريک شو که نه؟ ما ورته ووې چې د کانګرس وزيران په هېڅ قسم سرکاري دعوتونو کې شريکېدى نه شي. هغه ووې چې ښه به داوي چې د ګاندهي جي نه تپوس وکړې او بيا ماله تار راکړې که چېرې دده اجازه وي، نو په هغه تار کې صرف(هو) وليکه اوکه نه وي نو صرف (نه) وليکه .زه چې کلکتې ته ورسېدم او د ګاندهي جي نه مې پوښتنه وکړه هغه ووې چې دغه رنګ سرکاري ځيزونو کې مونږ نه شريکېږو ، نو ما ډاکټر صاحب له د((نه)) تار ورکړو څه وخت چې ډاکټر صاحب ته تار ورسېد نوهغه ګورنر د دې خبر ې نه خبر کړو او ګورنر دا خبره پټه نه کړه او په (ايټ هوم) کې يې د ډاکټر صاحب خلاف ډېره پراپېګنډه وکړه. ملک خدابخش ته يې د خلکو په مخکې وويل چې ډاکټر صاحب خو شرکت غوښته، خو د بره نه ورله تار راغى نو ځکه شريک نه شو کله چې زه واپس راغلم او د دې خبرې نه خبر شوم، نو ډاکټر صاحب ته

مې ووې چې دا سړی ستا دوست نه دی او دا خبرې د دوستۍ نه دي، بلکې د شرافت نه هم لرې دي. مګر د ډاکټر صاحب داسې طبيعت و چې دارنګه خبرې به هغه ته لږې ورځې يادې وي بيا به ترې نه هېرې شوې.

په کلکته کې سوباش چندربوس او د هغه ورور سرت چندربوس د ورکنګ کمېټۍ د ممبرانو دپاره ډېر ښه انتظام کړی و،او د هر سړي د ارام او خوشحالۍ فکر به يې ساته ګاندهي جي يې پخپل کور کې دېره کړی و. زه يې د يو ډېر لوی تعلقدار سره دېره کړی وم. او دغه شان د نورو ممبرانو حال و، د ګاندهي جي به يې ډېر خدمت کولو. زه ګاندهي جي سره ناست وم چې سوباش بابوهم راغی، دی د خپلې ناجوړتيا نه پوره جوړ شوی نه و او ګاندهي جي ورته ووې چې ته خو لا پوره جوړ شوی نه يې، نو د کانګرس صدارت خو کولی نه شې. ده ووې نه جي! زه خو اوس ډېر ښه يم او دغه کار کولی شم زه پوهـ شوم چې د ده دا دومره دارو مدار د دې خبرې دپاره دی چې په جلسه کې د ورکنګ کمېټۍ ټول ممبران د ده تجويز پاس کړي. لالي په هغو ورځو کې د انټرنس امتحان نه و ورکړی او په وارده کې و جمنالال جي بجاز چې اجلاس له راتلو نو لالي يې ځان سره راوستی و، لالي سره يې ډېره مينه کوله او په ډېر زور يې ماته ايله د يوې شپې د پاره پرېښی و، د جلسې د ختمېدو نه پس هغه ګاندهي جي سره واردې ته لاړو او زه خپلې صوبې ته را واپس شوم.

## وزارتونه او خدايي خدمتګار:

مونږ خو وزارت د دې دپاره اخيستى و، چې خپل جماعت مضبوط کړو او د پيرنګي ډله کمزورې کړو، د دې دپاره په سرحد کې موهغه ټول انعامونه بند کړل چې د سرکار له طرفه به خلکو له ورکيدى شو، ولې چې په دې صورت به دې خلکو روپۍ د خلکو له بيت المال نه اخيستې او خدمت او تابعداري به يې د پيرنګيانو کوله او دغه شان انريري ميجسټريټۍ موهم ماتې کړې او ضلعدارۍ مو هم ماتې کړې. ځکه چې دا ټول خلک د پيرنګي ډله وه. بل کار مو دا وکړو چې غريب خلک مو د ملکانو د څوکيدارۍ نه خلاص کړل چې په دې وسيله به هغوى په خلکو ډېر زياتې او ظلمونه کول. زمونږ دا هم اراده وه چې د کلو نمبرداران دې هم مات شي ځکه چې دا هم د پيرنګي يوه مضبوطه ډله وه، مونږ غوښتل چې د هغوى په ځاى دې د ماليې د ټولولو دپاره په هر تحصيل کې نايب تحصيلدار مقرر شي،مګر په دې کې کاميابه نه شو ځکه چې زمونږ د اسمبلۍ ځينې ممبران پخپله نمبرداران وو. دا زمونږ د غلط انتخاب نتيجه وه،او د اينده له پاره مونږ له ددې نه سبق اخيستل په کار دي بله دا چې د کوهاټ د تيري رياست په خلکو دوه ظالمانه ټيکسونه وو،چې ورته به يې بوا او تېرنى ويلى شو،په اسمبلۍ کې د هغې د لرې کولو دپاره قرار داد پاس شو.

يوه بله عجيبه خبره درته وکړم! يوه ورځ زه او قاضي صاحب په ايبټ اباد کې مازيګر په سړک ګرځېدو. مونږ وليدل چې زمونږ نه وړاندې جينکۍ دي او ورپسې هلکان دي، دا ماته

بـد ه ښـکاره شـو ه،ما قاضـي صـاحب تـه وویـل چـې ستاسـو د وزیرانـو دومـره اختیـار شـته چـې د دې مخنیـوی وکـړئ، ځکـه چـې دا خـو زمـونږ بچـي دي. د دوی عـزت زمـونږ عـزت او د دوی بـې عزتـي زمـونږ بـې عزتـي ده. قاضـي صـاحب راتـه ووې چـې مـونږ قانوناً دومـره اختیـار نـه لـرو، مـا ورتـه وویـل چـې مـونږ د خپلـو لوڼـو، خوینـدو اومیانـدو د عـزت حفاظـت نـه شـو کـولی، نـو د داسې حکومـت نـه څه فایده. تعلیم کې هم څه نـه څه ترقي وشـوه پـه اخـر کـې سـکولونه پرانـستی شـول او هغـې کـې کـافي برخـه د جینکـو د پـاره وه. او څـومره چـې مـونږ غوښـتلو هغـومره تعلـیم خورېدی نـه شـو، ځکـه چـې د دې د پـاره پـه بجـټ کـې لـږ رقـم مقـرر شـوی و، چـې د هغـه زیاتـه برخـه بـه د محکمـې پـه خرڅونـو لګېدلـه مـونږ هغـه کـې هـم څـه بچـت وکـړو، د انګرېـزډایرکټـر پـه ځـای مـو دیسي سـړی ولګـولـو او د انـسپکټر عهـده مـو لـرې کـړه نـور هـم پـه کـې ګنجـایش و مګـر د هغـې اصـلاح زمـونږ د وس نـه بهـر وه. د تعلـیم پـه بـاره کـې چـې کـوم زیـاتی د پـښتنو بـرخلاف پیرنګیـانو کـړی دی،هغـه یـې پـه هندوسـتان کـې د بـل چـا سـره کـړی نـه دی، د پـښتنو د بچـو د پـاره ددې بـې کـاره تعلـیم یـې هـم ډېـر لـږ انتظـام کـړی و، او د جینکـو د تعلـیم طـرف تـه یـې اډو څـه توجـه نـه وه کـړې. بلـه دښـمني یـې د پـښتنو سـره دا کـړې وه چـې ابتـدایي تعلـیم یـې پـه مـورنۍ ژبـه نـه و، او پـه پـردۍ ژبـه کـې و. پـښتنو د خپلـو بچـو د پـاره د خپلـو مدرسـو د جوړولـو کوشـشونه بـه وکـړل او مدرسـې بـه یـې جـوړې کـړې مګـر حکومـت د دې پـه ځـای چـې هغـوی سـره امـداد کـړی وی،د هغـې مخالفـت بـه یـې کولـو او د هغـو د بندېـدو کوشـش بـه یـې کـوو. زمـونږ وزارت دا قـدم هـم

اوچت کړو چې په ابتدايي مدرسو کې يې پښتو ژبه لازمي وګرځوله او بل طرف ته زمونږ قوم ټول عمر د بل د پړق د لاندې تېر کړی و. هغوی اختيارات ليدلي نه وو او نه ورته دا معلومه وه چې اخر زمونږ اختيارات څومره دي مونږ دوه انيز ګټلی و. او قوم روپۍ غوښتله او دا هم پرېږده چې د جايز او ناجايز هيڅ قسم تميز نه و او د هر سړي دا خيال و، چې لُوټ دې نورو وکړو او زه پاتې شوم نور قوم خو لا پرېږده د خدايي خدمتګارو هم دا حال و، چې هر وخت به دوزيرانو په بنګلو کې ناست وو تانې او تحصيلونه د دوی نه خالي نه وو او هر يو به چې څه وې که هغه به وشو خو ښه او که هغه به ممکن نه و، نو بيا به يې د وزارت برخلاف پراپېګنډه کوله چې د غريبانو خلکو دپاره څه وشو او مخالفينو به هم پرې مالګه، مرچکې دوړول. بيا به يې کلو کې پراپېګنډه کوله چې د خدايي خدمتګارو او غريبانانو هيڅ ونه شو، په دغه طريقه دغو نادانانو دوستانو خپل تحريک ته نقصان ورسولو. ما چې به د خدايي خدمتګارو دې کارته کتل نو حېرانېدم به او د ځان سره به مې وې چې خدايه دا هغه خلک دي چې دوی خدای سره وعده کړې وه چې مونږ به ستا دپاره د خپل قام او ملک خدمت کوو. بغير د څه لالچ نه. د ډېر افسوس خبره خو لا دا وه چې څه وخت به يو ملازمت او يا يوه وظيفه وه، نو د هغې دپاره به سلو خدايي خدمتګارو درخواستونه ورکړي وو خو وظيفه به يوه وه يو سړي له به ورکړی شوه. هغه به هم خدايي خدمتګار و، دا نور يو کم سل خدايي خدمتګار به ټول خپه وو، او د وزارت او د خپل تحريک بر خلاف به يې هر ځای

پرا پېڅنده کوله او تشه پرا پېڅنده نه وه، کنځل او بد ویل به هم ورسره و.

کومه ورځ به چې د نوکرو دپاره د مقابلې امتحان و، نو عجیبه نظاره به وه په سوونو امیدوار به وو اوهر یو امیدوار سره به د سفارش دپاره جرنیلان، کرنیلان، صدران او ناظمان راغلي وو. عجیبه خبره خو لا دا وه د هغوکسانو د زامنو دپاره به یې هم سفارشونه کول چې پلرونو یې د حکومت دپاره دوی ښه ډبولي وو. او شرمولي وو او په موجوده وخت کې هم د پیرنګیانو ملګري وو، ما ته به د خدایي خدمتګارو داسې کارونه ډېر بد او مکروه ښکارېدل. که د امیدوار به څه وشو او که نه د دوی خو به وشو په موټرو کې به وګرځېدل، چای،ډوډی به یې وخوړل او پالوده پرې دپاسه، په دې کې بل لوی نقص دا و چې ټول کسان خو به نوکران کېدی نه شول نو هغو کسانو او د هغوی خپلوانو به خدایي خدمتګارو ته پېغورونه کول، چې جېلخانې تاسو تېرې کړې او فایدې د نوروخلکو دي ستاسو په کې څه وشو؟

زمونږ د وزارت نه یوه لویه غلطي دا هم وشوه چې د سرحد هغه وحشي او ظالمانه قانون چې مونږ ټولو ورسره مخالفت کړی و.او زه ټول عمر پیرنګیانو په دې قانون کې ګرفتار کړی او قید کړی وم، دې وزارت اول دغه سرحدي قانون مات کړو، هغه پیرنګیانو زمونږ د وزارت په ذریعه بیا واپس جاري کړو، جماعت سره یې څه سلا او مشوره څه چې زه یې هم خبر قدرې نه کړم. حال دا چې په کار و چې داسې نه وی شوی.د جماعت نه تپوس شوی وی او که چېرې د جماعت رضا نه وی نو

دوزیرانو هیڅ حق نه و، چې هغه مړ قانون یې بیا را ژوندی کړی وی. په دې قانون یو خو د پیرنګیانو اقتدار زیات شو ځکه چې په جرګو کې د مقررېدو په طمع خلک ورمات شول او سلامونه یې شروع کړل. او بل زمونږ ډېر خلک د سرحدي قانون په ذریعه حکومت قید کړل.او بیا خومونږ هیڅ ویلی نه شول ځکه چې دغه قانون مونږ پخپل وزارت کې اجراء کړی و،او زه ټول عمر پیرنګیانو په دې قانون کې قید کړی یم او بل طرف ته ټول سرکاري نوکرانو زمونږ برخلاف یوه منظمه پراپېګنډه د خپلو افسرانو په ډاډګیرنه شروع کړه، دوی اډو د وزارت څه پروا نه کوله او نه یې څه ګنهل ډېر ځله ماسره په خپل ځان ډېرو سرکاري ملازمانو د خلکو په مخکې د خدایي خدمتګارو برخلاف کیسې کړې دي. دغه شان زه یو ځل سره د عاشق شاه باچا د مومندو دکوه دامان په دوره وم.د هغې علاقې تانېدار به مونږ سره و، هغه به زمونږ برخلاف پراپېګنډه کوله او خلکو ته به یې ویل چې باچاخان خو غوا نه حلالوي ان تر دې چې په یوه لویه جلسه کې ځینو کسانو دده په لمسه شور جوړ کړو او زما د تقریر په دوران کې یې رانه دا سوال وکړو چې ته غوا حلالوې؟ ما ورته وې چې زه خو قصاب نه یم او مسلماني خو څه په غوا حلالولو باندې نه ده، دا کیسه ډاکټر صاحب او نورو وزیرانو ته ورسېده اول خو ډاکټر صاحب د عاشق شاه باچا په خوله یقین نه کولو او چې یقین یې وشو نو بیا یې هم د هغه تانېدار څه ونه کړی شو، دا خو پرېږده زمونږ کلي کې د جواری پړ و ډاکټر صاحب درې ځله پخپله د دې پړ بندولو دپاره راغلی و. لیکن بند نه شو ځکه چې دا خو

د پولیس کار و او پولیس امداد نه کولو هغوی خو به په کې حصه اخیستله. ډاکټر صاحب پخپله یو سړی په رشوت نیولی و. په هغه مقدمه چلیدله خو اخر مجسریټ بري کړو. حقیقت دا و چې سرکاري افسران د صوبې د وزارت نه، نه وېرېدل. ولې چې دوی هغوی له سزا نه شوه ورکولی، چې کوم سرکاري افسر نه به وزارت ناراض شو،او هغه له د سزا ورکولو اراده به پې وکړه، نو ګورنر او لوی انګرېز افسرانو به دغه افسر سمدستي د صوبې په خوا کې ایجنسو ته بدل کړو. او په دې طریقه به هغه د سزا نه بچ شو، نتیجه دا شوه چې سرکاري افسرانو د وزیرانو په ډاګه حکم عدولي کوله. او د هغوی سره یې هیڅ قسم تعاون نه کوو.ددې ټولو خبرو دپاسه د ډاکټر صاحب خیال و،چې سرکاري افسران د هغوی وزارت سره تعاون کوي. په خوشدل کپتان د ونو د پټولو مقدمه جوړه شوه او بد په کې راګیر شو نو ګورنر راغی او ډاکټر صاحب ته یې ووې چې دا سړی به زه د دې ځای نه بدل کړم خو دا مقدمه ترې واپس کړه. ډاکټر صاحب ته خپلو ملګرو ویلي وو چې دا کپتان ډېر خراب سړی دی. ده په خدایي خدمتګارو ډېر ظلمونه کړي دي وهلي یې دي، شرمولي یې دي، بېګناه یې قید کړي دي. خو ډاکټر صاحب عجیبه سړی و.د دې ټولو خبرو دپاسه هغه یې د ګورنر په خوله بدل کړ.دغه خیال زمونږ او زمونږ د تحریک دپاره ډېر خطرناک و. او دغه وجه وه چې د حکومت ملازمانو زمونږ سره تعاون نه کاوه.او انګرېزانو به چې څه ورته ویل هغه به یې کول او د دې ملازمانو دا یقین و چې واک اختیار د دوی نه بلکې د انګرېزانو دی. دغه شان

زمونږ د اسمبلۍ ممبران او د ډسټرکټ بورډ ممبرانو هم دا خبره هېره کړه چې مونږ د قوم په ووټ منتخب شوي یو او هر څه چې کوو په کار دي چې د قوم د پاره وکړو، عجیبه خبره خو لا داوه چې په ډسټرکټ بورډ کې او نورو ځایو کې چې به کوم سړی دوی مشر مقرر کړو.هغه به په دیانتدارۍ سره کار کاوه او د خپلو اصولو پابند به و او د دوی ناجایز سفارشونه یې نه منل،نو دوی به د هغه د غورځولو کوشش کولو.لویه د افسوس خبره دا وه چې د دوی خپل خدایي خدمتګار ورور دوی سره به یې په یوه کړۍ قیدونه تېر کړي وو د هغه په ځای به یې هغه سړي له ووټ ورکولو چې خدایي خدمتګار به نه و ډنډې مار به و، خو په ده به یې غوړې زبېږې وهلې. او دده خوشامندې به یې کولې،د جګړا خان په دوی غوړې زبېږې وهلې وې او بله دا چې د پیرنګیانو ډنډه مار و،هغه زمونږ خدایي خدمتګار نه و خو ټول د هغه ملګري شول او هغه یې د خپل خدایي خدمتګار په مقابله کې کامیاب کړو، وزیرانو به هم چا سره سلا مشوره نه کوله هغوی زمونږ دې ورونو داسې وارخطا کړي وو، چې پخپلو کې هم د دوی سلا مشوره نه وه او نه د اصولو پابندي وه. وایسرای راغی دوی د هغه هر کلی وکړو،او بیا ډوډۍ کې ورسره ډاکټر صاحب شریک شو ما ته د کانګرس د هایي کمانډ(High Command) نه تار راغی چې دا څه مووکړل؟ دغه شان زمونږ د اسمبلۍ په ممبرانو کې هم ډلې جوړې شوې وې په ډسټرکټ بورډونو کې هم پرې جنبې وې د خدایي خدمتګارانو هم دغه حال و، نور خو لاپرېږده چې د ډاکټر صاحب او قاضي صاحب په مینځ کې د ګُلي ګهرۍ

ارباب عبدالرحمان خان او میا جعفرشاه سخت اختلاف پیدا کړی و. ډاکټر صاحب او قاضي صاحب زمونږ ډېر ذمه دار خدايي خدمتګاران وو او د وزارت نه مخکې د دوی یو بل سره ډېره مینه، محبت، وروروليي او ښه تعلقات وو.

مونږ چې به په ملک کې دوره کوله نو زمونږ خلاف به پرنګیانو پراپېګنډه کوله او ملایانو ته به یې ویل چې دوی بالشویک دي، دوی مذهب وړکوي او تاسو وړکوي او خانانو ،ملکانانو ته به یې ویل چې دوی خو ستاسو نه هر څه اخلي او غریبانانو له یې ورکوي. ملایانو مونږ سره ږښتینولي نه کوله او د هغوی یې منل او د هغوی خبرې پسې تلل ولې خانان او ملکان به راتلل زمونږ نه به یې تپوسونه کول،زه د دواوې په دوره وم،چې دغلته څه خانان او ملکان راغلل او زما نه یې تپوس وکړو،چې مونږ اورو چې تاسو زمونږ نه جایدادونه اخلئ او غریبانانو له یې ورکوئ، ما ورته وویل چې مونږ له خدای داسې ملک راکړی دی چې د دولتونو او نعمتونو نه ډک دی،که مونږ ازاد شو او دا ملک زمونږ شي او مونږ مُلا وتړو،دا ملک اباد کړو، نو څوک به غریب پاتې نه شي، مونږ به ټول خانان شو زمونږه دا اراده نه ده،چې ستاسو نه جایداد او ملک واخلو مونږ خو ستاسو حالت هم ښه کول غواړو او دا وړې مړول غواړو،که دا وړي ماړه شي نو تاسو ته څه تاوان دی؟،که تاسو د پیرنګیانو ملک ته لاړئ نو هلته نور خلک خو پرېږده د مزدورانو یې بنګلې او موټرونه وو او ستاسو نه تپوس کوم چې ستاسو موټر شته، بنګله شته؟ که زمونږ تحریک کامیاب شو نو د مُلا حالت به هم ښه شي او د

خان او ملک حالت به هم ښه شي، مونږ دا هرڅه چې کوو نو د ځان د پاره يې نه کوو، دا د دې قوم او ملک د پاره کوو.

چې مونږ د صفايۍ کار شروع کړو او کلو ته تلو جاروګانې به راسره وې، جماعتونه، حجرې او لارې، کوڅې به مو جارو کولې، نو د پيرنګيانو ايجنټانو به خانانو، ملکانانو او مُليانو ته ووېل چې د دوی د دې جارو نه مطلب دا دی چې په تاسو جارو راشي او دا ملک دغه شان ستاسو نه پاک شي، خو زمونږ په کوشش قوم کې رورولي، عزيزولي، قام ولي او سياسي شعور پيدا شوی و، نو چې څومره به دوی زمونږ خلاف پراپېګنډې کولې هومره به په قوم کې مونږ سره د خلکو همدردي زياتېده، ولې چې هغوی به ليدل چې مونږ خو د هغوی خدمت کوو او د هغوی د حق د پاره پيرنګيانو سره په جګړه يو، تکليفونه، مصيبتونه او جېلخانې تېروو، خلکو به ويل چې جېلخانې دوی تېروي او حق زمونږ د پاره غواړي، دغه وجه وه چې د قوم او خلکو مونږ سره ډېره همدردي وه، خلکو ته معلومه وه چې د «۱۹۱۹ع اصلاحات» هندوستان نه قبلول، هغوی ويل چې لږ دي، ولې د صوبه سرحد نوابانو، خانانو، صاحبزادګانو، سيدانو او زېرګانو دا اصلاحات غوښتل، خو پيرنګيانو نه ورکول، ورته يې ويل چې تاسو پښتانه په حکومت څه پوهېږئ، تاسو ځنګليان خلک يئ دا اصلاحات خو دوی (خدايي خدمتګارو) مونږ له ګټلي دي، بيا دې قوم ته معلومه وه چې دا ووټ خو باچاهي وه، ځکه چې حکومت په ووټ جوړېږي او ووټ راله دوی ګټلی دی.

حقیقت دا دی چې زمونږ تحریک ته د پر نقصان اقتدار ورسولو دا خود غرضه خلک د اقتدار په انتظار کې وو، چې اقتدار راغی. نو دوی په مونږ کې را ننوتل دوی خوخدمت له نه وو راغلي اقتدار پسې راغلي وو، نو مونږ کې یې د هغې خپل اقتدار دپاره پرې جنبې پیدا کړې.

اقتدار خراب شی نه دی مونږ هم چې کوشش کوو د اقتدار دپاره یې کوو، خو اقتدار د حکومت دپاره نه، د خدمت دپاره زمونږ د خدایي خدمتګارو خو دا قاعده وه چې مونږ به د یو کار دپاره څوک مقررولو، نو مونږ ټول به را غونډ شو، ما به ورته وویل چې دا کار دی او دې کار دپاره مونږ له یو سړی په کار دی، تاسو یو سړی خوښ کړئ چې د دې کار لایق وي او ما ته یې راکړئ هغوی به یوسړی خوښ کړو او ما له به یې راکړو. داسې به په دې کار کې نه د چا خپګان وو نه ګیله، نه مخالفت، مونږ په تولاندي کې د خدایي خدمتګارو صدر انتخابوو، افریدي خان صدر منتخب شو، هغه ماله راغی ما ته یې وویل چې باچا خانه زه خو خدایي خدمتګار یم. زه که صدر یم هم به خدمت کوم او که صدر نه یم هم.زمونږ مولوي صاحب په صدارت خوشحالیږي، نو خوښه دې نه ده چې دا صدارت هغه له ورکړم، ما ورته وویل چې ستا خوښه ده نو زما هم خوښه ده. نن تاسو دې سیاسي جماعتونو ته وګورئ، په دوی کې دا جګړې، مخالفت، پارټي بازي او جدایي دا څه څیز پیدا کړي دي دا اقتدار!

زه دې قوم ته وایم چې تاسو تر څو بې غرضه، دیانتدار، ایماندار، په قوم او ملک مئین خلک پیدا کړي نه دي، نو نه

دا ملک ازاد ېږي او نه دا قوم.

بیا ووېء دی، نو زه د ووېء مخالف نه یم، دا مونږ چې په کومه طریقه خپلې جماعتي او قامي فېصلې کوو دا ووېء نه دی؟ او دا جمهوریت نه دی؟ او دا ووېء مونږ په قربانو ګټلی نه دی؟ خو زه دا وایم چې زمونږ دا قوم د ووېء په حقیقت پوهول غواړي او باید چې په دې یې هم پوه کړو، چې ووېء هغه چا له ورکول په کار دي چې څوک یې مستحق دي، وروړ عزیز ته یا په پیسو ووېء خرڅول نه دي په کار. زه خو وایم چې څوک په پیسو ووېء خرڅوي د هغه د ووېء حق اخیستل په کار دي. د خود غرضو خلکو په وجه خدایي خدمتګارو کې هم خودغرضي پیدا شوه، د یوې حلقې نه به یو ممبر کېدو او درخواستونه به سلو کسو ورکړل، چې یو سړی به وشو نو یو کم سل به خپه وو بیا به یې پارلېمنټري بورډ ته بد رد ویل، دغه حال د ملازمتونو وو چې ځای به یو و، او امیدواران به سل وو، نو نوکري خو به یوه وه، د یو سړي به ورسېده، یو به خوشحال شو یو کم سل به خپه وو، نو بیا به یې متعلقه وزیر ته کنځل کول،او مسلم لیګ به دا پراپېګنډه کوله چې د غریبو څه حال شو؟، بیا به ماله هم راغلل شکایت به یې راته کولو ما به ورته ویل چې دا سړي چې مقرر شوي دي دا خدایي خدمتګار دي او که نه؟ دوی به وویل چې خدایي خدمتګار دي، ما به ورته وویل چې خدایي خدمتګار دي نو بیا خو دا یوه نوکري ده یو سړي ته به رسېده. بله دا چې ما به تپوس وکړو چې دا کوم خدایي خدمتګار چې مقرر شوی دی دا د وزیر وروړ عزیز دی، ده خپل وروړ عزیز مقرر کړی دی نو ویل

به يې چې نه. نو بيا به ورته ما وويل چې دا ښه کار نه دی چې تاسو خپلو وزيرانو پسې بد رد وايئ.

پيرنګيانو ته خو دا معلومه وه چې دا يو اصولي جماعت دی چې څه وايي هغه کوي مونږ خلکو ته ويلي وو چې څوک يې ګټي هغه به يې څټي او پيرنګيانو ته دا هم معلومه وه چې دوی د نورو سياسي ليډرانو غوندې نه دي چې قوم سره د انتخاباتو وخت کې کومې وعدې وکړي نو يوه هم نه پوره کوي نو چې زمونږ وزارت شو نو هغوی سره فکر شو او زمونږ د بدناملو کارونه يې شروع کړل، يوه ورځ قاضي صاحب ما له راغی چې ډاکټر صاحب خو د ګورنر کننګم سره د ملازمتونو په باره کې دا وعده وکړه چې دې دپاره به کمپيټيشن (Competition) د مقابلې امتحان وي چې څوک لايق او قابل وي هغه به اخيستی شي که چيرې داسې ونه شي نو ايډمنسټرېشن (انتظاميه) به خرابه شي، دا قسم مسئلې به زمونږ يوه کمېټي وه، هغې ته پېش کېدې. زه هم د کمېټۍ ممبر ووم. ما قاضي صاحب ته وويل چې ته هغه کمېټي را وغواړه، څه وخت چې د کمېټۍ اجلاس شروع شو نو ما د ډاکټر صاحب نه تپوس وکړو چې ډاکټر صاحب تا د ګورنر سره فيصله کړې ده؟ ډاکټر صاحب وويل چې که کمپيټيشن نه وي نو بيا خو به قابل خلک رانشي ايډمنسټرېشن به خراب شي ما ورته وويل ډاکټر صاحب ما د انګرېزانو په حکومت کې داسې خلک ليدلي دي چې ملازمان دي او دستخط کولی نشي، بلکه دا چې پيرنګيانو ته به څوک د ملازمت دپاره پېش شو نو دوی به ترې اول دا پوښتنه کوله چې د سرکار دې څه خدمت کړی

دی؟ او هغه خلک به يې اخيستل چې د سرکار خدمت به يې کړی و، نو مونږ ته هم په کار دي چې هر سړی اخلو نو دا پوښتنه ترې کوو چې تا يا ستا پلار د دې ملک او قوم څه خدمت کړی دی؟ او دا خدايي خدمتګار خو تول عاجزان دي، دوی خو پخپل اولاد په خپل کلي کې هم سبق نه شي ويلی او دولتمند خودلته نه چې په يورپ او امريکا کښې پخپلو بچو سبق ويلی شي نو د دې خو دا مطلب شو چې قرباني خو غريب وکړه او چې څه ګټه اوشوه نو هغه د خانانو بچو واخيسته چې څوک د ملک او قوم د ازادۍ جنګ کې د پېرنګي ملګری و،زه د (Competitive Exam) (د مقابلې امتحان) خبره منم خو په دې شرط چې تاسو د دې غريبانانو بچو له دغه شان تعليم ورکړئ، څنګه چې دولت مند خلک خپلو بچو له ورکوي ما ورته وويل چې که تاسو دې سره اتفاق نه کوئ نو ښه به دا وي چې استعفا ورکړئ،ډاکټر صاحب راته جواب کې وويل چې زه د دې کمېټۍ نه استعفا ورکوم.

لنډ: دا چې زه په دې نتيجه و رسېدم چې څومره زر کېدی شي مونږ له وزارت پرېښودل په کار دي ځکه چې زمونږ تحريک ته د فايدې په ځای تاوان رسوي. زمونږ د اسمبلۍ په ممبرانو کې ورخ په ورخ اختلافات زياتېدل، چا به د ډاکټر صاحب نه شکايت کولو او چا د قاضي صاحب نه.دا اختلاف اصولي نه و، بلکې ذاتي و،او اخر نوبت دې ته ورسېدو چې د وزارت ماتولو دپاره د هزارې ضلع د کانګرس اسمبلۍ ځينې ممبران د اټک په ډاک بنګله کې مخالفو ممبرانو سره د سلا او مشورې دپاره جمع شول.مګر خدای خبر چې ولې څه فيصلې

تــه ونــه رســېدل،د بعــضې خلکــو دا خيــال و،چــې خــان بهــادر سـعدالله خـان او اورنـګ زيـب خـان پـه کـور کـې د وزارت اعلـی پـه عهــده بانـــدې وران شـــول، د ال انـــډيا کـــانګرس کمېټـــۍ پـارلېمنټري کمېټـۍ صـدر مولانـا ابـوالکلام ازاد پخپلـه سـرحد لـه راغـی مګـر دا مـسئله حل نـه شوه. ځکـه چې د ذاتيـاتو شخـصي مـسئلې حـل کېـدی نـه شي.د اسـمبلۍ بعـضۍ ممبرانـو زه مجبـور کـړم چـې پـه دې معاملـه کـې مداخلـه وکـړم د هغـوی هـم دا خيـال و،چـې ښـه بـه دا وي چـې مـونږ دا وزارت پرېـږدو.زمـا خـو د اول نـه دغــه خيــال و. مګــر د وزيرانــو پــه کــارونو کــې مــې مــداخلت نــه کولــو ځکــه چــې ذمــه داري د هغــوی پــه ســر وه. مــا د خــدايي خـدمتګارو لويـه جرګـه جمـع کـړه او د وزارت دا خبـره مـې ورتـه وړانـدې کـړه ټولـو ممبرانـو پـه دې خبره اتفـاق وکـړو چـې حکومـت مـونږ سره تعـاون نـه کـوي، نـو مـونږ لـه پـه کـار دي چـې وزارت پرېـږدو ځکـه چـې د دې نـه زمـونږ تحريـک تـه ګټـه نـه رسـي، بلکـې نقــصان رســي.اجــلاس خــتم شــو او مـــا د صــوبې د خــدايي خدمتګارو لـويې جرګـې نـه د دريـو دريـو کـسانو يـوه کمېټـه جـوړه کـړه او اسـمبلۍ ممبرانـو تـه مـې ووې چـې سبا لـه بـه تاسـور اځـئ او يـو يـو کـس بـه ځـان ځـان لـه خپلـه رايـه او بيـان دې کمېټـۍ لـه ورکـوئ.سبا لـه چې هغـې کمېټـۍ خپـل کـار شـروع کـړو نـو د امـير محمــد خــان د هــوتي نــه عــلاوه نــورو ټولــو ممبرانــو د وزارت پــه حـق کـې رايـه ورکـړه، زه حېـران شـوم او بهـر تـه رواووتـم. ټولـو ممبرانـو تـه مـې ووې چـې دا څنګـه خبـره ده. پـرون تاسـو د وزارت

مخالف وئ او نن يې ملګري شوئ ډاکټر صاحب ما ته ووې که ماته اجازت وي نو دا راز به زه ښکاره کړم ما اجازت ورکړو. هغه ووې چې دوی ټول وايي چې وزارت دې وي مګر کوي دې هغه څه چې مونږ ورته وايو، ليکن دغه خبره مونږ ته منظوره نه ده، نو په مونږ د دباو اچولو دپاره دوی بيا د وزارت د ماتېدو تپه کوي. خير مونږ خواره شو مګر د وزارت د پرېښودو په باره کې زما رايه نوره هم ټينګه شوه اوڅو ځله د ال انډيا کانګرس هائي کمان ته مې دا خبره وړاندې کړه چې تاسو مونږ له اجازه راکړئ چې مونږ د سرحد وزارت مستعفي کړو ځکه چې مونږ ته د فايدې په ځای نقصان رسېږي، هغوی اجازه نه راکوله او راته به يې وې چې ټول وزارتونه به په يو ځل پرېږدو، مګر د خدای فضل و، چې د يورپ دويم لوی جنګ په (۱۹۳۹ ع) کې شروع شو.

## وزارتونه مات شول:

کله چې يورپ کې د جنګ په شروع کېدو برتانيې د جرمني خلاف د جنګ اعلان وکړو نو د هغې سره سره يې د هندوستان د طرف نه هم د جرمني خلاف د جنګ اعلان وکړو کانګرس په دې اعتراض وکړو چې د تېرو صوبايي انتخاباتو نه دا خبره واضحه ده، چې مونږ د هندوستان د اولس نمايندګان يو، نو په کار دا وو، چې د هندوستان د طرف نه د جنګ د اعلان کولو نه وړاندې د هندوستان د خلکو نه رايې معلومه کړې

شوې وی، بلـه مطالبـه يې دا هـم پـېش کـړه چې کـه د برتـانيې او د اتحـادي طـاقتونو دا اعـلان صـحيح وي چـې دوی پـه دنيـا کـې د صـلح او امـن او ازادۍ دپـاره جنګېـږي، نـو کـانګرس تپـوس کـوي چې ايـا پـه دې کـه بـه هندوسـتان هـم شـامل وي اوکـه نـه؟ مخکـې ورتـه بيـا کـانګرس وويـل چې مـونږ بېشکه د دغـو اصولو دپـاره جدوجهـد کـوو او حکومـت برتانيـه لـه دا تـسلي ورکـوو چـې هندوسـتان بـه هـم پـه دې جنـګ کـې هغـوی سره ځنـګ پـه ځنـګ ودرېـږي. او د هـېڅ قـسم قربـانۍ نـه بـه غـاړه ونـه غـړوي خوپـه شـرط د دې چـې حکومـت برتانيـه دا اعـلان وکړي،چـې د جنـګ پـه خاتمـه بـه هغـوی هندوسـتان لـه ازادي ورکړي،چونکـه حکومـت برتانيـه د دې اعـلان کولـو نـه انکـار وکړو،نـو د دې خـلاف د احتجـاج پـه طـور د کـانګرس ټولـو صـوبايي حکومتونـو پـه جمـع اسـتعفا وکـړه او مـونږ خـدای د دې مـصيبت نـه خـلاص کـړو، د وزارت د ماتېـدو نـه وروسـته مـا د ټـولې صـوبې دوره وکـړه.د وزارت پـه وجـه چـې پـه صـوبه کـې کـوم جمـود پيـدا شـوی و. د وزارت پـه پرېـښودو او زمـونږ پـه کوشـشونو جلـسو او تقريرونـو پـه خلکـو کـې ورو ورو بيـا ژونـد را پـېدا کـړو، د يـورپ دويـم لـوی جنـګ شـروع شـو، د کـانګرس دپـاره دا خبـره ضـروري وه چـې د جنـګ پـه بـاره کـې قـوم د خپلـې پـاليسۍ نـه خبـر کـړي. د کـانګرس ورکنـګ کمېټـۍ د دې کـار دپـاره پـه وارده کـې خپـل اجـلاس راوغوښـت، پنـډت جـواهر لال نهـرو چـين تـه تللـی و. هغـه يـې د تـار پـه ذريعـه را وغوښـتو هغـه د هـوايي جهـاز پـه ذريعـه

ځان را ورسولو په دې کې فېصله وشوه چې بله میاشت کې به بیا را جمع کېږو او حتمي فېصله به کوو.

پیرنګیانو د دې نه پس په ټول هندوستان کې د مسلم لیګ وزارتونه جوړ کړل. خو زمونږ صوبه کې یې د مسلم لیګ وزارت قایم نه کړو، ګورنر کننګم به ویل چې دلته زه د مسلم لیګ حکومت نه جوړوم، که زه چېرې حکومت جوړوم هغه به د ډاکټر خان صاحب وي، نو زمونږ خلک په دې خوشحال وو چې د مسلم لیګ حکومت نه جوړوي. خو زما دې سره اتفاق نه وو، او زما د ګورنر دا خبره خوښه نه وه. ولې چې ما ویل چې د مسلم لیګ حکومت جوړ شي نو چې خلکو ته د خدایي خدمتګار د حکومت او د مسلم لیګ د حکومت فرق او ښه او بد معلوم شي، خو اخر هغې ګورنر چې دلته د مسلم لیګ حکومت نه جوړو، د مسلم لیګ حکومت جوړ کړو. زه په جېلخانه کې چې خبر شوم چې د مسلم لیګ حکومت جوړ شو ،نو ددې په جوړېدو قوم پرست خلک ډېر خپه وو. ولې زه خوشحاله وم، خلک حېرانېدل، مابه ورته ویل چې زمونږ دا قوم ډېر عجیبه دی، تاسو نه ګورئ مونږ دوه انیز ګټلی دی او دوی روپی غواړي،مونږ سره روپی نشته نو زمونږ نه خپه وو مونږ دوه انیز ګټلی وو هغه به مو ورکولو اومسلم لیګ به دا هم نه ورکوي او هم دغه شان وشوه.

❋❋❋

# د خدايي خدمتگارو غورځې پرځې

انفرادي سول نافرماني، زما د قتل سازش
هزاره کې د خدايي خدمتگارو کېمپ،
اتمانزو کې کېمپ، عالمي جنگ او کانگرس،
قبايلو ته د خدايي خدمتگارو وفدونه،
هندوستان پرېږدئ تحريک، د ميرويس
واقعه، زما گرفتاري او هرپيور
جېل، وزارتونه جوړېږي.

اخر د ۱۹۴۲ کال په دسمبر کې ورکنګ کمېټۍ د انفرادي سېول نافرمانۍ قرارداد پاس کړو. او دا فېصله يې وکړه، چې دا سېول نافرماني به صرف د ال انډيا کانګرس کمېټۍ ممبران د مرکزي اسمبلۍ ممبران او د صوبايي اسمبلۍ ممبران کوي.او ددې دپاره يې هدايات او قواعد هم خواره کړل، چې په دې طريقه به دا کوي، په پېښور کې مونږ د خدايي خدمتګارو په دفتر کې را ټول شو. يو يو ممبر به مو را غوښتلو ،هغه ټول هدايات او قواعد به مو ورته بيانول نو بيا به مو د هغو عملي کولو او پوره کولو وعده ترې اخيستله، بيرسټر قيوم د مرکزي اسمبلۍ ممبر و ،کله چې ډاکټر خانصاحب د صوبې اسمبلۍ ته ودرېدو نو هغه د مرکزي اسمبلۍ نه استعفا وکړله، او پخپل ځای يې د پېښور ښار يو بيرسټر عبدالقيوم ممبر کړو، زما په ده ډېر اعتبار نه و. او دې څه چې د دې ټولو د اسمبلو ممبرانو نه مې هم اميد نه و، چې دوی به په دې پوره عمل وکړي نو ده له مې اجازه نه ورکوله، ډاکټر صاحب راته د ده دپاره ډېر منت وکړو، نو اجازه مې ورکړه دا هم ورکنګ کمېټۍ پاس کړې وه، چې شايد د سول نافرمانۍ سره به دا خلک ګرفتار شي،که ګرفتار شول خو ښه او که حکومت ونه نيول نو دوی له په کار دي چې کور نه کښېني. او په دې قام پسې کلي په کلي وګرځي او د سول نافرمانۍ تقريرونه دې کوي تر هغې پورې به ګرځي، څو پورې چې ګرفتار شوي نه وي، ليکن افسوس دی چې ډېرو لږو خلکو د دې پابندي وکړه اکثر کسان ورځ دوه اخو اد پخوا وګرځېدل او پخپلو کورونو کې کښېناستل او وکيلانو خو دومره کمال

وکړو چې دا کار خو پرېږده خپل وکالت یې شروع کړو.او د ټولونه اول بیرسټر قیوم په وکالت شروع وکړه، د هزارې د وکیلانو خو دا حال و، چې خدایي خدمتګارو به په کچرو پکټنګ کولو هغوی کچرې بندولې، ولې خدایي خدمتګار به ګرفتارېدل او په دغو کچرو کې ستیه ګري وکیلانو په پیسو باندې د خلکو مقدمې کولې.او د ټولو نه عجیبه خبره خو لا دا وه چې دې وکیلانو نه کچرې پرېښودې او نه تحریک،ما پخپله دا وکیلان او بیرسټران را ټول کړل او ورته مې ووې چې دا تاسو د خدایي خدمتګارۍ د اصولو نه مخالف کارونه کوئ.خپل ځانونه او جماعت بدناموئ،نو مهرباني وکړئ یا کچرې پرېږدئ یا جماعت هغوی دې دواړو ته تیار نه وو،ځکه چې په کچرو کې پیسې وې او جماعت کې عزت وقار،زمونږ ځینو خدایي خدمتګارو ملګرو ډېر ښه کار وکړو، پخپلو خلکو کلي په کلي وګرځېدل خلک یې پوهـ کړل، خو حکومت نیول نه، اخر سترې شول او کار ترې پاتې شو، زمونږ جماعت کې دا قسم خلک ډېر کم وو،زمونږ تعلیمیافته ډلې هغه که انګرېزي تعلیمیافته وو او که مذهبي تعلیمیافته وو.د قوم او ملک سره یې څه کار نه و. او نه یې څه همدردي او دلچسپي لرله بلکې د یو معمولي غرض د پاره به یې زمونږ تحریک سره مخالفت کولو، په ستمبر ۱۹۴۱ع کې د هشنغر خلکو د دې کېمپ انتظام کړی و،کوم ځای چې زمونږ کېمپ و د هغه نه چاپېره فصلونه او لویې لویې کندې وې. زمونږ د علاقې اسسټنټ کمشنر یو پیرنګی و او مېجر کول یې نوم و. زمونږ د تحریک ډېر مخالف و هسې خو هم هر پیرنګی زمونږ

د تحریک مخالف وي او هر پیرنګی مونږ خپل دښمنان ګڼي
چې په څه طریقه زمونږ تحریک ته نقصان ورسوي. بیا هم
هغوی هر کار په یوه مناسبه طریقه باندې کوي، لیکن دا
پیرنګی لا بل شان و، دی تحریک خو پرېږده زمونږ په مرګ هم
حصار نه و، دی چې زمونږ د کېمپ نه خبر شو نو زمونږ کېمپ
ته نزدې دوه ورونه کاکاخېل میاګان وو، چې ډېر ظالمان وو
هغه یې را وغوښتل او ورته یې ووې چې دې کېمپ کې باچا
خان د شپې مړ کړئ او ورته یې ووې چې که دی تاسو مړ
کړو، نو زه به تاسو له د عزت نه علاوه ډېر انعام هم درکړم. او دا
وعده یې هم ورسره وکړه چې تاسو به څوک نیسي نه او نه به په
تاسو مقدمه چلېږي. دا دواړه ورونه ډېر لوی ډاکه مار، راهزنان
او ظالمان وو، ډېر مرګونه یې کړي وو او ډېر ناترسه وو، که د
چا لُور او زوی به یې خوښ شو هغه به یې ترې په زور بوتلو او
که چا به څه ووې نو وهل ټکول او وژل به یې، په هیڅ حصار نه
وو، ددې کاکاخېل میاګانو د یو نوم عبدالقیوم او د بل نوم میا
عبدالحکیم و، دوی پخپله هم په چا حصار نه وو، او بیا چې
ورسره د پیرنګي حکم او خوشحالي هم وي نو بیا راشه که یې
ګورې، ځکه چې په دغه زمانه کې د پیرنګي حکم او
خوشحالي د خدای د حکم او خوشحالۍ نه زیاته ګڼلی شوه.
زما به اجل نه و دوی درې واره د شپې د دې کار د پاره کېمپ
ته راغلي وو، چا پېره ناست وو، خو کېمپ کې د خدایي
خدمتګارو څوکۍ دومره مضبوطه وه چې د دوی وس بر نه شو
او په دې ظالمانه سکیم کې پیرنګی او دوی کامیاب نه شول.
د خدای شان و، چې د دوی د دې ارادې نه زیدالله خان د

عمرزو خبر شو او هغه دا دواړه ورونه په رښا ورځ په سړک دپاسه وویشتل او مړه شول.او هغه پرې مغرور شو او د خدای مخلوق یې د دې ظالمانو د لاسه خلاص کړلو، دغه پرېږده دا بله واوره چې دغه مېجر کول مونږ ته پخپله کورنۍ کې یو لوی فساد پورته کړو، زمونږ تربوران او خپلوان یې مونږ ته وچت کړل او هغوی ته یې هم دا ووې چې که تاسو ډاکټر صاحب او عبدالغفار خان مړه کړل، نو زه د دوی د وراثت دا ټول جایداد تاسو له درکوم او دا وعده هم درسره کوم چې تاسو نه به څوک تپوس هم نه کوي،زمونږ یوه چاچي وه چې زمونږ هغه تره او د هغه ټول بچي مړه شول،نو د هغه وراثت خو زما د پلار و، خو هغه ډېر رحمدله سړی و. د دې خاوند هم مړ شو او بچي یې هم مړه شول نو بابا مې د هغه ټول جایداد دې ته پرېښو دا ځلور کلي وو او شل، پنځه ویشت کاله دې خوړلي وو چې هغه مړه شوه،نو دغه جایداد زمونږ رسېده،خو هغه مه کول پیرنګي مونږ له رانه کړو، راجا سنګهه ایډوکېټ جنرل چې ما سره د میانوالي جېلخانې کې پاتې شوی و،ډېر شریف او قوم پرست سړی و او د ګوروباغ په معامله کې قید و ګورنر ته یې ووې چې دا فېصله غلطه وشوه، دا هغه ګورنر و چې د ډاکټر صاحب ډېر مهربانه دوست و،او هغه به وې چې دی مونږ سره هر قسم تعاون کوی او د هغه پرې ډېر اعتبار و، چې دی ډېر دیانت دار،ایماندار ګورنر دی، چې راجه سنګهه ورته ووې چې دا فېصله غلطه وشوه، نو ایډوکېټ جنرل صاحب له ګورنر صاحب ځواب ورکړو چې پرېږده په دې قصو کښې ګوتې مه وهه.کول پیرنګي سلطان خان چې زما خوریی هم و،او برنې

خانان تحصیل ته وغوښتل او ورته یې ووې چې جایداد مې درکړو او تاسو خو باچا خان او ډاکټر صاحب ته هېڅ ونه وې دا جایداد درنه واپس اخلم. نو دوی د هغه په حکم باندې د ډاکټر صاحب په زوی عبیدالله خان باندې حمله وکړه په سوونو ډزې پرې وشوې خو هغه خدای بچ کړو. د خان مائي تانې پولیس هم د دغو ډزو موقعې له را ورسېدل هر څه یې پخپلو سترګو ولیدل خو چې عبیدالله خان د رپوټ او دعوې دپاره تانې ته ورغی نو دده رپوټ یې وانه خیستو، بیا میرزا سکندر ډپټي کمشنر(چې د ډاکټر صاحب ډېر دوست و) له ورغی هغه هم ورته توجه ونه کړه بیا کننګم ګورنر له چې هغه هم د ډاکټر صاحب ډېر دوست و، ورغی او ددې واقعې نه یې خبر کړو هغه وې دا د پولیس کار دی د دوی اراده خو په ما او ډاکټر صاحب د حملې وه ،خو مونږ دواړه دغه وخت هندوستان کې وو ،هغه لا څه کوې چې زمونږ د هغه چاچي لُور چې د مور میراث یې هغې له ورکړی و مړه شوه،نو د شریعت مطابق د هغې میراث نیم زما رسېدو او تر اوسه پورې ماله حکومت راکړی نه دی، دا میجر کول ډېر عجیبه سړی و.دا بله عجیبه یې واورئ چې چرې به ده ته د خدائي خدمتګارو مقدمه پېش شوه،نو خدایي خدمتګار به یو قسم بیان کولو او ده به بل قسم لیکلو د خدایي خدمتګارۍ په مقابله کې د هر قسم بې انصافۍ او دروغو ته تیار و، ډېر نالایقه سړی و،هغه به خپله نالایقي پخپله منله یو ځل ما سره یو ځای شوی و،په خبرو خبرو کې یې راته ووې زما نه خلک ګیلې کوي مګر حقیقت دا دی چې دا د حکومت بې وقوفي ده،چې زه یې په دې عهدې

لګولی یم. زه یو فوجي سړی یم زه په قانون څه پوهېږم؟. د دې تولو خبرو سره بیا هم هغه پیرنګی و ،د پیرنګیانو په راج کې د پیرنګي د پاره د لایق او نا لایق سوال د سره نه و ،بس دغه کافي وه چې پیرنګی دی د دې خدمت په سلسله کې یې د هغه ترقي وکړه.د ډېره اسماعیل خان ډپټي کمشنر ولګېدو.

د هشنغر د کېمپ نه وروسته زمونږ بل کېمپ په دولسم ستمبر ۱۹۴۱ع کال کې په هزاره کې وشو.مونږ به د خدايي خدمتګارو د تعلیم او تربیت د پاره دغه شان کېمپونه کول او ورسره به مو جلسې هم کولې. په ایبټ اباد کې زمونږ جلسه وه تقریرونه کېدل زه هم په سټېج ناست وم، چې په دې کې خان میرهلالي صاحب په سټېج ودرېدو او تقریر یې شروع کړو چې څه وخت ده د جناح صاحب نوم واخیستو نو د نوم سره سره سم ما د لمنې نه ونیوو او کښېنولو ،او زه پاځېدم جلسې ته مخاطب شوم او ورته مې وویل چې ای خدايي خدمتګارو ورونو مونږ خدايي خدمتګار یو ، خدای ته د خدمت ضرورت نشته زمونږ کار د خدای د مخلوق خدمت دی. زمونږ کار په چا اعتراضونه او نکته چیني نه ده. او دا زمونږ کار نه دی چې په نورو جماعتونو او د هغوی په مشرانو، نکته چیني او اعتراض وکړو ،زمونږ کار دا دی چې مونږ خپل پروګرام خلکو ته پېش کړو چې مونږ ستاسو د پاره دا غواړو اودا کار یوازې نه کېږي. دا به هله کېږي چې تاسو راسره ملګري شئ،ملک هم ستاسو او زمونږ شریک دی، قوم هم شریک دی او کار هم شریک دی. زه به چې کومه جلسه کې وم او چا چې به خپل تقریر کې د یو جماعت یا د یو لوی سړي نوم په بده واخیستو،

نو ما به کښېنولو او پوهولو چې ته خدايي خدمتګار يې تا ته په بل کس يا جماعت د اعتراض کولو حق نشته ته که خلکو ته څه وايي نو د خپل جماعت په باره کې ورته وايه حقيقت دا دی چې زمونږ دغه اصول وو.

په دې کېمپ کې دا فېصله وشوه چې مونږ به په اتمانزو کې د ټولې صوبې يو لوی کېمپ کوو. په نهم نومبر ۱۹۴۱ع کې په اتمانزو کې يو لوی کېمپ وشو په دې کې زمونږ د ټولې صوبې د هرې برخې نه خدايي خدمتګار او د جرګې ممبران شريک شوي وو، درې سوه شپېته تنه په کې خدايي خدمتګار وو او يو سل پنځوس د خدايي خدمتګارو د جرګو ممبران وو، د دې نه علاوه د کشمير شيخ عبدالله، بخشي غلام محمد او ا فضل بېګ د خپلو ملګرو سره شريک شوي وو، دغه شان د بلوچستان عبدالصمد خان اڅکزی سره د ملګرو راغلی و. او دغسې د کېمپونو دا سلسله په ټوله صوبه کې مونږ جاري وساتله او د خدايي خدمتګارو تربيت په کې په ښه شان سره وشو. او د جلسو په ذريعه مو عامو خلکو سره هم تعلقات زيات او پاخه شول او ډېر د کار خلک پيدا شو چې قام او تحريک ته يې ډېره فايده ورسوله.

په ۱۹۴۱ع کال کې جاپان هم په دويم لوی جنګ کې شريک شو په فلپاين يې حمله وکړه او چې د برما سرحد ته را ورسېد نو کانګرس دا مناسب وګڼل چې پخپلو فېصلو باندې په دويم ځل غور وکړي د دې د پاره په باردولي کې د کانګرس د ورکنګ کمېټۍ جلسه جوړه شوه، دا ډېره مهمه جلسه وه او لس ورځې جاري وه، د کانګرس د ورکنګ کمېټۍ د ممبرانو

په مینځ کې یو اصولي اختلاف پیدا شو، هغه دا و چې مونږ د عدم تشدد لاره اختیار کړو او که د تشدد لاره اختیار کړو؟کانګرس ټول عمر د عدم تشدد په لاره تلی و او په دې وخت کې د اکثرو ممبرانو دا رایه وه چې که چېرې پیرنګیان مونږ له خپل حق راکوي نو په دې وخت کې مونږ هغوی سره هر قسم امداد ته تیار یو او د ټول عمر د عدم تشدد دا اصول به هم قربان کړو، مګر ګاندهي جي دې ته تیار نه و او نه زما هغوی سره په دې اتفاق و، زه او ګاندهي جي یو طرف ته وو او هغوی ټول بل طرف ته وو دا تجویز چې وړاندې شو پاس شو نو په دې وجه ګاندهي جي او ما د کانګرس ورکنګ کمېټۍ نه استعفا ورکړه او په دې فېصله وشوه چې په وارده کې دې زر تر زره د ال انډیا کانګرس کمېټۍ یوه جلسه وشي او دا خبره دې ور وړاندې شي. زه په واردا کې وم چې ما له د دکن حیدر اباد نه د غني او د هغه د سخر او خوابښې د طرف نه خط راغی چې د غني لُور وشوه،مونږ تا ته مبارکباد درکوو، زه بیا د دکن حیدراباد ته لاړم د روشن مشره خور ستېشن ته راغلې وه،او زه هغې سره هغوی کره لاړم،د روشن مور او خور او بوډا پلار ډېر ښه ښکلي خلک وو، د هغې پلار د حیدر اباد ښه ځایونه ماته وښودل،د ښار نه بهر د دوی ډېر ښکلی کور و، زړه مې غوښتل چې څو ورځې ورسره تېرې کړم،هغوی هم نه پرېښولم چې ترې راشم ،خوکلي ته راغلم او کار مې شروع کړو.

د ورکنګ کمېټۍ دا میټنګ ختم شو او مونږ ټول خپلو ځایونو ته لاړو،څنګه چې د ال انډیا کانګرس کمېټۍ جلسه نزدې وه.زه بمبۍ ته لاړم او د جلسې دپاره ایسار شوم د

جېلخانې د خوراک په وجه زما غاښونه خراب شوي وو، هغه مې اوښکي وو او په بمبۍ کې مې نوي غاښونه اېښودل، سعدالله د بمبۍ په کارپورېشن کې انجنير و، هغه مې خبر کړی و، نو هغه ټېشن له راغلی و. او زه د هغه کره لاړم. بمبۍ کې د هغوی ډېر ښکلی کور و صوفيه چې د ده بي بي وه ډېره ښه جينۍ وه، ډېره قوم پرسته وه، زما به يې ډېر مدار کولو، په دغو ورځو کې يونس جان هم بمبۍ کې و او ماسره دېره و. او د جناح صاحب سره يې ډېر تګ راتګ و او ما ته يې د جناح صاحب ډېرې کيسې کولې او راته به يې وې چې جناح صاحب وايي چې مانه چاپېره ټول بددیانته او خود غرضه خلک دي او که چيرې د عبدالغفار خان په شان يو سړی را سره ملګری شي، نو ګورئ به چې زه به څه څه وکړم. هر سحر چې به دی تلو نو ما به پوهولو چې ګوره پام کوه! زما ذکر جناح صاحب سره ونه کړې زما دا خيال و، چې هغه به ضرور ده سره زما خبرې کوي چې دی ورسره بغير زما د تپوس نه څه وعده ونه کړي، چې جناح صاحب د مسلم ليګ د خيال سړی دی، او زه د خدايي خدمتګار د خيال سړی يم او مسلم ليګ ما ته د پيرنګيانو جوړه شوې ډله ښکارېده. مګر يونس جان زما په نصيحت عمل ونه کړو او اخر يې ورسره زما ذکر وکړو، جناح صاحب ورته ووې چې زما له طرفه ورته د چايو دعوت ورکړه، مګر زه هغه شپې له د کانګرس جلسې له واردې ته روان وم، نو په دې وجه مې د ټيلفون په ذريعه د هغه شکريه ادا کړه او معذرت مې ورته پېش کړو او واردې ته روان شوم.

د کانګرس د جلسې دپاره د هندوستان د ټولو صوبو نه

خلک راغلي وو ځکه چې دا ډېره اهمه جلسه وه کوم قرارداد چې ورکنګ کمېټۍ باردولي کې پاس کړی و. هغه وړاندې شو ډېر بحثونه پرې وشول، زما هم اراده وه چې ممبرانو ته خپل خیال ښکاره کړم.مګر د جلسې صدر مولانا ابوالکلام ازاد ماله اجازت رانکړو او هغه قرارداد په اکثریت سره پاس شو د پاس کېدو نه پس ما د کانګرس نه استعفا ورکړه، مولانا صاحب راته ووې چې د اخبار والاو سره د دې ذکر مه کوه، دا زما کار دی زه به یې اخبارونو کې د خپل طرف نه شایع کړم. مګر شرط به داوي چې ته به د خپل ځان په ځای د خپلې صوبې یو سړی مقرروې او که چېرې ستا د صوبې کارکنانو ته ستا د رایې ضرورت وي نو رایه به هم ورکوې. کانګرس هغه د سول نافرمانۍ انفرادي ستیه ګره هم واپس واخیسته، دوی که د پیرنګیانو د خوشحالولو دپاره څومره خوشامندې وکړې خو د پیرنګیانو په زړونو کې زمونږ دپاره د رحم ګنجایش نه و او د دوی یوه خبره یې هم ونه منله.

د کانګرس جلسه ختمه شوه،زه پېښور ته را روان شوم ما د صوبې جرګه را غونډه کړه او په اتفاق سره مو ډاکټر صاحب د کانګرس د ورکنګ کمېټۍ ممبر مقرر کړو، د ممبرانو تسلي مې وکړه،دوی ته مې د جرګې کار وسپاره او د خدايي خدمتګاروکار ما واخیستو، مولانا بیا هم زما هغه استعفا شایع نکړه،اخر ډېره موده پس یې شایع کړه،دغو ورځو کې جاپانیان په ډېرې تېزۍ مخ په وړاندې روان وو،امریکې او پیرنګیانو له یې ډېر شکستونه ورکړل. جنګ د هندوستان سرحد ته را ورسېد،برما هغوی قبضه کړه او په مخه را روان

وو، ما سره دا فکر پیدا شو، چې که دوی دغسې را روان وي نو ممکن دی چې ډېر زر د هندوستان یوه برخه ونیسي او شاید چې ټول ملک کې ګړ بړي پیدا شي.

زما دا یقین و، چې څنګه پیرنګي ته د جاپان د طرفه خطره هندوستان ته او بیا د پښتوا زمونږ اړخ ته رانزدې کېږي، نو پیرنګی به ضرور دا کوشش کوي چې په دې ملک کې فساد وکړي. دا سې خبرونه هم مونږ ته را رسېدلي وو چې پیرنګی د خپلو ایجنټانو په ذریعه په قبایلي علاقو کې د دې قسمه غونډې کړې وې، تر دې چې یوه غونډه په ډېره، شبقدر کې د خان بهادر قلي خان په ذریعه د مومندو شوې وه، چې هغې ته د صوبې ګورنر کننګم پخپله هم ورغلی و، مونږ دا محسوسوله چې د پیرنګي به دا کوشش وي چې مونږ پښتانه سره پخپل مینځ کې ور لاندې باسي. نو مونږ له په کار دي چې د دې د پاره دغو علاقو ته خپل خلک ولېږو او دوی پوهـ کړو چې مونږ د یو بابا اولاد پښتانه یو پیرنګیانو دوی زمونږ نه بېل ساتلي وو، تاسو ته به یاد وي چې کله په ۱۹۳۰ع کې پیرنګي په خدایي خدمتګارانو ملک سُور تنور کړو نو زمونږ دا ټول قبایل ورسره د مومندو او اپرېدو نه واخله تر وزیرستانه پورې دوی خپلو پښتنو ورونو په مرسته د پیرنګي مقابل ته ودرېدلي وو، د هغې په نتیجه کې پیرنګي خپله ټوله توجه د پښتوا وګرځوله چې د دې لر او بر پښتنو شلوون وشي، او زمونږ او د دغې قبایلي رونو د تعلقاتو د خرابولو په خاطر زمونږ په منځ کې په هېڅ قسمه فریب، دهوکې، دروغ او بې ایمانۍ یې صرفه ونکړه.

ما چې د خداي خدمتګارۍ تحريک شروع کړو نو ډېر ځله مې دا کوشش وکړو چې زه د قبايلو دې ورونړو له لاره شم دا د پښتنو يو تحريک دی، دوی هم پښتانه دي چې دې تحريک کې مونږ سره شريک شي ولې پيرنګيانو پرې نه ښودم. ځکه چې پيرنګيانو وې چې د هغوی او زمونږ په مينځ کې رورولي جوړه نه شی،د قبايلو مسئله زمونږ قامي مسئله وه، زما په خيال زمونږ د مرګ او ژوند مسئله وه،د دې کار دپاره ما د خپلې صوبې دوره شروع کړه چې خپلو خلکو سره په دې حق کې سلا او مشوره وکړم.او ددې کار دپاره خدايي خدمتګار تيار کړم چې هغوی دې د قبايلو علاقې له لاړ شي او پخپلو پښتنو ورونړو وګرځي هغوی دې د موجوده حالاتو نه خبر کړي او په هغوی کې دې د ورورولۍ، عزيزدارۍاو اتفاق پيدا کولو کوشش وکړي.

په دغو ورځو کې پيرنګيانو يو وزير هندوستان له رالېږلی و،چې د هندوستان او انګلستان په مېنځ کې روغه جوړه وکړي، د ده نوم سرستيفورډکرپس و، زه په کوهاټ کې وم چې ډاکټر صاحب راته ټيلفون وکړو چې دغه شان کيسه ده او ما پسې د ورکنګ کمېټۍ نه خبر راغلی دی، چې شمله کې حاضر شه، ما ورسره اتفاق وکړو او ورته مې ووې چې لاړ شه ځکه چې مونږ ټولو دا غوښتل که پيرنګيان په روغه جوړه مونږ له خپل حق راکوي، نو د دې نه به بله ښه خبره کومه وي، ډاکټر صاحب لاړو دغه وخت په پيرنګيانو ډېره سخته وه،جاپان د سېلاب په شان را روان و او د هر چا دا خيال و چې جوړه به وشي او مونږ له به خپل حق راکړي، مګر پيرنګيان د

هندوستان پرېښودو ته کله تیار وو؟ د دغو خبرو په ناکامۍ د هندوستان خلک ډېر مایوسه شو او دا یقین یې وشو چې پیرنګیان مونږ له خپل حق نه راکوي او دا شک یې پیدا شو چې پیرنګیان به هندوستان جاپان ته پرېږدي او مونږ ته یې نه پرېږدي، دې مایوسۍ د خلکو عقیده هم کمزورې کړه خلکو به وې چې په عدم تشدد څه کېدی نه شي مونږ له په کار دي چې د خپل ملک د ازادۍ دپاره د تشدد نه کار واخلو او دغه وجه وه چې د هندوستان په مختلفو علاقو کې ډېر تشدد وشو، د یورپ او امریکې هم ډېر عجیبه خلک دي، د جنګ نه مخکې به دوی او د دوی اخبارونو د ګانډهي جي ډېر زیات تعریفونه کول او عدم تشدد یې د دنیا د امن، صلح، ابادۍ او ترقۍ دپاره ډېر ښه سکیم ګڼلو، مګر کله چې جنګ شروع شو نو بیا خو پیرنګیانو او امریکې ته د امداد ضرورت و.او پخپله یې په تشدد لاس پورې کړی و هغه وخت یې په عدم تشدد کې ګټه وه او اوس یې تشدد په کار و، نو چې کانګرس یا ګانډهي جي به د عدم تشدد نوم واخیستو دا به د دوی په طبیعت بد لګېدو او د ګانډهي جي بر خلاف به یې په اخبارونو کې لوی لوی مضمونونه چاپ کول ما چې به دغه مضمونونه ولوستل نو دغو خلکو پورې به ډېره خندا راتله او دغه خلک به هم راته د خپلو خلکو په شان خودغرضه او بې اصوله ښکارېدل.

## قبایلو ته د خدایي خدمتګارو وفدونه:

ما د ټولې صوبې دوره وکړه، لویې لویې جلسې وشوې او ټولو خدایي خدمتګارو سره سلا مشوره وشوه، ټولو ماسره دا

ومنله چې په دې نازک وخت کې په کار دي چې خپلو قبايلي ورونو له لاړ شي او هغوی په دې ټول حقیقت پوهه کړي. د صوبې دوره مې شروع کړه او د دې کار او خدمت دپاره د صوبې په ټولو ضلعو کې ډېرو کسانو ماته خپل خدمات وړاندې کړل،زه چې د دورې نه بېرته راغلم نو شاد محمد مېړې مې ملکنډ ایجنسۍ ته ولېږه،په ملکنډ ایجنسۍ کې زمونږ ډېر خدايي خدمتګاروو، په ۱۹۳۰ع کال کې چې په نورو ضلعو کې د خدايي خدمتګارۍ تحریک شروع شوی و،نو دغلته هم شروع شوی و.او د دې ایجنسۍ پښتنو ورونو د ۱۹۳۰کال په جنګ کې مونږ سره سمه برخه اخیستې وه. شاد محمد خو څه ورځې دغلته کار وکړو، خو کله چې پولټیکل ایجنټ خبر شو نو هغه یې فوراً ګرفتار کړو او درې کاله یې سخت قید کړو.

پيرنګيانو په هېڅ شان نه غوښتل چې مونږ دې دغلته کار وکړو خو مونږ هم فېصله کړې وه، چې دې نازک وخت کې به د قبایلو ورونو علاقه کې کار کوو ولې چې دا خو زمونږ د ابادۍ او بربادۍ سوال دی مونږ دا فېصله وکړه چې که پيرنګی اجازه کوي که نه، خو مونږ به دغلته کار کوو او په پښتنو کې به پوهه او اتفاق پیدا کوو.

زمونږ د صوبې ګورنر سرجارج کننګم و، دی ډېر نرم، هوښیار او چالاکه سړی و ما ورته یو خط په دې مضمون ولیکه چې: «نن په دنیا کې د انقلاب یو زورور سېلاب راروان دی،مونږ وېرېږو چې چېرته زمونږ په کور کې ګړېړ جوړ نه شي او مونږ پخپلو کې برباد نه شو نو د امن د قیام دپاره

مونږ دا خبره وړ ګنو چې ازادو قبایلو ته وفدونه ولېږو او هغوی د دې حقیقت نه خبر کړو، مونږ تاله تسلي درکوو چې مونږ هلته ستاسو د حکومت برخلاف د هېڅ قسم کار نه کوو. مونږ خپل غم اخیستي یو او هغوی سره به خپله د وروری، همدردی او قامولی خبره کوو، امید دی چې څومره زر کېدی شي ته به مونږ ته د دغه خیر کار دپاره اجازت راکړې» څه ورځې تېرې شوې، زما د خط ځواب رانغی بیا مې ورته ولیکل «که چېرې ستا خوښه وي او که دې خوښه نه وي مونږ نور ستا د اجازت انتظار کولی نه شو، د فلاني تاریخ پورې که ستا اجازت رانغی مونږ به خپل وفدونه دې علاقو ته لېږو، مونږ د خپلو وفدونو د لېږلو دپاره ۵ د اګست ۱۹۴۲ کال مقرر کړی دی.» دا لیک مې د یونس جان په لاس ګورنر له ولېږه ګورنر نته ګلی کې و، یونس جان چې نته ګلی ته ورسېده نو ورته معلومه شوه چې ګورنر پخپله بنګله کې ټول پولټیکل ایجنټان او د صوبې ټول ډپټي کمشنران راغوښتي وو. او هغوی سره په دې معامله کې سلا کوي یونس راته دا هم ووې چې فیصله یې په دې وکړه چې د صوبه سرحد علاقه کې دوی نه منع کوو او په ازادو قبایلو کې به د پولټیکل ایجنټانو په ذریعه څومره چې کېدی شي، مونږ ته به مشکلات پیدا کوي او زمونږ د خیر دا کار به ناکامیابه کوي، یونس جان زما د خط ځواب راوړو هغې کې ګورنر مونږ له یو قسم اجازت راکړی و. مونږ سباله د کامدار خان په مشرۍ کې یو وفد د ملکنډ په لاره باجوړ ته ولېږه کله چې وفد ملکنډ ایجنسۍ ته ورسېدو نو د ملکنډ پولټیکل ایجنټ د سمې او سوات

رانيـزي، خانـان، ملكـان راټـول كـړي وو او زمـونږ وفـد تـه يـې لاره نيـولې وه اووړانـدې يـې نـه پرېښوول، پيرنګيـانو مـونږ تـه لـوى شـر او فـساد جـوړ كـړى و. او مـونږ يـې كـور كـې جنګولـو، دوى كامـدار خـان د وفـد مـشر تـه ووې چـې تاسـو واپـس ځئ،مـونږ لار نـه دركـوو، هغـه ورتـه ووې چـې زمـونږ كتـاب كـې واپـس تلـل نـشته مـونږ بـه يـا وړانـدې ځـو او يـا بـه مـرو او كـه باچاخـان راتـه ووې چـې واپـس شـئ نـو بيـا بـه هلـه واپـس شـو،اګر چـې د دې خانانو،ملكـانو نيـت ښـه نـه و او پولټيكـل ايجنـټ پـه بـدنيت رالېږلـي وو، مګـر كلـه چـې دوى زمـونږ سـره د خلكـو جـوش او همـدردي وليدلـه نـو د لارې د بنـدولو جـرات يـې ونـه كـړى شـو او بيـا د دغوملكانو،خانـانو جرګـه مالـه مركـز لـه راغلـه اوماتـه يـې ډېـر منـت وكـړو، چـې مـونږ پولټيكـل شـرموي تـه دا جرګـه واپـس كـړه، مـا دوى پوهـ كـړل چـې دا جرګـه خـو ستاسـو د پښتنو د خيـر دپـاره مـا درلېږلـې ده،خـو هغـوى د پيرنګـي نـه ډېـر مجبـور وو، اخـر فېـصله پـه دې وشـوه چـې پـه ملكنـډ كـې د ملكنـډ ايجنـسى كـار بـه مقـامي خـدمتګار كـوي او مـونږ بـه يـې نـه منـع كـوو او دا وفـد دې د ملكنـډ پـه ځـاى د كـوټ او اګـرې پـه لاره بـاجوړ تـه لاړ شي مـا ورلـه د وفـد پـه نـوم خـط وركـه چـې تاسـو د ملكنـډ دلارې پـه ځـاى دكـوټ او اګـرې، اتمـانخېلو پـه لاره بـاجوړ تـه لاړشـئ،د كـوټ كلـي كـې كاكاخېـل، مياګـان وو هغـو ظالمـانو د پولټېكـل د خوشـحالۍ دپـاره زمـونږ وفـد وواهه،پـه كـانو يـې وويـشتل ګرېوانونـه يـې تـرې وشـلول، باجوړكـښې هـم پيرنګيـانو د وفـد د رسـېدو نـه مخكـې جاسوسـان لېږلـي وو او پيسـې يـې خـورې كـړې وې چـې دا وفـد هنـدوان دي او د هنـدوانو ايجنټـان دي او د

مسلمانانو غلام کولو له هندوانو را لېږلي دي. او ډېره د افسوس خبره دا ده چې باچاګل صاحب د حاجي صاحب د ترنګزو مشر زوی هم زمونږ خلاف دغسې پراپېګنډه په خلکو کې کړې وه. په یو ځای کې هلکان زمونږ د وفد مرګ ته تیار شوي وو خو مشرانو منع کړل او ورته یې ووې چې صبر وکړئ چې دوی راشي او مونږ ترې پوښتنه وکړو، وفد چې کلي ته ورغی حجره کې کښیناستل، نو عبدالمالک صاحب فدا پاڅېدو او هغوی ته یې ووې چې زمونږ پښتنو ورونو مونږ باچا خان تاسو له د دې دپاره رالېږلي یو چې په دنیا کې د جنګونو یو لوی سېلاب روان دی. که مونږ بې خبره پاتې شو نو لاهو به شو، باچا خان وې چې زما ورونو ته ووایئ چې پرې جنبې پرېږدئ، تېرې کښېږدئ روغې جوړې وکړئ چې مونږ دغه وخت کې د دې قابل شو چې یو بل سره امداد وکړو او د سېلاب نه ځان وساتو او باچاخان داهم ویلي دي چې تاسو ځرخې کوئ هسې نه چې سبا په جنګ کې کارخانې بندې شي او تاسو بربنډ پاتې شئ او غلې دانې په کورونو کې وساتئ چې وږي پاتې نه شئ، او بل وفد مونږ باچاګل صاحب له مومندو ته د فضل رحیم ساقي صاحب په مشرئ په ۱۹ اګست ۱۹۴۲ کال کې ولېږلو. دوی اول باچا ګل صاحب سره ولیدل او ورته یې ووې چې باچا خان وې چې زمونږ او ستاسو خو ډېر تعلقات وو. دا څه چل دی چې په اخبارونو کې په مونږ ستا د طرفه د کفر فتوې چاپ کېږي. او د سیکو ډېرۍ پولټیکل ایجنټ قلي خان پخپل لاس هغه خانانو پسې ګرځوي او هر چا ته وایي چې وګورئ باچا ګل صاحب په باچاخان

باندې د کفر فتوا لګولې ده، زمونږ خو دا خيال دی چې دا کار پيرنګيان د خپله ځانه کوي.

باچا ګل صاحب زمونږ ساقي صاحب ته اوږده کيسه وکړه او دا اقرار يې وکړو چې دا مالېږلي دي چې اخبارونو کې دا خبرې چاپ شي او خلک د باچاخان نه واوړي، پيرنګيانو د کابل حکومت سره هم سلا کړې ده، چې که مونږ په جاپان جنګ بايلود نو دا ټول د صوبه سرحد ملک به تاسو ته پرېږدو او دا پښتانه د اسلام په نوم د جاپان سره وجنګوئ، که جنګ مو وګټلو نو ستاسو حکومت به پرې جوړ شي، باچاګل وې چې زه د دغه دپاره ميدان اواروم، نو ساقي صاحب ورته ووې چې صوبه سرحد کې خو نور تنظيمونه هم شته د هغوی برخلاف ولې قدم نه اوچتوئ، نو هغه وخندل اوويې ويل چې مونږ ته خو باچا خان يو لوی خنډ په لاره کې پروت دی، دا نور تنظيمونه خو زه په يو سُوک سمولی شم، خو ساقي صاحب ته دا پته ولګېده باچاګل صاحب چې دا څه کوي د افغانستان د صدر اعظم محمدهاشم خان په اشاره يې کوي. وفد بيا په ټولو مومندو کې کلي په کلي وګرځېدل او زما د ورورولی او عزيزولی پېغام يې هر چا ته ورسولو، مومندو ورونو ورسره هر ځای دعا د خير وکړه او د مومندو مشران او ملکان ټول د باچا ګل نه برخلاف شوي وو، ځکه چې ده په افغانستان کې خپلو خوشامندګرو له لونګی کړې وې. دا وفد پنځوس ورځې پس واپس شو او مرکز ته ماله راغلل او د خپلې دورې رپوټ يې مفصل راکړو، ما يو وفد تيراه ته، اپريدو ورونو له هم لېږلی و، خو هغه په څه وجوهاتو واپس راغلو، نو ساقي

صاحب د وردګې ته مې ووې چې زه غواړم چې ته د دوو نورو خدايي خدمتګارو سره تيراه ته لاړ شې، او هغوی ته زما له طرفه د ورورولۍ، عزيزدارۍ او اتفاق پيغام ورسوې، چې که چيرې د دې جنګ مصيبت زمونږ په ملک راشي نو چې مونږ يو بل سره د تکليف په وخت کې امداد وکړی شو. او که خدای پيرنګيانو نه زمونږ ملک ازاد کړو نو چې د ټولو پښتنو قومي جمهوري حکومت جوړ کړی شو، ساقي صاحب او د رځړو فقير محمد او د پېښور تحصيل دپاوکي کلي عبدالمجيد خان مې ورسره ملګري کړل،دوی په ۲۱ اکتوبر ۱۹۴۲ کال تيراه له لاړل، په مختلفو لارو کې ورته پولټيکل ايجنټ يوويشت سوه خاصه دار کښېنولي وو خودوی تړې خدای په امان کړل او تيراه ته ورسېدل.

دوی د اپريدو اتو قومونو کې او د اورکزو څوارلسو خېلونو کې قامي جرګې جوړې کړې ټوله تيراه کې يې دورې وکړې، خلکو ورسره د ورورولۍ سلوک وکړو، ماله د دې وفد د تلو نه وړاندې خوشحال خان ملک دين خېل راغلی و، وې وفدزما ځای له راولېږه،زه به ورسره کار وکړم،ما ورته ووېل چې مونږ سره خو پيسې نشته دي، مونږ خو دا کار د خدای دپاره کوو.خو ده ډېر اصرار وکړو،او ويل يې چې زه خو هم د خدای دپاره کوم،نو ما دا وفد د ده ځای له ولېږلو ما د خپله طرفه ساقي صاحب له څه پيسې د دوی د خپل خرڅ دپاره او د جرګې دپاره ورکړې،دوی چې لاړل نوهلته يې کار شروع کړو، جرګه هم وشوه اوخدمت يې هم شروع کړو په تيراه کې يې دورې شروع کړې،شيخ محبوب علي پولټيکل ايجنټ و

اوحکومت زمونږ دا کار نه خوښولو نوهغه ورپسې لګېدلی و، دغو ورځو کې عاشق شاه باچا زما د اجازت نه بغیر ورپسې تیراه ته لاړو او زه نه پوهېږم چې په کوم خیال یې داسې خبرې وکړې چې د خوشحال خان ملک دین خېل دا خیال پیدا شو چې دوی سره خو ډېر مال دی، او هندوستان د دوی هر قسم خدمت کولو ته تیار دی، نو بیا عاشق شاه باچا واپس راغی او خوشحال خان د ساقي صاحب نه د پیسو مطالبه وکړه، ساقي صاحب ورته ووې چې مونږ سره خو پیسې نشته سړه ډوډۍ جولو کې واچوو، او جلسې له ځو او که تاسو خپل ملک په چا خرڅول غواړئ، نو پخپله ورسره خبره وکړئ. ده رټ ځواب ورکړو چې زما د ځای نه ځئ زما فقیران نه دي په کار نوهغوی افضل خان زخه خېل خپل کورته بوتلل او هغه ورسره دوه نیم کاله په ټوله تیراه کې د خدای دپاره کار وکړو او د باډوان د صاحبزادګانو سره دېره وو، هغوی هم د وفد سره د خدای دپاره ډېر کار کړی دی. تیراه کې صرف دوه بزرګان داسې وو چې د پیرنګیانو د اثر نه بچ وو. یو د ځوکنو د انګورې ملاصاحب او بل د باډوان صاحبزاده صاحب عبدالرزاق، د محمد اخونزاده زوی. محمد سعید خو ورته سپین ووې چې زمونږ لنګر او نور کاروبار ټول د پیرنګیانو په امداد چلیږي داسې ورله د غوتزې بزرګ صاحب هم ځواب ورکړی و.

د وزیرو ازادو قبایلو ته مې یو کسېز وفد میرزا تاج محمد خاموش لېږلی و، هغه وزیرو ته ورسېد او فقیرایپي صاحب سره یې ملاقات وشو او زما د ورورولۍ پیغام یې ور ورسولو خو قام کې ونه ګرځېدو ځکه چې فقیر صاحب ورته

ووې چې دلته ستا د ګرځېدو حاجت نشته دا قام جوړ شوی دی، زه چې څه ورته وايم هغه کوي نو دی واپس راغی.

بل وفد کې د پړانګو عبدالحکيم ستي جان او د بېټنو جرنېل عبدالرحمان مې مسعودو ورونو له ولېږل ،خوهغوی دواړه حکومت ګرفتار کړل. ستي جان يې واپس راولېږه او جرنېل عبدالرحمان بيټني د ټانک دوه کاله قيد شو چې ته ولې د هشنغر د سړي سره مسعودو له روان وې، يو وفد مې د ټل او هنګو د خدايي خدمتګاروکرمې ته ولېږه هر کله چې سدې ته ورسېدل نو يو جومات کې دېره شول، د کرمې پولټيکل ايجنټ ورپسې خپل ملکان او سپين ږيري راولېږل،هغوی دوی ته ووې چې ښه به دا وي چې تاسو واپس شئ او دلته ونه ګرځئ. دوی ورته ووې چې دا ولې مونږ خو ټول د يوې علاقې پښتانه يو تاسو هلته راځئ او مونږ دلته راځو، ملکانو ورته ووې چې مونږ د پولټيکل ايجنټ نه مجبور يو تاسو خپلې علاقې ته نه پرېږدو، د ډېر بحث نه پس هغوی د وفد د غړو پښې لاس وتړل او ټرک کې يې واچول او ټل او هنګو ته يې ورسول، هغوی هم راغلل اوما ته يې دا حال ووې.

زمونږ د دې وفدونو په تلو ګرځېدو کې او خلکو سره ليده کاته اوتبادله خيالاتو کولو په وجه ازادو قبايلوورونوکښې لويه تبديلي پيدا شوه.او په پښتنو کې د قامولۍ او ورورولۍ احساس او پوهه پيدا شوه،زمونږد باجوړ د وفد مشر کامدار خان و،چې ورسره صدر صاحب محمد اسرار او فدا عبدالمالک او ناظم سرفراز خان هم وو کامدار خان چې واپس

راغـی نـو دا نـور ملګـري يې شـاتـه بـاجوړ کې پـاتې شـول، او ميـا صاحب عبدالحکيم د چينګی سره دېره شول.

بچـو لـه يـې د تعليم ورکولـو دپـاره يـوه مدرسـه هـم پرانـستـه.د هغـې هـم ډېـر ښـه اثـر وشـو، زمـونږ يـو خـدايي خـدمتګار د بـاجوړ نـه پېښور تـه راتلو چې پـه لاره پـه مومندو کې غلو وشوکولو، د بـاجوړ خلـک پـه دې ډېـر خپـه شـول او تـش خفګـان نـه، هپـه يـې وکـړه او د هغـو غلـو نـه يـې حـساب واپـس واخيـستو او هغـوی معافي هم وغوښته.

پيرنګيـانو او د افغانـستان حکومـت زمـونږ د دې وفـدونو د ناکاميابـه کولـو ډېـر کوشـشونه کـړي وو، خـو خـدای کاميـاب نـه کـړل، دا خبـره مـا محـسوسه کـړې وه ،چـې د هـر يـو تحريـک دپـاره يـومرکز ضـروري وي، ډېـر ځايونـه مـې وکتـل خـو پـه څـه وجوهـاتو بـه پـاتې شـول د سـردرياب د پـل نـه پـه قبلـه د کـوډو او سـردرياب مـنځ کـې د سـيند پـه غـاړه يـوه دشـته وه يوميـل بـره سـويل غـاړې تـه يـو چمـن اوميـدان و، دغـه ځـای ځنګـل و تنهـا يـي وه. دغـه ځـای موخـوښ شـو او د اګـرې اوکـوډو پـښتنو دا مځکـه د مرکـز دپاره وقف کړه.

پـه ۵ اګـست ۱۹۴۲کـال د چارسـدې د کېمـپ نـه وروسـته مـونږ ټولـو خـدايي خـدمتګارو د منيـر خـان د بـاغ نـه د خرولـو ځـانګې وربيلـې هـر چـا د ځـان سره،سره زمـا چـې ځـومره ځـانګې اخيـستې شـوې هغـه مـو راواخيـستې،او پخپلـو پـښو سـردرياب تـه روان شـو ،د لرګـو بندوبـست محمـد اسـرار خـان صـدر صـاحب کـړی و ،مـونږ لاړو سـتنې مـو ښـخې کـړې لرګـي مـو پـرې سـواره کـړل، لـښتې او لوخـه مـو پـرې واچولـه او دغلتـه دېره شو،شـپه او

ورځ به لس، اته خدايي خدمتګار دغلته ما سره وو، دوډۍ به راله وارث خان پخوله اوکتموی به مو پخپله پخوله، ددې ځای نه مونږ د ټولې صوبې د خدايي خدمتګارو سره رابطه قايمه کړه، د دوی چې به څه کار و، دلته به ما له راتلل او زما چې به څه کار و د خدايي خدمتګارو په ذريعه به مې خبرول دغه مځکه بنجره وه، مونږ به د سحر د چای نه پس تسکورې واخيستلې په کار به مو شروع وکړه، د ډوډۍ د وخته پورې به مو مځکه جوړوله بيا به مو په هغې کې سبزي کرل شروع کړل، اتمانزو کې د غني بتهۍ وه په هغې کې مو د مرکز د پاره د خښتو انتظام وکړو او د پړانګو او بابړي خدايي خدمتګارو د هغو د راوړلو د پاره دومره ډېرې رېړۍ راوستې وې، چې د هغې يو سر مرکز ته را رسېدلی و بل سر يې اتمانزو کې و. دغه شان په يوه ورځ کې ټولې خښتې را وچلېدې د ابادۍ د پاره مود سيند په غاړه ځای خوښ کړو. هلته مو يوهال ورسره دوه کمرې او دواړه طرف ته برنډې جوړې کړې او د دويم چت په جوړولو مو شروع وکړه، دېوالونه جوړشو او چت پرې لا نه و جوړ شوی، چې پاکستان جوړ شو او مونږ ګرفتار شو ددې په ابادۍ کې ټول کار خدايي خدمتګارو پخپله کړی و، زه به هم ورسره لګيا وم ګلکار له به مې خښتې ورکولې، د هرې ټپې نه به لس، پنځلس خدايي خدمتګار وار په وار راتلل اوخپل خرڅ، خوراک به يې هم د ځان سره راوړل، يوه هفته کار به يې کولو بيا به د بلې ټپې خدايي خدمتګار راتلل. زمونږ اراده وه چې دلته به سکول او هسپتال هم جوړوو او ډېرو خلکو دا خيال ظاهر کړی و، چې مونږ به دلته ځان له کورونه

جوړوو تر دې حده چې مونږ دلته د خپلې مقبرې فېصله هم کړې وه.

بیرسټر قیوم چې وزیر اعلی شو نو د مرکز د ورانولو او لیلامولو فېصله یې وکړه د اګرې خانانو ورته ووې چې دا ځای ورانوه مه دا خو هسې هم زمونږ جایداد دی، مونږ به یې لیلام کې واخلو او مدرسه یا هسپتال به یې کړو، قیوم وې چې زه به دا خامخا ورانوم،او د دې خدایي خدمتګارو د مرکز دا نښه وړکوم. ځکه چې که دلته یې نښه پاتې وي نو چې بیا دوی په لاره ځي وایي به چې دغه زمونږ مرکز و. چا دې لیلام ته غاړه کښېنښوده اخر د شپږم نمبر کلي یومومند نور محمد واخیستو او په بمونو یعنې ډاینامائیټ (Dynamite) باندې یې ورله بنیادونو پورې والوزول.

## د هندوستان پرېږدئ تحریک:

کله چې د کرپس مشن ناکامیاب شو،نو د هندوستان په خلکو کې مایوسي پیدا شوه او دا فکر یې پیدا شو چې بغیر د مقابلې نه پیرنګیان مونږ له څه نه راکوي په دغو وختونو کې په بمبۍ کې دورکنګ کمېټۍ اجلاس و، په دې وخت کې د کانګرس (QUIT INDIA) یعنې((هندوستان نه ووځئ))تجویز پاس کړو او مهاتماګاندهي او د ورکنګ ټول ممبران ونیوی شو. د دوی د نیول کېدو سره په ټول هندوستان کې د پیرنګیانو بر خلاف زورور جدوجهد شروع شو، چې د کانګرس ذمه دار کارکنان پیرنګیانو قید کړي وو. وروسته څوک ذمه دار کسان او مشران پاتې نه وو. او خلک هم د

پیرنګیانو نه مایوسه شوي وو، نو خلک د عدم تشدد په ځای د تشدد په لاره روان شول. پیرنګیانو د تشدد مقابله په تشدد وکړه او پیرنګیانو هم دا غوښتل هغوی له د عدم تشدد د مقابلې چل نه ورتلو او د تشدد خو هغوی سره دومره سامان وو چې ډېر زر یې د تشدد تحریک ختم کړو. او په خلکو یې دومره زور ظلم او زیاتی وکړو، چې په دنیا کې به د وحشي نه وحشي قوم په چا کړی نه وي، سړي خو پرېږده چې د ښځو سره یې داسې سلوک وکړو چې په لیکلو یې ما له شرم راځي، د ګنهګار، بې ګناه تمیز یې نه کولو، دښمنان څه چې د خپلو وفادارو ملګرو د ښځو سره یې زیات شرمناک سلوک وکړو. داسې واقعات په کې راغلي دي، چې د فوج او پولیس د کاروایۍ نه علاوه پیرنګیانو په کلو باندې د هوایي جهازونو نه په مشین ګنونو ګولۍ وروليې دي، او کلو باندې یې بمونه غورزولي دي. د سرحد په صوبه کې زمونږ جرګه او خدایي خدمتګار هم را ټول شول، چې په دې خبره غور او فکر وکړي چې په دې وخت کې مونږ له څه کول په کار دي، کانګرس د هندوستان په هره صوبه کې د جدوجهد د پاره یو ډکټیټر مقرر کړی و، دغسې زه یې د دې خپلې صوبې ډکټېټر مقرر کړی وم. ما ته دې اجلاس کې حاجي فقیرا خان ووې چې ته خو د دې صوبې ډکټېټر مقرر شوی یې. مونږ څه له راغواړې حکم کوه مونږ به د هغې تعمیل کوو، ما ورته ووې چې دا خبره خو ټیک ده، خو زما په طبیعت کې ډکټیټري نشته. زه به هر یو کار د ملګرو په مشوره باندې کوم. د یو دماغ په ځای به د ډېرو دماغونو فیصله غوره وي، په اجلاس کې د هزارې حاجي

فقیراخان ووې، چې مونږ له په کار دي چې تارونه پرې کړو او پلونه وران کړو.ما ورته ووې دا تشدد دی خو بیا به هم تا له اجازه درکړم خو دومره وایم چې کوم سړی تار پرې کړي یا پل وران کړي، نونېغ به تانې له ورځي او رپوټ به کوي چې دا کار ما کړی دی، ځکه چې زه د پیرنګیانو حکومت نه غواړم. د دې فایده به دا وي چې ددې کار په وجه به د دغه کلو عامو خلکو باندې تشدد نه کېږي هر څه سزا چې وي دی به برداشت کوي او که داسې ونه کړئ، نو د کلو په خلکو به ډېر تشدد وشي او د هغوی چې مونږ سره کومه همدردي ده هغه به ختمه شي نو دغه تجویز په ځای پاتې شو، بل تجویز ما وړاندې کړو چې مونږ له اول وفدونه هر یو عدالت او هر یو دیسي افسر له لېږل په کار دي چې دوی ته ووایو چې کوېټ انډیا قرار داد پاس شوی دی، نو تاسو له په کار دي چې نوکري پرېږدئ، بل دا تجویز پاس شو چې د پیرنګیانو په عدالتونو به چپاوونه کوو او د کرسو نه به یې پاڅوو او عامو خلکو ته به وایو چې خپلې فېصلې کور کې پخپله کوئ پیرنګیانو له مه ځئ دا خو زمونږ د قوم او ملک دښمنان دي.او پیرنګیان خپل حکومت په مونږ باندې هم د دې نوکرانو په ذریعه چلوي، خو چې زمونږ وفدونو پوره نتیجه ورنه کړه نومونږ بیا چپاوونه شروع کول.

## چپاوونه:

په پېښور،مردان،کوهاټ او بنو کې خدایي خدمتګارو د ضلعو په کچرو باندې چپاوونه شروع کړل. اول اول خدایي خدمتګار چا نه ګرفتارول، بلکې په بې دردۍ سره به یې ووهل

دا وهل به پولیس کول او د پولیس سره به د خانانو او اربابانو ډنډه مار هم د کومک دپاره ملګرې وو.او څه مومند یې هم د خدایي خدمتګارو د وهلو او د سرکار د امداد دپاره را غوښتي وو،په مردان کې هم دغه حال و،مګر هلته د خانانو ډنډه مار نه وو، د سوات باچا میاګل صاحب ډېر سواتیان د دوی د وهلو دپاره د سرکار په امداد کې رالېږلي وو. دې ظالمانو به په داسې ناترسئ وهل کول چې زه یې بیانولی نه شم. د چا سر او پښه به یې نه کتل او اکثر به یې خدایي خدمتګار د غوبل د غوایانو په شان په نېغو وهل، اکثر خدایي خدمتګار به زخمیان شول، دچا سر مات، د چا لاس او د چا پښې. څوک به په وهلو کې مړه شول، د پېښور د ډپټي کمشنر په دفتر چې خدایي خدمتګارو چپاو وکړو نو د نورو کوتک مارو سره ډپټي کمشنر مرزا سکندر پخپله کوتک په لاس راووتو او په خدایي خدمتګارو یې را باندې کړل،حالانکه پیرنګیانو مونږ پسې کوتک را اخستی نه دی،اژ نه یې پخپل لاس مونږ وهلي یو،خو دې مسلمان ورور مونږ پسې کوتک را اخستو او په دې وهلو ټکولو کې به خدایي خدمتګارو بیاهم د ایډیشنل پولیس او انتظامي پولیس دایرې ماتې کړې او په کچرۍ به ورننوتل،او حاکم که به پیرنګی و.ورته به یې وویل چې پیرنګیه ته د اووزرو میلو نه راغلی یې، دا زمونږ ملک دی،دا مونږ ته پرېږده او ته خپل ملک ته ځه او که دیسي به و،نو ورته به یې وویل چې قوم فېصله کړې ده چې ته د پیرنګیانو نوکري پرېږده، سید اکبر خدایي خدمتګار د سکندر مرزا په ګذار په زړه ولګېدو او

دغلته شهید شو، پیرنګیانو پخپل لاس وهل نه کول، ددې چپاو لوی کماندر د ګوجرو ګړې شاکرالله باچا و، چې دا چپاوونه یې دومره په بهادرۍ او هوښیارتیا منظم کړي وو چې هغه پیرنګیان چې ده سره یې مقابله کوله پرې قایله وو.

د مردان د چپاو کماندر سالار منیر خان و او بیا عبدالعزیز خان و هغه هم ډېر په بهادرۍ دغه چپاوونه چلولي وو، د چپاوونو زور په لویه پیمانه یا پېښور کې و یا مردان کې و، مردان کې به دهرې کچرۍ په وړاندې پولیس او ایډیشنل چاپیره کوتک په لاس ولاړ وو، خدایي خدمتګار به راغلل، نعره تکبیر، الله اکبر، فخر افغان زنده باد چغې به یې وهلې او د پولیس او ایډیشنل ګیره به یې ماته کړه او په کچرو به ورننوتل او دې پولیس او کوتک مارو به پرې را باندې کړل مات ګوډ به یې کړل بیا به یې لارۍ کې واچول او چېرته لرې به یې وغورځول ما به د دې چپاوونو د حالاتو معلومولو او د سلا مشورې دپاره دورې کولې خو حکومت زه نه منع کولم، اخر د حکومت پالیسي بدله شوه اوکومو خدایي خدمتګارو چې به چپاوونه کول د وهلو نه علاوه د هغو نیول یې هم شروع کړل او د دې خبرې تجویز یې هم وکړو چې زه ترې څه کار ونه کړی شم. زه د کار دپاره مردان ته روان وم، د مردان نه بهر را ته پولیس ناست وو هغوی ونیولم او راته یې ووې چې مردان ته ستا د تلو اجازت نشته په موټر کې یې کښېنولم او بېرته پېښور ته یې راوستم د ښار نه یې بهر نه پرېښودم، بل ځل کوهاټ ته روان شوم، سپېنې تانې سره پولیس ناست وو. موټر یې د لارۍ نه کوز کړو تولـه ورځ یې را باندې سپینه تانه

کې تېره کړه مازيګر يې په لارې، کې پېښور ته راوستو او هلته يې پرېښودو ما د حکومت دا طريقه مناسبه ونه ګڼله د قوم د خبردارۍ د پاره مې د پېښور په چوک يادګار کې جلسه جوړه کړه، په دې جلسه کې ما خلکو ته درې خبرې وړاندې کړې يوه دا چې د حکومت دا زما سره کومه طريقه روانه ده، دا ما ته توقه ښکاري ما سره دې دا ټوقې نه کوي يا دې ما ونيسي او يا دې ما پرېږدي. بله دا چې که چيرې مونږ له خدای ګټه راکړه. اومونږ ازاد شو نو دا خبره زما ياده ولرئ، ملک زمونږ د ټول قوم او د ټولو پښتنو شريک دی، که جوار وي که غنم وي په شريکه به يې خورو داسې به نه وي چې يو سړی به وږی وي او بل به پولاوونه خوري. دريم کار به زمونږ داوي چې کوم خلک وږي دي اول بـه هغوی مړوو، نو بيابه د مړو حق پيدا کېږي. دريمه خبره دا ده چې يو سړی به نه خان کوو او نه به بادشاه کوو، يو سړي له به اختيار نه ورکوو اوکه يو سړی مو خان کړو، باچا مو کړو اختيارمند مو کړو، نو بيا به ستاسو خاورې په سر وي او هغه او د هغه خپلوان او دوستان به مزې کوي، زمونږ د اقتدار په وخت کې به واک اختيار د قوم او د قوم د جرګې وي، جلسه کې ما د دې خبرې اعلان هم وکړو چې د اکتوبر په اووه ويشتم به د خدايي خدمتګارو د يوې ډلې سره مردان ته ځم.

په اووه ويشتم مونږ د چارسدې اډه کې را غونډ شو او زه د پنځوسو تنو خدايي خدمتګارو سره پياده روان شوم لاره کې ځای په ځای زمونږ مخې له خلک راوتلې وو، شپه مو د ګل اباد د درګی منګا د خدايي خدمتګارو سره يو ځای وکړه سبا

له د دې ځای نه مردان ته روان شو، د میرویس غونډۍ نه قبلې ته نهر بهېږي. ماسپښین لمونځ مو هلته وکړو او د خپلو ملګرو تالاشي مې واخیسته او که چا سره چاقو و، نو هغه مې ترې واخیستو او د هغو خپلوانو له مې ورکړل چې مونږ روان وو په دغه وخت کې د صوابۍ څو تنه خدایي خدمتګار د سالار منیر خان سره زمونږ په ټولي کې شامل شول. د لمانځه نه پس مو دعا وکړه او روان شو، زه د ملګرو په منځ کې وم او ملګري مې د ځان نه چاپېره کړي وو د پړانګو سردار خان ملا تړلې وه او د ټولو نه مخکې روان و دا چغه به یې وهله چې پښتنو ورونو خبر شئ، پیرنګي سره د پښتنو پخپل حق جنګ دی. تاسو زمونږ ورونه یئ د پیرنګیانو دپاره مونږ سره مقابله مه کوئ. پخپل قام او پخپل ملک تنګ وکړئ. مونږ چې میرویس ډېرۍ ته نزدې شو نو مونږ سره خو ډېر خلک ملګري وو،ولي او ماسټرکریم او سالار منیر خان او نور خلک مو رخصت کړل،چې ټول ګرفتار نه شي. ولي سره کېمره وه،وې زه تصویر وباسم خو ما منع کړو، ما دې خلکو ته ووې چې ملک کې کار وکړئ. مونږ چې د میرویس ډېرۍ ته ورسېدو نو یو پیرنګی ولاړ و، یو غټ کوتک ورسره په لاس کې و، کوم پولیس چې ورسره وو هغوی سره هم کوتکونه وو هغه پیرنګی مونږ له راغی او پولیس یې زمونږ نه چاپېره کړل، د سردار خان تقریر په دې خلکو لږ ډېر اثرکړی و. مونږ یې نه وهلو خو چې کله پیرنګي کوتک وچت کړو او دوی له یې حکم ورکړو چې وهئ بیا یې په مونږ را باندې کړل او توره شپه یې راباندې جوړه کړه، د چا پښه ماته شوه د چا لاس مات شو. زما یې هم

دوه پښتنې ماتې کړې، مونږ يو بل پورې نښتې وو د پښو نه به يې نيولو او په سړک به يې راښکلو لنډه دا چې زه يې په موټر کې واچولم او مردان کې د پوليس لاين کې يې په يوه کوټنې کې وغورځولم. ددې کوټنې فرش د سمټو و او په دغه کشمکش کې زما جامې ټولې شلېدلې وې په مځکه پروت وم، چې وجود مې يخ شو نو ټول بدن مې دردونه کول، څه شيبه پس هغه پيرنګې د هغه ډانګه سره زما کوټې ته راننوت، زه په تکليف کې وم او ده په ما رعب اچوو ما چې ځواب ورکړو غصه شو اووې ويل چې اتکړې ورته واچوئ زه حيران شوم چې انسان چې انسان وي نو څومره همدرد وي او چې انسانيت ترې لاړ شي نو بيا څومره بې رحمه شي. د هغه ځايه يې په لارۍ کې واچولم او د نوښار چونې ته يې بوتلم هلته يو موټر ولاړ و.دوه پيرنګيان په کې ناست وو، زه يې د لارۍ نه موټر کې واچولم، خوشدل چې د پوليس افسر و ډېر ظالم و. ما سره موټر کې ناست و نو پيرنګيانو ته د ځان ښودلو دپاره يې ماته ډېرې سپکې خبرې وکړې، زه پخپل ځان وم دومره مې ورته ووې چې پښتانه داسې خبرې نه کوي، ستا مطلب وشو پيرنګيانو ستا خبرې واورېدې ترقي به دې وشي.همدغه شان وشوه زه يې د هريپور جېلخانې له بوتلم او چکۍ کې يې بند کړم، ډاکټران وو او هسپتال هم و خو هغه زما دپاره نه وو، قيديان خو څوک د خداى بندګان نه ګڼي، زما به ټول وجود دردونه کول او شپه ډېره سخته تېره شوه. سباله ډاکټر وکتم هغه پرېشانه شو څه ملهم غوندې يې زما په پښتو پورې کړل، چې سپرنټنډنټ راغى ما نه يې تپوس وکړو چې څنګه يې؟

پښتانه که ډېر تکليف کې وي چې څوک ترې تپوس وکړي نو ورته وايي چې ښه يم ما هم ورته دغسې ووې. سپرنټنډنټ حکومت له خبر ورکړو چې ښه دی. هغوی اخبار کې اعلان وکړو چې هغه ښه دی. هسپتال کې يوهندو ډاکټر و هغه مشر ډاکټر ته ووې چې ذمه داري په تا ده، بدنامي به ستا وي تا له په کار دي چې حکومت خبر کړې هغه حکومت ته وليکل چې دغه خبر غلط دی، دی جوړ نه دی حکومت سول سرجن را ولېږه. هغه زما معاينه وکړه بيا يې ايبټ اباد ته فوجي هسپتال ته بوتلم ايکسرې وشوه معلومه شوه چې زما دوه پښتۍ ماتې دي. سول سرجن پخپله زما پښتۍ وتړلې او پلاستر يې پرې ولګول، په تړلو سره زه لږ په ارام شوم، څوورځې پس مې اخبار کې وليدل چې د جېلخانې سپرنټنډنټ وايي چې هغه روغ جوړ دی. سباله چې سپرنټنډنټ راغی هغه اخبار مې هغه ته وښودلو نو هغه راته ووې چې تا راته ووې چې ښه يم ما ورته ووې چې دا خو د پښتنو اصطلاح ده. ستا خو سترګې وې تا نه ليدم چې زه څنګه يم؟

څه وخت چې مونږ د پيرنګيانو خلاف سول نافرماني شروع کړه هغه وخت کې هغوی د افغانستان د حکومت په امداد د ملايانو په ذريعه کار شروع کړو،عجيبه خبره خو يې دا وه چې پيرنګيانو په ما د کفر يوه فتوه تياره کړه.او په هغې باچاګل او مانکي ملا دواړو دستخطونه وکړل او د دواړو ډلو د ملايانو تائيد و. عجيبه خبره خو دا وه چې مذهبي معاملو کې د مانکي ملا او هډي ملا تعلقدار چيرې متفق شوي نه دي.او د يو بل مخالف وو چې په يو بل به يې د کفر فتوې لګولې،ليکن زما

په فتوه د دواړو ډلو اتفاق و،ولې چې دا د کفر فتوه پیرنګي لګولې وه.او بله خبره دا وکړه چې افغانستان هم پښتانه دي،د صوبه سرحد خلک هم، په کار دي چې دا علاقه هم افغانستان سره شي.او د دې خبرې اشتهارات یې په ملک کې تقسیم کړل جلسې یې کولې او په هغو کې به یې دا تقریرونه کول چې دا ملک دې افغانستان سره شي ولې پیرنګیانو ورته هېڅ نه وې،دریمه خبره یې دا وکړه چې حاجي محمد امین چې زمونږ د دې پېښور علاقې نه تللی و،او په هغه کې پیر شوی و،د افغانستان د حکومت په مصلحت پیرنګیانو د باچاګل په ذریعه پېښور ته را وغوښت. هغه دلته د دې خبرې کوشش وکړو چې د پښتنو سیاسي توجه د پیرنګیانو نه بل خوا ته واړوي، نو د ډمو په بازار باندې ده پکتهنګ ولګاوه،دغه وخت خدايي خدمتګار د پیرنګیانو برخلاف وو. په دې کې حاجي محمد امین خان راغی، ملایان ورسره ملګري شول او ارباب عبدالغفور د تهکال هم ورسره مُلا وتړله. او د خلکو توجه یې د پیرنګیانو نه اړوله، دا هغه محمد امین دی چې په مسجد نبوي(ص) کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې یې ما سره وعده کړې وه چې زه به تاسره یو ځای د خدای دمخلوق خدمت کوم چې دوی به پکتهنګ له ورغلل نو ډمې به راووتې او خلکو ته به یې وې چې وګورئ هلته خدايي خدمتګارو د پیرنګیانو په کچرو پکتهنګ لګولی دی، دوی راغلي دي،زمونږ په «دغه» یې پکتهنګ لګولی دی. دوی به سترګې ښکته کړې، خو دوه درې ورځې پس مرزا سکندر هغه ډمې پاڅولې چې د دوی نوم وشي، باچاګل او نورو چې زمونږ

بـــر خلاف څـــو مره کوشـــش ســـرحداتو او دې ملـــک کـــې وکړو ،کامیـاب نـه شـو ،د خلکـو همـدردي زمـونږ سـره وه، تجـویز دا پـاس شـو چـې پـه دې وخـت کـې مـونږ لـه پـه کـار دي چـې د پیرنګیـانو بـر خـلاف پـه ټولـه صوبه کـې جلسـې وشـي او پـه هغـو کـې اعـلان وشـي چـې مـونږ ازاد یـو.او د هغـې نـه پـس دې وفدونـه جـوړ شـي، چـې پـه ټولـو کچـرو، تحـصیلونو، ضـلعو، تـاڼو کـې د دې وطـن سـرکاري ملازمـانو لـه ورشـي او اپیـل دې ورتـه وکـړي چـې د پیرنګیـانو نـوکري دې پرېـږدي او خپـل قـام سـره د قـام، ملـک خـدمت دپـاره مُـلا وتـړي. او د ملـک خـدمت تـه ځـان وقـف کـړي. زه پـه افسـوس سـره دا لـیکم چـې د ډېـرو کوششـونو سـره د دې وفـدونو پـه وینـا یـوازې یـو سـړي نـوکري پرېښوده چـې یحیـی جـان و.او د پېښـور اسـلامیه هـائي سـکول هېډماسـټر و. ملازمـانو کـې ډېـر خـدایي خـدمتګاران وو چـې د خـدایي خـدمتګارو پـه وزارت کـې نـوکران شـوي وو او د خـدایي خـدمتګارو زامـن وو. هغـوی کـې یـو تـن هـم نـوکري پرېښوده او د ټولـو نـه عجیبـه خبـره خـو لا دا وه چـې دا کـوم خلـک چـې مـونږ بهرتـي کـړي وو هغـوی بـه د پیرنګیـانو د نوکرانـو نـه پـه خـدایي خـدمتګارو ډېـر زیـات زور ظلـم کولـو او کلـه نـا کلـه بـه یـې پـرې ګـولۍ هـم وچلـولې، د دې خبـرو وجـه دا وه چـې دوی خـو د پیرنګـي نـوکري غوښـتنه او دوی خـو د خـدایي خـدمتګارو د لاسـه مقـرر شـوي وو د ځـان د سـپیناوي او اتبـار دپـاره یـې پـه خـدایي خـدمتګارو زیـات ظلـم کولـو چـې پیرنګیـان پـرې شـکمن نه شي.

پـه ۱۹۴۲ کـال کـې چـې زه سـول سرجن د هـرې پـور جېـل نـه د

ایبټ اباد هسپتال له بوتلم او زما علاج وشو او جوړ شوم.نو واپس یې د هریپور جېلخانې له راوستم دغه وخت زمونږ د خدایي خدمتګارو چالانونه هریپور ته راشروع شو. په لاره به دوی چغې وهلې خو چې جېل ته به را دننه شو نو بیا به یې هم بارکونو کې احاطو کې چغې وهلې زمونږ خو دا اصول وو چې جېلخانه کې د جېل د قانون مخالفت نه کوو، سپرنټنډنټ جرنیل ته ولیکل چې جېلخانه د دوی چغو په سر اخیستې ده، جرنیل راغی ډېر خپه سړی و، فوجي و.ما سره یې خبره وکړه ما ته یې ووې چې خیر دی نعره تکبیر او فخر افغان چغې دې وهي خو دا دې نه وایې چې برتانیه برباد، زه دوی له ورغلم ټول مې کښېنول چې بهر چې تاسو هر څه کول،کول مو، خو جېلخانه کې دا چغې وهل ښه کار نه دی، بعضې ګرم مزاجه خدایي خدمتګارو ووې چې ولې به نه وهو. ما ووې تاسو له دې جېلوالاو څومره مراعات درکړي دي،ستاسو چای ازادې دي پیې درکوي کټوئ ځان له پخولی شئ تالاشي مو نه کېږي دا هر څه په دې وجه تاسو سره کېږي چې زه دلته موجود یم نو که تاسو نه منع کېږئ او خامخا چغې وهئ، نوما به درنه بدل کړي. او ستاسو نه به دا ټول مراعات واخلي سختي به دربانده راولي تاسو که بیا هم دا ایجي ټیشن جاري ساتل غواړئ، نو دا خبره مې واورئ چې بیا یې پرې نه ږدئ او ټول چغې مه وهئ په یو بارک کې دې لس کسان چغې وهي،که هغوی چکو کې بند شي نو بیا دې نور لس کسان چغې وهي، چې دا تحریک درنه مړ نه شي خو دا خبره درته کوم چې که اوس مو زما په خوله دا سوله جېلوالاو سره وشي نو دا به د

عـزت وي کـه مـا درنـه چـالان کـړي او تاسـو تنـګ کـړي او بيـا د سـولې درخواسـت کـوئ نـو هغـه بـه د بـې عزتـۍ او کـوزو سـترګو وي، مـا دا خبـرې ورسـره وکـړې زه تـرې خپـل ځـای لـه لاړم دوی چغـې بنـدې نـه کـړې، دوه ورځـې پـس جمعـدار مـا پسـې راغـی چـې سپرنټنډنټ دفتـر تـه غوښـتی يـې زه ورسـره لاړم چـې ډيـوډۍ تـه ورسـېدم نـو پـوليس تيـار ولاړ وو، مـوټر بهـر ولاړ و،زه يـې چـالان کـړم او دا يبـټ ابـاد جېـل لـه يـې بـوتلم او يـوه تنګـه کـوټګۍ کـې يـې بنـد کـړم، دغـه کـوټګۍ بالکـل يـوازې د ټـول جېـل نـه جـدا وه، ما سره د خبرو اترو قدرې څوک نه و.

کلـه چـې زه د هريپـور جېـل نـه چـالان شـوم نـو جېلـوالاو پـه سياسـي قيـديانو تـوره ښـپه جـوړه کـړه. پـه دوی يـې چـای بنـدې کـړې چـا چـې بـه نـارې وهلـې چکـو کـې يـې واچـول.څـه ورځـې خـو دوی چغـې مغـې ووهلـې خـو اخـر يـې چغـې بنـدې کـړې پخپـل کـار پـښېمانه شـول، د دوی مـشرانو جېلـوالاو تـه ووې چـې مـونږ درسـره سـوله کـوو، جېـل والاو ورتـه ووې چـې ډېـره ښـه ده چغـې بنـدې کـړئ، نـو د دوی پـه منـځ کـې سـوله وشـوه کـه دوی زمـا خبـره منلـې وی ،نـو زه بـه يـې هـم تـرې نـه وم چـالان کـړی او دوی تـه بـه هـم دومـره تکليـف نـه و رسـېدلی. او نـه بـه د کـوزو سـترګو پـه سـوله مجبـور شـوي وی. مالـه يـې د اييـټ ابـاد جېـل کـې يـو بـوډا مـشقتي را کـړی و، هغـه بـه مالـه ډوډۍ پخولـه،درې مياشـتې قيـد و، چـې د هغـه بـه کلـه ملاقـات راغـی او دی بـه ملاقـات لـه لاړو نـو چـې بـه راغـی مـا بـه تـرې تپـوس کـوو چـې د کـور او د بـال بچ دې څـه حـال دی؟ نـو ده بـه راتـه وې چـې زه ملاقـات لـه لاړ شـم نـو ښـځې او واړه مـې د جنګلـې نـه اخـوا ولاړ وي ژاړې او زه د جنګلـې نـه دې خـوا

ژاړم. څه خبرې ونه کړو، دی د هزارې و، ډېر ښه سړی و، یوه ورځ ترې ما تپوس وکړو چې زما د دې کوټنۍ لاندې چې دا بارکونه دي نو چې د نیمې شپې نه شپه واوړي دا قیدیان شور کوي چې دا څه کوي؟ ما د خوبه وباسي. ته ورته ووایه که وظیفې کوي نو ورو ورو دې کوي او ما دې د خوبه نه وباسي. نو هغه راته ووې چې دا شور ځکه وي چې دا ایبټ اباد دی. دلته واوره پرېوځي، د دوی یخنې کېږي، دوی له یې دوه زړې کمبلې ورکړې دي نو دا شور په دغه وجه وي. د دې جېلخانې د داروغه عمر بېګ نوم و، مسلمان و او په کوړي چود باندې مشهور و. هغه چې سبا له ما له راغی ما ورته ووېل چې د قیدیانو سره کمبلې نشته یخنې یې کېږي ما د خوبه وباسي مهرباني وکړه کمبلې ورکړه، ده راته ووې چې کمبلې نشته ده به ډېر لمونځونه اودسونه هم کول، چې دی بدل شو نو د ده په ځای یو هندو داروغه راغی، د هغه د راتلو سره چې قیدیانو ورته شکایت وکړو، نو دوه دوه نوې کمبلې یې هر یو له ورکړې. چې زه خبر شوم ما ترې تپوس وکړو چې دا کمبلې دې را وغوښتې؟ نو هغه وې نه دا خو په ګودام کې پرتې وې، د دې ځای ډپټي کمشنر سکهـ و، او ډېر ښه سړی و، دی چې جېلخانې ته راغی نو ماته یې دا خبره وکړه چې جارج کننګم به دا خبره کوله چې زه د ډاکټر خانصاحب نه د سرحد وزارت بل چا له نه ورکوم. خو څه موده پس یې مسلم لیګ له ورکړو. اورنګ زیب خان وزیر اعلی شو. یوه ورځې دا ډپټي کمشنر راغی ډېر خپه و او راته یې ووې چې ګورنر خو به وې چې بغیر د ډاکټر خانصاحب نه بل سړی وزیر نه مقرروم. ده یو قسم ما

سره همدردي کوله، ما ورته وویل چې زه خوشحاله یم چې ګورنر مسلم لیګ له حکومت ورکړو، او د ډاکټر صاحب په ځای اورنګ زیب خان یې مقرر که، هغه حیران شو او پوښتنه یې وکړه چې دا ولې؟ نو ما ورته ووې چې زه په دې خوشحاله یم چې دې قوم خو دا زمونږ حکومت ولیدو نو دا ښه ده چې د مسلم لیګ حکومت هم ووینې او په کې تمیز وکړي. او بله دا چې د دې حکومت اختیارات هم ډېر کم دي او زمونږ دې قوم خو حکومت لیدلی نه و او نه د دې حکومت نه خبر دې، نو یو کار دی چې هغه مونږ کولی نه شو زمونږ د اختیاره بهر دی، قوم وایي دا راله وکړه. مونږ که ډېر ورته وایو چې مونږ یې کولی نه شو دا زمونږ په اختیار کې نه دی خو د ده تسلي نه کېږي، او رانه خپه شي، خپه څه چې بیا زمونږ مخالفت شروع کړي، او دویمه خبره دا ده چې مونږ دوه انې ګټلې دي او دوی رانه روپۍ غواړي نو مونږ روپۍ د کومه راوړو؟ نو دوی زمونږ حکومت هم لیدلی و، او اوس به د مسلم لیګ حکومت ووینې نو په حقیقت به پوهـ شي او همدغه شان وشو، که چېرې دا حکومت مونږ پرېښودی نه وی، نو د راتلونکي الیکشن ګټل ګران و. دوی به کامیاب شوي وو، خلکو ولیدل چې مونږ خو په روپۍ کې دوه انیز خو ورکولو اوکوم کار چې به زمونږ په اختیار کې و. هغه به مو ورله کولو او مسلم لیګ خو ځان ته نزدې هم نه پرېښودل او نه یې ورله څه کول یوه ورځ کرنیل سمتهـ چې د پېښور د جېل سپرنټنډنټ و ایبټ اباد له په دوره ماله راغی نو زما ځای یې ولیدو څه وخت چې بهر ته ووت، نو سپرنټنډنټ ته یې ووې چې تا باچاخان د کوترو په

کوټګۍ کې بند کړی دی؟ هغه سمتهـ ته په ډېر ادب او غلی غوندې ځواب ورکړو چې د سرحد د حکومت دا حکم دی په دې کې زه څه کولی شم؟، کرنیل سمتهـ هغه وخت د هغه ځای نه ګورنر ته ټیلیفون وکړو ورته یې ووې چې سرجارج څوک یو بهادر دښمن سره داسې سلوک کوي. څنګه چې تا باچاخان سره کړي دي! چې په یوه وړه کوټګۍ کې دې یوازې اچولی دی؟ ګورنر پخپل کار شرمنده شو او خپل حکم یې واپس واخیستو او حکم یې وکه، چې ده له ښه ځای اوملګري ورکړئ کله چې سمتهـ صاحب بیا راغی او ماته یې د ملګرو ووې چې څوک غواړې ما ورته ووې چې ستا څوک خوښ وي هغه راکړه. هغه وې چې دوی به تا سره وي که ماسره؟ ما ورته ووې چې ماسره به وي. ده ووې چې بیا خو په کار دي چې ته یې خوښ کړې،نو چې ستا څوک خوښ وي هغه راته ووایه نو ما ورته ولي او شېردل خان یاد کړل هغوی یې ماله را ولېږل چې هغوی راغلل نو د هغوی نه معلومه شوه چې سالار انځرګل په ډېره اسماعیل خان جېل کې دی او ډېر ناجوړه دی نو ما سپرنټنډنټ ته ووې چې مونږ له د پخلي دپاره خپل سړی راکړه هغه وې چې څوک غواړې؟ ماوې انځرګل غواړم او هغه د ډېرو په جېل کښې دی هغه یې راوغښتو چې انځرګل جرنیل راغی نو دومره ناجوړه و چې د ګرځېدو هم نه و. زمونږ په پوړو راختی نه شو خو د خدای فضل و ډاکټرانو یې علاج وکړو او مونږ ورله ښه خوراک په ډاکټر مقرر کړو. نوورځ په ورځ ښه کېده. زما په هغه کوټنۍ کې په مشکله دوه کټه راتلل او نور ځای په کې د ملاستې هم نه و. نو سالار صاحب به زما د کټ د لاندې

خملاستو او شېردل خان به د ولي د کټ د لاندې خملاستو. څه ورځې پس حکم راغی او ماته چې نزدې د هسپتال کومه کمره وه هغه يې ولې دوی له ورکړه زه پخپل ځای پاتې شوم او دوی درې واړه هغې کمرې له لاړل.

مونږ جېلخانه کې وو چې خبر شو چې بنګال کې قحط دی او ډېر خلک د ولږې نه مړه شول. مونږ له چې حکومت کوم راشن راکولو نو نيم به مونږ خوړلو او نيم به مو هغه مصيبت زده خلکو له جمع کولو. او چې ډېر جمع شو نو مونږ حکومت ته وويل چې دا بنګال له ولېږئ خو نه حکومت هغه بنګال له ولېږه اونه يې مونږ ته واپس راکړو. په دغو ورځو کې د ولي سترګه خُوږ شوه دغه يوه سترګه يې وه، هغه بله يې په شري کې خرابه شوې وه. مونږ سره ډېر فکر و سپرنټنډنټ د فوج د سترګو ماهر راوغوښتو خو څه فايده ونه شوه. مونږ دې سپرنټنډنټ ته ووې چې ته حکومت د دې حال نه خبر کړه، دی غواړي چې بمبی ته لاړ شي او په هغه خپل ډاکټر علاج وکړي، سرجارج بغير د څه شرط نه هغه رها کړو او د علاج اجازه يې ورکړه چې دی تلو نو ما ورته ووې چې ولي ته يې د علاج دپاره پرېښودې نو که علاج دې وشو نو بيا به هم د حکومت برخلاف څه کار تر هغې پورې نه کوې چې دا د قيد ميعاد دې پوره شوی نه وي.

زمونږ ډېر ملګري چې د قيدنه رها شول او په هريپور کې کوم پاتې شو نو زه يې د ايبټ اباد نه هريپور ته بدل کړم، هريپور کې چې زمونږ ملګرې وو نو جېلوالاو ورته ووې چې هر سړی دفتر ته مه راځئ تاسو خپل يو سړی مقرر کړئ او هغه

دې دفتر لـه د خپل کار د پاره راځي نو دوی بـه غونډه شو او دوی بـه پـه اتفاق يـو سړی مشر کړو هغـه بـه د دوی د کارونو د پاره دفتـر تـه تلـو او هغـه کارونـه بـه يې کـول. دا خـو ضـروري خبـره وه چې هغـه بـه د دوی نماينده و، نو جېلـوالاو بـه د هغـه عـزت کولـو او د هغـه عـزت خـو حقيقـت کې د دوی عـزت دی، نـو چـې هغـه بـه د دوی د کار د پاره داروغـه لـه ورغـی هغـه بـه ځان سره پـه کرسۍ کښېنولو .کـه ډاکټـر لـه بـه د دوی د کار د پاره ورغـی نـو هغـه بـه هم ځان سره پـه کرسۍ کښېنولو او دغـه شان بـه سپرنټنډنټ هم کرسۍ ورکولـه خو چې دې ملګرو بـه وليده، نو ده پسې بـه يې کنځل کـول يـو بـل تـه بـه يې وې چې دی خـو سپرنټنډنټ سره او ډاکټـر سره هـم پـه کرسۍ ناست وي بـل بـه وې چې دی تلـی و صافي يې زما پـه نوم راوړه او ځان لـه يې واخيسته.دا زمونږ د خدايي خدمتګارو د مشرۍ حال و، زه چې دې جېل تـه لاړم او هلتـه خـو اکثـر قيـديان د سـي کـلاس وو او پـه مختلفـو بارکونوکښې وو او د يـو بارک خلـک بـه يې بـل بارک تـه نـه پرېښودل مـا جېلـوالاو تـه ووې چې د اتـوار پـه ورځ دې زمونږ سياسي قيديانو تـه اجازه وشي چې يـو ځای کېږو، هغـوی اجازه راکړه، مونږ بـه هر اتـوار يـو ځای کېدو پـه دې خپل تحريک او پـه قـومي معـاملو بانـدې بـه مـو بحثونـه کـول نـو زمونږ بـه تجربه کېدلـه زمونږ يو جرنيـل و، ډېر ښـه سړی و،دوی خپل مشر مقرر کړی و خـو دوی بـه ټولـه ورځ هغـه پسې خبرې کـولې نـو يـوه ورځ ماراوغوښتـو اوورتـه مې ووې چې جرنيـل صـاحب د دوی د مشرۍ نـه استعفا ورکـړه، هغـه لاړو او دوی لـه يې استعفا ورکـړه، نو د اتـوار پـه ورځ چې مونږ يـو ځای شـو نـو دوی راتـه

ووې چې باچا خانه ته زمونږ مشر شه او که ته نه کوې نو يو مشر را له خوښ کړه، ما څه ځواب ورنکړو او خبره مې بله خوا واړوله چې بل اتوار به بيا جمع شو، نو دوی بيا ماپسې شو چې مونږ له يو مشر مقرر کړه، نو زه پاڅېدم او دوی کې مې هر سړي ته ښکته پورته وکتل چې ټولو ته مې په غور وکتل نو ورته مې ووې چې دوی کې خو ماته داسې سپک او ذليل او بې غېرته سړی ښکاره نه شو چې ستاسو مشر يې کړم. تاسو عجيبه مخلوق يئ او ځان ته خدايي خدمتګار هم وايئ، قيدونه هم تېروئ، نو چې کوم سړی خپل مشر مقرر کړئ نو بيا هغه ته کنځل کوئ، هغه سپکوئ، ډېره د افسوس خبره ده،دوی چپ شول او بيا يې ماته د مشرۍ خبره ونه کړه.

مونږ چې د هريپور په جېلخانه کې وو نو يو قيدي ماله راغی چې اې باچاخانه چې ستا دې خدايي خدمتګارو زه جېلخانې ته د دريو مياشتو دپاره راوستی وم او راته يې وې چې بس مياشت نيمه کې رهايي ده،ما شپږ مياشتې تېرې کړې اوس زه ورته وايم چې ما پرېږدئ چې زه لاړ شم او دوی مې نه پرېږدي ما ورته وې زه دې پرېږدم،نېغ څه دفتر ته، ما همېشه خدايي خدمتګار د دې کاره منع کړي دي، چې په زور او چل څوک جېل ته مه راولئ، دا تحريک ته د فايدې په ځای نقصان رسوي.

خلک په زور جېلخانې له په تلو مه مجبوروئ او په خوشامندو، منت، دوکه خلک جېلخانې ته مه بيايئ، ستاسو خو دا خيال دی چې ډېر خلک جېلخانې ته لاړ شي نو زمونږ به په حکومت رعب قايم شي، ليکن د کمزورو خلکو په بوتلو

تاسو سپک شئ، اوورسره تاسو خپل تحریک بدناموئ، منم چې د ډېرو خلکو په تلو په حکومت رعب پرېوځي، خو چې هغوی مضبوط او بااصوله وي. ما په جېلخانه کې چرګان ساتلي وو، او هغوی له به ما په خپل لاس خوراک ورکولو، هغوی ما سره داسې اموخته شوي وو چې څه به زما غېږه کې ناست وو څه به زما په اوږو سورېدل، یوه ورځ مې اوږه کلک اغږلي وو، دوی له مې ورکول څوک زما په لاس، څوک زما په غېږ کې او څوک زما په سرناست وو، کرنیل سمتهـ جېل ته په دوره راغلی و، چې ما له راتلو نو دا تماشه یې ولیده نو د جېل افسران یې ټول واپس کړل او زما د چکو په شا، شا راغی ، زه ترې خبر نه یم او دی زما شاته ولاړ دی، تماشه یې وکړه بیا یې ما ته وویل چې: (good morning) سحردې ښه شه. چې ما وکتل سمتهـ صاحب و، ماته یې وویل چې دا څه کوې؟ ما ویل چې دا زه چې څه کوم په دې کې ستاسو دپاره سبق دی، ګوره دا معلومه ده چې مونږ دوی حلالوو او خورو، خوچې زه ورسره مینه کوم او په ګېډه یې مړوم نو دوی زما په غېږه کې او څوک زما په اوږه، او څوک زما په سرناست وي. دوی نه تاسو له سبق اخیستل په کار دي، ګوره دا حیوان دی خو چې زه ورسره مینه کوم نو زما د غېږې نه، نه کوزېږي.او انسان خو اشرف المخلوقات دی که د هغه سره مینه وشي نو ولې دې د سړي دوست نه شي.

کرنیل سمتهـ یو بهادر سړی و او بهادران یې خوښ و نو ده پخپله اقرار وکه چې ما جنګ په تاسو بایلود. بیا یې وروسته خدایي خدمتګارو سره ډېره مینه پیدا شوه اوښه سلوک یې و،

او زما خو پرې دومره اثر شوی و او زما یې دومره قدر کولو چې په ۱۹۴۷ع کې چې زمونږ په سیکو ډېری کې جلسه وه، چې ګورم چې کرنیل سمتهـ خپل زوی دلاسه نیولی ستیج له راغی، د هر کلي نه پس یې ماته وویل چې زما د دې زوی په سر لاس راکاږه، ما هغه ځان ته رانزدې که او ده ته مې وویل چې ته ماله جلسې له څه له راغلې ته خو سرکاري نوکر یې او که پاکستان جوړ شي نو تا به د نوکرۍ نه مات کړي. ده وخندل او ویې ویل چې پاکستان په کومه ورځ جوړ شي زه به دلته نه یم. د ده مسلم لیګ هم بدې شو، او د پېښور په جېلخانه کې یې ښه ډېولي و، ځکه چې بیرسټر قیوم پرې دباو کړی و که چېرې زمونږ حکومت شي بیا به څه کوې؟ رښتیا وه چې پاکستان په کومه ورځ جوړ شو، نو دېخوا جنډې اوچتې دې او توپې خلاصېدې او هغه خوا کرنیل سمتهـ سره د خپلې کډې په فرنټیر میل کې انګلستان ته روان و.

په ۱۹۴۵کښې زمونږ د بعضې ممبرانو په زړه کې دا خیال پیدا شو چې زمونږ په صوبه کې وزارت ښه دی، که مونږ وزارت واخیستو نو د نورو کارونو نه علاوه دا سیاسي قیدیان چې د درې کالو نه را په دېخوا په جېلخانه کې پراته دي هم رها شي.زمونږ د اسمبلۍ په ممبرانو کې بعضې کسان د حکومت او وزارت ډېر شوقیان وو، دوی سول نافرماني کولو ته تیار نه وو، رېډونه یې کولی نه شول، دوی خپل کارونه کول او خدایي خدمتګار په چپاوونو کې څه مړه، څه قیدیان او څه زخمیان شول، نو خلکو دوی ته ښه نه کتل ځکه چې دوی پخپله هم کار کولو ته تیار نه وو. او نور یې هم کار ته نه

پرېښودل. تر دې چې لعلي زما زوی یې هم چپاو کولو ته نه پرېښوده. دوی چې د وزارت جوړولو کوشش شروع کړ، نو د یکه توت په کېمپ کې ساقي صاحب او کېمپ کمانډر سالار شېر علي خان د دوی مخالفت شروع کړو او ډاکټر صاحب یې هم د ځانه سره هم خیال که. دوی د اسمبلۍ خپل ټول ممبران د صوبې نه یکه توت کېمپ له د اجلاس د پاره راوغوښتل چې دوی د ځانه سره د وزارت په جوړولو کې متفق کړي، خو هغوی چې به راتلل نو ساقي صاحب به پوهول دغه اجلاس هم ناکامیابه شو، اخر چې ساقي صاحب تیراه ته لاړو نو دوی ته میدان خالي شو، ډاکټر صاحب یې رضا که، او ګاندهي جي له یې وفد ولېږه او هغه ته یې وویل چې د صوبه سرحد حالات د نور هندوستان نه مختلف دي، زمونږ د تحریک په وزارت کې فایده ده او سیاسي قیدیان به هم رها کړو، هغه وویل چې په دې مسئله کې د باچاخان سره خبرې وکړئ. نو بیا یې ماله د هریپور جېل له وفد راولېږه او دا ټوله قیصه یې راته وکړه، ما ورته وویل چې زه د ورپسې وزارت په حق کې نه یم چې پوره اختیار ورسره نه وي داسې وزارت قوم او تحریک ته د فایدې په ځای نقصان رسوي، پاتې شو د سیاسي قیدیانو د رهايۍ خبره نو زمونږ فکر مه کوئ، مونږ په جېل کې تنګ شوي نه یو، دوی لاړل او څو ورځې پس خبر شوم چې دوی وزارت جوړ که، څه سیاسي قیدیان رها شول او څه یې په جېل کې پاتې شول. زما رهايي چې راغله نو ما ویل چې څو پورې ټول سیاسي قیدیان رها شوي نه وي زه نه وځم دوی بیا ماله راغلل او راته یې وویل چې په دوی حکومت سختې دفعې

لګولې دي مونږ کوشش کوو او څو ورځو کې به رها شي خو ته اوس رااووځه،نو زه را ووتم، زه ناجوړه وم زه چې په جېلخانه کې يواځې يم. نو ناجوړه کېږم. نو دغو ورځو کې ګاندهي جي په بمبۍ کې و.

## د بمبۍ تګ:

هغه ماته وليکل چې بمبۍ ته راشه ،زه چې به هر کله بمبۍ يا سېواګرام ته تلمه نو يوه شپه به مې ډيلي کې د ګاندهي جي زوی ديويداس سره کوله د هغه ښځه د راجاګوپال اچاريه لُور وه،دوی به زما ډېر خاطر او دار مدار کولو.ما خو به اکثر سفر په تهرډ کلاس کې کولو نه په رېل کې به زه ډېر په عذاب شوم دلته به مې ارام وکړو.

سباله بمبۍ ته لاړم، ګاندهي جي د برلا په کور کې و. زه هم هلته لاړم او هغه سره اوسېدم. يوه ورځ يې د عدم تشدد بحث شروع کړو نو ما ورته ووې چې ګاندهي جي تا خو د ډېرې مودې نه په هندوستان کې د عدم تشدد سبق ورکړی دی. او زما خو ډېره لږه موده وشوه چې پښتنو ته مې دا سبق شروع کړی دی ما سره هغومره ذريعې او کارکنان نشته څومره چې تاسو سره دي، ته وګوره چې د ۱۹۴۲ کال په جنګ کې هندوستان کې څومره تشدد وشو، ليکن په صوبه سرحد کې باوجود د انګرېزانو د ډېر ظلم او اشتعال پښتنو تشدد ونه کړو.حالانکه هندوستان سره د تشدد هغومره سامان هم نشته څومره چې پښتنو سره دی. د دې په ځواب کې ګاندهي جي ووې چې عدم تشدد د بزدل سړي کار نه دی دا د يو بهادر سړي

کـار دی او پـښتانه د هندوسـتانیانو نه زیـات بهـادران دي. دغـه وجه ده چې هغوی تشدد ونه کړو.

یـوه ورځ زه د ګانـدهي جـي سـره ناسـت وم چـې یـو سـړی راغـی چـې د دوو پیـسو جـامې بـه یـې اغوسـتې وې، جیب تـه یـې لاس کړ او ګاندهي جي تـه یـې نوټونـه پـېش کـړل، هغـه ورتـه وویـل څـو دي؟ ده ورتـه وویـل چـې اویـا زره دي. هغـه ورتـه وویـل چـې یـو لـک یـې کـه! هغـه لاړ او پـه سباله یـې یـو لـک روپـۍ راوړې. دغـه شـان ګانـدهي جـي خپـل سـکتر ډیـسائي تـه وویـل چـې د بمبـۍ خلکـو تـه وو ایـه چـې د هریجنـو دپـاره لـس لکـه روپـۍ مالـه راکـړئ. دلتـه د ده سـره درې کـسان ناسـت وو هغـوی ډیـسایي تـه وویـل چـې د بمبـۍ خلکـو تـه اپیـل مـه کـوه، یـو ورتـه وویـل چـې دوه نـیم لکـه روپـۍ بـه زه درکـړم، بـل ورتـه وویـل چـې دوه نـیم لکـه بـه زه درکـړم او دریـم ورتـه وویـل چـې دوه نـیم لکـه بـه زه درکـړم. تاسـو لـه یـو بـل سـړی پـه کـار دی نـو ستاسـو دا ضـرورت بـه پـوره شـي. دغـه شـان پـه ابتـدا کـې چـې ګانـدهي جـې د ازادۍ کیـسه شـروع کـړه د قـوم نـه یـې یـو کـروړ روپـۍ وغوښـتې. نـو قـوم ورلـه د کـروړ نـه زیـاتې ورکـړې. او چـې ده بـه د قـومي خـدمت دپـاره یـو کـس غوښـته نـو سـل کـسه بـه ورتـه تیـار شـول او د قـوم د ودانـۍ دپـاره بـه یـې چـې کـوم کـار کولـو نـو پـه زرګونو خلـک بـه ورتـه تیـار او حاضر وو.

مګـر پـه صـوبه سـرحد کـې چـې مـونږ څـه کـول نـو هغـه مـونږ یـوازې د خـولې پـه تبلیـغ او تـشو لاسـونو کـول، ولـې چـې زمـونږ سـره هېڅـا مـالي مرسـته نـه ده کـړې. او بعـضې خلکـو بـه لا زیـاتی پـه مـونږ دا الـزام لګولـو چـې دوی څـه تعمیـري کـار نـه دی کـړی او

د قوم روپۍ يې وخوړې.

هرېجن كالوني په ډيلي كې وه او سېواګرام په وارده كې و او چې څه وخت به پراتهنا (عبادت) شروع شو، نو د ټولو نه مخكې به ما د قران شريف تلاوت وكړو، خلكو ته به مې د هغې ترجمه وكړه. زما نه پس به يو جاپاني د بدهـ مذهب پيروكار خپل مناجات بيان كړل او بيا به پراتهنا شروع شوه. دګاندهي جي په زړه كې د ټولو مذهبونو يو شان احترام و،او هغه به دا ټول مذهبونه حق ګڼل،او زما عقيده هم دغسې ده،د قران شريف او د ګيتا مطالعه خو ما په ښه شان سره كړې ده. او څه وخت چې زه په ډېره غازي خان جېل كې سكهانو سره قيد وم. نو د هغوى نه مې د ګرنتهـ صاحب زياته حصه اورېدلې وه. د بدهـ مذهب مطالعې سره زما ډېر شوق و،ولې چې مونږ خلك د اسلام نه مخكې د بدهـ مذهب پيروكار وو، خو د بدهـ مذهب كتاب ماله په لاس رانغې،انجيل مې د طالب علمۍ په زمانه كې په مشن هائي سكول كې ويلى وو ولې چې زه د هغوى د سكول طالب علم وم تورات مې لږ ډېر جېلخانه كې كتلى و،د زردشت دپارسيانو د مذهب د كتابونو د كتلو مې هم ډېر شوق و، ولې چې هغه خداى مونږ له رالېږلى و،او په بلخ كې پيدا شوى دى،خداى په قران كې وايي چې ما هر قوم ته د هغوى نه يو هادي لېږلى دى، ليكن تر دې وخته پورې ما د هغه متعلق هېڅ لټريچر بيا نه مونده.خورشيد بهن او نورو پارسي دوستانو ماته ويلي وو خوهېڅا د هغه يو كتاب ماته را ونه لېږه. زما مذهب رښتيا ،مينه، محبت او د خداى د مخلوق خدمت دى، مذهب همېشه دنيا ته د اخوت او محبت پيغام

راوړی دی.

د کومو خلکو په زړونو کې چې د بني نوع انسان د پاره رواداري، مینه، محبت نه وي او د کوم سړي په زړه کې چې نفرت، بغض، کینه وي نو داسې سړی د مذهب نه ډېر لرې وي.

د الیکشن په وخت کې مسلم لیګ په صوبه سرحد کې د پراپېګنډې د پاره یو پنجابی میجر خورشید رالیږلی و، چې د خپلې بد عملۍ په وجه د فوج نه موقوف شوی و ،هغه یې د دې غرض د پاره راولیږلو چې هغه پښتنو کې خانه جنګي پیدا کړي او داسې تقریرونه به یې کول چې د تشدد نه ډک وو، ده به ویل چې دا یو څو خدایي خدمتګار لیډران دي چې دې قوم کې د دوی رسوخ او اثر دی.دوی قتلول غواړي او داسې خلک پیدا کړئ چې هغوی ته مونږ لس لس، شل شل زره روپۍ ورکړو چې هغوی دا لیډران مړه کړي،ځکه چې د دوی د مرګ نه بغیر زمونږ لاره ازادېدی نه شي.دا سړي د دې د پاره سرحد ته راغلي وو چې پښتانه په کور کې وجنګوي او که چرې د خدایي خدمتګارو رهنمایان قتل کړی شي، نو د قوم همدردي خو خدایي خدمتګارو سره ده،نو د بدل اخیستلو به ضرور کوشش کوي او د مسلم لیګ لیډران به قتلوي.او په دې طریقه به پښتانه پخپل کورکښې په جنګ،جګړه اخته شي، او دوی به برباد شي،میجر خورشید یواځې زمونږ تباه کول نه غوښتل بلکې د پښتنو ټول قوم یې تباه کولو.

## زلمی پښتون:

څه وخت چې زمونږ خلک د مېجر خورشید د دې ارادې او سکیم نه خبر شول نو هغوی د خدایي خدمتګارو د حفاظت

دپاره نوی جماعت د غني په مشرۍ کې جوړ کړو، چې نوم يې «زلمي پښتون» و،او په دې کې هغه ځوانان شريک شول چې د چا عقيده په عدم تشدد باندې نه وه،ولې چې هغوی په دې غرض دغه جماعت جوړ کړی و،چې خدايي خدمتګار خو تشدد نه کوي.د دوی عقيده په عدم تشدد ده، د دوی خلاف د تشدد سازشونه کېږي نو دوی اعلان وکړو چې دا جماعت صرف د خدايي خدمتګارو د حفاظت دپاره دی،د دې په مقابله کې مسلم ليګو د غازي پښتون په نوم يو جماعت جوړ کړو، ليکن د پښتون قوم زلمي پښتون پسې و او مسلم ليګ کې چې کوم خانان د پيرنګيانو تالي څټ وو هغوی په دې نتيجه ورسېدل چې قوم د خدايي خدمتګارو سره دی نو که د زلمي پښتون او غازي پښتون جګړه جوړه شي نو موږ مسلم ليګو کې به يو کس هم ژوندی پاتې نه شي، نو په دې وجه د مېجر خورشيد هغه سکيم کامياب نه شو او ما هم د دې خبرې ډېر کوشش کولو او خدايي خدمتګارو ته به مې د صبر تلقين کولو چې پښتنو کې خانه جنګي ونه شي او د دوی بدخواهان پخپل سکيم کې کامياب نه شي.د غازي پښتون خلک به زموږ کېمپ له راتلل او موږ ته به يې بد رد ويل او کنځلې به يې کولې ځکه چې دوی ويل چې خدايي خدمتګار تشدد نه کوي.مګر زموږ د مرکز نه چاپير دي، دعلاقې خانانو ورته وويل چې که بيا دلته راغلئ نو بيا به زموږ نه ژوندي لاړ نه شئ او موږ يې د دې لعنت نه خلاص کړو،د دې غازي پښتون مشر زموږ د کلي د خان بهادر عمر خان زوی و.

❋❋❋

# اليکشن، کيبنټ مشن، عبوري حکومت

اليکشن، د ائين ساز اسمبلۍ ممبران او سرحد، کرپس مشن، شمله کنفرانس، د کانگرس صدارات، د جواهر لال بيان، د جواهر لال په بيان عکس العمل، انټرم حکومت، د جواهر لال د قبايلي علاقو دوره، او وزيرستان خيبر، ملاکنډ، سردرياب کې لويه جلسه، زما بمبۍ ته تگ، ډائرکټ ايکشن او فسادات، زه بهار کښې، سرحد کې د مسلم ليگ فسادات

## الیکشن:

مخکې الیکشن را روان و نو ما دا فیصله وکړه چې زه په الیکشن کې په داسې حالاتو کې حصه نه اخلم، ځکه چې د الیکشن ګټه خو د وزارت جوړولو دپاره وي، زمونږ وزارت شته خو د هغې دا حال دی چې د دوی بر خلاف پراپیګنډې د دوی ما تحت خلک کوي او دوی ورته لاس تر زنې ناست وي.

په کلکته کې دورکنګ کمېټۍ او د پارلمینټري بورډ شریکه جلسه وه زه هم ورله تلی وم او په کې شریک وم، دا ټوله جلسه د الیکشن دپاره وه ما د هغوی په مخکې د صوبه سرحد حال بیان کړو او هغوی ته مې ووې چې الیکشن خو د وزارت دپاره وي چې الیکشن وګټو او وزارت جوړ کړو، زمونږ وزارت شته او پیرنګیان او د هغوی ملګري زمونږ د وزارت برخلاف پراپیګنډې کوي او زمونږ دومره اختیار نشته چې دوی نه تپوس قدرې وکړو، نو زه تاسو خبروم چې زه په راتلونکي الیکشن کې حصه نه اخلم. پارلیمنټري بورډ وې چې په هره طریقه چې وي چې دی په الیکشن کولو راضي کړو خو زه یې اماده او رضا مند نه کړی شوم، چې د ورکنګ کمېټۍ اجلاس ختم شو نو ما ګاندهي جي ته ووې چې تا خو زما دا ټوله کیسه واورېده نو زه په دې الیکشن کې حصه نه اخلم نو هغه هم ماسره اتفاق وکړو.

زه کلي ته را روان شوم کار مې کولو زما خو د الیکشن سره اتفاق نه و. کار سره مې اتفاق و، کور کې وزګار نه کښېناستم په ملک کې مې دورې شروع کړې حکومت په زور شور زمونږ مخالفت شروع کړی و. ما ته دا پته ولګېده چې حکومت

اسلامیه کالج بند کړو او دغه شان د صوبې ټول کالجونه او سکولونه بندوي او هلکان د مسلم لیګ د پراپېګنډې د پاره کلو او ښارونو ته لېږي دا راته هم معلومه شوه چې د پیرنګیانو ښځې هم په ملک کې ګرځي، او د خانانو، ملکانو، ښځو ته وايي چې مونږ تاسو کره راغلي يو درنه لوپټه غواړو او زمونږ لوپټه ووت دي، مونږ له به ووټ راکوئ، او د پراپېګنډې د پاره د بېګم شهنواز لونه او نورې له پنجاب نه ډېرې جينکۍ سرحد له راغلې وې،د پنجاب نه مسلم لیګیان د علیګړ مسلم یونیورسټي هلکان او د کلکتې اسلامیه کالج طالب علمان او د هندوستان د نورو ځایونو نه کارکن لیډران په ډېر لوی تعداد سره سرحد ته راغلي وو،دوی نه علاوه حکومت اومسلم لیګ د سرحد او پنجاب پیران د کوټو نه راوښکي وو، وې چې دا وخت د کوټو نه دی راوځئ میدان ته شئ او مانکي صاحب (د مانکي پیر صاحب امین الحسنات) يې هم راوښکی و،او مونږ ته يې مقابله کې ودرولي وو،دی ماسره واقف و،د ده د پلار فاتحې له هم زه تللی وم،او کله نا کله چې به زه په دوره لاړم نو د ده سره به مې ليدل، نو ده ما پسې يو سړی را ولېږه،چې زه تا سره ملاقات له درځم. ما ورته وويل چې دی دې نه راځي زه به درشم،دی د پېښور په چونۍ کې اوسېده،يوه بنګله ورله حکومت ورکړې وه،زه ورغلم او دی مې وليد او ډېرې خبرې مو وشولې. ده ماله د جېبه يو کاغذ را وايسته او راته يې وويل چې دا ماله جناح صاحب راکړی دی.او په دې کې يې ليکلي دي چې که پاکستان جوړ شو نو په دې کې به اسلامي شريعت وي، ما ورته وويل چې

ښته يې، دی حيران شو او راته يې وويل چې ولې؟ما ورته وويل چې په اسلامي شريعت کې د جناح صاحب ځای شته؟ نو تاله به يې څرنګه جوړ کړي، ما ورته وويل چې ته خو بايد چې د اسلام نه واقف يې، نو ته پخپله فکر وکړه چې که سبا له دلته اسلامي شريعت جاري شي، نو چې د دې مسلم ليګ د مشرانو به څه حال وي؟ ما چې د پيرنګيانو او ميمانو زمونږ په مقابله کې دا دومره جدوجهد او دلچسپي وليده نو زماخيال بدل شو، اليکشن ته صرف يوه مياشت پاتې وه، نو ما کار شروع کړو، دا د ۱۹۴۶ کال د متحده هندوستان اخري اليکشن و، دې اليکشن ته مسلم ليګ داسې رخ ورکړو او خلکو ته به يې ويل چې دا اليکشن په هندوستان او پاکستان دی، چې پاکستان غواړئ که متحده هندوستان؟ په هندو اومسلمان دی،چې کفر سره ځئ که اسلام سره ځئ؟ په مندر او په مسجد دی،چې جماعت له ووټ ورکوئ که درمسال له.

په دې اليکشن کې مونږ ميا جعفر شاه او د ګلي ګړه ارباب عبدالرحمان نه ودرول ځکه چې دوی د ډاکټر صاحب او قاضي صاحب په مينځ کې اختلافات پيدا کولو او ډاکټر صاحب ته به يې زما په سر هم لمسون کولو چې باچا خان دا ځل تا نه وزيراعلی کوي او قاضي صاحب وزير اعلی کوي. د دوی دا ټولې خبرې دروغ وې، مونږ ډاکټر صاحب وزير اعلی کوو،مونږ صرف دومره ويل چې ډاکټر صاحب دې (لا اينډ اړډر) نه اخلي،دا دې قاضي صاحب له ورکړي،ځکه چې ډاکټر صاحب له سرکاري افسران دوکه ورکولی شي او قاضي صاحب له يې نه شي ورکولی، خو ډاکټر صاحب ووې چې که

جعفرشاه او ارباب عبدالرحمان نه ودروئ نو زه هم نه ودرېږم، مونږ د ډاکټر صاحب نه مجبور وو، خو چې څه وخت پاکستان جوړ شو او د قیوم وزارت راغی نو د ټولو نه اول د ګلی ګرې ارباب عبدالرحمان را اولګېدو قیوم یې خپل ځای کې مېلمه کړو، جعفر شاه یې هم راوغوښت او دوی مسلم لیګ کې شامل شول اوورته یې وویل چې مونږ به کوشش کوو چې نور خدایي خدمتګار هم په مسلم لیګ کې شامل کړو.

د هندوستان د نورو مسلمانانو په شان پښتانه جذباتیان نه وو مونږ په دوی کې ډېر کار کړی و. په دوی کې سیاسي شعور راغلی و، کور په کور، کلي په کلي، ورپسې ګرځېدلي وو، دوی مو پوهه کړي وو او په دوی کې پوهه او بیداري راغلي وو د اسلام نه واقف شوي وو دوی د اسلام په نوم چا دوکه کولی نه شو، دلته خدایي خدمتګارو ډېر کار کړی و، هندوستان کې مسلمان غریب د اسلام نه چا خبر کړی و؟په اسلام چا پوهه کړی و؟ سیاسي شعور او پوهه په کې چېرته وه، د هغوی د پوهې څوک وو؟ او دا څیزونه خو په یو قوم کې پخپله نه پیدا کېږي او دا خو چې په کې څوک په قام او ملک او اسلام مئین خلک پیدا شي نو په کې کار وکړي.هندوستان کې داسې خلک تر اوسه مسلمانانو کې نه دي پیدا شوي.نو ځکه د اسلام په نوم دوکه کېږي او خودغرضه خلک د اسلام په نوم ترې فایدې اخلي، بلکه دا چې د هندوستان د مسلمانانو لیډر به هغه سړی و، چې د پیرنګیانو خاص الخاص و، یا به سر و، یا نواب، یا خان بهادر. خدایي خدمتګارو شپه او ورځ په دې یوه میاشت کې چې کار وکړو نو سره د دې چې پیرنګیانو

او مسلم لیگ ډېره موده ډغرې وهلې وې، مسلم لیگ په دې الیکشن کې شکست وخوړ او خدایي خدمتګار په یو لوی اکثریت سره کامیاب شول، پنځوس کې یو دېرش خدایي خدمتګار وو، دوه سېټونه جمعیة العلماء هند وګټل، باقي اوولس سېټونه مسلم لیګ وګټل.

په صوبه سرحد کې شپږ ضلعې دي په پنځو ضلعو کې کوهاټ، بنو، ډېره اسماعیل خان، مردان، پېښور کې مونږ کامیاب شو او په هزاره کې هم ټول پښتانه دي خو ژبه یې پرېښې ده هلته چې په کومو علاقو کې پښتو وه، نو هلته پښتانه کامیاب شو او چا چې ژبه هېره کړې وه او هندکو یې وې هلته مسلم لیګ کامیاب شو. حکومت او د حکومت پرزو چې زمونږ برخلاف څومره کار کړی و، دومره مسلم لیګ نه و کړی. د حکومت دا کار مونږ ته ډېر مکروه او د ائین خلاف ښکارېده، نو مونږ کښېناستو او دا فیصله مو وکړه چې وزارت نه اخلو او د وزارت د جوړولو نه مو انکار وکړو او ومو ویل مونږ تر هغه وخته پورې د وزارت اخیستو ته تیار نه یو چې تر کومه پورې حکومت مونږ له دا اجازه رانه کړي چې الیکشن کې کومو ملازمانو زمونږ خلاف حصه اخیستې ده او د قواعدو او ضوابطو خلاف ورزي یې کړې ده چې د هغوی برخلاف مقدمې جوړې کړو او مجرمانو له مناسب سزا ورکړو. زمونږ د دې فیصلې سره د ډاکټر خانصاحب اتفاق نه و، سعد الله، سردار پټېل د دې فیصلې نه خبر کړو سردار پټېل چې خبر شو نو هغه مولانا ابو الکلام ازاد د دې مسئلې د حل کولو دپاره سرحد ته راولېږه او پېښور کې زمونږ

اجلاس وشو.

ما مولانا صاحب ته صفا او پاکه خبره وکړه چې کومو سرکاري ملازمانو زمونږ برخلاف قدم وچت کړی دی، که مونږ ته دا اختیار نه وي چې مونږ هغوی له سزا ورکړی شو نومونږ داسې وزارت نه اخلو، مولانا صاحب واپس ډیلي ته لاړو او هلته یې د وایسرای نه یو خط واخیستو او بیا راغی، په دې خط کې وایسرای په څه ګول مول طریقه زمونږ شرط منلی و، نو مونږ وزارت خو واخیستو خو په دې شرط چې د وزارت اختیارات به یوې مرکزي کمېټۍ سره وي.زما دا رایه وه چې د هرې ضلعې د خدایي خدمتګارو نه دې دوه دوه کسان واخیستی شي،او د هغوی نه دې دغه کمېټي جوړه شي،خو شرط به داوي چې دغه کسان به د حکومت ملازمانو سره لیدل کتل نه کوي او نه به د وزارت سره تګ راتګ کوي نه به د چا سفارشونه کوي، بلکې دوی به د وزارت دپاره د کارکولو پروګرام جوړوي او وزارت به د دوی د منظور شوي پروګرام نه خلاف کار نه کوي د دې کار دپاره ما د ټولې صوبې دوره وکړه او دغسې کسان مې هم پیدا کړل کمېټي مې ترې جوړه کړه خو افسوس دی چې هغوی دغه کار ونه کړو. ولې چې هغوی خپل غرضونه نه پرېښوول نو دغه سکیم کامیاب نه شو، حقیقت دا دی چې مونږ کې لا داسې خلک پیدا شوي نه دي او هغه چې مونږ ویل چې کومو سرکاري افسرانو د قانون، اخلاقو او سرېټوب خلاف په الیکشن کې د خدایي خدمتګارو خلاف کار کړی دی، هغوی له به سزا ورکوو،هغه کار هم ونه شو.

## د ائین ساز اسمبلۍ ممبران:

اوس د دستور ساز(قانون ساز) اسمبلۍ دپاره د انتخاب مسئله رامخکې شوه،د هغې په باره کې دا فېصله وشوه چې د هرې صوبې څومره ممبران په حصه کې رسي نو هغه به د صوبايي اسمبلو ممبرانو په ووټ جوړېږي. زمونږ درې ممبران رسېدل يو زه شوم، يو مو مولانا ابولکلام ازاد مقرر کړو،مسلم ليګ د هندوستان د مسلمانانو ذهنونه دومره بدل کړي وو، چې دده په شان باعمله عالم مسلمان او د قربانۍ مړنی سیاستدان په ټول هندوستان کې په مسلمانانو کې نه و،خو ده له چا ځای ورنکړو نو مونږ د خپلې صوبې نه منتخب کړو، يو د مسلم ليګ رسېدو نو هغه د هزارې د ضلعې نه سردار بهادر منتخب شو،دا مرکزي اسمبلي هم وه او ائين سازه اسمبلي هم وه، مسلم ليګ د دې بايکاټ وکړو ما دې د مسلم ليګ مسلمانانو ممبرانو ته ډېر منت وکړو چې راځئ چې په دې کې شريک شو مونږ به هندوانو ته ووايو چې تاسو که ((سوشلسټ جمهوريت)) جوړوئ نو مونږ درسره په کې شريکېږو، په دې کې د مسلمانانو ډېره فايده ده، ولې چې مسلمانان په هندوستان کې غريبانان دي او هندوان اميران دي، په دې ائين کې دا خبره شته چې څه وخت دا ائين جاري شو او مرکزي حکومت جوړ شو نو هره صوبه چې په اکثريت سره فيصله وکړي چې زه د دې حکومت نه جدا کېږم،نو جدا کېدی شي. که چېرې مونږ پوهـ شو چې زمونږ دا خبره نه مني نو بيا زمونږ په صوبه سرحد کې اکثريت دی او ستاسو په پنجاب،بنګال او سندهـ کې اکثريت دی. زمونږ ټولې خپلې

خپلې اسمبلۍ به قرارداد پاس کړي چې مونږ مرکز سره نه اوسېږو. بیا به مونږ ټول په شریکه یو حکومت جوړ کړو. که چېرې مسلم لیګ زما دا خبره منلې وی نو نه به پنجاب تقسیم شوی وی نه بنګال، خو د مسلم لیګ مسلمانان داسې لېوني وو چې څوک به مسلم لیګ کې نه وو .هغه به یې د سره مسلمان نه ګڼلو.

## کرپس مشن:

چې دویم جنګ عظیم شروع شو .نو د امریکې سیاسي مشرانو وویل چې تر څو د هندوستان سیاسي مسئله حل شوې نه وي،نو هندوستان جنګ کې زمونږ تائید کولی نه شي. نو هغوی د برتانیې په حکومت دباو اچول شروع کړل. چې هندوستان ته ازادي ورکړي. پرزیډنټ روزویلټ دا خبره بیا بیا مسټر چرچل ته ورانديې کړه، نو انګرېزانو هم محسوسه کړه چې د امریکیانو په دې مطالبه غور وکړي. انګرېزانو د دې دپاره کرپس مشن هندوستان ته ولېږلو .خو دا مشن ناکام شو .د جنګ حالت ورځ تر ورځ خرابېدو نو امریکیانو بیا پیرنګیانو له مخ راواړولو. نو لارډویول لندن ته لاړ او د وزیر هند سره یې مشوره وکړه چې د هندوستان د سیاسي مسئلې د حل دپاره یو ګول مېز کنفرانس راوبلي. په دې ګول مېز کنفرانس کې مسټر جناح ویل چې د مسلمانانو نمایندګان به صرف مسلم لیګ مقرروي او د هندوانو نمایندګان به کانګرس. مولانا ازاد چې د کانګرس صدر و د دې سره اتفاق نه کوو .هغه به ویل چې کانګرس به د هندوستاني قومیت په

حیثیت کنفرانس کې شاملېږي. په دې اختلاف دا کنفرانس هم فېل شو. دا ډېره د تعجب خبره ده چې پیرنګي په دې خبره ټینګ ولاړ و. چې کانګرس دې مسلم لیګ د ټول هندوستان د ټولو مسلمانانو واحد نماینده جماعت تسلیم کړي. ولې حقیقت داو چې کله په ۱۹۳۷ع کې هم دې پیرنګي په هندوستان کې انتخابات وکړل. نو هغې کې د یوولسو صوبو نه په اتو کې قطعي اکثریت کانګرس حاصل کړو. باقي د مسلمانانو درې اکثریتي صوبې وې. چې هغه مقامي پارټو سره وې او مسلم لیګ سره یوه صوبه هم نه وه. سندهـ کې د الهي بخش سومرو حکومت و چې هغه یو قوم پرست سړی و او د کانګرس د ممبرانو حمایت هغه ته حاصل و. پنجاب کې د یونینسټو حکومت و چې هغې وزارت کې د مسلمانانو سره هندوان او سکهان هم شامل وو. هم دا شان بنګال کې حکومت د مولوي فضل الحق و چې هغه هم د غیر مسلمو په مرسته خپل حکومت چلولو. مګر د دې هر څه باوجود پیرنګي سترګې پټې کړې وې او په دې نښتي وو چې کانګرس دې مسلم لیګ د مسلمانانو واحد نماینده جماعت ومني او تر دې حده پورې لاړ چې پوره شمله کنفرانس یې هم په دې یوه مسئله باندې ناکامیابه او ختم کړو. د دلچسپۍ خبره دا ده چې که دا موجوده پاکستان مونږ واخلو او د ۱۹۳۷ع د انتخاباتو نتیجې وړاندې کېږدو. نو د پیرنګي او د مسلم لیګ حقیقت به معلوم شي. په دغه انتخاباتو کې د سندهـ او سرحد نه یو ممبر هم د مسلم لیګ نه و منتخب شوی او د پنجاب د ټولې صوبې په مسلمانانو کې صرف یو ممبر د مسلم لیګ و. یعنې

د دې درې وارو صوبو د مسلمانانو د يو سلو پنځه پنځوس ممبرانو کې د مسلم ليګ صرف يو ممبر و او دغه يې دعوه وه.

## شيمله کنفرانس:

برتانوي حکومت په دغه وخت کې مجبور و چې هندوستان ته خپل حق ورکړي د دې دپاره يې د خپلې کابينې يو څو ذمه وار کسان هندوستان ته را ولېږل چې هغوی هم د دغه کال د مارچ په ۲۳ نېټه را ورسېدل.

دې مشن د ال انډيا کانګرس او مسلم ليګ جماعتونو سره خبرې اترې شروع کړې، د دې مقصد دپاره يې څلور څلور تنه نمانيدګان د هر جماعت نه وغوښتل، دا خبرې اترې په ۲ مۍ ۱۹۴۲ په شمله کې شروع شوې د کانګرس له خوا نه دا کسان مقرر شول:

۱- مولانا ابوالکلام ازاد د کانګرس صدر و.

۲- جواهر لال نهرو.

۳- سردار پټېل

۴- زه (عبدالغفار خان).

د مسلم ليګ له خوا نه دا کسان راغلل:

۱- محمد علي جناح چې د مسلم ليګ صدر و.

۲- لياقت علي خان.

۳- راجه محمد اباد.

۴- عبدالرب نشتر.

د برتانيې د ليبر حکومت نه دا وزيران راغلي وو:

۱- لارډ پيتک لارنس وزير هند.

۲- سرستیفرډ کرپس.

۳- مستر الګزاندر.

۴- لارډ ویول د هند وایسرای.

د پورته ذکر شوو نمایندګانو تر منځ خبرې شروع شوې. په اول ملاقات کې چې څه خبرې وشوې د هغې نه پس مونږ د کانګرس څلور وارو ملکرې مهاتماګاندهي ته لاړو هغه مونږ ته وویل انګریزان ډېر چالاک او هوښیار دي تاسو به په خبرو اخته کړي او په هغه او دغه به مو تېرباسي. تاسو د هر څه نه مخکې د دوی نه پوښتنه وکړئ، چې ایا دوی هندوستان پرېږدي او که نه؟ بله دا ورته ووایئ چې تاسو دا انګرېزي فوځ د دې ملک نه وباسئ او که نه؟ په سبا چې مونږ جرګې ته لاړو نو جواهر لال نهرو دوی ته دا خبرې وکړې چې تاسو هندوستان پرېږدئ او که نه؟ او تاسو دا انګرېزي فوځونه د دې خاورې نه وباسی او که نه؟.

لارډ ویول ورته په ځواب کې ووې چاته یې پرېږدو؟ تاسو (کانګرس او مسلم لیګ) جوړه نه کوئ نو مونږ به دا ملک چا ته پرېږدو؟ جواهر لال نهرو ورته وویل: که مونږ ته یې نه پرېږدئ نو دوی (مسلم لیګ) ته یې پرېږدئ خو تاسو ووځئ.

د دې خبرې په جناح صاحب ښه اثر وشو او هغه وویل چې مونږ جوړه کوو. د دې نه پس مونږ ټول راووتو او جناح صاحب او جواهر لال نهرو یوې بلې کوټې ته ننوتل او لږ ساعت پس راووتل او بیا ټول د جرګې په ځای سره کښیناستو، او فیصله داسې وشوه: یو وفد دې مقرر شي چې یو تن د کانګرس او یو

تـن د مـسلم لیـګ نماینـده پـه کـې وي او درېم سرپنج بـه یـې داسـې څـوک وي چـې د دواړو جمـاعتونو پـه اتفـاق انتخـاب شـي کـومې خبـرې چـې د کـانګرس او مـسلم لیـګ لـه خـوا فېصله شـي هغـه بـه ومنلـی شي او کـومې چې پـه هغـې کـې اخـتلاف او لانجـه وي هغـه به دغه وفد فېصله کوي.

لارډ پیتـک لارنـس مونږنماینـدګانو تـه وویـل چـې تاسـو بـه پـه درېـو ورځـو کـې دننـه دغـه درې کـسیز وفـد انتخـابوئ او مـونږ تـه بـه یـې نومونـه رالېـږئ، مـونږ لاړو او ګانـدهي جـي تـه مـو دا خبـره وکړلـه مـونږ چـې درې ورځـې پـس اجـلاس تـه راتلـو نـو ګانـدهي جـي مـونږ تـه وویـل چـې «مـسلم لیـګ څـه غـواړي» هغـه ورته ورکړئ خو چې خبره ورانه نه شي!

چـې مـونږ راغلـو او کـښېناستو نـو لارډ پیتـک لارنـس د جنـاح صـاحب نـه پوښـتنه وکـړه چـې هغـه کیـسه مـو څنګـه کـړه؟ جنـاح صـاحب ورتـه وویـل د څـه کیـسه؟ مـا چـې د جنـاح صـاحب دا لفظونـه واورېدل نـو عبـد الرب نـشتر صـاحب تـه مـې اشـاره وکـړه چـې دلتـه راشـه! هغـه ماتـه راغـی نـو مـا ورتـه وویـل ای هلکـه ورانـوئ یـې مـه! مـونږ چـې نـن اجـلاس تـه راتلـو نـو ګانـدهي جـې مـونږ تـه وویـل چـې مـسلم لیـګ چـې څـه غـواړي هغـه ورتـه ورکـوئ نـو تاسـو چـې څـه غـواړئ هغـه یـې درکـوي د دې خبـرې ضـمانت زه درکـوم. نـشتر صـاحب لاړ او د جنـاح صـاحب شـاته ودرېدو، ډېـره وختـه پـورې ولاړ و خـو هغـه ورتـه هـېڅ توجـه ونـه کـړه نـو بیـا لاړ پخپـل ځـای کـښېناست او خبـره ورانـه شـوه پیتـک لارنـس ورتـه وویـل چـې: ای جنـاح تـا خـو وعـده کـړې وه؟ مګـر هغـه هـېڅ ونـه ویل او جرګه ناکامه او خوره شوه.

## کېبنټ مشن:

څه وخت چې د شملې کنفرانس ناکام شو او له هغه نه وروسته د انګلستان په باره کې مو چې څه اول ویلي وو هغه به سرته رسوو او عمل به پرې کوو.

د وروسته واقعاتو نه دا خبره ثابته شوه چې د هغوی خبرې د زړه د اخلاصه وې، البته د کرپس مشن د ناکامۍ نه وروسته د چرچل حکومت دا فېصله کړې وه چې د جنګ تر ختمېدو پورې دې د هندوستان مسئله تاخ کې کېښودلی شي.

کله چې مونږ پوهه شو چې پیرنګیان هندوستان ته ازادي ورکولو باندې مجبور شول نو ماګاندهي جي ته وویل چې دا ځل حکومت راشي نو تا ته پخپله اخیستل په کار دي، ځکه چې تا خو ولیدل چې دا معمولي بې اختیاره حکومت راغلی و نو وزیرانو به د چا نه منل، اوس خو پوره اختیارات را روان دي،نو په کار دي چې دا حکومت ته پخپل لاس کې واخلې، که چیرې ته یې وانه خلې،نو دا درته وایم چې که دا خپل زوی دیویداس پرې هم کښېنوې،نو دا حکومت داسې یو څیز دی چې د انسان دماغ بدل کړي. نو دی به هم بیا ستا خبره نه مني،نبه به داوي چې ته لکه د لینن په شان حکومت پخپله واخلې، که ګاندهي جي حکومت اخیستی وی مکمل کړی یې وی که بیا یې خوښ نه و نو د ماو(د چین یو مشر) په شان به یې پرېښی وی.

خو نه پوهېږم چې هغه زما د دې خبرې سره په څه وجه اتفاق ونه کړو که چیرې ده حکومت اخیستی وی نو د هندوستان به دومره تباهي او بربادي شوې نه وه، د لېبر

حکومت د اختیار حاصلولو نه پس د پر زر یو پارلیماني هیئت هندوستان ته راولېږه.

د فروري په ۷-۱۹۴۲ ع لارډ پیتک لارنس وزیر هند په پارلیمنټ کې دا اعلان وکړو چې برتانوي حکومت هندوستان ته یو کیبنټ مشن لیږي چې د هندوستان د نمایندګانو سره د ملک د ازادۍ په باره کې خبرې وکړي.

دغه وفد ۱۹۴۵-۴۶ په ژمي کې هندوستان ته راغی او معلومه شوه چې دا مشن به په لارډ پیتک لارنس وزیر هند، د تجارتي بورډ پریزیډنټ سر سټیفرډ کرپس او د بحري محکمې اول لارډ اې،وي الکزانډر باندې مشتمل وي،د کیبنټ مشن د پلان مطابق به صرف درې محکمې د مرکزي حکومت تر اختیار لاندې وي،دا درې محکمې د دفاع،امور خارجه او مواصلاتي محکمې وې،مګر دې مشن پخپل پلان کې یو نوی تجویز وړاندې کړ، چې هندوستان یې په درې حصو تقسیم کړی و، (C,B,A) ددې دپاره چې د مشن د ممبرانو دا خیال و چې د اقلیتونو په زړونو کې به اطمینان پیدا شي په B برخه کې پنجاب، سندھ، صوبه سرحد او برتانوي بلوچستان چې دا د مسلم اکثریت علاقې وې، په E برخه کې بنګال او اسام شامل وو، په C برخو کې د مسلمانانو اکثریت یقیني و او هغو ته دا حق ورکړ شوی و، چې خپل ټول اختیارات تر لاسه کړي، تر کوم ځایه پورې چې د مرکز سوال و د هغه سره صرف هماغه درې محکمې وې.

په دې پلان کې دا هم وه چې په یو زون کې کومه صوبه اوسېدل نه غواړي او په اکثریت سره فېصله وکړي نو د هغې

زون نـه وتلـی شـي. د کیبنـټ مـشن پـلان کـانګرس او مـسلم لیـګ دواړو ومانـه.پـه اول سـر کـې جناح صـاحب د دې سـکیم مخـالف و خو څه وخت چې مـشن پـه صـفا الفـاظو کې وویـل چې نـه مـونږ د ملـک تقـسیم منـو او نـه د ازاد ریاسـت سـفارش کـوو نـو بیـا جنـاح صـاحب مـشن سـکیم ومانـه او پـه کـې شریک شـو، پـه اخـري ورځ جناح صـاحب دا خبـره تـسلي کړه،چې د اقلیتونـو د مـسئلې د حـل دپـاره چې دکیبنـټ مـشن پـلان کـوم حـل پـیش کـړی دی،ددې نـه زیـات کومـه بلـه منـصفانه فیـصله نـه شي کېدلی،پـه هـر حـال هغـه ددې نــه زیــات مــشن بانــدې نــور شــرطونه نــه شــو منلی،هغــه کونـسل تـه وویـل چې کیبنـټ مـشن چې کـوم سـکیم وړانـدې کـړی دی هغـه د زیـات نـه زیـات دی، پـه دې وجـه هغـه مـسلم لیـګ تـه مـشوره ورکـړه چـې دا سـکیم ومنـئ او کونـسل پـه اتفـاق سـره د دې په حق کې رایه ورکړه.

د کــانګرس او مــسلم لیــګ لــه طرفــه د دې پــلان منــل د هندوسـتان د تـاریخ یـوه روښـانه واقعـه وه لـه دې نـه دا ثابتېـده چـې د هندوسـتان د ازادۍ سـخته معاملـه د خبـرو او مفاهمـت لـه لارې فیصله شوه نه د تشدد او جنګ له لارې.

## د کانګرس صدارت:

تـر دغــه وختــه مولانــا ابــو الکلام ازاد د ۱۹۳۹ع کـال نـه مسلسل صـدر راغلـی و ځکـه چې د دویـم عـالمي جنـګ او ملـک کـې د هغـې پـه نتیجـه کـې د جدوجهـد پـه وجـه د نـوي صـدر انتخـاب نـه شـو کېـدی. هـر کلـه چـې جنـګ ختـم شـو نـو د کـانګرس د نـوي صـدر د انتخـاب سـوال پیـدا شـو پـه دغـه وخـت کـې عـام

خیال دا و چې مولانا ابوالکلام ازاد دې صدر پاتې شي ځکه چې د ده په صدارت کې د برتانیې لیبر حکومت او د هندوستان د مشرانو خبرې اترې شوې وې او هم د ده د صدارت په وخت کې د شملې کنفرانس وشو، رایه داوه چې ښه به دا وي د نوموړي په صدارت کې د هندوستان د ازادۍ کار ترسره شي ولې د صدارت په مسئله د کانګرس په مشرانو کې اختلاف و د سردارپټیل او د هغه د طرفدارو دا خواهش و چې دی(پټېل) دې صدر شي.

مولانا ابوالکلام ازاد ته دا ټولې خبرې معلومې وې هغه د دې په رڼا کې د صدارت نه د استعفا ورکول او اینده صدارت نه کولو فیصله وکړه خو د هغه دا خیال و، چې د هغه نه پس دې یو داسې سړی صدر شي، چې په هغو نازکو او اهمو حالاتو کې د مولانا صاحب د نقطه نظر مطابق کار وچلولی شي، د دې دپاره هغه ته جواهر لال نهرو موزون سړی ښکارېدو او هغه خپله رایه د جواهر لال نهرو د صدارت په حق کې په یو اخباري بیان کې څرګنده کړه، ګاندهي جي هم د سردارپټېل په صدارت خوشحاله و، خو د مولاناصاحب د دې بیان نه پس هغه څه ونه ویل او جواهر لال نهرو صدر شو.

## د جواهر لال بیان:

د ((کیبنټ مشن پلان)) د قبلولو نه پس په هندوستان کې ډېره ښه فضا پیدا شوه، خو د دې نه وروسته جواهر لال نهرو په بمبۍ کې په یو پریس کنفرانس کې داسې بیان ورکړو چې دا فضا یې ګډوډه کړه.

د ۱۹۴۲ کال د جنورۍ په لسمه نېټه جواهر لال نهرو نه په بمبۍ کې په دغه پرېس کنفرانس کې دا پوښتنه وشوه، چې ایا ال انډیا کانګرس چې دغه تجویزمنظور کړو، نو د دې دا معنا شوه چې کانګرس دغه پلان په پوره ډول تسلیم کړو؟ نو د دې په ځواب کې ده اوویل (کانګرس چې په دستور ساز اسمبلۍ کې کښېني نو ځان به د دې معاهدو پابند نه ګڼي او هغه وخت چې څنګه حالات پیدا کېږي، د هغو مطابق به په ازادۍ سره فیصلې کوي.) د دې وضاحت نه پس د پریس نماېندګانو تپوس وکړو چې ایا د دې مطلب دا شو چې کیبنټ مشن پلان کې ترمیم کېدی شي. جواهر لال نهرو د دې جواب کې وویل چې کانګرس صرف په دستور ساز اسمبلۍ کې د شاملېدو وعده کړې ده. او هغه ځان په کیبنټ مشن پلان کې د بدلون او کمي زیاتی کولو مجاز ګڼي.

د مولانا ابوالکلام ازاد دا رایه وه چې دا ډېر غلط کار وشو هغه پخپل کتاب کې وایي: زه په وضاحت سره د دې لیکلو ضرورت محسوسوم چې د جواهر لال نهرو بیان غلط و دا وینا صحیح نه وه چې کانګرس د خپلې مرضۍ مطابق په پلان کې څنګه چې وغواړي ترمیم کولی شي اصل خبره داوه چې مونږ دا منلي وو، چې مرکز کې به وفاقي حکومت وي او د مرکز سره به صرف درې محکمې وي نورې ټولې محکمې به د صوبو سره وي او د هغو په اختیار کې به وي مونږ دا هم منلي وو چې صوبې به په درې ګروپونو C,B,A کې وېشلی کېږي په دې شرطونو کې کانګرس د خپله طرفه د معاهدې د نورو جماعتونو (فریقینو) د رضا نه بغیر د هېڅ تبدیلي کولو حق نه لري.

## د جواهر لال په بیان عکس العمل:

په مستر جناح د جواهر لال نهرو دغه بیان ډېر خراب تاثیر وکړو، دغه بیان داسې و چې په هر چا یې ښه اثر نه شو کولی، جناح صاحب دا موقف اختیار کړو چې د جواهر لال نهرو بیان د کانګرس د ذهن ترجماني کوي. د ده دلیل دا و چې که کانګرس دومره زر خپله رایه بدلوي او حال دا دی چې انګرېز لا دلته موجود دی او د ده (کانګرس) لاسو ته اختیار نه دی راغلی نو اقلیتونه په کوم اعتماد یقین کولی شي چې د انګرېزانو د وتلو نه پس به کانګرس بدل نه شي او د کانګرس نظریه به دغه شان نه شي دا کوم څه چې د جواهر لال په بیان کې ښکاره شوي دي،د دې سره سمدستي مستر جناح یو اخباري بیان جاري کړو په هغه وخت کې یې وویل: ((د کانګرس د صدر ددې بیان سره هر څه بدل شول او اوس په هر څه د نوي سر نه دغور کولو ضرورت پیدا شو.))

جناح صاحب لیاقت علي خان ته وویل چې د مسلم لیګ د کونسل اجلاس راوبله بل خوا له یې بیان ورکړو، چې د مسلم لیګ کونسل په ډیلي کې د کېبنټ مشن پلان ځکه منلی و، چې مونږ ته یقین راکړی شوی و، چې کانګرس دا سیکم منلی دی او د هندوستان دپاره چې به کوم دستور جوړېږي دا سکیم به د هغې بنیاد وي هر کله چې اوس د کانګرس صدر اعلان کړی دی چې کانګرس په دستور سازه اسمبلۍ کې د خپل اکثریت په زور په دغه پلان کې بدلون راوستی شي د دې دا معنا شوه چې اقلیتونه به د اکثریت رحم وکرم ته پاتې وي. جناح صاحب په دغه بیان کې وویل چې د جواهر لال د دې بیان

مطلب دا دی چې کانګرس د کیبنټ مشن پلان مسترد کړی دی، نو ځکه وایسرای ته په کار دي چې مسلم لیګ دغه پلان منلی دی؛ نو ده ته دې د وزارت جوړولو دعوت ورکړي.

## انټرم حکومت:

دغه شان په ستمبر ۱۹۴۶ کې عبوري حکومت جوړ شو، جناح صاحب خو اول د دې نه انکار وکړ خو بیا وروسته د لارډ ویول سره د خبرو اترو نه پس یې په ۱۵ اکتوبر ۱۹۴۶ کې عبوري حکومت ومانه او په هغې کې شریک شو، لارډ ویول غوښتل چې زر تر زره انټرم حکومت جوړ شي.

په دې وخت کې زه نا جوړه وم نو ګاندهي جي وویل چې تر څو چې دی راغلی نه وي او د ده رایه مو معلومه کړې نه وي مونږ عبوري حکومت نه جوړوو، لارډ ویول زمونږ د صوبې چیف منسټر ډاکټر خان صاحب ته ټیلفون وکړ چې زه خپل هوایي جهاز درلیږم، باچا خان په دې کې ډیلي ته راولیږه، زه ناجوړه وم، ماورته وویل زه په هوایي جهاز کې نه ځم او بیا په ریل ګاډي کې ډیلي ته لاړم.

هلته په کانګرس کې په دوو مسئلو بحث و، یوه دا وه چې جواهر لال نهرو ویل چې زه سردار عبدالرب نشتر په کابینه کې نه اخلم ځکه چې دی په انتخاباتو کې په خپله صوبه کې ناکام شوی دی .او دی د قوم نماینده نه دی، د جواهر لال دا اعتراض معقول و، چې کوم یو سړی په خپله کورنۍ حلقه کې د صوبې انتخاب نه شي ګټلی نو هغه د ټول هندوستان په مرکزي حکومت کې د کومې جمهوري نمایندګۍ حق لرلی شي.

کانګرس دا خبره هم وایسرای ته کړې وه چې په داسې حالاتو کې که باچا خان وغواړي نو دا سردار عبدالرب نشتر عبوري حکومت کې اخیستی شي، ګني نو نه،بلـه دا خبره وه چې کانګرس وې چې د مسلمانانو کوم حق چې و ،هغه مسلم لیګ ته ورکړی شو،او کانګرس د هندوانو حق دی او د هغوی دا رایه وه چې مونږ دکانګرس د برخې نه مسلمان ته حصه نه ورکوو.ما ورته وویل چې زمونږ په عبدالرب نشتر هیڅ اعتراض نشه،زماخیال و چې دی خو یو پښتون دی که دی را نه شي نو بل پښتون ته خو دا موقع نشته،ماوې اخر پښتون خو دی، دی به داسې لوبه ونه کړې لکه چې یې وکړه. دده په باره کې جواهر لال نهرو ماته دا ګیله وکړه چې دا سړی مونږ ستا په خوله مقرر کړی دی،خو داښه سړی نه دی،ما دا هم وې چې مسلمانانو په کانګرس کې ډېرې قربانۍ ورکړې دي او دا به ښه وي چې دوی ته د کانګرس له خوا یوه برخه ورکړی شي.د دې به په مسلمانانو ښه اثر وي. زما دواړه خبرې کانګرس ومنلې، لارډویول وویل چې مسلم لیګ ته داخله وزارت ورکړئ. خو سردارپټېل په دې ټینګ و، چې دا بل چا ته نه ورکوم، نو بیا جناح صاحب وویل چې ماله یو بل داسې د ذمه وارۍ وزارت راکړئ. نو کانګرس ورلـه فینانس منسټري ورکړه. سردارپټېل دا تجویز غنیمت وګڼه او د هغه یې ډېر زیات تائید وکه. نو کانګرس لارډویول ته وویل چې لیګ لـه فینانس منسټري ورکړه لارډویول جناح صاحب ته وویل چې وزارت مالیه واخله، هغه ورته وویل چې دوه ورځې پس به جواب درکوم.غلام محمد چې (وروستو بیا د پاکستان ګورنر

جنرل شو) محمد علي چودري او نورو مسلمانانو چې دې محکمې کې کار کولو مسلم لیګ ته راغلل ډېره خوشحالي یې وکړه او ورته یې وویل چې دا ډېره اهمه محکمه وه په دې تاسو ته مبارکباد درکوو. او لیاقت علي خان ته یې ووې چې ته هېڅ فکر مه کوه مونږ به په دې کې تاسره ډېر امداد وکړو، په دې خبره جناح صاحب وزارت اخیستلو ته تیار شو او لیاقت علي خان د مالیې وزیر شو.

اخر کانګرس عبوري حکومت جوړ کړو او چې څه وخت دا حکومت جوړ شو نو پیرنګیانو د کانګرس د حکومت د بدنامولو دپاره په وزیرستان بمباري وکړه، چې زه خبر شوم نو زه لاړم او جواهر لال مې د دې کیسې نه خبر که، چې ته وزیر اعظم یې او دا ستا د وزارت د قلمدان کار دی او ته ترې خبر نه یې اونه ترې چا خبر کړی یې. د دې نه قبایلو ته ستاسو د حکومت متعلق ډېرې غلط فهمۍ پیدا کېږي، بلکه دا چې په سرحدي قبایلو د حکومت په کروړونو روپۍ لګي او هغه روپۍ پولټیکل او د قبایلو ملکان اخلي او اخو ادبخوا خرڅ شي او قبایلو له څوک هېڅ نه ورکوي او باوجود د دومره خرڅ هغه خلکو ته هېڅ فایده نه ده رسېدلې او اوس چې دغه اختیارات ستا په لاس کې راغلل تا له په کار دي او ستا فرض دي چې د دغې علاقې خلک پخپله ووینې او هغو خلکو سره یو ځای شې، دغه خلک ډېر ښه خلک دي او ډېر عاجزان او مظلومان دي او د هغوی اکثر ملک غرونه دی او که دغو خلکو سره لږ احسان وشي او د هغوی د قوت لایموت دپاره څه ذریعه پیدا شي نو دا ګړ بړ چې کله کله پیدا کېږي دا به هم

ختم شي. ما جواهر لال په دې خبره رضا کړو او هغه ما سره وعده وکړه چې هغه به ضرور د دغې علاقې دوره کوي او دغه علاقه او خلک به ګوري، او دا يې هم ووې چې څومره زمانه کېدې شو نو زه به يې د دغو خلکو دپاره کوم.

خو چې څه وخت جواهر لال سرحد ته د تلو اراده وکړه، نو چې د صوبه سرحد ګورنر ولف کيرو خبر شو نو هغه ډيلي ته لاړ اول يې جواهر لال په خپله وليدو ورته يې وويلې چې سرحد ته مه راځه، او چې هغه ونه منله نو بيا يې وايسراى خبر کړ چې پنډت نهرو بايد صوبه سرحد ته رانه شي، وايسراى نهرو ته وويل چې ته سرحد ته مه ځه، نو هغه ورته وويل چې ضرور قبايلو له ځم او سرحد ته راغى، چې څه وخت کيرو د ډيلي نه واپس پېښور ته راغى نو ټول پولټيکل ايجنټان يې را وغوښتل او هغوى يې د هغه د دورې مخالفت ته تيار کړل. او د پولټيکل ايجنټانو نه علاوه مسلم ليګ يې هم په شا وټپاوه، جواهر لال چې پېښور له هوايي جهاز کې راغى او بيا چې د ډاکټر صاحب چې د صوبه سرحد وزير اعلى و، بنګلې ته تلو نو په چونى کې مسلم ليګ چيغې ووهلې حالانکه په چونى کې سياسي سرګرمى بندې وې چا جلوس ويستى نه شو او نه چا چيغې وهلى شوې، تاسو لږ فکر وکړئ، چې ډاکټر صاحب د صوبې وزير اعلى و او جواهر لال د هندوستان وزير اعظم او په سرکاري دوره راغلى و، دا ټول د کيرو شرارت و، او افسرانو او پوليس او مسلم ليګ چې څه کړي دي نو د ده په ډاډ يې کړي دي. دا ټول مشکلات چې زمونږ په لاره کې حايل و دا ټول ګورنر کيرو پيدا کړي وو.

## قبایلي علاقې او جواهر لال:

مونږ اول دوره دوزیرستان نه شروع کړه او چې په دوره روانېدو نوکیرو په جواهر لال ډېر زور اچولو چې باچاخان ځان سره مه بیایه چې ډاکټر صاحب راسره دی نو د ده څه ضرورت دی؟، خو جواهر لال راضي نه شو، او زه یې هم ځان سره روان کړم. د وزیرستان پولټیکل ایجنټان انګرېزان وو، هغوی زمونږ مقابله په شریفانه توګه وکړه مونږ اول میرانشاه له لاړو د قبایلو جرګه د مخکې نه را غونډه وه او په مخکه ناست وو او د پولټیکل او زمونږ دپاره کرسۍ وې زه جرګې سره په مځکه کښېناستم څنګه چې دوی پولټیکل پوهـ کړي وو، څه وخت چې جواهر لال جرګې ته تقریر شروع کړو نو دا خلک ټول پاڅېدل او دا یې ووې چې مونږ د هندوانو حکومت نه منو، دا زمونږ قبایل ورونه عجیبه خلک دي، جواهر لال خو د دوی د خیر دپاره راغلی و، او تقریر کې یې هم ورته دا خبره وکړه چې زه خو ستاسو د خیر دپاره راغلی یم، د دې ځای نه بیا مونږ رزمک ته لاړو په رزمک کې هم دغه لوبه وشوه، خو دومره زیاته وه چې یو ملک جهانګیر چې ډاکټر صاحب ورله لاس ورکولو نوهغه لاس ورنه کړو، او ویې ویل چې ته د هندوانو ملګری یې، تاله لاس نه درکوم. د رزمک نه چې روانېدو نو زمونږ سره د حفاظت دپاره چې کوم فوځ و، هغه د هندوانو و. دوی جواهر لال ته وویل چې مونږ ته یو تقریر وکړه نو جواهر لال ورته تقریر وکړو او د هغې نه پس هغوی د ګاندهي جي زنده باد او جواهر لال زنده باد او باچاخان زنده باد نارې ووهلې. چونکه په وزیرستان کې زمونږ د دورې انتظام د فوځ

په لاس کې و او هغه هندوان وو، نو دلته هيڅ قسم ګړبړی ونه شو.

مونږ چې بېرته ميرانشا ته راغلو نو دا ټول پولټيکل ايجنټان او ريزيډنټ موجود وو، نو جواهر لال ترې دا تپوس وکړو چې دا په کروړونو روپۍ په قبايلو باندې لګېږي نو تاسو د دې خلکو دپاره څه کړې دي؟ هغوی سره د دې خبرې ځواب نه و ولې چې هغوی د خلکو دپاره څه کړي نه وو. نو ما په کې مداخلت وکړ چې دوی حو د پښتنو دپاره ډېر څه کړي دي. انګرېزان زما په خبره خوشحاله شول خو چې ما ورپسې دا خبره وکړه چې دوی په دې پيسو په پښتنو کې داسې بد عادتونه او د پيسې محبت پيد اکړی دی چې پيسې ورته ونيسي نو بيا هر څه کوي او جايز ناجايز نه ګوري. په دې خبره پيرنګيان خپه شول.

بيا مونږ له ميرانشا نه وانې ته لاړو چې داهم وزيرستان و دلته پولټيکل ايجنټ هندو و، د هغه نوم ديوان شيوسرن لال و، دلته زمونږ ډېر لوی استقبال وشو، زمونږ د مېلمستيا دپاره قبايلو راله ګډان راوستلي وو، د جواهر لال نهرو تقرير دلته خلکو په ډېر ښه شان واورېد او د هغه تائيد يې وکړلو.

## تورخم:

د دغه ځای نه واپس پېښور ته راغلو په سبا له مو د تورخم دوره شروع کړه د خيبر پوليټيکل ايجنټ مسلمان و، صاحبزاده خورشيد يې نوم و، چې جمرود ته ورسېدو، نو سړک نه په لږه فاصله باندې افريدي ناست وو او چې مونږ يې وليدو

نو په لاسونو کې يې چيترې وې هغه يې مونږ ته وخوځولې او مونږ نيغ تورخم ته لاړو دغه د افغانستان او هندوستان سرحد و، اوڅه وخت چې مونږ دغلته چاى څکله، يو زلمى افريدى راغى او پولټيکل ايجنټ ته يې ووې چې دوى خو زمونږ مېلمانه دي،دوى سره داسې سلوک په کار نه دى چې مونږ را روان شو او لنډي کوتل ته را نږدې شو ،نو پولټيکل تحصيلدار په منډه منډه راغى اوورته يې وويل چې دلته خو شينواري راجمع شوي دي،مونږ چې هلته ورسېدو نو هغو خلکو په مونږ کاڼي را وورول، پولټيکل ايجنټ زمونږ نه مخکې و هغه کوز شو ،هغه سره چې کوم سپايان وو هغوى ته يې ووې چې په دوى ډزې وکړئ، نو هغه خلک چې يو څو ډزې پرې وشوې وتښتېدل. زمونږ د موټر شيشې ماتې شوې خو مونږ بچ شو او په کاڼو ونه لګېدو صاحبزاده صاحب يو شريف سړى و ،زمونږ د حفاظت دپاره به زمونږ نه مخکې و، د ډوډۍ انتظام صاحبزاده صاحب زمونږ دپاره کړى و ،مونږ ډوډۍ وخوړه هلته څه خلک هم موجود وو هغوى سره مو خبرې اترې وشوې او واپس پېښور ته راغلو.

## د ملکنډ ايجنسي:

بله ورځ زمونږ دوره د ملکنډ ايجنسۍ وه دغلته هم پولټيکل ايجنټ مسلمان و شيخ محبوب علي يې نوم و، دى د شيخانو د کلي و، ډېر خراب انسان و، د خيبر په دوره کې چې مونږ تلو نو د دورې انتظام د پوليس په ذريعه و، ډاکټر صاحب ته ما ووې چې د ملکنډ د دورې انتظام د فوځ په ذريعه

کول په کار دي لکه څنګه چې په وزیرستان کې شوي و. او که ته د فوځ انتظام نه شې کولی، نو بیا به مونږ د خدايي خدمتګارو په ذریعه د خپل حفاظت انتظام وکړو. ولې چې هلته پولتیکل ایجنټ شیخ محبوب علي دی، مونږ خبر شو چې شیخ محبوب علي راغلی دی او ګورنر کیرو سره یې ملاقات کړی دی. دا سړی د انګرېزانو ډېر وفادار او بې ضمیره ایجنټ و، دی ډېر کمینه سړی و او د ده دلاسه پښتون قوم ډېر تباه شوی و، په افغانستان کې د برتانوي سفیر هیمفري په چا کړی کې د امان الله خان د حکومت تخته د ده په ذریعه اوړېدلې وه او (بچه سقاو) یې د کابل په تخت کښېنولی و، په ډېره اسماعیل خان کې د هندوانو خلاف فساد هم ده کړی و، ولې چې دی دغه وخت کې هلته اسسټنټ کمشنر و، لیکن ډاکټر صاحب یو عجیبه سړی و چې مونږ د هوايي جهاز نه په رسالپور کې کوز شو، نو زمونږ د انتظام دپاره صرف پولیس ولاړ وو، زه ډېر خپه شوم، نو ما ووې چې زه دې دوره کې دوی سره هډو ځم نه، ولې جواهر لال مې یوازې پرېښوی نه شو، مونږ د رسالپور نه په موټرونو کې روان شو، چې مونږ سخاکوټ ته ورسېدو، نو راحت خان دوی زمونږ استقبال ته ولاړ وو نو مونږ ورته کوز شو او هغوی سره کښېناستو چې په دې کې شیخ محبوب علي هم راغی، یو ساعت پس له دوی نه رخصت شو، شیخ زمونږ خلاف انتظام کړی و، لیکن چې ده کوم وخت مقرر کړی و مونږ د هغه وخت نه مخکې ورسېدو، مونږ د ده په بنګله کې ناست وو او چای مو څکلې چې په دې کې مو د خلکو چغې واورېدې د شپې یې

د ډاکټر صاحب ډېرې خوشامندې کولې، زمونږ نه هم چاپېره ګرځېدو ډېر خوشامندګر سړی و،دده د بنګلې سره جوختې دوه کمرې وې معلومېږې داسې چې هغه د مېلمنو د پاره وې.زه او جواهر لال هغې کې ځملاستو او ډاکټر صاحب یې ځان سره پخپله بنګله کې اوده کړو، ده مونږ له د جرګې را غونډېدلو څه انتظام نه و کړی.زمونږ د سخاکوټ راحت خانؒ خدایي خدمتګار راغی،نو مونږ ورته ووې چې ددې علاقې خلک خبر کړه چې سحر له مونږ له راشي چې شیخ خبر شو نو موټر یې ورله مات کړو او هغه خپل خلک خبر نه کړی شول او که څوک خبر شو هغه چا مونږ له را پرې نهښودل سحر وختې راحت خان راغی او مونږ یې خبر کړو چې شیخ محبوب علي ډېر خلک را غونډ کړي دي، تاسو خپل د بچاو انتظام وکړئ، مونږ سره دوه لارۍ وې چې هغه کې پولیس وو او په هره لارۍ کې پولیس سره یو یو پیرنګی و، مونږ خبر شو چې هغوی شپې تېرولو ته د دې ځای نه درګی له تلي دي چې راحت خان زه د دې کیسې نه خبر کړم نو ما ډاکټر صاحب بېل کړو او ورته مې ووې چې دې شیخ داسې کیسه جوړه کړه، شیخ مونږ ته مخامخ ولاړ و،او ما چې ډاکټر صاحب سره خبرې کولې نو شیخ مونږ ته غوږ ایښی و.زمونږ خبرې یې واورېدې نو ډاکټر صاحب له راغی او مونږ ته یې ووې چې زه به داسې حرامي یم؟ او ولې پښتون نه یم؟ او ته خو زما پلار یې،نو زه به د خپل پلار لحاظ هم نه کوم؟ ډاکټر صاحب کې دا کمزوري وه چې هغه به د خوشامندو نه ډېر متاثره کېدو،ما ورته ووې چې تر کومه پورې زمونږ ګارډ راغلی نه دی مونږ نه ځو، زمونږ د

پولیس گارډ او د ده یوه مشوره وه او هغه ځکه د شپې د پاره دلته نه و پاتې شوي او د دغه وخته پورې راغلي نه وو، خو ده ډاکټر صاحب ته ووې چې راځئ ځوا که مونږ شو او که ډاکټر صاحب شو خو روان شو، د شیخ موټر مخکې و او زمونږ موټر وروستو و، چې قلا له را ورسېدو نو د هغې نه یو څو انګرېزان راوتي وو، مونږ ته ولاړ وو، ده موټر ودرولو مونږ هم ودرېدو مونږ د موټر نه کوز شو او د هغه انګرېزانو سره قلا ته ننوتلو، شیخ صاحب لاړ، مونږ یې یوائې پرېښو، څه ساعت پس مونږ د قلا نه راووتلو، مونږ چې لږ مخکې شو نو په سړک یوه لارۍ ولاړه وه، سړک یې بند کړی و، او ډېر خلک د غره دپاسه ولاړ وو، د مرده باد د چغو سره یې په مونږ کاڼي را ورول شروع کړل، ډاکټر صاحب موټر کې مخکې ناست و او زه او جواهر لال وروسته ناست وو، زه خو په یو کاڼي ولګېدم سترګې را باندې توري شوې په جواهر لال ور پرېوتم. دی په ما را پرېوتو، ډاکټر صاحب سره مخکې د شیخ یو سړی ناست و، هغه هم د کاڼو نه سر ټیټ کړی و، د هغه په ملا تماچه وه هغه ډاکټر صاحب ولیدله هغه یې د هغه د قاش نه را وایسته او د موټر نه یې لاس راوښکو او خلکو ته یې ووې چې لرې شئ که نه ګولۍ درغله خلک وروسته شو او لارۍ والا ته یې هم ووې چې لرې شه ګني ګولۍ درغله لارۍ هم لرې شوه دا هر څه د قلا خوا کې وشو او قلا د سړک په خوا کې وه او دا د هندوستان وزیر اعظم و، خو زمونږ مدد له نه هغه پیرنګیان او نه څوک سرکاري خلک راغلل.

مونږ چې د ملکنډ د غاښي نه را کوز شو نو زمونږ هغه

پـولیس ګـارډ او هغـه دوه پیرنګیـان مخـې لـه راغلـل بیـا چـې مونږهلتـه کـوز شـو ټـول کنـډ و کپـر وو، دغـو پیرنګیـانو تـه مـې ووې چـې تاسـو زمـونږ ښـه ګـارډ یـئ وګـورئ، مـونږ پـه څـه حـال یـو؟ زماخیـال و چـې محبـوب علـي بـه مخکـې هـم مـونږ تـه د مظـاهرو دپـاره خلـک کښېنولي وي، نـو تاسـو خـو زمـونږ د حفاظـت دپـاره یـئ چـې څـه وشـو هغـه خـو وشـو خـو اوس دومـره مهربـاني وکـړئ چـې تاسـو دا یـوه لاري زمـونږ د مـوټر نـه مخکـې کـړئ او یـوه وروسـته کـړئ او چـې پـه لاره سـړک سـره نـزدې خلـک ووینـئ نـو لاري ودرولئ او دا د مخکـې لاري خلـک دې لاري نـه کـوز شـي هغـه خلکـو تـه دې ووایـي چـې لـرې شـئ، کـه نـه لـرې کېـدل نـو بیـا دې پـرې لاټـې چـارج وکـړي، کـه پـه لاټـي چـارج لـرې نـه شـو نـو بیـا دې پـرې د وروسـتو لاري خلـک هـوایي ډزې وکـړي، بیـا مـونږ روان شـو چـې درګـۍ تـه را ورسـېدو دغلتـه ډېـر خلـک جمـع وو، شـیخ محبـوب علـي هـم ولاړ و او بیـا پـه مـونږ د کـاڼو بـاران شـروع شـو یـو سـړي خـو پـه جـواهر لال یـوه ګټـه را خلاصـه کـړه خومـا ورتـه لاس مخکـې کـړو، زمـا لاس مـات شـو خـو جـواهر لال مـې بـچ کـړو یـو بـل سـړي و چـې د غولـو کټـوۍ یـې را اخیـستې وه او چـې هغـه یـې پـه مـونږ را خلاصـه کـړه نـو زه او جـواهر لال خـو بـچ شـو خـو د ډاکټـر صـاحب مـخ، سر او ټـول وجـود پـه غولـو ګنـده شـول، دلتـه شـیخ محبـوب علـي پولټیکـل ایجنټ ولاړ و او مـونږ تـه یـې ووې چـې پـه دې پـوخ سـړک مـه ځـئ چـې کـوم ځـاى تاسـو لـه کچـه سـړک مخـې لـه راشـي، هغـه نېـغ چارسـدې تـه وتـى دى پـه هغـې لاړ شـئ مخکـې تاسـو تـه ډېـر خلـک ولاړ دي او سـړک یـې بنـد کـړى دى.
هـسې نـه چـې لـوى فـساد وشـي زه خـو د دې مخـالف وم مـا وې هـم

په دې پوخ سړک څو څو زمونږ هغه ګارډ نه تلو، نو په هغه کچه سړک را روان شو او پېښور ته را ورسېدو.

## سردریاب:

سبا له زمونږ دوره د خدایي خدمتګارو مرکز عالیه سر دریاب ته وه. ما ډاکټر صاحب ته ووې چې ستا پولیس او ستا پوځ هېڅوک مونږ ځان سره نه بیایو، ستا انتظام مو په کار نه دی مونږ خپل انتظام پخپله کوو، مونږ د تلو د پاره داسې انتظام وکړو چې د پېښور نه تر سر دریاب پورې د سړک په دواړو غاړو خدایي خدمتګار په وردی کې قطار قطار ولاړ وو او دواړه غاړې محفوظې شوې، زمونږ نظریه خو د عدم تشدد وه خو چې خلک زمونږ د ملکنډ د واقعې نه خبر شوي وو، نو هغوی د خپلو خدایي خدمتګارو د مدد او حفاظت د پاره سره د وسلې راغلل او د خدایي خدمتګارو شاته په ډېر ګڼ تعداد کې په دې ټوله لاره ولاړ وو، کیرو مانکي صاحب ته ویلی و چې د مترې سړک چې کوم ځای کې د چارسدې پوخ سړک سره یو ځای شوی دی، دغلته دې د ملا ګورو شیخان تیار کړي، چې د دوی په موټرونو حمله وکړي. خو چې هغوی دغلته د خدایي خدمتګارو زور ولیده، نو د حملې جرات یې ونه کړی شو، دغه شیخان د خلیلو سره په پوله د خیبر په ایجنسی کې اوسېږي.

د سردریاب مرکز عالیه ته نزدې ګل بېلې سره هم مسلم لیګیان په ګڼ تعداد کې را جمع شوي وو، خو دوی هم جرات ونه کړی شو، د هشنغر پښتانه سره د لویو لویو ډلو باوسله

زمونږ د امداد دپاره مرکز عاليه له راغلل او ليګيانو چې د دې خلکو زور او طاقت وليدو نو وتښتېدل.

سحر چې مونږ مرکز له د تللو انتظام کولو زه د کمرې نه بهر راووتم نو څه ګورم چې ډېر پيرنګيان په انګڼ کې ناست دي، او فوځ هم په سړک کې ولاړ دی ما هغو پيرنګيانو ته ووې چې تاسو تکليف مه کوئ. مونږ نن خپل انتظام پخپله کړی دی ښه به دا وي چې تاسو لاړ شئ او خپل فوځ هم بوځئ او مونږ پسې را نه شئ.

مونږ مرکز ته روان شو د خدايي خدمتګارو نه علاوه دومره هجوم جمع شوی و، چې درته يې بيان کولی نه شم، مونږ په خيريت سره مرکز ته ورسېدو، مرکز کې ډېر مخلوق راجمع شوی وو، جلسه شروع شوه، نظمونه ووېلی شول، جواهر لال ډېر ښکلی تقرير وکړو او ده ووې چې زه نن ډېر خوشحاله يم چې د پښتنو په مځکه زما د بدن يو څو څاڅکي وينه تويې شوه او زه اميد کوم چې دا د مکر فريب او ظلم نه ډک نظام به ډېر زر بدل شي. د جواهر لال نهرو صاحب د تقرير نه پس ما هم خپلو پښتنو ورونو سره يو څو خبرې وکړې او دا مې ورته ووې چې دنيا کې مشهوره ده چې پښتانه ډېر مهمان نواز دي خو د ګورنر کيرو په لمسون هغه روايات پاتې نه شول دلته دوی خپل مېلمه سره دومره سپک سلوک وکړو چې دنيا به ترې پوزه پټه کړي. دا هر څه کيرو د يو پښتون شيخ محبوب علي په ذريعه وکړل شيخ ټول پښتانه په دنيا کې بد نام کړل. د جواهر لال ګناه داوه چې ده وې چې زه د پښتنو قبايلو د خير دپاره په دوره درځم او کيرو ورته وې چې مه راځه زمونږ پولټيکل نظام

کې دخل مه کوه نو ده ورته ووې چې زه به خامخا درځم. زه د دې ذمه وار يم دا زما مځکه ده او دی صوبه سرحد ته زمونږ د پښتنو د ابادۍ، ترقۍ او د خير د پاره راغلی و، په سبا له پنډت جواهر لال نهرو زمونږ نه ډيلي ته رخصت شو.

مولانا صاحب په خپل کتاب کې دا ليکلي دي: چې په پښتنو کښې مهمان نوازي لوی اخلاقي صفت دی ولې دوی کې دا صفت نه و او دوی بخل کولو، په دې ترېنه پښتانه بېزار وو، دی وايي چې يو ځل د دوی ملګري زما مېلمانه وو چې ما ورته چايو سره بسکټ راوړل نو هغوی ډېر خوشحاله شول او ماته يې وويل چې د دې څه نوم دی؟ دا خو د ډاکټر صاحب بنګله کې مونږ ليدلي وو خو هغه مونږ ته نه وو راکړي.

مولانا صاحب د دې خبرې تحقيق نه دی کړی او دا يې ليکلي دي، زمونږ خو دا تهذيب نه دی چې يو يې خوري او بل له يې نه ورکوي. مونږ خو داسې يو چې اوس هم څه مونږ خورو هغه خپلو مېلمنو او نوکرانو ته هم ورکوو او ورسره يو ځای يې خورو.

زمونږ مرکز کې هم زمونږ دا قاعده وه چې ډوډۍ ته به کښېناستو او مونږ به د لسو کسانو خوراک پوخ کړی و، دپاسه به شل نور راغلل نو مونږ به کښېناستو هغه به مو ټوکړه ټوکړه خپلو کښې تقسيم کړه او په شريکه به مو وخوړه او اوس هم دغه شان کوو.

زه حېران يم چې مولانا صاحب دا خبره د ډاکټر صاحب په هکله کوي، چې هغه خو دومره مهمان نواز و چې دا کيسه يې افراط ته رسولې وه، زه په دې نه پوهېږم چې دا مولانا صاحب

ته کلکتې ته کوم کسان ورغلي وو؟

دغه شان دی دا خبره هم لیکي، چې د انتخاباتو وخت کې کانګرس دوی ته ډېر رقم ورکړی و، خو دوی ډېر لږ خرڅ کړو، نو ځکه ډېر امیدواران د خرڅ د کمي په وجه فېل شول، مونږ خدایي خدمتګارو خو هېچرې د کانګرس نه یوه پیسه هم اخیستې نه ده.بلکې په دې خبره خو جواهر لال زما نه خپه شوی و او ډاکټر انصاري صاحب ته یې شکایت کړی و، چې دی ډېر مغرور دی. زه چې به د کانګرس د ورکنګ کمېټۍ اجلاس له تلم نو ټولو ممبرانو به چې د رېل د سیکنډ کلاس کوم خرڅ اخیستو، ما هېڅکله هغه هم اخیستی نه و. البته که پارلیمنټري بورډ له دوی نه څه اخیستي وي نو هغه به پارلیمنټري بورډ اخیستي وي، هغه ټول په ځای خرڅ شوي دي او څومره کسان چې دوی ودرولي وو، هغه ټول کامیاب شوي دي او په لوی اکثریت مونږ الیکشن ګټلی دی، نو بیا دا سوال څنګه پیدا کېږي؟ د حیرانتیا خبره دا ده چې مولانا صاحب دا اعتراض کوي چې صوبه سرحدوالاو په انتخاباتو پیسې کمې ولګولې. عام عقل خو دا وایي چې که صوبه سرحد کې خدایي خدمتګارو مکمله کامیابي حاصله کړه او رقم یې هم کم ولګولو، نو دا د هغوی یوه سیاسي کامیابي وه، مولانا صاحب په دې هم اعتراض ضروري وګڼلو.

## بجټ پېش کول:

مونږ ته یو نوی مشکل هغه وخت پیدا شو، چې لیاقت علي خان د نوي کال بجټ پېش کړو، دا ښکاره د کانګرس پالیسي

وه چې معاشي ښکته پورته والی ختم کړي او ورو ورو د سرمايه دارانه نظام په ځای سوشلستي نظام قايم کړي، د کانګرس د اليکشن په ميني فيستو (منشور) کې هم دا رنګ ويل شوي ور، د جنګ دوران کې چې مختلف قسم سرمايه دارانو کومه نفعه کړې وه، د هغې په هکله جواهر لال بيانات جاري کړي وو، دا خبره عامو خلکو ته معلومه وه چې د دې رقم ډېره زياته حصه پټه کړی شوې وه، او په هغې انکم ټيکس نه دی ادا شوی. د هغې مطلب دا و چې حکومت د دې غټ رقم نه محروم شوی دی. زمونږ خيال دا و چې د هندوستان حکومت ته د دې ټيکس د حاصلولو د پاره سخته کارروايي پکار ده. ولې چې دا ټېکس (ماليه) واجب و خو ادا شوې نه و، لياقت علي خان يو داسې بجټ جوړ کړی و چې په ظاهره د کانګرس د اعلاناتو مطابق وو، ليکن دراصل د هغې مطلب د کانګرس بدنامول وو، داسې چې د کانګرس مطالبې په ناقابل عمل شکل کې پېش شوې وې. د هغه د ټېکس تجويزونو د ملک د دولت منې طبقې نه مفلس جوړول او صنعت او حرفت ته نقصان رسول وو، ورسره هغه دا تجويز هم کړی و، چې يو کميشن دې مقرر شي چې د هغه ټېکسونو په هکله چې ادا شوي نه دي، تحقيقات وکړي او د هغو د حاصلولو انتظام وکړي. دا خو مونږ ټولو غوښتل چې د دولت تقسيم کې زيات نه زيات مساوات پيدا کړی شي او د هغه خلکو سره محاسبه وشي. چا چې ټېکس نه دی ادا کړی. د دې د پاره مونږ اصولي ډول د لياقت علي خان د بجټ مخالف نه وو، د کابينې مجلس کې لياقت علي خان وويل چې د هغه تجويز د کانګرس د ذمه

وارو لیډرانو په بیاناتو مبني دی. هغه د دې خبرې اعتراض وکړو چې که جواهر لال بیانات نه وي ورکړي نو د هغه ذهن به دې لورې ته نه وو تللی. د بجټ په هکله قاعده دا ده چې وزير خزانه ټول بجټ د خپلې کابینې د ملګرو وزيرانو په رای او مشوره جوړوي.ولې دلته نوابزاده لیاقت علي خان خپلو ملګرو ته صرف هغه يوه سرسري جايزه پېش کړه او د مفصل بجټ دپاره يې هغوی په اعتماد کې وانه خيستل.

تر کومه چې د عامو امورو تعلق و. کابینې ورسره اتفاق وکړو، دغه شان يې د کابینې نه منظوري حاصله کړه او بيا يې بجټ داسې جوړ کړو چې صرف انتها پسندي نه وه بلکې د قوم معاشي نظام ته د نقصان رسولو نيت هم و. مونږ په دې پوهـوو چې دا بجټ اصولي طور د کانګرس د سياست او پاليسی مطابق و. کانګرس ټول عمر دا ويلي وو چې مونږ به د سرمايه دارانه نظام مخالفت کوو او غريبو له به د ملک په دولت کې خپله برخه ورکوو، نو د دې وجهې نه اصولي طور مونږ د دې بجټ مخالفت نه شو کولی.

## د مونټ بيټن مشن:

لارډ مونټ بيټن د لارډويول د برطرفی نه وروسته د هندوستان ګورنر جنرل مقرر شو، د هندوستان د راتلو نه مخکې د ليبر وزارت دې د خپلو ټولو مسائلو نه او خواهشاتو نه خبر کړی وه، مسټر اټلي هغه ته هدايت ورکړی و، چې د ۳۰ جون ۱۹۴۸ نه مخکې بايد هندوستان ته اقتدار ورکړی شي.

د مارچ په ۲۲ باندې ډيلي ته راورسېد او د مارچ په ۲۴

يې د وايسراى او د ګورنر جنرل په حيث سوګند پورته کړو. د سوګند نه وروسته هغه يو لنډ تقرير وکه، په دې تقرير کې هغه په دې ضرورت زور واچوه، چې څو مياشتو کې د ننه به د مسائلو د حل څه لار راووېستلى شي، دغه وخت د کانګرس او مسلم ليګ اختلافات داسې ځاى ته رسېدلي وو، چې د درېم ګړي د وساطت نه بغير يې جوړه نا ممکنه وه، په دې وخت کې حالات خرابېدل د کلکتې د فسادونو نه وروسته بهار او نواکلي کې فرقه وارانه فسادونه شروع شوي وو بياوروسته په بمبۍ ګښې ګړبړ وشو، پنجاب تر دغه وخته پورې خاموش و، ليکن هغلته هم د نا ارامۍ او ګډوډۍ اثار ښکاره کېدل. ملک خضر حيات خان د مارچ په دويم د پنجاب د چيف منسټرى نه استعفا ورکړې وه، د مارچ د ۴ تاريخ په مظاهرو کې ۱۳ کسان مړه شول او ډېر زخميان شول او د دې فرقه وارانه فسادونو اور د صوبې په نورو برخو کې هم خور شو، امرتسر، راولپنډۍ او ټکسيلا کې په لويه پيمانه فسادونه وشول، يو طرفته فرقه وارانه جذبات زياتېدل او بل طرف ته د حکومت انتظام سست کېده، مرکزي کابينه کې د کانګرس او ليګ په مينځ کې د عدم تعاون په وجه حالات نور هم خرابېده، د مرکزي حکومت ارکان هر وخت د يو بل مقابلې ته ولاړ وو، دا حکومت بالکل معطل شوى و، د مسلم ليګ سره د ماليات محکمه وه چې هغه د حکومت بنياد ګڼلى شي ياد ولرئ چې ددې ټوله ذمه واري د سردار پټېل په سر باندې ده چې هغه وزارت داخله د ځان سره د ساتلو په فکر کې د ماليات محکمه ليګ ته ورکړې وه، په مالياتو کې ډېر داسې قابل افسران

مسلمانان وو، چې چا د لیاقت علي خان سره په هره ممکنه طریقه مرسته کوله.

د پیرنګیانو زړه لوبه کامیابه شوه، هغوی په ملک کې په داسې حالاتو پیدا کولو کې کامیاب شول، چې کانګرس او مسلم لیګ په کور کې سره پرې نه شو جوړېدی، او اخر هغوی پیرنګي ته کښېناستل چې هغه اوس ددې لانجې څه حل راوباسي چنانچه مونټ بیټن د پیرنګیانو د طرفه خپله د تقسیم هند منصوبه ورو ورو د کانګرس مشرانو ته وړاندې کوله او دا تاثر یې ورکوو چې اوس په موجوده حالاتو کې بې د دې نه بل هېڅ علاج نشته.

مونټ بیټن ډېر ذهین او ځیرک سړی و، هغه به د خپلو ټولو هندوستاني ملګرو د زړونو حال معلومولو، هغه چې ولیدل چې سردارپټېل د ده د نظریې منلو ته تیار دی، نو د ده په لاس راواړولو دپاره یې د خپل شخصیت او دلفرېبۍ ټول طاقت په کار واچولو. په خپلو خبرو کې به هغه سردار پټېل د غوز سره مشابه کولو چې د هغه پوټکی کلک دی خو چې مات یې کړې، نو د ننه یې چغزی راوځي. د سردارپټېل د تسخیر نه وروسته هغه جواهر لال ته متوجه شو، اول کې جواهر لال د تقسیم خبره نه اورېدله او عکس العمل به یې ډېر سخت و، لیکن مونټ بیټن ورپسې و تر دې چې ورو ورو د جواهر لال د مخالفت قوت هم مات شو، ځنګه چې دا حالت معلومېدل چې د سردارپټېل سره جواهر لال نهرو هم د مونټ بیټن دوی منصوبې سره مني، نو زه ډېر زهیر شوم، ولې چې مونږ دا د هند تقسیم نه بلکې د مسلم تقسیم ګڼلو، زما د پخوا نه هم دا فکر

و او اوس هم دا فکر دی چې د کیبینټ مشن پلان په هر لحاظ زمونږ د مسایلو د حل ډېره ښه لاره ده. د دې نه د هندوستان یو والی او هرې فرقې ته د ازاد او با عزته ژوند موقع په لاس ورتلله، صرف د مسلمان د مفادو خیال چې یې په نظر کې وساتو نو د دې نه د بل بهتر صورت امید نه شو کېدی. په کومو صوبو کې چې د دوی اکثریت و، هلته دوی ته په داخلي چارو کې پوره واک اختیار په لاس ورته، که د وفاقي هندوستان صوبو ته نظر وکړو، نو که مونږ بلوچستان له یو صوبايي حیثیت ورکړو نو بیابه په مرکزي حکومت کې هم د صوبو په تناسب مسلمانان د غیر مسلمو سره قریباً مساوي حیثیت حاصل کړي.

مولانا ازاد وایي چې ((ما په دې ټولو مسئلو ډېر غور وکه، ما سوچ وکړو چې ګاندهي جي دومره زر خپله رایه ځنګه بدله کړه؟، زما خیال دی چې دا د سردار پټېل د اثر نتیجه ده، پټېل به ښکاره ویل چې بې د تقسیم نه بله چاره نشته، د تجربې نه ثابته شوه چې د مسلم لیګ سره یو ځای کار کول ممکن نه دي، کېدی شي سردار پټېل یوې بلې خبرې ته هم اهمیت ورکوي وي چې لارډلویې مونټ بیټن ویل چې کانګرس د مرکزي حکومت په کمزورو ساتلو صرف د مسلم لیګ د اعتراض د جواب ورکولو دپاره راضي شوی و، او ددې په وجه صوبو ته د پوره داخلي خودمختارۍ حق ورکړل شوی و، مګر په یو داسې ملک کې چې هلته د ژبې، مذهب او تهذیب دومره اختلاف وي، دمرکز کمزوری اتحاد دښمنو نظریو ته قوت ورکوي. د لیګ نه چې ځان جدا کړی شي نو بیا د یو مظبوط

مرکزي حکومت انتظام کېدی شي او داسې قانون جوړېدی شي چې د هندوستان د متحد ساتلو دپاره به فایده مند وي، مونټ بېټن دا مشوره ورکړه چې په شمال مشرق او شمال مغرب کې چې یو څو وړې ټوکړې مسلم لیګ له ورکړی شي نو د باقي هندوستان به یو مظبوط او مستحکم ریاست جوړ کړی شي. په سردار پټېل باندې د دې دلیل زیات اثر وشو چې د مسلم لیګ سره د اتحاد په وجه به د هندوستان اتحاد او استحکام په خطر کې پرېوځي. زما خیال دا دی چې یوازې سردار پټېل نه بلکې په جواهر لال نهرو هم د دې دلیل اثر شوی وو، دغه دلیلونه چې سردار پټېل او مونټ بېټن دوباره وویل نو د تقسیم په مخالفت کې د ګاندهي جي په نظریه کې هم کمزوري راغله، څنګه چې دوی ولیدل چې خلک د کیبنټ پلان سخت مخالف دي نو د هغې په ځای یې د تقسیم د پلان د پېش کولو چې د ده د خیال سره برابر و تیاري وکړه، هر کله چې د تقسیم مسئله په ښکاره ډول منځ ته راغله، نو د پنجاب او بنګال مسئلې لوی اهمیت پیدا کړ، مونټ بېټن وویل څکه چې د تقسیم بنیاد د مسلمانانو د اکثریت علاقې وې او د پنجاب او بنګال په ځینو برخو کې د مسلمانانو اکثریت دی، په دې وجه په دې دواړو صوبو کې هم تقسیم کول په کار دي، خو د کانګرس لیډرانو ته یې مشوره ورکړه چې دغه سوال اوس مه پورته کوئ، او دوی ته یې یقین ورکړ چې په یو راتلونکي مناسب وخت کې به زه په خپله دغه سوال پورته کړم. په دې وخت کې مونټ بېټن د تقسیم په باره کې خپل تجویز تیار کړی و، نو د برتانوي حکومت سره د خبرو اترو او د تجویز د

منظوري د حاصلولو دپاره يې د لندن دتلو فيصله وکړه. ما د مې په ۱۴ د مونټ بيټن سره په شمله کې وليدل، يو ساعت مې ورسره خبرې وکړې، بيا مې ورته اپيل وکړ چې د کيبنټ مشن پلان په خاورو کې مه ښخوئ، مونږ بايد د صبر نه کار واخلو ولې چې د دې پلان دکاميابۍ اميد اوس هم شته دى، که مونږ تقسيم په تلوار ومنلو نو هندوستان ته به ډېر نقصان ورسېږي.ما بيټن ته دا هم وويل چې تا له د تقسيم ممکنه نتايج هم په ذهن کې ساتل په کار دي، د تقسيم نه مخکې هم په کلکته،نواکالي، بهار او بمبۍ او پنجاب کې فسادونه وشول،هندوانو په مسلمانانو او مسلمانانو په هندوانو حملې وکړې، په داسې حال کې که ملک تقسيم شي نو د وينو لښتي به وبهېږي او د دې خونريزۍ ذمه واري به د انګرېزانو په غاړه وي، خومونټ بيټن راته فوري جواب راکړو چې زه تا ته پوره يقين درکوم چې زه به هېڅوک فساد او وينو بهولو ته پرې نه ږدم.

يو وار چې تقسيم اصولاً ومنل شي،نو بيا به زه حکمونه جاري کړم چې په ملک کې هېڅوک فرقه وارانه فساد ونه کړی شي، خو بيا ټولې دنيا ته معلومه شوه چې د تقسيم د اعلان نه وروسته د ملک په ټولو برخو کې د وينو لښتي وبهېدل او بېګناه ښځې او ماشومان قتل شول او د مسلمانانو او هندوانو د قتل عام د مخنيوي دپاره هېڅ سود مند تدبير ونه کړی شو.

## ډايرکټ ايکشن او مساوات:

پنجاب کې دهندو اومسلمان جګړه شروع شوې وه، دا

خبرونه چې به په اخبارونو کې راتلل،نو د دې په وجه به د هندو او مسلمان نفرت او کشيدګي زياتېده،ليکن چې په ۱۹۴۲ کال کې په هندوستان کې کوم فسادونه شروع وو،نو په کلکته کې چې د مسلم ليګ له طرفه ډايرکټ ايکشن وشو نو دغه اور ته يې د تيلو کار ورکړو، دکلکتې په ښار کې خو د مسلم ليګ دلاسه ډېر لږ هندوان مړه او تالاشو،خو هندوانو د دې بدله په بهار کې واخيسته،مسلمانان منظم نه دي او هندوان منظم دي.دوی په کلکته کې دومره خلک مړه او لُوټ نه کړل، چې څومره په بهار کې مړه کړل، لُوټ يې کړل او يوه لويه تباهي يې وکړه. زه پخپله دغلته د مسلمانانو د امداد دپاره تللی وم. مونږ به کله نا کله سهروردي صاحب ته ويلی چې دا په بهار کې چې د مسلمانانو دومره بربادي وشوه، د مسلم ليګ د ډايرکټ ايکشن په وجه وشوه او تا وکړه نو هغه به وې چې ما سره ليکلی خط شته که د رښتياو وخت راغی نو هغه به ښکاره کړم،د کلکتې په ښار کې د بهار خلک مړه شوي وو، بيا د بهار د بدل د اخيستو په بانه په نواکلي کې په هندوانو ډېر زور او ظلم وشو د پيرنګيانو دا پاليسي کامياب شوه چې: (پهوټ ډالو اور حکومت کرو.) انګرېزان د مسلم ليګ په دغه کار ډېر خوشحاله وو ځکه چې د هندوستان په دې خرمستو باندې انګرېز((نوکرشاهي)) د انګلستان د مزدور پارټۍ حکومت باندې دا واضحه کول او ثابتول غوښتل چې د هندوستان خلک د ځناورو په شان د يو بل وينو څکلو ته تږي ناست دي ا و د يو بل غوښو خوړلو او څرمن وښکلو پسې دي او دا چې د بنيادمو په شان د اوسېدوشعور خو په دوی کې

ورک دی د دې دپاره په دوی کې د انګرېزانو حکومت ضروري دی، او دوی له خپل حکومت مه ورکوئ او که داسې ونه شوه نو دوی به پخپلو کې یو بل تباه او برباد کړي.

## زه بهار کې:

مسلم لیګ د انګرېزانو پیداوار وو، د دې دپاره هغوی د صورت حال نه ناجایزه فایده اخیستل خوښ کړو او د امن او سلامتۍ د خرابولو دپاره مسلم لیګ او پیرنګیان په یوه سلا وو.

د دوی په دومره تباهۍ د مسلم لیګ زړه یخ شوی نه و، هغوی په فرقه وارانه سازشونو کې لګیا وو، د هغو فساد زپلو مظلومانو نه یې سیاسي فایدې اوچتولې او هغوی له یې دا ترغیب ورکولو چې بنګال ته هجرت وکړي. زه د دې مظلومانو په فکر کې ډوب وم چې دوی به بیا څنګه پخپلو کلو او کورونو کې اباد کړم، لیکن هغوی مسلم لیګ داسې تار باندې خېژولې وو، چې زما خبرې په هغوی ښې نه لګېدې، د دې دپاره زه د مسلم لیګ لیډرانو له ورغلم دا خلک د محمد یونس بیرسټر په یو عالیشان مکان کې ډېره وو، چې کله زه هغوی له ورغلی یم نو دوی په خوړلو او څکلو کې اخته وو او ماته به یې وویل چې مونږ تاسره خبرې نه کوو او چې بیا ناظم الدین ورته وویل چې مونږ له په کار دي چې ورسره خبرې وکړو نو دوی زما خبرو اورېدو ته تیار شول ما هغوی ته ووې چې تاسو له راغلی یم او تاسو ته دا عرض کوم چې د دې خلکو ډېره تباهي شوې ده او اوس به ښه دا وي چې دوی معاف کړئ،

نور يې مه تباه كوئ او دا ځومره تباهي چې د دوی وشوه دا لږه ده څه؟ دا تاسو چې دوی ته د بنګال د هجرت مشورې او ترغيب وركوئ نو كه په حقيقي معنو كې دوی هلته ابادوئ، نو زما په دې هيڅ اعتراض نشته او كه دوی د خپلو سياسي غرضونو ښكار كول غواړئ او كه دوی نه سياسي فايده اوچتول غواړئ نو دا مناسب نه دي، دوی ډېر تباه او برباد شوي دي، ليكن ددې مسلم ليګو په زړونو كې رحم نه و ماخپل زوړ مهربان فيروز خان نون هم دلته شپاړس كاله پس وليدو، ما ترې نه پوښتنه وكړه چې تا خو وې چې مونږ به مشوره وكړو،نو تا له به ځواب دركړو نو تر اوسه پورې خو دې ما له هغه ځواب نه دی راكړی؟ دی حيانا ك سړی و، سترګې يې ښكته كړې او څه ځواب يې رانكړو، حال دا دی چې د شملې په دعوت كې ده زما نه شكايت كړی و، چې تاسو كانګرس سره شوئ، ما ورته ويلی وو،مونږ خو تاسو ته درغلي وو، خو تاسو زمونږ امداد اونكړو، اومونږ خو په يو لوی مصيبت كې وو، نو ځكه كانګرس ته لاړلو،كه تاسو پنجاب اوس هم مونږ سره ملګري كېږئ نو زه اوس كانګرس نه استعفا وركوم. ده ووې چې مونږ مشوره وكړو نو ځواب به دركړم.

مسلم ليګيان د يونس بيرسټر په بنګله كې ناست وو، خوړل، څكل يې كول او د پټني د ښارنه بهر وتی نه شول او د بهار مسلمانان چې د كلو نه را تښتېدلي وو او په كيمپونو كې وو د اكثرو نه خپل مال پخپلو كورونو كښې ښخ پاتې شوی و، هغوی غوښتل چې مونږ سره څوك لاړ شي او د دغه مال

راوښکلو کښېږ مونږ سره مدد وکړي، خو مسلم لیګ خو د وېرې نه دښاره وتی نه شو، دوی چې د مسلم لیګ نه مایوسه شو نو بیایې ما ته ووې چې ته به مونږ سره لاړ نه شې؟ مونږ پخپلو کورونو کې مالونه ښخ کړي دي چې هغه راوباسو ما ورته ووې چې زه خو دلته ستاسو د خدمت دپاره راغلی یم څه وخت چې وایئ درسره ځم نو هغوی به ما روزانه څه کسان پخپل موټر کې خپلو کلو ته بوتلل او هغه خپل مالونه به یې راوښکل، هندوانو به ورته بد بد کتل، خو زما په وجه به یې څه ویل نه ، زه دوی پسې کیمپونو ته لاړم او ورته مې وویل چې برسات شروع کېدونکی دی راځئ چې زه مو اباد کړم خو دوی زما دا خبره ونه منله ځکه چې دوی خو مسلم لیګ بنګال ته روان کړي وو، څو چې د بنګال د تللو په لاره کې ورته ډېر تکلیفونه او مصیبتونه پېښ شول نو بیا ماله راغلل، بیا زه د بهار حکومت ته ورغلم او هغه ټول وزیران خو ما سره د هزارې په جېلخانه کې پاتې شوي وو، هغوی ډېر زر د دوی د ابادولو انتظام وکړو او ګاندهي جي چې په نواکلي کې و، هلته چونکه د هندوانو برخلاف فسادونه شوي وو، نو ګاندهي جي هلته په دوره و، ما چې ورته خبر وکړو نو هغه د نواکلي دوره پرېښوده او دلته بهار ته د مسلمانانو د امداد دپاره راغی، مهاتماجي زما د خط په لیدو دلته راغی او هغه کار نور هم په تېزۍ روان شو، ما ته پیاری لال ویل چې ګاندهي جي څه وخت نواکلي ته راغی، نو مونږ ته یې وویل چې تاسو دلته دغه شان ناست یئ او خپله هغه کښېنه ناستو او چې په کومو ځایونو زور زیاتی او ظلم شوی و دی به هلته تللو او د هغه ځای خلکو ته به یې

ډاډګيرنه ورکوله او خدمت به يې کولو د هغه په ليډومونږ کې هم جرات او همت پيدا شو بيا مونږ هم د هغه په شان په هغو مظلومانو ګرځيدو او سرې څه کوې چې ښځې به هم ګرځيدې اونه به وېريدې، په دې باندې هغو خلکو کې ډېرښه اثر وشو ولې دلته پټنه (بهار) کې دا حال و، چې د مسلم ليګ ليډران د وېرې نه د پټني ښار کې ګرځيدى نه شول، چې د کوم قوم ليډران زړور وي هغه قوم کې هم زړورتيا پيدا شي، او چې د کوم قوم ليډران بزدل وي هغه قوم کې بزدلي پيدا شي، ماته پياري لال بله خبره داهم کړې وه چې پټيل په بهار کې زما د ګرځيدو مخالف وو، خوګاندهي جي ورته ووېل چې دا مناسب نه دي.

مردولابهن هم ګاندهي جي سره ملګرې وه او هغه دغه وخت د ګاندهي جي سکترې وه، د هغې هم مسلمانانو سره ډېره همدردې وه، چې څو مره مسلمانان به راغلل نومردولابهن به هغوى ګاندهي جي ته بوتلل او هغه ته به يې خپل مصيبتونه او تکليفونه بيان کړل. دا خبره د کانګرس د مشرانو خوښه نه وه هغوى کوشش وکړو چې دا (مردولابهن) ګاندهي جي نه لرې کړې او لرې کوله يې. نو هغه ما له راغله او ماته يې دا کيسه بيان کړه او راته يې ووې چې اوس خو ما ستاسو نه جدا کوې، ما ورته ووېل ته هيڅ پروا مه کوه، تا هيڅوک د ګاندهي جي نه لرې کولى نه شي، نو زه لاړم او ګاندهي جي ته مې ووېل او هغه پاتې شوه، زه په بهار کې وم. ما غوښتل چې بهاريان سردوباره اباد کړم او ددې دپاره هلته دېره وم. خو چې څه وخت په پنجاب کې فسادات شروع شول، نو ماسره فکر شو،

بیا ګانده‌ي جي ما تـه وویـل چې دا کـار بـه زه کـوم، ځـه تـه سـرحد تـه لاړ شـه، نـو زه سـرحد تـه راغلـم. پـه صـوبه سـرحد کـې د خـدایي خـدمتګارۍ د تحریـک پـه وجـه د مسلمانانو، هنـدوانو او سیکهانو تعلقات ډېر ښه وو، ښـه ځـه چې د وروڼـو پـه شـان وو، دا تحریـک د خـدای د مخلـوق د خـدمت او انسـانیت تحریـک و. دې تحریـک پـه مسلمانانو، هنـدوانو سـیکهانو کـې د مینـې محبت او خـدمت جذبـه پیـدا کـړې وه، چې پخـوا یـې مثـال نـه و. دا تحریـک کلیـوال تحریـک و، مرکـز یـې هـم پـه کلـي کـې و، ځکـه چې اکثریت قـوم پـه کلـو کـې اوسـي. د دې تحریـک فـرق د نـورو تحریکونـو نـه دا و چې نـور تحریکونـه د ښارونو نـه شـروع کېـږي اوپـه کلـو کـې خـورېږي. مګـر دا تحریـک د کلـو نـه شـروع شـو او پـه ښارونو کې خور شو.

تـاریخ دا ښـیي چـې د ښـارونو تحریکونـه د حکومتونـو د لاسـه خـراب شـوي او لـه منځـه تللـي دي مګـر کلیـوال تحریـک ځـوک پـه اسـانۍ ختمـولی نـه شـي، لکـه زمـونږ د خـدایي خـدمتګارۍ تحریـک چـې د ډېـرو ظلمونـو، کړاوونـو، مـصیبتونو بـاوجود چـا ختم نـه کـړی شـو او تـر اوسـه پـورې جـاري دی، پـه بهـار کـې چـې کـوم فـسادونه وشـول نـو زمـونږ د صـوبې نـه دمـسلم لیـګ رضـاکاران بهـار تـه لاړل، دوی خـدمت لـه تللـي نـه وو، دوی پـه هنـدو او مـسلمان کـې نفـرت زیـاتولو لـه تللـي وو، او چې د هغـې ځـای نـه واپـس راتلـل نـو ډېـر هډوکـي یـې لـه ځـان سـره راوړل، او پـه سـرحد کـې یـې کلـي پـه کلـي وګرځـول او زمـونږ پـه خـلاف یـې لویـه پراپیګنډه وکـړه اومطلب یـې دا و،چې پـه صـوبه سـرحد کـې هـم د هنـدو اومـسلمان او سکهـ پـه مینـځ کـې د نفـاق

او فساد اور بل کړي. ولې فساد يې ونه کړی شو او په خپل مطلب کې کامياب نه شول، ولې چې دلته د خدايي خدمتګارو د تحريک په برکت د فساد او دښمنۍ جرړې اېستلې شوې وې.

خو چې لارډ مونټ بيټن د هندوستان د تقسيم اعلان وکړو او دا يې هم وويل چې په صوبه سرحد کې به ريفرنډم کېږي، د دې زمونږ په صوبه ډېر خراب اثر وشو او دلته هم فسادونه شروع شول. نو بيا مسلم ليګيانو د پېښور په بازارونو او لارو کوڅو کې بېګناه خلک قتلول شروع کړل. د پېښور ښار بازارونه بند شول، هندوان، سکهان په خپلو کورونو کې قيد وو، بهر ته راوتی نه شول، په کورونو کې هم د دوی عزت، دولت او سرونه محفوظ نه وو.

چې مونږ پوهه شو چې سرکاري افسران زمونږ سره هيڅ قسم امداد ته تيار نه دي، بلکې هر څه زمونږ د وزارت د بدنامولو دپاره کوي، حکومت زمونږ و خو افسرانو زمونږ خبره نه منله نو مونږ فيصله وکړه او امين جان سالار اعظم ته موحکم وکړو چې لس زره باوردي خدايي خدمتګار پېښور ته راولېږي. د حکم د رسېدو سره لس زره خدايي خدمتګار پېښور ته راغلل او د راتلو سره يې هندوان او سکهان د خپلو کورونو نه بهر راوښکل، دکانونه يې پرانيستل او کارونه يې شروع کړل، د دوی په دکانونو د خدايي خدمتګارو پيرې ولګېدې، چې مسلم ليګيان ورته ضرر پېښ نه کړي او د هندوانو، سکهانو مال، ځان او عزت محفوظ شو، دغه شان په ټوله صوبه کې چې کوم کوم ځای خدايي خدمتګار وو هلته د هندوانو،

سکهانو مال، ځان، عزت په امن و. په دوی کې بعضې انګرېز پرست هندوان هم وو چې د پيرنګيانو او ليګيانو په اشارو ګډېدل او دا مطالبه يې کوله چې د خدايي خدمتګارو حکومت دې لرې شي او صوبه کې دې ګورنر راج قايم شي، په دې نه پوهېدل چې دا ټوله کيسه چا جوړه کړې وه؟ دا خو ګورنر جوړه کړې وه خو چې څه وخت د لارډ لوېې مونټ بيټن او کانګرس د مشرانو په مينځ کې زمونږ په سر سودا وشوه. سودا په دې وشوه چې لارډمونټ بيټن ورته وويل چې پنجاب او بنګال به زه درته تقسيم کړم خو تاسو د دې په بدل کې صوبه سرحد پرېږدئ او ريفرنډم ومنئ، بيا يې په دريم جون ۱۹۴۷ د هندوستان د تقسيم اعلان وکړو او دا يې هم ووېل چې په سرحد کې به د خلکو نه تپوس کېږي، نو تاسو خو ددې پيرنګي دې ظلم او بې انصافۍ ته وګورئ چې پنجاب تقسيمېږي، بنګال تقسيمېږي. هلته د خلکو نه تپوس نه کېږي. بلکې د اسمبلۍ نه کېږي او دلته زمونږ په صوبه کې د اسمبلۍ نه څوک تپوس نه کوي او د خلکو نه تپوس کېږي. حال دا دی چې زمونږ اليکشن خو په هندوستان او پاکستان څو مياشتې مخکې شوی و. خلکو خو رايه ورکړې وه دوباره يې څه ضرورت و؟ که د کانګرس مشرانو زمونږ سره بې وفايي کړې نه وی او د تقسيم مسئله يې منلې نه وی نو په صوبه سرحد کې به د هندوانو، سيکهانو او مونږ ته دومره د سر او مال زيان نه وی رسېدلی او نه به سيکهان او هندوان دومره تباه او برباد شوي وی.

دغه وخت مسلم ليګيان حکومت نيولي وو، او جېلونو کې

يې اچولي وو «لنډۍ د ختو نه دي» دوی خو د جېلخانو تېرولو نه دي، د دوی هغه قيد او جېلخانې خو نه قيد وو نه جېلخانې، د دوی د پاره ريستورانټ وو، څه عجيبه لوبه وه، د شپې به کور ته تلل، د ورځې به بازارونو کې ګرځېدل، خپلو خپلوانو او دوستانو سره به يې مجلسونه کول د دې وجه دا وه چې ګورنر زمونږ د وزارت سره تعاون نه کولو او زمونږ مخالف وو.

دوی چې بيا د جېل نه را ووتل او ډيلي ته راغلل زه هم په ډيلي کې وم، هلته ما دوی وليدل او ثمين جان خان ته مې وويل چې يه هلکه! دا پاکستان چې جوړوئ نو لږ خو فکر وکړئ. دې کې به د پښتون څه حال وي؟، اکثريت خو د پنجاب دی نو اقتدار به هم د پنجاب وي، نو ده راته وويل چې اوس يې جوړوو، او که بيا په کې زمونږ خير نه وو نو بيا به يې وران کړو، افسوس دی چې ثمين جان خان اوس نشته ګني ما به ترې تپوس کړی وی چې راشه وګوره چې اوس پاکستان کې د پښتنو څه حال دی؟.

## د تقسيم اعلان:

څه وخت چې مونټ بيټن د مې په ۳۰ ډيلي ته واپس راغی نو د جون په ۳ يې د هندوستان د تقسيم په باب د برتانوي حکومت له خوا د منظور شوي منصوبې اعلان وکړو، د دې منصوبې په اعلان کېدو سره د هندوستان د متحد پاتې کېدو ټول اميدونه ختم شول، برتانوي حکومت د تقسيم د مسئلې په دومره زر منلو کې د هندوستان نه زيات د خپلو مفادو خيال

ساتلی و، ولې چې يو داسې رياست چې اقتدار يې د مسلم ليګ په لاس کې وي د برتانوي اثر په حلقه کې زيات پاتې کېدی شي.

## د ورکنګ کمېټۍ اجلاس:

بيا په دغه تاريخ په دې نوي حال باندې د غور کولو د پاره د کانګرس د ورکنګ کمېټۍ غونډه وشوه، سردار پټېل او راج ګوپال اچاريه خو له پخوا نه د تقسيم طرفدار او د کيبنټ مشن مخالف وو، مګر په غونډه کې چې ګاندهي جي هم د تقسيم طرفداري وکړه، نو مونږ ټول حيران پاتې شو، بله مسئله په سرحد کې د ريفرنډم مسئله وه دا مسئله هم د لارډ مونټ بيټن په منصوبه کې راغلې وه په دغه خبره هم ډېر بحث مباحثه وشوه،او دلايل پېش شول، سردارپټېل او راج ګوپال اچاريه دلته هم په ورکنګ کمېټۍ ډېر زور واچولو او اخر ورکنګ کمېټۍ دا خبره هم ومنله او د ملک د تقسيم او صوبه سرحد کې د ريفرنډم خبره دواړه ومنلی شوې.

زه حيران شوم چې دوی دا ټولې فېصلې کړې وې نو دا ما سره يې بيا جرګې او ميټنګونه ولې کول؟.

په دې وخت کې ما ورکنګ کمېټۍ ته يو اپيل وړاندې کړو او دا مې ورته ووېل چې مونږ همېشه د کانګرس ملګرتيا کړې ده او لاس مو ورکړی دی اوس که کانګرس مونږ يوازې پرېږدي او له مونږ سره امداد ونه کړي،نو په صوبه سرحد به د دې ډېر خراب اثر پرېوځي که کانګرس خدايي خدمتګار د شرمښانو خولې ته همداسې پرېږدي نو دا به د صوبه سرحد

سره غداري وي، د ګاندهي جي په زړه باندې د دې اپيل زيات اثر وشو او ويې ويل چې زه به د مونټ بيټن سره په دې مسئله خبرې وکړم.

په سبا له زه او ګاندهي جي وايسراى لارډ مونټ بيټن ته ورغلو هغه سره مو خبرې وکړې هغه په دې کې د جناح صاحب شرکت هم ضروري وګڼلو، څه وخت چې جناح صاحب ګاندهي جي او زه يو ځاى شو، نو جناح صاحب وويل چې دى زما مسلمان ورور دى زه ده سره ځان له خبره کوم، نو ما ګاندهي جي ته وويل چې د ده داسې خوښه ده، نو که ستا اجازه وي، نو زه به ورسره ځان له خبرې وکړم. هغه ما ته وويل ډېر ښه، جناح صاحب ما ته وويل چې تاسو ته به پراونشل اټانومي(صوبايي خودمختاري) درکوو، خو په دې څه عمل ونه شو، اصل کې ما ته تر دغه وخته پورې دا معلومه نه وه، چې د مونټ بيټن کانګرس او مسلم ليګ تر منځه ټولې فېصلې شوې دي. دا خوچې د مولانا ازاد صاحب کتاب، ازادي هند، ما ولوستو نو زه د دې حقيقت نه خبر شوم، نو زه وايم چې عمل پرې څنګه شوى وى ولې چې دا خبرې خوفېصله شوى وى، او لارډ مونټ بيټن خو زمونږ په سر سوداګري کړې وه، نو هغه څنګه د ګاندهي جي خبره منلى وى او جناح صاحب څنګه زما خبره منلى وى، هنه! دا ده چې که د دې فېصلې نه وړاندې ګاندهي جي زمونږ دا خبره کړې وى نو د منلو څه امکان يې وو.

په دې باره کې مولانا صاحب په خپل کتاب کې ليکي: «په دې حالاتو د غور کولو دپاره د کانګرس ورکنګ کمېټۍ په دريم جون اجلاس وشو د ټولو نه وړاندې په کې د صوبه سرحد

د مستقبل په مسئله بحث شروع شو، د مونټ بيټن پلان صوبه سرحد په ډېرو عجيبو مشکلاتو کې غورځولی و، عبدالغفار خان او د هغه پارټۍ تل د کانګرس ملګرتيا کړې وه او د ليګ يې مخالفت کړی و، مسلم ليګ دوی خپل د سردښمنان ګڼل د مسلم ليګ د سخت مخالفت په موجودګۍ کې هم په دې صوبه کې دوی د کانګرس حکومت په جوړولو کې کامياب شوي وو او دا حکومت يې اوس هم بر سر اقتدار و د تقسيم په وجه دوی او کانګرس دواړو ته يو تکليف ورکونکی حالت پيدا شوي و، په اصل کې د تقسيم مطلب دا و چې دوی او د دوی پارټۍ يعنې خدايي خدمتګار د مسلم ليګ رحم و کرم ته پرېښودل شي.»

«مونږ پوهېدو چې په عبدالغفار خان به د دې فېصلې څنګه اثر شوی وي، داسې ښکارېده چې دغه وخت دوی خپل هوش او حواس بالکل بايللی و، څو دقيقې د ده د خولې نه يو لفظ هم راونه وتو، بيا دوی ورکنګ کمېټې ته اپيل وکړو او ورته يې ورياده کړه چې دوی تل د کانګرس ملګرتيا کړې ده او اوس که کانګرس دوی يوازې پرېږدي نو په صوبه سرحد به د دې ډېر خراب اثر پرېوځي، د دوی دښمنان به په دوی پورې خاندي او د دوی دوستان به وايي چې تر څو کانګرس ته د صوبه سرحد ضرورت و، نو د خدايي خدمتګارو حمايت يې کاوه، څو کله چې يې د مسلم ليګ سره د مصالحت خواهش پيدا شو نو بيا يې د صوبه سرحد او د دوی د ليډرانو سره مشوره قدرې هم ونه کړه او د تقسيم مخالفت يې پرېښود، خان عبدالغفار خان څو ځلې دا خبره بيا بيا وکړه چې که چېرې

کانګرس خدايي خدمتګار د شرمښانو خولو ته وغورځول نو دا به د صوبه سرحد سره غداري وي.»

مونږ د ورکنګ کمېټۍ د دغه غونډې نه پس واپس خپلې صوبې ته راغلو، حکومت ته مو ويل چې چونکه کانګرس تقسيم هند منلی دی، نو په داسې حالاتو کې دلته د ريفرنډم ضرورت نشته، ولې چې د دې په ذريعه به دلته په خلکو کې يوه د دښمنۍ او تربګنۍ فضا پيدا شي. چونکه وايسرای دا خبره ونه منله، د دې وجې نه مونږ بيا د صوبې جرګه را وبلله او دا حالت مو ټول دهغه جرګې په وړاندې کېښودل، د صوبې جرګې فېصله وکړه چې که سرکار دلته خامخا ريفرنډم کوي نو بيا په کار دي چې پښتنو له پوره حق خودارادیت ورکړي او د هندوستان او د پاکستان نه علاوه د پښتنو نه په خپلې ازادې صوبې پښتونستان باندې هم ووټ واخلي.

خو چې کله پيرنګيانو د دې مطالبې د منلو نه انکار وکړو او د ازاد پښتونستان مطالبه يې په ريفرنډم کې شامله نه کړه، نو بيا جرګې دا فېصله وکړه چې چونکه کانګرس تقسيم هند منلی دی نو د دې وجې نه دلته ريفرنډم ته هېڅ ضرورت پاتې نه شو، او که حکومت خامخا ريفرنډم کوي نو مونږ به په هغې کې حصه نه اخلو.

## د کانګرس اومونټ بيټن سازش:

اصله خبره دا وه چې دا لويه واقعه چې څنګه وشوه هم دغسې کېدونکې وه، ولې چې د دې دپاره د پخوا نه تيارې شوې وې، هغه وخت چې مونټ بيټن د تقسيم د اعلان نه

مخکې د سرحد په دوره راغلی و په سرحد کې دفعه (۱۴۴)
لګېدلې وه او په جلسو پابندي وه، د صوبه سرحد ګورنر
سراولف کیرو و، چې زمونږ سخت مخالف و او د مسلم لیګ
لوی حامي و، هغه په لارډ مونټ بیټن د اثر اچولو د پاره د
سرحدي قبایلو نه په ډېر زیات شمیر کې د پولټېکل ایجنټ
ټولو خپلو ملکانو په ذریعه خلک را جمع کړل، لارډ مونټ
بیټن ته یې یوه لویه تماشه جوړه کړه، او د تللو په وخت کې یې
لارډ مونټ بیټن ته دا وویل: چې دې پښتنو له داسې سزا
ورکول په کار دي چې د دوی بچې یې یاد ولري. ولې چې په
هندوستان کې لس کروړه مسلمانان وو، هغوی زمونږ مخالفت
ونه کړو او دوی زمونږ مخالفت کې د کانګرس سره ملګري
شول، لارډ مونټ بیټن دا ټولې خبرې په زړه کې واچولې او
ډیلي ته روان شو، هلته خو پټېل د هندوستان تقسیم
غوښتو،او ده دا غوښتل چې پښتنو ته سزا ورکړي او د مسلم
لیګ ته یې په حواله کړي. د دې دواړو اتفاق په دې وشو چې
کانګرس غوښتل چې بنګال او پنجاب دې تقسیم شي او لارډ
مونټ بیټن غوښتل چې سرحد کې دې ریفرنډم وشي، نو لارډ
مونټ بیټن دوی ته دا وویل چې زه ستاسو دا خبره منم، او
پنجاب او بنګال به درته تقسیم کړم خو د دې په بدله کې تاسو
زما دا ومنئ چې په صوبه سرحد کې دې ریفرنډم وشي، نو
کانګرس په صوبه سرحد کې ریفرنډم ومنلو او مونټ بیټن ور
ته پنجاب او بنګال تقسیم کړل او د دوی دواړو سودا زمونږ په
سر وشوه مونږ خدایي خدمتګارو ډېره خواري وکړه چې
هندو او مسلمان سره نزدې شي او زه که په کور کې وم، که په

صوبه سرحد کې وم، که په هندوستان کې ما د دې دپاره ډېر کوشش کړی دی چې د هندو او مسلمان تر مېنځه مینه، محبت، اتحاد او اتفاق پیدا کړم او نفرت او دښمني ترې لرې کړم.دا کار تر ډېره حده پورې وشو، مګر د تقسیم نه پس تاسو وګورئ چې اوس څه حال دی؟ هغه مونږ چې څه کړي وو هغه په سیند لاهو کړی شو، په پاکستان کې په هندوانو او سکهانو څه تېر شول، او په هندوستان کې په مسلمانانو څه تېرېږي؟ داسې نفرت او دومره نفاق پیدا شو چې د اصلاح امید یې هم له مېنځه لاړ او ډېرې لانجې ترې را پیدا شوې.

## د کانګرس بېوفايي:

کانګرس خو د پیرنګیانو سره د شپېتو کالو راسې د ازادۍ اخیستلو دپاره په جدوجهد لګیا و، خو انګرېزانو ورته پوره ازادي څه چې نیمګړې ازادي هم نه ورکوله، مګر کله چې پښتانه ورسره په دغه جنګ کې ملګري شول او پښتنو په کیسه خوانۍ، ټکر،اتمانزو، کوهاټ،هاتي خېلو او میرویس کې قربانۍ ورکړې اودغه شان زمونږ د قبایلي علاقې غیرتي پښتنو دې پښتنو سره د هندوستان د ازادۍ په لاره کې غزاګانې وکړې. د انګرېزانو توپونو او ټېنکونو ته یې خپلې سینې ډال کړې او د دوی مخې ته لکه د غر ودرېدل نو د انګرېزانو هله د هندوستان ازادۍ ته غاړه کښېښوده، مونږ خو د کانګرس سره په دې وعده د ازادۍ په جنګ کې ملګري شوي وو، چې وطن به په ګډه ازادوو او د پردۍ غلامۍ نه به ځانونه خلاصوو، مګر چې وخت راغی نو بیا مونږ سره د شوو

وعدو هېڅ خيال ونه ساتلی شو ،زمونږ نه زمونږ د مستقبل په هکله هېڅ پوښتنه ونه شوه.بلکې د پاکستان اوهندوستان د يو ځای کېدو ريفرنډم را باندې په زور راو تپلی شو او زمونږ په سر دغه لويه سودا وشوه، قرباني مونږ ورکړې، وينې زمونږ تويې شوې، مالونه، جايدادونه زمونږ تباه شول او ګټه يې نورو ته ورسېده،د کانګرس مشرانو خو به په ټولو معاملو کې زما نه تپوس کولو، زما د سلا مشورې نه بغير به يې هېڅ نه کول. مګر په دې لويه اهمه مسئله کې زما سره مشوره څه چې خبر هم نه کړی شوم. زما خپګان په دې خبره دی چې د کانګرس ورکنګ کمېټۍ هم زمونږ سره امداد او همدردي ښکاره نه کړه. دوی مونږ له پښو لاسو وتړلو، او مسلم ليګ ته يې حواله کړو.

مونږ خو د مسلم ليګ نه اليکشن ګټلی و نو بيا بل اليکشن ته څه ضرورت و؟. که چا زمونږ سره نوی ريفرنډم کولی نو په کار وو چې زمونږ په مطالبه يې د پاکستان او پښتونستان په سوال کړی وی. دا ريفرنډم خو په پاکستان او هندوستان و او مونږ د کانګرس د بې وفايۍ په وجه دهندوستان سره نه تلو، نو ځکه مو په دې ريفرنډم کې شريکېدل نه غوښتل او بايکاټ مو ورسره وکړو.

مونږ ته به پيرنګيانو ويل چې د کانګرس ملګرتيا پرېږدئ نو مونږ به چې هندوستان له څه ورکوو د هغې نه زيات به تاسوله درکړو، ليکن مونږ کانګرس پرې نه ښود خو دوی مونږ پرېښودو ،د ډېر افسوس خبره خو داده چې مونږ دوی سره څه وکړل او دوی را سره څه وکړل؟

د سردار پټېل او راجه ګوپال اچاریه نه خو زما ګیله نشته، زما ګیله د جواهر لال نهرو او ګاندهي جي نه کېږي چې هغوی هم په دې معامله ورسره اتفاق وکړو، د کانګرس لیډرانو ویل چې اوس داسې حالات را پیدا شوي دي، چې بله لار نشته، نو زه وایم چې دا حالات چا را پیدا کړل؟ دا حالات خو دوی را پیدا کړل، که دوی هندوستان تقسیم کړی نه وی نو د هندوستان او هندو مسلمان دا دومره تباهي او بربادي به نه وی شوې.

څه چې وشول هغه وشول او د مولانا ازاد خبره څه چې مې ولیدل دا یو خوب و. خو زه وایم چې دا یو سازش و، دا یوه بې وفایي وه، او دا یوه غداري وه چې زمونږ سره وشوه.

زمونږ په ملک کې ځینې کسان شته چې زمونږ د بد خواهانو په لمسه زمونږ خلاف داسې پراپېګنډې کوي چې خدایي خدمتګارو څه وکړل؟ اودا هم وایي چې عدم تشدد څه وکړل؟ او زمونږ ډېر ساده ګان ورونړه د خودغرضو کسانو د دې خبرو نه متاثره کېږي. نو زه دوی ته وایم چې د خدایي خدمتګارۍ دوه مقصده وو، یو د ملک ازادي او بل په پښتنو کې د قامولۍ، ورورولۍ، مینې محبت، اتفاق او اجتماعي ژوند احساس پیدا کول.

تاسو خووګورئ! دا احساس خو پیدا شو، او ملک هم ازاد شو، او بیا دې ته وګورئ چې دا هر څه د عدم تشدد په ذریعه وشو، تشدد خو نه دی شوی، تاسو وګورئ خدایي خدمتګارۍ په خلکو کې د مسلمان، هندو او سکهـ په زړونو کې داسې مینه، محبت پیدا کړو او داسې د ورورۍ جذبه یې

را وینبه کړې وه، چې تر اوسه پورې هغه هندوان او سکهان چې د صوبه سرحد نه په زور اېستل شوي دي، او هند ته تللي دي ځان ته اوس هم خدايي خدمتګاران وايي. هر کله چې زه هندوستان ته تللی یم نو هغه مينه او محبت د هغو هندوانو او سکهانو په زړونو کې محسوسوم. تاسو وګورئ چې څه وخت په هندوستان کې د تقسيم په وخت کې فسادات شروع شول، نو خدايي خدمتګارو دلته د خپلو هندوانو او سکهانو د حفاظت د پاره څومره تکليفونه تېر کړي دي او کوم ځای کې چې خدايي خدمتګار وو، نو هلته يې دوی بچ کړي او د دوی د مال او ځان حفاظت يې کړی دی، بل طرف ته تاسو کانګرس ته وګورئ چې د هندوستان په هندو او مسلمان کې يې څومره نفرت پيدا کړو او څومره تشدد يې وکړو، خو حقيقت دا دی چې عدم تشدد د هغوی پاليسي وه او زمونږ عقيده وه او ده !!

مونږ خو ازاد شوي وو او پیرنګیان زمونږ د ملکه تلونکي وو، خو د لارډ مونټ بیټن او سردار پټېل په سازش د غلامو غلامان شو، زه په دې خبره دومره خپه نه یم، ځکه چې که پښتون پښتون شي نو دی څوک غلام کولی نشي، خو خپه په دې یم چې د خدايي خدمتګارۍ هغه تحريک چې په ډېرو خوارو، مصيبتونو، تکليفونو او قربانو جوړ شوی وو، هغه يې تس نس کړو او جوړ شوی انتظام يې ورله خراب او ګډوډ کړو.

د زړه په باغ مې ړلې وشوه
بويه چې بيا سپرلی راځي سپړي ګلونه

**عبدالغفار خان**

13-7-81

# لوستونکو ورونو!

دا «**زما ژوند او جدوجهد**» ما په داسې وخت کې ليکلی دی، چې زه د خپلو هغو ملګرو نه جدا يم، چې دې حالاتو او واقعاتو کې ما سره شامل وو،او د دې په باره کې ورته ډېر معلومات شته، ما بيا بيا کوشش وکړو، چې دغه ملګري ما سره په دې کتاب ليکلو کې مرسته وکړي، خو زه کامياب نه شوم.په دې لړ کې ډېرې داسې مسودې وې چې ما او زما دغو ملګرو ليکلې وې چې هغه يا خو ضايع شوې دي ياکه چا سره موجودې دي، نوهغه ما ته نه دي را رسېدلي، زه بُوډا شوی يم.زما حافظه ډېره کمزورې شوې ده،ډېر نومونه او واقعات راته ياد پاتې شوي نه دي، نوځکه زه پوهېږم چې دې کتاب کې به کمی وي او ماته احساس دی چې تاسوکوم وخت دا کتاب لولئ، نو اکثرو ځايونو کې به څه تفصيلات، څه واقعات څه قابل ذکر اشخاص او څه نومونه تاسو ته درياديږي. هيله لرم چې دا څيزونه څنګه تاسو ته در ياديږي هغه شانې يې هغه وخت ليکئ او بيا يې زر ما ته راليږئ ځکه چې دا کتاب زه په دويم ځل چاپ کول غواړم چې هغه هر څه په کې راشي. ستاسو حق پوره شي.زما غاړه خلاصه اوتاريخ مکمل شي.

## یاد گیرنه:

ما نه غوښتل چې زه خپله بیوګرافي ولیکم، ځکه چې زه د ویلو او لیکلو نه زیات د کار او عمل ملګری یم. مګر اجمل خټک، فضل الرحیم ساقي،عبدالله بختاني خدمتګار ، صدیق الله رښتین او فقیر محمد بایزي څو څو ځله راته وویل چې دا یوه ضروري خبره ده.او زه یې باید ولیکم. ځکه نو د هغو یادداشتونو له مخه چې ما سره وو،او د خپل یادداشت نه ما دا کتاب ولیکلو.

د دې کتاب د لیکلو په وخت،د هغه په تنظیمولو او چاپ ته د تیارولو په چارو کې هم دې ذکر شوو کسانو ما سره زیات کومک وکړو،نو ځکه زه د دوی شکر ګزار یم او د قوم اووطن په خدمت کې ورته توفیق غواړم.

**عبدالغفار.**

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه _ جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونو لړ: (۱۰۲)